
د اروابښاد وزیر بابا محمد ګل خان مومند د دریڅلوېښتم تلین په مناسبت

# د
# افغان ملي تاریخ

(دوه یم ټوک)

لیکوال

قدرت الله حداد "فرهاد"



د ساکانو جنګیالي ۴۰۰۰ تر ۶۰۰۰ کاله د مخه

۱۳۸۶ ل.ه

د ارواښاد وزير بابا محمد ګل خان مومند د دريڅلوېښتم تلين پ...

# د

# افغان ملي تاريخ

(دوه يم ټوك)

PROPERTY OF ACKU 23610


ليکوال

قدرت الله حداد "فرهاد"



د ساکانو جنګيالي ۴۰۰۰ تر ۶۰۰۰ کاله د مخه

۱۳۸۶ ل.هـ



ACKU

## کتاب پېژندنه :


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د افغان ملي تاریخ ـ دوه یم ټوک |
| لیکوال | : | قدرت الله حداد (فرهاد) |
| خپروونکی | : | د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز |
| لومړی ټوک | : | ۱۳۸۳ ل.هـ |
| چاپ ځای | : | د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز |
| دوه یم ټوک | : | ۱۳۸۶ ل.هـ |


د بیا چاپ حق له لیکوال او خپروونکي مرکز سره خوندي دي

Email: scprd@scprd.com
Website: www.scprd.com



افغان هځوپال قدرت الله حداد "فرهاد" او لمسی یې هیواد پښتون

# لړليک



| مخ | ليکنه | ګڼه |
|---|---|---|
| يو | افغان ملي تاريخ د دين هېواد او خپلواکۍ غوښتنه ده | ۱ |
| ا ــ ث | د افغان ملي تاريخ په باب | ۲ |
| ۱ | پښتانه لرغونی تاريخ پرون او نن | ۳ |
| ۴ | د پښتونولۍ پيل او جرړې | ۴ |
| ۵ | سومريان يا سومرين | ۵ |
| ۶ | سومريان څوک دي ؟ | ۶ |
| ۱۲ | د ختيځ او لويديځ د مسلمانانو توپير | ۷ |
| ۱۷ | لاړ (قانون) او لا (Law) | ۸ |
| ۲۲ | Pictland ــ پاکتيا او پکتيا | ۸ |
| ۳۲ | پښتانه په تاريخ اتلسونو کښې | ۹ |
| ۲۵ | پښتانه په هندوستان کښې | ۱۰ |
| ۲۶ | د روهيله کند پښتانه | ۱۱ |
| ۳۰ | په دويمه زريزه کښې د هوتکومدنيت او امپراتوري | ۱۲ |
| ۳۳ | پښتانه په تاريخ کښې | ۱۳ |
| ۳۸ | لواني پښتانه ، پښتو او پاکتيا د تاريخ په څپو کښې | ۱۴ |
| ۳۹ | لواني پښتانه، پښتو او پکتيا | ۱۵ |
| ۴۲ | پښتون ــ افغان | ۱۶ |
| ۴۲ | افغان ، اليان ، او ايغان | ۱۷ |
| ۴۷ | پکتيسيا | ۱۸ |
| ۵۳ | بهرته افغان کېدل | ۱۹ |
| ۵۴ | پښتو ژبه د افغانستان ژبه | ۲۰ |
| ۵۷ | الياد اواديسه | ۲۱ |
| ۵۸ | هاتيک يا هوتک | ۲۲ |

| گڼه | لیکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۲۳ | پښتانه په لرغوني تاریخ کښې(کاسیان) | ۷۴ |
| ۲۴ | چاڼ او څار | ۷۴ |
| ۲۵ | افغان او د هغه لویه هنگامه | ۷۵ |
| ۲۶ | افغان ، الیان او لونین | ۷۸ |
| ۲۷ | هېرودت او النیان | ۷۹ |
| ۲۸ | هومر Homer | ۸۲ |
| ۲۹ | بیا هم پښتانه او لرغونی تاریخ | ۸۷ |
| ۳۰ | پښتانه څوک دي ؟ | ۸۹ |
| ۳۱ | ضحاک ، سهاک او ساک | ۹۱ |
| ۳۲ | پښتانه په تاریخ کښې | ۹۲ |
| ۳۳ | درې مدنیته او پښتانه | ۹۲ |
| ۳۴ | سور ، ساک او پاکت | ۹۲ |
| ۳۵ | بېټني، غرغښت ، سړبن کرلاڼي | ۹۳ |
| ۳۶ | عقلمند انسان | ۹۵ |
| ۳۷ | د بشر او ټولو وګړو ګډون | ۹۵ |
| ۳۸ | پښتانه او هېرودت ۴۴۰ـ۴۳۵ ق . م | ۹۸ |
| ۳۹ | پښتانه د مدنیتونو بومي خلک | ۹۸ |
| ۴۰ | سور ، ساک او پکت | ۱۰۲ |
| ۴۱ | لمر او اور | ۱۰۳ |
| ۴۲ | ساک ساکان | ۱۰۸ |
| ۴۳ | افغانستان او نوی پیر | ۱۱۰ |
| ۴۴ | گرشاسب بابا او دهغه دود | ۱۲۳ |
| ۴۵ | د ژرندې د دوه تیرو ترمنځ اوره پښتانه | ۱۲۴ |
| ۴۶ | افغانستان او نوی پیر | ۱۲۴ |
| ۴۷ | ملي اقتصاد ـ ملي تولید | ۱۲۵ |


ACKU

| گڼه | لیکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۴۸ | د نوح (ع) کښتی یا بېړی | ۱۲۷ |
| ۴۹ | گرشاسب بابا | ۱۲۷ |
| ۵۰ | گرشاسب یا غرغښت بابا د سیستان په تاریخ کښې | ۱۳۰ |
| ۵۱ | گرشاسب بابا په برهان قاطع کښې | ۱۳۱ |
| ۵۲ | بیټنی غرغښت او سړبن | ۱۳۵ |
| ۵۳ | هموارېي Hammorabi او پښتونولي | ۱۳۷ |
| ۵۴ | کابل ، زابل او بابل | ۱۳۹ |
| ۵۵ | کاسیان | ۱۴۰ |
| ۵۶ | ژبه او د هغې څرنگوالی | ۱۴۱ |
| ۵۷ | د ژوند لار د تاریخ په پیر کښې | ۱۴۳ |
| ۵۸ | د پښتنو پلرونه | ۱۵۱ |
| ۵۹ | لومړی څرک لودیا ـ لودي | ۱۵۱ |
| ۶۰ | دوه یم څرک د لودي مرمنې پاکلمنې | ۱۵۲ |
| ۶۱ | درېیم څرک سکایان ـ ساکان | ۱۵۳ |
| ۶۲ | د ساکو ژبه او جرگه د هېردوت په تواریخ کښې ۴۸۰ ق. م | ۱۵۳ |
| ۶۳ | لویه جرگه او د ساکو پادشاه | ۱۵۳ |
| ۶۴ | د هاتیکو د ژوند لاره | ۱۵۵ |
| ۶۵ | د پښتانه په تاریخ کښې نوې څېړنې | ۱۵۷ |
| ۶۶ | پښتانه خپلوان قومونه | ۱۵۸ |
| ۶۷ | سین او مدنیت | ۱۵۹ |
| ۶۸ | د ساکو خپلوان قومونه | ۱۵۹ |
| ۶۹ | ساکان په اروپا او هندوستان کښې | ۱۶۰ |
| ۷۰ | د نړۍ تاریخ او پښتانه | ۱۶۰ |
| ۷۱ | ړنگه بنگه پښتونولي | ۱۶۱ |


ACKU

| گڼه | ليکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۷۲ | تاريخ او ړنګه بنګه پښتونولي | ۱۶۴ |
| ۷۳ | ګرشاسب بابا شرمولي افغانان لاري ته نه راځي | ۱۶۶ |
| ۷۴ | ګرشاسب بابا څوک و ؟ | ۱۶۶ |
| ۷۵ | ساکستان يا سيستان | ۱۶۷ |
| ۷۶ | ګرشاسب بابا سيستان جوړ کړ، چې د خلکو لپاره سيمه وي | ۱۶۸ |
| ۷۷ | اخلاق ، دود او کړه وړه | ۱۷۰ |
| ۷۸ | د سيستان د تاريخ شرحه | ۱۷۰ |
| ۷۹ | ګرشاسب بابا د ټولې نړۍ بابا دی | ۱۷۱ |
| ۸۰ | افغانستان پښتو او دري | ۱۷۷ |
| ۸۱ | فارس او فارسي | ۱۸۰ |
| ۸۲ | د پښتنو خدمت فارسي ژبې ته | ۱۸۱ |
| ۸۳ | د ګرشاسب بابا بلل او شرمول | ۱۸۲ |
| ۸۴ | درې ګوني نيکه ګان | ۱۸۲ |
| ۸۵ | د پښتنو په برخه کښې نوې څېړنې | ۱۸۳ |
| ۸۶ | د پښتانه ويده تاريخ | ۱۸۵ |
| ۸۷ | د افغان د ملي تاريخ فلسفه | ۱۸۶ |
| ۸۸ | په تاريخ کښې غلا او غبن | ۱۸۸ |
| ۸۹ | پښتون او خوځښت | ۱۹۱ |
| ۹۰ | بيټنی بابا | ۲۰۰ |
| ۹۱ | افغان ملي فلسفه | ۲۰۴ |
| ۹۲ | د ګرشاسب بابا لار | ۲۰۷ |
| ۹۳ | د افغان ملي فلسفه څنګه ترلاسه شي؟ | ۲۰۸ |
| ۹۴ | لوی ارغاوا | ۲۰۹ |
| ۹۵ | لوی ، لويان ، او لويک | ۲۱۰ |


ACKU

| گڼه | لیکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۹۶ | میرویس نیکه او ملي پاڅون | ۲۱۴ |
| ۹۷ | په تاریخ کښې چوپتیا | ۲۱۵ |
| ۹۸ | میرویس نیکه ملي لاربنود | ۲۱۶ |
| ۹۹ | د میرویس نیکه سیاسي لیکونه | ۲۱۸ |
| ۱۰۰ | پښتونولي او سیاست | ۲۲۶ |
| ۱۰۱ | بابا گان او پښتانه | ۲۳۱ |
| ۱۰۲ | فنیقیان بحري تجارت او لویه واکمني | ۲۴۲ |
| ۱۰۳ | پښتانه او د هغوی هسکه او تیته په تاریخ کښې | ۲۴۳ |
| ۱۰۴ | ابدالي او غلځي پښتانه | ۲۴۶ |
| ۱۰۵ | کریم خان زند او ازاد خان څه وکړل؟ | ۲۵۲ |
| ۱۰۶ | پښتنو شمله او جرگه | ۲۵۵ |
| ۱۰۷ | هغه شهزادگان چې نوم یې ځانه اخست | ۲۵۹ |
| ۱۰۸ | پادشاه محمود افغان او لرغوني هوتک | ۲۶۰ |
| ۱۰۹ | لوړ درشل شاه محمود افغان | ۲۶۲ |
| ۱۱۰ | پښتانه په خپلو کښې ځوک اچوي خپل که پردي؟ | ۲۶۷ |
| ۱۱۱ | هوښیاري او ساپیان | ۲۷۷ |
| ۱۱۲ | ځوخبرې د تاریخ په ژبه | ۲۸۰ |
| ۱۱۳ | د افغانستان د تابعیت سوالونه | ۲۸۴ |
| ۱۱۴ | نوی پېر او بل بدلون | ۲۸۶ |
| ۱۱۵ | د غزني په باب نوې څېړنې | ۲۸۷ |
| ۱۱۶ | افغان ښالې ، افغان او افغانستان | ۲۹۰ |
| ۱۱۷ | افغان ملي اصول او حکیم سنایي | ۲۹۵ |
| ۱۱۸ | صداقت : پوهه ، حیان او مهرانه | ۲۹۷ |
| ۱۱۹ | دري ژبه | ۲۹۷ |

| گڼه | ليکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۱۲۰ | لرغوني افغانستان د تاينبي له نظره | ۲۹۸ |
| ۱۲۱ | د اباسين ، سندهـ او اندوس مدنيت | ۳۰۰ |
| ۱۲۲ | سلطان محمود غزنوی زابلی | ۳۰۳ |
| ۱۲۳ | سلطان محمود غزنوی پاچا بزرگ افغان | ۳۱۰ |
| ۱۲۴ | قصرفروزه نيست ، مگر در تخيل | ۳۲۲ |
| ۱۲۵ | خر ميل | ۳۲۵ |
| ۱۲۶ | مرگ سلطان محمود غزنوی | ۳۲۹ |
| ۱۲۷ | زمزمه غلې شوه ! | ۳۳۱ |
| ۱۲۸ | زمزمه يواځې نه ده | ۳۳۶ |
| ۱۲۹ | کوچ او بلوچ | ۳۳۷ |
| ۱۳۰ | انساني امپراتوري | ۳۳۸ |
| ۱۳۱ | ميرويس نيکه او احمدشاه بابا | ۳۳۹ |
| ۱۳۲ | د ملي تاريخ فلسفه | ۳۴۱ |
| ۱۳۳ | د احمدشاه بابا افغان فلسله | ۳۴۶ |
| ۱۳۴ | د پښتون په کور ناتار | ۳۵۰ |
| ۱۳۵ | گرشاسب (غرغښت) بيتني او سړبن | ۳۵۶ |
| ۱۳۶ | خواله له پښتنو سره | ۳۵۸ |
| ۱۳۷ | القاعده او امريکا | ۳۶۴ |
| ۱۳۸ | نوې څپه د پښتون په تاريخ کښې او د دوی لرغوني تاريخ | ۳۶۸ |
| ۱۳۹ | د بشر هوښيياريدل | ۳۷۴ |
| ۱۴۰ | جناب مولينا محمود يونس د اتلسمې پېړۍ بې ساری شخصيت | ۳۷۷ |
| ۱۴۱ | اتلسمه پېړۍ د افغانانو د بخت ويښېدل | ۳۸۰ |
| ۱۴۲ | پښتون ، افغان ، پکت او الينيان | ۳۸۳ |
| ۱۴۳ | گرمن ، جرمن او المان | ۳۸۳ |


ACKU

| ګڼه | لیکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۱۴۴ | کاسي او متاني | ۳۹۰ |
| ۱۴۵ | درې فارسي ژبې هېوادونه | ۳۹۸ |
| ۱۴۶ | د افغانستان د خلکو وېش | ۴۰۱ |
| ۱۴۷ | څوک د کار خبرې | ۴۰۴ |
| ۱۴۸ | د پښتنو د تباهۍ نعره | ۴۰۹ |
| ۱۴۹ | لومړي پښتون او د هغه تاریخ | ۴۱۵ |
| ۱۵۰ | د هېواد پالنې اصول | ۴۱۷ |
| ۱۵۱ | بیا هغه انګرېز دی | ۴۲۰ |
| ۱۵۲ | ښېګڼه ،خپلواکي لو سپېڅلتیا | ۴۲۱ |
| ۱۵۳ | پښتانه د ښېګڼې ، سپېڅلتیا او خپلواکۍ په پېر کښې | ۴۲۱. |
| ۱۵۴ | د سمک ښار | ۴۲۷ |
| ۱۵۵ | سندرې او اویستایي سرودونه | ۴۳۱ |
| ۱۵۶ | د شهزادګۍ ګوشا سندرې او سرودونه | ۴۳۳ |
| ۱۵۷ | پاکتریا باکتر ـ باختر یا بلخ | ۴۳۴ |
| ۱۵۸ | سناتور کینډي ته یو لیک | ۴۳۵ |
| ۱۵۹ | سدوزیان په کندهار کښې | ۴۳۸ |
| ۱۶۰ | پښتونخوا او خراسان | ۴۴۲ |
| ۱۶۱ | خراسان او د هغه تاریخ او جغرافیه | ۴۴۴ |
| ۱۶۲ | د سلطان مسعود وینا د خراسان خلکو ته | ۴۴۴ |
| ۱۶۳ | د احمدشاه بابا وینا د مشهد خلکو ته | ۴۴۶ |
| ۱۶۴ | سوځېدلې کترې | ۴۴۷ |
| ۱۶۵ | خراسان د افغانستان یو ولایت و | ۴۴۸ |
| ۱۶۶ | د محمدزاییانو دورې ته یوه کتنه | ۴۴۹ |
| ۱۶۷ | د ایران لرغوني حالات | ۴۵۱ |

| گڼه | ليکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۱۶۸ | استاد علي احمد خان کهزاد او د افغانستان تاريخ | ۴۵۳ |
| ۱۶۹ | خراسان د افغانستان برخه | ۴۵۴ |
| ۱۷۰ | پښتانه د بشري تاريخ لويه برخه | ۴۵۶ |
| ۱۷۱ | د تاريخ پوهنې اړتيا د وګړيو لپاره ـ د پرون ، نن او سبا پېژندنه | ۴۵۸ |
| ۱۷۲ | تاريخ پېژندنه | ۴۵۹ |
| ۱۷۳ | انتروپولوجي | ۴۵۹ |
| ۱۷۴ | کولتور او هڅوب | ۴۵۹ |
| ۱۷۵ | بشري ټولنه او تاريخ | ۴۶۱ |
| ۱۷۶ | د افغانستان تاريخ د بشري مدنيت له مخې | ۴۶۱ |
| ۱۷۷ | افغان او افغانستان | ۴۶۱ |
| ۱۷۸ | فلسفه تاريخ ملي افغان | ۴۶۲ |
| ۱۷۹ | تيغ چيست ؟ | ۴۶۷ |
| ۱۸۰ | بيدل و افغان | ۴۶۸ |
| ۱۸۱ | سلطان محمود غزنوی وسلجوقيان | ۴۶۹ |
| ۱۸۲ | لرغونی کابل | ۴۷۳ |
| ۱۸۳ | زبان کابل جوانمردی | ۴۷۹ |
| ۱۸۴ | شپېږم تکل | ۴۹۲ |
| ۱۸۵ | پر افغانستان د انګليس او امريکا د بريد لومړۍ جمعه څنګه تېره شوه | ۵۱۱ |
| ۱۸۶ | توني بش او د هغوی دکتورين | ۵۱۴ |
| ۱۸۷ | توني بش او مارشال ستالين | ۵۱۴ |
| ۱۸۸ | توني بش او هټلر | ۵۱۴ |
| ۱۸۹ | افغان خيالات | ۵۱۸ |
| ۱۹۰ | د اکتوبر ۱۴ مه قيامت په افغانستان کښې | ۵۲۱ |
| ۱۹۱ | محمدظاهر قاتل شاه شوی دی | ۵۲۲ |

| ګڼه | لیکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۱۹۲ | یو سیاسي تحلیل | ۵۴۱ |
| ۱۹۳ | افغانستان د نړۍ له هېوادونو سره په جګړه کښې | ۵۴۵ |
| ۱۹۴ | هنګامه د ه د افغان او امریکا | ۵۴۶ |
| ۱۹۵ | د طالبانو یو د پرش ورځې مقاومت | ۵۵۹ |
| ۱۹۶ | طالبان څه شول ؟ | ۵۵۹ |
| ۱۹۷ | اوسنی او معاصر تاریخ | ۵۷۶ |
| ۱۹۸ | افغانستان او عراق د ګډ هېواد په توګه | ۵۹۳ |
| ۱۹۹ | ایران | ۵۹۶ |
| ۲۰۰ | کوشان دوستي | ۵۹۷ |
| ۲۰۱ | افغان ملي سیاست ـ د ملي تاریخ فلسفه | ۶۰۱ |
| ۲۰۲ | د امان الله خان یوه ډېره خواشینوونکې وینا | ۶۱۲ |
| ۲۰۳ | د ملتونو حافظه ورک کول | ۶۱۳ |
| ۲۰۴ | د شاه شجاع ناسمې چارې (۱۸۰۴ـ ۱۸۰۹ ع) | ۶۱۵ |
| ۲۰۵ | خط دیورند | ۶۱۷ |
| ۲۰۶ | معاهده ګندمک | ۶۱۸ |
| ۲۰۷ | د شاه شجاع مهمې غلطۍ بیا تکرار شوې | ۶۱۹ |
| ۲۰۸ | جزاییل | ۶۲۴ |
| ۲۰۹ | د افغانستان یوه مهمه دوره | ۶۲۵ |
| ۲۱۰ | بابای ملت افغان | ۶۲۷ |
| ۲۱۱ | د نولسمې او شلمې پېړۍ جوړ شوي زمریان | ۶۳۱ |
| ۲۱۲ | ملي زمریان | ۶۳۴ |
| ۲۱۳ | غازي او لاټي | ۶۳۶ |
| ۲۱۴ | پاڅون | ۶۴۰ |
| ۲۱۵ | د شاه شجاع ورځ ښه نه شوه د نورو به هم ښه نه شي | ۶۴۲ |

| گڼه | ليکنه | مخ |
|---|---|---|
| ۲۱۶ | د شاه شجاع لويه تېروتنه | ۲۴۵ |
| ۲۱۷ | د افغان ملي فلسفې ته مخه کول | ۲۴۷ |
| ۲۱۸ | تاريخي سوالونه او ځوابونه | ۲۵۲ |
| ۲۱۹ | افغان خيالات | ۲۶۰ |
| ۲۲۰ | افغان ملي فلسفه | ۲۶۱ |
| ۲۲۱ | د افغان لرغوني تاريخ کرونولوجي (پېښې نېټې) | ۲۶۲ |
| ۲۲۲ | ناسم ټکي په تاريخ کښې | ۲۶۸ |
| ۲۲۳ | شهزادګي ساکه چېرته ده ؟ | ۲۷۰ |
| ۲۲۴ | اهنګرخان او زما د ژوند پيل | ۲۷۱ |
| ۲۲۵ | د انګليس ماته خوړل او د آهنګر خانې ماتول | ۲۷۲ |
| ۲۲۶ | د څيرهارعجبه پېښه د نړۍ په تاريخ کښې | ۲۷۴ |
| ۲۲۷ | پايناب | ۲۷۶ |
| ۲۳۸ | مرسته له کتابونو | |


ACKU

# افغان ملي تاريخ

## ددين ، هېواد او خپلواکۍ غوښتنه ده .

دافغان ملي تاريخ دوه یم ټوک هم دچاڼ او څار ليکوال او دسياسي هڅوب دنوميالي کره کتونکي استاد قدرت الله حداد فرهاد زيار دی ،چې په (۷۰۵) پاڼو کښې پالل شوی اوخوندي شوی دی .

داټوک هم دحداد صاحب له ياد داشتونو او خاطرو څخه ډک او باباګانو ته یې دورننوتلو پېچل شوې لاره پرانستې ده .

حداد صاحب په کښې پښتنو سره دزړه خبرې څرګندې کړي ،پرتېرو شخصيتونو غربرې ، حقايق او واقعيتونه يې په پوره زړورتيا روښانه کړي دي .

"دساپي پښتو څېړنو اوپراختيا مرکز " وياړي ،چې يو ځل بيا د هېواد درانه نسل ته دملي شتون دپالنې او غوښتنې زېرى ورکوي .

مونږ حداد صاحب ته له الله پاک څخه بشپړه روغتيا غواړو ،څودرنها ، سپېڅلتيا او خپلواکۍ منونکيوته ليا ګټور کارونه ترسره کړي ( امين)

"دساپي پښتو څېړنو اوپراختيا مرکز "موسس
امام الدين ساپی

# د افغان ملي تاریخ

څو کاله مخکې مې خپل یادداشتونه په یوې کڅوړې کښې واچول پېښور ته مې یووړل درې کاله هسې پاتې ول په پایناب کښې مې محترم امام الدین ساپي سره خبرې وکړې . د یادداشتونو کڅوړه مې لرغوني ملګري . لیکوال شاعر قتیل صاحب ته ورکړه .چې کال پوره کېده د افغان ملي تاریخ چاپ شوی و. د ... ګیالي یې د پښتنې په لومړي مخ راغلي وه . کتاب ښه ترتیب شوی و ،څه ماتې ګوډې په کښې وې .څو مطلب په کښې راغونډ شوی و ، دا زما سبك دی ما اوولس کاله ښوونه کړې ،د ښوونکي په توګه تل مې زده کوونکي په نظر کښې نیولي او ضروري ټکي مې تکرار کړي دي .

«د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز» کښې خلیل جان قتیل زوی . کار کوي. دا ،چې قتیل صاحب داسې زوی لري ،ډېر خوشحاله یم :ځکه د هغه ډیوه بله ده .

دا نور هم ،چې زامنو یې د پلار لار نیولې وي د هغوی مقالې یا اشعار ،چې لولم :نو خوشحاله شم .

چې پښتون کاندي څوك یاد
زه خوشحال شم زړه مې ښاد

زما لومړۍ مقاله په ۱۳۲۸ ل کال کښې د ولس جریدې خپره کړه: استاد ګل پاچا الفت د جریدې د امتیاز خاوند و ، علي محمد شینواری یې مسوول مدیر او غلام حبیب نوابي یې مرستیال و .پنځه پنځوس کاله په دې کښې تېر شوي ،بله دا ،چې دکار په څنګ کښې مې اووه لس کاله معلمي کړې ده . په لیکلو کښې هم د معلمۍ خوی وي ،چې ښوونکي خپلې خبرې تکرار ووایي .

چې پیدا شي یو ناکس په قبیله کښې ورانـــدې وروستو ابته کاندي نسب
د پـــسر پـــه نېك و بد پلار یـــادېږي دا خـــبره پـــه جـــهان کښې مـــجرب
په سواره باندې یې ګـوتـــه نیوه شي
چې یې اس برابر نـــه ځـــي پـــــه جـلب
(حمید بابا)

که نرۍ کښې بدلون راشي په دې کښې تاوان نشته ،چې پښتانه یو موټی او پښتانه وي ، داسې ډېر بدلونونه راغلي او تللي ، ډېر پښتانه ابته شوي ، پښتانه پاتې نه دي .په نورو کښې ورګډ دي او خپل هویت نه لري . هویت د سړي ځانګړې پېژندنه ده.

که یو جرمنی . په جرمني ژبه پوه نه وي یا فرانسوي هغه دا معنا لري . چې مغز نه لري پوټکی دی . یا بې توري تیکی دی .

په ډېرو لرغونو مهالونو کښې کډوال میشت شوي له نورو قومونو سره د دوی دودونه یو شوي .چې ژبې دولتي شوي .هر یوه خپله ژبه پاللې لکه عربو عربي کړه بیا .چې سیستان کښې د یوې تاریخې پېښې له مخې فارسي دولتي شوه بیا هغه وخوځېده غزنه . خو د پښتنو سیمو کښې .دا خبره نه ده چلېدلې اوخپله ژبه ورته پاتې ده.اوس پردې پاتې ژبې پام په کار دی .

که یو انګلیس ووایي : زه انګلیس یم . خو په انګلیسي نه پوهېږم . په فرانسوي پوهېږم : نو دغه انګلیس ډېر فرانسوي دی او لږ انګلیس .

اوس که پښتانه پښتو ټینګه نه کړي له ځو خواو خوړل کېږي .چې هغه ګاونډیان دي . هر ګوره پښتانه دې دا د ژبې او هځوب خوا ټینګه کړي .

زما په دې کښې کمی و .چې کابل کښې زېږېدلی او لوی شوی یم.خو په کور کښې مې پښتو ژبه ویل کېده وروسته د مشرانو له برکته پښتو ته مې پام شو اوس هم فارسي تر پارسو ژبو ښه ویلی شم او ښه یې لیکلی شم . خو ما سره څله دا ده که څوك یوه مړې ډوډۍ لري . هغه وږي ته ورکوي اوکه ماړه ته ؟

پښتو ته هېڅ دولت کار نه کوي . مونږ دا وظیفه لرو .چې پښتو وپالو . مونږ دا وینو .چې د امریکا او لویدیځ هېوادونه په آسیا اوافریقا کښې کارکوي د آسیا او افریقا وګړي په اروپا او امریکا پورې څه کار نه لري.

" چېرته لندن چېرته چترال " له همدې مونده شوي دي .دوی چې درې سوه کاله خوړلي یو او خوري مو .

دوی نړیوال کلي جوړوي .دا کلي هسې کلی نه دی .چې هر څوك به په کښې اوسي .هلته به هېڅوك نه وي .د کلي یو وګړی به وي . ژبه به یوه وي .لکه انګلیسي . هځوب یا کلتور به د لویدیځ وي هغه هم په بدو اخته . له څړه هر څه بدل شوي وي .

ګلوبلایزیشن یا نړیوال کلی که داسې وي .چې هر ملت ته خپله ژبه هځوب پاتې کېدای شي او د هر چا خپل تاریخي مشران . شاعران او پوهان وي .بیا به یو څه و او دغه څېر چې سړی نه څره بدل شي .د سړي له فطرت څخه مخالف دی او دا سرته نه رسېږي. په [illegible] حی دوډه ډېره هم ورسره وي. لکه .چې اوس یې امریکا کوي .

ACKU

ای مدام د نس په زېرمه کښې رنځ کــــښه
پــه دا رنځ کښې په آزار د خلکو خـــوښه
و هـــيچا تــه لــه تــا نفع نــه رســېږي
بــلکه تــل لکــه اغـزی پــه نـــورو ښخه
يــوه ورځ بــه بــنديــوان د باز په څپر شې
چې دې شپه او ورځ خوراك شو د قام غوښه

کوم کردارونه ،چې امريکايي عسکرو په عراق او افغانستان کښې وکړل هغه د سړي او بشر په تاريخ کښې ساری نه لري . دوی وحشيان دي ،مدنيت نه لري اوپه ټولې نړۍ کښې د هغو څېرې او فلمونه ښودل شوي. دا په تاريخ کښې يو رخه ده ،چې په زړهاو کلونو کښې نه ورکېږي . دغسې يوه برخه په دې مهال کښې څوك نه غواړي . چې د راتلونکي نسل له پاره يو بد څلی وي . ما ،چې دا دوه يم ټوك په ويرژړليو شپو ورځو کښې ليکلی. ددې ليك ښه به همداسې وي ،چې ورځنۍ پېښې به هم په کښې راغلې وي . په دوه يمه عمومي جگړه کښې يوه فرانسوي ليکوال ويلي وه : زه وينم ،چې الجزايريان په ببرېو کښې وهل کېږي ، د هغو فرياد اورم او بيا يې مړي د اوبو سره وينم آيا زه کولای شم ،چې د پسرلي او د مديتراني د ښې هوا ستاينه وکړم ؟

په دوه يم ټوك کښې د پښتنو لرغونی تاريخ راغلی ،د هوتکو ، لواني ، لوي ، سبريان Sabrian دغه سبريان ،چې پکتيا کښې، دي اتلس پېړۍ مخکې له ميلاده په ترکيې کښې ول: څکه د هوتکو امپراتوري وه. ددې خبرې تفصيل همدغه کتاب کښې راغلی . پښتونخوا او خراسان د افغانستان دوه وزرونه دي په دې کتاب څو مضمونونه په فارسي يا دري ژبه دي . زمونږ مشرانو سلطان محمود غزنوي ، سلطان مسعود غزنوي ، احمد شاه بابا ،امپراتور تېمور شاه ، خراسان لکه پښتونخوا پاللي دی . اعلحضرت آزاد شاه سرخاني خان پادشاه د خزر دغاړو پښتانه پاللي دي .

په د رنښت

قدرت الله حداد فرهاد

ACKU

# د ملي تاريخ فلسفه

چې زما په چمن راشې گستاخي کړې
د شبنم په څېر يې عمر يو زمان کـړې
(رحمان بابا)



خاطره : ۱۸۴۲ ع کال لړم : افغان غازيانو په خپله وسله بی بی مهرو غونډۍ ونيوه. نامتو بل خان گل خان مست زمري همدغه جگړه وگټله.

کاسي پښتنو شپږسوه کاله په بابل کښې حکومت کړی او دنړی لومړی لارپوه« قانونپوه»کاسي همورابي و.

# پښتانه، لرغونی تاریخ؛ پرون او نن

پښتانه په لرغوني تاریخ کښې :
نه پوهیږم څه ووایم ،چې پښتانه دغه مهال (۲۰۰۵) ع کال کښې په څه حال کښې دي ؟
که چاد پښتنو سیمې نه وي لیدلي هغوته داسې ښکاري، چې دلته به د نړی لوی قوت وي لکه په لسمه پیړی کښې. چې په غورکښې یو زړ جنگي کلا گانې وې او په سیمه کښې دوسلې دجوړولو ښارونه ودان شوي وه او فېروز کوه یې پلازمېنه وه ( دا دضحاك هېواد دی ،چې نړی یې تر فرمان لانديې وه) دبیهقي په تاریخ کښې داسې لیکل شوي : په کفر اواسلام کښې هیڅوك غوړته تلای نه شول .
دپښتنو سیمې غرنی دي. چې دپاکستان او افغانستان له لوري په یوه وخت دامریکایي عسکرو ،الوتکو ، چورلکو او توپخانې په مرسته پرې حملې کېږي بیاپه خبرونو کښې وایي دومره القاعده او طالبان ووژل شول کوډلې ونړېږي. ماشومان،ښځې او خلك مړه شي ،غواگانې او څاروي یې مړه شي : پښتنې په کوکو ژاړي، خپل مړي ټولوي. ډېر ورك شول، ستړي شول او مړه شول،خو پاك شهیدان دي .
دغرونو داو سیدونکیو به څه ژوندون وي ؟ زه، چې یو سپین ږیری پښتون یم دبشري او ملي اخلاقوله مخې به څه راباندې تېرېږي ؟
لکه څنگه. چې په نړی کښې دتاریخ له مخې داسې حالات راغلي او تللي دا به هم تېرشي. خو دظلم داسې څلی جوړ شو، چې دلویدیځ دمدنیت او بشر دوستی مخ به ترابده تور وښیي .
پښانه په لرغوني تاریخ کښې یو لړتاریخي معلومات دي اوبشپړ نه دي بیاهم دومره تراوسه ښودل شوي نه دي. دافغان ملي تاریخ اوپښتانه په لرغوني تاریخ کښې دتاریخ شوقیان پراخې مطالعې ته هڅوي .

ACKU

تاريخي اړيکې سره تړل او ترې سنم مطلب ترلاسه کول غوره کار دی. حکيم سنايي يوه خبره کوي دی په يوولسمې پيړۍ کښې و. اوس يو وشيتمه پيړۍ ده. ددغې خبرې په ژورو کښې دملي تاريخ رمز پروت دی . حکيم صاحب سنايي دې خدای په نېکۍ را ورسوي. د ی فرمايي :

صانعی بايد حکيم قادر و قايم بذات

تا ز وضع وی پديد آيد بتان قندهار

يعنې داسې صانع په کاردی،چې حکيم قادر او ولاړ په ذات وي،څودهغه له صنعت څخه دکندهار بتان څرګندشي . سبحان الله

په ۱۳۸۰ لمريز کال کښې په سانفرانسيسکوکښې ځينوپښتنو ژېو له ماوغوښتل چې دپښتو د " آر" په باب څه وليکم او دوی به يې په خپلو کښې وويشي . دا هغه زما لپاره يوه مشغولا شوه . ما،چې وليدل يو پښتون دی او يو اړوند قومونه. دبېلګې په توګه کاسي ، ساک، لودي ، هوتك ، لواڼی .... کله، چې دکاسيانو خبره وشي هماغه پښتون دی. چې په منابعو کښې دآريايي مهاجر،سانسکريت ژبې او دافغانستان له شمال نه خوځيدلې. شمال ،جنوب او لويديځ ته تللي ياد شوي دي. اوس هم دهغو همنومي قومونه په افغانستان کښې شته. لکه ساك ، کاسي، لودي، هوتك سور، پاکت لواڼی.... ورك پښتانه په ټولې نړۍ کښې شته،چې دهغوی شتون ثابت دی،خو بياهم اروپاييان او امريکايان داهڅه کوي،چې دغه سلسله او لړۍ وشکوي او ورکه يې کړي . په دغه روان ناورين کښې پښتانه حاکم استعداد نه لري، چې سلسله او کړۍ ثابته کړي .

دپښتنو لوستي خلك دومره په غوره کښې دي، چې ددې خبرې ثبوت او غوښتنه اړينه نه بولي.

مادهغوپښتنو ژېو غوښتنه ترسره کړې ده؛ په سوونو مقالې مې ليکلي او چاپ شوي دي .اوس څلور پنځوس کاله کښېږي، چې همدا کرښې ليکم .

زه ددې پروا نه ساتم،چې په حکومتوکښې کار وکړم. اوس، خو بوډا يم کله هم حکومتي سړی نه وم. څښتن تعالی به هرڅه راکړي دي.

دپښتانه په لرغوني تاريخ کښې منابع ښيم، چې نوی نسل ترې ګټه واخلي اونور مآخذونه وګوري.

پښتو اوپښتونولي يوه مينه ده، چې خداى يې دچاپه زړه كښې واچوي بياهغه ته دډالۍ يا ياداش اړتيا نه وي.

يار دنازله خوبه پاڅي پسې ګرځي
چې فلك دعاشقانوبخت بيدار كا

دهند او ايران لرغونى تاريخ دپښتنو دى ،خو هند اوايران دپښتنو نوم نه اخلي اوله درسي كتابونو يې ايستلى دى . دپښتنو شپږ سوه كاله حكومت په هندكښې د سلطنت په نامه يادوي، چې دسلطنت كلمه دخلكو څرنګوالي نه ښيي. هند اوايران لاپرېږدئ،چې په افغانستان كښې هم دانوم وركوي . يوازې په پاكستان كښې دپښتنودمشرانو خبره كېږي ، غزنويان ،غوريان او ابداليان يادېږي .




پښتانه بويه سياست اوپښتونولي وپېژني . دسياست خبره دلويديځ ده، چې مجرد سياست كوي.

مونږ په عراق او افغانستان كښې دبشرحقوق، انساني كرامت، آزادي او ډيموكراسي وليدله(۲۰۰۴ع) پښتونولي يو معنوي خصوصيت دى. دپيسو اوكيسو خبره ده، چې پښتانه كيسې ګټي، هندوان پيسي اولويديځوال دپيسو لپاره ويني تويوي.

دلته دستندرد مجله، چې په كليفورنيا كښې خپرېږي، د ۲۰۰۳ ع كال داپرېل په ۲۱ دغه كارتون خپور كړى، چې مطلب په كښې روښانه دى،خو په پښتونولۍ كښې داسې يو كار ناروادى.

## دپښتونولۍ پيل او جرړې :

په زړه پورې ده، چې دپښتونولۍ تاريخ ډېرلرغونی دی. که څوك دكابل، زابل او بابل تاريخ له پخوا زمانې و ګوري: نوتاريخ له پښتنوپيل شوی او پښتونولي ورسره جوخته ده.

كله.چې ټولنه جوړه شي دخير دخپلولو او د بشر دورکولو لپاره ټولنيزې هڅې پيل شي ،تاريخ هم له همدې ځايه پيل کېږي .

ټولنه، چې جوړه شي ادارې ته اړه لري او اداره لار يا قانون ته اړتيا لري: نو لکه څنګه، چې مدني ژوند پښتنو پيل کړی. لار ( قانون) هم دوی جوړ کړی دی.

پتښتونولي په كابل. زابل او بابل كښې هم وه، چې شمارل يې وخت غواړي.خو بيا به يې هم ترخپلې وسې تفصيل ورکړم.

دغه شرح دهاتيكو(هوتك) او بابلان ( بابل ) ده .چې ( كاسيان ) دي او تفصيل يې موندل کېږي. تردې وروسته دساکو پښتونولي ده.چې۴۵۰کاله تر ميلاده مخکې دهيرودت په تواريخو كښې راغلې ده .

په دغه كتاب كښې دساكو . لوديانو او پاكتيانو ذکر او ورسره دجرګې خبرې . سيمه ياپناه ورکول دښځو ونده په جګړوکښې . پاکلمني...

دهمورابي د " لار" ياقانون مواد د" بابل امپراتوري "په كتاب كښې راغلي دي.

په اوومه ميلادي پېړۍ کښې، چې داسلام دين منل شوی دی. داسلام اوپښتونولۍ يوځای کېدل هم ليدلی شو . په اسلام كښې شريعت اوپښتونولۍ كښې لار يوه معنا لري ( شرع لار او لار شرع ده).

پښتونولي دفاع ده. په پښتونولۍ كښې تېری او تجاوز نشته. كه شوی وي هم ددفاع لپاره دی. لکه چې په اتلسمې پيړۍ كښې صفويانو كندهار نيولی و .خو ظلم يې کاوه . چې هوتکو اصفهان دصفويانو مرکز ونيولو دا دفاع وه يا ددېلي نيول. چې كابلستان له مغلي هند څخه او كندهار له صفويانو خلاص شي.

يعنې تېری صفويانو او مغلو کړی و .موږ هم بايد ژوند کړی وای او هغوی مو په ځای کښېنولي وای.

په انګلیسي کښې د همورابي لاړ ته Hammurabi Code وایې یا دهمورابي قانون. چې قانون په انګلیسی ژبه کښې Law او په پښتو کښې لاړ ده. چې " لا "شوی او" ر " ترې پاتې ده.
همورابی دبابل پادشاه او قانون پوه دی. چې په قوم کاسی او لومړی قانون دوی جوړ کړی دی. ددغه قانون ډېره برخه دبابلان دامپراتورۍ په کتاب کښې شته او کتل یې اړین دي.چې دپښتونولۍ له لاړ سره څومره ورته والی لري.
یو ملت، چې داسې تاریخ لري بیا کله دکمونستی او ډیموکراسۍ ناري وهي:څکه دوی مخکښ استادان دي. نه لویدیځ وال. لویدیځوالو په ظلم. تخنیك . تجارت اوسیاست په هغه شان، چې په دې کتاب کښې ئې بیان شوی. نړۍ وخوړله او خوري یې. زما تګ تکی همدا دی، چې اسلام او پښتونولي او د لوېدیځ سیاست ته پام په کاردی: څکه دوی یعنې لوېدیځوال په سوغاتونو . پیسو او اخلاقي فساد هرډول، چې وي خلك له لارې باسي.
دافغان ملي تاریخ په کتاب کښې، چې کوم معلومات راغلي، هغه څلورکاله دمخه لیکل شوي دي پښتانه په لرغونی تاریخ کښې هماغه مطالب دي له نویو اسنادو او نویو مطالبو سرد
دسلطان محمود په برخه کښې پښتو او فارسي خبرې شوي، چې یودبل ترجمه نه ده.داخل مسایل تحلیل شوي دي . هیڅ تاریخ پوه دانه وایي، چې دده تاریخ به بشپړوي.

## سومریان یا سومرین Sumerians :

دا[illegible]ی نوم . لوی مدنیت او لوی بحث دی. چې په لویدیځه نړۍ کښې ډېره اغېزه لري.
[illegible]وریانو په باب ډېره څېړنه شوې ده. چې څو وارې په دې شپږ اووه میلونه توکه کتابونه خپاره اوپه بلیونونو ډالره یې ګټلې دي.
په دې باب به داسې یو کتاب وګورو. چې په ۲۰۰۲ ع کال کښې چاپ او خپور شوی دی.
کتاب London the Folio Society .چې T.G.Hjames له پلوه راپیژندل شوی او چاپ شوی دی . زمونږ هغوپښتنو لپاره په زړه پورې دی. چې په دغه اړوند خبرو پسې ګرځي او په لرغونو پښتنو پورې اړه لري. هغه پښتانه، چې دمدنیت په سرکښې خای شوي وه، اوس یې څوك نه مني.

څوك. چې په پښتوژبه او پښتونولۍ نه پوهېږي په دې له سره نه شي پوهېداى. شرمېدلي پښتانه به ځيني تښتي.يواځې خړه کي پښتانه ددغه دولت خاوندان دي. دلته دولت يعنې ددغه تاريخي حقيقت پوهه ده .

اروپا او امريکا له سو مريانو څخه ډېر څه زده کړي او اوس هم دهغوی له پوهې په پوهنه. اقتصاد او دمحاکمو په قوانينو کښې ګټه اخلي .

که تاسي نن وګورئ دامريکا قوانين په بېلا بېلو څانګوکښې د سو مريانو اصول عملي کوي خو د ظلم ، تجارت اوتکنالوجۍ اوسياست څادر يې پرې غوړولی دی.

## سومريان( Sumerians ) څوك دي ؟

دې کښې شك نشته، چې هرڅوك دخپلو ملي ګتوله مخې هره بيګنه خانته را اړوي.دلته به ددوی خبرې راواخلم،خو په پای کښې دې لوستونکي پخپله پاياب ترلاسه کړي.

إريك Erech يو خورا مهم مرکز دی. چې مونږ يې دسومرين په نامه پيژنو . يعني دسومرين دمدنيت مرکز همدلته و. لومړی دغه يو نوم دی. چې دژبې په موضوع پورې اړه لري . ځيني خلك فکر کوي. چې سومريان ديوه مدنيت نوم دی. چې ځانګړيو خلکو درلود او هغوی په دغې ژبې خبرې کولې. ددوی ليکلي کتيبې شته او هغو.چې په دغه ژبه ښه پوهېدلي دي: فکرکوي. چې دغه ژبه به جوړښت کښې نورو ژبوته ورته ده .

وروسته له يوه بې خونده بحث. چې نه غواړي داخبره وکړي. وايي: دغه ژبه آريايي ده. چې داوسني عراق اوسوريې ځمکې ته راغلې ده او دغه خلك، چې سومرين نومېږي له هسکو ځمکو The Highlands څخه راغلي دي. داسې ښکاري هغوی ته يې سبريان ويل.

کوم اريايان، چې له لوړو ځمکو راغلي وي اوسبري وي، دوی به څوك وي؟

همدغه ټکی دی. چې څوك نه غواړي ووايي.چې پښتانه دي. سبري اوس هم پکتياکښې شته. چې آريايان او په هسکو ځمکو کښې يا غرونو کښې اوسي. بيا :نو.چې دې ته راورسيږي. وايي: سومريان يو نسل نه دی، يو مدنيت دی. مونږ هم داخبره کوو . چې پښتون نسل او نژاد نه دی يو مدنيت دی. ددې خبرې بېلګې په همدغه کتاب کښې ورکړل شوي دي .لکه خوشحال بابا ،چې وايي:

((په داسپینه ږیره، چې زه پښتون شوم))

احمدشاه بابا وایي :

ټوله یو دي که غلځي که اودالي دي ښه هغه، چې بې ښیښنه دزړه صفاده

ان اکرمك عندالله اتقا کم

داهځوب( کولتور) دی ژبه او مدنیت دی، چې پښتو اوپښتونواله ویل کېښږي . که داسې نه وای حکیم اسدي توسي "ګرشاشبنامه" نه لیکله اوکهزاد د هغه تشریح نه کوله.

آباسین او هغه حوزه،چې سند ه یادېږي دامو شمال او ددې دواړو تر منځ هلمند درې مدنیتونه دي،چې سور ، ساك اوپاکت نومیږي او دنړۍ دا نور مدنیتونه له همدو ،پاځېدلي. آرکیالوجي دا ثابته کړې ده. چې همدغو قومونو یا مدنیتونو به بېلا بېلوبیلو لارو دښې ځمکې په لټون تللي دي .

دآرکیالوجې Archaeology مجلې داسې خبرونه خپاره کړي، چې تاریخي آثار نه یوازې له عراق افغانستان او نورو ځایونو څخه غلا کیږي.بلکې دلته هم دتکساس له لابراتوار څخه غلا شوې ،څو یې دشهرت مخنیوی شوی وي .

هماغه درې مدنیته، چې سور ، ساك اوپاکت دی، له آسیا څخه دالاسکا له لوري امریکا ته رسیدلي چې په شمالي، منځنۍ او جنوبي امریکا کښې میشته شوي دي.

دکیندنو له مخې په امریکاکښې داسې څېړنې شوې، چې دآسیا له مد نیتونو سره ورته والی لري.

اوس امریکا غواړي، هلته دا آثار ورك کړي او تاریخ هم غلا کړي. دآرکیالوجي مجلې داخبره لیکلې ده، چې تاریخ سیاسي شوي او علمي مسایل په سیاسي توګه لیکي

پښتانه مشران په دې پوهیدل، چې دوی په تاریخ کښې یو رسالت لري

اوس پښتانه په ډېرو بدو حالاتو کښې دي: یو شمېر پښتانه په خیر او شر نه پوهېږي اوتارخي نقش نه شي لوبولی.

طالبانو سیاست پرېښود پښتونولي یې ونیوله او دنړۍ تېری یې ځانته واخست .چې داکیسه هم په تاریخ کښې پاتې شوه . که څه هم د بن لادن او نیویارك پېښه یو پلمه وه. اصلي خبره هماغه وه چې له سینك یانګه نیولې تراستبانبول او له استانبوله نیولې تر جاکارتا او افریقا پورې مسلمانانو نوی تکل پیل کړ. خو دهغه دکښینولو لپاره یې یوه

ګرانه پلمه. چې دنیویارك پښنه وه. ترلاسه کړه . په تاریخ کښې لیا تراوسه دهغې پایلې نه ښکاري ،خونړې یې په بله اړولې ده.
دلویدځ مد نیت نور بربنډ شوی او هماغه چنګیزي کړه وړه دي.په امریکا کښې دتای تن دکمپنې له خوا پرلپسې دا اعلان خپرېږي: هغه پښتانه. چې په انګلیسي ښه وپوهېږي له دوی سره دې په دایمي توګه کار وکړي. دکال به یوسلو شل زره ډالره تنخوا ورکوي.
دغه تنخواه دلته دوکتورانو اوپروفیسرانو ته ورکول کېږي. په همدې توګه نوموړې موسسې دپښتنو دادب. تاریخ او هڅوب (کولتور) په برخه کښې کارکېږي. عسکري ځوانو منصبداراتو ته دپښتو درس او زده کړه ورکوي اونور پروګارمونه هم ددوی لپاره روان دي.
نن. چې د ۱۳۸۴ل کال دغویي دمیاشتې شپاړسمه ده؛ دطالبانو داسې خبرونه په راډیو کښې خپاره شول:دطالبانو بهرنی وزیر عبدالوکیل متوکل دخیبرله تلویزون سره ویلي. چې طالبان دې هر څه ددین له کړکۍ نه ګوري. نورمسایل دې هم وګوري. دوی دې خبروته کښېني. ځینو موافقوته به ورسیږي او پر نورو به خبرې وشي.
په بل خبرکښې دطالبانو او امریکایي عسکر وترمنځ په ارزګان کښې جګړه شوې؛ څلور طالبان او ملک خلك وژل شوي.چې ښځې او ماشومان هم په کښې دي.
په هرات کښې هم مظاهرې وې او پلخمري کښې درې ښځې وژل شوي. چې په بهرنی موسسې کښې یې کارکولو او هم د نامشروعو اړیکو خبرې وې.
که دغه دیوې ورځې خبرونه تحلیل شي: ښکاري دا. چې امریکا ښخه ده.خو یو شمېرخلك له بېلا بېلو لارو لګیا دي. چې دامریکا ملګري شي
دطالبانو پنځه اتیا بندیان له کندهار او بګرام څخه. چې دامریکایانو زندانونه په کښې دي، خلاص شول او سوغاتونه یې ورکړل.
د ۲۰۰۵ ع کال دمۍ په شپږمه دانګلیستان صدر اعظم توني بلیر ددرییم ځل لپاره ټول ټاکنې وګټلې.
د ۲۰۰۴ع کال په نوامبرکښې دامریکا جمهور رییس بش ددوه یم ځل لپاره ټولټاکنې ګټلې وې. انګلیستان او امریکا دنړۍ خورو په توګه دا درې سوه کاله دنړۍ هرڅه ګډوډ ساتلي دي او هرڅه د دوی دي . په مقابل کښې بې وطنه. بې دولته. بې زوره، بېوزلې مسلمانان دي. هسې ښکاري، چې سم تنظمونه هم نه لري:ځکه دلته اوهلته تباه کېږي.

دوی له طالبانو څخه شا اوخوا تشول غواړي .څو اسامه بن لادن، امیرالمومنین اونور په لاس ورشي. په انګلیستان اوامریکا کښې چانه منله، چې بش اوبلیر دې ټولټاکنې وګټي.خو دوی په ځانګړیو وسایلو وګټله.
دوی په همدې توګه، چې دا څلور. پنځه کاله مخکښې لګیا شوي وه. بیا به هم څلور پینځه کاله روان وي.بنایي په جرمني او فرانسه کښې یې هم وګټي
دغه برخه دپښتانه په لرغوني تاریخ کښي راغله. چې په تاریخ کښې یولنډ نظر په اوسنیو حالاتو دی. وبه کتل شي. چې وروسته څه پېښیږي ؟
زماپه ګروهنه پېښې پټې اوښکاره برخې لري. ښکاره هرڅوك ویني او پټ څوك نه دي لکه. چې په بغلان کښې درې ښځې ووژل شوي. ددې لپاره. چې په بهرنیو موسسو کښې یې کارکاوه. که څه هم موسسې دیوه مسلمان هېواد بنګله دېش وې.
په جنوب کښې داسې پېښې پېښیدې، خو په شمال کښې داسې پېښې نه وې.
همداسې به نورې پېښې.پېښې شي.لکه دهرات مظاهره او دخلکو وژل کېدل...
دپښتنو په لرغوني تاریخ کښې، چې ددوی ډېرې امپراتورۍ تللي او راغلي، دا به دتاریخ په پېر کښې عادی وبولو.
کاسیان ، هاتیك ، لودیان سکایان یا ساکان.اور ، متاني، هودین ، سبریان .. راغلي اوتللي له هغوی لیکلي آثار په مجسمې اونور آثار پاتې دي .چې خوراډېرکتابونه پرې لیکل شوي اوهغه شته . ددغو آثارو څېړنه دغه ګټه لري. چې پښتانه به ثابت فکر وکړي نه مبهم .
که ددوغومدنیتو ژبه وکتل شي ډېرنومونه اولغات داسې دي، چې اوس هم ژوندي دي او څوك نه پوهېږي. چې دانوي نه دي. لرغونی دی او نورو ژبوکښې هم شته. دېېلګې په توګه امارت دکاسیانو دزمانې دی: څلور زره کاله مخکې. چې فکرکېږي عربي وي .خو نه دی یا میرسولیس دهوتکو پادشاه. چې څلورزره کاله مخکې و. بیا دمیرویس په بڼه راغلی دی .
همداسې دانا ، ابا ، پیر ، میر. یار ، مهربان او په سلهاو نور نومونه.کلمې او لغات پخوانۍ بڼې لري .
چاپ کړې پښتونولي او پښتو د راتلونکیو پښتنو لپاره ګټور دي او دالړۍ به غځېږي .
ان شا الله

مونږته دالړی په لاس راغلې ده، چې لرغونی تاريخ زمونږ دی او په راتلونکې کښې به خپل تاريخ بيرته ژوندی کړو.

ماسره داحمدشاه بابا يوه مسي سکه شته، چې پرې يو نقش شته ،چې زمونږ دژوند سرليك به وي. دهغې انځور به په دې



کتاب کښې ورکړم ،چې داسې مفهوم لري: دوه مرغان، چې يو له بله يې يولاس د روغبړ په صورت ورکړی او په بل لاس يې په شريکه يو ګل نيولی دی، چې معنا يې يو والی او خوشحالي ده.

هرکله، چې پښتانه يو موټی شي دبرخه به وکړي او ،چې کله خواره شي يو بل وخوري.

پښتانه بويه دخپلو مشرانو ومني. کومې سکې،چې داحمدشاه بابا له مهاله پاتې دي په هغو کښې داسې نقشونه دي، چې هغه مونږ ته يو سبق دی.

مونږ دا نه دي کړي، چې دميرويس نيکه ، شاه محمود هوتك ، شاه اشرف هوتك ، آزادشاه .... خبره واورو.



دغه انځورونه هم دغيرت اوسعادت بېلګې دي.

هغه پښتانه احمقان دي، چې ميرويس غلځی بولي او احمدشاه بابا درانی.داسې پښتانه دمحمد ظاهر خوا ته راټول شول او هغو يې سي آی ای C.I.A ته تسليم کړل. خدای دې دوی نه بخښي.

ACKU

## دشرق اوغرب سيالي :

دنولسمې پيړۍ په نيمايې کښې هوښياران په ختيځ کښې دلويديځ دورانکاريو پر پايلې پوه شول چې د ښکېلاك (استعمار يا بيا ودانولو) په پلمه او دا.چې تاسوته دلويديځ مدنيت او هڅوب ښيو: په آسيا، آفريقا او جنوبي امريکا کښې يې دخلکو مادي اومعنوي ژوند بربادکړ، ټوله شتمني يې ترې يوړه . خپل هېوادونه يې ودان، خو دنورو ويجاړ شول.

سيد جمال الدين افغان دمسلمانو ختيځو او آفريقايي هېوادونو ديووالي او اقتصادي ودې لپاره يو سرليك جوړ کړ او هغه يې دترکيې سلطان عبدالحميد ته ورکړ. ترکيه دلويديځ په دسيسوکښې دامې ډوبه وه، چې تراوسه دلويديځ په اقتصادي مرسته ولاړه ده. مصر، ترکيه او نور اسلامې هېوادونه له امريکې څخه معاش اخلي.که دغه معاش نه وي، دوی ځان ساتلای نه شي.

له نولسمې پيړۍ څخه دغه سيالي روانه ده او داهغه مهال دی، چې لويديځ په تيره بيا انګليستان ډېرهېوادونه نيولي وه. ددوی دوياړ خبره داوه، چې ددوی په هېوادکښې لمرنه ډوبېږي . يعنې يوځای نه يو ځای لمر وي. دا څه، چې تاسې اوس وينئ. دا د هغه پلان لړۍ ده.چې په ۱۹ پېړۍ کښې پيل شوې ده.

اروپا په لومړۍ لويې جګړې (۱۹۳۹ع) کښې خپله برلاسي له لاسه ورکړه. وروسته له دوه يمې جګړې امريکې ورو.ورو دغه برلاسي ترلاسه کړه، چې داده روانه ده.

غرب دځان په ګټه دشرق مدينت، خپل کړ: خو.چې شرقي هېوادونو ته راشي .وحشت د مدنيت ځای ونيسي.

د ختيځ مد نيت او پوهه، چې په لرغونو مهالونوکښې يې شتون درلودلو: تر دې دمه له لويديځه پياوړې او خوندي ده. خو لويديځ غواړي، چې دوی له تاريخه خلاص کړي. له ختيځو هېوادونو څخه يوه جغرافياوي ګډوله جوړه او خلك يې مزدوران کړي .څو يې دخپلواکی ، ناموس اودين له ارزښتونو هم بې برخې کړي.

مسلمانان به خپله وسه کوي. داسلام دين دهويت برخه ده او مدنيت هم: ځکه لرغوني مدنيت (سور،ساك اوپاکت) ته تللی نه شي. چې هغه په حقيقت کښې مدنيت دی لويديځ له هغو زده کړی. اوس هم دهغو علمي لړۍ چلېږي

نوې تکنالوجي ددوی ده.خو دغه ډیموکراسي اوتکنالوجي دبشر دښېګڼې لپاره کارنه کوي. په نظامي برخه کښې دې تکنالوجۍ او ډیموکراسۍ دپانګولۍ لپاره، هېوادونه برباد کړل.
ګوډتیمور. چې هېوادونه وران کړل: هغه باروت درلودل. چې په نورو هېوادونو کښې دغه مهال تورې او غشي کاریدل. دهغه (ګوډتیمور) په باروتو اوس امریکا او اروپا چلیږي.یعنې دا هماغه باروت دي

# دختیځ او لویدیځ د مسلمانانو توپیر:

۱- په غرب او لویدیځ کښې منظم دولتونه دي او هرڅه یې منظم دي.خو سیالي یې له یوې نامنظمې ډلې سره ده. چې ددوی په نس کښې ژوند کوي
۲- دغرب یالویدیځ اقتصادي حالت او د ژوند سویه لوړه. خو ور سره د مخامخ لوري تیته ده ددې معنا داده. چې دوی لږ لګښت او غربي هېوادونه ډېرخرڅ لري دیوه ټانک. الوتکې. بیړۍ او موټر قیمت څومره دی؟
۳- دغرب سره مخامخ شوی لوری له مړینې وېره نه لري. آسانه مري، خو لویدیځ ته ژوندون ډېر اهمیت لري.
۴- هغه خلك. چې په ختیځو هېوادونو کښې د امریکا پلویان دي. هغوی هدف نه لري: دپیسو لپاره کارکوي او هغوی دچنجیو په څېر دي. چې په لویدیځ پورې نښتي دي او وینې یې زبیښي. خو په کارنه پوهېږي او صادق هم نه دي.
دغه څلور خطرناکې عرابې دي. چې نامنظم. بې دولته .بې اصوله .بې اقتصاده ګاډی بیایي..
۵- که لویدیځ دورځې یوبلیون ډالره مصرف ولري: مقابل لوری یولك هم نه لري.ددې جګړې پای دبشرتباهي ده او لویدیځ هم له پښو غورځوي
مونږ پښتنو خپل اصول دګرشاسب له زمانې څخه تر اوسه ځه نا څه ساتلي دي او دا اورونه مو پر سربل کړي.خو مونږ له نورو قومونو سره په اسلام او افغان کښې یو ورونه یو هرڅومره. چې دوی اسلام اوافغان پرېږدي او پرتګیانو سره ودرېږي: مونږ به پښتانه پاتې کیږو.
هرڅه، چې وشوه. تکیه پرخدای، پښتونولي زمونږ نوادر الاصول دي.

كله، چې شورويانو پر افغانستان را ودانگل؛ ددغه كتاب ليكوال اووه دليله وويل. چې شورويان له افغانستان څخه نه وځي اوهغه مې په ۱۳۶۰ل كال كښې دافغان ملت د جريدې خپاره كړل او دلته يې بيا ليكم :ځكه. چې دامريكې په برخه كښې هم اړخ لگوي:

۱. دغه جگړه لويديځ هېوادونه سره نژدې كوي.

۲. دشوروي اتحاد اقتصاد ويجاړ وي.

۳. دشوروي اتحاد خلك دغه جگړه يوه ضروري جگړه نه بولي .

۴. دشوروي اتحاد د لاس لاندې هېوادونه خپلې خپلواكۍ ته هڅوي .

۵. په نړۍ كښې دشوروي اتحاد شهرت ته كلكه صدمه رسوي.

۶. اسلامي نړۍ يو موټى كوي او د افغانانو مرستې ته يې را بولي.

۷. دكمونيزم مفكوره په ظلم او تېري بدلوي او نړۍ ته يې رسوا كوي .

كله، چې دپښتنانه په لرغوني تاريخ كښې وروستۍ برخې ليكم يو يو خبر ثبتوم؛ ځكه تاريخ همدغه پېښې دي،چې نن او پرون ثابتې شوې دي.

د۱۳۸۴ لمريز كال دغويي په دوه ويشتمه دنړۍ په ټولو خبري وسيلو كښې راغله، چې دننگرهار په جلالكوټ كښې يوه داسې مظاهره وشوه، چې ډزې په كښې وشوې، ودانۍ وسوځول شوې، څلورتنه مړه او ډېرټپيان شول او په دامريكا پرضد شعارونه وركول كېدل.

دمظاهرې مطلب هغه اهانت و، چې د گوانتانامو په امريكايي محبس كښې كلام پاك ته شوى و او نيوزويك مجلې دهغې راپور كښلى و. په مظاهره كښې د ښوونځيو زده كوونكيو ، دلوړو زده كړو زدهكوونكيو اوعامو خلكو برخه درلوده او ورته مظاهرې په نورو ولاياتو كښې هم شوې وې خو دومره تلفات يې نه درلودل ـ دجلالكوټ .٠دغه مظاهره په چهارشنبه وه.

په پاكستان كښې مجلس اتحادعمل پرېكړه وكړه، چې دجمعې په ورځ دجمعې له لمانځه وروسته به په ټول پاكستان كښې په همدغه مناسبت مظاهرې كېږي. چې بشپړې څرگندونې به پرې وشي.

اسلامي روحيه په افغانستان كښې پياوړې ده،خو دانگليس، روس او امريكې مزدوران داسې چينجي دي، چې دواړه خواوې خوري. يعنې هم خپل باداران او هم خپل ملت.

دا يوه عقيدوي مظاهره وه، چې دقرآن لپاره وشوه،چې ډېر څه يې وښودل . هغه ودانۍ، چې دنړاروا پيسو له لارې جوړې شوي وې، وسوځول شوې. خو مطلوب يې دادی، چې امنيت نه وي خلك راضي نه وي. ماڼۍ او ودانۍ هيڅ دي :

څه شورماشور دی ؟ په شورماشور کښې ليلا خان سينګار وينه (!)

په هغه ورځ، چې په جلالكوټ كښې ناكراري وه، په واشنګټن كښې هم ناكراري وه.

په جلال اباد کښې خبره ډېره روښانه وه،چې امريكايانو له شپيتو سره دا كوچنی او ښوزلی هېواد نيولی . امنيت، اخلاق،عزت او هرڅه يې برباد دي، خو په واشنګټن كښې، چې دټولې نړۍ دپاملرنې مركز دی، دلته څه پېښه وشوه ؟

يوې وړې شخصي الوتكې په هواكښې لاره وركه كړه؛ د واشنګټن هغې فضاته ننوتله، چې منع اعلان شوې وه. د ۲۰۰۱ د سپتمبر په فكر كښې جت جنګي الوتكې په هواشولې: پوليس او عسكر وخوځېدل. له سپينې ماڼۍ او نورو ټولو ادارو څخه يې پنځوس زره كسان وايستل .جمهور رييس بش نه و. هغه بل ځای ته د بايسكل څغلولو لپاره تللی و . ديك چيني دجمهور رييس مرستيال يې له هغې لارې وويسته. چې دځمكې لاندې جوړه شوې او په خطرناكو حالاتو او پېښو كښې يې لوړ پوړي چارواكي كاروي. يوه منډه وه، های او هو و. په نورو ولاياتوكښې هم ترتيبات ونيول شول جنګي الوتكو هغه وړه الوتكه راكښته كړه. دوه تنه ساده ملګري په كښې ول،چې په هيڅ نه پوهيدل،خو لاره ترې غلطه شوې وه. فاعبتروايااولولابصار

دغه دوه پېښې دلته ثبت شوې، چې په تاريخ كښې ياتې شي . دريمه هم شته،چې هغه به هم وليكم

وايي تاريخ پرون ، نن اوسبا سرې ته بيانوي. يعنې دماضي، حال او استقبال خبره كوي . رحمان بابا څه ښه ويلي دي :

چې په حال كښې يې حال نه وي څه اميد په استقبال شي

داهم شعردی هم حكمت.

دجلال آباد دمظاهرو په سبا دامريكا په نشنل پبلك راډيو N.P.R يا دخلكو په راډيو كښې يوه بشپړه ګړۍ دافغانستان پر حالاتو خبرې وې. ددغه خبروميلمه كړي شرون نوميږي، چې پنځه ديرش كاله يې په C.I.A سي آی ای كښې كار كړی دی. ده وويل:

زه دافغانستان دحالاتو ماهر يم . دی لومړنی سړی دی . چې له چورلكې څخه دافغانستان په شمال كښې كښته شو. ده دشمال جيهې له مشرانو سره وكتل او په پنجشير كښې يې هركلی وشو.
ده وويل: مسعود زما يخوانی ملګری او پنجشيريان په همدی توګه پيژنم . زما كار داو، چي دوی منظم كړم او دطالبانو له ځينو قوماندانانو سره هم اړيكې ولرم. شمال اتحاد او دنظار شورا په پوره ډاډ ويل ،چې اسامه بن لادن په لاس دركوو او دطالبانو مركز ونه دبمبارد لپاره دربښيو.
داسامه نيول يا وژل دسي آی ای يا دامريكا داطلاعاتو د مركزي اداري دنده، هدف او ټګ ټكی و.
ده وويل: دشمال تاجكو، ازبكو او هزاره و پيسې غوښتې، مونږ هم وركولې .البته دده دا خبرې د بش په جنګ كښې كتاب كښې هم راغلي دي، خو نوې خبرې دا وې، چې داسامه بن لادن غوښتنې له طالبانو سره يوشانې نه وې. اسامه دعراق ، فلسطين اوله عربستان څخه دامريكايي عسكرو وتل غوښتل او طالبانو ته دافغانستان مسايل مهم ول. ده وويل دافغانستان له خوا امريكايې عسكر او دشمال اتحاد ملګري كوم مشكل نه لري: مشكل او ربړ پاكستان كښې دی، چې هلته قبايلي مشران خپل روايات لري . پاكستاني عسكر په دې برخه كښې سمه مرسته نه كوي، چې بن لادن ونيسو .خو ډېر عرب مو ونيول. له ده څخه پوښتنه وشوه، چې بن لادن كوم زورنه لري؛نو بيا ولې دومره اهميت وركوئ؟
ده وويل : هغه سمبوليكه بڼه لري. يعني دټولو افراطيونو لپاره ځلی دی.
ده داهم وويل : بن لادن جنګی سړی نه دی، خو په سياست پوهېږي او هوښيار څاروال دی.
" كری شرون وويل، چې نوموړی دعراق او افغانستان سره تړاو نه لري .
هرګوره دامريكی كتنی په افغانستان كښې نوري دي. لكه مركزی آسيا ، ايران، چين اونور.
په دی يوه ګړۍ خبرو كښې ياده شوه، چې امريكا به افغانستان كښې جنګ پرېږدي.
بله ورځ دامريكا دفاع وزارت وويل : چې دننه په امريكا كښې يې خپلې يوسلواتيا پوځي اډې وتړلې اډو سره شا اوخوا خلكو ، چې په دغو اډوكښې يې كارونه كول او اډو

ته نژدې يې كورونه جوړ كړي وه، په مظاهرو لاس پورې كړ . دامريكې دغه كار خلك هيښ كړل، چې له دوه حالتونو څخه دباندې نه دي: يا دغه اډې په نورو هېوادونو كښې جوړېږي يا دا ، چې په اقتصادي ربړه اخته شوي دي .

دافغانستان خبرونه يوځل بيا په نړۍ كښې تاوده شول هغه هم درې خبري دي : طالبانو او ګلبدين ته بلنه وركول ، چې داوسني حكومت اساسي قانون دې ومني، نور څوك ورسره كار نه لري.

دوه يم پراخې مظاهرې، چې پنځه ورځ يې دوام كړى اوډېركسان په كښې مړه اوټپيان شوي دي پوليس اوحكومتي عسكر له دغه شميره كه ربښتيا اتلس تنه وي، بېلې خواوې ښودل كېږي ،خو مظاهرې په جلال آباد ، كابل ، غزني ، ګرديز ، بغلان ، بادغيس او بدخشان كښې شوې دي. دبدخشان امنيه قوماندان وويل: دلته دطالبانو پلويان ډېر دي.

دازبكستان په اند يجان كښې، چې فرغانې سره نژدې دي: هلته يې سورو وسله والو ، بندي خانه ماته كړه، بنديان يې خوشې كړل او دهغه ځاى دښاروالى ودانۍ يې ونيوله . ويل شوي، چې بنديان اسلام پلوي وه.

دازبكستان جمهور رييس اسلام كريموف هلته تللى او دا د اسلام دپلويانو پراخه دسيسه بولي.

په پاكستان كښې هم دجلال آباد تر مظاهرى درې ورځې وروسته دجمعې په ورځ مظاهرې وشوې خو په ځينو خبرونو كښې ويل شوي، چې په امن سرته ورسېدې او په ځينو كښې ويل شوي، چې مړي په كښې شوي دي.

په دغه بدلون كښې، چې په اسلامى نړۍ كښې راغلى ، طالبان او افغانستان پرې مخكښ دي او وايي، چې پښتانه له اوسني افغان حكومت څخه خپه دي.

د ۱۳۸۴ل كال دغوي په وروستيو لسو ورځو كښې كوم حالات، چې له ننګرهار څخه پيل شول او تربدخشان پورې ورسېدل ، په نړۍ كښې دامريكا پرضد خوځښت وګڼل شو. ددغه خوځښت مفهوم دقرآن حرمت و او داهغه حرمت دى، چې ګرشاسب بابا څلورزره كاله دمخه تراسلام كړى و او ويلي يې ول، چې حضرت محمد ﷺ خپل دين څرګندوي، مونږ به دهغه په دين يو. چې دهغه پراخ بيان همدغه كتاب كښې راغلى دى.

دلته که څه هم مطلوب پښتانه په لرغوني تاريخ کښې دي: داخبرونه، ځکه يو يو ليکم، چې مونږ دپښتانه دتاريخ په دغه پوړ کښې يو او دا تاريخ، چې له ديرش زرو کلونو را روان دی، همداسې به دوام لري.

کاشکې ځوان دپښتانه په توره مړ وای
نه چې ګور لره روان وم له تلتکه

له دې ځايه ښېرته دسومريانو اوکاسيانو مهال ۲۰۰۰ کاله مخکښې ترميلاده ځو. د " لارسه " قوانين او لارو ته، چې پښتون پادشاه دکاسي له ټبره هغه جوړ کړی و او په " لارسه " عملي کيدل.

## " لار " _ قانون او " لا " _ Law

همورابي دبابلان يا بابل پادشاه دنړۍ په تاريخ کښې لومړنی قانون پوه دی، چې دهغه "لار" _ پښتونولي ده په پښتوکښې او "لا" _ Low _ قانون دی په لويديځه نړۍ کښې.
په پښتو کښې بې لارې سړی دا معنا لري، چې له لارې وتلی دی، قوانين نه مني يا په لار دی اصول او قوانين مني اوعملي کوي يې.

په انګليسي ليکونو کښې " کود " Code او د هغه هره "لغړه" (ماده) ترجمه شوې ده، چې له نېکه مرغه شته: امريکا او غربی نړۍ ترې تراوسه ګټه اخلي او په محاکمو کښې يې چلېږي.
اوس به هغه څه وګورو:

کله، چې انساني ټولنه جوړېږي قانون ( لار) او نيا و ( عدالت ) ته اړه لري، ځو خپل ژوند په هغه لار سم کړي.

په قانون کښې ځيني تشې يا خلاوې وي، چې وروسته سمېږي. دغه لرغونې لار ۲۶۰ لغړې يا مادې او ۱۲ فصلونه ( څپرکي) لري.
فصلونه (څپرکي):
۱. دعدالت اداره.
۲. مالکيت او جايداد.
۳. ځمکه او کور.

۴ تجارت او نماینده .
۵ . کورنی . ښځه او واده .
۶. دافرادو وهل او ټپي کول.
۷. دافرادو مسوولیت .
۸. کرنه .
۹ . پېرېدل او پلورل.
۱۰. دافرادو دحیثت ساتل .
۱۱. دمریانو ساتل او پلورل.
۱۲. دقانون دځینو مادو ژباړه او تفسیر.

" لارسه " دیوه ځای نوم دی. چې لومړی دا قوانین هلته عملي شول.

له دې تفصیل څخه داسې ښکاري. چې په ختیځ کښې دکمونستانو د" کمون " او لومړې کمون مرحله ییزه تاریخي دوره دتاریخي ماتریالیزم له مخې غلط وه :ځکه په ختیځ کښې دجهالت داسې نا مي دوره نه وه او نه تېره شوې ، چې هلته دې لار او اصل نه وي.

په دغو لارو اوقوانینو کښې ښځه دکور مېرمن ده: دکور ساتنه، پالنه او واك دمیرمن وي. پیغله او واده شوې دواړه خپل خپل حرمت لري :ځکه.چې دهغوی بې حرمتي کول کلکه سزا لري. حتا که ښځې خپل مېړه وژلی وي او په کښې د بل نارینه لاس نه وي، ښځې ته دمرګ سزا نه ورکول کیږي. چې دغه مراعت دنارینه په برخه کښې نشته. پښتنوته دښځې دحقوقو خبره کول بې معنا ده . بله اقتصادي موضوع ده، چې نارینه و نه شي کولی د ژوند ټول وسایل په سمه توګه برابر کړي:نو ښځهور سره برخه اخلي د بېلګې په توګه که مېړه لو کوي. ښځه به یې وړې ټولوي.

## په یوویشتمه پېړۍ کښې یو ځل بیا د امریکا نقشه :

مخکښې له دې، چې یو ویشتمه پیړۍ پیل شي، دامریکا جغرافیه پوهانو دآسیا لپاره د یو ویشتمې پېړۍ یوه نقشه جوړه کړه. دغه نقشه دلاس انجلس ټایمز په ورځ پاڼه کښې خپره شوه نوموړې نقشته دامریکا د بهرنیو چارو وزارت منلې ده.

پر دې نقشې خبرې شوي، خو دا ساده خبره نه ده او له حالاتو هم داسې برېښې، چې داسې یو څه روان دي.

دغه نقشه دامریکا او لوېدیځې نړۍ یو خوب دی، چې رښتیا به شي اوکه نه؟

په کار دي، چې په دې باب ډېرې خبرې وشي او وپوهیږو، چې نقشې سره سم لاړشو که خلاف ؟ داسې خوبونه ډېرو لیدلي دي. که بریالي شوي هم دي،خو وروسته ویجاړ شوي.

په۱۳۸۴ل کال کښې هند اوپاکستان په روغه جوړه خبرې کوي. کشمیر، چې په دغه نقشه کښې یو خانله هېواد جوړېږي، خو دا خپلواکي په لرغوني مفهوم نه ده،بلکې د هغه جهاني نظام سره،چې دامریکا تر مشرۍ لاندې به جوړېږي او ګلوبلایزیشن یې بولي، تړاو ولري.


دافغانستان له شمال څخه د تاجکستان او ازبکستان خاورې بېلېږي او له نورو ځایونو سره تړل کیږي.

ددغې نقشې انجینري دامریکا په لاس کښې ده. دا یواځې دځمکې، خاورې او اقتصادي منابعو خبره نه ده: دین، هڅوب، تاریخ، ژبه او ادبیات هرڅه په دې نړیوال کلي کښې ډوبیږي. نوي بندګان او نورخلك به جوړېږي،چې دا کلونه کلونه غواړي.

داسې هم کیدای شي، چې یو مهال به مطلب له خلکو ورك شي، یوبل به سره وخوري، اروپا او امریکا به سره هم وران شي.

دتاریخ له مخې دا یو داسې خوب دی، چې تر اوسه چاپه عمل کښې لیدلي نه دي،خو دعقلمند انسان دیرش زره کلنې هلې ځلې ور ته روانې دي.

دامریکا په مخفي او پټو پلانونو څوك نه پوهېږي. دتاینبي عقیده دا وه، چې اروپا خپله برلاسي په دوه عمومي یا لویو جګړو کښې له لاسه ورکړه او اوس برلاسي دامریکا شوه په دې برخه کښې خلك دوه نظره یا لیدنې لري: لو مړی دا،چې انګلیس خپل ټول معلومات او پروګرامونه امریکا ته ورکړل او امریکا دهغې په بدل کښې انګلیسي ژبه




خپله ملي اورسمي ژبه کړه. دوه یمه دا.
چې یهودانو دغه پروګرامونه دوی ته جوړ کړي یا مغزه دیهودو او عمل دامریکا دی.
که داسې وي؛ نو زمونږ لار کومه ده ؟
په لومړي سرکښې مواخبره کړې وه،
چې دافغانستان او امریکا ترمنځ کوم تناسب نشته.یعنې ددواړو تر منځ اقتصادي ، نظامي او سیاسي تناسب نه لیدل کیږي،خو داسې هېوادونه ول، چې دهغوی او امریکا ترمنځ حتا رقابت اوسیالي وه.
تاینبي داخبره کوله، چې امریکا خپله برلاسي له لاسه ورکوي اوکه چېرې دنورو هېوادونو دین او هڅوب ته په سپکه ونه ګوري؛ نوکولای شي خپله برلاسي وساتي.
په دې باب دېرکتابونه لیکل شوي ، چې روان عصر پای ته رسیدلی دی.
ګرشاسب بابا ویلي ماخپله هوښیاري تاسوته پرېښې ده. ګرشاسب بابا اندیښمن او پوهیدلو، چې څه حالات را روان دي.
کومه فکري لړۍ، چې د پښتنو له ګرشاسب بابا سره وه، بویه هغه وساتل شي. همدا اوس، چې دغه کرښې لیکم ۱۳۸۴ لمریز کال دی. دنړۍ حالات او دامریکا برلاسي روانه ده؛ څوك ترجلب لاندې روان دي او څوك یې مخې ته ولاړ دی. دطاقت کوم تناسب نشته بیا هم دامریکا مخالفین خپله وسه کوي.
په دې مهال کښې، چې پرافغانستان دامریکا او دهغه د ملګرو برید ددریم کال نه څلورم ته نژدې کېږي. ټوله نړۍ له پاکستان څخه د القاعده او طالبانو مشران غواړي. پاکستان مهال په مهال څوك ونیسي او ویې ښیي. چې دادی د القاعدې مهم غړی. هر وار، چې پر و زیرستان او وانه دپاکستان لښکرې او امریکایي پوځي مشران او ماهران ورځي او په هغو خلکو څه تېرېږي، زما غوښې ورسره خوړل کېږي او له هغوی سره د چا خواخوږي نه وینم.



بس دی _ ۲۰۰۴ اکتوبر

In the eyes of the fundamentalist Muslims of waziristan, a tattered Bollywood move poster (above left) is evidence enough of the presence of " foreign fighters " Those accused of collaborating with Al Qaeda face retribution. The old man to the left begs a tribal posse no to destroy his home. By burning houses of suspects (below right), Ahmadzai men hope to satisfy the army that their tribe doesn't harbor militants .Mir Abbas Khan (below left) was not is lucky- the army bulldozed his house.

په ۱۳۸۱ لمریز کال کښې مې واورېدل، چې امیر نیاز علي خان ای پي فقیر سره ګډ ناست وفات شو نو دخواخوږۍ څوکرښې مې دافغان ملت جریدې ته ، چې په پېښنورکښې چاپېده، ولیکلې. دهغې جریدې یوه نسخه یې امریکا ته راولېږله،خو شپږ میاشتې تېرې شوې، جریده راونه رسېده. په اوومه میاشت دهغې جریدې یو نیم انچ په یونیم انچه کښې راورسید ه . په یوه رسمي پاکټ کښې دامریکا د پوست دفتر یا ډاکخانې بخښنه غوښتې وه، چې ستا اخبار وران شوی دی. ډاډ مودرکړ، چې په اصل کښې اخبار همداسې را رسیدلی دی.

وروسته له دغو حالاتو په زرهاو داسې خلك دپښتوترجمانان شوي،چې په پښتو سم نه پوهېږي. داجریده، چې دوزیرستان ذکرپه کښې و، په ډېرو ترجمانانو وېشل شوې، چې ترجمه یې کړي. یعنې په انګلیسي یې واړوي. هغه څه، چې دوی په جریده کښې لیدلي وه،یواځې دامیرصاحب نیازعلي لپاره یوه دعانامه وه.

دغه ترجمانان، چې دمیاشتې لس ډالره اخلي، دومره وخت یې په دې جریده تېرکړ، که پیسوته یې واړوي؛ نو دوه سوه زره ډالرېې تللي. چې شپږو میاشتو کښې ترجمه شوې وه

ACKU

# پاکتیا – پکتیا Pictland

Land یعنې ځمکه پکتلنډ ،سکاتلینډ(د پکت ځمکه او دسکات ځمکه) پکتیش Pictisch دامسایل له هره پلوه، چې واړوې راواړې. هماغه خبره په لاس راکوي، چې پښتانه دي.

مونږ غواړو، چې دپښتانه قابلیت په لرغوني تاریخ کښې وښیو. اوس یې وګورو، چې خپل آریایي سور، پاکت او ساك په دوی څه کوي ؟

په دغه کتاب کښې مې، چې دسکاټلنډ تاریخ نومېږي، یوه عجیبه جمله ګئ ولیدله اوهغه داسې ده: تاریخ History یو و ګړي جوړ وي.

History Made a peole

دا بویه وکتل شي، چې تاریخ څنګه خلك جوړوي ؟

داخبره دنسل او نژاد نه ده. تاریخ خلك جوړوي او هغه ددین ، ژبې او هڅوب یو کیدل دي.

سوریه هماغه سور دی‌او سوري بلل کېږي، چې دین، ژبه او هڅوپ یې له عربو سره یو شو. اوس یو عربي هېواد ګڼل کېږي - یعنی تاریخ جوړ کړل.

افغانستان دوه اهمیته لري: یو تاریخي اوبل جغرافیاوي. کله، چې هلته کوشانیان ( کوچیانیان ) یفتلیان وي. ډېرمنظم او پیاوړي وي، چې بیلتون راشي شل برخې شي.

یوخلك پکت، ساك او سکات ول،چې د ختیځ له لوري تللي او بیا یې تاریخ په لورې تللی دی،دې سره نور څوك شوي دي یا په هند او ایران کښې مونږ دا سې سوك او څپېړې یو، چې یوبل سره څنګه وپیژنو او کنه وي یو وزیرستان څه کولای شي ؟ چې په افغانستان کښې دغلځو او درانو خبره وي. تاجك ،ازبك او هزاره د دین او تاریخ خبره نه کوي ، د نژاد او نسل خبره کوي. له اصله تېرېږي او په فرع تړل کیږي. دا،خو دانګلیس او امریکا کار دی. حال دا ، چې که دوی جګړه نه وای پیل کړې، په ګډوګتهو داکارکیدای شو . اوس ،چې جګړه روانه ده: نو هرومرو دمدنیت خبره په وحشت بدله شوې، علم په جهل.

غرب جاهل شوی:

مو نږ ناچاره !

دا به څنګه شي؟

یو خلك، چې لوړ اودنګ وي: ربښتیا ووایي، زړوراو میلمه پال وي. که پښتانه نه وي، ډېر ورته دي،خو څوك یې نوم نه وایې: دا ورسره وایي، چې دنوې نړۍ په جوړولو کښې یې لویه برخه اخستې ده.

په څوتاریخونو کښې لکه تاریخ منظم ناصري او تاریخ احمدشاهي کښې راغلي. چې احمدشاه بابا دچین دسنکیانګ او مازندران پر لوري خوځیدلی و او په پای کښې یې شاه پسندخان او نورو مشرانو ته وویل،چې لږ غوندې، روغتیا اجازه ورکړې ده، دی به انګریزان له هندوستان څخه وباسي چې بیا دده لمسي شاه زمان دې خبرې ته ملا و تړله . کاشکې ټول په دې پوهیدلی او بیا وروسته یې دانګریزانو په مخ کښې اټنونه نه کولای. دا نیکمرغي ده،چې لیا د میرویس او احمدشاه داسې مین شته. چې دهغوی ارمانونه ترسره کړي څکه دا لویه جګړه ده، دپښتون دشتون.

که دعشق لاره اغزنه ده هرګور
دعاشق په پښو څپلۍ دي د اور
(رحمان)

رحمان بابا پښتون صوفي دی ،چې دکار خبره یې کړی ده. یعنې هغه اغزي، چې ستاسو دلارې خنډ وي. هغه اغزي وسوځوئ.

# پښتانه په تاریخي اطلسونو کښې

دتاریخ په څېړنه کښې نوی عنصر ځمکه کیندنه یا آرکیالوجي Archeology ده، چې تاریخ ته یې دعلم بڼه ورکړې ده. لوښیی ، سکې ، سامان او کتیبې دا ټول هغه شیان دي، چې لیدل کېږي.

مواد او فلز که سره زردي که سپین یا اوسپنه که مس ...

مهارت ، مفکوره ، عقیده ، رواج، دود او دستور داټول یې له څېړلو څرګندیږي.

کومې خښتې او جوړښت، چې دسنده په حوزه لیدل شوي، په بین النهرین ( عراق او سوریه) کښې لیدل کیږي .ارمنستان، شرقي اروپا او حتا سکاتلنډ، چې ډېرلیرې دي: خو دغه محصولات په هماغه درې پښتني مدنیتونو پورې اړه لري، چې سور،ساك او پاکت ګڼل کیږي .

PROPERTY OF ACKU 23610

په دې لړکښې تاریخي اطلسونه دي، چې دځایونو نومونه. ددین او دستور څوې ترې تر لاسه شوي دي .

دآرکیالوجي دمجلې د۲۰۰۲ ع کال دمارچ او اپریل په ګڼه کښې دافغانستان په باب لیکلي، چې ددوی تاریخي آثار د لویدیځ په شخصي موزیمونوکښې دي ، چې په هر هېوادکښې یې خلك لري. دافغانستان ماشومان به په راتلونکي کښې اړ وي،چې خپل تاریخي میراث په لویدیځو هېوادونو کښې وګوري او ووایي، چې ددوی په لاس یعنې د افغانانو میراث شوي توکي دي.

له بده مرغه مونږ دخپل تاریخ په داسې پېرکښې ژوند کوو،چې په دغو آثارو پسې شپه او ورځ خپل او پردي ګرځي او دا ورته د ښه ژوند کولو وسیله ښکاري ،خو دا نور د خپلو پلرونو هډوکي خوري.

په دغه مجله کښې دمسه دونیا یا مقدونیې د یوې ملکې دیوې مجسمې عکس چاپ شوی دی، چې له عاجوجوړه شوې او په بګرام کښې موندل شوې ده.

مجلې لیکلي،چې دغه مجسمه لیلام ته ایښودل شوې او دمیلیونو ډالرو خبره ده.

دجاپان او اروپا دلالان ورته چمتو دي. خو چا، چې ډېرې ډالرې ورکړې دهماغه به وي.

د یادونې وړ ده ،چې دغه پژه (مجسمه) دکابل له موزیم څخه بازارته رایستل شوې ده.

دتاریخي آثارو تښتول او د قبرونو سپړل لکه دتریاکو قاچاق او کرل دبدمعاشو کار دی او بدمعاشان نه یوهېږي، چې اخلاق او ملي ولوله هم یوه معنا لري.

بدمعاش په هندکښې مروجه کلمه ده، چې له بد او معاش څخه جوړه شوې ده .

په کابل کښې ورته حرام خور وایي. چې نن ( ۱۳۸۴ل کال)حرامخواره بېل بېل ډولونه لري. لکه جاسوسي ، دخلکو وژل ، قاچاق ، تاریخي آثار وړل، رشوت، غلا ، دانسانانو دبدن غړي غوڅول او خرڅول.

کله، چې دطالبانو حکومت وغورځید او دامریکا په اصطلاح آزادي او ډیموکراسي راغله ورسره سره سمه په نړیوالو راپورونو کښې دې خبرو سر وایست او دتاریخ یوه توره پاڼه جوړه شوه.

که څه هم په افغانستان کښې اوس دغه مسایل،چې دبد معاشۍ نوم مو ورکړی له شر او فساد ، فحشا او منکر سره عادي دي،خو په تاریخ کښې هره کلمه خپله معنا لري.

# پښتانه په هندوستان کښې

که څوك دغه موضوع وڅېړي، چې پښتانه په هندوستان کښې له کومې زمانې شتون لري؛ پخپله به ډېرکتابونه شي. په دې باب د بي بي سي B.B.C راډیو: "پښتانه په هندکښې" په نوم یو پروګرام خپورکړ، چې ثبت یې ماسره شته او همدا راز "پښتانه په کشمیرکښې" بل پروګرام و. سربېره پر دې په هندوستان کښې د سوریانو، لودیانو او غوریانو په باب مهال په مهال کتابونه لیکل شوي او د هند په کتابتونونوکښې ډېر څه موندل کېږي. دلته پر تاریخي آثارو، ودانیو، نومونو، دودونو ... دومره معلومات شته، چې د هر څه پته ترې لګیدای شي،خو یواځې د ژبې او دین بېلتون دی، چې دپښتون دعنصر پته ترې نه لګي. دهندو له دین اومذهب څخه کولتور جوړشوی او ډېر خدایان یواځې بهابارت کتاب شل زره صفحې دي،چې ملتپالنه او ناسیونالزم یې هم هماغه شوي دي.

# د افغانستان دخپلواکۍ انګازې

په ۱۲۹۸ لمریز کال کښې کله ،چې امان الله دافغانستان دبشپړې خپلواکۍ اعلان وکړ او مسلمانان یې اسلامي جهاد ته راوبلل؛ یو شور او زوږ په هند کښې راغی. دغه مهال له بشپړ افغانستان څخه دسرحد پښتانه پاتې او د ډیورنډ کرښه د انګلیسي هند او افغانستان سر حد شو،خو د بشپړې خپلواکۍ انګازې په نړۍ کښې خپرې شوې.
امان الله خان دیوه مسلمان مجاهد په توګه ودرېد، خو دکافر په نامه لاړ. دا ،چې څنګه یو اتل مسلمان دیوه ناکامه کافر نوم وګاټه، دڅېړلو وړ ده،چې ولې داسې وشول ؟
دا ډېره پېچلې خبره نه ده. لامل یې دلوېدیځې نړۍ د مدنیت یا کلتور منل: په داسې حال کښې، چې ملت هغه نه غوښت. اوس هم هماغه مسأله ده او امریکاهم راغلې ده .
د ۱۳۰۶ل کال دچنګابښ په میاشت کښې امان الله خان دوولسو هېوادونو ته دسفر په نیت وخوځېد خو لومړی هند ته لاړ. په هندکښې دامان الله خان هرکلی هندوانو او مسلمانانو وکړ. امان الله خان خپله مېرمن ملکه ثریا هم له ځانه سره بېولې وه، چې په کارنه وه.

# د روهيله کندپښتانه

هغه مهال، چې دافغانستان د استقلال استازي هند ته دخبرو لپاره تللي وه، د روهيله کند پښتانه محمود طرزي ته ورغلل او هغه ته يې يو ليکلی پيغام ورکړ. اته کاله وروسته، چې امان الله خان هندته لاړ: د روهيله کند پښتنو ده ته بيا خپل پيغام ورکړ. چې روهيله کند په هندوستان کښې افغانستان دی. دوی په خپل دغه پيغام کښې ليکلي وه، چې پښتانه لس پيړۍ وړاندې له روه، سوات غزنين او کابل څخه دخپلو تور سرو په ګډون دلته راغلي او د حاکمانو په څېر اوسېدلي دي.

که دافغانستان خلك په دغو اړيکو پوه شي: له صله رحمۍ او مينې څخه ليرې نه دي. چې دلته اسلامي مدرسې جوړې او خپله رابطه ټينګه کړي.

جناب شاکرحسين نګهت شهسواني يوه قصيده ليکلې وه او امان الله خان ته يې ورکړه. په قصيده کښې دافغانستان او روهيله کند تاريخ ليکل شوی و. امان الله خان بيا اروپا ته لاړ اته مياشتې وروسته په داسې حال کښې کابل ته راغی، چې مخ لوڅې ملکه په اروپايي کاليو کښې ور سره وه.

په۱۳۰۷ لمزيز کال کښې په دهمزنګ کښې، چې اوس بريکوټ هم ورته وايي: خلکو وويل، چې امان الله خان بدل شوی دی . بيا يې تغرتول شو. که څه هم انګليسانو ډېر تبليغات کړي وه، چې په عمل کښې هم څه ليدل کېدل.

په هند کښې زردښتيان او ايرانيان هم امان الله خان ته راغلي وه. شهسوانيان او زردښتيان د اعليحضرت شاه اشرف له ماتې څخه وروسته هندوستان ته راغلي وه :څکه پښتونولي يې خوښېدله او په هندکښې داحمدشاه بابا غورځنګ و، چې وروسته له لوديانو او سوريانو هلته څرګند شوی و. شاکرحسين شهسواني لس پېړۍ ښودلې وې.

# دسلطان محمود له مهاله بيا دغوريانو
# تر روښانه زماني د ملي شتون لټون

په ډيلي کښې د افغانستان لوی سفير دوکتور عبدالحکيم طبيبي: په بهرکښې دافغانستان سفيران دومره ګړندي نه ول، څينو ته به يې شپرك ويل؛ ځکه دشپې به په ميلمستياو کښې ليدل کېدل، د ورځې به نه ترسترګوکيدل.خو څينې به يې شپه او ورځ لګيا ول کار به يې کاوه.

په ۱۳۵۰ لمريز کال کښې دوکتور طبيبي په هندوستان کښې دافغانستان لوی سفير و. دغه مهال دبهرنيو چارو وزير محمد موسی شفيق و. زه، چې ډيلي ته لاړم طبيبي په ډيپلوماسۍ کښې بريالی و.

نورسفيران له بېلا بېلو هېوادونو څخه دده ميلمانه کيدل: ده به دافغانستان خوندورې ميوې ورکولې او بشپړ راپوړونه به يې خپل هېواد ته ليکل.

دهند له پښتنو سره يې هم نژدې اړيکې درلودلې. په کولکته (کلکته) دپښتنو وضع ويجاړه وه: له دې لامله، چې په بنګال کښې دپاکستان سرلښکر جنرال نيازي و او نوی زره لښکر ورسره و. په لښکرکښې زياته برخه دپښتنو وه: نو په لارو. کوڅو او بازارونو کښې له پښتنو سره بده وضع کېده. حتا،چې شپاړس تنه ترې وژل شوي وه.خو طبيبي او موسی شفيق دهند له دولت سره داخبره جدي نيولې وه.

عبدالحکيم طبيبي له شيخ عبدالله سره، چې دکشمير په زمري يادېده، نژدې ملګرتياجوړه شوې وه. موسی شفيق او طبيبي دواړه پوه او وطنپال افغانان ول.

دوکتورطبيبي ماته وويل: ته،چې کلکتې ته لاړې ،داخبره هلته دهند او بنګله دېش مشرانو ته ياده کړه، چې چاره يې وکړي او پښتانه له عذابه خلاص شي . ما په ډېرې چټکۍ دا کار تر سره کړ . طبيبي صاحب خوشحالي څرګنده کړه. ما وويل :په داسې حالاتو کښې مونږ تاسو ته له سر او ماله تېريو. په همدې توګه مې له شيخ عبدالله سره، چې فاروق عبدالله دده زوی و، دکشمير او افغانستان پر تاريخ مو خبرې وکړې؛ځکه،چې پښتانه په کشميرکښې ول او شته، خو دوی وايي: هرچاته خپل وطن کشمير دی، خو سره له دې دمينې او محبت او ورور ګلوۍ خبرې دپښتنو خوښې دي

لکه څنګه، چې پښتانه خپل شتون خوښوي، دنورو هویت ته هم خوښ او خوشحال دي او دامیراث ډېر پخوانی دی، چې داحمدشاه په خیالاتو کښې راغلي دي. شیخ عبدالله غوښتل، چې کشمیر خپلواك وي او دافغانستان ملګری وي، خو هند او پاکستان دواړو ددغه شتون مخالفت کولو.

لیکوال دلته دوه انځورونه ( تصویرونه) راوړي، چې ملي خط ترې څرګند شي.

دغه مهال زه دیو غیر دولتي اخبار مسوول مدیر وم ، موسی شفیق د بهرنیو چارو وزیر ، نور احمد اعتمادي صدر اعظم او دوکتور عبدالحکیم طبیبي په هند کښې لوی سفیر ، په دې خبرو پسې ګرځیدل، چې له دې زمانې ( ۱۳۸۴ لمریز) سره ډېر توپېرلري.

ما دبنګله دېش دخپلواکۍ په نړیوال کنفرانس کښې دغړې په توګه، چې دګاندي دسولې دموسسې له خوا جوړشوی و ،د غړي په توګه دغه دنده ( وظیفه) سرته ورسوله.

په همدې توګه دکشمیرله صدراعظم شیخ عبدالله سره اوږدې خبرې وشوې،چې دتاریخ له مخې په هندکښې دپاملرنې وړ او دخوښۍ خبرې وې.

هندوستان په هره توګه، چې کېږي دغه اغېزې له مینځه وړي او په ایران کښې هم همدا هلې ځلې روانې دي، خو زمونږ خلك په خپلو کښې اخته دي.

امان الله خان په دې مسایلو پوهیده؛ په هره برخه کښې یې څه نا څه هلې ځلې وکړې، دی ښه امام ، ښه نطاق و او ښه جاذبه یې درلوده،خو څه عوامل ول، چې ده لومړنۍ لاره پرېښوده دلویدیځ د مدنیت لاره یې ونیوله،چې دی هم پرې بربادشو او افغانستان تر اوسه دلویدیځ دښکیلاك په اور کښې سوځي.

پښتانه په تېرو درې پیړیو کښې له هر لوري وټکول شول.

دملي تاریخ له مخې ډېر داسې مسایل شته، چې بویه ډېر وویل شي، څو د خلکو په مغزو کښې ځای ونیسي.



دا دی دوه پیړۍ وروسته انګلیس او امریکا . لویدیځو مسلمانانو ته د ۲۰۰۱ ع "تهه ـ یوولس" پلمه جوړه کړه. چې پرې ټوله نړۍ ونیسي. چین او روسیه په دې نیت روان حالات څاري او غواړي،چې په جګړه کښې دواړه ستومانه او کمزورې شي. لکه، چې شوروي اتحاد کمزوری او ووېشل شو.

په افغانستان کښې هر مهال، چې یو ملي اسلامي دولت راشي: دوی دآسیا زړه ( د پښتنو جغرافیاوي او تاریخي شتون ) وکړوي. ملي په معنا د ناسیونالزم نه دی ، ملي هماغه افغان خیالات دي.



"په نوي ډیلي کښې له ښي خوا: دکشمیر ملي مشر شیخ عبدالله . فرید سیاله د لیبیا دالفجر دورځپاڼې مدیراو قدرت الله حداد فرهاد. ۱۹۷۱ع کال دسپتمبر لسمه

## اته سوه شپته بیلیونه ډالره

زر میلیونه یو بیلیون دی. دعربستان د شاهي کورنۍ پانګه په امریکاکښې اته سوه شپیته بلیون ډالره ده. بن لادن ګه څه هم دامریکې ملګری و،خو له دې حالت سره مخالف شو .

تېره پرافغانستان او طالبانو ولوېده او بیا امریکا پر عراق برید وکړ. څو دتېلو سرچینې تر څارنې لاندې ونیسي .اوس عراق دتیلو،افغانستان دبن لادن او وزیرستان دافغانستان قرباني شول.

دا ټول دیونیکال لپاره ....

# په دوه یمه زریزه کښې دهوتکو مدنیت او امپراتوري

دا به ډېره په زړه پورې وي، چې ډېر وروسته دېښتانه دکهول دیوې څانګې تاریخي برم په روانو ناخوالو کښې لولو. یعنې په داسې مهال کښې، چې مونږ یو خورا بې ډوله افغانستان لرو( ۲۰۰۵ م ۱۳۸۴ لمریز کال).

ویل کېږي،چې په افغانستان کښې اتلس زره عسکرلري،خو دغیرګولي په پنځمه، چې حامد کرزی په واشنګتن کښې و. افغانستان ته د پنځه نیم زره نورو عسکرد لېږلو خبرې شوې دي. دملګروملتونو اونورو هېوادونو عسکر هم شته او امریکا په کښې پنځه نظامي اډې لري.

له بدامنۍ څخه تر بدلمنۍ، رشوت او قاچاق پورې هر څه په دوی کښې دي.

په همدغو حالاتو کښې دهوتکو لوی تاریخ او بنیاد لیکم. داپه دا،چې د عمر وروستۍ شپې ورځې دي بیابه پاتې وي. لکه، چې تراوسه پاتې دي.

په عملي او علمي بڼه افغانستان له مینځه تللی، خوهیله او داد شته.

ستادعشق حرفونه تور نه دي ګلګون دي

دا په دا، چې نوشته په جګرخون دی

دافغان ملي تاریخ په لومړي ټوك کښې دسور ساك او پاکت په باب خبرې وشوې ، چې دآباسین هلمند او آمو د سیندونو په غاړو کښې هوښیارشوي وه.

اوس یو مدنیت ته ورځو، چې په اوسنۍ ترکیه کښې رامنځته شوی او پوره تفصیل لري، چې څه ناڅه به یې وګورو.

په ۱۸۳۴ میلادي کال کښې یو فرانسوي ګرځندوی او ماجرالتیونکي، چې چارلس تکزیر Charles Texier نومیدلو په منځنۍ ترکیه کښې لګیا و، چې دګېلتیك Geltic ښار و مومي. ده په زړوکتابونو کښې لوستي وه، چې دلته یو ښارو. محلي خلکو هغه ته وویل:

هلته یو څو لرغونې: خو ورانې ودانۍ شته، چې له انقرې څخه یو سلو پنځوس کیلومتره لیرې دي. تکزیر هلته لاړ او ویې لیدل، چې یوه پراخه سیمه ده . په یوه دروازه کښې یې، چې ترې دغه ښارته دننوتلو لاره ده، د یو مسلح عسکر، چې زیره نه لري، مجسمه ډوله تصویر ولید ،خو نورو لرغونیو تصویرونو ته ورته نه و. محلي خلکو ده ته وویل، چې:

شاه او نورې ځېرې هم شته. هلته لاړ او هيښتيا يې نوره هم زياته شوه.
ده د ډېرو پر ديوالونو تصويرونه اوليکونه و ليدل، چې تردغه مهاله چا ليدلي نه ول.
څوکاله وروسته په۱۸۷۶م کښې يو انګليسي پوهاند "ارشيبالو هانري" دبايبل دارکيالوجستانو په ټولنه کښې يوه بيانيه ورکړه په دې فکر، چې دا به ديوې قبيلې خلك وي، چې "کنانيت" نومېدل او په فلسطين کښې وه خو وروسته څرګنده شوه، چې داسې نه ده او دا د يوې امپراتورۍ ميراث دی.
دوه لسيزي، چې نورې هم تېرې شوې خبره يو بل پړاوته ورسيده او دشلمې پيړۍ لومړۍ کال شو. دغه موضوع پړاو په پړاو کتل شوې، چې په خپل اصل کښې ډېره نوې او عجيبه ده،خو مونږ پښتنو ته ډېره ناشونې ده، چې هوتك يا هاتيك په انقره کښې ولټوو.

دشلمې پيړۍ په سرکښې يو جرمني آرکيالو جست هوګو وينکلر Hugo winckler په خپلو پلټنو کښې په ډېرلوی کچ داسې کتيبې وموندلې او ولوستلې، چې هرڅه په ډاګه کوي.
دا، چې دشلمې په سرکښې څنګه يو نوی مدنيت په ترکيه کښې وموندل شو. دادپوهانو ارکيالوجستانو کار و،خو دا، چې چا هغه د نومونو، نسل، ژبې او کړو وړوله مخې وپيژندل، دا ددغه عاجز کار دی.
زما هغه غلطه خبره نه هېرېږي، چې په ۱۳۳۸ لمريز کال کښې دپوهاند عبدالاحمد جاويد په مقاله کښې راغلې وه او ما يې دکابل په مجله کښې بېرته ځواب ورته وليکو.


هغه دغور دشهزاده او بي بي متو کيسه وه.يعنې غل زی غلځی متانی .... شو.
متانی يو قوم دی، چې مونږ دهغه په څلور زره کلن مدنيت خبرې کوو او دغور دشهزاده ګانو حال دزرو کلونو خبره ده.
تاپه نقشه کښې متانی وليد، چې په کوم وخت کښې و؟
ددې لپاره، چې خبره نامانوسه ده: ورو ورو خپلې اصلي خبرې ته ورګرځو.

کله، چې وينکلر دغه کتيبې ولوستې وار له واره هيجاني کيدلو، چې په دوه زرم کال کښې مخکې له ميلاده په دې سيمه کښې دډيپلوماسۍ ژبه اکدين وه او دغه خلك هيتيتي Hititte نوميدل،خو بيا يې هاتيك بللي، چې ژبه يې لواني وه. لواني او هاتيك سره يو ول.

اکد او سومرين کلده او آسور د تلفظ تو پير پيداکوي. په آريايي ژبه کښې ، عربي. يوناني. چينايي ... :خو. چې نور خصوصيات يې ورته وي بيا لکه د الجبر معاده يوې نتيجې ته رسيږي

که ارکيا لوجستان په پښتو پو هيدای، کار يې آسانه تر سره کېدلو.

اوس،چې ۱۳۸۴ لمريز کال دی په امريکا کښې دپښتو ژبې. ادب، کولتور او تاريخ لپاره ښيرنې روانې دي . دا لاندې داوسنی ترکيې نقشه په ځير وګورئ.



Map 6. The World of the Hittites

۱. په شمال کښې دتورې بحيرې څنډه تومنا Tummanna ده او تومن_ سيمه يا وطن او هېواد ته وايي.

چې په درست تومن او ښاردی
نن هغه زما يار دی
(خوشحال)

۲. په جنوب کښې Kizzuwdana کوز ودانه.

۳. سبري په ختيځ کښېSubari سبری ځای او سبريني قوم دی.

۴. هورين Hurrian آرين هورين دی.

۵. متاني Mitani متانی، متو او متوخېل.

۶. نوهسی Nuhasse نوهستری

۷. په ختیځ کښې ارزوا Arzwa ازره.
۸. میرا Mira میرا.
دنورو ځایونو نومونه تاسو پخپله مقاسیه کړئ. پکتیا، پکتیکا، ننګرهار ... داسې نور ځایونه نشته. په دغه هېواد کښې هاتیك. لواني، سبري او لودیا اوسیدل. چې دشلمې پیړۍ په سر کښې وموندل شول.

پښتانه اوعراقیان، دداسې بلا په خوله کښې دي، چې سل سره لري.
د ((ملت بابا)) ظاهر، جمهور رییس کرزی او څه نور ګډوډ پښتانه، تاجك، هزاره، ازبك؛ داسلام، افغان او پښتانه غلیمان شول. دغه تاریخي نوم بدي ددوی نسلونو او قومونو ته پاتې شوه.

## پښتانه په تاریخ کښې.

لومړی دا، چې چاته پښتون ووایو ؟
پښتانه (( ونه)) او " څانګې " دي او څه دپاسه پنځه زره کاله مخکې په داسې ځایونو کښې ول، چې اوس هلته نشته او دا د نه منلو ده د بېلګې په توګه اوسنی ترکیه یاکوچنی آسیا دلویو پښتنو ټاټوبی و.
په افغانستان،پښور او کویټه کښې، چې کوم تاریخونه لیکل شوي هغه ما نه یوازې دا ،چې کتلي ،بلکې را سره اوس هم شته؛ خو هغه کتابونه، چې له هغو څخه مې خپل مطالب اخستي دي، هغه نوي دي.هغوی، چې تاریخ لیکلو، هغه مهال دغه کتابونه نه ول. اوس ،چې شته چا نه دي کتلي ،خو کیدای شي ویې ګوري .دا کتابونه یو دوه نه دي، په سلهاو دي.
دافغانستان موضوع کړه وړه شوه.
د ۱۳۸۴ لمریزکال دغبرګولي په پنځمه په واشنګټن کښې حامدکرزي او بش داو منله، چې دامریکا پنځه نظامي اډې به په افغانستان کښې جوړېږي.
پښتانه دا مهال په افغانستان کښې اکثریت ،خو په پاکستان کښې دوه یم اکثریت دي.
په بلوچستان، پښتونستان او افغانستان کښې میشت پښتانه ګډ تاریخ لري.
زما دغه لیکنه او دغه نقشه ددغو پښتنو لپاره ده، چې دلته مې د هیتیتي له کتاب څخه، چې اکسفورډ کښې چاپ شوی، راوړې ده.

ACKU

دکتيبې له مخې وينګلر ته څرګنده شوه، چې دغه کتيبې دمصر دفرعون،چې اروپايان يې فيرو بولي (دوه يم رامسس Pharaoh Ramesses_ II )او دهيتيتي دبادشاه (هاتيتوسيليHattusili) ترمينځ يو سياسي تړون دی.

که څوك دډيپلوماسی تاريخ لټوي :نو دوه زره کاله وړاندې تر ميلاده يې همدا غوره بېلګه ده.

څوکاله وروسته يوبل پوهاند بيدريښ هرو زيني Bednich hroziny ومنله، چې دهيتيتي دژبې څرنګوالی به وښيي. دی دې نتيجې ته ورسيد . چې دغه ژبه ((اندو اروپايي)) ژبه ده، چې د" مسو او جستو " ( برونز Bronze ) د مهال له ژبو سره توپير لري.

زه د((اندو اروپايي)) له اصطلاح سره مخالف يم : ځکه دسړي ذهن ته هند او اروپا راځي لکه، چې ګاونډيان وي. دهند او اروپا ترمينځ لويه ځمکه پرته ده. چې سند ، افغان، ماورآ النهر، ايران سوريه او عراق پراته دي. دا معامله همدلته ده. نه په اند او اروپاکښې .

دآريايانو ځمکه همدا ده ، ژبه يې هم ددوی ده، چې هند او اروپا ته تللې . يعنې ټاټوبی يې دلته دی ،خو د ژبو په مخ لارې بندې نه دي.

تاريخ پوهانو سمدلاسه يو نوم ددغه مدنيت لپاره، چې موندل شوی. دهاتيتي نړۍ غوره کړ.

دوی داسې وسله درلوده، چې تر دې وخته فکر کېده. چې دغه ډول وسله به نوې وي،خو داسې نه وه، ډېره پخوانۍ وه.

دهاتيکو ټولنه او قوانين نړۍ ته نوي وه او همدغه کبل (لامل) و. چې هغه يې دهاتيکو نړۍ و ګڼله. [اوس هم هغو ،چې دپښتنو سپېڅلې ټولنه ليدلې: دوی ته يو بل جهان ښکاري او پښې يې وربسې لوڅې کړي، چې دغه ټولنه او ملت ګډ وډ کړي.

ديو شمير پښتنو دانظرو. چې هرڅه وليکل شي ،څو هر څه ليکلي پاتې شي.ما دې کار ته ملا وتړله او د ليکلو ،لوستلو او څرګندولو زيار مې ومنلو.

په هره توګه مسعودي، چې په ۳۳۲ هجري کښې خپل کتاب ((مروج الذهب)) ليکلی : وايي، چې له نړيوال توفان څخه وروسته سوريانو بېرته ښارونه جوړ کړل او ونې يې وکرلې. دی غزني، بست ،داور او دغه ټوله سيمه دنوي مدنيت لومړنی ځای بولي .

دانړی بیا ویجاړ ېږي او ورانیږي،خو بیا به یې پښتانه جوړوي.که پښتانه پاتې شي:ځکه خپله پښتانه اوسمهال دظاهرشاه له پاملرنې څخه په غلځي او ابدالي وېشل شوي دي ].
ددغې امپراتورۍ پلازمینه Hottusa او پادشاه یې دغه مهال Hattusili و. دلته لیدل کېږي، چې دقوم ځای او د پادشاه نومونه سره نژدې دي.
[لکه داحمدشاه بابا په مهال،چې کندهار احمدشاهي و . کومه سکه، چې د مسو ده وهلې پرهغې احمدشاهي قلوس لیکل شوی او پر بل مخ یې دګل بوټي دي . له دې ښکاري،چې احمدشاهي د دولت نوم دی.]
دهاتیکو امپراتوري داناتولې له سیمو راپاځېدله او دهیتیتي دځمکې یا ستان په نامه یادېدله.
په اووه لسمه پیړۍ کښې له میلاده مخکې او په وروسته پنځو پیړیو کښې د"برونز" دعصر پای و. [سوریه اوعراق وغځېدل. ددوی ژبه اند و اروپایي وه او د یوې شاهي کورنۍ له خوا چلېدله. ددوی داصل اړیکه هم هماغو ډلوسره وه، چې اندو آرین یا دېږي.
که پښتنو ته وګورئ دلویدیځ دپوهانو له نظره پخپله او ژبه یې اندو اروپایي دي. یعنې پخپله آریایان دي او ژبه یې پښتو دسانکریت له کورنۍ ده .
زه له دې اصطلاح سره، چې اندو اروپایي دي، موافق نه یم او دلایل هم ورته لرم. حتا داخبره، چې آریایانو یو زر و پنځه سوه کاله مخکې له میلاده هجرت کړی، هم سمه نه ګڼم.
کله،چې په ۱۹۲۰ ع کال کښې د سنده دحوزې مدنیت وموندل شو؛ نو داسوال مطرح شو، چې دوی څوك ول، چې درې زره کاله مخکې یې دغه مدنیت درلود؟]
داکسفورد چاپ ((دهیتیتي جهان او ټولنه)) په کتاب کښې زمونږ مطلب، چې هیتیتیان هوتك دي، راغلی دی. دغې جملې ته پام وکړئ .
دکتاب په ۱۴۴ مخ کښې دهیتیتي پخوانی نوم هاتیك او تارو و. دلوانې نوم تاهرونت
In Anatolia his pre-httiti hatic name was taru.
[په لرغونو مدنیتوکښې د ارباب النوعو یا وړو خدایانو ذات او صفات سره بېل شوي وه. یعنې ددوی له نوم سره صفتونه تړل شوي وه او دانسانانو په څېرول ،خو تقدس یې لاره.

واحد او لاشريك خداى په اسلام كښې راغى، چې مونږ يې په كلمه طيبه كښې وايو او ايمان پرې لرو.

دځينو قومونو او اشخاصو نومونه له پخوانيو نومونو څخه پاتې دي، چې اوس په عادي ډېر كارول كيږي. لكه عبدالرحمن يا عبدالرحيم، چې عبد بنده دى. كله دنوم معنا دخداى وي يا دعبد په ځاى محمد وي يا يې بڼه اوښتې وي. لكه عبدالرسول، چې درسول بنده نه شي كيداى او محمد علي، چې عبدالعلي هم ويل كيږي.

همداسې دي پښتو نومونه، چې هاتيك، لواني او تارو يادېږي . او ورسره ادب پال، وال ... كليوال ، ناسرادب يا ناسرپال ... ځينې دومره لرغوني نومونه دي، چې په لومړي سربې پوهېدل ګران دي. دپښتنو په قومونو كښې په سوونو نومونه داسې هم دي، چې دتاريخ څېړل يې تراوسه نه دي شوي.

متاني ، لوديان ، ساك ، هاتيك ، سبري ، لواني ، سوريان ، پاكتيان .....همدا د قومونو نومونه كله د افرادو يا دځايو نومونه شي .لكه كابل خان ، غزني ګل ، هوتك خان ، منګل خان ، ابدال خان....

كله، چې تركيې، عراق او سوريې ته نورخلك راغلل، له خايي اوسيدونكيو څخه ځينې هلته پاتې شول،اوس يې ژبه اوكلتور اوښتى دى يا افغانستان ته راغلي او خپل نوم يې ساتلى دى!

لودي ، لوديا : دا هم دلرغونو پښتنو يو غښتلى قوم و، چې هيرودت له دوى څخه ډېر معلومات ليكلي دي. په حقيقت كښې دغه دهيرودتس تواريخ دپښتنو ددغو ځايونو او قومونو په باب غوره معلومات لري او د پاكتيا ، پاكت ، پاكتي ، ساك ، سور ، لودي او نورو قومو نويادونه كوي.كوم قومونه، چې هيردوت يادكړي، وروستي تاريخ پوهان ور پسې ګرځيدلي؛ نو ، ځكه هغه ته دتاريخ پلار وايي.

## ديونان ارباب الانواع:

داسلام لوى توپير لـه نـورو اديـانو سره دادى، چې پـه اسلام كښې ايمـان پـر غيـب روا دى،خو نور اديان د ورو خدايانو . چې په انساني څېره دي، عقيـده كـوي، چې ډېردي يا يې شكلونه اوڅېرې جوړې كړي يا د نـورو ډيـرو مـادي شيـانو لكـه اور، اوبـه، لمر، سپوږمى ....

په دې لړ کښې یونان تر نورو ډیر ارباب الانواع لري په هغو کښې ځینې خلك له آسیا څخه ورغلي چې ډېر یې له افغانستان څخه دي. دا دتعجب خبره ده، چې نورستانیان ځیني خلك یونانیان بولي ، چې له سکندر سره راغلي دي. حال دا ،چې له نورستان څخه یونان ته نورستانیان تللي ؛ځکه دوی ورسره څه نا څه ورته والی لري، چې بېلګه به یې وروسته وړاندې شي.

# لواني پښتانه، پښتو او پکتيا دتاريخ په څپو کښې

بې ترتيبه مرتب:

په څلورم ټولگی کښې وم . دښوونځي دتاريخ له کتابه مې څلور تصويرونه وشکول پرسپينو پاڼومې سرېښ کړل او دکوټې په دېوال مې وځړول.

داپه دې، چې ميرويس نيکه دپنځه سوه کلونو سکوت په تاريخ کښې مات کړی و، شاه محمود هوتك ايران فتح کړی و، په اصفهان کښې سعادتمن يې پادشاهي اعلان کړه او شاه اشرف هوتك دهرمز له جزيرو انگليسان او هالنديان وايستل او دروسانو او ترکانو امپراتوري يې په ايران کښې ځپله.

احمدشاه بابا د افغانستان خراسان ، شمايی هند او تړېلي پورې سيمې په کندهار پورې وتړلې.

ماته د دوی دغه کارنامې معمولي نه ښکاريدې.

په دغه کال( ۱۳۸۱ل مرغومي،هرندن ـ ويرجينيا ) چې داخوکرښې ليکم دځو پښتنو ، تاجکو ، هزاره و په مرسته اوقرباني، امريکا د دوه ويشتو هېوادونو په پوځي او تخنيکي ملاتړ ددوی هغه تومن ونيو، چې داحمدشاه بابا له امپراتوری ورته پاتې و.

په داسې حالاتو کښې کوم بل تعبير راسره نه و ، ليوان دي خوړلو پسې گرځي؛ نو د "بې ترتيب مرتب" ځوکرښې مې وليکلې.

چې اقرار په ناپوهي وشي "حميده"
ضلا لت يې شي بدل په هدايت

اوپه پای کښې :

د داني طمع بندي آزاد مرغه کا
ژر به ستا په ځان بلاشي دا ستاطمع

# لواني پښتانه ، پښتو او پکتيا

لواني دپښتنو يو قوم دی، چې اوس په افغانستان - پاکستان او هند کښې ددوی پرګنې شته اوخرګند دي.

دتاريخ له مخې څرګندېږي، چې "لواني "([1]) دژبې نوم هم و او دغو قوم په دې ژبې خبرې کولې او ليک يې درلود . لويان ، هاتيك او اور - دځينو کلماتو له مخې، چې اوس په پښتو کښې کارول کيږي يا په فارسي، هندي او اروپايي ژبو کښې څرګنديږي ،يوه ريښه لري او دانحصار خبره په کښې نشته .يعنې دا ټولې اروپايي او آسيايې ژبې دي ، چې دبشريت او قوم له مخې سره نژدې دي.

پښتانه قومونه او غرني قومونه موزيم ته ورته دي. چې تر دې دمه دغه کلمات په کښې خوندي پاتې دي .

تاريخپوهان نه پوهېږي اوداسې ښيي، چې دا قومونه به اوس ورك وي.خو ورك نه دي دلته به دهيرودت له تواريخو څخه يو مثال ورکړم، چې مطلب روښانه کړي.

دبرقې نيول:

هيرودت په خپل کتاب کښې ليکي : په ليبی ( ليبيا ) کښې يو وړوکی ښار دکامپوچيه لاسته ورغی، چې برقه نوميدلو .

دبرقې خلك يې له مصرڅخه ايران ته ولیږیدول.چې دداريوش په فرمان يې دغوخلکوته په بلخ کښې يو کلی ورکړ. چې نوم يې پرې برقه کېښود او هلته ډېر کلونه پاتې شول ــ [هيرودت( ۴۹۰- ۴۳۵) پخواترميلاده]

اوس وګورئ، چې ۲۴۹۳ کاله پرې تېرشوي دي .

دبرقې علاقه داري په بغلان کښې شته، چې طالبانو څوځله ونيوله او ډېرې جګړې پرې وشوې . چاداً فکر کولای شو، چې له ليبيا څخه دې دلته راوستل شوي خلك وي يا دا، چې د مصر او ايران له لارې دې بلخ ته تللي وي او اوس دې په بلخ کښې په همدغه نامه وي؟

---

[1] - Luvian

کله. چې دبلخ نوم اخستل کېږي معنا يې دباختر لوی هېواد دی، چې د پارا پاميزاد ( هندوکش ) شمال ته ترسغد ، فرغانه او ماور النهرپورې غځېدلی و او هغه يې بلخ او بخارا باله.

داکيفيت داسې څېړل کېږي :

آرايالي او آرياسوري قومونه له يوې " ونې " دي او ډېرې څانګې لري. بيا دوی په بېلابېلو خواو خواره شوي دي. دا، چې اوس ترکيه ده دې ته يې وړوکې آسيا ( آسيا صغير Asia Minor) وايه.

په دې خاوره کښې ډېر قومونه اوسېدل او د استوګنې خايونه يې هم دقومونو پر نومونو يادېدل. لکه : سبري ، متاني ، لوی ، لواني. اور ، ارځوا ، سرماتي....چې ټول هېواد يې دهاتيك په نامه و.

دترکيې په تاريخي نقشو کښې همدغه نومونه ليدل کېږي ، چې سل په سلو کښې پښتو دي. په شمال کښې دتورې بحيرې په غاړه تومنا Tummana وه. تومن يوه پښتو کلمه ده، چې دوطن معنا لري.

خوشحال خان ويلي دي :

چې په درست تومن اوځار دی
نــن هــغـــــه زمــا يــار دی

اوس د " اوځار " کلمه دومره نه کارول کېږي " اوځار " دمشهور په ځای هم راتلای شي.

په ( پکتيا ) کښې Sybari سبري د يو قوم اوځای نوم دی. Hurrian هورين آرين دي. ميتانيMitani هماغه متاني دي. چې غلځي دي. اورسوUrsu " ورشو". Kizzuwadana کيزو ودانه .چې په انګليسي کښې Lowerland ليکل شوی کورودانه ده. ارځواArzawa ، کاسکا Kask ، نيريكNerik ،هياسيا Hayasa او هاتتي Hatti هغه سيمې دي . چې په اوسنی ترکيه کښې دي . هغه مهال (اووه لسمه پيړی له ميلاده مخکې) دغه سيمه Hattis په نامه يادډېدله. چې هاتيك هم بلل کېده او هوتك ته ورته دي .

هوتك اولواني دلته افغانستان کښې هم يو خای دي. هودخېل او هوتي خېل دا دتاريخ تفصيل دي. چې څومره بدلونونه راغلل:نو اوسنی ترکيه ترې جوړه شوه. اوسنی ترکيه يوګډ قوم دی. چې له څو بېلا بېلو قوموسره ګډه شوې ده .

کوم نومونه، چې له میلاده مخکې کارېدل. په اووه لسمه یا اتلسمه پېړۍ کښې لیدل کېږي . دهاتي قوم ژوند او ټولنې په کتاب کښې، دوې نقشې چاپ شوي؛ په دواړو کښې همدغه نومونه لیکل شوي ،چې داوسنۍ ترکیې له نومونو سره بشپړ توپیرلري .
دملي هویت لپاره هرملت یوه لاره نیسي ، ترکانو همدغه خپل هویت کړ، چې ترک دي .
دوی پوهېږي. چې له ډېرو قوموجوړ شوي دي .
ایران په شیعه مذهب او فارسي ژبې ځان ټینګ کړ.
ایرلند د کتولیک مذهب لاره ونیوله ، جرمني ،ګرمان او المان دغه دوه نومونه غر – من، ګر- من واړول . غر – ځی – غرځنی ، المان ،الیان او افغان یوې خوا ته ځې ،خو الیاني اوس په نورستان کښې وګورئ.
من – اراده ، " غشی دمن مې ځی برېښنا په میرځمنو باندې " یا لکه ډاډ من ، هیله من
....
پښتانه ، چې دغه ټول تاریخ، ژبه ، قوم، ننګیالي او توریالي مشران ورسره دي ، دژوند په دې ګیر او دارکښې دې ته اړ دي، چې دملي هویت اوځانګړتیا لپاره داسلام دین ، سني مذهب، پښتو ژبه پښتو نواله او خاوره خپله کړي.
دا پنځه اصله دي که له دې پنځو یو هم نه وي چار نیمګړی دي.
تاریخ همدا وایي او همدا کبل ( لامل ) دی، چې تراوسه ددوی سراو سامان نه دی جوړ شوی.
دا دپښتانه ملي لاره ده، چې هرڅه یې په لاس کښې دي،خو خپلولی یې نه شي .
دوی یعنې پښتانه دې په دې پوه شي، چې پنځه اصله وپیري او په هیڅ شان یې ونه پلوري.
پیسې ځي په ګېډه کښې ننوځي، خو دین، مذهب ، پښتو ، پښتونواله او خاوره برباد پاتې کېږي اوپیړۍ پیړۍ به وینې پرې توېږي .

رحمان هسې بې وقوف سوداګرنه دی
چې ددین متاع بدلــه په دینار کا

دین او دینار دوه بېل مفهومه دي. دینار په دین ورکړئ،خو دین په دینار مه ورکوئ .
ډېره په زړه پورې خبره ده، چې څنګه ستاسو خلك تاسو ته راغلي؟
پام وکړئ دغه متن ته :

"مخکې تردې، چې دربیمه زرمه پای ته ورسېږي؛ دبین النهرین ښار "اور" UR و ده وکړه. دوی قانون او اصول درلودل او اغېزمنه امپراتوري یې جوړه کړه . داور خط دختیځ په لوري پراخ شو . په فارس کښې د هغوی تجارت تر اندوس پورې Indus وړاندې لاړ او په لویدیځ کښې فنیقیا By blos بابیلوس داور دمشرلاس ته ورغی.
" دوی چارتراش . فلزاو آس له ختیځه وړل ".
په بل مخ کښې لیکل شوي،چې: په ۲۳۰۰ ق. م کښې یوه لویه څپه، چې ژبه یې اندو اروپایي وه ، راغله. ددوی ژبه په لواني دیالکت کښې وه، داسې ښکاري،چې کوچنۍ آسیا ته دبوسفور په لارې تېر شوي وي".
کتاب (۲) داهم وایي : " دبین النهرین Mesopotamain ژبه او لیکنه. دتاجرانو له تګګ راتګک سره مصر. عربستان سومالیا او رومانیه ، ته تللې وې"
په دې حالاتوکښې که په عربي کښې داسې ټکي وي، چې پښتو یا د سانسکریت ژبې ته ورته وي :نو وي به یا نورو ژبوکښې. دبېلګې په توګه Cut په انګلیسي کښې، قطع په عربي کښې او غوڅ په پښتو کښې ورته دي. مونږ په اروپایي آثاروکښې اندو اروپایي لولو یا سنده ته اندوس وایي.
داندوس کلمه د سنده رود دی، چې پښتویې " سیند"ګڼل کېږي ،خو اندوس هندته ورته دی ." اند Ind او اندو اروپایي هغه مطلب مغشوش کړی، چې له کاشغره تر مدیترانې پورې خپور دی؛ ځکه دغه سیمه په حقیقت کښې نه هند دی نه اروپا. چې ټوله خبره همدلته ده. باکتر یا باختر . ماورالنهر او بین النهرین....
ګرانت په خپل اثرکښې ویلي: لواني ژبه د اندو اروپایي یوه لهجه ده ،خبره سمه شوه ،خو دسرې ذهن هند او اروپاته واوړي ، اصلي ځای او خلك پرخپل حال پاتې وي. که دا قصدي وي:نوبیا یوه غلا ده.
بیا دلته دفارس او فارسي خبره، چې ملك یې ایران او ژبه یې فارسي ده، را پورته شوه. په دې باید پوه شو، چې لغات په مهاجرت کښې بدلېږي؛ بیا ،چې دوه مهاجرته شي. غوڅ به قطع نه وی بیا Cut کت .
په افغانستان کښې، چې په نولسمه پېړۍ کښې (۱۸۴۲- ۱۸۴۳ ع) انګریزانو شتون درلود، دلارد کلمه په لات بدله شوه. بیا لاټ شو. دغه کلمه نه یواځې په شکل کښې

---

* لرغوني مدیترانه لیکوال میخایل ګرانت Michael grant

بدله شو،بلکې معنا یې هم بدله شوه. یعنې هېواد پلورنکي یا انګریز پلوه ته و کارول شوه. دغه راز د هوټل او کافي کلمې ور سره وکارېدلې. چې له هوټل څخه غرض رستورانت او له کافي څخه دچای څښلو ځای دی.

جنټل مین هم هغه معنا نه درلوده. چې په انګلیسي کښې یې درلوده.

کاسي په هند کښې کانسي او په انګلیسي کښې کازي شول.

Lapis lazuli : ښایي لعل او لاجورد وي. دنوموړي کتاب په ۸۴ مخ کښې لیکل شوي : " په کوچنۍ آسیا ( اوسنۍ ترکیه ) کښې تجارت ډېر و. زېرمه یې ډېره او بډای هېواد و لیپز لاژولي له ختیځ (افغانستان) څخه را ورل کېدل".

دغه مطلب، چې په لرغوني افغانستان کښې تجارت غوړېدلی و. پوره اوڅار دی په نورو کتابونو کښې هم راغلي دي: لیپز لاژولي قیمتي ډبرې وي. چې د مصر شاهي کورنۍ او بډایانو یې خوښولې. له هغه یې ګانې او نور دښکلا سامان جوړول. اوس دغه ګانې د مصر او نورو هېوادونو په موزیمونو کښې شته، خو په دې څوك نه شي پوهېدای، چې دا دې زمونږ له هېواده هلته رسېدلې وي.

له دې بحث څخه دا مطلب څرګندېږي ،چې مخکې له میلاده یوزرو اته سوه کاله په همدې مینځنۍ آسیا کښې، چې نن ډېره جنجالي ده؛ دغه خلك، چې اوس دي، دوی ذلته نه ول. په تېره بیا ترکان او نور هم ګنګ تاریخ لري.

په سیمه کښې پښتانه روڼ تاریخ لري، خو تراوسه دې پړاو ته نه دي رسیدلي، چې پر خپل تاریخي شتون خپلې منګولې ټینګې کړي.

مونږ د من Man بحث را پورته کړ : ځکه پښتانه په پښتو ژبه کښې دهغو لغتونو،چې آسانه ترکیب ولري، په جوړولو کښې پوره وړتیا لري. لکه : خوږمن ، روغ من ، د ناروغ او روغ په ځای کارول شوی؛ ډاډمن ، هیله من ، ډګرمن ، سوله من ، څارمن ...... لکه غرمن او ګرمن، ګردېز – ګردېش – دېش ځای ته وایه شي، مندېش په غورکښې یو ښار و او ګردیز په پکتیا کښې دی.

لانګ Long ، یك لنګ او سالنګ داسې کلمې دي ،چې که لانګ واټن وي او اریایي کلمه وي؛ نو بیا په افغانستان کښې دا اوڅار ځایونه دي. په انګلیسي او جرمني کښې لنګ او لانګ شته، چې دفاصلې ، واټن او اوږدوالي معنا لري.

زمونږ یو پوه، چې دکتور عبدالغفور روان فرهادي نومېږي، دافغانستان دبهرنیو چارو مرستیال او لوی سفیر و. ده په ژبپوهنه کښې هم زده کړه کړې ده.
دامید دجریدې په **۵۳۵** ګڼه کښې يې يوه مقاله لیکلې ده، چې استاد هاشمیان دهغه ځواب لیکلی دی.
روان ويلي، چې دغه کلمې په اصل کښې هندي دي. بويه په دري فارسي کښې استعمال نه شي. هغه کلمې ،چې نوموړی يې د کاروني ور نه بولي دادي: جهیل ، رهایش ، بچه ، باچه خانه ، سرك ، جنتری ، تیل ، میله او چپ . دا خبره ناسمه ده؛ ځکه دا ډول لغات داسې مهال ويل شو ي، چې هغه مهال دغه جغرافیانه وه او لکه، چې بحث پرې شوی؛ ترکیه هغه مهال هاتي نومېده.
Calender کالندریعني جنتري دا اوس هندي کلمه ده، خو ريښه يې بيا هغه مهال ته رسي، چې اوسنی جغرافیه نه وه.
تېل انګلیسي اویل ته په صورت او معنا کښې ورته دی. که زمونږ دوکتور داسې فکر وکړي، چې اريايان له افغانستان او باختر څخه هندته تللي، دا به بېله خبره وي؛ ځکه دتاريخ په پېرکښې توري او کلمات هم ګرځي. لکه بني آدميان، چې په يوه ځای نه وي ناست. همداسې ده دبرج او بجه خبره، چې میاشت اوساعت وي؛ دا له غوره وتلې ده، چې هغه دې بېل داستان ولري.
په انګلیسي کښې وال او دپښتو ديوال او د فارسي ديوار يوه کلمه ده. په انګلسي کښې واده ته ویډنګ وايي يا په انګلیسي کښې وای ؟ په پښتو کښې ولې ؟
دتندر کلمه په دواړو ژبوکښې رینګ Ring ده. پښتو کښې رینګ يعني مه رينګرېږه!د غلی شه! معنا لري.
که د سرك کلمه انګلیسي ستریټ ته نژدې وي، بیا څه کیدای شي؟
کاروان يوه کلمه ده، چې په ټولو اريايي ژبو کښې همدا يو ډول ويل کېږي.
دغه مثالونه به اوس بس وي.
پښتانه لیکوال که پښتو لغات ولري؛ ښه ده، چې ويې لیکي . لکه که د اعتماد په ځای ويسا او د مطمین په ځای ډاډه يا ډاډمن او همداسې نور .... که په انګلیسي، پښتو ، عربي او پارسي کښې لغات وپلټل شي . يوه لويه فیصدي به د پښتو ژبې تر لاسه شي.

لواني ژبه پښتو غونډې ده او د هايتکو دود هم پښتونولۍ ته ورته دی، چې په اووه لسمه پيړۍ کښې له ميلاده مخکې و.
يو مثال يې دادی. چې د خلکو پر ناموس تېري دمرګ سزا درلوده . او تاوان اخستل کيدل هم دود و. تاوان داسې ليکل شوی Tawonanna .اوس وګورئ تاوان ۳۷۰۳ کاله مخکې خبره ده. Tawananna تاوان پښتو کښې شته که بلې ژبې ته تللي وي؛ نو دعوی پرې کېدای نه شي.
که څوك دهاتيکو يا سومريانو ټولنه وګوري: نوهغه دکمونستانو پنځه تاريخي دورې به غلطې وي؛ ځکه دوی سم قوانين درلودل. تجارت او صنعت يې هم سم روان و. چې هغه له اوسنۍ نړۍ سره توپيرنه لري. لکه. چې دسندھ په حوزه کښې ښکاره شوي آثار ښيي. چې ښار کاناليزيسون ،جراحي ، کتابتون ، ليك. رنګ. ښه پرمختللي خلك او هرڅه يې درلودل.

## لويه بدمرغي په پښتنو کښې

که چېرې پښتانه خپله روانه دغلځي او ابدالي خبره.ليرې نه کړي؛ نو هيڅ به ترلاسه نه کړي.
په اتلسمه ميلادي پېړۍ‌کښې، چې دهرات ابدالي دولت له لوړدرشل شاه اشرف سره ملا ونه تړله او دکندهار مغرور پادشاه شاه حسين په يوه بل مفهوم مرسته ونه کړه؛ نو نادرشاه افشار لومړی ابداليان وډبول او بيا يې د کندهار غلځيان.
دسدوزي شاه محمود په مهال هم دا کړنه تر سره شوې او داده اوس يې هم وګورئ :
پادشاه( محمد ظاهر) چې روسانوته غلی ناست و؛ بيا کله او څنګه راپورته شو؟
دپښتنو داسې يوې جرګې ته اړتيا ده، چې د اتلسمې، نونسمې، شلمې او يويشتمې پېړۍ پېښې بيا پېښې نه شي.
پښتون به په هيڅ بل شي مات نه شي، غلځي او ابدالي به يې برباد کړي .
ترکله به داخبره پټه ساتو: پښتون. چې ځمکه . تاريخ . خلك . ژبه او هڅوب لري : دولت يې نه جوړېږي. لومړی سقوي. کمونسته اداره. دوه يمه سقوی او دريم دادی اوس پښتانه، هزاره، ازبك او تاجك جنګي پيسه پال سره يو ځای شوي: صادق خلك دې که هرڅوك وي يوه بله ليکه دې جوړه کړي. لکه د غازيانو او لاتيانو.

# پښتون - افغان

افضل خان لالا يو قومي مشر ، پوه او غښتلي پښتون دی ؛ تل پر قومي وحدت خبرې کوي.

نومړی د ۲۰۰۱ع کال په سپتمبر کښې جرمني ته تللی و او هلته يې دپښتنو د ټولنيزې ـ ولسيزې ټولنې په سيمينارکښې يو لړخبرې کړې وې ،چې د خبرو جوهر يې په ملي بنيادونو ولاړ و.

دتاريخ دنويو څېړنو له مخې په تاريخ کښې هم هومره بدلون راغلی لکه، چې په نورو علومو او فنونو کښې راغلی دی.

څوك، چې پښتون قوم، پښتو ژبې او دپښتونولۍهڅوب ته کارکوي؛ دغه چاردټولو پښتنو دی. انحصار په کښې نشته:خکه افضل خان لالا د هغې شريکې معشوقې لپاره ټکيادی، چې راتلونکي نسلونه هم په کښې شريك دي.

افغان، اليان، المان؛ پښتانه دي. پاکت ،ساك او سور هم پښتانه دي، چې ټوله آريا کورنی په دوی پورې اړه لري.

نن، چې کومې کتيبې يا ليکنې په لاس راغلي؛ ددوی ژبه لکه دوی پخپله پراخه، خپره شوې او اوښتې ده. په دې صورت کښې ځمکنی شتون مهم دی، چې لکه يو لوښی په کښې راغونډ دي. سو دا،دا معنا لري، چې لوښی دچا دی ؟ لکه لمن، چې څښتن يې څوك دی ؟او څومره نور په کښې راټول دي.

قامي وحدت يوه لاره او مفاهمه ده. مونږ کولای شو،چې هغه بېرته دميروس نيکه لارې ته راواړوو. عادل اوظالم ـ عادلان يو قوم دی. ظالمان بل قوم دی.

## افغان ، اليان او ايغان :

لومړی ـ د نورستان په تاريخ کښې محمد اکبر شورماچ داليانې په برخه کښې بشپړ معلومات ورکوي او وايي:

نورستانيان الياني دي او دوی پرته له افغانه په بل چا پورې اړوند نه دي.

دوه يم : په تاريخ منتظم ناصري کښې، چې دناصرالدين شاه قاجار په مهال کښې دده د يوه وزير له خوا ليکل شوی. داسې راغلي دي : " دافغان طايفې دخزر (کسپين )

پرغاړو. شيروان او داغستان کښې اوسېدل يا له باب الابواب او داغستان څخه دباندې يې په دښتو کښې اړول.
داميرتيمور ګورګاني په مهال کښې دآذر بايجان ولس له هغو سر وټکولو. پادشاه هغوی د هند او کندهار ترمنځ سيموته ولېږدول.
سياح(۳) ليکلي: ما په ځينو تاريخونوکښې ليدلي، چې دوی ته يې اغواني او الياني ويل او اغواني داليانی غلط بڼه ده او دوی ارمنيان دي،چې اوس شيروان ته نږدې دقره باغ په سيمه کښې دارمنيانو يوه ټولنه خلك شته چې هغوی ته" مناشري " قندسار وايي او دهغوی مشر اغوان بلل کېږي". په دغه بحث کښې دافغان بل تعبير په لاس راځي.
مسعودي وايي: ايغان په بلخ کښې اوسېږي او د بلخ رود هم د ايغان په نامه يادېږي.
مسعودي داهم وايي: چې د اوخان او تبت ښي لاس ته ايغان پراته دي. چې پراخه سيمه لري".

## پاکتيسيا poctisya :

دتاريخ پلار هيرودت دوه نيم زره کاله دمخه پخپل پښليك کښې پاکت ( قوم ) پاکتي ( چې په دغه قوم اړوند وي ) پکتيسيا ( ددوی تومن سيمه او هېواد ) نومولي .چې مونږ ته همدغه خبره ښه او غوره ده.( ځمکه . ژبه او قوم ) دپښتون په نامه ځرګند وي او باکتر - بلخ له پاکتيسيا سره يوځلك بولي.
افغان هم دوی دي: ځکه نورې منابع، چې د دوی ذکر کوي. په هماغه ځای کښې، چې دوی دي، هغه دافغان ځمکه بولي.
افغان په زرمه ميلادي پيړۍ کښې هغه مهال مشهور شو، چې ، غزنويان هند ته لاړل او دوی ته يې سمدلاسه دافغان خطاب وکړ.
د پښتني دولت جوړوونکيو ( مهندسيونو ) بهلول لودي . سکندر لودي او شېرشاه سوري و ترخپلو مهالونو پورې دخپلو قومونو لپاره مساعده ځمکه لټوله.
اروپا ، امريکا ، کاناډا او استرليا ته همدغه آريايي قومونه رسيدلي. چې دغه ځايونه يې خپل هېواد ګرځولی دی. هند ته آريايان په درې دورو کښې تللي، چې څلور زره کاله کېږي.

---

۳. سياح يو عيسوي او مذهبي سړی و، چې ايران يې د هوتکو په دوره کښې ليدلی و.

هندیانو ملي هویت پر مذ هب ټینګک کړ او غزنویانو. غوریانو پر دین یعني اسلام خپل هویت وساته.

په لواني ژبې خبرې.چې هاتیکو اولویانو پرې کولې هغه هم پښتو وې او ترپکتیسیا ډېرې مخکې وې.

هیرودت، چې پر پاکت. پاکتي او پاکتیسیا څرګندونې کړي. پنځه پېړۍ مخکې له میلاده وې.خو دلواني خبره شپاړس سوه کاله له میلاده مخکې وه.

په دې منځ کښې ډېر لوی بدلونونه او اوښتونونه راغلي دي. که مونږ دساکانو ژبه هم ووایو. همدغه مو مطلب دی.

لواني ، هاتیك ، ارخوا ، اور ، متاني ، سبري ، لوی ، لویان ، سوریان، ساکان او پاکتیان لرغوني پښتانه دي.چې تر تورې بحیرې ، کسپین او کاشغر پورې پراته وُل او ددوی خپلوان قومونه لکه ساك او سور دهند تر جنوب پورې تللي دي. په ایران کښې شیروان ، جدون ، بنګښ ، الکوزي ، جار وتلي.

هزاره ، تاجك ، ازبك، چې دیوه افغانستان په نامه یې دغیرت او عدالت د تامین لپاره سرپورته کړی و. یو شوي وه. چې هېواد له فسق ، حرص او ظلم څخه وژغوري. خو که دافغانستان په نامه دظلم لوری ونیسي؛ نه دوی افغان بلل کېږي او نه پښتانه .

مرتبه به دې دمچ اود مېږي شي
زړه په غوږو غوښو مه تړه همای

## تکنالوجي :

مونږ په تاريخ کښې لولو.چې په غور کښې ښه وسله جوړېدله او نورو هېوادونو ته صادرېدله. دسلطان علاوالدين غوري اوسلطان سنجر سلجوقي جګړه هم په دې وشوه. چې دغور پادشاهانو سنجر سلجوقي ته يو څه وسله ورکوله او سلطان علاوالدين غوري هغه وسله پرې بنده کړه.

د غور تکنالوژي په دې غوره وه.چې:

الف : داوسپنې لاسته راوستل او له هغې صنعتي شيان او وسله جوړول:

دغور مشهور ښار آهنګران نوميدلو او له دې ځايه آهنګران نورو سيمو ته تلل او هلته به يې پخپله کار ځايونه جوړول. په ټول لوی افغانستان کښې دآهنګرانو کلاګانې او باغونه په ښه والي يادېدل.

ب : ددوی مهارت اوپوهې ته پام کول:

په غورکښې . فيروزکوه . سنګه . منديش . آهنګران مشهور ښارونه ول. چې زر جنګي کلاوي يې درلودې... اوس داپوښتنه کېږي.چې دومره غښتلی هېواد. چې اديبان. شاعران. طبيبان.عالمان اوستوري پيژندونکي يې درلودل: نوکه غربي تکنالوجي نه وه. هماغه او هومره تکنالوجي وای. بيا به هم يوښه ښکلی او غښتلی هېواد نه و؟

ددغه زرو جنګي کلاګانو څه تفصيل.خو دچنګيز په جګړوکښې راغلی دی آيا مونږ همت له لاسه ورکړی. چې اوس موځه په وس کښې نه دي ؟

ماسره دانګليسانو هغه ليکلی اعتراف هم شته. چې د افغانانو . خپله جوړه کړې وسله زمونږ تر وسلې ښه او رسا وه.

## بې خبري لويه بلا او لوی نعمت دی :

زه. چې خپل وطنوال دلته خوشحاله وينم: دوی نه پوهېږي. چې د دوی خپل هېواد ترامريکې هغه مهال مخکې و يا دا . چې امريکا ليا نه وه زېږيدلې.

دوی ته دا بې خبري لوی نعمت دی او کوم ناتار. چې د افغانستان پرخلکو تېرېږي دا لويه بلا ده.

دايوه اوږده لاره ده. چې افغانان په کښې خپل لوی تاريخ او خپله لويه لار ومومي.

لومړني هوښيار خلك افغانان ول.چي مدنيتونه او امپراتورۍ د دوی وې.خو اوس خپله لاره نه شي موندلی ؟!

ټريخواره ټل افغانستان ته راغلي او راځي:ځكه.چي زمونږ تومن په څلور لاري كښې دی. كه له ختيځ لوري لويديځ ته لاړشي اوكه له لويديځ لوري څخه ختيځ ته يا له شمال څخه جنوب ته او له جنوب څخه شمال ته: مونږ هرومرو ورسره مخامخ كېږو

مونږ بويه په دې كيفيت پوه شو او نور خپل نسل تباه نه كړو .

دغه ليكنه يواځې تاريخ نه دی؛ د زړه درد هم دی، چې يې ليكم. كه په مونږ كښې يا زمونږ په خاوره كښې دا استعداد نه وای؛ نو د سور ، ساك او پاكت مدنيتونه، كوشاني ( كوچياني ) يفتلي ، صفاري ، غزنوي، غوري، هوتك او ابدالي غښتلي دولتونه به څنگه جوړېدل ؟

د ابدالي امپراتوري له ړنډلو څخه دومره مهال نه دی تېر؛ په نولسمه پېړۍ كښې ړيدلې،خو زمونږ ستر گي له ليدو پاتې شوې ، خپل او پردی مو ونه پېژندلو.

لكه ړوند چې لاس دبل په اوږه كښيږدي

هيڅ ژوره لوړه نه وي ورمعلومه_(رحمان)

ميرويس نيكه ويل : " هرڅوك، چې له ظلم څخه د عدل لوري ته راځي. زمونږ ورونه دي".

احمدشاه بابا ويل : "افغانستان دارالامان دی. يعنې هرچاته دلته امان دی"

عدل او امن _ افغان او افغانستان دی. يعنې يوه خاوره، چې هلته امن او عدل وي.

ټول پښتانه په همدې خبره ولاړ دي: څوك، چې ولاړنه وي، پښتون نه دی. عدل او امن دخارجي قدرتونو په خولۍ كښې مه لټوئ. هغه له خپل بابا او نيكه څخه زده كړئ، پرهمت او توري يې خپل كړئ.

## اعتمادالسلطنه د شاه محمود هوتك يوه كيسه ليكلې :

كله، چې شاه محمود د ايران ( عجم) پرتخت كښېناست: حكم او فرمان يې پيل كړ. دسپاهيانو ذخيره ( غله) يې بڼاريانو ته وركړه او خلك نه يواځې دا ،چې ماړه شول،بلكې غله هم ارزانه شوه. څوك، چې له اصفهان څخه تښتېدلي وه: بيرته راغلل.

په يوه شاهي ميلمستيا كښې، چې ټول درباريان او قومي مشران ، عالمان حاضر ول: شاه محمود افغان هغه خلك، چې شاه حسين سره يې خيانت كړی و، مجازات كړل او

هغو. چې له شاه محمود سره يې مرسته کړې وه. هغوی هم مجازات شول (۴) يواځې دحويزې خان يې بندي کړ. هغوته. چې دايران پادشاه شاه حسين صفوي سره وفادار پاتې ول. هغوی ته يې وويل : تاسې خپل پادشاه سره په صداقت کار کړی. تول پرخپلو عهدو پاتې ياست. په دې ډله کښې معتمدالدوله هم پرخپل مقام پاتې شو.

معتمدالدوله وويل : چې دنوي پادشاه حضورته يو عرض کوم او هغه دا. چې زه به هر ډول خد مت په صداقت وکړم .خو مابه د شهزاده طهماسب جګړې ته نه استوئ: ځکه ما ددغه کورنۍ مالګه خوړلې ده او همدغې کورنۍ پاللی يم.

شاه محمود هوتك له دې خبرې خوشحال شو او ډېره خوښي يې ښکنده کړه او معتمدالدوله ته يې وويل:

" زه به هيڅ کله تا له خپل مقام ( معتمدالدوله ) ځخه ليرې نه کړم. دقزلباش له مشرانو سره يې مهرباني وکړه او ټول يې ډاډه کړل".

اعتمادالسلطنه وروسته داسې ويناکوي : " به جهت تعديل وتسو يد درمناز عات شرعيه ودعوی حقوق عباد شخصی را از جماعت افغان منصب ديوان بيگی داد وتفويض کرد .او مردی کامل و زاهد ومتقی و رشيد و عالم و عاقل و دانننده قواعد شرعيه شريعت بود . مردم چنان از ديانت و پاکدامنی او مسرور وخوشحال بودند که زمان گذشته خودرا که باعث زوال دولتشان بود افسوس بی نهايت خوردند. فراموش کردند".

دهالند دشرکت د روزنامچې له مخې دغه افغان سړی محمد يونس توميدلو. اعتمادالسلطنه يواځې دده له منصب (ديوان بيگي) ځخه يادونه کړې وه.

اوس که ديوه افغان له سترګو دغه جناب فضيلت مآب محمديونس خان ته وګورو، ځومره ديوه بشپړ ديانت پناه شريعتمدار ميړني تصوير دسړي سترګو ته دربېږي.

مونږ کولای شو له همدومره لږو او موثقو معلوماتو ځخه جناب مولينا محمد يونس د افغان د لوړو رجالو په ليکه کښې و شمېرو او دده نوم د ښوونځيو او مدرسو درسي کتابونو ته ورسوو . چې په احسان او شريعت کښې يې خلك رعيت کړل .

اعتمادالسلطنه. چې دناصرالدين شاه قاجار داطلاعاتو وزير و: يو افغان. چې مونږ دهغه نوم هيڅکله نه دی يادکړی. په دغوصفاتو نومولی دی : مردی کامل ، زاهد ،

---

۴ ځکه هغوی په نورو لارو دا کار کولو، چې خپل هېواد سره خيا نت وکړي.

متقي ، رشيد ، عالم ، عاقل ، دانندهٔ قواعد شرعيه شريعت ، پاکدامن او باديانت خلك دده له عدل څخه دومره خوشحال ول دوی افسوس کاوه، چې ولې يې دومره فاسد دولتونه درلودل. يعنې ولې يې مخکې يو داسې دولت نه درلود.

دعدل قوت همدومره ډېرد ی او دظلم کاسه نسکوره ده .

دا دعدل او ظلم يوه روانه جګړه ده، چې له پخواني مهال څخه روانه ده. په افغانانو کښې تل داسې خلکو سر راپورته کړی، چې دعدل رپی ( بيرغ ) يې پورته ساتلی دی .

مونږ ته په کاردي، چې له هغوی يې زده کړو او دا لويديځ، چې په ظلم روان دی ، دفتر يې ور تهول کړو.

تاسې تاريخ ته وګورئ، چې اروپايانو په تېره بيا انګليسانو په آسيا او افريقا کښې څه وکړل ؟ بيا يې په شمالي اوجنوبي امريکا کښې څه کړنې تر سره کړي دي.

په همدې ليکنې کښې دهوتکو او لوانې تاريخ (۱۷۰۰۰) کاله مخکې تر ميلاده په داسې يوځای کښې ومومو، چې په آسانه نه موندل کېږي . مګر په شلمه ميلادي پېړۍ کښې هغه موندل شوی او وروسته له ډېرې څېړنې پرې کتابونه ليکل شوي دي.

تاريخ دعلم مرحلې ته رسيدلی، چې هغه ته دآرکيالوجی ساينس وايي .

افغان او پښتون يا پښتون او افغان يو خلك دي او دغه دوه کلمې يې، چې پښتونولي او افغانولي دي يا افغانيت، چې دانسانيت معنا لري؛ په يو لړ اصولو او قواعدو تړلي دي او همدغه وجه ده، چې په نسل وينه او نژاد تړلي نه دي. دعدل او ظلم يا صادق او خاين د پرتله کولو په بنسټ روان دي.

ايرانی اعتماد السلطنه جناب فضليت مآب محمديونس، چې يو افغان دی؛ په څه الفاظو ستايي ؟

ښکاره ده ،چې په عدل ، صداقت، پاکلمنی ، علم، ديانت، عقل او شريعت:خکه،چې پښتون او افغان بويه همدا صفات ولري.

مونږ بويه خپل اولاد په دې پوره کړو ، چې افغان اوسېدل دغه صفات غواړي او پرته له هغه په دې نه افغان کېږي، چې د افغانستان وي.

# بېرته افغان کېدل

پښتونولي او تاریخ مو ترمخې پروت دی . دبېلګې په توګه جناب مولانا محمد یونس داصفهان دیوان بیګي و . خپل پردی . مسلمان، هندو او نصارا ټولو ترې رضایت درلود .چې دین یې په احسان بدل شوی و.

احمدشاه بابا همداسې و: هیڅ مورخ دظالم په توګه نه دی یادکړی. دی یو زړه سواندی او عادل پادسه و.

هند ته دی وبلل شو او دده کړه وړه د یوه میړنې سړي وه.

آزادخان هم داسې سړی و او که نه یو سړی،چې په داسې ځای کښې پادشاه شي، چې هلته خپل خلك نه وي. نور خلك وي،خه به کوي؟ لکه په آذربایجان او اصفهان کښې، چې آزادخان و.

آزاد خان په اصفهان کښې له شاه محمود هوتك څخه دېرش کاله وروسته پادشاه شو: هماغه دهوتکو ښه یادښت و . چې یو ځل بیا آزاد شاه افغان ته واوښتل په داسې حال، چې کریم خان زند او حسن خان قاجار یې په مقابل کښې ولاړ ول.

دافغان په فطرت کې ځوانمردي او مېړنتوب ګډ دی او احمدشاه بابا په همدغه صفت هر لوري ته بلل شوی دی.

اختر برج شرف ګوهر بحر فتوت
شه شهان جهان احمدشاه والاتبار

فتي په عربو کښ ي میړني او فتوت میړنتوب ته وایه شي - دین هم داسې، چې نامېړنتوب له مینځه وباسي، حق اوباطل بېلوي.

داپېړۍ پېړۍ، چې افغانستان خپل سراو سامان نه شي موندلی: دلویدیځ رانژدې کېدل دي. مونږ بویه مخکې له هند او پاکستان څخه د لویدیځ له هڅوب سره پرې کړې وای:ځکه مونږ دا روانې وینې دځلورو نکتایي ترونکیو لپاره تویوو .

مونږ بویه بېرته خپلې کرنې ، مالدارۍ ، وړۍ او شړۍ ته واوړو.که مو خپلې صنایع پیاوړې کړې دېرخوند به وکړي. که مو اوبه دکریستل په ځای په خپل کنډول کښې وڅښلې او چومبړ دسترخوان مې بېرته و غوړولو.دابه سل په سلو کښې زمونږ په ګټه وي:خو،چې د لویدیځ په میو مستې پرېږدو.

احمدشاه بابا ته ښه خواږه. هګی په پیازو او غوړوکښې خوړل ول. یعقوب لیث پیاز او ډوډۍ جب کښې ګرځول او شاه محمود هوتك وچه ډوډۍ له اوبو سره خوړله.
شاه اشرف، صفوي پادشاه ته وویل: زه دښو خوړو په خوند نه پوهېږم. دا ول افغان او امپراتوران.
ډیپلوم انجینر غلام محمد فرهاد له کارګرو سره ډوډۍ او ګندنه خوړله. دی هم انجینر و: خلك ترې خوشحال ول او ده ته یې تاوان نه درلود.

## پښتو ژبه_ د افغانستان ژبه

که سړی د افغانستان موقعیت وګوري، یواځې پښتو دافغانستان ژبه کېدای شي.
امان الله خان ویلي: ((د اقتصادي او سیاسي استقلال په څنګ کښې ادبي استقلال ته هم اړتیا ده. چې دګاونډیانو له کولتوري یرغل څخه پرې ځان وژغورو او دا دټولو افغانانو دیو والي سبب دی. دغه راز هیڅکله دا خبره هم مه هیروئ. چې دډیورنډ د کرښې په بل لوري کښې ستاسې پښتانه ورونه پراته دي)).
دا ، یوه خبره دامان الله خان: تل زمونږ تاریخي دنده ده.

دا داغوانه د خپل زړه ورلره بس دی
څه حاجت دی درحمان په لاله زار کښې

ACKU

## افغانستان او امريكا :

په كال ۱۴۹۲ع كښې اروپايان امريكې ته ورسيدل او دا يې يوه ښه ځمكه وموندله. په همدغه مهال كښې دډيلي سلطنت دسلطان ابوالمظفر سكندر لودي په لاس كښې و. اروپايانو دامريكا ځمكه عيسوي كړه او ځايي خلك يې ډېر وځورول.

سلطان سكندر لودي دمعدن علم په نامه يوه اكاډيمي جوړه كړه. مسلمانان او هنديان يې دعدل او علم لوري ته وبلل. په ټول هند كښې پريماني او ارزاني شوه. ديني او مذهبي ډلې يې دعلم او عدل په وسيله سره نژدې كړې او قطب مينار يې داسې جوړ كړ. چې دهرې عقيدې مثال يې درلود. پښتنو ته يې وويل: چې دغه ځمكه افغانستان دی. دهمدغه عدل او علم بركت و. چې دافغانانو دولت شپږ سوه كاله په كښې پاتې شو. لكه. چې دكاسيانو دولت په بابل كښې شپږ شوه كاله پاتې و.

دلوديانو دولت خپلو خاينو پښتنو ړنګ كړ او بابر ته يې د ورتلو بلنه وركړه.

دامريكايانو يو ډله د جنرال هارلن په مشرۍ په نولسمه پېړۍ كښې درنجيت سنګهـ ، شاه شجاع ، سردار سلطان محمد او دوست محمد خان ترمينځ ګرځېده را ګرځېده، چې په نتيجه كښې يې ټول برباد كړل.

وروسته په ۱۹۱۹ع كال كښې ټولې نړۍ دافغانستان خپلواكي په رسميت وپېژندله. امريكې په دوه يمې عمومي جګړې (۱۹۴۲ع) كښې دخپلو ګټو پربنسټ، چې ننۍ روسيې سره مرسته وه په رسميت وپېژاند.

افغانستان تل امريكې ته په مساعد نظر كتلي. خو دامريكې له لوري افغانستان سره اړيكې د معاملې او تجارت ښه لرله.خو د افغان ـ شوروي ( روس ) په دوران كښې امريكې او اروپايي هېوادونو دافغانستان لپاره په زړه پورې تبليغات وكړل او افغانان يې خپلواكي غوښتونكي ميړني او زړه ور وګڼل. سربېره پر دې د افغانانو جهاد يې د بشريت دخير او فلاح په لاره كښې يو خدمت وباله، سلامونه او درودونه يې دغه ملت ته استول.

د ۲۰۰۱ ع كال د اكتوبر په اوومه، چې امريكې او ملګرو يې پرافغانستان يرغل وكړ. دنړۍ په خلكوكښې افغانستان ته ډېر په محبت او ښه نظر وكتل شول؛ په ټوله نړۍ كښې يې پر پلوۍ مظاهرې وشوې او پر دې خوځښت هغه پرده. چې امريكا د ډيمو

کراسي او دبشر د حقوقو پرمخ اچولې وه، ولوېده او ددوی څېره څرګنده شوه .یعنې: دخبرو او وعدو اعتبار پای ته ورسیدو او نړیواله ویسا پرې له منځه لاړه.
مونږ، چې له میلاده ۱۷ پیړی مخکې ژبه، مدنیت، اصول او قوانین، صنعت اوتجارت درلود ، بیا دزماني توفانونو هرې خواته ووهلو.
لواني ژپه پښتو شو ه: هوتك او لواڼي دپښتنو برخه ده . عدل اواحسان مو ګډ ارزښت دی.
هغه مهال زمونږ چارې ښې وې؛خو، چې ترې واوښتو ښې نه شوې.
دهاتیکو نړی ، ټولنه او د ژوند پړاو په یو بل پړاو بدل شو، چې هغه دپاکت ، پاکتي ، پاکتیسیا پړاو دی ، چې سور او ساك سره تړاو لري.یعنې په داسې حال کښې،چې سور ،ساك او پاکت مخکې ول،خو هاتیك او لواڼي په کوچنۍ آسیا کښې وده کړې وه ؛ بېرته خپلو خپلوانو سره یوځای شول او څه یې بېلا بېلو هېوادونو ته واوښتل او نور یې په افغانستان کښې پاتې شول .
لکه، چې اوس د ماډرنا زیشن ( عصري کېدنې) او سیکولریزم ( لامذهب کېدنې ) بهیر مات شو او بېرته اسلام ته مخ کول پیل شوي دي.
په افغانستان کښې امان الله خان او ترقي يې ،ظاهرشاه او معتدله لاړ او سوسيالزم ټول یو په بل پسې لاړل. یو څو ورځې به د امریکې + دوه ویشتو هېوادونو ډیموکراسي هم وي او پرمختګ به یې دلویدیځ په لارکېږي. خو ددغو قدرتونو له تلو سره، دوی هم ځي .
دملي هويت مسأله له پښتو ژبې سره راپورته کیږي .که پوښتنه وشي، چې ولې له پښتو سره ؟ نو:
له ډېرې لرغونې زمانې دداسې ځمکې، چې دېرش زره کاله له میلاده مخکې په کښې دساپیانو ذکر شوی او بیا د سور ، ساك، هاتیك، پاکت، پاکتي او پاکتیسیا یانو ټاټوبی پاتې شوی دی ،یادونه شوې ده: ددغې ځمکې، چې نن افغانستان نومېږي، تاریخ او خاوره له پښتو او پښتون سره چسپ لري.په دغه تاریخ کښې د وینې ، نسل او نژاد خبره په میړانې ، عیارۍ ، فتوت او ځوانمردۍ بدله شوې ده.
په پښتو او پښتونولۍ هرڅوك پښتو ته راتلی او تلی شي ،خو هرځوانمرد او میړنی زمونږ دقبیلې دی.

۱۰

بملك حجم نه دهم این مصرع نظیری را
هرکه کشته نشد از قبیله مانیست

قبيله په ميړانه جوړېږي. پښتون دميړانې معنا ده. هرڅوك. چې مېړانه ولري. پښتون دی. دادنسل او نژاد خبره نه ده.

بيت :

پسر نوح با بدان نشست خاندان نبوتش گم شد
سك اصحاب كهف روزچند پی نیکان گرفت مردم شد

## الياد او اوديسه Iliod,s_ Odyssey :

هومر ديونان يولرغونی شاعر دی. چې دهغه کتاب الياد او اوديسه نومېږي. په ۲۰۰۰ دوه زرم کال کښې ( له ميلاده مخکې ) کله. چې دهورين Hurrian کمزوري راغله ، مصريان وغځېدل او ددوی ځمکوته دهاتيکو څپې راغلې.چې له هند څخه تر لويديځې اروپا يې د ټولې سيمې ( بين النهرين، مينځنی ختيځ . او کوچنی آسيا ) سرليك يا برخه ليك واړولو. دوی له نورو سره گډشول او دين يې ومانه.

هومر شاعرپه الياد کښې. چې ټول حماسي او له غروره ډکې څرگندونې دي، دهغوی رواجونه راټول کړل . ددوی ژبه او لغات هماغه اندو اروپايي ول، خو دغه ژبه ديونان په ژبه بدله شوه.

تحليل : اندو اروپايي ددغو مسايلو لپاره يوه غلطه اصطلاح ده، چې "ده درکجا ودرختها درکجا؟"

معنا لري.یعنې هند او اروپا چېرته ؛ کوچنی آسيا ، بين النهرين ، کسپين او توره بحيره چېرته دي. په دې منځ کښې دسنده حوزه ، هلمند او آمو او ماورالنهر..........

اوس که اند و اروپا وويل شي، دهمدغې لويې مرتبطې سيمې معنا نه لري.

که مونږ دميخايل گرانت دغه معلومات تحليل کړو؛ دغه هاتيك او لواني زمونږ له پښتو سره يو دي او دشاعر هومر دغه لويه حماسه، چې په نړۍ کښې لومړۍ شاعري او حماسه ده، زمونږ ددودنو او اتلانو داستان دی .

هومر شاعر دغه پېښې او کيسې په خپلو اصطلاحاتو اړولي : هڅوب او مفکوره يې دهيتيانوله ټولنې اخستي . لومړی د يونان او بيا دټولې مديترانې ميراث ګڼل شوی. چې سر چينه يې هماغه دافغانستان شمال. جنوب. ختيځ او لويديځ دی.

## هاتيك يا هوتك

دهوتکو دورې ته: ځکه راغلم. چې دشلمې پېړۍ په سر کښې يو نوی مدنيت ازمير Azmir ته نژدې په ترکيې کښې وموندل شو. په لومړی سر کښې يوه مجسمه وموندل شوه. چې غشي ليندۍ او کړه توره ورسره جوړه شوي وه او څوکرښې ورسره ليکل شوې وې.

کله. چې ددغې مجسمې په شان نورې مجسمې وموندل شوې: د دوی کالي . وسلې او جنګي خولۍ د ډېرو هوښيارو خلکو دژوند نندارہ وړاندې کړه . دغه لوړ مدنيت د مصر دفرآعنه و سره په يوه مهال کښې و. چې دوه يم رامس سره يې جګړې کړې وې.

دغه خلك هاتيك . هيتي . هاتي . هوتي ګڼل شوي. چې ژبه يې لواني ژبه وه. لواني . هوتك . هوتي او هوت خېل اوس هم دلته په افغانستان. اوسني پاکستان او هند کښې ميشته دي.

پوهانو څرګنده کړې. چې دغه هاتيك آرياپان دي او ژبه يې لواني. چې دسانسکريت يوه لهجه ده. همداډول کله. چې د دوی نومونه. دودونه . قوانين او اخلاق وکتل شي: نو په افغانستان کښې هغه شته. چې اوس دپښتو ټولنې برخه ده.

دمهال فاصله يې څلور زره پنځه سوه کاله او دځمکې واټن يې هم هومره ډېرنه دی.چې وهل يې نا شونې وي:ځکه.چې دهاتيکو امپراتورۍ له مصر سره جګړې کړې دي.

په دې کښې يو هدف دا و. چې دهاتيکو او هغه مهال. چې په کښې ميروس نيکه پاچهد او صفوي دولت وغورځول شو.په کړنو کښې يې ډېر ورته والی ليدل کيږي . د دوی پادشاه مو رسيلس نوميدلو. چې له ميرويس سره نژدی دی .دغه راز د يار . کادي . کيلا ....کلمې. چې معرب شوي او فکرکيږي عربي وي.خو عربي نه دي: پخوانۍ زيښې لري .

هوتکو. چې کومه لاره ايران کښې نيولې وه. هماغه دهاتيکو لاره وه: په تېره بيا دمرييانو اواسيرانو سره . چې د هغو ځينې مثالونه مو ورکړي دي .

له يوه پلوه هغه اخلاق او لار تراوسه ليدل كيږي: په تېره بيا د طالبانو په دوره كښې وليدل شوه.

دغه دعدالت او انصاف ځوانمردي د افغان په زړه او ضمير كښې شته، چې ظالمان او ناځوانمرده يې بري ته پرې نه ښودل.

دساكزو دولت په نهمه ميلادي پيړۍ كښې، دغوريانو دولت په دوولسمه پېړۍ كښې، دهوتكو او احمدشاه بابا دولتونو په اووه لسمه او اتلسمه پېړۍ كښې د اسير د نه ساتلو او د انسان د نه مريبي كولو دود پالللى او د دغو ټولو واكمنيو په تاريخي لړ كښې نه دي ليدل شوي ، چې چا اسير او مريي درلودلى وي.

ځلورنيم زره كاله دمخه هاتيكو غلامان په عسكري ، امنيتي چارو كښې ګمارلي او هيڅا نه ځورول.

دهېواد دآبادۍ او ساتلو لپاره د دوی غلامانو په صداقت كار كاوه. په داسې حال كښې، چې په نورې نړۍ كښې د خلكو ځورول تر اوسه روان دي. داسې دولتونه په افغانستان كښې اوڅار ول .چې په عدل او انصاف مشهور شوي او نومول شوي دي. هر افغان لوی دولت، چې وځيړل شي دوی داخلاقو او ښې رويې له لورې، بريالي وه.

په دغه تاريخي لړۍ كښې ددوی عمل ښودل شوی دی، چې زمونږ د راتلونكي نسل لپاره دهغه ځيړل اړين دي. مونږ هغه ټكي بويه راواخلو، چې ملي افغان فلسفه ترې جوړېږي. د افغان دتاريخي فلسفې مهمه برخه داده، چې انسان ته په كښې په كوم نظر كتل شوي ؟

انساني كرامت، دبېوزلو مرسته ، د اسيرانو او دمرييانو آزادول،هغه ارزښت دی،چې احمدشاه بابا افغان خيالات نومولي دي.

دهمدغه افغان خيالاتو تشريح د افغان ملي فلسفه ده، چې دده د دولت په اصولو كښې ليدل شوې ده .

يوه ورځ په جلالكوټ (جلال آباد) كښې پاچا خان ته څوكسان ورغلل: پاچاخان هغوی وپوښتل،چې ځان ور وپېژني،چې څوك دي ؟ هغوی وويل: دا څو تنه غلځي او دا نور دراني دي . پاچاخان وويل : غلځي، خو ميرويس و، چې اصفهان يې ونيو او دراني احمدشاه و، چې ډيلی يې فتح كړ: تاسو كوم ځای فتح كړی؟

افغان مدنیت څو. څو واري له منځه تللی او بېرته راغلی. لکه.چې افغان روح. افغان خان. افغان خیالات او پښتو نولي یا افغانولي یې یوه برخه ده. باید ورکه نه شي او دا د پښتون دنده ده. چې ددین متاع بدله په دینار نه کړي او هغه روح او خان ته پام وکړي. چې پښتون دپښتون له لاسه په کښې هر ځای وهل کېږي: داسې خپل نا خپل شوي او بیا په کښې داسې پېر راشي. چې دلدار د اغیار په څېر شي. همدغه دپښتنانه عیب ګڼل کیږي.

ړنګه بنګه پښتونولي ده. راوینښ شئ، چې لویږي که دا معشوقه درسره وي.تل به مو بری په برخه وي.

په ۱۳۳۸ ل ه کال کښې زما رسالې ((پښتونولي دلارې مشال)) چې د رحمان بابا لومړۍ ادبي جایزه واخیسته، تر دې دمه مې پښتونولي پرېښې نه ده.

## د ۲۰۰۳ع کال دفبرورۍ دولسمه (د ۱۳۸۱ل.ه کال دسلواغې ۲۳):

سناتور رابرت بیرد Robert Byrd د امریکا په کانګرس کښې یوه تاریخي وینا کړې ده .ددغې وینا مهمې برخې را اخلم. چې دیوه زبرځواك دویجاړېدو نخښې ترې څرګندیږي

((یوه جګړه روانه ده. چې دبشر ژوندیې ناکراره کړی دی. نن.چې د فبرورۍ دولسمه ده. دغه ملت یوې جګړې ته بېول کیږي او هرامریکایې په یوه اندازه دغه ناکراري احساس کړې ده.

په دغه دالان کښې یوشمېر غړي غلي او ناکراره دي. دلته بحث او مباحثه نشته او نه کوم ګام اخستل کېږي. چې لږ یا ډېر ملت په واقعیت وپو هیږي. چې څه روان دي ؟

دلته هېڅ شی نشته: چپ او فلج ولاړ یو. د خپلې راتلونکې په برخه کښې هم چپه خوله یو.

ښایې دا دنړۍ دتاریخ د اوښتون شېې او ورځې وي:ځکه یوه خانګړې جګړه روانه ده. دښمن نه لیدل کیږي.خو ټول په وېره کښې دي.

دایوه وړه یا کوچنۍ معامله نه ده او نه دومره ساده .چې ټول پرې وپوهیږي. دا دامریکې دمتحده ولایاتو او دنړۍ په تاریخ کښې د اوښتون ټکی دی.

اوس کوم خطر نشته: ښایې په راتلونکي مهال کښې خطر وي.خو مونږ اوس جګړه کوو

په افغانستان کښې دجګړې خرڅ ۳۷ بيليونه ډالره شوی دی. داسې شواهد شته، چې تروريزم نه يواځې پای ته نه دی وسيدل،ی چې نوی د پيل کېدو په حال کښې دی.
مونږ اسامه بن لادن ونه لېد ، په افغانستان کښې سوله نشته او دتروريزم څېره به ښېرته ښکاره شي .
په هغه ويجاړه خاوره کښې ، پاکستان هم ددغې اداري له لاسه خطرکښې دی؛ ايران تر عراقه ډيرتروريزم ته نژدې دي . ويسا له مينځه تللي، زمونږ ستر ګې پټې دي او نه راوښيږو.
په دې مسايلو تاريخپوهان پوهېږي، چې دتېرو مدنيتونو پر حال خبر دي او پوهېږي، چې کله د خطرزنګ شرنګېږي ؟
دامريکا سپين ږيري سناتور د امريکا دسنا په مجلس کښې دا خبرې وکړې او همدا دهمدې خبرو سم او صحيح ځای دی. دده وينا به وروسته يوسند وي، چې په ښو ادبياتو يې کړې ده.
دامريکا دسنا د غونډو کوټه هماغه ځای دی، چې ملانصرالدين دنړۍ " لو" باله. ولې موځان بې خبره ښودلی دی ؟
په همدغه ورځ يعنې د ۱۳۸۱ل کال دسلواغې درويشتمه د۲۰۰۳ع کال د فبرورۍ دولسمه د ذوالحجۍ الحرام يوولسمه دلوی اختر ورځ؛ د هلمند ولايت د بغران د ولسوالۍ پرخلکو يو لك بمونه دامريکا ، ناروې ، هالند، انګليس ... پوځونو له لوري غورځېدلي دي، چې دا القاعده او طالبان دي. يو دېرش تنه ښځې او ماشومان دقربانۍ داختر قرباني شول: وريو، پښې يبلو او بې خبره ماشومانو اختر وکړ.
داهماغه نامعلومه بې مفهومه جګړه ده، چې افغان يو خوا او دنيا بله خوا سره لګيا دي ګوره، چې نور څه کېږي .
دفبرورۍ په ۱۵-۱۶-۱۷ په نړۍ کښې لس ميليونه خلك مظاهرو ته ووتل؛ چېرته ساړه چېرته واوره ... دبوش او بلير په خلاف يې شعارونه وركول.
نړي د اوښتون په حال کښې ده،خو افغانستان يواځنی ځای دی، چې ليوني شوي افغانان له امريکا سره په کښې يولاس شوي او خپل افغان مسلمان ورونه وژني. په نورو هېوادونو لکه ،په عراق ، ايران ، ليبا ، سوريه ..... کښې امريکا داسې ليوني کوټي و نه موندل .

دپښتانه او لرغوني تاریخ په لړ کښې پر هاتیکو او هوتکو خبرې کېږي: ددې لپاره. چې زمونږ یوې انساني میراني ته پام شي:نو اړینه ده. چې ووایو : هاتیکو څلورنیم زره کاله دمخه او هوتکو دوه سوه شپږ کاله دمخه په ایران کښې هماغسې یو نظام په پښو درولی و.

په افغانستان کښې د ۲۰۰۱ع کال د اکتوبر په اوومه امریکا او اروپایي هېوادونو پرخلکو داسې برید وکړ لکه. چې شل زمریان په یوه ماشوم ور ودانګي. په داسې حال کښې.چې د طالبانو په دوره کښې دېرش زره مدرسې. چې دعصري علومو درس یې هم ورکاوه. جوړې شوې وې : امنیت ټینګ و .لارې خلاصې شوې او تریاك بندشول. که څه هم اقتصادي بندیزونه پرې ولګېدل او هوایي لارې بندې شوې.دغه راز نه یوازې امریکا او ائتلاف،بلکې روسیې. هند او ایران هم له مخالفینو سره مرستې کولې او ددغو ناخوالو تر څنګه وچکالي هم پر طالبانو راغلې وه .خو یو متوازن حرکت و .

په یو کال کښې د طالبانو ټولې دولتي او حکومتي لاسته راوړنې په داسې حال کښې له منځه وړل شوې وې. چې امریکاپې . اروپایي او روسي قواوې وې :القاعده او طالبان نه وو ل .خو په زرهاو تنه بمونه پر کلیو. کورونو او کروندو غورځېدلي وه .

دپښتنو سیمې دغه مهال هم وهل کېدلي. دافغانستان یو شمېرخپلو خلکو دامریکې ترسیوري لاندې حکومتونه جوړ کړي وه.

دافغانستان تاریخ وګورئ کله په کښې څوك غلې ناست دي. چې نن امریکا او اروپا ته غلې کښېني؟ دوی‌خپل د شلو زرو کلونو تاریخي شتون په پوره داډ ساتلی او خوندي کړی دی.

له دې هسې وینا مطلب دا دی. چې مونږ دښو اخلاقو او میراني تاریخي ظرفیت لرو. چې دلویدیځ دهڅوب پلویانو هغه ویجاړ کړی دی. دوی ته په غرونوکښې ((پیسه ټبې)) وایي. دغو پیسه ټبو خدای تعالی هېرکړی: دبنده بنده ګان شوي دي. دوی سره دملت لار یوه نه ده.

مصر. چې یو روښانه مدنیت درلود: وروسته له کلونو د خپلو لرغونیو صنایعو په فکر کښې دي. له هغې لړې یې دځرمنو پر صنعت لاس پورې کړ. چې په هماغې زړې طریقې یې جوړوي

هند که له خپلو لرغونیو صنایعو کار نه وای اخستی تر اوسه یې ز رمیلیونه وګړي نه شول بسیاکولی.

مونږ له نولسمې پیړۍ وروسته دلویدیځ دصنایعو په بلا اخته شوي یو. دا یو سیاست و. چې خپل پښ ( آهنګر ) . چمیار ( څرمن ګر ) جولا ( چې ټوکر یې اوبدل ) .صابون جوړوونکي. مسګر . ترکاڼ اوکسبګر موږ نه ګڼل او دلویدیځ موخوښ کړل:خکه.نو دې ورځې ته را ورسیدو.

ما دا اورېدلي. چې په میدان کښې سلطان احمد خان دغازیانو ټوپک دشپې له خوا جوړول.چې څوك یې آهنګر ونه بولي.

راځئ. چې دغه استعماري ( ښکېلاګره ) پانه واړوو او د خپلوکسبګرو جوړ کړي کالي په ویاړ واغوندو او خپلې پیسې دبل جب ته و انه چوو

## پښتانه په لرغوني تاریخ کښې کاسیان



هموراېي په قوم کاسي لومړنی قانون پوه

## چاڼ او څار

سعدالدین شپون زما پخوانی ملګری دی ، یوه ورځ مې ورته وویل : چې هموابي ، د بابل پادشاه پښتون و ، ده ډېر وخندل ،چې له خندا موړ شو بیا مې وویل : څومره ،چې خاندې خانده هموراېي کاسي پښتون دی بیا یې خندا غلې شوه او څه یې ونه ویل.

د پښتنو په لرغوني تاریخ کښې داسې مسایل زښت ډېر دي ،چې په لومړي سر کښې د نه منلو دي . ماځینې ضروري کتابونه ،څکه واخستل ،چې دم ګړي را سره وي او ځینو لیکونو کښې مې انګلیسي متن هم ورکړي دي ، چې هم څوك یې په خپله ویني .

که څوك د سومر ، لواني هاتيك او نورو ژبونه لړ او ډېر خبرشي بيا په اروپايي او آسيايي ژبو کښې هغه وګوري بيا په دې پسې نه ګرځي ،چې کوم لغت خپل او کوم پردی دی .
ځکه لومړنی وينا وال انسانان هغوي دي ،چې نومونه يې يادشول يون ، ژبه او ټولنه د هغوی ده .
زه په منډو کښې سپين ږيری شوم او داسې پوړ ته ورسيدم ،چې نور راکښې مهال او مجال نه و ،چې هره خبره وڅېړم ما کله ناسمه خبره نه ده کړې که ناسمه وي بل چابه کړې وي هغه به تاريخ پوه آرکيالوجست واو په انګريزي غړيدلی و ما د اړکيالوجي په مجله کښې ګډون درلود په نوو څېړنو خبريدم کله ،چې د آرکيالوچي په مجلې کښې مې وليدل ، ،چې د بغداد د موزيم د تالاکولو لپاره مخکې تر بريد ترتيبات نيول شوي ډېر خوابدی شوم د لويديځ د مدنيت کار او بار ته .
د کابل ـ زابل ـ بابل ـ ( بابل او سنی عراق دی سوريه) نوره څېړنه غواړي بيا به دومره خبرې ومنل شي ،چې لومړی به خلك و خاندي .
د افغان ملي تاريخ په کوم ترتيب ،چې چاپ شو که څه هم دغه ترتيب زما نه و .
بيا هم لکه ،چې ملي تاريخ همداسې وي او په نوی اسلوب دی وي زړه لاره نه ده نيول شوې مګر مآخذ پوره دی ډېر متنونه په کښې نقل شوي .
ددې لپاره ،چې لوستل يې آسانه شي يو يو عنوان ولوستل شي ،چې هر مطلب ې ځانګړي اهميت لري .
په افغان ملي تاريخ کښې داسې خبرې شته ،چې په نورو تاريخو کښې نه دی راغلي ، دافغان ملي تاريخ دوه يم ټوك به تر لومړي ټوك بشپړ وي زما په خيال دغه دواړه ټوکه به په ليکلو اصولو او معلوماتو کښې نوي وي او که چېرې املايي يا عبارتو کښې ماتې ګوډې وي د هغه سبب به داوي چې بيا مانه دی کتلی او ليرې وم . بيا هم ډېر مطالب په کښې سم دي . په دې ،چې نهه سوه مخه دي ډېره ګټه ترې اخستله کېږي دغه تاريخ به په ځينو برخو کښې دځينو خلکو خوښ نه وي .
مونږ د افغان په توګه د داسې خلکو په خوښې پسې نه ګرځو .

چې زما په چمن راشې ګستاخي کړې دشبنم په څېر يې عمر يو زمان کړې
( رحمان )

مه دولتي امتیازنه در لود زما حاکم او آمر د پښتو او پښتونولی مینه وه او دعامې داود خدایه ما پښتون کړې .چې تاسره وکړمه پښتو"
د پښتنو ویجاړ حال مې تر اوسه خوروي ۱۳۸۴ چنگاښ هغه پښتانه .چې په کرنه او مالداری بوخت دي امریکې په بمباریو کښې شهیدان کېږي څلور کاله کیدونکی دي .چې زړه وینې مې دوی سره وچې دي.

چې کشور د افغانانو معــطر شي
دهر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړې

او بیا رحمان .چې مطلب څومره په رسایي رسوی :

ته .چې ما منع کوې د یـــــارله لوري
کاشکې باد د سحر منع په بوستان کړې
نه به منع کړي ته ماله خـــــپله یاره
نه به کوز په خمکه ستوري د آسمان کړې

# درانی احمدشاه بابا

غوارم هغه نومونه .چې دوه زره کاله مخکې له میلاد یې په تاریخ کښې ثبت دی اوس هم پښتنو کښې شته قومونه او ځایونه لکه : ساك . قوم او ځاي . سور . لودي قوم لودیانه په هند کښې ولایت . لویدا ترکیې کښې . متانې . سبری . کاسي . اور

همدغه تاریخي اسناد دي او واقعیتونه .چې نور نه شو کولای د پښتنو شجري په لندو وختو کښې و گورو .ددغې شجرې ( ونه او څانگې ) ډېرې لرغونې دي.
لکه دراني او غلجي .چې همدا اوس له بده مرغه روان دي ۱۳۸۴ لمریز کال ابدالي . غلجي یو بل وژني محمد ظاهر شاه همدا دی .چې په دې څلورو کلو کښې مو ولید د پادشاهي په دوران کښې نورو خلکو کار کاو ښه نوم یې ده ته رسیده لکه محمد گل خان او امنیت راوستل مولوی عبدالبصیر او عدالت . غلام فرهاد بریښنا . دکتور عبدالله ناسر او معادن او ضایع و علي احمد پوپل معارف
ظاهر شاه په گیډه شهوت مین و فلسفه یې د غلخو مخالفت وه

مونږ ،چې دی اعلحضرت باله هغه دده دوره وه .چې دېرو نورو خلکو چلاوه دی هغه وخت هم نه و نتيجه يې همدا .چې مونږ يې ونيو امريکا خپل اته سوه نور خاص عسکر کنړونو ته لېږي .چې د سره عقاب عمليات تر سره کړي بيا .چې د هقانان او مالداران او خوار خلك ووژني ۱۳۸۴ چنګابن ظاهرشاه په ارګ کښې دی حامد کرزی او دی دواړه دراني دي.

دراني يوه خانګړې معنې ده .چې احمدشاه بابا په مهال پيل شوې ده پر هغه به وغړيږو بل نوم ابدالي دی .چې دا ډېر قومونه دي په ابدالي ياديږي دوی سره بل لوی قوم غلځي دي . غرزي همدې دوی دي کله غلځي خلځي شي بيا پښتو ( ځ ) (ج ) خلجي شي خلج او تره ك ورسره ويل کېږي.

تره ك بيا ترك شي خلج او ترك خبره ترکې قومونه ورسېږي . چې غلط دی . همدا شاني دراني يو امتيازي نوم بولي .چې احمدشاه بابا لويه امپراتوري درلوده دراني يعنې ددرانو دُر يا دُر د ملغلرو ملغلره په دې کيفت يوازې احمدشاه بابا پوهيده .چې دران يو افغان قوم نسبتي ( ی ) ورسره شي دراني شي . اوس که محمدزانيان ابدالي وي کېدای شي خو دراني نه دي.

مورخ غبار وايي : احمدشاه ( بابا) په خپل مهر کښې ښکلی دی : الحكم لله يا فتاح احمدشاه دُر دران . دراني يو نوم .چې دُر سره هرومرو نه لګي.

په دوهم دوه زرم کال کښې پخوا تر ميلادي له آسيا آريايي قومونه د مديترانې په لور خوځيدلي دغه قومونه افغان دي او اليان دي Acolian او لونينن Lonian همداسې دورين Dorian چې دوی واړه وسله والې ډلګۍ درلودې اوله هغو ډلو سره يوځای شول .چې مخکې هلته تللې وې.

د اعتماد السلطنه په کتاب کښې مې لوستلې .چې سوريې ته .خکه سوريه وايي .چې هلته سوري ګلان ډېر زرغونيږي حال دا چې سوريه د سور په قوم پورې اړه لري. او دسند له سيمې هلته تللي دي.

آرنولد تاين بي د شلمې پېړۍ فيلسوف او تاريخپوه هغه تول قومونه .چې په منځنۍ آسيا ( اوپه دې وختونوکې نز دې ختيځ ورته وايي ) اوسېږي تول . آريايي دي . ژبه يې اندو اروپايي ده دلته يې مدنيتونه جوړ کړي هماغه خلك دي .چې کډوال و د ښوخمکو په لټه کښې و.

اور ، متاني ، لودي ، كاسي ، ساك ، سوريان ، سبري Sabary ، لواڼي ...
ټول يوه ريښه لري ، دوی له همدې ځايه مېنځينې اسيا نه اروپا ته تللي بيا امريكا او كانادا ته او استرليا ... او د لويديځ مدنيت ، تخنيك ، اقتصاد د دوی ميراث دی له ښې مرغه قومونه ،چې په مېنځنۍ آسيا كښې مدنيتونه لري . او د لويديځ مدنيت له همدې ځايه پېل شوي ټول اوس د پښتنو په قومونو كښې ليدل كېږي . تاين بي ، كوشان ، ماد ، پارت ، متاني ساك ، لودي كاسي ، شور بيري ، لواني بوی. ټول د روسيې له غونډيو د افغانستان ته راغلي بيا مخ په جنوب هند ته راغلي او مخ په لويديځ اروپا ته تللي .

Robert Graves كريك ميت كتاب دوه ټوكه دي د روبرت كريوس The Greek Myths ليكلي ،چې په لندن كښې د فيليو د كتاب د ټولنې له خوا چاپ شوی . London Mcmxcvi The Folio Society.

ځكه ،چ د هغه ليكوال بيان كړی مونږ خپل مطالب ترې اخستي شو . څرنګه ،چې د همدغه خلكو ځينې برخې هند ته تللي ؛ نو په دواړو ځايو كښې يونان او هند يو ډول ارباب النوع دی لكه اندیرا ، ميترا ، هيرا . دا سمه ده يوځلك په دوو بيلو ځايو كښې يو شانې لغات په كاروي . دده تاريخ په ليكلو كښې خپله زمانه هم وينم هغه ټكی راولم او ليكم يې .

نن د ۱۳۸۴ د چنګاښ پنځه ويشتمه ده او د ۲۰۰۵ م د جولای شپاړسمه يوه مياشت وروسته په افغانستان كښې د ولسي جرګې ټاكنه پېل كېږي . امريكا اعلان وكړ ،چې تر لسو كلو دپاره د افغانستان او مركزي آسيا امنيت د دوی په غاړه دی او د ولسي جرګې د ټاكنو دپاره يې شل اف شپاړس الوتكې ،چې ډېرې خطرناكې دي او په ډېرشو دقيقو كښې د افغانستان هر ګوټ ته تلای شي د كابل هوايي ډګر كښې ودرولې د امريكې او انګليس ،استرليا عسكر هم رارسيږي . دا به ډېره ښه او په زړه پورې ټاكنې وي ،چې تاريخ كښې نه دي ليدل شوي . دا كلونه د پښتنو دپاره زياتې ربړوونكي دي. داسې ،چې ټوله نړۍ ورته ولاړه ده او د كلونو د پښتنو د عمومي جګړې كلونه دي . لكه لومړۍ او دوهمه نړيواله جګړه ۱۹۱۴م ۱۹۳۹م ،چې جرمني په كښې ښكيل و . په دې توګه ،چې جرمني ، يو منظم پياوړی هېواد پښتون يو منظم خپلواك او پياوړی هېواد نه

دی . پښتانه د پاکستان او افغانستان تر مينځ سيمه کښې پنډ دي ، غرونه ، ډاګونه دي کوم نامي اقتصاد نه لري سپېره ژوند تېروي .
دا هماغه نوميالی قوم ،چې لويې امپراتورۍ ګانې يې درلودې په بابل کښې يې شپږ سوه کاله حکومت کړی ( دوه زره کاله مخکې له ميلاده ) په هند کښې له لسم ميلادي کال تر شپاړسمې ميلادي پورې د دوی حکومت وه . د اور ، مادي ، متاني ، هاتيک ، سومرين ، مدنيتونه او امپراتوري د دوی و . ګډوډ پښتانه لکه محمدظاهر او حامد کرزی او د دوی ملګري خلك د امريکې حکم لاندې ودرېدلې او ځان دراني بولي دراني نه دی . دراني احمد شاه بابا و و دوی که ابدالي وي هم ګډوډ او تيټ خلك دي .
که مونږ په نړۍ کښې هر علمي کار پېل کړی وي اوس يې ولې نه شو کولای ؟ که په دې رمز پوه شولو د څښتن تعالی رحم به وي .
زه پښتنو مشرانو سره مينه لرم لکه ميروېس او احمد شاه ۱۳۴۷ لمريز کال و . امان الله خان هوتك د افغان ملت دفترته راغی ،چې مېوند واټ کښې و . دی له هغې کورنۍ و ،چې ميرويس نيکه د ملکيار له پښت دی ، د ميرويس نيکه يو ملګری او عزيز نور محمد خان دی ،چې په حاجي انګو مشهور او ياد و ، ددغه حاجي انګو نهم پښت حاجي امان الله هوتك ته رسېده .
امان الله خان غوښتل ،چې پاپا غلام محمد فرهاد وګوري دواړه ورغلو فرهاد صاحب ته ما امان الله خان داسې معرفي کړ ،چې د ميروېس نيکه له کورنۍ او د حاجي انګو له اولادې نه دی ، تکړه ليکوال او قامي مشر دی.
فرهاد صاحب ده ته ځير وکتل ،چې څو ثانيې يې ونيولې بيايې وويل : " که د ميروېس نيکه يو څاڅکی وينه دده په وجود کښې وي د حرمت وړ دی . " ده دا هم ويلي و " هغوی ،چې سادات دي د هغوی بې احترامي هېڅکله مه کوئ . "
څومره ،چې ما د ميروېس نيکه مينه په زړه کښې درلود هومره د احمدشاه باباسره هم وه .

حاجي انګو خان ( نورمحمد )

| | |
|---|---|
| نور الله خان | احمد شاه بابا |
| عبدالرحيم خان | امپراتور تيمور شاه |
| مير علم خان | ايوب شاه |

| | |
|---|---|
| محمد افضل خان | شهزاده حسین علي خان |
| محمد شاه خان | شهزاده علي احمد خان |
| شمس الدین خان | شهزاده احمد علي خان |
| فتح محمد خان | جلیل خان دراني |
| حاجي امان الله خان هوتك | |

حاجي امان الله خان هوتك د جهاد په پېر کښې په کویټه کښې د مولوي محمد نبي په تنظیم کښې وه خپلو نیکه ګانو سره یې ډېره مینه درلوده آثار او اشعار یې ټولول په ۱۳۶۸ لمریز کښې یې یو کتاب د خپلواکۍ لمر ځرك په نامه ۳۳۲ مخونو کښې چاپ کړ خپل ماخذ یې ښودلي . وروسته ماته نور کتابونه په لاس راغلل ،چې ډېر مستند و لکه د دکتور ویلم فلور دوه ټوکه کتابونه یو د اعلحضرت شاه محمود هوتك افغان په نامه بل د اعلیحضرت شاه اشرف افغان په نامه په اصل کښې دغه کتابونه د هالنډ شرکت ورځني یاداشتونه و ،چې په ایران کښې د دوی د سترګو لیدلی حال و . بل کتاب تامنتظم ناصري و ، بل د ژانګور فرانسوي کتاب و ، تاریخ کامل ایران ... ،چې دغه معلومات به زه خپل کتاب کښې راواخلم . امان الله خان هوتك په جهادي تنظیمو کښې سم ځای ونه موند ، د هغه وجه دا وه ،چې ده په اخلاص حج کړی و . او په خبره پوه سړی و . ما ده سره د میرویس نیکه او د هغه د کورني په باب ډېر مجلسونه کړي و

## پیاوړی جلیل خان دراني د شهزاده احمد علي خان زوی :

دغه شهزاده سره ،چې د احمد شاه بابا شپږم اولاد و ما په امریکې کښې ولیدل ۱۳۸۴ هجري لمریز کال و . خوارا ښه سړی و دوی ځلور ورونه او یوه خور دي ،چې په وېرجنتیا کښې اوسېږي او خپلې شپې او ورځې تېروي .

شهزاده جلیل د خپل پلار شهزاده احمد علي دراني خیني لیکنې ،چې د هغه ارواښاد په خپل لیکانې لیکل شوي و ( کاپي) یې ماته راکړل . دغه لیکنې په یوه ملي لوړې روحي وي او په دري ژبه دي او دريَ یې لوړه دري ده .

رښتیا ،چې د احمد شاه بابا لـه پېرۍ (پښت) دی هغه حالات بیانوي ،چې د پښتنو د لېرې ډېرې نیکه ګانو خبرې په داستاني څېرکښې راغلي دي . دغه نیکه ګان غرغښت ، بېټني . سړبن بابا ګان دي . له دې څرګندېږي ،چې دی د ګرشاسب نامې په متن خبر و

زمونږ ورکه مرغلره همداده کاشکلې په هيڅ نه پوهېدای او په دې رمز پوهېدای غښتلي جليل دراني وويل : د احمد شاه بابا د شخصي کتابتون دوه کتابونه راسره دي ،چې په بانك کښې مې ساتلې دي او هغه دادي :

۱- تاريخ فرشته ،چې محمد قاسم هندو شاه ليکلى دى او قلمي دى . يو زر دوه سوه مخه دى قلمي

۲- روضى الطاهرين د عماد الدين سبزواري ،چې ۳۷۵ کاله پرې اوړي . زمونږ په نوي نسل داسې څوك نه ليدل کېږي ،چې په دې خبرو پسې وګرځي د خواشينى خبره ده .

ماده ته دا هيله څرګنده کړه ،چې که د احمد شاه بابا د تاريخ يو بنسټ جوړ شي او د غه کتابونه يې د ډاډ وړ دي ماسره هم د احمد شاه بابا دوې سکې دي يوه مسي ،چې په يوه مخ يې ليکلي ( احمد شاهي فلوس ) او په بل مخ يې د ګلو ځانګه ده يوه بله د سپينو زرو دې ،چې په حقيقت کښې دغه سجع پرې ليکلې شوې .

حکم شد زخالق بي چون بر احمد شاه

سکه زن برسيم وزر زپشت ماهى تابماه

زپشت ماهى تابماه معنى له خمکې تر اسمانه دي . دغه سکه د هغه تعريف سره يو شانې ،چې مير غلام محمد غبار د احمد شاه بابا په نامه ليکلي کتاب کښې ښودلې ده .

غښتلي جليل دراني وويل : دغه کتابونه په دروښيم زه ډېر نيك مرغه ځان بولم ،چې هغه کتابونه ووينم کوم ،چې احمد شاه بابا ليدلي او کتلي دي .

لکه ،چې دده مبارکه مسي سکه زما غاړې کښې پرته ده او زما په مات زړګي ،چې ورته وګورم زړه ته سکون راشي . له دې کبله دا دى ،چې اوسني حالات د پښتنو ډېر بد دى . غل ،چې ووژل شي د غله مور د کندو تر شا ژاړي مونږ که وژاړو لکه د غله مور د کندو تر شاه ژاړو څکه حالات داسې دي . اوس امريکې غله بللي دي . خپل پردي ټول هماغه د امريکې خبره کوي دا ،چې هره ورځ شل دېرش تنه وژل کېږي . څرګند نه دي دوى که د افغانستان وګړي نه دي نو څوك دي ؟

غښتلي جليل دراني ،چې له امپراتورى ورته دوه کتابونه پاتې دي هغه ساتلاى نه شي زما تلوسه دې ته ده ،چې وپوهېږم . بابا د کومو مشرانو تاريخونه لوستي دي . احمد شاه بابا د سلطان عبدالحميد لودي او شېرشاه نومونه يا دکړي .

د فريد اود حميد دور بــــه بيا شي     که زه وکاندم په هر لورې تاختونه

او خوشحال مخکې تر دې ویلي :

و مغل ته هغه چار ښکاره کـــړم
چې راضي راځخه روح د فرید خان شي

فرید خان شېر شاه سوري دی، پښتانه خپلو مشرانو ته ځانونه مسوول بولي او دا خبره خوشحال خان بابا او احمد شاه بابا کړې ده .

زړه مې شین دی ځان یې ټینګ کړې دې ،چې حواس مې پریشانه نه شي . او لیونتوب ته ونه رسېږم د امریکې پلویان یا مزدوران هرې خواته لکه مرخېړې پورته شوي . د زړه خواله مې وکړه چاسره ؟ که بیا چا چېرې راتلوني کښې پښتنو ولوستله ددې مهال په هال به خبر شي .

کله ،چې داسې وي د لیکوال غم بیا د مسلمان بیا د انسان غم پښتون هم مسلمان او انسان دی خو پښتانه د خپلو او پردو لخوا ایسار دي او پرې راتاو شوي ۱۳۸۴ د زمري نهه ویشتمه .

څو ورځې دمخه د زمري په اوه ویشتمه د کابل په غازي ستېډیم کښې د افغانستان د خپلواکۍ یاد ونمانځل شو البته د دولت لخوا او حامد کرزي هر څه سم وبلل خود هره ورځ لړ او ډېر دېرش تنه پکتیا ، پکتیکا ، زابل ، هلمند ، ارزګان کښې د مشکوکو طالبانو په نامه وژل کېږي . کرزی او ظاهر شا خوشحال دی ،چې غلځی وژل کېږي .

د امریکې عملیاتو قوماندان وویل : طالبان خطرناك او بې رحمه دي . د استقلال جشن هم دا ډول دی ،چې دوه دېرش پردي بیرغونه رپېږي .شل زره امریکایي عسکر دیارلس زره بین المللي عسکر پنځه ویشت د دفاع د وزارت او اتحاد شمال عسکر الوتکې توپونه ، چورلکې له هوا او له ځمکې د پښتنو له تورسرو، سپین او ماشومان څاروي وژني کورونه یې نړوي ،چې په دې غم کښې هېڅوك نه دي . بیا په کار دی ،چې تاریخ ته وسپارل شي زما د خبرونو حواله بي بي سي ده BBC ،چې هره ورځ یې اورم .

د ۱۳۸۰ د تلې په اوه لسمې امریکایانو له ب ۵۲ الوتکو او ځمکني عسکرو سره پر افغانستان برید وکړ په قندهار ، کابل ، مزارشریف کښې پښتانه بد ووژل شول . پښتانه وایي " دښمن دې وژنه مېړانه یې مه وژنه " یعنې بې احترامي یې مه کوه دا د دوی هېواد وال و مسلمانان و موتړ او دوی سره ورونه بلل کېدو خپلوۍ مو درلودې پولې ، دیوالونه مو یو و .

بيا يې طالب دلته پټ دی القاعده پټ دی هره ورځ پښتانه ماشومان مېرمنې وژل کېدل په مينځني حد کښې هره ورځ له شلو تر دېرشو پورې .
دا يوازې تاجکان ، هزاره ، ازبک نه و ،چې امريکې سره يې لاس ورکړی و ، باباى ملت محمد ظاهر ، حامد کرزی ورونه يې خپلوان يې دوستان بيا هم يو مخ نشي کېدای .خو يو ډېر شمېر پښتانه په ظاهر کښې باطن کښې نه پښتانه ګډوډ پېسه پال ګڼ کړې له هرې خوا تعليم لرونکي بې تعليمه ځکه دوی داسې ،چې دوی په پښتو ولاړ نه و ، په امريکې ولاړ و او له پښتونولۍ وتلي و .
ما له پياوړي جليل دراني وپوښتل ،چې دا کتابونه څه کوي ؟ ده وويل : نور څوك نه دي پاتې ،چې دا کتابونه وساتلی شي ؛ نو غواړم خرڅ يې کړم . دده په حساب کتابونه افراد نه شي اخستلی ځکه دوه نيم لکه ډالره بيه يې ،چې له رسمي موسسو معلومه شوې ده .
ما پياوړي امام الدين ساپي ته وويل ، هغه وويل : دا يو سړی نه شي اخستی که يوه ټولنه وي او ټول په کښې برخه واخلي . ځو ،چې کتابونه شته مونږ به پښتنو ته ووايو .
داسې حالاتو کښې دا هم ګرانه ده، زه ،چې ډېر ناهيلی شم بيا د خوشحال بابا دا بيتونه ځان سره وايم:

د جــــهان ډېرې خبرې ... لــــور په لور تورې لښکرې
زړه مې نه خــوځي له ځايه ... غــر خــو هــسې وي کنه
چــې رېبم يې عــمل بيا کا ... چې يې ورك کړم ځــان پېدا کا
شپه او ورځ دا هسې کر کړم ... کر خو هسې وي کـــــنه

# پايناب


رقيبان ،چې مې تېرئ په رحمان کاندي
تا په خوا پورې نيولی دی پوهــېږم

د لويديځې نړۍ د تاريخ او لوړتيا پايناب رسېدلی په دې باب په امريکې کښې کتابونه ليکلي ،چې دغه مدنيت نړېږي ، سبا به يې خلك په کنډوالو ګرځي .
دغزي د ټرانګې نه د يهودانو کورونه پاتې او دوی تر ې اوېستل په ډېر بد حالت لاسو او پښو نه نيولي ډنډولي يې موټر اچول او له سيمې يې اېستل په خپله اسراييلي عسکرو پوليستو دا کار کاوه . او خپل يهود يې په زوره ايستل که څوك سترګې لري له دې زياته رسوايي بله نشته. د څښتن تعالی حکمت دی ،چې څوك وهي په خپلو لاسو يې خپل ځان

وهي . دا هغه اسراییل .چې په ۱۹۶۰م کال کښې ټول عربي هېوادو سره یې جګړه کولای شوه
بله خبره دا ده .چې درنده وسله نور کارنه کوي داپه افغانستان کښې په جهاد کښې ولیدل شو ناپال بمونه او ب ۵۲ الوتکې په درزا راغلې په افغانستان او عراق کښې دوی نه شي تینګېدای نړۍ اوښتې ده او په دې پېر کښې مونږ یو .
داسې .چې په پکتیا . قندهار . پکتیکا . ارزګان . زابل او هلمند کښې امن نشته هره ورځ دولتي عسکر پولیس او امریکایان وژل کېږي . که څه هم غیر نظامي پښتانه ډېردي بیا هم عمومي محاسبه .چې وشي د طالبانو لاس بر دی بویه تاریخ کښې ولیکل شي
دغه ګړی .چې دغه کرښې لیکم د یارمحمد سندري غږېږي د پښتنو د بې ننګۍ سندره وایي زما خبره دا ده .چې بې ننګه وي بیا پښتون نه وي پښتون یې مه بوله
او س .چې پنځه اویا کلن یم په څه نه ګرځم دغه آزاد د لیکلو لاره ده .چې د نویو حالاتو یوه یوه بېلګه ورکوم . دا مهال په امریکې کښې د پښتو انګلیسي ترجمانانو ته ضرورت ډېر دی اعلانونه پسې کېږي هر ترجمان ته د کال یو سل او شل زره ډالره ورکوي .د پښتو په ژبې علمي کار هم روان دی دا .چې څه ترې جوړوي په دې سم نه پوهېږم . ما په افغانستان کښې پښتو ټولنې کښې رسمي کار نه دی خو کله ۱۳۵۳ د داود خان جمهوریت و مرحوم صدیق روهي زه د پښتو ټولنې افتخار غړی وټاکلم .چې مجلسو ته ورتلم .
د تاریخ په ټولنه کښې مې کار نه دی کړی خو د افغانستان تاریخ پوهان له نژدې پېژنم . لکه استاد دوست محمد خان معلم . استاد احمد علي خان کهزاد . پوهاند عبدالحی . استاد میر غلام محمدخان غبار .
همورابي په ۱۷۳۵ ق م کښې د بابلان پادشاه و .چې په قوم کاسي و او کاسیانو شپږ سوه کاله په بابل کښې پادشاهان کړې ده . ارنولد تاین بي " خمکه د بشر مور " په کتاب کښې لیکلي کاسیان کډوال و د افغانستان له شماله په لوی کاروان کښې تر بابلان رسېدلي او هغه یې نیولي دي بیا یې سم آباد کړي قانون یې عملي کړی د بابل ودانۍ دنړۍ له عجایبو څخه ده .

د اور مدنيت بابل کښې جوړ شوی اورګون هلته هم و . په پکتيا کښې اوس هم اورګون شته او مړ قوم دی يوه ژبه هم ده . دد غې اړيکې څېړل او په دې پوهېدل کفايت کوي .چې پښتون د بشر د مدنيت په سر کښې وخليږي.

A Painting of the City of Babylon Shows the Bridge, Fortifications and a Temple Tower



کاسيانو ته يو سوغات .چې دوه نيم زره کاله مخکې تر ميلاده دا د دوی ښار و او دلته اوسېدل اوس پل نه لري پر دوه لرګيو خلك تېرېږي.

## افغان او د هغه لويه هنګامه

ما د افغان ملي تاريخ په لومړي ټوك د دکتور حسن خان کاکړ له ليکنې د افغان تعريف کړی و . او دغه تعريف د استاد له مخې دی.
پښتون او افغان : لکه .چې سيد جمالدين [illegible] التاريخ افغان کښې ويلي دي . پښتون او افغان دوه مترادفې کلمې دي [illegible] په دلته ورکړم
حسن خان موmند د غوريانو تاريخ په اردو ليکلی [illegible] نه پوهېږم .چې د افغان له کوم وخت راهيسې وتلې ده ؟ ما سره [illegible] يو کتاب په لاس

راغی د تاریخ منتظم ناصري په نامه ، دغه کتاب دري ټوکه دی . ناصرالدین شاه قاجار په مهال د ده د استخباراتو وزیر اعتماد السلطنه دده په نامه لیکلی و .
دلته به یې پښتو کښې تاسو ته ولیکم په دې متن ډېر فکر وکړئ ټولې خبرې یې په دې برخه سمې نه دي مګر ځینې مهمې ټکي لري .
د هوتکو د دورې ښه معلومات په خپله اعتماد السلطنه ،چې حسن طباطبائي نومېږي . هغه زمانې ته ،چې افغانانو ایرن کښې کاو نژدې دی . وزیر او اعتماد السلطنه و . مهم معلومات یې لیکلې خو دغه کتاب د کتور اسماعیل رضواني تصحیح کړی . په کتاب کښې یې ګوتې وهلي ، په دې یې هم خوا نه ده سړه شوې د یو بل تاریخ ،چې شیخ عبدالنبي منشي بهباني لیکلی او د افغانانو خلاف دی هغه یې د اعتماد السلطنه کتاب کښې راوړي دي ،چې یو بیت به یې دلته راوړم .

قدم نا مبارك محمود    گر به دریا رسید برآرد دود

د محمود د بده مرغه پښه که سیند ته ورسېږي لوګې له اوبو خېږي .
په ایران کښې هغه لیکوال ،چې مونږ ته بدنیت لري او زمونږ خپل ،چې ایراني شوي دي له حقایقو لېرې خبرې ډېرې کوي بیا په ایرا ٠ ن پوهان خلك حقایق سم بیانوي ،چې زمونږ تر خپلو لیکوالو ډېر ښه دي . اعتماد السلطنه هم له هغو خلکو دی او دکتور اسماعیل راضواني دده په کتاب او وینا کښې ګوتې وهي یا نور ایراني حتی په امانت داري ترجمه هم نه کوي .
د تاریخ منتظم ناصري په ۱۰۳۸ مخ کښې د افغانانو څرنګوالی او د دولت داسې بیان شوی ،چې د ډېري پاملرنې وړ دی . بیا به دغه موضوع په مهمو تاریخو کښې هم وګورو .
" هسې وایې ،چې افغان قبایل د خزر ( کسپېن سمندرګي ) غاړو شیروان او داغستان کښې هستوګه درلوده یا په خپله له داغستان نه دباندې په دښتو کښې یې ژمي او اوړي تېرول . ناپېژندل شوي خلك و څرګنده نه ه ،چې د خزر ( کسپېن ) خلك دي یا د هغوی خپلوان دي .په هغه توګه ،چې وه د دوی چار غدی او.تېری و .
د ګوډ تیمور په مهال د آذربایجان خلکو له دوی شکایت وکړ هغه زورور پادشاه دوی له هغه ځایه وشړل د هند او قندهار تر مینځ دښتو کښې دوی ځای ورکړ .

سیاح ،(چې مسیحي مذهب کړی و) وایي ،چې ما په زړو تاریخو کښې لیدلي دي ،چې دوی ته یې اغواني اولیاني ویل : اغواني د الیاني غلط په کارول دي او له ارمنیانو دي . اوس دشېروان سیمې ته نژدې یو ځای ،چې قره باغ نومېږي هلته ارمنیان اوسېږي . مناشري هغه ته قندسار وایي او د هغوی مشر ته اغوان ویي ،چې ارمني ژبه کښې باش یو ډول اغوان ته وایي ،چې ، اېروان او نخجوان شا هو خوا کښې او د ګیلان په حدودو کښې هستوګه لري . ( شقنان ) دوی په همدې نوم یادوي ، او د ارمنیانو یوه نسخه په همدې نوم یادوي ،چې مطلب یې افغان دی او په دې نامه ویاړي ، او وایي ،چې مونږ افغان یو . قندسار هم په اصل کښې قندهار دی . سکندر هلته کلا جوړه کړې وه او هلته ارمنیان اوسېدل ورو ورو د قندهار له خلکو نژدې شو او مسلمانان شول دوی جنګیالي خلك و .

آرمنیان داسې خلك ،چې دوی آر = اصل . سپین ته وایي او مینه ځای آرمنیا د سپینو خلکو مېنه ،چې دا نوم یو ترکیبي نوم دی او دواړه برخې یې پښتو دي یا یو شانې دي . د ارمنستان په باب دا خبره ده ،چې هلته یو ولایت د پکتیا په نامه و .

زما هوډ له دې بحث نه دوی خبرې دي . لومړی پښتانه او ددو چان ځار تر هغه مهمه ، هغه مفکوره . دود کړه او مضمون دی ،چې ملي فلسفه ترې جوړېږي ، دغه دواړه مسالې پښتنو ته ډېر اهمیت لري افغان کېدل یوه لاره ده ،چې د خېل او زی خبره فکر ، دود اوکړه دي . په دې که شك نشته ،چې افغان یو قوم دی او له پښتون سره توپیر نه لري . په دې ،چې د تاریخ په اوږدو کښې افغان ځانله لکه لودي ، سوري ، ساك ، کاسي نه دي پاتې

د نورستان د دتاریخ په کتاب کښې ،چې استاد اکبر شور ماچ ددغې موضوع وضاحت لیدل کېږي. هېرودت ( ۴۹۰-۴۲۵ ق م ) په خپل کتاب تواریخ کښې دا موضوع په ښه توګه څېړلې ده . دا زمونږ نېك مرغي ده ،چې زمونږ پلرونه ، نیکان د افغان په روح او مضمون پوهېدل . سلطان محمود غزنوي ، غیاث الدین غوري ، شهاب الدین غوري ، میروېس نیکه ، شاه محمود افغان ، شاه اشرف ، افغان احمد شاه بابا ... همدا وجه وه ،چې خوشحال خان خټك ویلي :

د افغان په ننګ مې وتړله تـــــوره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټك یم

استاد احمد علي کهزاد . شهزاده احمد علي دراني . حمزه شينواری .همېش خليل او نور ډېر شاعران او ليکوال .

چې کشور د افـــغانـــانو معطرکا
د هر بيت مصرع مې زلفې د خوبان کړي
(عبدالرحمن بابا)

# افغان – اليان او لونين

# AFGHAN AEOLIAN AND LONIAN

په زوړ تاريخ لوانيي د قوم او ژبې په نامه راغلي دي او دغه تاريخ درې زره کاله پخوا تر ميلاده هېرودت (۴۹۰-۴۲۵) او په ۲۰۰۶ کښې او ۱۳۸۱ لمريز د يونان د ارباب النوع په کتاب کښې هم راغلي استاد کهزاد د افغانستان په تاريخ کښې ليکلي .چې افغان اليان له پاکت سره تړلي دي .

اوس د افغان د کلمې سرچينه له همدې اسنادو وپېژنو .چې افغان . پښتون . او پښتون افغان دی .چې اليان اوښتلي بڼه ده اوس څوک افغان نه وايي اوغان ويل خو افغان ليکي اغوان هم وايي .

ايګان . ايه ګان هم راغلي .چې پوهاند حبيبي پر هغه شرح لري . څومره .چې پکت لرغونی دی اليان هم لرغونی دی او يو خلك دي . د بحران په دوران کښې افغان يې افغانستان او يو شمېر له افغان کړي وزي مګر افغانستاني بيا هم د افغان معنا لري او دوی چاره نه لري .چې له دې خبرې وانه وړي او د افغان لوړ مفهوم درك نه کړي .

احمد غلي کهزاد د افغانستان وتلي تاريخپوه داسې ليکي :

" الينان (نورستانيان) د ويدي يوه بله مهمه قبيله ده .چې د لسو ملکانو په جګړو کښې وتلي دي او له پکتيانو سره او ويدي له نورو قبايلو سره د " ويستواميترا" په تبليغ کښې يې د بهارا ته خوا پياوړې کړي ده پرته له دې هم الينان په نورو سندرو کښې هم ياد شوی د هغو يووالی له پاتيانو سره او نورو ګنداري قومو د ژوند په هر اړخ کښې ثابت دی .

كهزاد دا هم وايي ،چې ځينې خلك دوى " داردي" بولي ،چې د افغانستان شمال ختيځو غرونو كښې له لرغونو زمانو اوسېدلي دي . او دوى د اديك نه دي ،چې بيا وروسته تاجك بلل شوي دي . الينانيانو خپل ځانګړي كره ساتلي او د دوى ژبه زمونږ د هېواد د زړې بوپه پېژندلو كښې ډېره مرسته كوي " "داردي" ژبه له درې سره نژدې ده كېداى شي يو له بله نژدې خپلوي ولري . هسې هم درې د غرونو له درو بولي .

## هېرودت او النيان

د هېرودت په تواريخو كښې الياني اسيايي يونانيان بللي ،چې له اسيا راغلي دي . دارمستر هم دا خبره كوي د افغانستان شمال ختيځ له غرونو خوځېدلي دا ،چې ويل كېده . نورستانيان په اصل كښې يونانيان دي ،چې له سكندر مقدوني سره راغلي دي . بل ډول خبرې .دا .چې يونانيان له دې ځايه تللي دي . هغوى افغانا دي . د يونان د ارباب النوع كتاب هم دا وايي ،چې دغه ځمكه هغوى نيولې . دغه كتاب يوه ډېره ښه خبره كوي ،چې اليانيانو(افغانان) په نيول شويو سيمو كښې ظلم تېرى نه كاو او دا د افغان يو لوړ خوى دى ،چې د تاريخ په اوږدو كښې ثابته شوې ده افغان نه ظلم كوي نه ظلم منې او دوى به تل په دې لګيا وي افغان ظالم ته غاړه نه ږدي . لكه ،چې يوه روسي ليكوال ليكلي و ،چې پښتانه غلامي دوره نه لري دوى نېغ فيودالي دورې ته ننوتلي مګر چا ،چې دغه كتاب له روسيې په پښتو ترجمه كړى هغه وايې ،چې نه تېره كړې يې ده . دا د غلامۍ لوى پلوي دي ،چې تر يوه روسي كمونېست يې حرارت ډېر و . ساكزو ، غزنويانو ، غوريانو ، هوتك احمدشاه بابا دا كار نه دى كړى .

محمدزايي پادشاهانو په دې نادود كار لاس پورې كړى و لكه امير عبدالرحمن خان له هزاره جات راوستلې او امان الله خان هغه ازاد كړل . بيا هم شمېر يې ډېر نه و . احمد شاه بابا د پاني پت په جګړه كښې سل زره هنديان ونيول وروسته له جګړې يې خوشې كړل كه يې راوستلي واى افغانولي سمه نه راتله . احمد شاه بابا ،چې د افغانستان او افغان نوم غوره وباله د افغان په كيفيت پوهېده.

اعلحضرت شاه محمود ،چې ايران ته لاړ په لومړى كړى محمود افغان او لښكر يې افغانان و . په كتابونو او راوپورو كښې ډېر موجود دي. د يونان د ارباب النوع په كتاب كښې Doranian د الياني يو څانګه ده . ځينې داسې فكر كوي ،چې د دراني نوم د

احمد شاه بابا په مهال عمومي شوې ده ، احمد شاه بابا په تاريخ سم پوهېده ده ، يو تاريخي افغانستان جوړ کړی و .

## بړيځې ( بريسايا )

د ريك ويد په سندرو کښې دغه نوم ياد شوی دی يوه " هلبرانت " وايي "برسيايا" بړيځو جګړه په اراکوزيا له وودسا پادشاه سره شوی . کهزاد صاحب وايي د پکت هر قوم دومره مهم تاريخ لري ،چې سرې هك پك پاتې شي . کهزاد په اوستا ، ويدي ، ريك ويد ، بنداهش زند کښې کوم لرغوني کتابونه دي ، او سندرې يا سرودونو ځومره معلومات د پښتون او افغان په باب و ، په ګرشاشبنامه کښې شاهنامې کښې ټول راغونډ کړې .

او د پښتانه دپاره يې کار اسانه کړی دی نه يوازې معلومات ،چې د افغان ملي تاريخې فلسفه يې جوته کړې ،چې دا علم دی په سند او دليل د افغان غښتلې اولادې دي ملي روحاني شخصيت .

سلطان جلال الدين فېروزشاه په هند کښې آزاد خان په ايران کښې پادشاهان و ، دواړه پياوړي پښتانه و .

احمد علي خان کهزاد وايي هر څه ،چې په نړۍ کښې د مدنيت خواره شوې سرچينه به يې افغانستان او پکتيان دی .

دا ،چې په کابل کښې ځايونه تر اوسه د ارباب النوع په نومونو يادېږي او همدا نومونه په يونان او هندوستان کښې دې وي به ځکه له همدې افغانستان نه هند ته او ايران ته تللی بيا ترکيې او يونان ته ، په کابل کښې .

۱- شيوکی = شيواجي

۲- نردرسن = درشن

۳- کمري = کماري

۴- رنده کی = اندك هندك

په افغانستان کښې ګرشاسب بابا ووېل ،چې له اوس نه څلور زره کاله وروسته حضرت محمد خپل دين څرګندوي . مونږ د هغه په دين يو له دې څرګندېږي ،چې د اسلام زړې دلته و .

په اوستا ويدي کښې ،چې که مې خبرې په نوې زمانې کښې د کيندلو او نوي تاريخي څېړنو هماغه ثابتې شوې چې اوستا او ويدي کښې ويل شوي د افغانستان خلکو بودايي طرد کړي کمونيستي او ديموکراسي يې هم وانه خښته .
يو شمېر اجيرانو ډېره خواري وکړه د نړۍ لوی طاقتونه يې خپل کور ته راوستل بوره او بدنامه شول
مطلوب له دې بحثونو دا دی ،چې په غرو رغو کښې پولو پټو کښې داسې افغانان لېدل کېږي ،چې بېرته د ننګ ، غېرت ، ايمان کړي ونښلوي .
ـن ،چې ۱۳۸۴ لمريز کال د وږي اومه ده د امريکې لوی درستيز وويل : زمونږ د عسکرو روحيه ښه ده خو په امريکا کښې دننه وضع ويجاړه ده " په افغانستان جګړو زور چټې دی بيا هم طالبانو ويلي ،چې مونږ د انتخاباتو پر حوزو بريد ونه کړ . ددې کبل به دا وي ،چې عام خلك هلته وي ،چې په زور . خوښۍ پيسو له پاره هلته تللی وي .
په تاريخ کښې ،چې د اوستا اويدي خبرونه لولي يو يو غرپ د نوم حالاتو هم په کار دي
د وږي اتمه ۱۳۸۴ ددې خبرې اعلان وشو ،چې دکتور مـ موهن سنګهـ د هند صدراعظم سبا کابل ته ځي او هلته به د افغانستان د پارلمان يا ولسي جرګې د ودانۍ د تهداب او بنسټ تيږه په خپله کېږدي . ځکه دا هم تاريخ دی ،چې په افغانستان کښې د امريکې تر مشرۍ د دېرشو هېوادو عسکري راغلي دي . د افغانستان چاپېريال يې په غولـو لـړلی دی . د ازبکستان پارلمان نـن ۱۳۸۴ د وږي اتمه پرېکړه وکړه ،چې امريکايان دې له ازبکستان څخه ووزي امريکايانو هلته په خان اباد نومې ځای کښې اډه جوړه کړې وه ،چې له هغه ځايه په اسانه د طالب او القاعده په نامه ځايونه ووهي .
ازبکستان همدغه د چاپېريال مردار او خوساکېدل يادوي ،چې امريکايان دي . دغه ځای پرېږدي نو په افغانستان کښې ،چې امريکايان . انګليسان فرانسته . روسيه او همداسې دېرش هېوادو نه خپل عسکر لري . څه حال به وي ؟ د افغانستان جګړه د ازادۍ او عدالت دپاره پای نه لري اوس هم دغه جګره خلاصه نه ده . همداسې ،چې اوس د شنبې ورځ د ورځې درې بجې دي ،چې پکتيا کښې يو امريکايي عسکر وژل شوي او څلور تنه ټپيان شوي . له دې پرته د افغان . ايغان . اغواني . الباني ياد شوی کوم د افغانستان د تاريخ په نامه دوه ټوکه ليکلی و . د افغانستان تاريخ پخوا د اسلام له راتګه ليکلی تر ډېره حده يې د افغانستان دغه تاريخ بشپړ کړي . بيا وروستې

کندنې کتنې نورې خبرې هم لري که هغه په همدغه تاريخ کښې ولولي . د استاد احمد علي کهزاد کتاب په ۱۳۵۲ لمريز کښې چاپ شوی او چېرته ساتل شوی . شپېته کاله وروسته نوموړې کتاب د ارواښاد کهزاد زوی دکتور فريار کهزاد بيا چاپ کړ ما هم په پنځه اويا کلنی کښې ولید .

په دغه کتاب کښې الياني له پکت سره يو قوم بلل شوی .چې اوس الياني نورستانيان دي . په داسې حال کښې.چې تاجکو خپل تاجك بلل د نورستان تاريخ يوه نورستاني وليکي او د تاريخي سندونو له مخې خپل قوم يعنی نورستانيان يې اصل افغانان وبلل .

## هومر Homer

په لرغوني يونان کښې نامتو شاعر او حماسه ليکونکي هومره دي دده د حماسي خلك او ځای يونان نه دی ، خو د يونان خلك يې توروي اومېړانې ته بللې .

د فردوسي د شاهنامې د جګړې ډګر او پهلوانان زابل او سيستان دی . د پهلوانانو قوم ساك دی د هومر او فردوسي خوشحال خان ختك زږه په همدې ځای يعنې افغانستان کښې دی .

درست پښتون له قندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ اواشکار

او بيا دا .چې :

د افغان په ننګ مې وتړله تــــور،
ننګيالی د زمانې خوشحال ختك يم

" الياد " او " اودسه " بنياد هم ساك دی . دا خبرې د منلو نه بنکاري په حقيقت کښې همداسې دی . مونږ هم دومره ستومانه اړيو .چې لـه دې دريز نه لويدلي يو د لويديځ وحشان راتاوې شوې واراوپار رانه ورك دی .

ستا د عشق حرفونه تورې نه دي ګلګون دی دا په دا .چې نوشته په جګر خون دی

مونږ وليدل .چې دراني لکه الياني يو زوړ قوم دی . احمد شاه بابا پوهېده ډېرو خلکو فکر کاو .چې دراني قوم نه دی يو لقب دی . احمدشاه بابا به چاته يا يوې ډلې ته ورکاو او يا قوم ته زه هم په دې عقيده وم او د هغه پوخ سند د تېمور شاه بابا يو فرمان و . چې

ما درلود بیا خبر نه یم .چې وي به که نه به وي . کله که کابل ته لاړم بیا به څرګند شي له دې فرمان نه ډېر څه ځرګندېدل .
۱- فرمان د قاضي فیض الله په نامه .چې په قوم هوتک و . په فرمان کښې لیکلي " قاضي فیض الله هوتك دراني
۲- په فرمان کښې د امپراتور تېمور شاه لاسلیك په سره رنګ د فرمان په سر کښې و په پاکی کښې د دولت د نورو غړي لاسلیك او مهر دواړه و .
۳- قاضي فیض الله ته یو څه ځمکه نیول په توګه ورکړ شوي وه .
حقیقت داسې برېښې .چې دواړه به و . هم قوم او د اعزاز له مخې لقب
تازه خبر : د وږي شپږمه ۱۳۸۴ په کابل کښې اعلان وشو ددې دپاره .چې د افغانستان د پارلمان یا ولسي جرګې ټاکنې دوه اونۍ وروسته د امریکا او د هغه د ملګرو هېوادو . ملګرو ملتو عسکرو اود افغانستان د دفاع وزارت عسکر .چې افغانان دي . ددې دپاره یرغل وکړي .چې ( د بابای ملت او کرزی ) حکومت مخالفین وځپي . په حقیقت کښې د پښتانه اورمېږ مات کړي . دا هماغسې یرغل دی .چې په دوهمه عمومي جګړې جرمني باندې کېده . اوس جرمني د امریکې ملګری د افغانستان د جنوب او جنوب شرق په دغه عمومي نړیوال یرغل کښې ټانکونه . الوتکې . ځمکنی یرغل له دېرش زرو ډېر تکړه هوسا عسکر برخه لري په مقابل کښې زر تنه جنګیالي هم نه وي . خوشحال خان بابا وایي :

د بې ننګه پښتانه له لاسه ما .
لویي پرېښوه ونیوله کمه ما

بې ننګه پښتانه هماغه .چې هغوی له دغه بین المللي لښکرو د امریکې په مشری همدغه پښتانه وژني .
داستاد احمد علي خان کهزاد کتاب .چې شپېته کاله دمخه لیکل شوی و . یو بشپړ ملي علمي کتاب دی . شپېته کاله پټ و ما .چې ګرد عمر په چاپ او لیکلو تېر کړمانه ولیدلي : نو نورو به څنګه لیدلای وای . دا دی اوس بنیاد فرهنګي کهزاد بیا په ښه صورت چاپ کړی دی . د کتاب نوم ( تاریخ افغانستان ) دی په دې شپېتو کلو کښې د ځمکې کیندی په برخه کښې ډېر کار شوی او ډېر څه نور رابرسېره شوي دي . بیا د

احمد علي خان کار نه و دا دنورو افغانانو کار دی ،چې دغه پلټنې راوڅېړي . د افغانستان د تاریخ کتاب تر همهغه مهال پورې بشپړ دی .

## استاد احمد علي خان کهزاد زما له نظره

په کال **۱۳۲۵** لمریز ،چې کهزاد خپل کتاب بشپړ کړی و ، زه پنځلس کلن وم او ګذرګاه د کهزاد د کور په سل متری کښې اوسېدم هره ورځ مې دی لیده او سلام مې کا و . دی ښکلی سړی و دروند اود وقار خاوند ، داخلاقو یوه نمونه و ، هېڅ ډول تفریح یې نه درلوده یوازې په ښنو ګرځېده او کار کول .

کهزاد د ختیو یو کور درلود ، ونې په کښې ډېرې وې . د ژوند تر پایه همدغه کور کښې و . ده که غوښتلي د کابل په هره کارته یا مېنه کښې یې کور اخستلای شو . هرې ښاروالۍ ده ته یوه نمره ځمکه ورکوله خو دی مغرور سرلوړی سړی و .

کهزاد د ملي اندېښنې خاوند و د تعصب په لاړ خبر نه و ، خبر هغه افغانستان او د هغه تاریخ پېژاند ،پاك قانع سړی او کلك ایمان یې درلود . دی وایې د امان الله خان په مهال دی په اووم ټولګي کښې و .

په پغمان کښې د ګرشاسب یا غرغښت یوه صحنه وښودل شوه[1] کوم غر ،چې د بابا ده اورېدلی و شپېته کال یې په غوږ کښې و او څېړنې لویه برخه یې د پښتنو د نیکه ګانو په برخه کښې وه ، د یوه فکر د یوې خبرې او د یوه مېړانې سړی و . د نړۍ هېڅ باد او توفان دده ملي عقیده ونه رېږدوله د پښتون په تاریخ کښې د هر پښتانه حقدار دی .

ما ،چې دده د افغانستان تاریخ په امریکا کښې ولوست دده د معلوماتو پراخوالي ته هك اریان شوم بیا مې پام شو . استاد شپېته کاله څېړنه کړې ځکه ده ویلي دي ،چې هماغه د ګرشاسب بابا جملې مې په همغه غر په ماغزو کښې ځای درلود ، دومره د عزم خاوند کله آسانه وي .

په صحنه کښې د غرو له سره یو سړی په تمکین او عظیمت رابښکته شي ددغه بابا زامن او نبیره په ادب ودرېږي او دې خپلې جملې ووایي :

[1] د حبیبي د ښوونځي د زده کوونکو له پلوه

زمونږ ګرشاسب بابا ،چې هېڅکله چا نه دی مات کړی . میرویس بابا او احمد شاه بابا ونازوي له خانیو پادشاهانو مخ واړوي .
حکیم اسدي توسي وایي :

سـرلښکــر ګــرشاسب څو ځوندی و
نــه چـا وغـــورځاو او نه یې مات کړ
لـــه چین روم تـــر سده په څکړه کښې
وکړل ده هغه څه ،چې داستان رستم وبه کړه

استاد احمد علي خان کهزاد افغان فلسفه په تاریخ کښې وپالله ،چې بې ساری تاریخ پوهشو .

کاشکې زوی د پښتانه په توره مړ شي
نه ،چې ګور لره روان شي له تـــلتکه

کاشکې مونږ باندې د خوشحال بابا یوه خبره دومره تاثیر وکړي او اغېزمن شي ، مونږ ګرده ورځ میرویس او احمد شاه بابا وایو بیا څه کوو ؟
د مېدان په ترخ کښې ،چې هلته ساك اوسپدل یو ښازګوټی له خاورو څرګند ، خلك بې سده شول . په هېڅ ډول سره جوړ نه شول امریکایان یې خبر کړل ، د کارشیان یې تر پ یوړل په پای که یې یو " ماین" والوزاوه ، بیا یې خلکو ته وویل : تاسو صداقت نه کوئ ، ماین مو راته اېښی و اولاړل ، دا هم ۱۳۸۴ لمریز کال و .
مونږ له میروېس نیکه او احمد شاه بابا لېرې شوي یو امریکایانو ته نژدې شوي یو وګورو دا به تر کله وي ؟
دا یوازې نه په نړ افغانستان کښې دا کاروان دی . کله ،چې د خپل هېواد اوسنی حالت په سترګو وګورو د نعـ ـــ ـ په پردیو کښې ورك دي ، د طالب او القاعدو بیا تروریزم په ـ ـ رز کې شوی . سانه شي اخستی . د استاد احمد علي خان کهزاد اندېښنه ،چې څنګه ـ ـ ـ نت راپول شي . هغه مدنیت ،چې په بین النهرین ، مصر کښې خپور شو
پیاوړی استاد کهزاد ویدي اوستایي مدنیت یا آریانا وېشه یادوي . زه په داسې حال کښې ،چې کهزاد په تاریخ کښې خپل لارښود بولم او د زړه له کومې یې درناوی کوم .

دغه مدنيتونه د سور ، پاکت ، او ساك بولم دا ،چې دروند استاد اريانا ، خراسان او افغان بولي دا سمه نه ګڼم .
د هېرودت له قوله پاکتيا ، ساکستان او نورستان بولي ،چې پاکت د باختر ، بلخ او بخدي پورې اړه لري ، ساکستان د ساکو خمکه ،چې بيا سستان شوی .
د طبري تاريخ سيستان د سند او بلخ د نهر تر مېنځ خمکه سيستان بولي او تر خراسان يې لوی او آباد ګڼي .
ټول افغانستان هېڅکله خراسان ته اليته خراسان مخکې تر اسلام او وروسته له اسلامه په وار وار د افغانستان برخه وه .
د افغانستان پاکتيا ( پکتيکا ) پښتونخوا ساکستان نوم او سورستان تاريخي نومونه دي ، دلته د ورځې خبري ليکم ،چې سبا دا هم تاريخ دی ، نن ۱۳۸۴ د وږي د مياشتې اوه وېشتم او د ۲۰۰۵ د سپتمبر اته لسمه ده په افغانستان او جرمني کښې ټاکنې سر ته ورسېدې دا دوه هېوادونه په دې برخه کښې يو له بله اړه نه لري همداسې راغلي دي ،
حامد کرزي ددغه حالاتو جمهور رييس وويل : د يوه افغان په توګه وياړم او د ازادۍ او خپلواکۍ احساس ،چې د ولسي جرګې د غړو په ټاکلو کښې برخه اخلم . "
په دغه ورځ يو فرانسي سر تېرې او پنځه حکومتي عسکر او پوليس ووژل شو . د ټاکنو په بهير کښې ځلوېښت زرو امريکايي او د نورو هېوادو عسکرو برخه درلوده ،چې امنيت تامين کړي د افغانستان اجير عسکر او پوليس هم دېرش زره و ، پنځه اويا زره پاکستاني عسکر د افغانستان او پاکستان سرحدونو کښې ولاړ و .
ددې دپاره ،چې طالبان له سرحدو راتېر نه شي ،دغه و د خپلواکۍ احساس . ټاکنو ډېرو خلکو ګډون نه و کړی تر هغو ښځې ډېرې تللې وې .
تاريخ کښې دا ډول ټاکنې نه يوازې په افغانستان کښې په نړۍ کښې ساری نه لري .
نن بل کلنتېن د امريکې مخکنی جمهور رييس هم مرکه وکړه هغه وويل : امريکا ته درې مصرفه عراق ، افغانستان او هغه ويجاړتيا جوړولو ،چې د کترينا توفان وراړولی و .
امريکا له نورو هېوادو پور اخلي د بوديجې کموالی هره ورځ مخ په وړاندې ځي .
يو تمدن ،چې زيږې لوړېږي بيا مخ په خوړ ځې دا خبره د امريکې دپاره پوهانو ليکلې ده د نړۍ لومړۍ سرچينه ،چې تاريخ بيانوي ويدي اوستا دی او د هغه ،چې پاتې وي او وروسته يو څه ټولې شوې ،چې د ګاتو په نامه لاړ شته .

هند کښې د مابهارتا په ټول او يو ډېر اوږد فلم ،چې کلونه چلېږي ورځخه جوړ شو . مونږ . چې د ويدا اوستا په کور کښې اوسېږو دغه ډول آثار د ځمکې له تل نه راباسو بيا يې سپړو او ګېډې ته يې اچوو . نه شو کولای دغه حالت بدل کړو . زه هره شنبه دغه د مها بهارتا فلم ګورم اتلس کاله کېږي ،چې دغه فلم دوام لري د مهابارتا کتاب په شل زرو پاڼو کښې ليکل شوی ،چې د هند دپاره يې يو ژور پراخ بنسټ جوړ کړې .

# بياهم پښتانه او لرغوني تاريخ

**د پيل خبرې:**

په روان مهال کښې دپښتنو ورځ داسې ده لکه، چې ټولې نړۍ ته ګرم شوي وي .دغه ناروا حالت د اروپا او امريکا دملګرو دولتونو په رسمي سياست، مطبوعاتو او دهوا په څپو کښې خرګند دی،خو دمسلمانانو او دنړۍ دوګړيو په زړونو کښې افغان پښتون د درناويو په څپو کښې روان ښکاري.

په دغو حالاتو کښې ما وغوښتل،چې دپښتنو يو سم تاريخ، چې تراوسه چالاس نه دی وړ وړی ، وليکم.

دلته( په امريکا کښې) آثار او کتابونه ډېرموندل کيږي.

په يو زر و درې سوه دري دېرش کال کښې ما دتجارت داطاقونو په عمومي رياست کښې د اقصاد په جريده کښې کار کاوه او استاد محمد ابراهيم صفا يې لوي رييس و . ده ماته وويل : "يوه بهرنۍ ژوندۍ ژبه دلوستلو ترحده زده کړه " . پر دې فکر ، چې دلوستلو حد بشپړ حد دی. پنځه لس کاله مې په امريکې کښې تېرکړل،خو ما امريکاييان ونه ليدل: شپه او ورځ په کور او کوڅنۍ حويلۍ کښې وم ، کتابونه راسره ول او زما انګليسي ژبه هماغه دلوستلو حد ته ورسېده. په داسې حال کښې، چې خبرې مې لږې کولی شوې.

دې دلوستلو حد دومره وکړل، چې پښتو ، فارسي او انګليسي تاريخونه مې کتل ، ار دو او جرمني کښې هم خبره همداسې وه. په بشپړ توګه مې حتی پښتو او فارسی هم نه وه زده مابه ګذاره کوله ،خو خبره مې آزموينې ته نه رسوله .

په پای کښې يوه پاي‌ناب ته ورسېدم، چې ډېر داعتبار وړکتابونه مې برابر کړل او د پيام افغان او ملي وحدت راډيو ګانو ته مې دغه شرح ورکړه. په امريکا کښې هغو، چې دغه

محلي راډیو اورېدله، زه یې وهڅولم، چې همدغه شرحې چاپ ته برابرې کړم . چې دادی اوس د لومړي ټوك له چاپ او خپراوي وروسته د افغان ملي تاریخ دوه یم ټوك هم د« ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز » چاپ ته چمتو کړی دی.

# پښتانه او لرغونی تاریخ

لومړی باید پر دې پوه شو، چې تاریخ څه شي دی ؟ تاریخ یو رخه ده. چې په کرښو کښل کېږي. ددې خبری مطلب دادی، چې په پخوانیو مهالونو کښې ساعت یا ګړۍ دلمر له یون سره په ځمکه یا دیوال څوکرښې ایستل کیدې. د بېلګې په توګه کله به ،چې د لمر سیوری پنځمې کرښې ته ورسید ، غرمه یا د ورځې نیمایې به وه یا به یې یوه ونه په نخښنه کړه، چې سیوری به یې نه ښکاریده نیمه ورځ به وه.

همدا ډول واتن په نیمه او بشپړه ورځ ،چې څومره مزل د ورځې وهل کېږي، داسې وېشل شوی: په لاره کښې به یې نخښې وکړې او دوی به مزل پیل کړ. دیوې، دوه او درې ورځومزلونه به یې په نخښنه کول ،چې هر چا به هغه لیدل، پوهېدل به، چې څومره لاره وهل شوې ده .

دا دمهال وېش په ګړۍ ، ورځ ، اونۍ ، میاشت او کال به وګورو. چې کله او چېرته شوی دی ؟

مهال، پېښې او ژبنته نور ډېرشیان دمهال په اوږدو کښې لیدل کېږي یا پیژندل کېږي او پېښېږي،چې همدا دتاریخ جوړېدل دي او د راتلونکي لپاره کارول کېږي.

یو ناروغ په دې توګه ناروغ شو او په دغو درملو روغ شو. دتاریخ فلسفه همداده، چې پخوانی ناسم کارونه پرېښودل شي او له سمو چارو کار واخستل شي.

تاریخ له هرې پوهې سره اړخ لګوي ، وګړي دځمکې پر سر ګټور شیان او هغه څه، چې زیانمن وي پېژني ،خو دوی د ګټورو شیانو پسې ګرځي. لکه مېوه او دمېوې لرونکیو ونو کرل او ډېرول.

# پښتانه څوك دي؟

پښتانه تر هغه ډېر لرغوني دي، چې تراوسه فکر کېدلو . انګلیسانو په خپله زمانه کښې هغه څه ويل ،چې پښتانه دخپل اصل او " آر " په برخه کښې دوه زړه کړي . دوی ويل،چې پښتانه بني اسراييل دي يا عرب دي. خو دا خبرې سمې نه وې.

په دې برخه کښې مؤرخ غبار د ۱۳۱۰ل کال دکابل په مجله کښې ليکلي: پښتانه داسې تاريخ لري ،چې ډېرې برخې يې روښانه نه دي، خو يوه ورځ به روښانه شي ". نن هغه ورځ راغلې، چې داکار وشي ".

تراوسه پورې دانګليس دنظامي او مسيحي مبليغينو ليکنې وې يا د هغو تاريخ پوهانو، چې عرب ول او هر څه يې په عربو ګڼول . دخلقت په برخه کښې خبره همداسې سمه ده،چې له بابا آدم څخه يې پيلوله بيايې په قومونو او قبيلو وېشله.

« کيومرث لومړی سړی و او په نړۍ کښې ديوانو پرخلکو حکومت کاوه. ده له ديوانو سره جګړه پېل کړه بيا جمشيد پاچاشو . بيا ضحاك ... او فرويدن اووه سوه کاله دا پاچاهي روانه وه، تور او سم راغلل جګړې يې وکړې . فرويدون . هوشنګ . ايرج . منوچهر ،....

داډول تاريخ ايران خپل بولي تراوسه همدغه نومونه ږدي. آيا دا قصې دي ؟ يا په خوب کښې يوه يوه خبره کوي ؟ همدغه ډول تاريخ افغانستان کښې هم ويل کېده.

فردوسي خپله شهنامه له همدغو مسايلو ډکه کړه تر ډېرو پورې همدغه تاريخ و.

آرکيالوجستانو او اروپايي پوهانو، چې ځمکې يې وکيندنې او څېړنې يې پيل کړې؛ دمدنيتونو د څېړنو له مخې جرمني تاريخ پوه شپنګلر داسې نتيجه بيان کړه، چې مدنيتونه زېږي، ځوانېږي زړيږي او مري .

انګليس تاريخپوه تاينبي دراتلونکي ژوند دتنظيم لپاره دتاريخ نوې فلسفه بيان کړه او هغه يې يو سبق وباله.

ددې لپاره، چې په تاريخ کښې څېړنه وشي، دوه مسلې په کښې ضروري دي: وخت او مواد.

یو ځوان کولای شي. چې تاریخ ولولي او ځان پرې پوه کړي او لازم مواد لکه کتاب. سکې . لوښي. مجسمې... وګوري. چې څنګه تېرو وګړو خپل احساس. عقیده او هڅوب په یوه رسم یا مجسمې کښې ښودل.
نامتو تاریخپو هان وايي. چې تاریخ پرته له آرکیالوجي مفهوم نه لري

آرکیالوجي یا دځمکې کیندنه او لرغوني آثار کتل:

تر ډېرې زمانې پورې کیسو. افسانو او خیالي خبرو پرتاریخ اغېزه درلوده .کله. چې ښارونه دځمکې له تل څخه را ووتل. فلزي آثار. تصویرونه او مجسمې ولیدل شوې: د بشرعقاید . مهارتونه . رنګونه او د نساجی چارې څر ګندې شوې او د پخواني تاریخ افسانوي بڼه واړول شوه.

مونږ. ویلي.چې یو نیم زرکاله دمسیح له میلاده دمخه آریایانو هجرتونه کړي. پادشاهان یې درلودل او په بلخ کښې یې یما پادشاه و . دسند په حوزه کښې. چې کوم مدنیت وموندل شو؛ نو څرګنده شوه. چې پخواهم هجرتونه شوي دي.

همدا ډول په بین النهرین (اوسنی عراق) سوریه او نورو ځایونو کښې. چې کوم مدنیتونه او ښارونه له کیندنو وروسته په ډاګه شوي.څرګنده شوې.چې دغه خلك عرب نه .بلکې آریایان ول. چې دسانسکریت ژبه یې کاروله. داسې نورې نخښې نښانې هم په کښې لیدل کېږي. چې په سنده کښې ترلاسه شوي دي. سنده همدغه آباسین دی. چې پیل یې دکابل له رود څخه شوی او دعربو په بحیره کښې تویېږي.

دغه سین ((اندوس)) او ((سنده)) د آباسین په نامه یادېږي. له کابل څخه دعربو تربحیرې پورې .چې آباسین هلته رسېږي. دسنده حوزه ده. هند او سنده دوه هېوادونه دي. چې تل دسنده او هند خبره سره تړلې ده .

اوس دسنده حوزه په درې هېوادونو ( افغانستان . پاکستان او هند وستان ) کښې ده. چې درې واړه دسنده حوزه او مدنیت دځان بولي او د ناسیونالزم پربنسټ نور له نظره غورځوي . په تېره بیا افغانستان.

په دې هرڅوك پوهېږي. چې اوبه له پاسه کښته ځي او افغانستان لوړدی. همداسې. چې اوبه کښته ځي. لرغوني قومونه له شمال ختیځ څخه په ځولارو جنوبي هندوستان. لویدیځ ایران . مدیترانې او اروپا ته تللي. دغه راز دآمودسیند شمال لویدیځ لورې

مرکزي آسیا. دکسپین غاړو ، داغستان، آذربایجان ،پخوانی ترکیې، شرقي اروپا ...رسیدلي دي.

داخلك دلرغوني زمانې د مدنیت او داوسني زمانې د مدنیت دمور او پلار په توګه شمېرل کېږي.

امریکاته د آسیا له شمال ختیځ څخه پر الاسکا پوربوتلي، مرکزي او جنوبي امریکا ته رسېدل، چې بیا د دوه یم ځل لپاره له اروپا څخه په ۱۴۹۲ ع کال کښې امریکا ته دیورپ له لوري تلي او په چل وهلو او رټلو یې دغه هېواد خپل کړ. خو اوس دامریکا آرکیالوجستان په مرکزي، جنوبي او شمالي امریکاکښې بوخت دي، هغه لرغوني مدنیتونه څېړي او اوس یې خپل بولي.

ویدا، اویستا ، زند و پازند دزردښت له کتابونو څخه دي. پښتنو مورخینو دپکت ،بخد ، بخدي او داسې څه نورې کلمې راواخستلې، چې دپښتون تاریخ پرې بیان کړي . په دې کښې شك نشته، چې باختر په اصل کښې پاکتر دی. بلخ، بکت او بخدي؛ بکتي دي. په عربي کښې " پ " توری نشته د "پ " پرځای هم " ب" کاروي " ګ " هم نشته؛ نو جاپان ته جابان پولیس ته بولیس وایي " ګل " ته " غل " ،پښتون ته ښتون او پکتیا ته بکتیا وایي .

دې خبرو شك پیداکړی دی. دوی ساکستان ته سجستان ، سکزي ته سجکزي وایي. عربو علم او ادب ته ډېرکار کړی . خو دا بېله موضوع ده.

## ضحاك، سهاك اوساك :

منهاج السراج په طبقات ناصري کښې دغور دپادشاهانو په تېرو پلرونوکښې ضحاك یادوی او دغور پادشاهان سوریان یا سوري بولي. ځیني وایي ضحاك، سهاك دی، چې دنیا یې نیولې وه، پراوږو یې ماران ول ،چې د انسان دسرماغزه یې ورکول. خلك په عذاب شول او" کاوه " پښن ورته پاځېد اودآهنګری " دم " یې وڅېرلو او رېی ( بیرغ) یې ترې جوړکړ. ضحاك ته پاځېدل او درفش کاو یاني همدادی، چې ایرانیان یې یادوي او داسلام تر راتلو پورې یې خوندي کړی و ،خو مسلمانانو ترلاسه کړ.

ددې ټولو افسانو اثبات ګران دی او دضحاك داوږو دمارانو منل هم سم نه دي. اوسنی علم یې نه شي منلی.یعنې افسانه پاتې شوه.

په امريکايي آثارو کښې رستم داستان ساك بولي . دغه منابع هخامنشيان هم ساك بولي. هخامنشي ديو سړي نوم نه. ديو قوم نوم دی.
کله. چې سلطان محمود په ۱۱۴۸ع کال کښې علي سمجوري په خراسان کښې ونيولو: له ده يې پوښتنه وکړه. چې په تاريخ پوهېږې ؟ علي سمجوري ووېل هو ! داسلام په تاريخ ؟ هو ! طبري دې لوستی ؟ شاهنامه دې لوستې ؟ هو!
سلطان محمود غزنوي ووېل : ستاکړه دتاريخ پوه نه دي.
په رښتيا ، چې تاريخ پوهنه سړي ته بصيرت ورکوي. پرته دتاريخ له پوهې دسړي کارونه پاخه نه وي.
اوس دتاريخ اهميت نور هم ډېر شوی دي. تاريخ او سياست ډېرې نژدې اړيکې لري او دملي شخصيت احساس له تاريخه موندل کېږي.

## پښتانه په تاريخ کښې :

ځينې خلکو داسې منلې وه، چې پښتانه ډېر وروسته په تاريخ کښې مطرح شوي،خو په حقيقت کښې ډېرمخکې او دبشرله مدنيت سره يو ځای دغه تاريخ لږ تر لږه شپږ زره کاله نيسي.

# درې مدنيته اوپښتانه

داخبره ډېره شوې چېرته، چې اوبه وي، هلته ژوند وي. په افغانستان کښې درې سيندونو (سندهـ ، هيرمند او آمو) درې مدنيته روزلي، چې د سور ساك او پاکت مدنيتونه ترې وتلي او درې واړه پښتانه نومونه دي .يعنې سوريان ، ساکان اوپاکتيان دی.
دپښتنو د تاريخ بيان په هره توګه شوي ، چا آريايان، چا اسرايليان ، چا عرب او چاڅه او څه ګڼلي دي.

# سور ، ساك ، پاکت

دغه درې نومونه د درې مدنيتونو، نومونه دي . سور، سندهـ ، آباسين، اندوس يوه خبره ده او په دې کښې دوه مهمې خبرې نغښتې دي: سور د لمر په معنا او اوبه د سين. يعنې لمر او اوبه دژوندانه دوه غوره عناصر دي، چې پرته له هغه ژوندون نه وي.
دغو خلکو د لمر ، مير او مهر، چې يوه معنا ده،بېلا بېلې نخښې يا رب النوع لرلې. چې خدای تعالی په هغو کښې خپل قدرت ښودلی و .

نه يواځې دپښتنو لومړني قومونه همدغه سور ، ساك اوپاكت دي.بلكې په اروپا ، امريكا ،كاناډا اواستراليا كښې زبرخلك همدا دوى دي.

دغه خبره اوس اروپايان او امريكايان كوي او كتابونه پرې ليكل شوي. دبلخ - بخد - بخدي تلفظ هماغه پاكتر - پكت او پاكتي دى.چې هيرودت هر يو په تفصيل يادكړي دي. مونږ به يې دلته وګورو

پخوا بهرنيو او كورنيو ليكوالو دغه خبره نه كوله. اوس يې كوي . پښتنو په دغه مدنيت كښې بېلابېلې خبرې خپلې كړې. چې له آره د دوى دي او په دې كښې شك او دوه زړه توب نه دى په كار.

دايران افغانستان ته ډېره سوداده. چې سنده ، بلخ هرات او سيستان په افغانستان كښې دي .كه څه هم انګليسانو د اميرشېرعليخان په پادشاهۍ ( ۱۸۶۰م - ۱۸۷۸ ع ) كښې دسيستان يوه برخه ايران ته وركړه.

مونږ پښتانه ډېرخه لرو، چې بايد بيخي يې له لاسه ورنه کړو !

دپښتنو پر تاريخ ويده او تت حقايق اوس ويښ او ښكاره شوي دي.

چا ويلي، چې پښتانه د سليمان له غره څخه را وتلي او ورو ورو يې د نورو ځمكې نيولي .خو بيا ډېر وروسته په تاريخ كښې مطرح شوي دي.

دا ټولې خبرې پرحقيقت ولاړې نه دي: زمونږ ځوانان، چې دليكلو او ويلو ليوال دي ډېرځه يې ليكلي. چې يو څه حقيقت هم په كښې نغښتي دى .خو علمي بنياد نه لري لكه اركيالوجي.

## بيټنى ، غرغښت ، سړبن ، كرلاڼى

په دې بنست، چې كومه ونه ( شجره ) او څانګې ښودل شوي. ډېرښه شوي دي، خو نن د انظر داسې بد ليداى شي. چې درې مدنيته او درې قومه اساس دي ، چې مدنيتونه يې سنده ، هيرمند او آمو ؛ سوري، ساكان او پاكت يا پاكيتان يې قومونه دي. باكتريان او باختريان هم دوى دي.

بې له كومه شكه نورقومونه هم له پښتنو سره يوځاى شوي، چې ژبه او كلتور يې يو شوي دي.

دلته د وينې او نژاد خبره مطرح نه ده،بلکې پښتو او پښتونولي مطرح ده .په ختيه پښتون، چې پښتو او پښتونولي ونه لري. پښتنې ټولنې ته خدمت او چوپړتيا ونه کړي، هغه ته پښتون نه ويل کېږي.

پښتانه هرڅوك، چې مېړانه ، عدالت او ښه تقوی ولري، هغه پښتون بولي. پښتون سړی همدغه صفات لري: که يې ونه لري، بيا پښتون نه دی .

دا ،چې وايي: پښتون نه کمونست کېږي...که کمونست شو؛ بيا کمونست دی، پښتون نه دی. په همدې توګه نور مثالونه هم کيدای شي.

به ملك حجم ندهم اين نكته؛ نظيری را    كه هركی كشته نشد از قبيله مانيست

هر پښتون ته. چې دغه کرښې په لاس ورځي؛ په دې دې ډاډه اوسي. چې داحقايق، مدارك اواسناد شته ، له هغو به په وروستيو کرښو کښې اړين ټکي را واخستل شي.

دمسعودي په خبره " لهراسپ په بلخ کښې و او ددوی پلازمېنه د بلخ دسين په غاړه وه، چې هماغه جيحون دی. ده يعنې لهراسپ کلي آباد کړل. له رعيت سره سم چلېدو او ټولو سره يې عدالت وکړ. خو بني اسراييلو سره ښه نه چلېدو او هغوی يې تيت او خواره کړل. په دې برخه کښې نکلونه ډېردي.

دبلخ ښکلی ښار لهراسب جوړ کړ او دده پاچاهي يو سلو شل کاله وه ".

داسب کورنۍ ډېره نامتو وه . داسي اتکل کېږي، چې يوسپزي ( يوسفزي) همدوی دی.

يشتاسب د لهراسب زوی دی .د يشتاسب دېرش کاله تېر شوي وه، چې زردښت ده ته راغی. زردښت دسپيتمان زوی و. ځينې وايي: دی د يورشف زوی و.

مسعودي وايي،چې "د زرښت کتاب اويستا عامو خلکو زمزمه ګڼلو".

سپين تمان زردښت له راتلونکيو حالاتو خبر ورکړ او دا ټول شتون په بلخ ، باختر،پاختر يا باکتر،پاکترکښې وې.

دغسې تاريخ او روايات کومه څرګنده نېټه نه لري .خو ځای يې څرګند دی، چې بلخ دی او نورې خبرې يې څرك څرك سمې دي . لکه. چې وايي کندهار دسنده په حوزه کښې دی.

ګرديزي ، طبري . يعقوبي . مسعودي د ابن حوقل صوره الارض او په نوروکتابونو کښې، چې تاريخ او جغرافيا يې بيانوي، يو لړ حقايق لري، چې چاڼ کول غواړي،خو هغه تاريخونه، چې سنه لري، مستند دي.

خوشحال وايي :

پـه داسـپينه ږيره، چې زه پښتـون شـوم
خداى مې مه کړه بيا مغل وايم په خيره
زه پـــه نـــنگ دپښتانـــه يـــم
دوى نيـــــولي مغـــــلان

همدا ډول خوشحال په خپلې وصيت نامې کښې ليکلي،چې: ستاسو ورور هغه دي، چې دننگ په ميدان کښې درسره ولاړ وي.

## عقلمند انسان :

دآسيا په جنوب ختيځ کښې، چې افغانستان په کښې راځي، عقلمن انسان ژوند کاوه، چې هغو ته Homo sapiens وايي.

لمريو له هغو مظاهرو څخه دى، چې انسان يې تفکرته واړولو. دشپې په تياروکښې څه نه ليدل کيدل، ساړه به ول او خوځندي به کرځيدل.همدا، چې لمر به راوخوت او رڼا به شوه: خوځندي به په سوړو ننوتل او ژوند به د تودوخې سره مخ شو....

انسان په لمرکښې ډېر برکات ليدل او د ل. - مير - مهر_سور ، سورج ، سوريا په نومونو يې ياد کړى دى.

سور ، سوري Homo sapiens نومونه وموندل او د اشارو خبرې يې پريښودې،خو انسان تر اوسه دخبرو په وخت کښې لاسونه ، پښې سر ، ستر کې خوځوي.همداسې دشپې له مخې خوب کوي، دغضب په مهال غاښونه چيچي اوچته غږونه وباسي.

دبشراوتولو وګړو ګډون : وګړي په لرغونو مهالونو کښې د پوهې، مهندسې ،حساب او نورو مهارتونو له مخې همداسې ول لکه، چې اوس دي.

اسلامي تاريخونه له هجرته مخکې نېټه نه لري؛ د پيغمبر حضرت محمد له هجرته وروسته،چې له مکې څخه مدينې ته تر سره شوى، هجري سنه په تاريخ کښې لاسته راغلې او تاريخونه له دغه مهاله سنه لري.

په عيسوي تاريخونو کښې دعسى مسيح له زېږيدو وړاندې او وروسته تاريخ اخستل شوى او هغه پيښې، چې حساب لري يعنې کلونه يې څرګند ول هغه يې

مخکې له میلاده BC بللي .له میلاده وروسته یې AD تاکلي او اټکلونه یې هم په تاریخ کښې راوستي، چې په AD- BC یې وېشلي دي.
ځینې مورخین په دې کښې شکمن دي، چې همدغه میلاد یا زیږیدنه په همدغه نېټه ده او که نه ده ؟ خو عیسویانو منلې، چې همدغه نېټه سمه ده .
په اسلامي تاریخو کښې دهجرت تاریخ په ټوله معنا سمه دی، چې په کښې لمریز او سپوږمیز (ل. هـ . هـ .ق)دوه ډوله سنه لیکل شوې ده.
دا . چې دپښتنو تاریخ درې زره کاله مخکې له میلاده یا دېرې؛ ښایي تردې لا مخکې وي. هرودت وایي: دساکو دودانیو کنډوالې مالیدلي دي ،چې د اټکل نژدې والی حقیقت ته یوسند کیدای شي.

## دساکو دشهزادګۍ طلایي پژه (مجسمه)

دپښتنو لپاره دا خبر ( News ) خواشینونکی دی، چې اوس هم په ډېرو بدمرغیو اخته دي.
د ۲۰۰۲ ع کال دجنورۍ – فبرورۍ د آرکیالوجي د مجلې ګڼې دغه خبر له یوه تصویره سره چاپ کړی دی .
؛دسنده په حوزه کښې مارکیټ ، کانالیزاسیون ، جراحي ، اوبدل ، رنګ جوړول ، خرمن ،پخې خښتې، پاخه کورونه، ښوونځي او اخلاقي شتون د هغه مهال مدنیت و ،چې څلور زره کاله وروسته په غربي نړۍ کښې څرګند شوي دي . هماغه مدنیت هغه مهال پوخ و.
اروپایانو چې خپل کولتور ( هځوب ) په چا منلی: د هغوی تجارت، اقتصاد او صنایع هم منل ش..ي او لویدلیو خلکو ور سره خپلې ضایع له لاسه ورکړې او نسلاً ددوی لاسپو څي شوي دي.
د بېلګې په تو که جاپان غربي صنعت او کولتور دواړه و منل: داسې حالات پرې راغلل، چې اتوم بم پرې ولوېدلو او خپل بشپړ استقلال یې له لاسه ورکړ .
دا قصه اوس هم روانه ده. په تاریخ کښې ډېرې نیمګړتیاوې شته او په لاندې ډول شمېرل کېږي:

۱. د سنده مدنيت څوك ۴۰۰۰ کاله اوځوك ۳۰۰۰ کاله له ميلاده مخکې ښيي . په دې مينځ کښې دېرحالات نه شي راتلای يا نه دي راغلي.
۲. ويل شوي، چې د آرمېنا او آذربايجان ترمينځه په قره باغ کښې پښتانه اوسېدل،خو له دغه ځای څخه وتلي او نادرافشار هم لېږدولي دي.
تاريخ پوهان نه وايي، چې دا چېرته تللي دي،خو افغانان يې پوهولي، چې قره باغ په شمالي او غزني کښې هم شته او دسيمو نومونه دي.
دتاريخ منتظم ناصري له مخې ، افغانان همدغه دي، چې پخوا دلته اوسېدل. يعنې په اصلي قره باغ کښې، چې اوس پر همدې سيمې دآرمېنا او آذربايجان شخړه روانه ده.
تاسي که دآرمېنا نوم په دايره المعارفو کښې وګورئ : آرمېنا يعنې آر- مېنه ده. آر دسپين ، اصيل ، اصل معنا لري .لکه آر په آريانا کښې.
مېنه د ځای او سيمې په معنا دی. لکه پروان مېنه ، شېرشاه مېنه!
د ۲۰۰۰ ع کال په اکتوبر کښې ديوې شهزادګۍ مجسمه په افغانستان کښې وموندل شوه. دغه مجسمه دطلاتاج او نورې ګاڼې لري. څرنګه، چې غله دطالبانو له سختو مقرراتو ( لاس غوڅېدلو) څخه وېرېدل :نو دکويټې دقاچاق وړونکيو په مرسته، چې پاکستاني چارواکو هم غوښتل، مجسمه کوټې ته ورسېده.
ايران وويل، چې دا د ايران د هخامنشانو يوه شهزادګۍ ده ،چې( BC۴۸۶-۴۶۵ يا له ميلاده مخکې د داريوش د زمانې پورې اړه لري . ايران يو آژانس ته، چې نړيوال پرس نومېږي ويلي، چې دغه مجسمه ۲۶۰۰ کاله زړه ده ( خو دادخبري آژانس کارنه دی، چې مهال وټاکي).
طالبانو ويلي: مونږ دا په افغانستان کښې نيولې او مجرمين مو مجازات کړي او مجسمه دافغانستان مال دی. وايي ددې شهزادګۍ نوم " ساکه " دی. په پای کښې مجسمه دکراچۍ موزيم ته ورسېده دطالبانو سياست دا و، چې مجسمه بو يه عام محصر کښې نه وي.

# پښتانه او هيرودت ۴۹۰-۴۳۵ ق م

هيروتس دتاريخ پلار دی: ځکه دده تاريخ لومړنی تاريخ دی. چې داعتبار وړ دی. هيرودت په کښې واقعيت د واقعيت په څېر بيانوي او روايت دروايت په څېر

که دده معلومات او اطلاعات دپښتنو په باب نه وای، هره حواله او هره خبره به مو هم نه وه.

که څه هم هيرودت پښتانه اوساك يوځای نه بيانوي ،خو موږ پوهېږو. چې پښتانه ساك دي او دهيرمند حوزه ددوی ده( ساکستان، سيستان او سجستان).

## پښتانه دمدنيتونو بومي خلك :

مخکې مو وويل افغانستان ددريو مدنيتونو ټاټوبی دی او همدغه درې مدنيتونه دبشرلرغوني مدنيتونه دي، چې هماغه ساك ،سور او پاکت دي.

اوس څوك سم په دې خبره پوه نه دي، چې دغه مدنيتونه دنړۍ لويې برخې ته هم رسيدلي دي.

په ۴۵۰ق.م کال (د مسيح له ميلاده دمخه) هيرودت دساکانو او پاکتيانو په برخه کښې په زړه پورې معلومات ورکړي دي او د سور ذکرهم لري.

داکوم اصول، چې پښتونولي نومول کېږي، دهيرودت په کتاب دجرګې، پاکلمنی ،سيمه ياپناه ورکول ياد شوي دي. په همدغه کتاب کښې ليدلی شو، چې ديو قوم څوتنه ځوانان بل قوم ته پناه يا سيمه وړي: لومړنی قوم هغه غواړي اودا بل يې نه ورکوي او پره دې شخړې يا جګړه پيل شي.

کوم قوم، چې اصول ، جزايي قانون او د انسان دکرامت ساتلو مقررات لري: نو دغه اصول او قانون دټولنې دغړيو پت او امنيت خوندي کوي . پښتانه دې خبرې ته زښته ډېره پاملرنه کوي:ځکه.چې دتاريخ په اوږدو کښې تکول شوي او دا چار پرې روان هم دی.

کله، چې ساکان ول، سکاييه او ساکستان هم و. په پای کښې سيستان کورش او داريوش ياهخامنشي يانو په ۵۴۵-۳۳۳ق .م کال کښې ونيولو، سکندر اويونانيان په ۳۳۰-۲۵۰ق.م کال کښې راغلل. ساسانيانو له پيتليانو سره په ديارلسمه ميلادي پيړۍ کښې نښتې پيل کړې بيا مغل او صفويان پرې اخته شول. په نولسمه پيړۍ کښې

انګلیستان په شلمه پیړۍ کښې شوروبان . په یویشتمې پیړۍ کښې امریکایان او ملګري یې یرغلګر شول دغه دري زره کاله، چې وکتل شي. ډېره لږه موده ددوی دکوارۍ ، سولې ،کار او آبادۍ لپاره پاتې کېږي( اټکلي ینځه پېړۍ جګړه شوې ده).
هر هغه څوك، چې دنیاو او انصاف تله واخلي؛ نو په کار ده. چې دپښتون دتاریخ . کولتور او اصولو مطالعه وکړي . وګوري، چې په ربښتینو کښې پښتانه دمدنیت بومي خلك دي : خکه خوشحال خان خټك خپله پرېکړه داسې اعلانوي .

پښتانه که بل څه فکر کانا پوه دي
بېله توري خلاصي نشته په بل کار

دتورې مادي تعبیر هماغه داوسپنې جنګي لاس ویستی دی ،خو معنوي تعبي رېې شجاعت او زړورتیا ده. که څوك روښانه او سپینې خبرې وکړي هم ویل کېږ ي توره یې وکړه.

## توره کول :

که وپوښتل شي ،چې تاڅه توره کړې ده ؟ یوځواب یې دادی،چې ما تل دخپل لاس ګټه خوړلې ده او د بل چا مې نه ده خوړلې یا دغه سړي جګړه نه ده کړې : خو همدا، چې برخپل مټ یې تکیه کړې، په توریالیو کښې شمېرل کېږي.
پښتو ژبه، پښتانه او پښتونولي دمخالفینو په غوښتنه ،خبرو او سپك کتلو داسې برېښول شوي، چې پخپله پښتانه یې هم زړه نا زړه کړي دي.

## مدنیت Civilization او وګړي :

مونږ دري مدنیته یادکړل،خو اروپایانو منلې وه،چې دمدنیت زانګو بین النهرین او هغه سیمه ده. چې داروپا او آسیا ترمینځ پرته ده. چې سوریه، عراق، اردن، ترکیه ، یونان په کښې راځي.
اوس دغه نظریه پیاوړې ده. چې تر دې دمخه دوی د آباسین او آمو ترمنځ سیمه کښې اوسیدل اوبیا دلته راغلي ،چې له ترکمنستان څخه نیولې تر مدیترانې پورې دغه قومونه پراته ول:
۱- لودیا ( لودیان )
۲ - متاني ( یومدنیت )
۳- کاسیان ( قوم اومدنیت )

۴- اور ( مدنیت او همدغ چې مونږ اور بولو)
۵- سور ( سوریان )
۶- شیرواني ( قوم دخزر یاکسیین پرغاړو) جدون (قوم)
۷- جاروتلي (قوم)
۸- لکزی قوم ، لویان ( مدنیت اوقوم)

وګورئ په افغانستان کښې ساك هلته او دلته ، کاسیان هلته او دلته، سوریان – هلته او دلته ، لودیان هلته او دلته؛ همداسې متاني، الکوزي- لکزي، کامیرخېل دلته کامیرین ، هلته لوګریان دلته لاګرین هلته( ارو پاکښې ) ساکیستا ، یورپ کښې ساکستان دلته، سکاتلند دساکو ځمکه ، آرمېنا لغوي معنا یې دسپینوخلکو مېنه، دآریایانومېنه او په آرمېناکښې دپاکتیا ولایت شتون ، داټولې خبرې تصادفي نه دي، بلکې څېړنې ښیي، چې داسې شواهد شته، یعنې دغو خلکوتر اوسه خپلونه په هماغه څېرساتلي دي، په پښتنو کښې کاسیان اوس موجود دي؛ هماغه، چې بابل کښې یې شپږ سوه کاله حکومت کړی و.

وګورئ تاریخي شواهد څرګندوي،چې بابل کاسیانو ونیو، دوی (کاسیان) آریایایي ول او ژبه یې دسانسکریت له ژبو څخه یوه ژبه وه.

همدا راز متاني او ددوی مدنیت په بین النهرین کښې و او آریایان ول، ژبه یې دسانسکریت له ژبو څخه پښتو ژبه وه.همداسې د ساکانو ،سوریانو او نورو هم همدا حال و.

بومثال : زمونږ تاریخپوهانو لیکلي، چې غلزي" دبي بي متو له نامه سره په تړاو کښې متی مل شوي دي، یو شهزاده، چې حسین نومیدلو له خپل کوره مرور دکیسي غره ته راغی او هلته یې متو سره اړیکې پیدا شوې او دغه قوم له هغو دی.

باسې فکر وکړئ په ۱۱۱۲ ع کښې راغی، اوس یې اولاد یو میلیون ته وخوت.دا دوره. خو سلامي ده حال دا ،چې دمتاني خبره یونیم زرکاله له میلاده مخکې یاده شوې، چې دمدننت خاوندان یې بولي

تاریخ پوهانو د. هم ویلي ، چې دهغوی مدنیت دروم اویونان د ډباو له کبله له منځه لاړ او دوی دافغانستان جنوبي برخوته لاړل.

دغه غلطي او ناروا زمونږ ډېرو تاريخپوهانو کړې، چې نه تاريخ دی او نه پوهه. دا يو مثال دی شل نورې خبرې هم لري.
پښتانه بويه پر واقعيتو پوه شي او خپل مدنيتونه د بوميانو په توګه يعنې دمدنيتو داصلي خلکو په ځېر تنظيم کړي.
پښتونولي دقوانينو په حساب او د ډيموکراسۍ په حساب او تردغو، چې اوس دمدنيت چغې وهي دنړۍ لرغونی قانون دی. که دهمواربې قوانين له پښتونولۍ سره کېښودل شي؛ وبه ليدل شي، چې همدا يې بنياد دی.
پښتونولي دوه برخې لري : ټولنيز اصول او قوانين ( جزايي، تجارتي او دجزايو برخه ) چې ټول مکتوب شوي نه دي ،خو اوس په احمدزي کوچيانو او نورو قومونوکښې مرکچيان او جرګه مارشته چې که کوم ځوان دې ته ملا وتړي :نو هغه دې را ټول کړي او و دې ليکل شي.
په تاريخونو کښې ځرګنده ده، چې وګړي دښې ځمکې او اوبو په لټه کښې هرلوري ته لېږديدلي دي.

# سور – ساك اوپاکت

دغه درې نومونه په لرغوني تاریخ کښې اوڅار دي او ټول پښتانه قومونه په دوی پورې تړل شوي دي. دوی درې مدنیتونه دلته په افغانستان کښې جوړ کړي دي. چې سند، ساکستان اوپاکت نومیږي.

اوس به ئنو یوڅو متنونه وګورو :

لومړی متن : World book

Pre historic hunting people lived in what is now Afghanistan early as ۱۰۰،۰۰۰ years ago.
About ۴۰۰۰ to ۲۰۰۰ BC a Number of these villages had grown in to small cities ۱۹۹۹.

له لرغوني تاریخ څخه څرګندیږي: هلته،چې اوس افغانستان دی، سل زره کاله دمخه پر ښکار پوه خلك اوسېدل او له ۴۰۰۰ تر ۲۰۰۰کاله مخکې له میلاده له یو لړ کلیو واړه ښارونه جوړشول.

دوه یم متن : یو زرو پنځه سوه کاله مخکې له میلاده له مرکزي آسیا څخه آریایان افغانستان ته راغلل.

اوس دا بحث روان دی، چې تردوی مخکې آریایانو دسور مدنیت په سنده کښې جوړ کړی و. په دې معنا، چې د ۴۰۰۰- او یونیم زرکلونو تر مینځ ډېر توپیر دی.

له ژبې او نورو حالاتو څخه یې څرګندیږي، چې دغه یونیم زر کاله له میلاده د مخه به سم نه وي رارسیدلي ،خو لومړني آریایان نه دي، پخواهم ول.

غوریان او سوریان په سوریه کښې هم شته،خو دا سوریان په اصل کښې عرب نه دي .عربو خپله ژبه او کولتور عربي هېوادونو ته راوستي دي.

دسورکلمه ډېرې معنا وې لري: سورلمر ، سور - رنګ ، سور – تودوخه ، سور – ګل، سور_جدي.

سور شو_ عصبي شو یا مخ یې سور شو، سور ښکاریدل یعنې جدي ښکاریدل.

سوریا - دلمر رب النوع نومیږي، چې دعاجو مجسمه یې دکابل په خیرخانه کښې موندل شوې ده.

## لمر او اور :

سوريانو د رڼا ، حرارت او د ژوند د سرچينې په توکه دلمر پلټنه کړې ده. اور هم تودخه او رڼا لري او هرڅه. چې ناپاك وي پاكوي يې يا يې له مينځه وړي.
"سور " او " اور" هم په لوي مدنيت بدل شوي دي. ددوی ډېرآثار پاتې دي. چې پخپله برخه کښې په زړه پورې مضمون دی.
پښتانه نه يواځې لرغوني دي؛ درې مدنيتونه. چې دسور- ساك او پاكت دي هم ددوی د فکر او عقل محصول دي، چې دنړۍ له عجايبو څخه ګڼل کيږي.
سوريا – دلمر رب النوع ، سورمانو – دسور مشر ، اورمانو ـ د اور منونکی يا مشر نومول شوي دي. دسور ، اور ، متاني ، ساکانو ، کاسيانو او لويانو په زرهاو آثار ، چې ددوی معماري ، حساب ، نقاشي، مجسمه جوړول ، وسله اوکالي ترې څرګندېږي، ددوي مدنيتونه دي،چې د نه پالنې، طبيعي آفاتو او جګړو پر لامل يا لـه مينځـه تللي او يا هم لټول شوي نه دي.
کوچيانيانو ( کوشانيانو ) او يفتليانو د يونانيانو سره د باكتر ، ګريكو بوديك او داسې نور ګډ مدنيتونه جوړکړي ،چې د حساب وړ نوښت ګڼل کيږي.
نن تبليغاتو دسياسي ځان غوښتنې تاريخ دځينو ځوانانو په ذهن کښې ګډوډ کړی دی ،خو سمېدلای هم شي؛ همدا په هر غوړ کښې آشنانومونه،چې مثالونه يې ورکړشوي او هر يو يې په تاريخ کښې يو مدرك لري. وپېژندل شي.
لودي ، لوديا ، لوديانه، چې کرزوس يې اتلس پېړۍ مخکې له ميلاده پ‌دشاه و. همدغه اوسني لوديان دي ،چې بهلول لودي، سکندر لودي ...يې مخکښان دي يا شېرشاه سوري، اسلام شاه سوري، سور ، ساك ، پاكت ، كاسي ، متاني، لودي او لويان، چې له ميلاده مخکې ۳۰۰۰ کاله وړاندې يې واکمنۍ چلولي دي يا دسوري مدينتونه يې په بين النهرين ( عراق ، سوريه او ترکيه ) کښې درلودل،چې آثار يې هلته خوندي دي او دلته اوس په پښتونخوا او افغانستان کښې هماغه سوريان،لوديان،كاسيان ،ساك ژوند کوي .
دا ،چې غليمانو لنډه کړی او وايي ، چې پښتانه دسليمان له غره راوتلي او شاوخوا ځايونه يې نيولي ، مونږ ته لمر په دوه ګوتو پټوي او يو شمېر بې پښتو پښتانه يې له وېرې حقايق ويلای نه شي، چې دا نه پوهه ده او نه غښتلتوب دی.

آرنولد تاينبي Arnold Toyn bee دعمر په وروستيو کلونو کښې يو څلنده نظر دنړۍ پر تاريخ وړاندې کړی، چې په ۱۹۷۶ ع کال کښې خپور شوی،خو کال وروسته دی هم مړشو.

تاينبي په نړۍ کښې په تاريخپوه او فيلسوف مشهور و . دده لوی او مشهور کتاب دتاريخ نوې فلسفه "تومېږي. هغو، چې تاريخ فلسفه نه ګڼله؛ ده ثابته کړه. چې تاريخ فلسفه لري.

تر يوه مهاله اروپايانو پر دې خبرې نه کولې، چې له آسيا څخه کومو مدنيتونو سرپورته کړی؛ څکه لويديځ له څه خبرنه و. اوس يې هم يو شمېر پرخپل مدنيت وياړي: خوکله. چې دوی زړو مدنيتونو ته ګوري،پوهيږي، چې دبشرنوی مدنيت دهماغو زړو مدنيتونو په بنسټونو ولاړ دی.

په همدې ترڅ کښې دپښتنو مدنيتونه هم څرګند شول.

په ۱۷۵۲ ع کال کښې انګليستان داحمدشاه بابا هڅې او کړنې هم وليدلې .

کله، چې په ۱۷۲۲ ع کال محمود افغان دميرويس نيکه زوی،صفوي امپراتوري و غورځوله؛ نو دا مهال په ايران کښې هالنديانو ، انګريزانو او فرانسويانو فعال حضور درلود. ځينې دتجارت په نامه راغلي وه او ځينې مسيحي مبلغين ول. خو تر څنګه يې ټولو داستخباراتو کار هم کاوه او ډېرکتابونه يې ليکلي و ه .که همدغه کتابونه نه وای. مونږ به دهوتکو په برخه کښې هم معلومات نه درلودل.

دغه راز مونږ آزادشاه افغان اوسرخاني خان پادشاه، چې په همدې اتلسمه پېړۍ‌کښې په آذربايجان او داغستان کښې پادشاهان ول، نه پېژندل او اوس مو وپېژندل،چې دا ډېره دخواشينۍ خبره ده .

دپښتانه په تاريخ کښې دغسې ډېر تياره مهالونه شته، چې مونږ ترې خبرنه يو.

دغه مهال لويديځ، ختيځ ته کتل، چې څنګه هغه وخوري ؟ انګريزانو تاجران او جنګيالي خپل کړل او بېلا بېلې لارې يې ونيولې؛ وژل ، نفاق اچول ، اخلاق خرابول ، رشوت، مواجب ،تنخواه ګانې . منصبونه... يې د کار وړ مواد شول.

دلويديځ ته روسيه دغه مهال يو خنډ و. خو روسيې دلويديځ ټول کولتور ومنلو او ژبه يې هم فرانسوي شوه. په ۱۶۹۴ع کال کښې د روس لوی پتر خپل هېواد له اروپا سره برابر و ګڼلو.

جاپان هم اروپايي تکنالوجي او ساینس ومنلو .خو څه جاپاني کولتور يې وساته یا کله هاخوا کله دا خوا کېدلو.

په اتلسمه پیړۍ کښې د ایران صفوي امپراتوري لـه منځه وتلې وه،خو دوه اسلامي امپراتورۍ ( لوی افغانستان اوعثماني ترکیه) دانګریزانو په مخه کښې پاتې وې،چې دیوې پیړۍ په اوږدوکښې يې دواړه اسلامي هېوادونه د خپلو لاسپوڅو په ملاتړ له پښو وغورځولې.

کله، چې تاریخ ته وکتل شي هر تېری کوونکی لـه پښتنو سره اخته وي. دافغانستان په جنوب او ختیځ کښې انګلیسان ، روسان ، مغلان ... امریکایان او ملګري يې دالقاعده او طالبانو په نامه په هماغو سیموکښې عملیات کوي.

په سیمه کښې له لرغونو مهالونو څخه یرغلګرو یواځې پښتانه پرله پسې ټکولي دي. لکه هندوستان غلی شو. خو پښتانه تر هغې ،چې انګلیسان وتل ورسره په جګړه کښې اخته ول.

لـه دغې نښتې وروسته دافغانستان امپراتوري ړنګه شوه او افغانستان بیا پیاوړی اسلامي هېواد جوړنه شو . دافغانستان دا ویاړ بس دی، چې له انګریزانو سره په خپلې افغان وسلې جنګېدلي دي .

دغه له ویاړه ډکه خبره، چې هر څومره پورته کوم دا زمونږ دغرب په کوډو بند شویو یا سحرشویو خلکو زړو تـه نـه لوېږي او نـه لـه ځانـه دا سـوال کـوي،چې هغـه صنایع مـو څـه شوې ؟

## نړيز كول او نړيوال كول :

نړيزكول Globalization په دغه معنا كښې ډېرې هڅې شوي،چې غوره بېلګه يې نړيوال كول Internationalism دي .

هرڅوك، چې وزارت ومومي بيا دټولې نړۍ نيولو ته ملا و تړي .

فراعنه و هم داخيال درلود؛ تر هغو دمخه سوريايانو، چې له شمالي هند څخه مديترانې او مصر ته ورسيدل.

دعباسي خلافت په مهال كښې له افغانستان څخه تر مصر او اسپانيې پورې يو دولت و اوس هم مسلمانان دنړۍ په ډېره برخه كښې پراته دي ،خو داسلام په مقابل كښې غربي مدنيت ولاړ دی.

اسلام تفصيلي او معنوي مرام لري ،خو دغرب مدنيت، چې اوس (۲۰۰۲ع) يې امريكا لارښوونه كوي: آزاد تجارت او دغرب ګډ كولتورونه لري، چې هماغه تبليغوي او ډېرې پيسې ورسره وېشي چې خلك لويديځ كولتور ته راواوړي. كله، چې لويديځ كولتور ته واوښتل، پخپله بيا لويدځ اقتصاد ته لاره خلاصه شي او دلويديځ حاكميت رامنځته شي .په همدې توګه د تكنالوژۍ له لارې عمل كوي.يعنې علم هم زيانمن واقع شي.

په كال ۱۷۴۷ع كښې دلوی افغانستان امپراتوري جوړه شوه. په همدې مهال انګليسان او فرانسويان هندوستان ته دتجارت په نامه راورسېدل . دغه مهال دهند امپراتوري مغلي،خو اسلامي وه.

كله، چې انګليستان د دې اسلامي امپراتورۍ دغورځولو په فكر كښې و ،ذهند مرهټه ځواكونه په جنوبي هند كښې راغونډ شول . په هند كښې مسلمان او هندو پوه نه شول، چې اصلي آفت انګليس دی .

همدا ډول احمدشاه بابا دافغانستان دپښتنو په فكر كښې و، چې په شمالي هند ، پنجاب، سنده او بلوچستان كښې ميشته ول، يو والی يې ضروري و ګڼل شو.

په ۱۸۹۷ ع كال كښې، چې يو سلو پنځوس كاله شي، انګليسانو هندوستان دخپلې امپراتورۍ برخه اعلان كړه. دغه مهال په افغانستان كښې امير عبدالرحمن خان پادشاه و.

په دې ټوله موده كښې تاريخ دا سوال مونږ ته ځواب كړی‌نه دی، چې دغور امپراتوري، چې له حضرت فيروز كوه څخه اداره كېدله په كومو علمي او اقتصادي دلايلو دغه لويه

امپراتوري،چې له کسپینه تر جنوبي هند پورې غځېدلې وه ،څنګه له مینځه لاړه او هغه ښکلي آباد ښارونه او یو زر جنګي کلاګانې څنګه او په کوم مهارت او له کومې اقتصادي منبع جوړ شوي وه؟

دغور ودانۍ دنړۍ له عجایبو څخه وې، چې منهاج السراج په خپل تاریخ "طبقات ناصري" کښې ترې یادونه کړې. تاسې فرض کړئ،چې که دا عمارتونه تراوسه وای؛ بیابه څه ول ؟ بې له شکه به دنړۍ له عجایبو څخه ګڼل کیدل. لکه، چې دجام څلی په نړۍ کښې ددنګوالي له مخې دوه یم څلی دی. په غور کښې عجایب ول او زر جنګي کلاوې یې درلودې.

عباس بن شیث بن محمد سوري عالم او نجوم پوه سړی و . په داسې حال کښې، چې دی یو پادشاه و ،خو په هندسه او ریاضي کښې یې ډېره ښه پوه لرله. په غور کښې یې پریوې غونډۍ داسې یوه ماڼۍ جوړه کړې وه، چې له ټول ښارڅخه برېښېده.

دغې ماڼۍ دولس برجه درلودل او هر برج دېرش کړکۍ درلودلې . لمر هره ورځ له یوې یوې کړکۍ برج ته راننوتلو . کال دولس میاشتې و او هره میاشت دېرش یا یو دېرش یا نهه ویشت ورځې وه.

وایي دغه پادشاه غښتلی او فعال سړی وه چې ستړیایي نه درلوده .دده شخصیت له دې ماڼۍ، مهندسۍ، ریاضي پوهنې او مهارت څخه څرګندېږي . په کارده، چې بیا دبرج کلمه دمیاشتې لپاره وکار ول شي.لکه دثور برج، غبرګولي برح او په تیره بیا پارسي کښې برج ثور ، برج حمل....

غوریان سوریان دي او دوی په آسیا کښې لویه امپراتوري درلوده ، موږ او غښتلی هېواد و . دغور وسله مشهوره او نامي وه. کوم ښار ، چې په غور کښې صنعتي وهغه آهنګران نومیدلو. تمران ، مندېش او تولك یې ښکلي ښارونه ول او پلاز مېنه یې حضرت فیروز کوه نومیدله .

له دې پورته تفصیلې څخه مطلب دا شو ،چې نړیز کول ، نړیوال کول او ډیموکراسي کول تاریخي پر له پسې زیانمنې تېروتنې دي ،چې د ختیځ د پراختیایي ودې مخه پرې نیول کیږي .

## ساك - ساکان :

ساکان دومره لوی قوم دی، چې شپږ اووه زره کاله دمخه ټول ذکر په تاریخونو کښې د دوی دی . په پارسي او عربي کتابونو کښې سکایي او سکزي راغلي. په تاریخي اتلسونو کښې ساك اوساکاز Sokas لیکل شوي دي. لومړی دوی په مرکزي آسیا کښې ول بیا دوی له شمالي افغانستان څخه دافغانستان جنوب ته تلي او هلته یې لوی دولت جوړکړی، چې بیاشمالي هند او وروسته دهند جنوب ته تللي دي.

دساکو تومن( هېواد ) ته ځینې منابع سکایه او خلکو ته سکایان وایي . خو تاریخي اتلسونه او غربي منابع هغه ساکستان بولي. چې عرب یې سجستان، پارسیان یې سیستان او ایرانیان یې هم سیستان بولي .

سیستان دانګلیس په حکمیت کښې هغه مهال ومنل شو،چې یوه برخه یې په ۱۸۷۶ ع کال کښې د امیر شېرعلیخان پر مهال، ایران ته ورکړل شوه ،خو زرنج ، نادعلي او مهم نومیالي ځایونه یې افغانستان کښې پاتې شول. بیا په وروستیو کلونو کښې دایران په سیستان کښې دافغانستان سرحد ته نژدې دځمکې په تل کښې یو ښار وموندل شو، چې هغه ته شارسوخته وایي .

دا دیوه ځانګړي مدنیت نخښه ده، چې دسند ه مدنیت ته ورته مدنیت دی،چې په کښې فلز کاري ، رنګول ، اوبدل وسله جوړول . دکار شیان......

دنړۍ ټول تاریخپوهان په دې خبره متفق دي، چې سیستان په اصل کښې ساکستان دي او دساکو یا سکزیانو هېواد و.

<u>ساك . سکا . سکایي . سکیتین . ساکزی . سکزی . سکاییه . ساکستان ، سیستان . سجستا ن .</u>

کوم داستان، چې هیرودت بیانوي له هغې دسکایانو او " ماد" ګډ کړه ځلېږي. په دغه داستان کښې څوخبرې لیدل، چې دوه نیم زره کاله دمخه دي.

"ماد " قوم، چې نظام یې سم نه و: یو مشر په دوی کښې څرګند شو. چې خپل قوم ته یې نظام ویخښلو . دغه سړی " دیا اکو " نومیدلو . "ماد" او "ساك "خوا په خوا اوسیدل.خو د"ماد" او"سکا" ترمنځ شخړه وشوه. یو شمېر سکایي ځوانانو "ماد" ته پناه یا سیمه یو وړه او "ماد" قوم دوي ومنل او دوی نه یې وغوښتل، چې ددوی بچوته سکایي ژبه او دغشو ویشتل وښیي .

کله، چې ساکو یا سکایانو له "ماد" څخه دغه خلك وغوښتل "ماد" ویل. چې مونږ ته یې سیمه راوړې ده او سیمه مو ورکړې ده.
سکایان هره ورځ ښکارته وتل او دښکار مرغان او غرڅې به یې راوړلې. یوه ورځ تش لاس راغلل کیاکسار، چې د"ماد" مشر و او د دیا اکو لمسی و . له دغو ځوانانو سره بده وضع وکړه. بله ورځ خپه ځوانانو یو هلك ووژه او غوښه یې کیاکسارته ورکړه. هغوی په خوند وخوړله او پوه نه شول، چې د بنیادم غوښه ده.
سکایي ځوانان له وېرې وتښتېدل او دلودیانوسیمې الیات ته لاړل. مادیان ورپسې ورغلل ،خو لودیانو ځوانان په لاس ورنه کړل او ترمنځ یې جګړه پیښه شوه
یوه شپه سپوږمۍ نیول شوې وه، د دواړو خواو سپین ږیرو وویل: دا ،چې یو ورور بل ورور وژني: دادی په دې وبال سپوږمۍ توره شوه دوی‌سوله وکړه او د جرګې د پرېکړې له مخې یې یوه نجلۍ ، چې آریه نېش نومېدله، دې بلې خواته ورکړه، چې دوستي پرې ټینګه شي.
پښتونولي داوه. چې لومړی سیمه ورکول یعني پناه؛ دوه یم دهغوی ساتل. جګړه کول اوسیمه اخستوني په لاس نه ورکول بیا درېیم روغه کول . "بد" ورکول او جرګه کول.
"لودیا" ، "ساك" او "ماد" درې واړه په دغه دود ټینګ شول. اوس که همدغه لودي ، ساك او مادیني قومونه په پښتنو کښې دقوم اوقومي اصولو له مخې، چې اوس ورته دپښتونولۍ نوم لرو، په یوه تومن کښې ژوند کوي. بیا: نو توپیرپه څه کښې دی ؟ همدغه پښتانه دي، چې په لرغوني تاریخ کښې لیدل کېږي.
کله، چې داریوش پرساکستان یرغل راوړ؛ نو سکایانو لویه جرګه راوغوښته، چې په دغه جرګه کښې لاندې قومونه راغلي وه . توري ، آکاتیرسي ، نري . اندړ وفاګي، ملانکلاني، ګلوني ، بودیني او سرماتي.
کله. چې جرګه جوړه شوه دځینو قومونو مشرانو لکه نري ، توري، اندړ وفاګي دسکایانو مشرته وویل : که تاسو له پارسیانو سره شخړه نه کولای، هغوی به نه راتلل که راغلي وای بې له کوم دلیله ؛ مونږ به تاسو سره دریدلو او، چې تاسو تېری کړی او دتېري په مهال موجرګه نه وه غوښتې اوس،چې هغوی راغلي. مونږ سره جرګه کوئ ؟
بیا هم که هغوی زمونږ دنیکونو ادیرې ته راغلل، مونږ به جګړه ورسره پیل کړو.

په افغانستان کښې ساك دقوم په نامه اوساك دځمکې اوسیمې په نامه هر ځای لیدل کېږي. په پکتیا کښې ساك ، په میدان، کابل او دننني سرحد په ډېرو برخو کښې لیدل کېږي.چې ساکزي، سکزي او ځینې یې ایساق زي نومول کېږي.
سجاوند ، سکاوند او سکاندره داټول په ساکو پورې اړه لري .سکندر ،سکاندار ، سکانشاه ....نومونه هم دود دي .
دهیرودت ساکان تر مصره پورې تللي وه . سکاتلند په انګلیستان کښې ساکستان په جرمني ، انګلوساکسون دا ټول او ډېر نور دساکو له ریښو څخه دي.
هرودت دساکو د جګړې طریقه ، کالي ، ټولیز حالت ، جرګې او پاکلمني یادوي .
مونږ داخبره کړې ده، چې دساکو هېواد ساکستان و . دسلطان محمود غزنوي په مهال کښې ساکو دده دلښکرو یوه برخه جوړه کړې وه. دوی به دا امتیاز درلود، چې له وسلو سره په بازار کښې ګرځېدل تورې به یې ځړولې وې.
دبیهقي په حواله دسلطان مسعود په مهال کښې هم درې زره سکزیان دده په لښکروکښې ول .

## افغانستان او نوی پېر

چې دلدار مې داغیار په شکل څېرشو هیڅ مې نه زده نه پوهېږم داڅه پېرشو؟
د ۱۳۸۱ل کال سور دوبی و. چې دافغانستان حالاتو ته مې کتل: دناهیلۍ څپې راباندې راتللې. دامریکې تر مشرۍ داتلسو هېوادونو لښکر په کښې پراته دي . امن ، اخلاق ، رښتیا په کښې نه شته. ماتل رادیوګانې اورېدلې او خبرونه مې لوستل.
په ۱۳۸۱ ل او ۲۰۰۲ ع کال کښې افغانستان د یو لوی بدلون سره مخ شو.ددې بدلون کبل دا دی،چې د ۲۰۰۱ ع کال دسپتمبر په برج کښې د نیویارك د تجارت او هڅو مرکزونه ونړېدل. په دې برخه کښې ډېرې پوښتنې رابرسېره شوې:
مساپر وړونکې الوتکې ولې پر ودانیو ولګېدلې؟
ددغو الوتکو ویجاړونکی ځواك ولې دومره ډېر و ؟
ددغه مرکز له کارکوونکیو څخه په سوونو یهودیان ولې کار ته نه ول راغلي ؟
ددغې پېښې کسات او بدل په افغانستان پورې څه اړه درلوده ؟
دامریکې پولیسو او استخباراتو څه کول ؟ ....

درې زره کسانپه دغه پېښه کښې مړه او مانۍ ترپايه ونړېدې.چې دا هم د تاريخ يوه زړه دردونکې ننداه وه .
افغانستان په دغه اور کښې وسوځېد.
امريکا دنړۍ ټوله لاربښوونه تر لاسه کوي. يعنې اقتصادي سر چينې يې تر خپل واك لاندې راولي؛ چين، روسيه او نور هېوادونه هم له پښو غورځوي.
سوال دا راپيدا شو، چې امريکا لويه جواري پيل کړه. که يې بايلو دله، خو لاړه اوکه يې وګټله ټوله نړۍ په لاس کښې نه شي لوبولى او که يې ټوله په خپله لاره او خوښه بوتله؛ نو بيا افغانستان دټولې نړۍ ضمانت نه شي کولاى. مونږ پرشوروي اتحاد ځان برباد کړ ګټه يې چاواخيسته ؟ که اوس پر امريکا ځان برباد کړو، ګټه به يې څوك واخلي ؟
دافغانستان هغه خلك، چې له امريکې سره ودرېدل، ډېرو وړوګټو ته يې وکتل. دوى دعقل په لحاظ دوه لويشتې ترځارويو پورته دي، چې انسان بلل کېږي،خو شخوند وهي.
له دې يادو نې وروسته به بيا پښتانه په لرغوني تاريخ کښې وګورو:
په يوه روايت کله، چې آريايان ياکډوال د اورسي له غونډيو ووتل: دهرودت په وينا دمازندران اوتورې بحيرې په شااو خوا کښې اوسېدل او هغه قومونه، چې سکندرپه ۳۲۵-۳۲۷ ق م کښې د سنده په حوزه کښې ليدلي وه. ورسره ورته ول.
داخبره دپښتنو شتون د مازنداران ، تورې بحيرې (کسپين )او داباسين د حوزې د خلکو يووالى روښانه کوي،چې يو خلك دي.
دا تر ټولو ټينګه خبره ده او اسناد يې موجود دي يا په شتو شته .
مونږ به په وروستيو کرښو کښې تر دې ډېرنژدې سندونه وګورو، چې دپښتنو شتون په دواړو برخو کښې ثابتوي.
له دغو قومونو څخه ، چې دآباسين په حوزې او تورې بحيرې (کسپين) کښې اوسېدل؛ ځينې يې دادي :
جدون – هلته او دلته .
دوتاني – هلته او دلته .
الکوزي– هلته او دلته .

داخبره په زړه پورې ده، چې ګوډتيمور له داغستان ، آذربايجان او مازندران څخه هغه قومونه افغانستان ته لېږدولي دي، چې بيا دلته له خپلو قومونو سره لګه دوتاني ، جدون ، الکوزو سره يوځاى شوي او تراوسه په شتون شته

په ۶۱۲-۶۰۵ له ميلاده مخکې کلونو کښې سکايان هماغه ساکان دي. نينوا ته ننوتل او بيا له مادي او بابلي خواکونو سره يو ځاى شول . په داسې حال کښې. چې ساکانو. کاسيانو او لوديانو دکسپين او مديترانې غاړې او سور يانو . دهند حوزه نيولې وه.

په لنډو مهالونو کښې يعنې په اتلسمه پېړۍ کښې يا دوه سوه شپيته کاله دمخه آزادشاه افغان په آذربايجان او اصفهان کښې . الکوزي په داغستان کښې او احمدشاه بابا ابدالي په ډيلي کښې حکومتونه کړي دي ( ۱۷۶۲ع) دغه دي هغه پښتانه.چې درې زره کاله او دوه نيم سوه کاله دمخه يې د واکمنۍ چارې څرګندې کړي دي.

اوس دا ورځ د روس ، امريکا او انګليس سوغات دی. چې له يوې خوا يوشمېر خوار . بې خبره، چاود زړونه. تناکې لاسونه، خولې شوي تندي. سپېره مخونه او شکېدلې جامې لري .خو مقاومت کوي . له بلې خوا د امريکا زبرځواك دی.چې په کښې پوځي او سياسي شتون څرګندوي: بمونه دي او غتې الوتکې. چې څوك يې دغړ اوريدلو زور نه لري.خو مونږ يې بمونو ته تاست يو.

دادی بشري غيرت. چې کوم حد ته رسېدلی ؟

پښتون. چې په کښې خپل شتون ساتلای. دا هم دهيښتيا خبره ده.

احسانمن د خپل خالق يم سره دواړو بختيو

اول داچې زه پښتون يم اوبيايم خوشحال ختيك

ماسره ديوې نقشې کاپي شته، چې ۱۸۱۲ ع کال کښې کښل شوې ده.

## د زده کوونکيو لپاره نوې لارې :

يو زده کوونکي د زده کړې شوق نه درلود : دده د ليواليو لپاره سوه نځي يوه ورځ فکروکړ . چې پردغې نيمګړتيا د زده کوونکي کورنۍ و پوهوي:نو يوه ورځ بېرونکي پرخپل اس سپور دزده کونکي کور ته لاړ او دده له مور او پلار سره يې خبرې وکړې .

دې پايناب او نتيجې ته ورسېدل، چې هلك ته انعام وټاکي او هغه څه ورته واخلي. چې دزده کوونکي خوښ دي .

کله، چې دوی دغه پاياب ته ورسېدل زده کونکی سبق ته ليوال شو او غوره نتيجه يې ترلاسه شوه.
لوديان او لويان، چې داوسنۍ ترکيې په لويديځ لوري کښې اوسېدل: خپله ژبه يې درلوده،خو تراوسه څرګنده نه ده، چې لوديان اولويان کله دغې سيمې ته راغلي وه.
تاينبي وايي سره له دي، چې دغو قومونو لکه سور ، متاني ، کاسي، لودي او لوی مدنيتونه درلودل، خو بربريانو پردوی بريدونه کول. که په زور يې کولاي نه شول: بيا به دمزدورانو په توګه ورننوتل.
کوم خلك، چې په سنده اوهند کښې ول. هغوی همدغه سور يا ساك ياديدل. چې دګجرات له لارې په جنوبي هند کښې ميشته شوي. که داشمېره واخستل شي، ساك په جنوبي هند کښې دوه سوه ميليونوته رسېږي ،چې په دکن ، حيدر آباد، ميسوري اوکرناتکا کښې اوسېږي.
دساکو لېږيد او شتون په اروپاکښې هم روښانه دی. دسکسينا ، سکاتلند ، ساکسون او نورو نومونو وښودل، چې سکا تلنډ يان ځان پکتس بولي . چې د پاکت جمع ده.
دغه دواړه نومونه اوس هم په همدغه څېر موجود دي.
دلته ببرته پښتانه په لرغوني تاريخ کښې ګورو .
داسې ښکاري، چې انسانان د خوړو او اوبو په لټه کښې هرې خواته په تلوکښې اسيدلي دي .
نامتو تاريخ پوه ارنولډ تاينبي وايي: سومريان عرب نه دي او داسې شواهد هم نشته. چې دوی خپل تمدن له کوم ځای څخه اخستی دی ؟
د دوی لوی کمال په دې کښې دی، چې دوی خط موندلی او صوتي واحدونه يې جوړ کړي ،چې دا دبشري عقل ښکاره نخښه ددوی له نامه سره تړاو لري .
د دوی لويه مجادله باتلاق او ډنډونو سره وه ، چې زابر ايستل او ځمکه کرلو ته چمتو کول يې د ياد چارې دي. دوی ځنګلونو ته لاره وموندله، مېوه او غذايي مواد يې وپېژندل ، سور او اور - ددوی مدنيتو نه ول .
همدا راز کاسيانو شپږ سوه کاله پر بابل حکومت کړی او هلته يې ډېرلوی مدني نظام، ودانۍ ، قانون او ډېرڅه راوپنځول.

په امريکا کښې نه يواځې پر دغه مدنيت (سور) د پرکار شوی ،بلکې دوی قوانين او اصول هم له هغو اخستي دي

دوی ته دا په زړه پورې ده،چې اوسنی مدنيت نوی نه، بلکې دسور ،ساك او پاکت ميراث دی.

مخکې له دې، چې تاينبي او نور تاريخپوهان دغه صورت بيان کړي او سندونه يې ومومي، د برخه ليکل شوي، چې ويسا نه شي ور باندې کيدای ،خو سومري کتيبې، چې ليکل شوي ،تر دې دمه يې پينځه زره بېلکې په نړۍ کښې خوندي شوې دي.دغه راز يې فلزي، ختين او ښيښې شيان، رنګونه او تصويرونه د خيالاتو ځرګندونه کوي.

په دغه مدنيت کښې ښوونځي ، طب ، کرنه ، ادبيات ... د پاملرنې وړ ول

## ديوې نقشې تفصيل

دنقشې په لاندې برخه کښې ليکل شوي : Torquie Dasie Kandahar ۱۸۱۲

دغه نېټه دنقشې دکښلو ده .

دغه نقشه په ترکيې کښې کښل شوې او **Pan. J . Delamarchfuls** لاسليك کړې ،چې د شاه محمود افغان او احمدشاه بابا دسلطنت پراختيا ښيي.

په نقشه کښې له ترکيې څخه تراجمير او له تبت څخه ترعربو بحيرې او دکسپين له شا او خوا څخه تر تورې بحيرې غځېدلې سيمه په کښې را ټوله شوې ده .

دا و دپښتانه دحکومت ځرك په اتلسمه پيړۍ کښې

دغه مهال دآسيا يوه برخه هېوادونه لکه داغستان ، آذربايجان ، ايران ، افغانستان ، پاکستان ، شمالي هند . دترکمنستان يوه برخه . کشمير او څه نورې سيمې د ربنا او سپېڅلتيا لرونکې وې.

دسيمې په دغو هېوادونو کښې انګريزانو ، زاري روسيې ، عثماني ترکيې ، هند او ايران د بغاوت،جګړې او تورتم تر څنګه نفاق . رشوت او په ملي ګټو نه پوهېدل تحميل کړل.

ترکيه ، ايران او دسکهانو دولت دانګليس د پيش قراول په توګه لکه، چې په ۲۰۰۱ – ۲۰۰۲ ع کال کښې ، پنجشيريانو . يو شمېرتاجکانو، ازبکانو،بې پښتو پښتنو او

هزاره ګانو دغه وياړ ترلاسه کړاو دامريکا او اتلسو نورو اروپايي هېوادونو په مخکې وخغلېدل: خپل مسلمان افغان ورونه يې ووژل
لعنته الله عليهم اجمعين. په اتفاق ګټل او په نفاق بايلل.
نن. چې د ۲۰۰۱ ع کال دجولای دبرج يو ديرېشمه ده. هماغه افغانستان له توري بحيرې څخه تر عربو پورې. له تبته تر ګنګا او جمنا پورې خوځېدلی .خو په شمال کښې دوه قوته تاجك .ازبك او هرات بېل او ختيځ او جنوب کښې ننګرهار او پکتيا بيل دي او په کندهار کښې يوه فاسده ډله حکومت کوي.
درويتر دخبرله مخې له درې سوه طالب بنديانو سره څه کيږي ؟ تيارو کوټو کښې يې دسترګو رڼايي تللې . په سپيو يې داړي . لړه ډوډۍ ورکوي . وهي يې او حتا کله پرتوګونه ترې باسي.خو دراني ځانته پښتانه او مسلمانان هم وايي. په داسې خلکو به کوم ارمان پوره کېږي؟
دپښتانه دشرم نښانې دي. دوی په نړۍ کښې يواځې غلځي خپل غليم بولي: نور يې ټول دوستان دي.آيا دا د سور . ساك او پاکټ او لاد دی ؟
دافغانستان امپراتوري. چې احمدشاه بابا جوړه کړه: داعليحضرت تيمور شاه اوشازمان تر دورې يې دوام درلود .خو دانګليسانو له دسيسو سره مخامخ شوه.يعنې ايران او سکهانو له انګريزانو سره مرسته وکړه او دغه امپراتوري ړنګه شوه. چې تر ننه دغه دسيسې دوام لري. خو اوس نړۍ په داسې پړاو کښې ده. چې ښايي دلويديځ برلاسي ماته شي او نوې پېړۍ راشي.

## هيرودتس او پښتانه

هيرودت دتاريخ پلار ياد شوی دی.چې له ميلاده ۴۹۰ يا ۴۸۰ کاله مخکې په هاليکا رناسوس کښې زېږېدلی دی. دی په زلميتوب کښې هم د نړۍ په هغو سيموکښې ګرځېدلی. چې ده پېژاندلې(هرودت د مصر . بين النهرين . فلسطين. شمالي افريقا سنځنی آسيا هېوادونه لېدلي او د روسيې تر جنوبي پولو تلی دی .
دده کتاب تواريخ نومېږي او دخلکو په ګڼه ګونه کښې لوستل کېده او خلك يې په تواريخ خبرول.
دهيرودت کتاب نهه برخې لري. چې نهه کتابه ګڼل کېږي .

ساك ، سور ، پاكت ! دهېرودت په كتاب كښې ياد شوي دي.
۱- د لومړي كتاب په ( ۷۹ ) مخ كښې ليكل شوي.چې" پاكتي يس " Pactyes يو سړی دی. دلوديا له قومه .ساردس دلوديا پايتخت و . كله. چې كوروش ليديا ونيوله . دپارس يو سړی يې ، چې تابالوس نوميدلو دساردس حاكم و ټاكلو او دلوديا له خلكو يې يو سړی. چې پاكتي يس ( پښتون ) نوميدلو دلوديا د پادشاه خزانې يې ده ته وسپارلې. كله. چې كوروش له دې خايه لاړ. همدغه پاكتي يس دپارسيانو په مقابل كښې پاڅېد : دپارس حاكم يې لېږې دړ او سا، دس يې بېرته ونيو.
۲ـ دوه يم كتاب پر مصر ليكل شوی دی.
۳ـ دريېم كتاب پر مصر دكامبوچيه ديرغل په باب دی
هرودت په دغه كتاب كښې شاهي عايدات ښيي . دی داسې وايي. چې پاكتيسيا ، آرامېنه اوګاوندیان يي ترتوري بحيرې ۴۰۰ تالان... ـ ۲۲۴ مخ .
دهمدغه كتاب په ۲۲۶ مخ كښې داسې راغلي دي :
دهند په خمكه كښي پاناب ، چې داوسني پارس له خاورې ليرې او په جنوب كښې پروت دی؛ هيڅكله دپارسيانو لاس ته نه دی ورغلی. شمال خواته يې دكاسپاتير او پاكتيسا په ګاونډ كښې يو قوم دی. چې دهغوی ژوند دباكتر ( بلخ ) دخلكو سره ورته دی .
دوی ( دهند يانو په منځ كښې ) جنګيالي دي :تر دوی جنګيالي نورڅوك نشته.خو دطلا په لټه كښې روان دي
ددغه كتاب په پای كښې دپاكتيسيا Pactycia شرح داسې شوې ده :( پښتانه د(افغانستان) په جنوب كښې ).
۴ـ څلورم كتاب دداريوش دلښكر بريد په باب دی.چې دسكايان پر ځمكې يا مېنې شوی دی.خو په پای كښې داريوش ماتيږي. ددغه څپركي ياكتاب پوره تفصيل په سكايانو ، ساك او ساكستان پورې اړه لري ،خو دغه برخه يې دېراهميت :ځكه لري، چې د پاكتيسيا ځمكه يادوی : داريوش غوښتل پوه شي.چې دسندهٔ سين(اباسين) په كومه سيمه كښې بحرته تويېږي.
ددغه مطلب لپاره يې سكولاكس نومی له يو پلاوي سره ولېږه؛ وروسته له دېرشو ورځو، چې پاكتيسيا ته لاړل. څرګنده يې كړه، چې آباسين چېرته بحرته رسېږي.

فرعون هم فنیقیان لیږلي وه: هیرودت وایي فنیقیان، سور دي.
**۵**_ پنځم کتاب ، دتراکیا په باب دی. هیرودت وایي: وروسته له هندوستانه ددوی دخلکو شمېر ډېردی .
په دغه څپرکي کښې د پښتانه د یوه بل قوم یادونه شوې او هغه کاسیان او کیسیا یې ځمکه ده .
**۶**_شپږم کتاب د اراتور په نامه او ډېرلنډ دی .
**۷**_اووم کتاب پر یونان دخشیارتیانو دبرید په باب دی.
ددې کتاب په **۳۷۶** مخ کښې لیکل شوي دي :
بلخي یا باکتري د مادو په څېر خولی پرسر کولې ، غشي ، لیندۍ او خنجرونه یې درلودل.
سکا یو نوم دی، چې پارسیانو دباکترېول قومونه پرې نومولي دي ،چې په قوس کښې ( سکزی ) ورته لیکل شوی دی. دغه سکایان د (( آمو رګه )) له څانګې دي او ګنداریان په قوس کښې ګندهار داوسني افغانستان په شمال لویدیځ کښې دی.
په همدغه مخ **۳۷۶** کښې لیکي: سیرو میتر ،چې دلښکرمشر و: لکه د پاکتیانو ، دڅرمنې نیم تنه کرتۍ یې آغوستې. دپاکتیانو په څنګ کښې بیا په قوس کښې ( پښتو سا ) لیکل شوې .
یو ځل بیا په **۳۷۹** مخ کښې لیکي : ځینو کوچي قبایلو "ساګارتي"په پارسي ژبې خبرې کولې ( دا ، چې پارسي څه ډول ژبه وه ،څه پرې نه دي ویل شوي ،خو اوسنۍ فارسي دنهمې میلادي پېړۍ ژبه ده ) او پارسیانو ته ورته کالي یې درلودل او نیم پاکتي ډوله خلك ول .
**۸**_ اتم کتاب اورنیا دی : په دې کتاب کښې دیونان سره دجګړې تفصیل دی .
**۹**_نهم کتاب کالیو نومېږي، چې هغه دسکندر په باب دی.
دهیرودت کتاب، چې تواریخ نومېږي: هماغه دسور – ساك او پاکت له کیسو ډك دی او ټول افغانان په کښې فنیقیان،چې سوریان دي، یادوي. پارسیانو دساکو ټولو قبیلو ته ساك او پاکت ویل. هیرودت دپارس قبایل هم نیمه پاکتیان بولي.

دسيستان تاريخ، طبري او اسلامي تاريخونه دسيستان . ساکستان او سجستان په برخه کښې بحثونه لري اوسمهال دسکاتلنډ او کاناډا د آسيايي څېړنو په مرکزونو او ټولو پوهنتونو کښې پرسيستان څېړنې رواني دي.

ټول تاريخپوهان دکليفوردباسوث د شتون انتظار لري، څو دسيستان کنډوالې وپلټل شي. نوي اوګران شيان ترلاسه کړي.

اروپايان او امريکايان ددغو خزانو د تر لاسته کولو هيله من شوي دي؛ځکه،چې دلته ډېرڅه پراته دي.

مونږ بويه په امريکا کښې دآسيايي څېړنې يو مرکز ولرو، چې دخپلو څېړنو پايلې نېغ په نېغه خپلو خلکو ته په لاس ورکړو.

امريکايي سرچينې داخبره هم کوي، چې هخامنشيان او ساسانيان ساك دي .دوی رستم هم ساك بولي.

که څه هم .چې هخامنشانو او ساسانيانو په خپلو مهالونو کښې له ساکو سره جګړې کړي دي : خو. چې هخامنشيانو او ساسانيانو له يو نان يا روم سره جګړې کولې. ساك به يې مرستې ته ورتلل.

په تاريخ کښې داخبره ثابته ده، چې هخامنشيانو او ساسانيانو افغانستان نه دی نيولی. دکوروش او داريوش په مقابل ساکان، سکاييه يا ساکستان ولاړ ول. کوروش ددوی په لاس ووژل شو، داريوش وتښتېد ،چې داخبره هيرودت تائيدوي

که څه هم ايراني ليکوال دهيرودت خبرې ته هم خبره پيداکوي. حال دا ، چې په هغه مهال کښې بل مؤرخ نه و او ټول تاريخ پوهان هيرودت دتاريخ پلار بولي.

لکه، چې وايي " دی دپلار خبره هم نه مني " ـ دا ناپوه ته يوه نرۍ شانته ګوتنيونه ده.

طبري داهم وايي، چې دسنده او بلخ د سين تر منځه دغه ټوله سيمه سيستان دی. چې تر خراسان لويه سيمه ده او و ګړي يې ډېر دي)).

عربي تاريخونه هم دغه سيمه سيستان يا سجستان بولي . ساك ، ګندهاريان، دزنګيان( زرنجيان) بلخيان او پاکتيان ټول په يوه هېواد پورې اړه لري، چې نن افغانستان دی .

# افغانان وکيفيت احوال شان

په دې باب يو تاريخ خبرې کوي ، چې ددغه تاريخ نوم ((تاريخ منتظم ناصري)) دی. دغه تاريخ د ايران د قاجاري دولت ناصرالدين شاه د اطلاعاتو وزير ليکلی، چې په اعتماد السلطنه مشهور و .

دی په خپل پند کتاب کښې له(( کيفيت احوال افاغنه وظهور دولت شان)) يادونه لري. اعتماد السلطنه دپښتنو په باب داسې څه ليکلي، چې له حده ډېر په زړه پورې ،د لوستلو او څېړنې وړ دي

په دې ليکنه دغه مطلب دمسعودي او نورو سر چينو له قوله ليکل شوی دی .

د تاريخ منتظم ناصري د دوه يم ټوك په ۱۰۳۸ مخ ، کښې داسې ليکل شوي دي :

"نقل کرده اند که طوايف افغان درسواحل بحر خزر درحوالی شيروان و داغستان مسکن داشتند يا خود درباب الابواب خارج داغستان در صحراها ييلاق و قشلاق می نمودند وطايفه مجهول الاصل بوده اند و معلوم نبوده است از قوم بحر خزر يا از طايفه آنها باشند.

بهر تقدير کار ايشان در آن حدود نهب وغارت بوده است . درزنان اميرتيموروران اهالی آذر بايجان از ايشان تشکی وتظلم کرده آن پادشاه و آن طايفه را از آنجاکوچانيد ، درصحرای که واقع بود درميان هند وقندهار ساکن و متمکن ردانيد و دست تعدی ايشان را از آذربايجان صد منزل دور کرد و در آن جانيز عادت ايشان نهب وغارت بود .

" سياح " ويد که دربعض از کتب تواريخ ديده ام آنها را اغوانی اليانی می فته اند واغوانی غلط اليانی است و از ارمنی بوده اند وحالانا حيه قره باغ متصل به شيروان جماعت ارمنی هستند که آنهارا " مناشری " قند سار می ويند و درطريقه ايشان سرکرده و رئيس را اغوان ويند وبه زبان ارمني باش نوعی اغوان راويند.

در ولايت نجه وايروان ، ونواحي نخجوان وحدود يلان مسکن دارند. ((سقنان)) ايشان رت به اين نام می خوانند وطايفه ارامنه را که درجبال متمکن اند به اين نام می خوانند وبه اين نام افتخار کرده ، ادعای افغان بودن می نمايند و می ويند لفظ قندسار قندهار بوده است واز کثرت استعمال قندسار شده است و قندسار غلط قندهار باشد. زيرا که قلعه قندهار دربعض کتب نوشته اند که بناهای اسکندربوده است،چون از وطن اصلی

دور ومهجور ماندند رفته رفته بااهالی قندهار مخلوط شدند والفت وموانست پیداکرده وهمگی مسلمان شدند یعنی سنی شدند "

پر دغه او په هغه بل متن، چې دخواجه قاجار په کتاب کښې راغلي باید بشپړې خبرې وشي،ځکه. چې دپښتون په تاريخ کښې ډېراهميت لري.

" آبيش " فرانسوي پوه په خپل کتاب کښې، چې داغستان نومېږي. ليکي: د داغستان خلك يواځيني خلك دي، چې خط يې درلود، ليك او لوست يې کاوه. دهغوی الفبا فارسي وه او په هغه يې خپله( ؟ ) ژبه ليکله.

الفبا عربي ده، نه فارسي او په دغه متن کښې دا څرګنده نه ده، چې کومه ژبه يې ليکله ؟

ښکاري، چې عربي ، ترکي او فارسي نه وه.

په قره باغ کښې اوس هم خلك دخپلواکۍ په لټه کښې دي، چې په خبرونو کښې اوريدل کېږي . شيروان، داغستان ، ګنجه ، ايروان ، ګيلان، چې دخزر يا کسپين پرغاړو پراته دي، افغانان دي او په افغانستان کښې دغزني قره باغ ، دکوهدامن قره باغ او هرچېر ته ، چې پراته دي، پښتانه دي. ديوې څېړنې له مخې په ايران کښې سني مذهبه، همدغه قرباغ ، شيروان ، لکزي الکوزي په اصل کښې ټول پښتانه دي او دوی داعليحضرت شاه محمود افغان په دور کښې دافغانانو مرسته کوله. قزوين هم له همدغو خلکو څخه دي ، چې ملي سپه سالار سيدال خان ناسر يې ملګرى او دقزوين حاکم و ، چې له هماغه ځايه يې له روسانو سره جګړه وکړه او روسان يې په رودسر کښې مات کړل او په " رشت " کښې يې سره دسولې تړون لاسليك کړ.

پيرشامل، چې څلويښت کاله له روسانو سره جګړه وکړه او له پښو ونه لوېد ، د داغستان لکزى و ، دوی وياړي، چې افغانان دي:خو کله، چې انګريزان او اروپايان سيمې ته راغلل، هغه حالت واوښت.

بېليو وايي : پښتنو هغه نومونه ساتلي دي، چې دوه نيم زره کاله دمخه کاريدل ، دى يو څو بېلګې هم لري، چې دلته به يې دده له قوله يادې کړو : کوم نومونه، چې بېليو يادوي هغه دهيرودت له هغو نومونو سره تطبيقوي، چې په تواريخو کښې راغلي دي . دا به زمونږ هېواد والو ته هم دحيرانتيا خبره وي .

هيرودت په ارمينا کښې يو ولايت دپکتيا په نامه يادوي. په جنوبي اروپا کښې پکتويم او دانګليستان په خبرو کښې د پکتيس يادونه شوې ده.

بېليو داهم وايي. چې دلرغوني افغانستان پکتيس او سکيت زمونږ دهېواد يعنې انګليستان سره ورته والی لري، چې دغه ورته والی حيرانوونکی دی . همدا ډول په پخواني انګليستان کښې دکمبرين خلك د کلات خان له قوم سره. چې کمباري دي، هيڅ توپيرنه لري. په همدې توګه کاماري هلته په انګليس کښې او دايريدو يوه برخه کاميرخېل په پاکتيا کښې .

همدارنګه دبريتانې لاګرين له لوګري سره يوشان دي.چې دغه ورته والی په دومره واټن کښې حيرانوونکی دی .

بارتولد وايي: په پښتو کښې غر ، په فارسي کښې کوه : غرچ ـ *غرج او غلج* ـ خلج شوی ،چې په منځنۍ آسيا کښې ليدل کيږي. غرچ او غرج، غرښ دی،چې خلج شوی او خلجی علزی شوی دی.

بارتولد دا هم وايي: د اتلسمې پيړۍ په ۱۷۰۹ ع کال کښې ميرويس خان په کندهار کښې په دومره چټکۍ خان جوړ کړ. چې زوی يې ايران ونيو. لکه، چې غوريانو هندوستان په دوو لسمه پيړۍ کښې نيولي و او احمدشاه په ۱۷۴۷ ع کال کښې هماغومره چټك دافغان لوی دولت جوړ کړ.

دغه راز ارنولد دسکاتلند يادونه هم کوي. سکا تلند له دوه کلمو سکات او لند څخه جوړ دی.

يعنې دسکاتو ځمکه. •

ددې لپاره، چې لوستونکيو ته پوره څرګنده شي په اروپايي منابعو( ۱۹۷۵ world book) Encyclopedia کښې دسکاتلند مضمون.چې له څه نا څه دېرشوکتابونو او منابعو څخه اخستل شوی، داسې بيان شوی دی:

سکاتلنديان شپږزره کاله دمخه له اروپا راغلي: دوی اور بلولو. بېلابېل الات يې جوړول او کښتۍ يې جوړولې. اتلس سوه کاله له ميلاده مخکې بيکر Beaker يادېدل. چې په تلفظ کښې باکتر ته نژدې دی رومن دوی ته پکتس ويلي، چې Pict " او س " دجمع په شکل کارول کيږي.

وګورئ ساك ، پکت ،اوبيکر ، چې شپږ زره کاله مخکې له منځني اروپا راغل دوی له مخکې زمانې څخه ياده کړې، چې ساکان دآموله غاړو پورته او کښته د لويديځ لوري ته خوځېدلي. چې پورته مرکزي اروپا ته او کښته د مديترانې غاړوته رسېدلي دي.

ددغې موضوع اړوند مطالب ډېر دي. چې خبرې به پرې وشي.

د سکات او عصري نړۍ جوړولو کتاب، چې Hanman سرکال ليکلی. پر هغې به هم خبرې وشي. سکاتلنديان وياړي،چې پکت دي. دا خبره د همدغه کال د ارکيالوجي په مجله کښې ليکل شوې ده. دسکاتلند رسمي ژبه انګليسي. خو پخپلو کښې بله ژبه لري. چې ددغې ژبې په برخه کښې څېړنه په زړه پورې ده

دسکاتوخواره : دپښتانه لپاره به ډېره په زړه پورې وي. چې دوی دسکاتانو پرخوړو پوه شي.

سکات دپسه لړمون ډېرښه پخوي او په ښو خوړو کښې شمېرل کېږي . د لم ( دمبه ) ويلي کول ،چې له غوړو څخه يې په پخلي کښې کار اخلي .

دوی لم او وازده په لري کښې اچوي، چې خوند ورخواره تری جوړېږي : تر ډېرې مودې يې کاروي.

دسکاتو ژبه: انګليسي ددوی رسمي ژبه ده ، خو پخپلو کښې يوه ډېره پخوانۍ اروپايي ژبه وايي. دغه ژبه "سيلتي " ژبه ده. ددوی په وينا له لويديځې آسيا څخه هلته تللې ده. ددغې ژبې په باب نور معلومات تراوسه مونږ نه لرو. خو اريايي ژبه ده او له لويديځې آسيا څخه چېرته، چې په لويديځې آسيا کښې دافغانستان خاورې دي.سيلتيك Celtic بله ژبه نه ده. چې تراوسه په سکاتلند کښې ژوندۍ پاتې ده،بلکې دا يوه اريايي ژبه ده، چې له لويديځې آسيا څخه هلته تللې ده.

# ګرشاه سب بابا او دهغه دود

دغه لیکنه مې اوس یعني په داسې مهال کښې پیل کړه ، چې دپښتنو په تاریخ کښې ترټولو بدې ورځې دي نن . چې د ۱۳۸۳ لمریز ګغبرګوني نهه ویشتمه او دعیسوي کال ۲۰۰۴ دجون دمیاشتې اتلسمه ده . دسهار اوه بجې وي ، چې بي بي سي BBC وویل په جنوبی وزیرستان کښې " غښتلی " نیك محمد ووژل شو ( په شهادت ورسید ). دده مخ ، چې مادوه پلا تلویزون کښې دخبرونو په ترڅ کښې لیدلی و په سختۍ به ددیرشو کلو و (⁵) ،یوه اوونی مخکې ده ویلی و .

- زه دامیرالمومنین ملامحمد عمر پلوي یم. ده ویلای شول داخبره ونه کړي مګر پښتانه رښتیا په هر حال وایي . خوتر دي ربړونکی خوی بل نشته ( ریښتیا ویل ) داسلام له نظره رښتیا ویل دایمان لومړی شرط دی اوپر دروغ ویونکی لعنت استول شوی . لعنت الله علی الکاذبین.

غښتلي نیك محمد رښتیا وویل ټولې دنیاته یې وویل ، په همدغه رښتیا ویلو ووژل شو. مسلمان وواژه یعنې پاکستاني عسکرو . که څوك ووایي رښتیا ویل آسانه دي نه دي آسانه.

په کال ۱۳۷۲ لمریز یا کال وروسته سم مې نه دي په یاد ، حاجي شمالي خان ، چې دننګرهار یوجهادی مشر او احمدزی و وویل : پاکستان ته اجازه نه ورکوو ، چې زمونږ په کورنیو چارو کښې لاس ووهي اوده هڅه کوله ، چې دهغوجهادي فرقوتر مینځ روغه وکړي ، چې دکمونستي نظام نه وروسته کابل ته ننوتلي و .دی په دې خبرو ووژل شو . ملا بورجان ، چې ده غوندی زمری بل نه و مخکې تر دی ، چې کابل ته ورسېږی ووژل شو ، ځکه دی خپلواك و وایي هغه هم پاکستان وواژه ، حتی دملا محمد رباني په برخه کښې هم داخبره کېږی مونږ ، چې پاکستان یادومطلب مو حکومتونه دي ، نه دپاکستان خلك دپاکستان خلك زمونږ ورونه دي .

---

⁵ وروسته څرګنده شوه چې اوه ویشت کلن و.

# دژرندي ددو وتېرو ترمینځ اوره پښتانه

دپاکستان او افغانستان دسرحد په دوارو خواوو کښې پښتانه اوسېږي. د ۲۰۰۱ داکتوبر له اومې وروسته دپښتنو مخالفینو تل امریکایي هوایي قوتونوته ځایونه، کورونه، کلي عامه بسونه، چې خلك په کښې تلل راتلل ښودل هغوی بمونه پرې غورځول.

## افغانستان اونوی پېر:

هیڅ مې نه زده نه پوهېږم داڅه پېر
چې دلدارمې داغیار په شکل ځېرسته
(رحمان بابا)

په خبرونو کښې اوریدل کېږي، چې دافغانستان په شمال، مرکز، لویدیځ، ختیځ او جنوب کښې بې امني ده نور په نرۍ کښې داسې زوروز ځوك نه دي پاتې، چې هغه ته هم بلنه ورکړي راشي زمونږ امنیت برابر کړي.
ولې امنیت نه راځي؟ دافغانستان دتاریخ له مخې افغانان تاکلې غوښتنې لري، چې دین، ناموس او خپلواکي ده.
کرزی دناروغ په تلتك ورننوتلی دی کله وایي هو، کله وایي نه که، چې رې هماغه جمعیت رباني، جنبش دوستم شورای نظار وی، حامد کرزی به یې څلورم وي.
دافغانستان خلك، چې هغوی نه مني کرزی هم نه مني.
تاریخ ته وګورئ، چې افغانستان په عدل او تقوی جوړشوی که په چور او ناتار؟
په تاریخ کې څو وارې افغانستان نړېدلی دی په عدل او تقوی بېرته جوړ شوی یعقوب ساکتان کښې په مېړانه عدل او تقوی ودرېد ....
امیرعادل سبکتګین، ملك الدین والدنیا غیاث الدین غوري سوري بیا نومیالی میرویس او احمدشاه بابا.
هریو نړېدلی افغانستان پر پښو درولی دی، اوسنی دولت په دې ردیف کې نه راځي دشاه شجاع او ببرك تره کې امین په ردیف کې راځي که، چې رې هغوی، چې له

خارجي عسکرو سره راغلي و بریالي شوي وای تاریخ حکم کاوه . چې کرزی او ملګري یې هم بریالي کېدل.
تاریخ وایي داپلا له دوی سره دافغانستان هغه شمېر خلك ، چې دوی سره دي پښتانه تاجك هزاره ازبك تعلیم یافته او بې تعلیم ټول وهل کېږی.

# ملي اقتصاد ملي تولید

کله ، چې د افغان ملت جریده په کال ۱۳۳۴ لمریز کارپیل کاوه ، مونږ سره ډېرې اندیښنې وې دوخت شوروي اتحاد ، چې له پخوایې ځینې خلك درلودل دامهال دوی نه پټوله ، چې دوی سو سیالستان دي یایې د " یالکتیك " غړاوه اوطبقات یې ښودل دفیودال خبره یې کوله .........
افغان کومه ټولنه ، چې وه ، په ځان یې تکیه درلوده ملي تولید او ملی اقتصاد و ، کرنه ، مال ساتل (څاروی ) کسب لکه اوبدل ، داوسپنې کارونه ، دلرګیو کارونه ختګر ، تجارت خودغه ټولنه افغان وه سیالي وه یعنی کار اوکسب ښل و خلك یو خلك و ، دین ناموس او خپلواکي یې په خپل وینو ساتله.
تر نولسمې پېړۍ پورې دغه ټول تولید مو خپل و لکه ، کالی ، فرش ، رنګ ،صابون ، شمع ، غوړي ، اوسپنه ، مس ، چودن ، ژېړ ، جست درمل .........
په غور کې دآهنګرانو ښار و موږ او آباده و له غورنه وسله ، او نور داوسپنې سامان هر ، چې رې تلل ، چې څلورمه هجري پېړۍ وه دعلا الدین سوري او سلطان سنجر سلجوقی په دې خبرې جګړه وشوه ، چې سلطان علاالدین غوری دوسلې لېږل سنجرته بند کړی و.
له نولسمې پېړۍ وروسته انګلیسانو آسیا ته خپل مالونه راوړل اوټوله آسیا یې لاندې کړه.
په افغانستان کې انګلیس پلوه افغانان پیدا شول همدغه دهېواد دبدمرغیو سریزه وه.
مونږ ، چې ملي کلتور یا دوو خبره دملی تولید په کارول و ، شهید یوسف میړنی ښه مثال وایه ده ویل دوه زره اروپایي کمیسونه پکتیا یات هزاره جات ته یوسئ دوه دانې یې نه خرڅېږي په کابل کښې یوه دانه نه پاتی کېږی آفت په کابل کښې و.
همدا راز دخرمنې تولید نور نو انګلیسی بوټان او موزې وې . مونږ ، چې خارجی تولید اخستل خپل کسبګرمو وژل ځکه مونږ پیسې اروپا امریکاته ورکولی یو پادشاه یا

حکومت داونه ويل . چې دا کارمه کوئ پخپله دولت او دربار او دهغوی کورنۍ وې . چې خانونه يي دانګليسانو په دود جوړول بيا لوړ رتبه مامورينو داکار کاوه . وروسته هر چابه خپله وسه کوله بالاخره ددوی په فکر دوی اهليان شول او ملت وحشي پاتې شو بياهم دميرني خبره . چې دوی ګل اغانور وحشي او شادي بازان پښتون چپلی پوش وحشي کتبه پای ازبك کله خام هزاره موش خور

اصلي عيب په همدی کښې و دهغه اصلاح او سمون ونه شو دمارکس لينن خبرې وې اوس ديموکراسی . او پانګه والي ده . امريکا او ټوله نړی افغانستان ته راغلله دين (القاعده) ناموس (حقوق زن) خپلواکې (وروسته پاتې کېدل) . بلل شول که ددين خبره شوه القاعده به شي . چې سره دې وهلو دې جايزه هم لري که دې دناموس خبره وکړه دښځو حقوق دی پښولاندې کړ که خپلو اکې وايي وروسته پاتی کېدل غواړی . اوس څه وکړو ؟

دافغان ملت لپاره ګرانه شوله يوه ډله خلك له دې منطق نه ووتل يعنې دين . ناموس او خپلواکي يې پرې ښوده اوس ددوی مبارزه ددين او ناموس او خپلواکي په ضد ده.

پښتانه ښځه ناموس ګڼی خپلې وينې يې په لاس کښې ورته نيولې وي. ښځه هم همدا اغواړي . چې زه يوه متاع نه يم ناموس يم زما بيه او قيمت زما دخاوند . سر او وينه ده.

دا دتوافق روحي خبره نه ده . چې روحي توافق مونه درلود سره بېل شولو دلته دروح او بدن خبره ده يابه نارينه مري يابه ښځه کله . چې ناموس ناموس نه شي.

په انسانيت کښې دا دمينې او محبت لوړه پايه ده . چې پښتنو کښې ده احمدشاه بابا يوولس خبرې کړې دي . چې يوه يې داده . چې ښځې پريښودل بی غيرتي اوبې رحمي ده. امان الله خان . چې لويديځ کلتورته واوښت ملی اقتصاد اوملی توليدې نه درلود بی وسی يوه خوا او پردی کلتور منل بله خوا...

په پای کښې همغه انګليس . چې پخپله دلويديځ امان الله کاپر شوی اوپه مخه يې کړ حبيب الله خادم دين رسول الله يې پرخلکو ومانه . چې يوغل و.

افغانستان يې ويجاړ کړ . انګليس امان الله خان مسلمانوی هغه يې له مسلمانی ښاري افغانان اروپايي هڅوب خوښوي کلي بانډې خپل هڅوب ياکلتور غواړي له خپل

اقتصاد اوتوليد سره برابر پښې غځوی او عصري شوي افغانان يې نه غځوي بيا يې
پيسې ته اړتيا وي پوره کولای نه شي بيا څه کوي؟
رشوت ، غوړه مالي ، دروغ ، که بيا هم خرڅونه نه پوره کيدل ، بی ناموسي او جاسوسي
کوي په پای کښې وطن خرڅوي خپل کليوال او دهقانان وژني.
همدا کاني اوس هم رواني دي.

## دنوح (ع) کښتی یابیړی

وايي کله ، چې دنوح بيړی ډوبه شوه ، څه خلك ژوندي پاتې شول ددوی لومړی کار دا و
، چې پخپلو کښې کښيناستل اوپه دې يې خبرې وکړې ، چې کښتی ولې ډوبه شوه ؟
اومونږ ولې خپل تګ تکي ته ونه رسېدو ؟
زمونږ د پښتنو بېړی سل وارې ډوبه شوې او مونږ يو وارې سره کښې نه ناستو اوپه دې
خبره موبحث او فکر ونه کړ ، چې بيړی مو ولې ډوبه شوه ؟
کله ، چې سلطان ابراهيم لودی دهند پادشاه و خپله پښتانه دلودي کورنی علم خان
لودي بابرته بلنه ورکړه ، چې راشئ ددهلی تخت ونيسئ مونږ به مو مرسته وکړو.
دپښتانه بچيان دي په دې معامله وغړيږي.
دغه نظر دافغانستان دتوميالي پوه استاد احمد علي کهزاد دی.

## ګرشاسب بابا

مخکې تردې ، چې داستاد کهزاد پررسالې بحث وکړم هغه منابع ښيم ، چې هلته مې
دګرشاسب نوم لوستلی دی.
ګرشاسب په هرحال په لرغوني تاريخ کښې نه ماتېدونکی پهلوان دی ، يو مشر دی ، يو
پوهاند دی ، دی دخپلې پوهې له امله تل ژوندی دی اوپوهه يې ميراث دی هرڅوك ،
چې خان پښتون بولي دګرشاسب بابا پوهه به ورسره وي.
دسيستان تاريخ کښې ، چې ليکوال يې څرګند نه دی ، ملك الشعر ابهار ، دهغه سمون
او شرح کړې ده دګرشاسب يادونه ډېره شوې ده ګرشاسبنامه ، چې حکيم اسدي توسي
ليکلی د د " ويانا " په کتابتون کښې دی داسې وايي خپله داسدي توسي په ليکاني
ليکل شوی خط دی دايو معتبره سند دی ، چې دپښتنو دپلرو بابا دی
ګرشاسب په مزوج الذب دمسعودی په کتاب کښې ۳۳۲ هجری:

" گرشاسب په جنګ کښې دافراسیاب ساري و " . له دې مطلب دادی ، چې دواړو ماته نه ده خوړلې . مسعودي دخپل کتاب په ۲۷۷ مخ کښې له کیومرث تر ګرشاسب پورې لومړی طبقه بولي ، چې ترساسانیانو پورې څلورمه کېږي په دې توګه دګرشاسب مهال ډېر وړاندې درومي ، څکه کیومرث هم د آدم (۴) نوم ، بولي.

دګردیزي تاریخ هم دګرشاسب خبره لري ، چې بېلو تاریخو کښې دده ذکر کوي " ګرشاسب دآریانا پهلوان و او دغه ګرشاسب دسام نیکه و".

دغور سلطانانو تردولسمې میلادي پورې دسام نوم له خپل نامه سره لیکله لکه سلطان شهاب الدین سام سوري ، سلطان غیاث الدین سام سوري . ددوی امپراتوري له کاشغر کسپین پورې بیاتر بنګال او جنوبي هند پورې غځېدلې وه.

مګر دا . چې ګرشاسب دنیا ودانوله اوخلکولپاره یې دامن سیمې جوړولې داهم مشهوره ده ، چې یادونه به یې وشي.

ددې لیکنې موخه داده ، چې په پای کښې دپښتون په لرغوني چار او څار پوه شوکوم تاریخونه . چې په څلورمې هجري پیړۍ کښې لیکل شوي د حقیقت او تخیل تر مینځ حکایتونه ، چې حقیقت یې وروسته څرګندېږي اوله تخیل نه بلېږي.

په کوم ترتیب ، چې لیکنه کېږي ورو ورو تفصیل ته ورځو دګردیزي تاریخ په یو څلویښتم مخ کښې داسې لیکل شوي ، چې حقیقت ګډ شوی له روایاتو سره ، چې دهغه چاڼ کول ، دتاریخ په نوی اصولو کېږي دادی دګردیزی خبرې دګرشاسب یا غرغښت بابا په باب.

" زوبن ، چې پادشاه شو " سران بن تشکان" یې له ایران نه وشاړه او ګرشاسب یې له ګرګان نه راوغوښت ، ګرشاسب زابلستان ته ولاړ او هغه ځای یې ونیو او ترهندوستان پورې یې خپل کړل اود فرامرز بن رستم بن داستاني تر مهال پورې دغه کورنۍ له ارمینیې یې ( ارمنستان ) ددجلې په لورې یو بند پرې کړ - او ویاله یې جوړه کړه ، چې هغه ته دزاب نهروایي ،بنونه یې سمسور کړل دخوړو شیان ډېرشول اوهغه ځایونه . چې افراسیاب رنګ کړي و بیرته یې ودان کړل"

دغه برخه په نظر کښې ولرئ . چې وروسته داکتلی شو . چې ګرشاسب یا غرغښت بابا له ارمنیې یا ارمنستان نیولې تر هندوستان پورې بریالی ماته نه خوړونکی مشر و ، چې دنړۍ تاریخ کښې داسې زمری نه دی تېر شوی

ګرشاسب غرغښت زړور . تل بریالی اوله ودانو سره روږدی دامن او هوسایي ساتونکی و . دده تعلیم اوپوهه . چې میړانه" امن " آبادی وی زمونږ ددغه بابا میراث دی .
ومن الله التوفیق
پراخ او غوره تفصیل د ګرشاسب په برخه د سیستان په تاریخ کښې او تاریخ پوه استان احمدعلي کهزاد په رساله کښې دی . چې وروسته به یې ولولوئ.

## ربښتینی پښتانه څوك دي ؟

پښتانه . چې پر پښتو او پښتونولی ودرېږي غلیمان (غلیم) هغوی ته فاشیست وایي .مونږ دنسل نژاد خبره نه کوو غواړم داسې خلك په ګوته کړم . چې په اوسني تعریف پښتانه نه دي خود پربنه پښتانه دي.
تاسی وګوری بودلف آرمن شاه یعنی د ارمنستان پادشاه حکیم بونصر توسی . چې په اسدي توسی نوموړی دی .سلطان محمود غزنوی او زابلستانی . پښتون په مېړانه رښتیا او عدالت پښتون دی داسې پښتانه پخوا هم وو اوس هم شته .
مادیوه مشرله خولې لیکلي و . چې پښتون نه کمونست کېږی ماته یې لیکلي و نور محمد تره کی . حفیظ الله امین پښتانه و کمونستان شوي و ماو لیکل بیا پښتانه نه وکمونستان و.
خوشحال خان وایي.

په داسپینه ږیرد . چې زه پښتون شوم
خدای می مه مکړه بیا مغل وایم په خیره

وایي په دقت سره داخبره کوم . چې زه مغل وم اوس پښتون شوم یعنی تر هغو پوری . چې مامغلوته کار کاو مغل وم اوس یې . چې پښتانه ته کوم پښتون یم . تردې روښانه اعتراف نه شي کېدای په همدغه اعتراف . خوشحال لوی پښتون دی.
همدغه خبره محمدګل خان مومند هم کړې ده که پښتون ناپوه . خیرن پمن دی دا زما ناسمي ده . چې دوی ته مې کارنه دی کړی محمد ګل خان مومند لوی پښتون و.

# گرشاه سب یا غرغښت بابا دسیستان په تاریخ کښې

سپهبدگرشاسب تازنده بود    څواتـل گرشاسب ژوندی و
نه کردش کس زبون نه افگنده بود    نه چاخوار کړی نه خورولی و
به هندروم وچین از نبرد    په هند روم او چین کښې له جگړی
بکرد آنچه که رستم دستان نکرد    هغه څه یي وکړل چې داستان رستم کړی

گرشاسب دسیستان په تاریخ کښې پوره خلېږي اودده خبرې له مخاك سره دگرشاسب بابا عقیده او فلسفه همدار راز دده قدرت او مشري مونږ ته څرگنده شوه . چې گرشاسب هماغه غرغښت غښتلی دی . گرشاسب بابا نه یوازې دپښتنو مشر بابا دی دنړی په تاریخ کښې دده دمیړانې غوره نمونې خلکوته دامن سیمه وی .پښتانه نه ویوازی خپله خانله دامن سیمه لرې نورو ته هم سیمه ورکړي دغه انگلبسي " اسایلم " هم هماغه پناه ورکول دي.

گرشاسب وایي مادغه ښارجوړ کړ. چې دټولو خلکو لپاره اسامه وي او دغه ښاربه څلور زره کاله همداسې پاتې وي څلور زره کاله وروسته د اسلام دین څرگند ېږی مونږ به مسلمانان یو.

بابا وایي ،مونږ حلال او حرام پېژنو . دروغ نه وایو ، میلمه پالو ، ناحقه خون نه کوو ، بدلمنی په مونږ کښې نشته که چیرې بدلمنه ښځه یا نارینه وي هغه به له بله ځایه راغلی وی . بیایې مونږ نه پرېږدو.

گرشاسب بابا ضحاك ، چې دده مېلمه وایي داخمکه دمېړنو خمکه ده دلته څوك اوسیدای نه شي . چې پاك او میړنی نه وي ، ساك پاك دي ساکستان ( سیستان ) د پاکومېړنو وطن دی .

ضحاك په خواب کښې ورته وایي رښتیا وایې ای پهلوانه ( [۶] ).

پوهاند حبیبی او نور لیکوال وایي ضحاك دساك عربي تلفظ دی یعنی معرب شوی دی.

---

[۶] پهلوا ه اوس دغیرو نیونکی ته وایي خوپخوا پهلوان مشر ته وایه کېده پهلوان پخپله یو سړی و چې پهلوی هم له هغه نوم نه اخستل شوی او دساکو مشردغه لقب درلود

دا . چې گرشاسب بابا هر خاى آباد وى دزرنج ښار نهرونه ده ايستلي سمسورتيا ده راوستې ده.
همدغه دگرشاسب يا غرغښت بابا اصول او لاره ده . چې دپښتنو پام ده ته او دده ميراڼې ته . چې هرڅاى بريالي و ماته نه ده خوړلې ډېره غوره خبره ده . چې دگرشاسب بابا لپاره په آرنستان غزني كابل زابل كښې كارشو دارمستر فرانسوى آرمن شاه اسدي توسى او احمدعلى كهزاد.

## گرشاسب په برهان قاطع كښې :

دغه لغت پانه ډېره مشهوره ده داسې ليكي :
گرشاسب باشين لفظ دار نام يكى ازاجداد رستم زال است و او سپراتردباشد او درحيات پدر پادشاه شد وهمان درحيات پدر درجنگ اسفند يار كشته شد . برهان قاطع ليكي .
گرشاسب هماغه گرشاسب داتر دزوى دى .په درېو ځايو كښې دى داترد زوى ښيى .
رستم دستان هم دساكستان دى دا . چې برهان قاطع والى گرشاسب درستم له نيكه گانو څخه دى خداى ښه پوهېږي
بارى دومره . چې رستم په قوم ساكستاني دى ډېر په ساكستان كښې و . چې رته گرشاسب بابا هلته پادشاه و
دا . چې برهان قاطع وايي . چې گرشاسب داسفنديار په جگړه كښې وژل شوى . احمد علي خان كهزاد ليكى . چې گرشاسب داسفنديار په جگړه كښې تپي شوى وژل شوى نه دى ځكه ده ماته نه ده كړې .
دافغانستان په تاريخ كښې گرشاسب يا غرغښت بابا اوسلطان محمود . هېڅكله دناروغ په توگه په بستر كښې نه دى پرېوتى . گرشاسب په يوې سمڅې ننوتلى اوبيرته نه دى وتلى او سلطان محمود زابلستانى هم په ناستې مړشوى پرېوتى نه دى ددغه خوى خلك پښتانه دى.
حكيم اسدي توسى . چې وايي : گرشاسب سپه سالار خوژوندى و چانه وغورځولى دگرشاسب خبره دكابل په مجله كښې راغلى . كال ۱۳۱۰ لمريز . چې هغه به هم وگورو.

دکابل مجله . چې وکتل شی هلته دفضلای غزنه په نامه شهزاده احمد علی درانی یوه سلسله را اخستې ده . . چې په هغې لړۍ کښې دحکیم ابونصیر احمدبن منصور اسدی توسي داسدي وړاندې نیکه ګان دعجم ( ایران ) پادشاهان و
همدغه اسدي د سلطان محمود غزنوي په دربار کښې علمي فرهنګي کارونه کول ده له سانسکریت ژبې کتابونه ترجمه کړي
هغه ګرشاسب نامه . چې دده په خط دی هغه مو وویل . چې د "ویانا" په کتابتون کښې دی دهغه یوه نسخه په ۱۹۷۹ م کال کښې دجرمني په ګوننګن ښار کښې شوی دی.
دګرشاسب بابا په برخه کښې دې معلومات برخه برخه راټول شي ځکه دی دپښتنو بابا دی په هر څه خبرو او کامل وګړی دی .
که څه هم احمد علی کهزاد ، چې له دېرې مینې یې خپل دوم نوم کهزاد له غرغښت نه ترجمه کړی دی په همدې مهال یوبل پوه لیکوال ناصر دغرغښت تخلص دخان لپاره تاکلی له دې داسې ښکاري ، چې هغه مهال ګرشاسب بابا خلکو پیژاند .
حکیم ابونصیر اسدي توسي ګرشاسب باباداسې په فارسي شعر معرفي کوي:

زکردار ګرشاسب اندرجهان یکی نامدبه یادګارازجهان زفرهنګ
ونیـرنګ ودادوسـتم زخـوبی وزشـتی شـادي وغـم
ز رستم همی چونکه خواهی شنود ګمانی که چون او مردي نبود
ګـراز روم ګرشاسـب یـاد آیـدت همـه کاررسـتم بـه یـاد آیـدت
مـن ایـدون زطـبعم بهـار آورم مـراین شـاخ رانـو بهـار آورم
ببادهرګـل کفـانم بـراو زابرسـخن در فشـانم بـراو
سـراییده دهقـان موبـدنژاد زګفـت دګرموبـدان کردیـاد

اسدي توسي دسلطان مسعود غزنوي په مهال ۴۲۵ هجري کښې مړ شوی دی . زرکاله وړاندې دګرشاسب نوم او کردار اوڅارو نن لکه ، چې یو خوب وینو دهغه دذکر لپاره مو لیکانې را اخستې دی په دې کښې مخه دبابا افکار میړانه اوشخصیت پېژندل دي ځکه په کوم زور او ظلم ، چې ددیموکراسۍ ډمامه غږیږي هرڅه یې راهېرکړي . دلریدیخ سینګار لیوني کړي یو.

دهقان په لرغوني ادب کښې مشرته وايي دحکيم اسدی له دغه شعر داسې څرګندېږي . چې ده دګرشاسب بابا دموبد له مشرنه اورېدلی وي . چې هغه له نورو موبدانو اورېدلی وي.

استاد احمد علی کهزاد وايي ، چې ګرشب نامه دمويدبلخی اودقيقی بلخی له آثارو ، چې دسيستان تاريخ يادکړی څه ليکلي اسنادو له مخې ليکل شوي ، چې خبرله اوستاويدا هم ډېره مخکې ده.

## غرغښت يا ګرشاسب

افتباس ، تحليل ، تعبير و تفسير از احمد علی کهزاد ، متن اشعار اسدی طوسی دغه کتاب يې دافغانستان دېرلوی تاريخ يې پوره ليکلی دی ټولو افغانانو لپاره دستاينې وړ دی . کتاب په ۱۳۷۸ لمريز کال دوری مياشتې په زرو ټوکونو کښې پښور کښې ددوهم ځل لپاره چاپ شوی دی دايو غوره چار بلل کېږي .

محمد داود وفا يادښت تر سريزې لاندې په ګلالی پښتو ډېرښه څه ليکلي دی خوله بده مرغه دکتاب په سمون کښې هيڅ پاملرنه نه ده شوې په حکمت بويه ولوستل شي.

پښتنو ليکوالونه هيله کوم ، چې دغه اثر ترلاسه کړي اوپه څوشانه هغه . وليکی دمثال په توګه دنثر برخه دې په پښتو واړول شي. فارسي ضروري اشعار دې ترجمه نور تاريخي معلومات دې پرې وليکل شي سيمينارونه دې پرې ترتيب کړي.

کوم کيفت ، چې دغرغښت بابا په ژوند ، افکارو اعمالو کښې دی هغه دپښتنو لپاره لاره ده.

همورابي ، چې اتلس پيړۍ مخکې تر ميلاده په بابل کښې کوم قانون ليکلی اوپه نړۍ کښې لومړی قانون دی هغه دپام وړدي وګورئ ، چې څومره پښتونولي ده همورابي Hammurabi څوك دی ؟ په دې به وروسته خبرې وکړو.

" استاد احمد علی کهزاد ليکي : غرغښت زمونږ دهېواد يونوميالی پهلوان دی . چې داسلام له لومړی سرنه دپښتنو په ټولو قبايلو کښې يې دننه اودباندې ډېرشهرت درلود اولری يي له دوو ورونو سره ، چې شيخ بيټنی اوسړبن دی دپښتانه درې اتلان اوباباګان دي ، چې اوستا کښې څوځايه غرغښته ،ګرشاسپه ياګرشاسب يادشوي دي.

دا ، چې وايي ، چې ددغو باباګانو له ښکاره کېدو يو زر او څلور سوه کاله کېږي که دهغوی تاريخ داوستا له مخې وګورو لږ ترلږه بويه زر کاله نور پرې زيات کړو . چې دوه

زره څلورسوه کاله شي يادرې زره کاله شي استاد کهزاد وايي زه دغه نظر منم اوتاييد يي کوم.

ACKU

# بيتنی ، غرغښت اوسړبڼ

استاد احمد علي کهزاد په خورا زړورتیا د دغو ملي اتلانو تاریخ له دریو زرو کلونو به لاړ پرې ، چې دتاریخ پاڼې وربانديې ښکلې شوې دي.
دغه دريې تنه نیکه ګان هریوځانله صفات لري هریوه په یوه علم کښې لوی لاس لکه شیخ بیتنی بابا په طب اوطبیعیاتو ښه پوهېږي ګرشاسب په ټولنه سیاست او اداره کښې لوړ ځای لري.
استاد کهزاد وايي : دپښتنو درې ګوني پلرو په بهرنیو ژبوکې ترنی ته Trenite وایي . چې دری ګوني نیکه ګان یې ترجمه کوم.
دلته زه دانه غواړم ، چې دپښتنو هغه شجرې وڅېړم ، چې دانګلیسانو په مهال " حیات افغاني " "خورشید جهان " کتابو کښې لیکل شوي.
استاد وړاندی وايي : غرشاسپه یا غرغښت یاګرشاسب داوستاپه شیت کښې دېریادشوی دی اوویل شوي ، چې له تربتون ( فریدون) وروسته ګرشاسب پادشاه شوی دی ، چې د " ساما" له اولادو څخه دی .سوما ، چې دیوه ډول ګل یابوټي شربت دی له بوټونه یه ناروغی کښې ګټه اخستل دیبتن ښځ کار و ، چې هر ډول بوټي یې پېژندل .
سام دغور دامپراتورانو دنوم لايقه وه ، چې عربی نه ده . سړبن بابا دښې ادارې اوښه سیاست اتل و.
استاد احمد علی کهزاد په خورا مینه خپل دغه نیکه ګان یادوي او ویاړي . دغو نیکه ګانو هر یو خپل مهارت مونږ ته پرېښی دی یو پښتون یا افغان پوه ،زړور ، ټولنه پال وي که مونږ دخپل دریې ګوني نیکه ګانو لار ونیسو خپل برم به ترلاسه کړو که دانه کوو اوس داخطر شته ، چې داقصه ختمه شي ځکه کال ۱۳۸۳ دجنګابن میاشت ده ، امریکا او اروپا هغه کابلی متل رښتیا ، چې وايي :
" هم نری هم غری هم جنګ خیبری " یعنی هم خان ښه اسان بولي هم بدلمني کوي هم کلك جنګ کوي . کور بارترمنزله نه رسېږي ، اوظلم کاسه نسکوره .اسدی توسی په یوه شعر کې دغه معجون تمثیلوی.

| | |
|---|---|
| شـه آرمـن ویشـت ایرانیـان | مـه تازیـان تـاج شـیبانیان |
| ملـك بودلـف شـهریازمین | جهـان ارائـي پـاك دیـن |

دغه ملك بودلف ، چې دارمنستان پادشاه دی هم ایراني هم عرب اوهم مغل دی په

حقیقت کښې نه ایراني ( ایران په اوسني شکل نه هغه مهال دایران هېواد نه و مطلب آرین دی ) نه عرب نه مغل دی.
دآرمن پادشاه دګرشاسب نامې دلیکلو هیله لري اوله اسدي توسي نه غواړي . چې دغربښت بابا په نامه یو کتاب ولیکي . ګرشاسب میړنی و ، دمیړنودنړی و نامیړنتوب یي نه لاره.
استاد کهزاد همدا وایي ، چې بودلف له ارمستان ، حکیم توسی له خراسانه ګرشاسبنامه جوړوي احمد علی کهزادیې تحلیل او تفسیر کوي څرګنده ده . چې پښتونولي یو مدنیت دی نه دیوه نسل یانژاد خبره .
" یو مشر صوفي وایي: که په انسان کښې روح نه وي دغوښو او هډوکو کڅوړه ده پښتانه کښې که پښتوانواله نه وي هماغه کڅوړه ده.
د ۱۳۸۳دزمری په اوړمه ، حامد کرزي په استانبول کښې دناټو دمشرانو په غونډه کښې وویل : دافغانستان خلکو دائتلاف له قوتونوخپله خوښي ښودلې افغانستان ته نور عسکر راولېږئ سبانه نن یي ولېږي" دغه سړی نه مسلمان دی نه پښتون که حامد کرزی زما دغه مطلب ولولي یایې څوك ورته ووایي : " څه هغه لاڅوك دی زه پوپل زی یم " " له پلار او نیکه خان یم" ته دهغونه یې ، ته ګرشاسب بابا شرمولی یې.
که حادخوشحال خان وصیت نامه لوستې وي پوهېږي ، چې خوشحال خان خپلو اولادوته ویلي څوك ، چې دننګ په ډګر کښې ملا درسره وتړي هغه ستاسو ورورونه دي دا ، چې ستاسو له مور اوپلاره پیدا دي دانه دي ستاسو ورونه که له تاسو سره دننګ په ډګر ولاړ نه وي

زه په ننګ دپښتانه یم دوی نیولی مغلان

دګرشاسبنامی اهمیت په دې کښې دی ، چې اتلان یې په کابل زابل او زرنج کښې دي ساکستان . چې اوس په ناسمه توګه سیستان بلل کېږي .
په حقیقت کښې دلوی افغانستان په خاوره کښې دي دلوګر جګړه په مجاوند کښې دسند سیمه بلخ او دخراسان ولایت.
سور ،ساك ، پاکت، کوچیانیان ، یفتلیان ، چې پنځه برخې شي مخکې تر اسلام اوپنځه تاریخي برخې وروسته داسلام له راتګه . چې صفاریان ( سګزی) (غلځی تره ګی

) ( غوریان )(سوریان) هوتك ، ابدالیان وي په دې لسو پېړونو کښې کوم ، چې لوی افغانستان بلل کېږي تامین و.
یو پښتون بویه دغه لس دورې وپیژني ، لوی افغانان دغه لس دورې په نظر کښې ساتي.
یوه هندو دچنګابش شپاړسم ۱۳۸۳ لمریز کال کښې دجنوبی اسیا له تلویزون نه وویل :
"افغانستان ښایي راتلونکې( آینده ) ولري خو افغانانو خپل تاریخ له لاسه ورکړی"

## همورابي Hammurabi اوپښتونولي

همورابی د بابل BaBylorio یوپادشاه دی ، چې ۱۷۵۰-۱۷۹۲ B.C یعنی مخکې له میلاده ۱۷۹۲-۱۷۵۰ دبابل پادشاه و . اداره کوونکی ، پادشاه ، قانون پوه او جنګیالی و. دی دامارت شپږم پادشاه وه دمقدونیې په جنوب کښې ، چې خپل هېواد ته یې سر اوسامان وباښه دامارت کلمه دومره زړه ده ، چې ځلورزره کاله مخکې په کارېدله.
په تاریخ کښې دده قانون لومړی قانون دی ، چې لیکل شوی دی.
غوره خبره داده ، چې دهمورابی قانون لارسه نومېږي Larsa ، چې همدغه دپښتو "لار" ده پښتانه قانون لار ته وایي . دا لارده دالارنه ده دپښتو په لار یعنی دپښتو دقانون له مخې.
همورابی په قوم کاسی دی ، زه ، چې لارسه قانون بولم همورابي ، چې کاسي دی هغه هم پښتون دی ، او قانون یې پښتونولي ده.
زه ، چې داخبره اوځار لیکم ځلور زره کاله پری تېردي.
اوس به خپل دلایل دمآخذ و سره ولیکم :
په انګلیسی ژبه کښې قانون ته لا" Law" وایي ، چې هماغه لار ده په تلفظ او معنی کښې یو ډول دی . که څه هم همورابي لارسه بللی کله نه لااو نه قانون وایي یوه بله کلمه دکود Code په کار وي.
تاین بي Toynbee وایي کاسیان اتلس پېړۍ مخکې له میلاده بابل ته ننوتل دوی کوچیان یا کډوال و آریان او ژبه یې اندارو پایي وه کاسیانو شپږ پېړۍ یې په بابل کښې پادشاهي وکړه . دتاین بی دغه کتاب ۱۹۹۷م کښې چاپ شوی او نوم یې " ځمکه دبشرمور" دی . داکتاب دنمونې په توګه وښودل په سلهاو نور کتابونه هم شته.

تاین بی Toynbee دشلمې پېړۍ لوی او منل شوی دتاریخ فیلسوف دی . تاین بی دتاریخ دلیکلو پخوانی څېر پرېښود او تاریخ یې دبشري مدنیتونو دکړنو پر بنسټ وښود او ده داخبره . چې څېپې راځي او ځي.
ده په دولسوټوکوکې خورا یولوی کتاب لیکلی . چې له ۱۹۳۴ م تر ۱۹۴۱ م . چې اوه ویشت کلونه یې ونیول . تاین بي وایي دمدنیتونه ځکه پاتې راشي . چې لږ خلك قدرت په لاس کښې ساتي . او نورو ته لارنه ورکوی اوپه زوره اکثریت غلې ساتي .ده په خپل لومړي ټوك کښې ویلي و لویدیځه نړۍ له دې آفته تښتېدی نه شي.
تاین بی وایي دلویدیځ او ختیځ له دین او عنعناتو دې یوه ګډه لاړ وموندل شي . چې جنجالي نه وي دا کار دې دپخو تاریخ پوهانو په مرسته وي . کومه خبره . چې تاین کړې ده تراوسه یو چلنج دی.
اوس ۱۳۸۳ لمریز امریکا ملاتړلې ده . چې دیموکراسي په زوره راولي پښتانه وایي : " په زور کلي نه جوړیږي".

## زما او دتاین بي اړیکې (٧):

زه لاپه اتم ټولګې کښې وم . چې یوه رساله په لاس راغله دغه رساله دتاین بی له تاریخي نوې فلسفې رالنډه شوې وه . کال ۱۳۲۷ لمریز تاین بی کابل ته راغلی ده غوښتل . چې دافغانستان دلرغوني تاریخ په باب خبرې وکړي دپوهنې وزارت ښوونځیوته وویل . چې له دولسمه تراتم ټولګې پورې له خپلو ښوونکو په دوو بجودملي ننداري سالون ته لاړشي
دغه مهال مادتاین بی دغه وړه رساله . چې یو خلاصه وه لوستی وه یعنی دی مې پیژانده دغه وړه ترجمه په فارسی ایران کښې شوی وه او نوم یې و " فلسفه نوین تاریخ " و مونږ له ښونځي وروسته وړې دملی ننداري غتې کوټې ته لاړو.

---

٧ زما اړیکی دده Toynbee سره همدومره و او دده نظردتاریخ په برخه کښې اوس هم دتایید وړ بولم تاین بی دمدنیت بوړ ـ کوز ( عروج نزول) عقیده درلوده بیایي داسی یوځه یي ویلی چې کولای شی دلویدیخ مدنیت ورعوړل شی ۲۰۰۴ م ۱۳۸۳ دامریکی او دهغه ملکرو برید پر افغانستان او عراق وښودله چې ویدیخ مدنیت له هغی ضربی نه شی خلاصدای کومه چې دوی پخپله ځانله ورکړه په تېره بیا په فغانستان چې دشمالی تلوالی مجرمین یي خپل ملګری کړل نوبیا څوك په دوی ویسانه کوی دامریکی تلکو کتابونه مقالی او فلمونه جوړ کړل چې دغه حملی یي وغندلې

کتل مو ، چې استاد احمد علی کهزاد راغی او دپروفیسر په باب کښې یې خبری وکړې
تاین بي پوره دوه بجې څرګندشو داستاد احمدعلی کهزاد دمعرفي په اغیز ټول ودریدل
او چکچکې یې کولې دتاین بي لومړی پام نه و چې په تا لار کښې څه شور دی . چې پام
یې شو سر یې دمننې په توګه و خوځاو لږ مسکی شو یې
تاین بی په فرانسوی خبرې کولې او استاد احمد علی کهزاد په فارسي ترجمه کولې
دتاین بي لومړی خبره داوه : " ماد کابل موزیم وکوت ډېرښه او مهم آثار یې درلودل
خوتر هغه ښه او مهم اثر پخپله احمد علی کهزاد دی"
مونږ بیا دافغان نامتو مورخ په ویاړ ودرېدو . یو کال مخکې تر دې ، په اوم ټولګی کښې
زمونږ دتاریخ ښوونکی استاد دوست محمد خان ، چې کومې خبرې دافغانستان
دلرغونی تاریخ په باب کړې وې دتاین بی په خبرو کښې مو واورېدې له دې خبرې زما
مطلب دادی ، چې زمونږ استادان احمدعلی کهزاد او دوست محمد خان ډېر دقدرور
خلك و خو مونږ نه پوهېدلو په کال ۱۳۷۹ لمریز کښې به امریکې کښې دویر جنییایه
ولایت کښې دایران بك په کتاب پلورنځي کښې دتاین بي وروستی کتاب، د " څمکه
دبشر مور" په نامه واخیست . چې دغه کتاب دده وروستی لیکنه وه.
تاین بی ۱۸۸۹ م کښې زیږیدلی و او په ۱۹۷۵ م کښې مړشوی دی.

## کابل ،زابل اوبابل

دا ، چې کابل زابل او بابل په یووزن اولت یادېږی کلونه په دی فکر کښې ، چې ددې
دریو مرکزو اړیکې څه ډول اوله کله به وي؟
کوم ارتباط ، چې په دې مینځ کښې لیدل کېده هغه تجارت و کورني اوبهرني لیکوالو
داخبره کړې ده . ، چې دلته به یې وڅیړو.
دهوتیکو ( هیتی) په کتاب کښې داخبره لیکل شوی ده ، چې د Mesopotamisnia
مرسه پوتوا تاجرانو له افغانستان څخه دوه ډوله قیمتی تیږې ، چې Lopis-Lazuli
نومېدل راوړل.
دغه زمانه د Branze یعنې دژیړو فلزووه او ولس سوه کاله مخکې تر میلاده دغه کتاب
تریو بریس Trevor Bryce لیکلی او داکسفورد پوهنتون له پلوه چاپ شوی مه سه تومیا
بابل نه مصر او مدیترانې پورې تلل.

دکابل زابل او بابل دتجارت خبره شوي ده خو داسې ښکاري ، چې دنومونو تږ دېوالي کښې یوه دتجارت خبره نه ده.

## کاسیان The Kassites

کاسیان هم لکه ساکان له هغوقومونو څخه دي ، چې پښتانه دی اوافغانستان کښې ژوند کوي هغه تاریخونه ، چې امریکا او انګلیستان لیکلي دوی کوچیان بولي ، چې زاګراس له غرو مده سه پوتایما (بین النهرین) ننوتلی بیایي په بابل کښې پنځه سوه کاله سیاسی واك په لاس کښې و ، اتلس پیړ مخکې له میلاده کاسیانو له مصر آسوریانو ، هیتانو سره دپلوماتیکی اړیکې درلودی Lexicon

Umrersal Encyclopedia ددوی ژبه داندو اروپایي له ډلې وه دغه داندو اریاتی اصطلاح غلطه ده ځکه دهند او اروپا ترمینځ ، لوی افغانستان ، ماورالنهر خراسان پروت دی ، چې دآریایانو یا همدغه قومونو ، چې ډېرې پښتانه قومونه افغانستان نه تللي ، چې ساکان کاسیان ، متانی ، هوتك ، لودیان ، سوریان.... دي خو داخبره څوك نه تولې نه کوي غلی غله دی.

دکابلستان زابلستان بابلستان اړیکی دهغه آثارو له مخې لیدل کېږي. ، چې په شلمه پیړۍ کښې لیدل شوي تر شلمې پیړۍ مخکې نه و موندل شوي له هغې نه یو دسند حوزه ده ، چې تاکسیلا کښې په ۱۹۲۰ م کښې وموندل شوه ۱۹۳۹ م دهاتیکو مدنیت وموندل شو ، دسوي ښار مدنیت په افغانستان مندیګك ، طلاتپه سمنګان او نور ځایو دهدغو مجسم آثارو له مخې لکه ، لوښی ، ګانې وسله اونورو سامان کښې هغه تاریخي څېړنې ، چې دآرکیالوجي له مخې شوي رښتیاني حقایق همدلته موندل کېږي

دپښتنو دتاریخ اوږدې په باب ناسمې خبرې ډېرې شوي او کېږي ، اوهمداسې ناتار ، چې پر پښتو دلویو قدرتوله خوا روان دی دوی پښتوژبه تاریخ هڅوب هرڅه باندې ناتار ګډ دی.

دواړه نــه کېـږی رحمانــه
یابــه یــاروی یابــه دار

تاسی خوانان ، چې خان پښتانه بولئ یا به خپل پښتانه ته کارکوئ ، ژبه تاریخ اوکلتور به یې ساتي یابه پیسو پسې ګرځې ځکه دواړه نه کېږي رحمانه ایران هند ، اوس

تاجکستان او ازبکستان ترکمنستان ستاسو تاريخ خپل بولي دايره المعارفو او کتابونه يې رسولي ده په انګليسي او جرمني ، فرانسوي او په نورو ژبو يې ليکلي دي او چاپ شوي دي دښوونځيو درسي کتابونه يې رسولي اخبارونو مجلوته .

## ژبه او دهغې څرنګوالی

نن په نړی کښې دکلماتو او لغاتو له نظره نګه او خالصه ژبه نشته ، هرڅومره ، چې په تاريخ کښې وړاندې او لرغونو زمانوته لاړ شو په ژبه کښې ورته والی ليدل کېږي داخبره يوازې په آريايي ژبو کښې نه دی ټولو ژبو کښې شته ، ډېرې لرغونې ژبې . چې مونږ يې خط نه شو لوستی ، په دې کښې ، چې ډېره مرسته کوي هغه دځايو نومونه دي همداسې دي دسړيو نومونه . په نومونو کښې که رسم الخط بدل شو بيايې موندل ګران شي.

دمثال په توګه ناصر په " ص" يوه خبره ده ناسر په "س" بل مثال آشور په الف مد اوعاشور په "ع " آسور چټك آشور شي " ش " . آشور باتې پال ديوه پادشاه نوم دی ناسر پال بل پادشا که ملتپال ، هېواد پال نو کېدای شي آشور بانيپال لقب يا صفت وي " ناسر پال " داسې وي.

پال په انګليسی اونورو آريايي ژبو کښې دنوم لپاره راغلی ، په پښتو کښې نه يوازې له نوم سره راځي دپال لـه يوځای کېدو سره ډېر لغات جوړېږي مېلمه پال وطنپال ، پښتونپال ، تورنپال . ..... پال دپاك معنی هم لري . پالوده پالش ........

کله " الف " پريوې کلمې زياتوي لکه شپه اشپه ، سور آسور بياله نسبتي "يای " سره آسوری شي.

کوم مدنيتونه ، چې دآسور يانو دي پال دضميمې په توګه منصبو سره راځی اوپښتو کښې دکارولو ډېرځايونه لري.

سور هم په پښتو کښې ډېره کاری کلمه ده سور – رنګ او سورګل ، سورلمر سری اوبه سره چاينکه ،سور سړی ، سورجدی ته هم وايي سور شو.

سور قوم ، شيرشاه سوری .......

## دځای نومونه

پکت ، پکتیا ، پکتیس ، پکتیسیا په ارمنستان کښې پکتیا دیوه ځای نوم دی ، چې مشهور دی ، داوسنی ترکیې کومه نقشه ، چې اتلس پیړۍ مخکې ترمیلاده ترتیب شوې ده په هغې کښې متانی ، "سبری "، "کوزودانه "، " ارزوواه" ، " ورشو" اونور فکرکېږي دا دپکتیا نقشه ده حتی کټواز نوم لیدل کېږي . په بشري کورنۍ ډېر حوادث مینځ ته راغلي ، چې ژبې یې سره بیلی کړی ،که مونږ وګورو دیوې کورنۍ غړي مور ، پلار ، ورور خور کاکا ماما په ډېرو ژبو کښې یو ډول ویل کېږي . مور ، مادر ، پلار ، پادر باپ فادر.....

انا – پښتو کښې اناده په ډېرو ژبو کښې .

## سوریاني کتیبې

په نړۍ کښې ویل کېږي پنځه زره کتیبې اوس هم شته په دغو کتیبو کښې انا – آبا _ ، میر ، پېر عزیز ، چې اصل کښې ازیز دی ازیز دمشر معنی لری مشر ، مهتر ، مها .
د هاتیکوپادشاه میرسیلوس هماغه میرویس دی

## قومونه او قبیلی

کاسی ، ساك ، متانی ، لوانې ،لودي ، سوري پاکتي ، دلرغوني زمانې ډېر مهم قومونه چې مدنیتونه دوی جوړکړي دي په عین تلفظ په انګلیسي منابع کښې یادېږي . له دغه خصوصیاتو سره لومړۍ آریایي دي دوهم کډوال دي درېیم له هغې سیمې راغلي ګوره . چې دځای نومونه دقومونو مونه نسل او دخوځیدوځای داتول په دې دلالت کوي ، چې پښتانه دي زه تر هغو دبشر تاریخ نیمګړي بولم خو دپښتنو سیمو ، قومونه . ژبه او پښتونولي څوك ونه پېژني اوپرې پوه نه شي.

هر ملت ،چې په تاريخ خبرنه وي
دزمانې سوك يــې را پــر ځوي
(بيهقي)

# دژوندون لار د تاريخ په پير کښې

## د پښتون په کور ناتار:

دا چې څوك پښتون دی او څوك نه دی ، دا خبره خوشحال خان په خپل وصيتنامې کښې ښودلې ده ((هرڅوك ،چې د ننگ په ډگر در سره ودرېد هغه پښتون او بابازی دی))
نن د القاعده او طالب په نامه څه ،چې گورو پښتون وهل کېږي ، ټوله نړۍ ببره شوې ده . هغه هم څومره ،چې خبرونو کښې راغلې پونده او بزگر دي ښځې اوماشومان ، خوشحال خان خبره روښه کړې ده ،چې پښتون د نسب په اعتبار پښتون نه دی د مېړانې په اعتبار دي .

نامرد فـخر په نسـب کا مــرد نه مــور لری نه پلار
چې هم تندر هم باران وي تــر هـغو مردانــو ځار

پښتانه پاکستان او افغانستان کښې ميشت دي ، په افغانستان کښې لومړی اکثريت په پاکستان کښې دوه هم دي کومې پېښې ،چې پېښې شولې له کال ۱۳۵۲ - ۱۳۸۳ ه ش د پښتون حال وېجاړ شو روسيې ، ايران او هند د لرِ گکيو تر شاودرېدل څوطالبان راغلل بيا ،چې شوروي روسيې ماته وخوړه امريکا سره جوړ شو د طالبانو د وهلو لپاره يو ځای شول.
د پاکستان پښتانه د افغانستان پښتنو ته کتل دپاکستان پښتنو د افغانستان ټول قومونه پښتانه بلل د افغان په نامه يې پېژندل .
د هندوستان مسلمانان ،چې له بنگال تر پنجاب پورې اوکشميراو جنوبي آسياپورې دوی ټول د غزنويانو ، غوريانو او ابداليانو سره تاريخي اړيکې لري او له دې امله لويديځ نړۍ وال پوهېږي ،چې د افغانستان قوت و حدت د تاريخ له مخې له مرکزي آسيا تر شمالي او مرکزي هند پورې ساحه نيسي اود کسپين له سمندر گي تر بنگال پورې په

ټولو تاریخي دورو کښې له کوشانیانو (کوچیانان) یفتالیان ، صفاریانو ، غزنویانو او ابدالیانو پورې یوه حوزه وه او دغه حوزه بېرته یو کېږي.

خاص بنده د خدای (ج) هغه ګڼه خوشحاله
چې د ځان په معرفت یې سر فراز کا

په دا مهال، چې هر خوا ناتارونه دي، سر فرازي لږه ده ، اسلامي نړۍ کښې د ګرموالی (ملامتیا) حالت دې لویدیځې نړۍ د پانګې اوتکنالوجۍ سپه توان یوه جګړه پېل کړې ده ، دغه جګړه ددوی د مدنیت نقاب ایسته کړ ، پایله به یې ددوی لپاره ښه نه وي.

د فرانسې حکومت په همدغه مهال له اسلامي پوړنی خپله وېره وښوده د یهودو او عیسوي خولې او صلیب ،چې غاړه کښې یې وي ددغه حکومت له پلوه منع شو.

وېره له چرګانو او ځارویو هم پېل شوه ، که په یوه الوتکه کښې د اسلامي نوم یو سړی وي هغه الوتنه معطله شي ځوله هغه پلټنه وشي.

په داسې مهال کښې د هویت خبره ده ،چې مونږ پښتانه یې د بنسټیه د هویت یا ځانګړیتوب لپاره لرو، چې اسلام پښتواوپښتونولی ده ډېر پښتانه اوښتی دي مونږ په دې خبرې ولاړ یو ،چې افغانان یو دغه نوم مود افغانستان له ټولو اوسېدونکو سره شریك دي ، ټول تاجك ، ازبك ، هزاره ، پشه یي ، نورستاني او نور د هغو په خطانه شمېرو ،چې پښتانه یې د طالبانو په نامه ووژل هغه هم د امریکې په توان ، پښتانه او طالبان مسلمانان دي ،چې د کافر په چاړه یې حلالول له اسلام انسانیت اووطن پالنې خلاف چارې دې اوداشوي دي ،چې راتلونکي کښې به ملت ددې فیصله کوی. افراد یې د بښلو حق نه لري دا به په شریعت او پښتو پرې کېږي.

چې په نامه پښتون وي دغه حساب به کوي ،چې وروریې پر ځای پاتې شي که دا ونه شي وروري نه کېږي.

کوم ظلم، چې په نامه پښتنو پادشاهانوپر ټول ملت کړی و لږه کیو هغه د پښتانه ظلم و باله کومه پادشاهي ،چې زماپه یاد ده هغه د ظاهرشاه ده په دغه دوره کښې د ببرك خان زوی په پکتیا کښې ووهل شو ، ساپیان په کونړ کښې ، سلمانخېل په کټواز کښې ، بیا قند هار کښې قندهاریان .

هیڅ غیر پښتون نه دی وهل شوی

چې په نامه پښتون غوځېږي پرې خو ښېږي
اور نـګ زیب هسې پادشاه دی د اسـلام

# پښتوژبه او خوشحال خان

د پښتو ژبې ډېره خوبي ورکړه
چې خوشحال کړه پښتو شعراغاز

خوشحال خان د ژبې موضوع ته پام کړی و او پخپله زمانه کښې یې ،چې شپاړسمه پېړۍ وه د ژبې موضوع ته یې پام اوښتی او هغه یې په دې الفاظو ویلې دي.

تـه چـې ماتـه عـربي خـبرې وایـي د عـربو ژبـه څـه زده عـجمي
کـه خبر په دا مثـال یـې وی وایه چـې په ګوتـه ، یوه ګوتـه دوه غـمي
پادشاهان به یې هیڅ کوم نه کاخوشحاله که یو خدای د سړی نه شي په کمي

که په تـومن کښې ژبې دوه یـا درې شي تـول بـه ناراضـه وي د حکومـت کمزوری بـه پـه همدې کښې وي واقعیت دادی ،چې واحد هېواد واحده ژبه .

د پاکستـان د اردو ژبې فلسفه داده ،چې دوی خپـل هېواد د اسلامي هند وارث بولي نو په پښتنو سندیانو بلوڅو او پنجابیانو اردو وایي دوی یې هم په خوشحالۍ وایي.

افغانستان کښې پښتانه دي ،چې دسور ،ساك او پاکتیانو ، میراث یې ساتلي دی او هغه مدنیتونه دي نه قومونه .

## د یوه مبړنی لیدل اودژوند بدلیدل :

د ۱۳۲۰هـ ل کال دلړم د میاشتې او لسم و لـه کوره ووتم د شور بازار پـه لـور ولاړم دا مهال لس کلن وم هلتـه یو درې لارې وې ، چې یوه یې لـه آهنګر خانې نـه شوربازار تـه وتلې وه ، یوه لـه بالاحصار او تختـه پلـه راتله او درېیمه دشور بـازار خواتـه پـه همدغـه درې لارې کښې مې ولیـدل ،چې خلك و درېدل اود بالاحصار لارې تـه یې کتـل هلتـه ،چې تختـه پل تمامېده .

یو دروند سړی سپینې جامې توره ږیره تور پټکی قطار وزمـه یې پـه غاړه پیش قبضـه یې تر ملا له څو تنو سره روان ذی د شور بازار په لور راځي زه هم ودرېدم .

داسړی زمرك خان ځدران دی د ببرك خان زوی د مزری ځپلی یې په پښو وې خلکو سلام کاو هتی وال په هتیو کښې و درېدل او لاسونه یې پرتندي ایښودل.
دی د لویې جرګې لپاره راغلي و کومه ،چې جرمني ماهران یې له افغانستان څخه ایستل د انګلیس او روسیې یا دمتحدینو غوښتنه وه ،چې جرمنیان ایټالویان او جاپانیان دوی ته وسپاري.
زمرك خان په لویه جرګې کښې ویلي و ،چې د افغانستان حکومت دی یوازې وسله راکړي نفر او د هغوی خرڅه به زمونږ وي خو مونږ جرمنیان ایټالویان او جاپانیان ،چې افغانستان کښې کارکوي او استخدام شوي دي.
د هغوی د ښمنو ته په لاس نه ورکوو مونږ له انګلیسانو سره جګړې ته چمتو یو فیصله په دې وشوه ،چې دغه متخصصان دې روغ رمت خپلی خاورې جرمني ایټالیې او جاپان ته ورسیږي انګلیستان او روسیې ضمانت وکړ.
د کابل خلکو ویل : آغا شیر است آبروافغانستان راخرید.
ماله ځانه سره وویل میرنتوب ښه کار دی دغه سړی څو مره درونډ روان دی او خلك یې بې رسمیاتو احترام کوي.
له همغې ورځې دنوکرۍ فکر زماله سره لاړ او میړانی ته مې پام شو.
پښتو او پښتونولی ته دادی تر اوسه ،چې درې اویا کلن یم ما همدغه لاره نه ده پرېښې دومره حکومتونه راغلل لاړل د هیڅ یوه په لومه کښې نه وم د افغانستان ټول خلك میړني خوښوي او هغه ،چې د افغانانو پت وساتي.

## د تعصب په دور کښې

کله ،چې کمونستان راغلل او روسان راغلل دقوم په ځای یې ملت ووایه همغو ،چې سوسیالزم وایه د نژاد قوم او ژبې خبرې یې پورته کړې ملي روحیه لاړه هغه ،چې به یې ویل "آغا شیر است آبرو افغانستان را خرید" نور د افغانستان د پت اخستل نه و خرڅول و پیرودل په پلورل بدل شو.
اصیل څوك و : د پښتونولی له مخې اصیل هغه دی ،چې نه پلورل کیدای شي نه پیرېږي.
رحمان باباوایي :

اصیل چاپېرودی پلورلی نه دي ته په تورو سترګو اصیل پلورې پېرې ؟
داسې نه شي کیدای په خبره ځان پوه کړئ.
همدا ډول د اروابناد په دغه کتاب کښې کله ،چې د ۱۳۲۰ هـ ل لویې جرګې فیصله د جرمنیانو په باب یادوی زمونږ لپاره کار کوي دوی دښمن ته نه سپارو مونږ یوازې وسله غواړو خلك او نور مصرف به زمونږ خپل وي ،چې مطلوب د پکتیا خلك و . او په همدې د افغانستان ټول خلك خبرو .
نو محترم مورخ غبار دغه دوهم ټوك نه دی لیکلی.
کوم مسایل ،چې مرحوم میر غلام محمدغبار لیکلي و د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۴۳ هـ ل وروسته د ګوندونو او د هغوی سیاسي منابعو برخه وه او پخپله ده ماته ویلي و.
په کال ۱۳۴۶ هـ ل محترم مورخ غبار په میوند واټ کښې د افغان ملت د فترته راغی او " افغانستان در مسیر تاریخ " د لومړی ټوك د فاع یې راوړه ،چې مونږ چاپ کړه بیا اروابناد نور احمد اعتمادی صدر اعظم زه د افغان ملت د جریدې مسوءل مدیر صدارت ته و غوښتم او د کتاب په باب یې خپل نظر ووایه مطلب یې دا ،چې د غبار دفاع بیا چاپ نه شي او بیامې هم چاپ کړه د کتاب دوهم ټوك ،چې وکتل شي اوله لومړي ټوك سره پرتله شي دوهم ټوك د غبار نه دی څه ،چې ضروري و هغه یې په لومړي ټوك کښې لیکلي و دو هم د نادرشاه او د هغه د کورنۍ په باب یوه څېړنه ده نه تاریخ.
هماغه خبره ،چې لس کلنۍ کښې مې اورېدلي وه " آغا شیر است آبرو افغانستان را خرید" د یوه میړني په باب یعني زمرك خان ځدراڼ د ملت د زړه خبره وه تر اوسه ،چې درې شپېته کاله تېر شوي هماغه د کابل د خلکو خبره ده ،چې د آغا[1] زمری دی د افغانستان پت یې وساته "که چېرې دا ډول مسایل په پام کښې نه وي پایناب به هم نه وي بد مرغي به وي غوځه فیصله بویه وشي . بېرته ملت جوړشي شیر شیروی ګیدړ ګیدړ ، هر څوك ،چې زمری وي زمری به وي له هر افغان اوسېدونکی چې وي .

---

۱. آغا یوه لرغوني کلمه ده ،چې درې زره کاله د مخه تر میلاده وه او سومری کیتبوکې راغلې ده .

زه له مورخ غبار نه په دې ماښجن يم ،چې د افغانستان درمسير تاريخ دويم ټوك کښې که پخپله ليکلی وي که يې زامنو ليکلی وي نو خپل پلار ته صادقان نه دي په کومه خبره ،چې اروابناد غبار پوهېده مونږ هم پوهېږو.
کوم سړی ،چې عظيم جان منشي زاده نومېده . او دانګليستان د بمباريو له کبله يې ،چې پر مومندو او وزير ستان يې کړې و ۱۳۱۱ هـ ل غوښتل يې د افغانستان دولت پر انګليسانو اعتراض وکړي او دولت نه کاو نو عظيم جان منشي زاده لومړی د بهرنيو چارو وزارت ته لاړ هلته يې د بهرنيو چارو وزير ، چې فيض محمد ذکريا و ونه موند بيا د انګليستان سفارت ته لاړ او هلته يې يو انګليس يو هندي او يو افغان ،چې هلته يې کار کاو ويشتل. بيا هماالته يې تمانچه و غورځوله کښيناست ( باغي چوکۍ باندې ) له جېب يې سګرټ وايستل او په څکولو يې پېل وکړ ،چې ونيول شو . عظيم جان د اماني ښوونځي معلم و او په جرمني کښې يې سبق ويلي و دده دغه کار يوه ملي انګېزه درلوده ؛ دې موضوع ته ،چې عظيم يې پاڅولی و هيڅ اشاره نه کوي.
د غبار په تاريخ کښې دا نه دی راغلي ،چې د عظيم خان مړی کوم تعليم لرونکی د جواليانو په مرسته دده کورته ورساو انجينر غلام محمد وايي دشپې مو دده مړی خاورې ته وسپاره او قبر کيندونکی دو مره وېرېدل ،چې قبريې وړوکی کيندلی و.
عبدالصبور غفوري ،چې د " کشتی نشينان مرګ يا زندانيان قلعهء ارګ" په کتاب کښې د عظيم خان د اعدام منظره ليکلي ده بله دا ،چې عظيم د کوتوالۍ په ګنبد کښې و ځړول شو نه په د همزنګ کښې .

## د ژوند لاره د تاريخ په پېر کښې

اويستا او د هيرو دتس " تواريخ " دوه مآخذه دي ،چې د پښتانه د ژوندون لاره ترې څرګند ېږي ، نور داسې سرچينې په لاس نه د راغلي ،چې تر دې لرغونې وي.
پاکت ، پاکتي ، پاکتيسا [1] هيرودت په تفصيل يادکړي اويستا ،د ګرشاسب ، بيتن سرند ، د غرغښت ، بيت ، او سرند) ،چې د پښتنو درې نيکونه دي.
دغه دوه سرچينې په نړۍ کښې يوازينۍ دي ،چې د تاريخ پلار هيرودت او اويستا ډېر څه په دې برخه کښې ويلي دي.

---

[1] Patycia, Pacty, Pact . هيرودت توراېخ The Histories of Herodotus

پښتونولی له همدغو زمانو خپره شوې ده ،چې پر همدې بنسټ د بشر د مدنیت یو میراث دی دغه غرغښت ، بیټنی او سړبن ،چې د پښتانه درې نیکونه دي دا تاسې ومنئ،چې یوازې د پښتنو نه دی ، پاکتیا په ارمنستان کښې انګلیستان پاکتیس په نوره اروپا کښې ساك ، بیا امریکا کانادا استرالیا ته خواره شوي ډېر پرمختګ شوی .
پښتو او پښتونولي نه لري لکه ،چې هندوستان کښې ترې پاتې دي لږ تر لږه دوه سوه میلیونه ساکان په ګجرات او جنوبي هند کښې ژوند کوي ،چې اوس هم د کالیو او کلتور له مخې د پښتونخوا د غرو له خلکو سره توپیر نه لري.
زمونږ لوی تاریخ پوه احمدعلي کهزاد خپل دوه یم نوم کهزاد د ګرشاسب او یا غرغښت د ترجمې په توګه خپل کړی او ناصر غرغښت بل افغان لیکوال و غښتلی بل ، وروسته دوی نه و او د تعصب څپو د خلکو ستر ګې ړندې کړې.
په کال ۱۳۸۰ هـ ل ۱۳۸۱-۱۳۸۲ هـ ل پر پښتنو داسې ناتار د ټولې نړۍ له خوا راغی ،چې په تاریخ کښې ساری نه لري په عراق باندې هم دا ،چې ولی پر دواړو راغی ؟
دغه موضوع به په دغه کتاب کښې و څېړل شي.
د هیرودت تواریخ ، چې د ټولې نړۍ لپاره یوه تاریخي سرچینه ده له ښې مرغې د پښتنو او د پښتونولۍ لپاره ډېر څه لري که دانه وای زمونږ لپاره به ډېره ګرانه وه ،چې په نورو سرچینو دا خبره ثابته کړو.
د ژوندن لاره : له همدغې منبع لاس ته راغي اوس به یې و څېړو او تفصیل ته به یې لاړشو خوشحال خان یو مفهوم بیانوي ،چې دلته یې راوړم اوله هغه خپل مفهوم اخلم.

احسانمن د خپل خالق یم سره د واړه بدبختیو
اول دا چې زه پښتون یم او بیا یم خوشحال خټك

که څوك وایي زه پښتون یم یعنې څه ؟ هرو مرو یو تعریف د ځان کوي پښتون په مجرد صورت کومه معنی نه لري ،چې په ویاړ یادشی ، دی غواړي ،چې وواېي پښتونولي لري یاد ژوندون لاره یې پښتونواله ده .
هیرودت (۴۹۰-۴۲۹ مخکې تر میلاده ) د تاریخ په لیکونکو کښې کوم بل تاریخ تر مخې نه لري څه ،چې ده په خپلو اوږدو سفرونو کښې لیدلي یا اورېدلي هغه یې په خوږه ژبه لیکلي همدا ډول ده نه غوښتل کومه موضوع ثابته کړي.

پښتون ، پښتونواله ده یاد کړي مګر زمونږ له نظره د پښتنو یاد دده په تاریخ کښې بل صورت هم لري ،چې هغه پښتانه قومونه دي او هغه درې دي هر یو یې ، د ژوندون لاره لري . او هغه دادي.

لومړی : لودي قوم لودیا

دوه یم : ساك ، ساکان ،سکائیان

درېیم : سور ، سوریان فنیقیان ،چې سوریان دي.

د هیرودت په توراریخ کښې دغه قومونه،چې په تفصیل یادشوي پښتانه دي ؛ ځکه ،چې په اوسني پښتنو ځانګو کښې لکه په ونه کښې دوی شته پښتو ژبه او پښتونوالې سره پښتانه بلل کېږي.

دلته دا سوال رامینځ ته شي لودیا ، ساکان ، لوګري ، متاني ، لواني ، جدون ، شیرواني ، اورمړ ، جاروتلی ، هاتیك او نور قومونه ،چې په اوسنی ترکیې ، کسپین او مرکزي آسیا کښې اوسېدل څنګه نن د لوی افغانستان په سیمه کښې لیدل کېږي تاریخپوهان او مشهور تاریخ پوهه آرنولد تاین بی وایي : " دوی ټول آریایي دي او ژبه یي سانسکریت له ژبو څخه ده د یونان ، روم ، د بریدونو له امله د افغانستان په جنوب کښې پنډ شوي".

په افغانستان کښې تاریخ تر اوسه سم نه دی څېړل شوی علت هم د تاریخي آثارو لږ والی و مګر هغوی ،چې نن یې ډېر آثار په واك کښې دي ددوی چار او کار دی ،چې پښتانه له ابهام نه وباسي سم تاریخ په لاس ورکړي.

مخکي تر دې ،چې خپل مطلوب د هیرودت له کتابه بیان کړم د خوشحال خان ختك له نظره پښتونواله ، میړنتوب یا پښتون اوسیدل لیکم.

د عالم ډېري خبرې ،لورپه لور توري لښکرې
زړه مې نه خوځي له ځایه ،غرخوهسې وي کنه
چې يې رېبم عمل لاکا ،چې يې ورك کړم ځان پیدا کا
ورځ وشپه دا هسې کر کړم ،کر خوهسې وي کنه

پښتون د غره په شان ټولو حوادثو ته ولاړ وي ، که یې څوك وربېي په ښه صورت دې ببرته و درېږي.

**د پښتنو پلرونه** : یو شمیر پوهانو زر کاله د مخه د پلرو په برخه کښې خبرې کړې دي.
د پښتنو درې پلاره گرشاسب (غرغښت) پیشن او سرند (سړبن) هریو یو ځانگړی مهارت درلود لکه بیټ بابا په طبابت کښې استاد و.
همدغه موضوع ډېر تفصیل لري ،چې د پښتنو د پلرو په باب زر کاله د مخه چا خبرې کړې ،چې اوس یې څوك نه کوي ؛ ځکه دا پوهه چاسره نشته ،چې هغه پوه دا موضوع په لسمه میلادي پېړۍ "آرمن شاه" په ارمنستان کښې ،چې بودلف نومېده راخېړلې وي.
دا دوره د غزنویانو روښانه دوره ده په دې باب به بیا خبرې وکړو اوس به پښتانه د هیرودت په تواریخ کښې وگورو.

**لومړی څرك لودیا – لودی** : لودیا هغه ځمکه ده ،چې اوسنی تر کیې ته نژدې همدا ډول مدیترانې ته نژدې ده دلته لودیان اوسیدل ، د هیرودت په وینا ددوی پادشاه کرزوس نومیده .

**سیمه ورکول**: یو زلمی ،چې د "میداس" لمسی و خپل ورور یې وژلی و کرزوس ته یې پناه راوړه کرزوس دی وساته ځکه ده پر خپل جرم اعتراف کاوه او ډېر پښېمانه و.
بله ورځ د پادشاه ځوی دیوه خطرناك ځناور ښکارته لاړ د میداس لمسی هم ورسره ولاړ هلته د میداس لمسی پر ځناور دغشي وار و کړ له بدی مرغې غشی پر شهزاده ولگېده او شهزاده مړشو . پادشاه کرزوس له حده زیات خواشینی شو ،چې ځوی یې دده د میلمه له لاسه ووژل شو . بیا یې هم وویل : چې د میداس لمسی زما ځوی په قصد نه دی وژلی دا آسمانی قضاوه . هغه یې وباښه .
خو د میداس لمسي ،چې ولیدل پادشاه وباښه ده ځان په دواړو جرمونو ونه باښه چاره یې له ملا وایسته او خپلې گېډې کښې یې ننه ایسته او ځان یې مړ کړ داسې وي پښتونولي ،چې پیاوړ وجدان ولري او ځان پخپله معاف نه کړي نن له دې قصې دوه نیم یا درې زره کاله تېر شوي ،چې د پادشاه قضاوت او عدالت څومره و ؟ او د میداس دلمسي ؟

## دوه یم ځرك

**دلودي میرمنې پاکلمنې**: "میر" یو کلمه ده ،چې څو زره کاله مخکې له میلاده په کاریدله "Mir" "میرویس" هم دومره پخوانۍ کلمه ده ځینو داسې فکر کاوه ،چې میرویس میر و اغلط وي کله ،چې سړی د هاتیکو تاریخ وګوري نو په هوتکو کښې اولس پیړۍ مخکې تر میلاده دغه نوم و هیتی ، هاتیك هم په اوسنۍ ترکیې کښې و ،چې دغه مدنیت او تولنه بېل ځېړل شوي دي میرمناده د کرزوس اصلي نوم دی.

کندول شاه په "ساردیس" کښې پادشاه و په لرغوني تاریخ کښې دغه ښار مشهور و ، یو نانیانو کندول شاه ته میرسیلوس ویل یایې باله.

کندول شاه ډېره ښکلې ښځه درلوده او دی د هغې لیونی و د جهان تر ټولو ښایسته ښځه دده وه کندول ته یو عجیب فکر پیدا شو ،چې دده میرمن پر ته له ده بل چانه ده لیدلې نو وې غوښتل ،چې دده له نو کرانو نه یو ،چې دده ویسامن و دده ښکلې ښځه و ګوري . دغه سړی ژیګس نومېده کندول دغه ویسامن نو کر ته وویل زما میرمن ډېره ښکلې ده د هغې د ښکلا په باب ،چې هر څومره درته ووایم بیا هم تصور یې نه شې کولای . غواړم ،چې ته هغه په خپلو سترګو وویني.

نوکر چیغه وکړه د خدای ﷻ لپاره سرداره هغه ستا ده زما دی سترګې ووزي ،چې دا کار و کړم کندول ډېر ټینګک شو په دې خبره ، او داډ یې ورکړ ،چې تاته څه نه پېښېږي.

ژیګس نوکر په یو غلی ځای کښې پټ شو ،چې کندول ورښودلی و دشپې کندول خپل د خوب کوټې ته راغی ورپسې یې مېرمن راغله او کالی یې وایستل میرمن ،چې خاوند سره پرېوته نوکر غلی له کوټې ووت ، شپه په کراره تېره شوه د کندول مېرمن هیڅ کوم اغېز ونه ښود.

په سبایې ،چې ټول نوکران راغلل عادي کارونه پیل شول د کندول میرمنې ژیګس نوکر ور وغوښت نو کر ،چې فکر نه کاوه میرمن به پوهیدلې وي په عادي توګه ورغی .

کله ،چې د شاه بانو حضور ته ورغی هلته يې يو ګيلاس داوبو او يوه توره وليده ميرمن ورته وويل: " دغه ګيلاس کښې زهر دی او د اتوره ده ته به يادا زهر څښې او ځان به وژني يا دا توره اخلې کندول به وژنې ، زه يوه لودی يم يو تن کولای شي ما دخوب په کټ وګوري ،چې دوه شي بويه ووژل شي".

<u>دريم څرك</u>: سکائيان ، ساکان ، (Sakas) دا هم يو لرغونی پښتون قوم دی.

په افغانستان دا قوم ،چې ساك دی او ځمکې نوم ساك ، په کابل ساك ، سروبي کښې ساك ميدان کښې ساك پکتيا کښې لغمان کښې دا هغه ساکان دي ،چې د ساك په نامه دي ځيني قومونه په اصل کښې ساك دی او خپل نوم يې اسلامي کړی دی لکه ابراهيم خيل بايريم خېل داسې به نور هم وي ځينې دا هم وايي ،چې ټول پښتانه ساك دي.

يو شمېر ليکوال پښتانه سيوه اتحاديه بولي ،چې ډېر قومونه په کښې راټول شوي پښتو او پښتونولی يې خپله کړې ده.

هغه خلك ،چې د پښتو او پښتونولۍ دا خبره په کلکه فاشيستی بولي کلك ناپوهان دي.

پښتانه نه شي کولای ،چې د څو زرو کلو د ژوندون لاره د شرق يا غرب لپاره پرېږدي.

## دساکو ژبه او جرګه د هيرودت په تواريخ کښې ۴۸۰ پخوا تر ميلاده:

د هيرودت په تواريخ کښې دا موضوع داسې راغلې ده ( لومړی کتاب).

د يو شمېر ساکانو ،چې پونده و له خپل ګاونډسره يې شخړه شوه نو دوی د ماد هيواد ته پناه يو وړه د ماد پادشا کياکسر ،چې ددياکو لمسی و . له ساکانو يې هر کلی وکړ له هغوي يې وغوښتل ،چې ددوی زامنو ته سکايې ژبه ور زده کړې او هغوي ته دغشي ويشتلو اصول ور وښيي.

مونږ نه پوهېږو ،چې سکايي څه ډول ژبه وه خو تاريخ پوهان وايي سانسکريت ډوله وه لکه ،چې پښتو ده .

# لويه جرګه او دساکو پادشاه

دا په تاريخ کښې ډېره لرغونې لويه جرګه ده ،چې د هيرودت په څلورم کتاب کښې راغلې ده ، داريوش دپارس پادشاه وروسته له هغه چې پرلوديانو بری وموند په ختيځ

کښې یې ساکانو ته ملاوتړله ، ساکانو چې داحال ولید ؛ نو لویه جرگه یې راوبلله اوهغه دغه قومونه په کښې و :
توري ، آگاتیرسي ، نري ، اندروفاگي ، ملانکلاني ، گلوني ،بودیني اوسرماتي . دلویې جرگې له خبرو دوی ونه شوکولای یوې پایلې ته ورسېږي داسې چې اگاسترسي ، نري ، ، اندروفاگي . ملانکلاني اوتورویو وویل ((که چېرې تاسو (ساگان ) پرپارسیانو پخپل سر برید نه وای کړی اومونږ موپوښتېدلی وای نن به تاسو سره ولاړ و .
دپارسیانو تاوان نه و رارسېدلی اوس که پارسیانو حمله وکړه مونږ به یې مخه ونیسو مگرمونږ برید نه کوو ترڅو چې هغوی جگړه پیل نه کړي . )) تواریخ ۲۷۹ مخ
په دې مهال کښې لویدیځه نړۍ مونږ ته دیموکراسي رابښیي تاسې وگورئ چې درې زره کاله مخکې مونږ څومره دیموکراسي درلوده دلویدیځ ددیموکراسۍ درې سوه کاله نه کېږي هغه دپانگې دپاره اومونږ درې زره کاله دمخه هغه هم دتاریخ لپاره دهیرودت له قوله :
کوم بل قوم چې هیرودت هغه یادوي سوریان دي .
ساکان دهندپه گجرات کښې او جنوبي هند کښې تردوسوومیلیونو هم ډېردي سوریه عراق اومنځنۍ اسیاهېوادونه سوریان دي ، دژبې کلتور یا هڅوب له مخې عرب بلل کېږي .
افغانستان اوعراق چې نن ۱۳۸۲ هـ ل کښې وهل کېږي اوامریکایان ورته راغلي مونږ که چېرې په دې پوهېدای چې ولې دغه دوه تومنه ( هېواده ) ځپل کېږي ؟ زمونږ ډوډۍ په غوړیو کښې وه
تومن یوه زړه کلمه ده چې دوطن اوهېواد لپاره ویل کېدله ، خوشحال خان وایي

چې په درست تومن اوڅاردی
نن هـــــغه زمــــــیار دی

په پښتوکې (ها) لیري ته ویلې له ها- هغه - هلته دا لاځه چې دهایکو په هېوادکې چې هماغه اوسنۍ ترکیه ده یو ولایت دتومنا په نامه دی چې دغه کتاب اونقشه ماسره شته ددغه کتاب نوم دی دهیټیانو دهائیکو تولنه او اصول یعنې دژوندون لاره .
دژوندون لاره : اوس به دغه کتاب معرفي کړم
دکتاب نوم : life and socilty in the Hittite world دهیتي نړۍ ژوند اوټولنه

لیکوال : Trwvor bryce
کال : ۲۰۰۲ م
دچاپ ځای اکسفورډ
دHattc نوم هماغه Hettite دی چې کتاب یې اصلي نوم هاتیك ښیي ددوی ژبه لواښي یادېدله ، دوی دبرونزپه عصر کښې پادشاهي کوله ددوی لوی پادشاه میرسلوس نومیده دوی همدغه هوتك دي . ځکه له افغانستان تللي دي ددوی مدنیت زمونږ لپاره ډېر اهمیت لري ددې کتاب لوستل اوپه هغه ځان پوهول دپښتنو په تاریخ کښې یو نوی باب دی .
بیهقي څه ښه خبره کړې ده څوك چې په تاریخ پوه نه شي دزمانې په لاس به وځپل شي .
دپښتانه تاریخ دا نه دی چې زمونږ لیکوالو ویلی دابه ډېر کار اومنابع غواړي ماځکه دالنډ لنډ ولیکل ماخذ مې هم وښودل چې بل څوك دانیمګړې هڅې بشپړې کړي .

## دهاتیکو دژوندون لار :

ددوی دژوندون لار کتابونه دي پروفیسران کار پرې کوي . خویوه بېلګه دادی چې پښتانه مري اوغلام نه ساتي اونه پخیله غلام کېږي . اصیل همدې ته وایي چې دژوندون لار ده . هائیکو غلامان دټولو حقوقو خاوندان کړي و چې ۱۴۰۰ کاله مخکې ترمیلاده امریکا او اروپاکښې دسلو کلو خبره ده دغه انګلیسي جملې ولولئ :

A system of rewards and incentives which airings other things offered a slave the prospect of free descendants might will have been as much to the benefit of the owner it tern of the productivity of his slaves us to his slaves themes elves.

یعنې " غلامانو د مالك په اندازه ګټه اخستله او دوی ته یې د غلام په سترګه نه کتل " داد درې نیم زرو کلو وړاندې خبره ده.
پښتانه کله غلام نه ساتي اوکه یې وساتي داولاد په نظر ورته ګوری او دغه موضوع په تاریخ ثابته شوې صفاریانو ، غزنویانو ، غوریانو ،هوتکو ، ابدالیانو دا کار په خپل دستور کړی دی.
دا زمونږ د ژوندن لار ده څنګه کولای شو د لویدیځې نړۍ هغه ظلمونه هېر کړو ،چې په یویشتمه پېړۍ کښې یې کوي ، پښتون طالب طالب القاعده بس وژنه یې یاپه عراق کښې.

هماغه مهال محکمه وه قاضي و عدالت و.
دښځې په برخه کښې ښځه ناموس دی او خپل سرد ناموس لپاره قربانوي ، د هاتيکو په قانون پرښځو تېرې په کاله او کور کښې يوه خبره وه ،چې په کلکه يې پوښتنه کېده او په بيديا کښې بله خبره وه ځېړنه يې کېده ،چې رضا او خوښه هم کيداى شو په کور کښې بشپړ تجاوز او تېري و . تېرى کوونکى وژل کېده .
پښتو نولي د پت او عزت معنى لري پښتون بې پته ژوند نه کوي . د ژوندون د لارې موندل ددې ليکنې تګ ټکى دى.
دوه پېړۍ کېږي ،چې د افغان يوه خلکواومشرانو د انګليس د پيسو په تمه ملك برباد کړى بيا هغه خلك ،چې پوهې او مشرتابه غړنه کوي د خپل ژوندن د لارې لپاره پاڅى او خروار وينې تويې کړي ، څو انګليس و باسي بيا روس وباسي روس انګليس او امريکا درې واړو ته ودرېږي.

رقيبان دې چې دا چارې په رحمان کا
تاپخوا پورې نيولى دى پوهېږم

دلته "تا" هغه بې لارې پښتانه دي، افغانان دي ،چې هر چاته سلامي ولاړ وي دوى دومره غيرت نه لري ،چې حلاله ډوډۍ و خوري . دخپلو مسلمانانو او تومن والو وينو ته تږي وږي ناست دي . د انګليس روس امريکا .... پيسې اخلي د خپلو افغانانو وينې تويوي يوه چونګښه خپل خواړه موندلى شي دوى يې نه شي موندلى.
درې نيم زره کاله مخکې هاتيکو خپل د ژوندون په لاره کښې ټاکلي ،چې د غلامانو اولاد غلام نه بلل کېږي او هغوى سره د آزاد خپلواك سړ يو په څېر چلند کېږي . او شا او خوا و ګورئ څه روان دي؟
۱۳۸۲ ه ل

پښتنو پادشاهانو هر کال دولت له خزانې په زرهاو مريان اخستل او آزادول يې اعليحضرت شاه محمود هوتك : په ۱۷۲۲ م کال د ايران پر تخت کښېناست ، د همغه کال د نوامبر په مياشت کښې يې شاه حسين صفوي ته وويل ،چې کومو خلکو تاسره خيانت کړي ؟

هغوی راوستل او شاه حسین ته یې ودرول او شاه حسین هغوي ته وویل ،چې تاسو دمجازات وړ یاست شاه محمود هوتك هغوي په جزا ورسول . او په دې کار د ایران خلك خوشحال شول.

شاه محمود هوتك په لنډه وینا کښې وویل : " دغه خلك خپل پادشاه ته صادق نه و دوی د ظلم او تالا څادر غوړولی و زمونږ پلار میرویس خان پاڅېد د ظلم تغر یې ټول کړ دادی دهغه د کار په بشپړولو کښې مو اصفهان او ټول پارس تر لاس کړ او دغه ځمکه مو له خائینانو پاکه کړله "

میرسیلوس په څوارلسمې پیړۍ کښې مخکې تر میلاده مینځنۍ آسیا کښې د عدالت نظم او قانون تومن جوړ کړ ،چې اوس درې نیم زره کاله کېږي.

په اتلسمه میلادي پېړۍ کښې میرویس نیکه په قندهار ،ایران کښې دا کار وکړ میرویس او میرسلوس دواړه هوتك و.

# پښتانه په تاریخ کښې نوې څېړنې

د پښتنو په تاریخ کښې نوې څېړنې دادي ،چې په علمی ځتو ودرېږي . په دې توګه مونږ کولای شو له ډېرو نورو سر چینو کار واخلو په هغه څېر ،چې نن په نړۍ کښې په هغو څېړنې کېږي .

افغان لیکوالو او تاریخ پوهانو ډېر څه لیکلي دي: خو دغه لیکنې به د هغوي پام یوه نوی لورته راواړوي.

نن نړۍ په تېره بیا پښتانه په یوه ربړوونکي پېر کښې دي . ماتلویژون ته کتل ،چې امریکایي عسکرو په قبایلي سیمو کښې لټون کاوه ،چې د القاعده غړي ونیسي.

څو تنو زلمیانو ،چې دغه ننداره کوله . یوه بل ته وویل " یاره دا خو حال نه دي امریکا په دومره طاقت کښې ده ،چې مونږ یې وډبولو او نړۍ یې ږ نځوله . دغه حالت د تاریخ د مطالعې له نظره د زوال نښه ده

زما چار دلرغونو مدنیتو څېړنه ده او پښتانه په لرغوني تاریخ کښې په دې برخه کښې ددې کار لپاره دوی وسلې مخې ته راغلې کنه زما په وس کښې نه و لومړی دا چې په دولس سوه مخه کښې مې د افغان ملي تاریخ ولیکي ،چې زما په لیکنې* وې د جملې

ACKU

جوړښت له نظره او دپاڼو د ترتيب له نظره يې د يو پوه فکره قلم ته يې د سمولو اړتيا درلوده.

په ۲۰۰۱ م کښې پيښور ته لاړم هلته دانش چاپولو موسسې ته مې ورکړ بيا محترم يون صاحب هغه دکتلو لپاره واخيست هيله ده ،چې هغه سمون سره چاپ کړي.

دوهمه وسيله دافغان پيام څليريست ساعته را ديو سره مې ملي تاريخ او پښتانه په لرغوني تاريخ کښې اويا ساعته او رېدونکيو ته بيان کړ ،چې لادوام لري.

دا لنډ داستان مې څکه بيان کړ ،چې لوستونکي يې په پام کښې ونيسي څکه :
ژوندون او حالات په اعتبار کښې نه دی . دا د تاريخ يوه نوې مرحله ده.

## پښتانه خپلوان قومونه :

پښتون او د پښتانه قومونو په لومړي سرکښې يو قوم دی مگر هغوی،چې په پښتو او پښتونولی پوهېږي اوس پښتانه دي او په دوی کښې " ساك" چې يو لوی او مهم قوم سور ، کوچيانيان ، يپتاليان مېشت دي. د هند په گجرات کښې په ميلنو ساك اوسېږي خو په پښتو نه پوهېږي.

پښتون په پاکت ، پاکتي ، پکتا نه او تومن يې Poctycid دي نور شکلونه يې پکتيکا او پښتونخوا ده.

Yuehchicn يو چي چينايي شکل دی ،چې په چينايي وياکې داسې ويل کېږي.

کوچ = قوم لکه : کوچ ،بلوچ د تاريخ پوهان لکه " د موندك بارسوث" هغه خپلوان قومونه د پاکت ، ساك او سور قومونه ،چې خپلوان دي او ډېر نور خپلوان هم لري.

کوچيانيان په غربي ليکنو کښې يا عربي ليکنو . کوشانيان شوي دي.

د بهان قاطع لغت يالغت نامه کوچ يو قوم بولي . مونږ هم دا وايو دا هم پېښېږي ،چې لغات مسافرشي او بېرته راشي مونږ يې په نوي صورت وايو لکه ،چې مومند – مهمند – ميمند بيا ميمندي شي يا ساك ، سهاك ، سکيت اومخاك شي ...

يپتل = يفتل

يا ساکستان = سيستان عرب سجستان

سکاندار = سکندر الکزاندر

کماندار = کوماندر

**سين او مدنيت** : هر چېرې ،چې سيند وي هلته مدنيت جوړ شي .
آبادی = آب بادي يعنې اوبه او دانې .
په افغانستان کښې درې بهېږې او درې مدنيته ترې موندل شوي :

| | | |
|---|---|---|
| سند – اباسين ، اندوس | مدنيت = د سند مدنيت سور – سوريا | |
| هېرمند ، هلمند – ايلبند | مدنيت = ساك ، ساکستان | |
| آمو – جيحون ، اکسوس | مدنيت = باکتري ، باکتر ، پاکتي | |

د سور ، ساك او پاکت اړوند قومونه ډېر دي .
آرمينيا له دوو کلمو جوړ شوي : آر – مېنه ،چې قوم او ځمکه ده ( شيرشاه مېنه ) ( آريانا مېنه).
آر – اصل .
آر- سپين
له آره له اصله له آره دی آغلی دوی پښتانه دي هېرودت هم داخبره کوي په تاريخ منتظم ناصري کښې ليکي ،چې ارمينان ځان افغان بولي او په دې فخر کوي او وياړي. لکه ، چې سکاټلنډيان ځان پکت بولي ،چې د جمع ش ور سره يوځای کړی پکتيس شي دا ډول څېړنې له ډېرې مودې کېږي او پښتنو ته نوې دي.

## د ساکو خپلوان قومونه :

دهرودت ( ۴۲۵-۴۹۰ ) دوينا له مخې د ساکو اړوند قومونه دادي :
د ساکو مشر ايدان تور سوس

| توری | آګاتيرسی | نری | اندروفاګی | ملا | نکلانی | ګلونی | سرماتی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|

دا چې د هيرودت کتاب له يوناني نه په خوژبو ژباړل شوي ددغو نومونو بيا هم خپل څير ساتلی دی . د مثال په توګه اندړ که " اندر" شي طبعي خبره ده ، توري ، نری ، بودينی ، بودين خيل په ميدان او نورو ځايو ، ګلونی په خپل څير دی ، " سرماتي" د پوهېدلو دی نور خپلوان قومونه.
د هيرودت کتاب (۴۲۵-۴۹۰)

پاکتیسی - پاکتی - پښتون

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لودي | سوري | کاسي | متاني | آرمېني چې هيرودت يې پاکتيس سره یوځای یادوي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شيرواني | دوتاني | الکزي ،لکزي | جدون | جاروتلي |

دغه قومونه دکسپين په غاړو کښې اوسېدل ،چې دقاجاري دورې پورې یادېدل اوسنی حال يې بويه زده شي.

## ساکان په اروپا اوهندوستان کښې :

ساکان په هندوستان کښې د ۱۹۹۲م په تاريخي اتلس د ساکو په باب داسې راغلي ،چې په ۸۰۰ پخوا تر میلاده د تورې بحيرې او اورال تر مينځ سيموکې خواره شول دوی مرکزي او جنوبي اروپا ته هم ولاړل په ۲۰۰ مخکې تر ميلاد دوی تر مینځ جګړه سرماتې زورور شول.

همدا ډول په څلورمه مخکې تر ميلاده پېړی د جرمنی شمال او بالکان ته لاړل . هلته يې اوس قبرونه موندل شوي.

## دنړۍ تاريخ او پښتانه

په ۲۰۰۲ کښې د نړۍ تاريخي کتاب د شپږم ځل لپاره چاپ شو . چې دا کتاب له ډېرو پلورل شوو کتابو څخه دی په شپږم چاپ کښې بيا هم سمون په کښې راغلي او د طالبانو اړيکې ،چې امريکې سره ورانې شوې هم په کتاب کښې ليکل شوي دوولس سوه درې څلوېښت مخه دی . د کتاب لويه سموونکې Perter N.Stearns پيترن سترن دی .(۲۷) ليکوال په کښې برخه لري.

مونږ ،چې هر څو مره لرغونی تاريخ وګورو بيا بيا د ساکو له فعاليتو نه او هجرتو سره مخامخ کېږو ،چې په وار وار به خبرې پرې وکړو.

د نړۍ تاريخ نوی کتاب مګې يوازنی کتاب نه دی په دغه کتاب کښې دغه سيندونه او مدنيتونه ياد شوي دجله او فرات . نيل . سند او ژيز سيند په چين کښې تاين بی د سند مدنيت تر تونو پخوانی بولي

١ – هغه مدنيتونه ،چې په بين النهرين ( دجله و فرات) کښې مينځ ته راغلي دادي :
هيتي ، متاني ، کاسي ، مادي ، لوديا ، اور .
٢- هغه مدنيتونه ،چې افغانستان ته راغلي او هغه دادي سند ، هيرمند ، اوآمو . يعنې سور ، ساك او پاکت .

# رنګه بنګه پښتونولي

کال ١٣٣٨ هـ ل کښې زمايو اثر ،چې پښتونولي د لارې مشال نومېده درحمان بابا لومړی ادبي جايزه واخيسته .
هغه مهال د مطبوعاتو مستقل رياست و ،چې مطبوعاتي جايزې يې ورکولې.
رواښاد محمد ګل خان مومند او پوهاند صديق الله رښتين ددغه اثر الهام بخښونکی و.
کال ١٣٧١-کښې مې بيا د ملي تاريخ فلسفه او پښتونولي رساله وليکله ،چې دوه پلا چاپ شوه .
عاشقي را پورې ښه ددلبرنه شوه
سر او مال مې په کښې لاړل تر سرنه شوه
دغه مقاله د هغو تا ثراتو يادونه ده ،چې زه يې لا دپښتونولۍ سره لرم .تاسو يې وګورئ يو اه دی .

قدرت الله حاد ° فرهاد

پښتونولي ، پښتو او پښتون نن په هغه پېر او پړاو کښې دی ،چې خپل نوم نه شي اخستی د فاشيزم له لاسه خلاص نه و چې نړۍ د القاعده او طالبانو په نامه ورته پا څېده ، د ښتې ورباندې سرې شوې زرونه ککرۍ خاورې شوې .

مقتولان ستا د غمزې دی لاله نه دی
چې په سره کفن له خاورو را بيرون دی

اوبيا :

ستا د عشق حرفونه تورې نه دې ګلګون دي
دا پــه دا چــې نــوشـــته په جګر خون دي

پښتو ( پښتونولي) يو مفهوم دی ،چې د خدای تعالی (ج) مینه یې لومړی ټکی دی
پښتانه په دې مینه کښې تباه دی ګوډ تیمور او بابر دواړو خپلو سپاهیانو ته ویلي و کله
،چې د پښتنو له سیمو تېرېږئ " الله اکبر" وایې ؛ ځکه پښتانه مسلمانانو ته څه نه
وايي دا مطلب دغو دواړو په خپلو کتابو کښې لیکلي دي ( ګوډ تېمور او بابر) بیابه
پښتنو دوی ته څه نه ویل .
هرڅه کېږي ودې شي مونږ له پښتو نه اوړو اودامو پښتو ده . دلیلې دښتې او جنګي کلا
، کندوز اونورو ځايوکې زلمي طالبان په همدې شهیدان شول چې دڅښتن تعالی دین یې
ساتي نو دوی د((حق )) دغمزې مقتولان دي اوحق ترلاسه کول په جګر خون وي کله چې
محمد خان قاجار دایران پادشاه دافغانستان پادشاه زمان شاه ته ولیکل : بلخ ماته
پرېږده چې زه غواړم بخارا ونیسم . شاه زمان ورته وویل : (( بخارا څه کوې ؟ راځه ماسره
لاس یوکړه چې انګلیسان له هندوستان نه وباسو )) دشاه زمان دغه خبره تاریخونو ثبت
کړې ده دپښتو اوپښتون مفهوم څرګند وي دغه مطلب یوه انګلیس محقق لیکلی او ژان
ګور فرانسوي خپل کتاب کښې راوړی دی . همدا رنګه بنګه پښتونولي وه چې شاه
زمان وښودله .
په همدغه کتاب کښې لیکي : کله چې نادر افشار دده خپلوانو وواژه احمد خان ابدالي
ورغی دده غلیمان یې لیرې کړل دده کورنۍ یې وژغورله خپلو عسکروته یې وویل :
((دایران خزانه وساتئ چې دایران دخلکو مال دی اودنادر شاه خزانه دهغه ددوستانو ده
رنګه بنګه پښتو نولي .
څوك دی چې رنګه بنګه پښتونولي وساتي ؟ پام وکړي لوېږي که ولوېده بیا پښتون
ورك دی .
چې دعشق په ځېل ځان وژني ناصحه
کاش که زه عبدالحمید هغه پښتون شم
ملي هویت دادی چې دهېواد پلار نېکه ، دین ، ژبه ټول ملت ومني بیانورې خبرې او
مسائل حل کېږي او وروري په ځای وي .
نن چې ۱۳۸۲ هـ ل دافغانستان ملي هویت ناڅرګند دی دفاعي پولیس یې خارجیان دي
ژبه یې دري کېږي پښتو ، فارسي ، ازبکي اوه برخې دي ، پښتونولي رنګه ده پښتانه
دې سره نژدې شي رنګه بنګه پښتونولي دې وژغوري نېکه اوبابا دې وساتي کله چې په

نړۍ کښې انډول تینګ شو بیا دې دوی چمتو وي بې له دې چې دکمترۍ احساس وکړي خپل روښانه تاریخ دې له سره ونیسي کوم ناتار چې پرپښتنو راغلی هغه ته دې دپای ټکی کېږدي .

ښکاره خبره ده چې امریکایانو ته ویل شوي ابدالي معتدل خلك دي ، مغلجي معتدل نه دي . په پښتنو کښې دغه بېلتون دټول افغانستان دتباهۍ سبب شو لکه چې په اتلسمې پېړۍ کښې شوي و.

له ۱۸۰۱ع تر ۲۰۰۳ ع پورې پښتانه دلوېدیځ له پلوه ټکول کېږي ترکان اوکردان هم یواځې ترکیې دلویدیځ بشپړ کلتور منلو سره ځان په کرار کړي دي :

ګاندي لومړی لکه یو انګلیس کالي اغوستل هغه یې ایسته وغورځول څرخه یې واخسته تارونه یې جوړکړل هندیان یې وهڅول چې ټول څرخې واخلي اوتارونه دې تاوکړي ټوکران دې واوبي اودخپل لاس کالي دې واغوندي .

ستر مشر غفار خان دګاندي په څېر خمتا کالي واغوستل مګر دیوه پراخ حرکت په توګه نه و چې تراوسه پاتې وای . که څوك بهرني کالي په کاروي خپل ضمیر وژني همدا وجه ده چې افغانستان کورنی تولید نه لري په صفر ولاړ دی دنوزو لپاره جګړه اوخپل ورونه وژل داددوی صفت دی پښتو ړنګه بنګه شوه دبېنوا یو شعر مې لږ په یاد دی ، هغه هم که سم وي .

حقیقـــت شــــه یـــا مجـــا ز شـــه
یـــا قدســـي مرغـــه آواز شـــه
مشـــه مشـــه خـــالي پوچـــه ســـودا
یـــــا دا وکـــــــړه یـــــادا

بیا یې له همېش خلیل نه واورئ .

دمیر ویس کور لـه فریـاده مستغني دی
چې وارث دابدالي وي پـه ځان نـه مري

انګلیسانو اروپایانو زمونږ ټول صنایع ورك کړل یو صنعت یې پرېښود چې هغه ورور وژنه ده اوداحتیاج لاس نیول چې راکړه ؟

جولا ، آهنگر ترکان ، ټتار ، چمیار ، حکیم چې مو خپل و په ښه سترګه مو نه کتل ورځ مو داشوه چې پر دي کفن کښې تاوشولو ، مونږ لاپښتانه یو (!)
هغه مهال چې خپله مو وسله وه خپل موکالي و کفن مو خپل و میدانونه مو ګټل اوس چې مو بایلوده وطن پلورو ، تاریخي آثار او خپلواکي پلورو . ..
نو رنګه بنګه پښتو نولي شوه هغه پښتانه چې غواړي پښتونولي وساتي پرخپلو ټولو کړو وړو دې فکر وکړي چې دانګلیس امریکې ، روس ، ایران او هندوستان له جال نه خلاصېدل آسانه کار نه دی.
پاکستان ځکه په دې قطار کښې نه راځي دمیرویس نیکه سیاست دهند له ټولو مسلمانانو سره چې پاکستان یې یوه برخه ده اوپښتانه هم په کښې دي ددوستۍ او وروری لاس ورکوي پام وکړئ ( میرویس خان هوتك ) دبېنوا لیکنه .
میرویس نېکه او احمدشاه بابا مونږ ته اصول پرېښي دي . هو هغه اصول به مونږ ژغوري رنګه بنګه پښتونولي دمیرویس کورته ورسوئ چې ( دمیرویس کور له فریاده مستغني دی )
درحمان بابا په ژبه :
دمطلوب له طالبانو چې ځان شمېري
ای رحمانه اول سیال شه بیا یې مومه
کومه تاریخي زېرمه چې دپښتانه په لرغوني مهال کښې پرته ده که په خبرشئ بیا به یو شخصیت په ځان کښې ووینئ چې پخپله به هك پك شئ .
چې یو یار په سیوري پروت وي بل په اور کښې هغوته به څوك څه وایي یاران ؟

## تاریخ اورنګه بنګه پښتونولي :

هیرودت دتاریخ پلار دی هغه سړی دی چې لومړی تاریخ یې لیکلی دی ۴۸۴-۴۲۴ پخواترمیلاد ) دده تاریخ تواریخ بلل شوي ، له نېکه مرغه همدغه تاریخ دی چې دپښتون ذکر په تفصیل سره لري اورنګه پښتونولي په کښې ځلېږي .
هلته جرګه ، پاکلمني ، سیمه یا پنا ورکول ، سپین ږیري ... په کښې یادشوي .
لویدیځې سرچینې هغه لومړنی دیموکراسي بولي چې لابشپړه نه وه او په لویدیځ کښې بشپړه شوه زمونږ پښتانه وایي هلته بشپړه نه شوه نیمګړې شوه خپل رنګ یې واړاوه .

هیرودت .پاکت ، پاکتي ، پاکتیسیا یادوي داچې دپښتنو دقومولکه ساك کاسي توري هزي نوم او کړه بیانوي .

((سور ) یو قوم دی لرغوني اونومیالي ، فنیقیان هم سوریان دي .

هیرودت دسرماتي په برخه کښې لیکلي : دسرماتو پېغلې ترهغو واده نه کوي څو دیو غلیم وینې دوار په ډکر کښې تويې نه کړي. War هماغه دجګړې کلمه ده چې وارکول جنګ دی.

اوس وګورئ ړنګه ښنګه پښتو لولي دسرماتو په پېغلو کښې او دا پښتانه چې په غلامی کښې خان ښاغلی بولي څومره توپیر ؟ ابدالي معتدل خلك دي دومره معتدل چې دبل لپاره خپل وژني.داډول هرڅوك چې وي تېښ اوسست خلك دي .

ته به هره ګړی غــــم دسیم وزر خورې
زه دې هر ه ګړی وینم چې خپل سر خورې

# ګرشاسب بابا شرمولي افغانان لارې ته نه راځي

زمونږپه تاريخ کښې يوه ترخه تجربه څو ځلې راغلې ده باري ګرشاسب بابا شرمولي افغانان لارې ته نه سمېږي . په ۱۸۳۹ ع کال کښې شاه شجاع انګليسي لښکرو سره راغی بيا څه وشول ؟.
تره کي ، امين او ببرك دروس ربي ورپاوه او ببرك دهغوی لښکرو سره راغی ۱۹۷۹ ع څه چې شوي و بيا وشول . په ۲۰۰۱ کرزي دډېرو هېوادو له عسکرو سره راغی همغې غلطې لارې ته سم شو.
بيا چې راغلل دناروغ په تلتك ننوتل بهرني اوکورني ، ګرشاسب بابا شرمولي ټول ناروغ شول ددې کيفيت ته دپوهېدلو لپاره مايوه پوښتنه کښې هلته په غونډو ټولو پوهو دهغه ځواب ونه وايه سرونه يې ښکته نيولي و ټول پوهېدل اوويلي يې نه شول.
پوښتنه داوه : څلور پېښې لوڅو طالبانو وکولای شول چې افغانستان اداره کړي نن يې ټوله دنيا نه شي اداره کولای ؟
رون فکري داوي چې حقيقت وپېژني اوپه زغرده يې ووايي پښتونولي داده چې رښتيا ووايي هرچاته يې ووايي هرکله يې ووايي . تردې ځايه يوه سريزه وه دګرشاسب بابا دپېژندولولپاره .

## ګرشاسب بابا څوك و؟

استاد احمد علي کهزاد داوستاله مخې معرفي کړی دی چې دايې لوی احسان دی دپښتنو لپاره په دې معرفي کښې دوې خبرې نغښتې دي : لومړی داچې ګرشاسب بابا هماغه غرغښت دپښتنو بابا دی دوهم داچې دپښتنو دنيکه ګانو تاريخ ترهغه يونيم يادوه زره کاله دمخه دی چې ويل کېږي .
پردغه بنسټ به هغه معلومات وليکم چې ماته په لاس راغلي :

## دګرشاسب تاريخي شخصيت .

کوم کتابونه چې دګرشاسب ذکر په کښې دی او هغه کتابونه زما په لاس کښې دي دادي .

۱ - مروج الذهب دسعودي چې ۳۳۲ لمريز ه کال کښې و .

۲ - ګرديزی تاريخ څلورمه پېړۍ هجري .

۳ - دسيستان تاريخ .

۴ - دکابل مجله کال ۱۳۱۰ لمريز

۵ - ګرشاسب نامه .

۶ - دبرهان قاطع لغت نامه چې ګرشاسب څنګه پېژنی ؟ دګرشاسب بابا ذکر او تعريف بنايي په ډېرو کتابوکې وي باري ماهغه ياد کړل چې ماسره شته هر ګوره ګرشاسب بابا دکابلستان ، زابلستان ، سيستان نامتو پهلوان ، پوهاند اوسياست پوه پادشاه دی دتاريخ له مخې دافغانستان نوم په څو عبارتونو راغلی دی باري داخبره غلطه ده چې زر کاله دافغانستان نوم آريانا و بيا زر کاله خراسان و بيا په نولسمه پېړۍ کښې افغانستان شو دايوعادي داوبو څګ دی چې له بده مرغه ويل شوی دی .

## ساکستان ياسيستان :

ټول تاريخ پوهان وايي ،چې سيستان په اصل کښې له آره ساکستان دی ،چې عربو سجستان کړی عرب ساکزی ته هم سجزی وايي فارسيانو سيستان بللی دی .

باري پښتانه بيرته ساکستان وبولي.

د طبری په تاريخ کښې دسيستان پيژندنه داسې شوې د سند او دبلخ د نهر تر مينځ دغه ؛ ځمکه سيستان دی ،چې تر خراسان لوی دی او وګړي يې ډېر دي هماغه د آمو اوآباسين تر مينځ ؛ځمکه ده بويه مونږ يې ساکستان و بولو.

ساك هغه لوی نوم دی،چې نړۍ کښې خواره او نوميالي دي که تاسې د ساکو يا ساکانو معامله وخيړئ د کلوکلونو کار دی ،چې ځوان دا کارکولی شي په مونږ زړو نه کېږي .

که مې ولې په سر کانې سل منې
زما خوښه ده د يار کبر او منې

ساکانو دنیا ودانه کړې ده په دې عبارت پروسږ کال یو کتاب په امریکې کښې خپور شو ، د کتاب لیکوال ،چې Her man نومیږی ده د امریکې په تلویزیون کښې له کتاب نه دفاع وکړه دی وایي :یوه خوار ملت دنیا بدل کړه

ځینې دا وایي : پښتانه ټول ساك دي . ساکانوته په انګلیسی ژبه کښې Sakas وایي دا دومره اوږده خبره ،چې نړۍ کښې ساك بېخې ډېر دي څوك به دالړی را وڅيړي؟

څوك دی نه غندي شوخی دآهو چشمو

دی انــځور ددې چمـــن دا چمـــنی

که دلته زه دساکو په بیان شم د ګرشاسب بابا ،چې ساکستان یې آباد کړی موضوع پاتې کېږي.

چېرته چې زه اوسېږم یو کانګرس ته ددیموکراتانو له خوا یو کاندید یو لیك راواستاوه په دې نه ،چې هغه پیژندلم د هغه رایه په کار وه خپله کړنلاره یې لیکلې وه او مرسته یې غوښتې وه مالي او معنوی ما یو څو ډالره ور ولېږل ،چې غړ یې کړی و پښتو خرابېدله دوه علته و ،چې ما دا کار وکړ لومړی دا ،چې دیموکرات و او د بش مخالف دوهم ،چې دده نوم ساکازو.

د ۲۰۰۴ م کال دجولای په ۲۷ دده بل لیك راغی په هغه کښې ویلي زه په ۲۹ دجولای وروسته له غرمې ددیموکراتان په لویې غونډې کښې خبرې کوم . مادیارلس سوه دروازې ټکولي دي خو ستاپنځه ویشت ډالره ماته ډېر اهمیت لري . وروسته له غرمې مې په تلویزیون کښې ډنګ ځوان پښتون خدای جوړکړی په څه حالاتو کښې ولید دادی بل څوك دی .

ده ته مې ولیکل چې زمونږ ساك پښتانه وایي کلي په زور نه جوړېږي . اوداخبره ډېره زړه ده ډېره پخه دافارمول په سیاست کښې ستاپه کارېږي .

## ګرشاسب بابا ساکستان جوړکړ چې دخلکو لپاره سیمه وي.

دسیستان دتاریخ له مخې ګرشاسب بابامشران اوکشران په زرنج کښې راټول کړل اوې ویل چې ضحاك نړۍ ونړوله ظالم دی زه غوارم داسې تومن جوړکړم چې دخلکو لپاره اسامه وي (دپناه ځای )

ګرشاسب بابا بیا وویل : دغه ښار به څلور زره کاله پاتې وي له هغه وروسته محمد ص پیغمبر څرګندېږي مونږ به دهغه په دین اوسېږو .

محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دښتن تعالی په فرمان داسلام شریعت راوړی
دسیستان تاریخي : ګرشاسب لومړی سړی دی چې څلور زره کاله دمخه یې داسلام خبرورکړاودادسیستان (ساکستان) فضل دی له فضایلو.

دسیستان تاریخ اونور تواریخ زمونږ پښتنو لپاره پاخه اسناد دي چې پښتانه له لرغوني مهالو طبعیت کښې مسلمانان اومونږ پناه ورکونکي یو مونږ سوله راوستله له شر او فساد نه ځان ساتو.

تاسې پښتانه داخبرې په خپله وګورئ دازمونږ بابا دی دازمونږ لار غرغښت بابا ، بېټنی بابا ، سړبن باباهریوه کمالات درلودل ګرشاسب بابا یعنې غرغښت ته په خپل زړه کښې لاره ورکړئ سم به شي ، زمازړه ډك دی په دې ډېرې خبرې لرم ، خوشحال وایي : مردنه مور لري نه پلار مونږ بویه مېړني اومرد واوسو ، دښیوی یو شاعر وایي.

نشـتـه داسـې څـوك چـې دزړه حـال ورتـه بیـان کـړم
خـاورې ننګیـالي شـول زړه مـې تـور دی لـه ژوندون ځنې

دخدای پاردی مونږ زړونه یوه تسلي راکړې.

هرڅـوك قیـاس زمـا دعشـق کـوي پـه عقـل
کـوه قـاف دشېرشـاه پـه تلـه تـولي.

دشیرشاه عدالت یو نوم درلود اوس ګورئ نه ګرشاسب بابانه شیرشاه اوخپل مشران مو پرېښي دي یو ځل بیا دخپلو مشرانو لمن ونیسو څو دابدمرغي پایناب ومومي.

دسیستان تاریخ لیکي دګرشاسب قیصې ډېرې اوهغه ابوالموید بلخي دګرشاسب په کتاب کښې راوړي دي ، دګرشاسب دعادښتن تعالی په دربار کښې قبلېدله.

هلته چې ګرشاسب دعاکوله خلکو یو معبد جوړکړ زردښتیانو ویل چې دلته دګرشاسب رڼایي لیدله کېږي.

دساکستان ودانی په دې کښې دي
عمارت رغاونه ، الفت مینه – معاملت راکړه ورکړه چې دادرې چارې وي تومن آبادوي

# اخلاق دود او کړه وړه

ګرشاسب باباو دده خیلخانه ټول دآدم علیه سلام په لاره و سهار اوماښام یې لمونځونه کول دڅښتن تعالی عبادت نه یې وروسته دنیا یې چارې ترسره کولې .
غلام . ناحقه وینه تویول ، زنااولواطت حرام و څاروي یې ذبح کول ټول هغه شیان یې خوړل چې اوس په اسلام کښې حلال دي ، خیرات اوصدقه یې ډېره ورکوله په دې خوښ و چې کوربه وي او میلمه ولري . ښځې پاکلمنې وې دروغ څوك نه وایي .
کلیفور دبارسورس دسیستان دتاریخ په نامه یو کتاب لیکلی دی ،دغه کتاب په ۱۳۷۰ لمریز په فارسي ترجمه اوچاپ شوی دی په ترجمه کښې چاچې ترجمه کړیده حسن اتوشه امانت یې نه دی پرځای کړی ساکان دایران بولي . سیستان چې ساکستان دی په ۱۸۷۲ ع کښې دامیر شېرعلي خان په پادشاهۍ دانګلیساتو له خوا په دوو برخو ووېشل شو ، چې یوه برخه یې ایران ته پرېښوده ، بله برخه یې دافغانستان پاتې شوه ، دنادعلي ولسوالۍ اونور ځایونه چې دساکستان برخه وه اوس هم په افغانستان کښې دي .امیرشیرعلي خان د انګلیسانو په دې وېش خپګان وکړ بیا انګلیسانو شپاړس لکه روپۍ ورکړې

## د سیستان د تاریخ شرح :

کلیفورد بارسورس خپل معلومات د سیستان له تاریخ اخستي دي ،چې د هغه لیکوال څرګند نه دی اټکل کېدای شي ،چې دسلطان محمود زابلستاني په مهال لیکل شوي وي : ځکه د سیستان تاریخ لیکل ،چې سلطان محمود یر خلف د سیستان پادشاه ونیو .او سیستان یې په غزني پورې وتړلو کلفوردبارسورس د سیستان په شرح کښې لیکي : سیستان او س په دښتو اوکنډوالو بدل شوی باری د نړۍ په تاریخ یو ځانګړی ځای په اروپا کښې په تېره بیا په سکاټلنډ کښې په دې برخه کښې څېړنه ډېره شوې ده . کلیفوردبارسورس ډېر اروپایي ماخذ ښیي چې ده له هغه خپل معلومات اخستي مګر ټول بیا له همغه کتابواخستل شوي چې په ایران او افغانستان کښې چاپ شوی اوله هغه څو مهم کتابونه ماسره شته

دکلیوفوردبارسورس نظر دسکاستان په برخه کښې نه دی . چې په هغه به خبرې وکړو دی وایي ترك اخلج چې یادېږي اوفکر کېږي چې دو ترك قومونه وي هسې نه ده دوی آریا یي دي او همدغه ځمکي دي چې دوی په کښې اوسېږي .
سلطان محمود زابلستانی چې په غزنوي هم یادېږئ غوښتل چې په ګرشاسب خبرې وشي له همدې امله یې فردوسي چې شاهنامه لیکلې وه هغه ته یې وویل (( شاهنامه بل څه نه دي ټوله درستم قصه ده زمایه لښکرو به سلهاو رستم شته )) .
سلطان محمود ملي سړی وکلیفورد لیکلی چې دسلطان مطلب دغزني کابل اوزابل نومیالي و . اوروسته له هغه حکیم اسدي توسي ګرشاسبنامه ولیکله .
داسې ښکاري چې ابوالموید بلخي هم ګرشاسپنامه لیکلې وه .

## ګرشاسب بابادټولې نړۍ بابادی

دتاریخ له بېلومدارکوڅرګندېږي چې دګرشاسب بابا شخصیت دلرغوني زمانې یو بین المللي نومیالی مشر دی .
په اوستا ، بنداهش اومهاباراتا کښې دده خبرې دي په مېړانه هوښیارۍ یادشوی دی .
په تاریخ کښې داتلپاتی نوم دبل چادی پښتون دګرشاسب بابا اولاد دی خو ګرشاسب باباچې پښتون وشرموي هغه نه داسې پښتانه جوړشي لکه شاه شجاع اوکرزی چې انګلیس او امریکا سره راغلي اوهغه پښتانه چې دګرشاسب په لارنه وکمونستان شول له روسانو سره راغلل دګرشاسب عقل ورسره نه و وشرمېدل .
دسیستان تاریخ دکرکویه معبدیادوي چېرته چې ګرشاسب هلته دېره و .
هغلته دمقدس اور بلېدل پېل شول دوی عقیده کوله چې ګرشاسب باباعقل دلته پرېښی دی هلته تل روښانه وي اودغه شعر ویل شوی چې دهغه فارسي نقل داسې دی
فرخت باداروش حنیده ګرشاسب هوش .
ښه شوي دي چې ګرشاسب هوښیاري پرېښې ده ، کله چې اسلام سیستان ته راورسېد ترډېرو پورې دغه اور بل و مسلمانانو هغه منع نه کړ .
دډېوې اوشمعې بلول تراوسه په زیارتوکې شته ، په کابل کښې هم هغې ګټی کښې چې وفات شوي سړي و دده ترمړینې څو اونۍ دشپې له خوا څراغ بل و چې زما خپل کور کښې دپلار په کوټه به څراغ بل و .

چې اروا راځي خپل کور اوکوټه ګوري . چې ديني بنه ورکړشوې ده اوداتوپير لري دګرشاسب بابا له معبد سره هلته مطلوب داو چې دګرشاسب باباتلپاتی وي او اورمړ – اور بل ، تود نغری . سوړ نغری بېرته وريوري ور په پښتو کښې يو مطلب لري چې دپښتانه اوربل ، څراغ روښانه نغری سوړ او ورېرانستی وي .

ګرشاسب بابا په ختيځ لويديځ شمال اوجنوب کښې نوميالی بريالی و تراوسه يې نوم تازه دی حال داچې دده دژوند زمانه لړ ترلړ اوه زره کاله دمخه اټکل کېږي .

داسدي ګرشاسب نامه ۱۰۶۶ ع ليکلې چې اوس نهه سوه اته دېرش کاله کېږي چې غرغښت بابا دګرشاسب په نامه بلل کېده ((غر)) په ((ګر)) چټك بدلېږي اوپه يوه مهال دلهجو له مخې دواړه ويل کېږي .

استاد کهزاد غرغښت اوزردښت نژدې يا خپلوان بولي .

ګرشاسب په اوستا کښې ګرشاسپه اومهابهارتاکې ګرساسوه ليکلی شوی. دارمستر فرانسوي پوه ګرشاسب دکابل ، زابل ، سيستان راتلل بولي .

دګرشاسب دزمانې په برخه کښې روايتونه بېل دي باري له شپږو اوو زرو کلودا خوا نه دي .

ګرشاسب بابا شرمولي هماغه دی چې دده له غيرت نه ليرې دي اوس چې کال ۱۳۸۳ لمرير بول هغه خلك چې له امريکې انګليس . روس هند اوناتو دملګري ملتو سره يو خای شول اوپښتانه دالقاعده اوطالب په نامه امريکايانو باندې ووهل ګرشاسب باباشرمولي دي

اته زره پښتانه چې شمال کښې د ليلې دښتې اوقلعه جنګي کښې په شهادت ورسېدل دهغوی وينې به نه کړېږي نامردو په دروغ او امريکايانو ايرانيانو روس په مرسته خپل مسلمان افغانان ووژل چې دخدای احکام يې جاري کول

## ګرشاسب او وداني :

ګرشاسب نه يوازې په مېړانه نامتو و آبادي اوښار جوړول هم ده کړي ساکستان اوسيستان ده آبادکړي دزرنج ښار يې جوړکړ ...

دګرديزي تاريخ دده په برخه کښې ليکلي : ګرشاسب دسام نيکه و رستم يې هم لمسی و ګرشاسب زابلستان ونيواوترهندوستان پورې ځمکې يې خپلې کړې اوفرامرز تر مهال پورې دده له کورنۍ سره پاتې و له آرمينه يې يو بند چې هغه ته دزاب نهر وايي ښونه

يې جوړ کړل ځمکې بې آبادې کړې غله او خواړه پرېمانه شول کوم ځايونه چې افراسياب ويجاړ کړي بېرته يې سمې کړي .
لکه چې ضحاك کوم ځايونه ويجاړکړي ده بېرته اباد کړي دي.
له بېلو سرچينو څرګندېږي چې ګرشاسب بابا ديانت ، آبادي اخلاق سم کړل اومطلوب هېواد يې جوړکړچې وروسته له پېړيو پېړيو افلاطون دمدرسه الفاضله په نامه خپل کتاب کښې دهغه تصور وکړ چې ټوله نړۍ بويه په هغه شان آباده شي .
مونږ کولای شو ګرشاسب بابا پوهه ، سياست زړورتيا ، ديانت ،اخلاق وداني سوله او هوسايي زده کړو څکه لکه هغه ، يوانسان بيا په نړۍ کښې نه دی راغلی، دی په اسلام ډېردمخه خبرو دنړۍ لرغوني زاړه کتابونه ټول دده په ستاينه لګيا و حکيم اسدي توسي په ګرشسب نامه کښې ويلي دي که هلك و که بوډا خبره ټوله دګرشاسب وه دسعودي په مزوج الذهب کښې هم دګرشاسب نوم دوه ځايه راغلی ، چې په يوه ځای دجګړې خبره چې افراسياب سره برابر و او دوهم له کيومرث نه ترګرشاسب پورې لومړۍ طبقه بولي .
په ځينو تاريخونوکې کيومرت آدم ع بولي چې ګرشاسب هغه ته په څلورم پښت رسېږي دابه سمه وي يابه نه وي باري داخبره څرګندوي چې ګرشاسب ډېرلرغونی بابادی
چې دغزنويانو په مهال دی نامتو اوپېژندل شوی شاهنامي اوکتابونه پرې ليکل شوي بيا تر نن پورې پرته له دې چې پيغمبر وي امتيان ولري او زره کاله مشهور پاتې کېدل يوه نادره خبره ده .

## دکابل مجله اوګرشاسب :

په کال ۱۳۱۰ لمريز کښې محمد نادر شاه ادبي ټولنه جوړه کړه دکابل مجله دهمدغې ټولنې له خوا خپرېده دکابل اديبان اوشاعران هلته پنډ شول مجله په دري ژبې خپره شوه بياهم دوه ځانګړنې په کښې وې ، لومړۍ چې فارسي افغاني وه نه ايراني دوهم دا چې دافغانستان تاريخ يې بيا ناوه اوښو ليکوالو چلوله ملتپاله وه . چې وروسته بيا داهم نه و . ژبه ايراني موسيقي هندي کالي اوروپايي کېدل . پايناب کښې دين اوخپلواکي له خطر سره مخ شول ملي فلسفې له مخې دطالبانو پير ته ضرورت و چې هغه راغی ټوله نړۍ دننه ازبك ، تاجك ، هزاره ګرشاسب بابا شرمولي پښتانه هم پاڅېدل ، دطالبانو دوهلو لپاره . ماطالبان تاييدول که څه هم کابل کښې زېږېدلی وم مسلمان پښتون وم باري مذهبي نه وم لومړی دوه کسان چې جرمني اوانګليستان نه يو دبريښنا انجينر اوبل

دتلگراف انجینر و دواړه زما مشران ورونه و یعنې له اروپایي دود مونږ وپېژانده اودوی دامان الله خان په پېرکې تللي دنادرشاه په پیر کښې راغلل په دغسې کور کښې لوی شوم ټولو راته ویل طالبان څنگه تاییدوې ؟ ماویل داافغانستان خپل شیان ټول تللي دي .
دوی افغانستان ساتلی شي په دې بې سوادی، یې وېرېدم نو دوستانو ویل ښه سړی دي ښه ټیپ هم لري خو عیب دادی چې لېوني شوی دطالبانو پلوي دي پاکستاني شوی دامید جریدې چې امریکاکې خپرېدله ډېرې گڼې یې ماته په ښکنځلو ډکې کړې .
زه نه غواړم دگرشاسب بابا تاریخ پرېږدم . دکابل په مجله کښې ۱۳۱۰ کال اومې گڼې دگرشاسب باباپه برخه کښې لیکل شوي .
دگرشاسبنامې ویونکی حکیم ابونصر احمد بن منصور دی چې نسب یې دعجم پادشاهانوته رسي او دخراسان په توس زېږېدلی .
گرشاسب نامه یوه مثنوي ده چې دهغه خطي نسخه دویانا په شاهي کتابتون کښې ده دغه کتاب ۱۸۹۲ ع کال کښې دگوتنگن په ښار کښې چې جرمني کښې دی چاپ شوی دی .
حکیم اسدي توسي په شعر کښې غښتلی دی .
حکیم بونصر اسدي توسي که څه هم دابو القاسم فردوسي خپلوان پر فردوسي یې نیوکې کړې چې په شاهنامه کښې گرشاسب نه دی شوی رستم یې یادکړی حال داچې گرشاسب تر هغه غښتلی وی .

گر از رزم گرشاسب یادآیدت
همه کاررستم به بادآیدت
سپهد ارگرشاسب تازنده بود
نکردش کس زبون نه افگنده بود
به شاهنامه فردوسي نغزگوي
چوازپېش گویندگان بردگوی
بسې یادرزم یلدن کرده بوده
وزین در سخن یادنیاورده بود
نهالي به این رسته هم زان درخت
شد خشك وبی بار پژمرده سخت

من ایدون زطبعم بهار آورم
مراین شاخ رانوبهار آورم
بیا دهنر گل کفانم براو
زابر بحن در فشانم براو
سر ایند دهقان موبد نژاد
زگفت دگر موبدان کرد یاد

کله چې داریښتینې ( اشعار ) په ځیر وکتل شي دفردوسي له شاهنامې ناخوښي ښيي او فردوسي ته وایي که ته دګرشاسب له جګړو خبرشې درستم چارې به بادیوسي ، سر دار ګرشاسب ځوژوندی و نه چا وغورځولی اونه چاخوار کړی و فردوسي چې کوم پهلوانان او اتلان یادکړي و په دې مضمون نه و پوهېدلي چې رستم دګرشاسب لمسی و باري داسې نیالګی و چې وچ شوی و زه به دګرشاسب په برخه کښې ولیکم اونوی پسرلی به ورته راولم .

اسدي توسي وایي چې دزردښتي له پوهانو اورېدلي دي هماغه به ووایم .

هماغه اعتراض چې سلطان محمود عین الدوله در لود حکیم اسدي هماغه بیا وویل : دپښتنو دنیکه ګانو خبره ډول ډول شوې خو حقیقت چانه وایه حال داچې ګرشاسبنامه وه غرغښت بابا چې هماغه ګرشاسب دی ، بېټني بابا او سړ بن بابا .

# غر غښت یا ګرشاسب

په کال ۱۳۷۸ لمریز کښې تر دغه عنوان لاندې دمحمد داود وفا په اهتمام یو کتاب ددانش دانتشاراتو له خوا خپور شو ، محمد داود وفایادښت پرې لیکلی اوډېرېې ښه لیکلي و دا کتاب اروابناد استاد احمد علي کهزاد ( ۱۲۸۴ ، ۱۳۶۳ لمریز ) لیکلی دی .

دې کرښوليکوال ( ق حداد ) په ګذرګاه داستاد کهزاد په ګاونډکې اوسېدم دی ماډېر لیدلی و دعالي اخلاقو اوځانګړي خصوصیاتو خاوند دطبع استغنی یې درلوده دربار ته سر نه ټیټاوه دکابل له ښاروالۍ دکور لپاره ځمکه نه وه هماغه خپل خاورین کورګي کښې اوسېده ځوپورې یې پرې کړ دی وطنپال سړی و

لکه چې محمد داود وفاليکلي روحاني شخصيت دپروفيسر آرنولد تاين بي نامتو تاريخ پوه اوفيلسوف خبره ماپخپله اورېلي وه چې ۱۳۲۸ لمريز کښې دکابل ننداري په تالار کښې وويل : ستاسو موزيم مې وليد خورا بډای موزيم و او ارزښتناك آثار په کښې ايښودل شوي اوس تاسې ته وايم چې غښتلى احمد علي کهزاد ترهغه تاسوته ډير ارزښت لري اوس کهزاد نشته خو دهغه ليکنې شته ، اروابناد کهزاد په خپلو ليکنو کښې دې خبرې ته اشاره کړې چې دلته دمحمد زايانو دولت دی دتاريخي واقعيتوبيانول گران دي . دی وايي اوس لاوختي دی حقايق ترلاسه نه کړو دراتلونکي دپاره څه نه شو کولای .

دگرشاسب بابا په باب مامطالب لوستلي و خو داستاد احمد علي کهزاد دغه کتاب يارسالې له خوبه راويښ کړم هيله ده ټول پښتانه راويښ کړي .

برهان قاطع يو مشهور لغتنامه ده له هغه به دغه پېژندنه دگرشاسب بابابه کټ مټ رانقل کړم .

## گرشاسب اوحکيم اسدي .

دبرهان قاطع په سريزې کښې اسدي توسي چې لغت نويس ليکلی دگرشاسب په برخه کښې وايي از مصنف لغت الفرس کتاب گرشاسب نامه هم باقي مانده که بوزن شاهنامه است وقديم ترين کتاب خطي فارسي است که درکتاب خانه ويانا موجود است بخط همين اسدي است

ختم ساختن گرشاسب نامه درسال چهار صدوپنجاهفت (۴۵۷) هجری بوده ولابدتاليف لغت فرش بعد از آن تاريخ بوده که در آن گرشاسبنامه خودشاهد آورده درلفظ اژفنداق ، قوس قزح بود اسدي مصنف گويد درگرشاسبنامه :

کمان آژفنداق شد ژاله تير گل غنچه ترك ازره آبگير

گرشاسبنامه چې د اسدي په گوتوليکل شوې ده دويانا په کتابتون کښې ،چې دا خبره مو مخکې هم کړې باري دغه متن په برهان قاطع کښې هم راغلې ۴۵۷۰ هجری ليکل شوی.

آسمان ليندۍ شوه ږلۍ غشي

په لغت کښې داسې شرح لري:

گرشاسب : باشين نقطه دار بروزن طهماسب نام يکي از اجداد رستم زال است و اوپسر اترد باشد که ازنباير جمشيد است ونام او پسر طهماسب هم هست و او در حيات پدر

پادشاه وهمان درحيات پدر و در جنگ اسفنديارکشته شد گرشاسب : به فتح اول وثالث وسکون ثاني وسين بې نقطه وبای فارسي همان گرشاسب است که پسر اترد ، ونام پسر طهماسب باشد .

برهان قاطع د گرشاسب بابا د نوم درې واړه څېر ويلی دی.

جمشيد هماغه يما بادشاه دی ، چې د رستم نيکه دی او د پلار په ژوند کښې پادشاه شو دا ،چې وايي گرشاسب د اسفنديار په جگړه کښې ووژل شو نوری ليکنې دانه تاييدوي په دې جگړه کښې بابا تپي شو د گرشاسب بابا مرگ چانه دی ليدلی او هغه بېل صورت لري وروسته به خبري پرې وکړو.

# افغانستان ، پښتو او دري

ډېره موده کېږي ،چې افغانستان په دري او پښتو څه ووايم اوس غواړم خپله څېړنه ثرگنده کړم.

په افغانستان او نورو هېوادو کښې تر اتلسمې پېړۍ پورې ژبه د پوهولو اورا پوهولو " افهام تفهيم" وسيله وه وروسته له نولسمې پېړۍ ،چې اروپايانو په نړۍ کښې هېوادونه ونيول امريکا ، آسيا او افريقې ته رسېدلي و دا مهال ژبې اهميت وموند د خانگړيتوب اوهويت برخه شوه او ناسيوناليزم ته نتوته .

څکه ددوی نيولی شوې څمکې کښې هر څای دوی خپله ژبه رواجوله ، د امريکې ژبه انگليسي شوه چېرته فرانسوي ، چېرته جرمني ......... ژبه وخوځېده .

کله ،چې افغانان ايران ته لاړل هلته هالنديان، انگليسی تاجران ، دنمارك او فرانسويان تللي روسانو او تر کانو د ايران سيمې نيولې وې.

په دې ۱۷۲۴ م يوانگليس د زبردست خان ،چې د شيراز افغان والي او فاتح و حضورته تللی و د تاجر په بڼه دغه انگليس وايي زبردست خان هالندي ژبه زده کړې وه او يوه بله ژبه يې زده کوله. زبردست خان ويل څو ستاسو ژبه زده نه کړم ستاسو په هدفونو نه شم پوهېدای. نه غواړم ،چې د ترجمان په خوله پوه شم زه افغان فاتح يم زمونږ ځينې پښتانه زلميان په دې نه دي پوهېدلي دوی له تېرو مشرانو ماڼيجن دي ،چې ولې يې پښتو نه رواجوله ؟ په هغه مهال ،چې دوی دې خبرې ته اهميت نه درلود دا په

اتلسمې پېړۍ کښې پېل شو نونسمې پېړۍ کښې پخه شوه د شلمې پېړۍ په سرکې د ملي هويت برخه شوه.

امير شېر علي خان څه هڅه وکړه ،چې پښتو رواج کړي . امان الله خان هم هڅه وکړه د نادر خان له راتګ سره وزير محمد ګل خان مومند د اشرط په نادر خان کېښود ،چې پښتو به رسمي کوې نادر خان څلور کاله ژوندي و د مانې له ظاهر شاه ،چې څلوېښت کاله پادشاهي يې وکړه نه يې پخپله زده نه کړه او نه يې رسمي کړه .

په وروستی قانون کښې ۱۳۴۳ لمريز غلام محمد فرهاد په همدې خبرې له لوی جرګې استعفا وکړه ،چې بيا (۳۵) ماده کښې وويل شول دولت مکلف دی دپښتو ملي ژبې د پراخيتا لپاره کار وکړي ،چې دهغه تفصيل په کابل کښې د افغانستان جريدې خپور کړ . کله ،چې فرهاد ته رمضان علي سيفی يوه بل وکيل ستغې خبرې وکړې د پوهاند رښتين د خبرو وار لا پاتې و هغه په خپله وينا کښې وويل :

هر څوك ،چې د افغانستان محترمو خدمتګارانو ته سپکې خبرې کوي هغه په پخپله سپکېږي.

له دې يادونې مطلب دادی ،چې ژبه همدغه مهال مطرحه شوه دا زمونږ کار دی خپل وبال به په نورو نه اچوي.

تر هغه د مخه ،چې اروپايانو ژبه د ملي هويت برخه نه وه ګرځولې په هند ، ترکيه ماوراالنهر افغانستان کښې فارسي رسمي وه . کله ،چې دا خبره رامينځ ته شوه هنديانو هندي ، ترکانو ترکي ، ازبکانو ازبکي ، ترکمنو ترکمني : ځکه ،چې ايران فارسي خپله رسمي ژبه اعلان کړه که سم له هغه سره ،چې ايران فارسي رسمي ژبه کړه په افغانستان کښې که ملي حکومت وای پښتو به يې رسمي اعلان کړې وه .

تر اوسه ،چې اوه اويا کاله شوي موضوع به حل وه له بده مرغه دا کار لا پاتې دی ،چې وروسته له دې به کېږي پرته له هغه د افغانستان ملي هويت نيمګړی دی.

له ۱۳۸۰ نيولې تر ۱۳۸۳ لمريز پورې له پښتنو سره دامريکې په سر مشرۍ ډېره ناروا شوې په داسې حال کښې ،چې ګرشاسب بابا شرمولې پښتانه هم ورسره دي.

زه څلور اويا کلوته خو ځېدلی يم هغه پښتانه زلميان ،چې زما د خپلو زامنو پر عمر دي له (۲۰-۴۰) وايم خدای (ج) دې ستاسو مل شي. ډېرې نيمګړې درته پاتې دي بار يې

ستاسو پر سر دی ؛ ځکه تاسو د ګرشاسب بابا زامن یاست او هغه خپله هوښیاري او زړورتیا درته پرېښې ده.

هر څوک ،چې د ګرشاسب په لار لاړ شي ګرشاسب بابا بللي دي ،چې لاړ نه شي هغوي یې شر مولي دي.

# ګرشاسب یا غرغښت بابا

## د امان الله خان په مهال

له نېکه مرغه په کال ۱۳۰۰ لمریز کښې ،چې دري اتیا کاله کېږي د ګرشاسب بابا اروا پغمان ته راغله ، داسې ،چې یو شمېر ځوانانو ته دا فکر پیدا شو ،چې د غرغښت بابا ،چې هماغه ګرشاسب دی په ډګر تمثیل وکړو هر چاچې دا فکر کړی او د هغه لپاره یې نور زلمیان موندلي او هغه یې ښودلي ځښتن تعالی دی دوی ته اجرونه ورکړي او زمونږ دعاګانې دې ور ورسېږي ،چې نومونه یې لاس ته نه دي راغلي خو داوسنیو زلمیانو لپاره یې یو ښه سبق پرېښی دی.

روحاني شخصیت استاد احمد علي کهزاد ګرشاسب بللی وایي :

۱۳۰۰ لمریز کښې زه په اووم ټولګي کښې وه ،چې د حبیبې د ښوونځي زده کوونکي د ورزشي لوبو لپاره پغمان ته بیول زه هم په هغې ډلې کښې وم.

(( یوه ورځ د یوې ننداري په ترڅ کښې د اسلام د مد او جزر( هسك او ټیټ ) په نامه له غرغښت نه د یوه ملي اتل ، جهان پهلوان ، د ملت بابا ، د ملت معنوی پلار ، غښتلی غرغښت یادونه کېدله ، کوم سړی ،چې ګرشاسب بابا یا غرغښت تمثیل یې ( نه پوهېږو دغه نېك مرغه څوك و ؟) کاوه د غرونو له څوکو د پردې په آخر کښې را څرګند شو . په ډېر نارینه غږ یې د پوهنې زده کوونکو او لیدونکو ته بلنه ورکړه ،چې سره یو موټی شئ خپل ملت او هېواد لوړو پوړوته ورسوئ.

استاد کهزاد زیاتوي که رښتیا ووایم تر اوسه ،چې دنیمې پېړۍ ډېر کلونه تېر شوي هغه نارینه غږ مې په غوږو کښې دی کهزاد (رح) بیا لیکي :–

ګرشاسپ د اوستا افسانوي پهلوان دی ،چې سندرو کښې یا دېږي . ابوالموید بلخي د هغه په نامه کتاب لیکلی د سیستان تاریخ یې یادوي حکیم ابونصر علي بن احمد

ګرشاسبنامه لیکلې . شاه بودلف شیبانی امیر اسدی توسي هڅوي ،چې ګرشاسبنامه ولیکي .
په پښتو کښې او د افغانستان په ملي عنعناتو ګرشاسب د غرغښت په څېر پېژني . د فقه الغت له مخې ګرشاسب او غرغښت یو سړی دی . دی کښې هسیڅ شك نه پیدا کېږي))(کهزاد).

چه از نوجوان چه مردکهن زګرشاسب بودی سراسر نخن

که زوړ دی که زلمی ټول دګرشاسب ذکر کوي.
استاد کهزاد خپل تخلص د ګرشاسب له نامه اخستی دی هغه وګړي ،چې پښتون او افغان قوم او نژاد بولي هسې نه دي ،چې وینې خبره وي دا قوم دې باری دمېړانې له مخې څوك ،چې مېړانه نه لري نه پښتون دی نه افغان د پوهاند حبیبي خبره سمه ده ،چې اپګان عربو افغان کړي په عربي کښې د پ ټکی یا توری نشته هغوی پښتون ته بشتون او پاکستان ته باکستان وایي.
کهزاد همدغه بیانوي ،چې بودلف شیباني امیر . ابوالموید بلخي او اسدي توسي سلطان محمود . ټول ګرشاسب د مېړانې او غیرت عر بولي ولې؟ مېړني ټول یوقوم .

## فارس او فارسي

ځینې خلك داسې فکر کوي ،چې فارسی د ایران ژبه ده ،حال دا ،چې دفارسي کلمه په لومړي اسلامي پېړۍ کښې د فارسي کلمه رامنځ ته شوه مخکې له هغه دانوم نه و په اسلامي نړۍ کښې حضرت سلمان ،چې یو صحابي و د فارس و هغه ،چې کومه ژبه ویله دده په اعتبار فارسي و بلل شوه بیا همداسې پاتې شوه .
پښتنو هم ،چې مسلمانان و د همغه حضرت سلمان فارس دغه ژبه ښه بلله . دومره خدمت ،چې پښتنوفارسي ژبې ته کړی امیریانو نه دی کړی، دا خبره به تاسې په تعجب کښې وساتي فارسي دصفاریانو په مهال سیستان کښې د سکزیانو له خوا ،چې پښتانه و. د یوې پېښې له مخې مینځ ته راغله بیا په غزني کښې وروزله شوه بیا غزنویانو هند ته ورلوله بیا غوریانودا کار وکړ.
پښتنو فارسي ژبه د حضرت سلمان فارس ژبه بلله خوشحال خان خټك احمدشاه بابا فارسي اشعار ویلي دي.

لنډه دا چې ایرانیانو پخه ډوډۍ وخوړه او هغه یې خپله رسمي ژبه کړه څوله افغانستان پخپله نه دوی شونه د هغه ... حتی دري ورکه شوه ننۍ ایراني شوه دا یوکلك تصمیم غواړي ،چې پښتو ملي او رسمي ژبه شي کنه افغانستان هیڅکله نه سمیږي ګډوله به پاتې وي.

## د پښتنو خدمت فارسی ژبې ته :

۱ – فرخي سیستاني سکزی پښتون و ښه پیاوړی فارسي شاعر دی.

۲- مفتاح الفضلا : دا یوه فارسي لغتنامه ده د ابومظفر محمد شاه غلځي دسلطنت په دوره کښې لیکل شوي ددې لوی قاموس لیکونکي محمدبن داود بن محمود و ،چې په مقدمه کښې یې دغه قاموس خپل پادشاه محمدشاه غلځي ته ډالۍ کړی همدغه فاضل لیکوال دوه کتابونه نور هم لیکلي ۷۲۹ هجري کښې یویې د خاقانی د اشعارو شرح اوبل یې د انوري ،چې په دې مهال غیاث الدین د محمود شاه غلځی څوی پادشاه و.

۳- تحفة السعادت ،چې تحفة السعادت سکندري هم بلل کېږي دغه مهم فارسي قاموس د سکندر لودي په زمانه ۸۹۴-۹۲۲ کښې لیکل شوی لیکوال محمود بن شیخ ضیا دی.

۴- فرهنګ شیرخانی دغه قاموس دا علیحضرت امپراتور شیرشاه سوري په نوم یادشوی دی په ۹۵۵ هجري کال کښې همدغه پوه فواید الصنایع او زبدة الفواید کتابونه هم لیکلي دي شیرشاه سوري څلور کاله د هند امپراتور و د هغه عظمت او هیبت دومره ډېر و ،چې تراوسه پورې محسوسېدای شي.

نور مثالونه نه را وړم زمالوی مطلب دادی ،چې تر اتلسمې پېړۍ مخکې د ژبې خبره نه وه ځان نه تیرباسو دا زمونږ د نده ده ،چې پښتو ژبه خپله کړو او خپل ملي هویت بشپړ کړو کنه همداسې ،چې ګرشاسب بابا ته دارمنستان نه پادشاه نیولې تر مهاباهارتا هندویي کتاب ټولو به د پښتو لپاره کار کوه.

زمونږ ډېره ګیله له ظاهر شاه کېږي په همدغه مهم مهال څلوېښت کاله پادشاه و دده له کورنۍ نه بیا هغه ګرشاسب بابا شرمولي پښتانه ،چې د طالبانو په مقابل کښې د امریکې په مرسته ودرېدل.

زه ،چې ګرشاسب بابا نه وم شرمولی طالبان مې سم بلل ډېرى ناروا وې راسره وشوې سل
په لالي پور دايوه يې هم د بنګړو.

## د ګرشاسب بابا بلل او شرمول :

مونږ وليدل ،چې استاد احمد علی کهزاد اووم ټولګې کښې وه ،چې غرغښت بابايې
وپېژاند د مرينې تر ګړی د ناروغی په حالت کښې يې د ګرشاسب يا غرغښت په فکر
کښې و پښتون داسې وي . دې ګړندي ، قانع او هسکه غاړه و.
په دغه مهال ،چې ۱۳۰۰ لمريز زما يو مشر ورور هم پغمان کښې و ،چې دغرغښت
بابا ننداره کېدله ده ويل :
ګرشاسب بابا د پردې په پای کښې را څرګند شو نوراني او هيبتناك و غړېې وکړ راځئ

ميرويس ،شاه محمود ، شاه اشرف ، آزاد شاه احمدشاه .... نور يې ونازول ،چې تاسو
مېړانه پرځای کړه .
له شاه شجاع يې مخ واړاوه غازيان يې و نازول
پر امان الله خان يې لاس تېر کړ.
څو چې ژوند پردې جهان وی غرغښت بابابللی به يوه ډله وی او هغه چې غرغښت بابا
شرمولي وي هغه په بله ډله وي که پښتون وي تاجك ازبك که هزاره .

## درې ګونې نيکه ګان(Trenite)

وروسته تر هغه ،چې د پښتنو د "آر" يعنې د اصل په باب ناسمې خبرې وشوې ،چا بني
اسرائيل بلل چا عرب او ترك د دوی د هريوه تاريخ وروسته و له دې مطلب دا شو که بني
اسرائيل وو له کومې نېټې ، که عرب و يا ترك ؟
کوم اسناد ،چې موندل شوي لکه اوستا ، بنداهش او مهابهارتا، ګرشاسنامه ، د
ابوالمويد بلخي ياد اسدي توسي ... درې ګونو نيکه ګانونومونه او ددوی کارنامې
ولېدل شوې ،چې خبره يې واړوله نورسه داخبره سمه نه وه ،چې بني اسرايل ، عرب يا
ترك دي ،چې دغې مرحلې ته استاد کهزاد ورسوله.
بټن ( بيټنی ) سړبن ( سړبنی ) غرغښت .

# د پښتنو په برخه کښې نوې څیړنې

د پښتو او پښتنو میرڅني لکه ایران او انګلیس تل په داسې اسنادو پسې ګرځېدل ،چې پښتنو نه خپله لار ورکه کړي؛ ځکه په اتلسمې پېړۍ کې اعلیحضرت ولی الله شاه محمود هوتك افغان ربې په اصفهان ورپاو او اعلیحضرت ولی الله احمدشاه پردهلی دا دوې خبرې هومره ،چې آسانه بلل کېدې هسې نه و غلیمان راوینښ کړل ، ځکه په اصفهان او دهلي کښې ،چې افغانانو بری وموند هلته اروپایان و او بشپړ راپور یې واخیست.

دوی ،چې داډول زړه ورخلك ولیدل نو ملایې وتړله ،چې پښتون ووهي په وسله ، په پیسو ، په تبلیغاتو او اخلاق یې ویجاړ ولو..

طالبانو هم یوه نمونه وښودله ،چې خپل او پردي ورباندې راټول شول. داسې جګړه ورسره کېږي لکه ،چې نازې جرمنی سره کیدله . مخ اوښتې یې نه ګوري ،چې پښتون و غلام نه و بې غمه یې وژنه.

نوې څېړنې : ۱۳۷۱ لمریز ربانی مسعود نواز شریف دپاکستان صدراعظم فرانسه ، امریکا روسیه د ټولو مخه دپښتنو د ځورولو و میر محمد صدیق فرهنګ یو کتاب ولیکی افغانستان په پنځو وروستیو پېړیو کښې دغه د پښتنو د غلیمانو لپاره یو سندشو ،چې پښتانه دسلیمان له غرونو راووتل او شاوخوا ځمکې یې لاندې کړې د افغانستان نوم هم خراسان په نونسمې پېړۍ په هغه قرار داد کښې ،چې دشاشجاع رنجیب سنګه او انګلیسانو تر مینځ وشو د فرهنګ کتاب لکه یوه فلسفه شوه کومې ناسمې خبرې ،چې فرهنګ کړې وې پر هغې مقالې ولیکلې شوې کتابونه شول ... کتاب تاریخي نه وه ، هیڅ یو سپین یوه داسې نه لیکي ماورهنګ ګرم نه باله ځکه یوه دولتي مامور د څېړنې په لار ناپوه یوازې تعصب و ،چې دی یې هڅولی و . فرهنګ ضروري او مهم کتابونه کتلي نه و.

هیرودت ،چې د تاریخ پلار ګڼل کېږي دوه زره کاله د مخه تېر شوي فرهنګ هغه نه و لیدلی څوك ،چې ځان مورخ بولي هغه بویه هغه وګوري ،چې دتاریخ پلار د پښتنو په باب څه ویلي دي ؟ هغه پاکیکا ، پاکتیان ، پاکتی ، چې ځاني . خلك او پاکتي شیان

ښيي نو څرګنده ده ،چې پاکستان پکتيکا کښې و . نه يې نوم ناسم دی نه يې ځمکه او جغرافيا.

د تاين بي Toyn bee مهم کتاب ،چې نوم يې ځمکه د بشر مور ده اود نړۍ د تاريخ لنډيز دی هغه يې نه دی کتلی په سلهاو نور.

فرهنګ او نورو مورخينو تاريخي اتلسونه هم نه دي کتلي وروره؛ بس ګډ د په دښته کښې لالهانده.

متاني ،بسري ، کاسي ، ساك ، ساپی ، سوريان ، بودينی، توري ،هوتك ،لواني او په سلهاو نورې نښې په تاريخي اتلسوکې ليدل کيږي او په سلهاو کتابونه ليکل شوي.

کوم لس نومونه ،چې د مثال په توګه ماوليکل د هريوه لپاره يې څلورزره کلونه وړاندې تاريخي اسناد لرم . له ځانه ګډ نه يم.

د پښتنو په باب نوی څيړنه همداده.

دواړه نه کېږي رحمان

يابه يـــار وي يابه دار

هم پيسې ګټم هم چوکۍ غواړم هم ښه خواړه پوښاك يابه داکوې يا به سم د خپل قوم خدمت کوې د ګرشاسب بابا له هوښياری به ګټه اخلې.

که د مطلوب له طالبانو ځان شمېرې

ای رحمانه اول سيال شه بيايې مومه

دغه دوره ۱۳۸۳ لمريز ۲۰۰۴م دومره پښتنو ته ګرانه ښېښه ،چې خدای تعالی (ج) دې دغه ګرانه ورته آسانه کړي

آمين يا الله العالمين

ميرغلام محمد غبار په ۱۳۱۰ لمريز د کابل په مجلې کښې ليکلي دي ،چې د ډېرې ستاينې وړ دی وروسته د غبار فکر د سياسي حالاتو له امله په بېلو لارو لاړ ،چې داسې يو بدلون د تاريخپوه لپاره تاوان ښېښوي.

له هغه مهال نه ،چې مورخ غبار خپلې مهمې مقالې ليکلي اودرې او يا کاله تېرېږي له بده مرغه پښتانه ليکوال هم په هغه پسې ونه ګرځېدل اوس هم نه ګرځي هيله ده ،چې له دې وروسته پسې وګرځي.

# د پښتانه ويده تاريخ

د کابل مجلې ۱۳۱۰ کال په نهمې ګڼې کښې دغه مهم او په زړه پورې مطالب لوستلی شئ:

« د پښتنو د آر ( اصل ) له لرغونوالي دغه مطلب د سړي ماغزوته رسيږي ، چې دپښتنو ډېر قومونه د افغانستان له لوړو غرونه د پيړيو پيړيو په ترڅ کښې د نړۍ ليرې هېوادوته تللي دي اود ډېرې مودې له تېرېدو سره ځان ترې هېر شوي دي ، ښايي يوه ورځ به دڅېړنولاس له دغه حقيقت نه پلولېږې کړي څرنګه ، چې ښه انګليسي څېړونکي وايي :

" د تاريخپوهانو لپاره د پښتنو په هېواد کښې درازونو يوه ډېره لويه پانه ويده اوغلې ده " ښېلو بيا داسې وايي : " د تاريخ د څېړونکيو او لټونکو لپاره به دهېښ تيا خبره وي ،چې څنګه هغه نومونه ،چې هيرودت دوه نيم زره کاله وړاندې ايکلي دي له اوسنی نومونو سره ،چې د نړۍ په نورو برخو کښې دې سم لګېږي.

هيرودت په ارمنستان کښې د ښېل هېواد نوم يادوي ،چې پاکتيا نومېږي ،چې د افغانستان له پاکتيا سره يوشانې دي . ګرانه خبره نه ده ،چې دا نوم په اروپا کښې وګورو لکه پکتوی يم په فرانسه او پکتيس په انګليستان کښې ښېلوبيا وايې اسکيت زمونږ په هېواد انګليستان کښې له سکات سره حيرانونکې ورته والی لري همداسې د کمبرين په نامه يو قوم ،چې پخوا په برتانيه کښې و د قلات د خان له قوم سره او کمباری نومېږي او کامير خېل په پکتيا کښې ،چې داپريدو ځانګه ده . همدا ډول دلاکرين قوم ،چې په انګليستان کښې پخوا اوسېدل له لوګر سره ورته والی لري .

د خواشينۍ ځای دی ،چې د افغانستان په مشهورې مجلې کښې درې او يا کاله د مخه دا مطلب د پښتنو په برخه کښې ليکل شوی و.

په داسې حال کښې ،چې دپښتو دژبې لپاره بيا وروسته د پښتونستان خبره وه خو دغه لړۍ چا ونه ښوروله .

اوس ډېر نور کتابونه دي نور آثار اونقشې دي ،چې ټول د پښتنو لرغوني تاريخ او دا چې څنګه دغو خلکو دنيا بدله کړې ده دومره اسناد موجود دي ،چې د نړۍ

تاریخپوهانو لیکلي دي مونږ نه لیکو هغه څه ،چې لویدیځوالو لیکلي په انګلیسي یې لیکلي هغوي باندې ځان خبر کړي.
هغه خلك چې ګرشاسب بابا شرمولي د رهبرکار ګران خبرې یې کولې او ددیموکراسي نغاره غږوي هغه دې یو وشیتوکسانو جمهوري ریاست ته ځانونه نېغ کړي افغانستان له بهرني عسکرو ډك دی یوازې پښتانه وژني چاچې ډېر وژلي لکه دوستم قدریې ډېر دی هغه تسلیم شوي اسیران ووژل د امریکایانو ترمخې یې ووژل همدا ددیموکراسي مرګ و.
دېرش زره کاله دمخه افغانستان کښې خلك دکلي مینځ ته راتلل په خپلو کښې یې رېړونو باندې خبرې کولې هغه ته به یې لارې موندلې مشر به یې ټاکه.
دا هم اسناد دي . دېرش زره کاله وروسته دیموکراسي ګرشاسب بابا شرمولي له امریکې زده کوي ،چې دوه سوه کلن دیموکراسي لري.

# د افغان دملي تاریخ فلسفه

که چېرې ګرشاسب بابا د یو ملي اتل پادشاه په توګه پېژندل شوی زردښت د یوه فیلسوف په صفت پېژندل کېږي دغیرت اوحکمت ډېرې سختې له دوی پاتې دي ، اخلاق . د ټولنې د ندې ، سوله وداني ، سیمه او دامن ځای ورکول داسې ډېرې موضوعګانې دي ،چې د بشر دښېګڼې لپاره بیان زمونږ اوسني زلمیان ددغې فلسفې په رغولوکښې دې هڅه وکړي که اوه زره کاله پرې تېر دي بیا هم ښه دی ،چې وشي که څه هم ناوخته دی میرویس نیکه او احمدشاه بابا او نور مشران پوهېدل.
احمدشاه بابا افغان فلسفه نه ده ویلې نوویلی یې و ،چې غواړم افغان خیالات نړۍ ته څرګند کړم.
دا ،چې احمدشاه بابا ولې دي " افغان خیالات " همدغه د افغان د ملي تاریخ فلسفه کله ،چې افغانانو د ایران ښارونه نیول دوی هماغه خپله وچه ډوډۍ خوړه ،چې کار یې باله ډېره کلکه او پتیره وه کوم نعمات ،چې په ښارونو کښې و هغوته یې نه کتل.
ایراني لیکوال هیڅکله سم ټکی د افغان لپاره نه په کاروي . بیاهم حقایق څرګندېږي لاندې مثال ولولئ.

افغانان ،چې اصفهان نه لوټ لپړ و د خپل ضرورت په اندازه یې یو څه واخیستل هر ښار ،چې ددوی لاس ته ورته که ددغه یوه سړي پر سر د جواهرو اوسرو زرو توشی ایښې و دوی به لیدل دوی له لښکرو او توابعو یوه هم د افکر نه کاوه ،چې هغه واخلي. محمود " اعلیحضرت ولي الله شاه محمود هوتك" چې پر تخت کښېناست له اشرف " اعلیحضرت اشرف هوتك" سره شخړه شوه.

محمود ته وویل شول ،چې د اصفهان دښار هټې وال هټی بندی کړی محمود وویل د کانونه پرانیزئ ټول بازار پرانستی و.

افغانان اسیران نه ساتي څه موده وروسته یې خوشې کړي ، ډېر کسان یې په جګړه کښې ونیول او خپل زامن یې وبلل او د اولا په نظر یې ورته وکتل . تاریخ منتظم ناصری (۱-۴۰ مخ) اعتمادالسطنه.

# تحلیل او کره کتنه

۱.هغه هېواد ،چې دوی نیولی و دهغه له ښارویي د اړتیا په اندازه څه واخستل او پخپله یې خپله وچه پخه کړې ډوډی (کاك) خوړه.

۲. د خلکو په جواهرو او طلایي اړه نه درلوده .

۳. اسیران یې نه ساتل که یې ساتل د خپلو زامنو او اولاد په توګه .

فلسفه : حرض ناروا دی ، دخلکو مال نه اخستل او اسیر نه ساتل دا خبر ې د میرخمن له خولې وه دا حالت پرتله کړئ په شمال کښې ۲۰۰۱ م د امریکایانو له شتون سره سره ،چې اسیرانو باندې څه وشول؟

په همدې توګه احمدشاه بابا سل زره هندي اسیران دپاني پت په جګړه کښې آزاد کړل باري هغه مسلمانان ،چې له هندوانو سره یوځای و هغه پرې نښودل دا د افغان د ملي فلسفه یوه اخلاقي نمونه وه.

د افغان فلسفه اسلامي تقوی او ځوانمردی ، مېړانه ده ،چې ځانله تفصیل لري له نیکه مرغه هیرودت د ساکو یوه لویه جرګه ثبت کړې ده ،چې ځنګه د پارس د جګړې ځای ونیسي ؟ جرګه او خبرې کول په ملي اړوند چارو ډېره مهمه ده او دابه ډېره پخوانۍ جرګه ،چې هېرودت دتاریخ پلار دوه نیم کاله د مخه ښودلې بله موضوع پاکلمني ده ،چې دلودي دیوې میرمنې چار دی.

سیمه یا پناه ورکول او دهغوی لپاره ،چې سیمه ورکول شوې ده ډېره جګړه کول.

هغه څه ،چې مونږ پښتونولي بولو د هیرودت دتواریخو په کتاب کښې راغلې ده که دساکو جګړه څېر له داریوش سره وکتل شي.

مونږ دغه ټول د طالبانو په مهال په افغانستان کښې لیدلي . طالبان کوم کتاب کښې دا نه ولیدلي خو افغان فطرت همداسې دی.

پښتانه خپل طبعیت لري ،چې هغه ځان څرګندوي.

بیا هماغه صورت د هوتکو په مهال په ایران کښې لیدل مونږ بویه په جوهر پسې وګرځو ،چې د افغان ملي فلسفه ده پښتانه هماغه دي ،چې محمد ګل خان مومند پسې وګرځید لنډکې پښتو ډېر څه په لاس راکوي .

چې تفصیل یې بېرته په تاریخ کښې لیدل کېږي . له هغه ډېر په لنډو ټکو کښې ووایو . دین . ناموس او خپلواکي دي همدغه درې ټکو باندې ډېر خلك ،چې پښتانه هم نه وي ټولېږي ځکه پښتون هماغه دی ،چې دین ناموس او استقلال ولري.

میرویس نیکه همدا وویل : دین . ناموس وروسته ولیدلشو . په ایران بلوڅ . عرب . ازبك . تاجك . هزاره زردښتي . ارمني . چې خورا غیرتي خلك و .په افغانستان اوس ۱۳۸۳ لمریز ملي فلسفه نشته دلویدیځ مفاسد ښارونو ته ورننوتلي.

## په تاریخ کښې غلا او غبن

خدای ږو تر ډېرو مې نه منله ،چې تاریخ به اړول کېږي یا به د نوي نسلونو پر سترګو پرده اچول کېږي . لومړی به ددې خبرې یوژوندی مثال ووایم : اتلس سږ کال ۱۳۸۳ لمریز یو تاریخي اتلس په لاس راغی . دغه تاریخ دیارلس وارې چاپشوی دی په دغو کلونو کښې د اتلس نوم دی Collins Atlas of world History لومړی چاپ ۱۹۷۸م دوهم ۱۹۷۹ م درې یم ۱۹۸۰م څلورم ۱۹۸۱م پنځم ۱۹۹۳م شپږم ۱۹۸۴م او اووم ۱۹۸۵م اتم ۱۹۸۶م نهم ۱۹۸۸م لسم ۱۹۸۹م یوولسم ۱۹۹۸ م دولسم ۲۰۰۱م دیارلسم ۲۰۰۳م.

دا لا څه کوئ ،چې د تاریخ ،جغرافیې او اقتصاد شپیتو پروفیسرانو ددغه اتلس په جوړولو کښې برخه اخستې ده .

اوس تاسې وګورئ ،چې د افغانستان په برخه کښې دوی څه کړي ؟ مخکې تر هغه ،چې غلط ټکی رواخلم دا خبره کوم ،چې بمباری او وژنې ،چې امریکا ، انګلیس کړي دي څه چاره به یې ونشي که دافغانستان ټول پوهان راټول کړئ ددې اتلس چاره نه کېږي. کوم ،چې شپیته لیکوالان لري او دیارلس وارې چاپ شوې دی.

## د نړۍ پیښې لیك ( د پېښو نېټې ) A world Chronology :

آسیا ۹۰۰۰کاله تر میلاد مخکې ـ د نهه زرم کال په باب څه نه وایي په ۶۰۰۰ م کال کښې لیکي ،چې تایلند کښې وریجې وکرل شوې.

۶۰م کښې وایي کوشانی امپراتوري جوړه شوه نه وایي چېرته وه ؟ ۱۸۵_ د باختر پادشاه شمال غرب هندونیو ۷۶م نه تر ۱۰۲ م پورې کنشکا د شمالي هند واك ونیو. نه وایي چېرته و ،چې شمالي هند ته لاړ ؟

۱۰۱۸م محمود غزنی ساکس قنوج د هند دولتونه یې مات کړل څوك څه پوهېږي.

محمود غزنی ساکس قنوج ټول یو نوم دی که د سړی ځای او قوم یې یولنډ نوم کړی دی .

۱۱۷۰م معزالدین محمد دغزنی د هند اسلامی امپراتوري جوړه کړه دلته دغوری نوم نه راوړي افغانستان نه یادوي ،چې غزني اوس په کوم هېواد کښې دی دغور نوم خونه لیکي .

۱۵۲۵م بابر دپاني پت په ډګر کښې ددهلي سلطنت ونیو او د مغلو سلسله یې جوړه کړه دانه وایي ددهلي سلطنت چاسره و د ابراهیم لودي او دلودي سوري غلجي خبره نه کوي له ۱۱۷۰م نه ۱۵۲۵م ته راغلي.

۱۷۳۶م د صفویانو لړۍ د نادرشاه له خواړنګه شوه.

حال دا چې شاه محمود هوتك په ۲۲ د اکتوبر ۱۷۲۲ اصفهان ونیو او صفوي پادشاه شاه حسین د ایران تاج دمحمود پرسرکېښود افغانانو ۱۷۲۹م پورې اصفهان کښې د ایران پادشاهي کوله.

۱۷۴۷م احمدخان ابدالي د افغانستان پادشاهي جوړه کړه.
دلته د احمدشاه بابا امپراتوري نه ښيي .چې له کوم ځايه تر کومه ځايه پوري وه ؟
نيم ايران . ټول پاکستان . کشمير د شمالي هند يوه برخه .
۱۳۸۲ م د افغان انګليس لومړۍ جګړه نه يادوي .چې انګليسانو لومړی عسکري ماته وخوړه نه يادوي . په هانګ کانګ کښې د ترياکو جګړه ليکي.
ديو زده کوونکي په ذهن کښې هرو مرو دا سوال پيداکېږي .چې لومړۍ جګړه کله وه چې دايې دوهمه ده .
۱۹۱۹م د افغان انګليس دريم جنګ او د خپلواکۍ يادونه نه کوي دا خای يې دا مرتسر پاڅون ته ورکړی
۱۹۷۹م روس افغانستان ته ننوت.
۱۹۸۹م روس له افغانستا څخه ووت دلته د افغانانو مقاومت او جګړه نه يادوي.په تاريخي دورو کښې د باکتر . سند . ساك . افغانستان نه يادوي. دا .چې نور اتلسونه وايي .چې څلور زره کاله د مخه له ميلاده کړنه او ښار جوړول له افغانستانه پيل شوي ده.پخپله افغانان .چې دغه ډګر ته رانه شي ورورو ددوی تاريخ تت او پټ پاتې کېږي . بلخ باختر . باکتر . هرات غزني . کابل . غور . سيستان يا ساکستان . پاکتيا . ګنداهارا . باميان . کاپيسا . کندهار .چې تاريخ کښې راغلي او اوس .چې ستا دی ستانه شي نو څرګنده ده .چې په مونږ کښې کوم بې خوندي راغلې هغه بويه ورکه شي.


عراق

دسور يا غور
امپراتوري
۱۱۷۵ ع

بنګال

# پښتون او خو ځښت

د افغانستان درې سیندونه په نړۍ کښې له دې کبله ارزښت لري .چې درې غوره . مدنیتیونه یې پاللي دي :




۱_ Tauri . ۲_ Sauro Mate . ۳_ Neari . ۴_ Budini .
۵_ Anderophagi ۶_ Gelalni . ۷_ Agathyrsi . ۸_ Melanchlaeni

(د هیرودتس تواریخ )

ترديې ځايه دغه نومونه په بین النهرین . عراق . سوریه ترکیې کښې لیدل کیږي .

ساك په اروپاکښې ختیځ برخه بیا مینځنۍ برخه بیا سکاتلند دغه سکاتلند مخکې پاکت لند و پاکتیس لند.

ACKU

# افغانستان ۱۷۶۲ ع کې

ACKU

History of Scotland .

دا یو کتاب دی ،چې په ۲۰۰۱ کښې چاپ شوی دی .د چاپ ځای یې د سکاتلند ملي موزیم دی .

لویو تاریخ پوهانو کتلي او سمون یې په کښې کړی.

تر اوسه افغانان په دې نه دي بریالي شوي ،چې د خپلو امپراتوریو نقشې وباسي هرڅه ،چې نور په لاس راکړي هماغه منو. همدا ډول ،چې موږخپله څېړنه نه ده کړې د هغه به منو اوسني تاریخ په سیاست ککړ دي په نوموړی کتاب کښې Pictlond دسکاتلند دپخوانی نوم په توګه راغلي دي او دهغه ترجمه که وګورو پاکتیابه وي

لویدیځ هېوادونه اوس په تاریخي حقایقو سترګې پټوي یو بل نوم یا تعبیر غوره وګڼي په جهاني کتاب کښې د پکتس معنی دابښې ،چې ساکان ږیرې رنګوي د ږیرې

رنګول اوس هم شته سرې شنې یې رنګوی او داوایي ،چې دوی آریایان له لویدیځې آسیا راغلي زړور او دنګ خلك دي ، دوی " بیکر " چې دباکتر یوه بڼه یا څېر دي لومړی د دوی نوم و بیا پکتس شو او بیا سکات مونږ پوهېږو ،چې باکتر پکتس او ساك دی دغه ورکه لړی یا رابطه څنګه ژوندی شي ؟

زما په ګروهه هغه زلمیان ،چې په بهرنیو ژبو پوهېږي له هغه دې ګټه واخلي خپل تاریخونه دې هم وګوري : ځکه دوی وخت لري دا رڼا وې او رغاوې ددوی چارې دي.

څرګنده ده ،چې د تاریخ لیکلو په پړاو کښې نه یو سره له دې ځینو تاریخ لیکونکیو د میرمحمد صدیق فرهنګ د ملي تاریخ داصلي ستنې د نړولو هڅه کړې ،چې هغه وایي پښتانه د سلیمان له غره خواره شوي دي د انګلیسانو، یهودو او ایرانیانو خبرې کوي.

له همدې امله د پښتو له راڼه تاریخ نه حتی پښتانه نا خبره پاتې دي .

د نړۍ تاریخ پوهان په دوو خبرو نه پوهېږي ،چې یوه یې پښتو ژبه ده او بله د پښتنو د ژوند فلسفه پښتونولي ده . د ختیځ تاریخ به تر هغو روښانه نه وي او تت به پاتې وي.

تاین بی وایي : په " اتلسمه پیړۍ کښې تر میلاد وړاندې کاسیان بابل ته لاړل او شپږ پېړۍ یې هلته پادشاهي وکړه " کاسیان اوس هم شته د پښتنو په قومونو کښې دی.

## د رڼا په لټه کښې

پښتانه دپاره د ځان پیژندنې هڅه په کار ده ،بیا خپله پښتونولي ،چې ډېره لرغونې ده دهغه پرتله کول له نورو سره ضروري دي .

ددې لپاره ،چې موضوع له جدي حالته و وزی درحمان بابا یو ریښې یا شعر دلته لیکم:

### هیله اومناجات

خدایه زړه د رقیب نرم په احسان کړې
ماله یاره یارله ما سره یکسان کړې
هغه درد ،چې د آشنا د بېلتانه دې
رفع دفع یې دوصل په درمان کړې
غم دهجر ،چې تیری یې تر اورسخت دی
له دې غمه مې په امن په امان کړې
کارو بار د عاشقۍ چې ډېر مشکل دی
دا مشکل زما په ما باندې آسان کړې
حجاب لیري کړه زما د یار ترمیان
بی حجابه مخ د یار راته عیان کړې
که مطلب د نور چانورې مرتبې دي
ما ګدا په آستانه د خپل جانان کړې

که دا نور عالم وبله خواته گوري ‌ ‌ ما په لوري ددلبرو نگران کړي
زه چې يارله ورخم په دغې لاري ‌ ‌ مهتر خضر مهتر الياس مې رهبران کړي
تاريکي د معصيت را څخه واخلي ‌ ‌ د طاعت په روښنايي مې زړه روښان کړي
چې زما په پريشانی يې زړه ښه کيږي ‌ ‌ زړه ما غونډې په يارپسې پريشان کړي
چې زما په چمن راشي گستاخي کړي ‌ ‌ د شبنم په څېرېې عمر يو زمان کړي
چې آزاده د منکرو ترسره پريوزي ‌ ‌ د فلك په څېرمې توره د زبان کړي
هغه غشي چې د ترکو د غمزووې ‌ ‌ هر کلام مې د هغه غشي پيکان کړي
چې کشور د افغانانو معطر شي ‌ ‌ د هربيت مصرع مې زلفې دجانان کړي
چې هرفرد يې دنافې هسې خوشبو وي ‌ ‌ برکت مې په جزدان په قلمدان کړي
ته چې منع کوي د يارله لوري ‌ ‌ کاشکې باد دسحر منع په بوستان کړي
نه به مانع کړي ته له خپله ياره ‌ ‌ نه به کوز په ځمکه ستوري د آسمان کړي

الهي دخپل حبيب له برکته
دا ساده انشاء رنگينه درحمان کړي

رحمان بابا په دغه شعر کښې ډېر څه پښتنو ته ويلي دي ، دی وايي .چې زما په چمن راشي گستاخي کړي دشبنم په څېرېې عمر يوزمان کړي . زموږ چمن يا وطن ته .چې هر څوك راغلي دي موږ همدا کړي څومره .چې کېدای شي ژربېرته ووزي

دی د افغانانو کشوريادوی .چې افغانستان دی او هغه معطر او دښې ډېر وريولي ښه وړم .چې عربي يې معطر دی هله وي .چې خلك په سم حالت کښې وي که چېرې د رحمان بابا دغه وينا په اروپايي تورو ووايو دايې وطن پرستي دده يا ناسيوناليزم دی وايي .چې دده په شعر کښې دغه رمز وي او دا کمال ولري .چې پښتانه راوينښ کړي .

دغه دوې خبرې يوله بله توپير نه لري څوك .چې خدای ج غواړي هغه به وطن اود وطن وگړي هم غواړي .څکه په وطن کښې د څښتن تعالي هستولي يا مخلوق اوسي رحمان بابا په خپلې خبرې ټينگک ولاړ دی وايي:

نه به مامنع کړي ته له خپله ياره يعنې دومره گرانه خبره ده لکه .چې د اسمان ستوري په ځمکه کوز کړي

يو پښتون پرڅښتن تعالی مين وي . خپل هېواد اوخلکو سره مينه لري د هغوی هوسايي غواړي اوڅوك يې له دې لاري نه شي گرځولی

ACKU

زمونږ عیب په دې کښې دی .چې دنورو ژبه موخو ښېږي هر چیرته موچې څوکاله تېر کړل بیا مو پښتو هېره کړېده

پوهاند رښتین یو ورځ په کابل کښې راته وویل .چې دغه هندوان او سکان وینې ددکان په شاکښې یې خیل او لادونه کښېنولي وي هماغه خپل خط اوژبه ورښیي کالي یې هماغسې دي لوښي هماغه. که داسې یې نه وای کړي دوی به نه وي خوځینو به یې .چې زمونږ پلرونه په هندویي خط او ژبه پوهېدل خومونږ نه پرشوی ماورته وویل رښتین صاحب دپرپښتانه کابل کښې همداسې شوي . ده وویل زما په خبره پود نه شوی زما مطلب همداو

دغه شعر یو معجزه ډوله شعر دی . رحمان بابا په دغه کلام کښې ډېر رموز راوستی دی . دڅښتن تعالی سره مینه .له پښتنولی مینه . له قوم سره مینه . انسان سره مینه . اسلام سره مینه

د رحمان بابا مضامین په یوه بله ژبه د گرشاسب بابا خبرې دي . دی یو صوفي سړی خبرې یې دننگ اوغیرت بیان دی

که دمطلوب له طالبانو خان شمیري
ای رحمانه اول سیال شه بیا یې مومه

سیاله کیدل ډېر ضروري دي څوك .چې دچا سیال نه شو کیدای ورخ یې بده ده

هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي
د رحمـــان پـــه شـــعر تـــرکې د بـــاگرام

باگرام دکوشانیانو ( کوچیانیانو ) داوړي او پېښور یې د ژمي پلازمېنه وه اوله دې دوه زره درې کاله تېر دي درحمان بابا په مهال ۱۷۱۱م شپاړس سوه کاله کېدل مگر دی په دې تاریخ پوهیده او په خیال کښې کوشاني دوره ژوندی وه .چې ده په پېښور کښې شعر وایه او باگرام کښې تر کو(ښکلي ) نڅېدلي سندرې یې ویلي او دده شعرونه یې ویل

مونږ خپلو خوانانو ته وایو چې خپل تېر برم درپه یاد کړئ خان وپېژني خپل تاریخ وپیژني

رحمان په لطیفوخیالاتو خپل دزړه خبره کوي . چې دغه غوره مطلب په کښې نغښتې دی اسلام وطن پالنه ، مېړانه ، ټینګ عزم ، قاطع خبره همداده ،چې نه به کوز ستوري د آسمان کړي او نه به ماله خپله یاره راوګرځوي.

یار ـ یوه ډېره زړه کلمه ده . په یوزر واته سوه کاله مخکې تر میلاده دهاتیکو په مهال د پادشاه د میرمن نوم" هسته یار" و په داسې حال کښې داسې کلمې ډېرې دي ،چې په ځوژبو کښې کارول کېږي باری سرچینه یې تر ټولو لرغون ده .

یار ـ معشوقه ، یاري کول هرمطلوب سره کېږي که دیني وي یا دمیړانې وي ، وطن وي یا ژبه .

رحمان بابا دا خبره طبعي بولي لکه بادسبا ،چې په بوستان چلېږي دده مینه هم یوطبعي مینه ده.

یو پښتون ،چې پښتون باله شي پخپل کردار باله شي که دخدای تعالی مینه ورسره نه وي تومن او قوم پالي د پښتو اصول نه ساتي بیا په دې نه پښتون کېږي ،چې خته یې پښتنه وي دغه ، پښتنه خته یولړ مسوولیتونه لري ،چې هر ګوره تر سره شي.

# ملي سندره

له ډېرې مودې په دې فکر کښې یم ،چې ولې د احمدشاه بابا د وطن شعر زمونږ ملي سرودنه دی. هرورړ سرې ترې یو دانه شو کولای .شو. په راتلونکې کښې دی دا کار وشي.

۱ ستا دعشق له وینو ډک شو ځیګرونه.
۲ ستا په لاره کښې بایلي زلمي سرونه.
۳ تاته راشمه زړګی زما فارغ شي.
۴ بې له تا مې اندېښنې د زړه مارونه.
۵ که هر څو مې ددنیا ملکونه ډېر شي
۶ زما به هېرنه شي داستا ښکلي باغونه.
۷ دډهلي تخت هېرومه ،چې رایاد کړم
۸ زما د ښکلي پښتونخوا دغرو سرونه.
۹ درقیب د ژوند متاع به په تار کړم
۱۰ چې په توره پښتانه کا ګذارونه.
۱۱ د حمید او دفرید دور به بیا شي
۱۲ چې زه و کاندم په هر لوري تاختونه.
۱۳ که تمامه دنیا یوه خواته بله خوا یې
۱۴-۱۵ زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه.
احمد شاه به دغه ستاقدر هېرنه کا.
۱۶ که ونیسي د تمام جهان ملکونه.

زما شعرنه زده کېږي خودغه ملي دوطن سندره مې ،چې ویلې دی په یاد مې دی دا څومره بې وسی ده ،چې دوه نیم سوه کاله مو دومره تړان ونه موند چې زامن دپلار شعر ووایي.

احمدشاه بابا د ډېرو صفاتو خاوند و دده ژوند زمونږ لپاره یوه فلسفه ، کومه معجزه ،چې موسی (ع) دنیل له روده په تېرېدو ښودله احمدشاه بابا داباسین نه په تېرېدو وښودله او د هغه تفصیل په تاریخ کښې راغلي دی . کله ،چې حکومت راغی دوطن شعر او د اباسین نه دتېرېدو په شعر بویه افغان ته و ښودل شي.

کله .چې احمدشاه بابا له خپل لښکر سره له آباسین څخه تېر شو دا آوازه وه .چې پادشاه ولي دی ـ احمدشاه بابا ولي الله دی.
که تاسې دده ژوندون وګورئ عقېده به مو پخه شي .چې بابا ولي الله و.

# د ورك او ورکې په لټه کښې

د ۱۳۸۳ دوړې میاشت ده ، درې .کاله وشول .چې په افغانستان کښې د پښتنو په سیموکې په اوسني پاکستان کښې پښتانه او نور مسلمانان ډېر د عذاب ژوندون تېروي . تفصیل په اخبارو کښې راغلی تاریخ یې هم لیکل کېږي.
دغه حالات مونږ دې ته رابولي .چې خپل حالات و څېړو د ۲۰۰۱ د اکتوبر په ۲۴ بي بي سي راډیو ماسره خبرې وکړې طالبانو باندې کلك ګذارونه و په همدغه پروګرام کښې له امیرخان متقي سره هم مرکه وه هغه د طالبانو ویاند اود پوهنې وزیر و.
ما وویل : په جنګ کښې یو تناسب وي د امریکا او افغانستان تر منځ کوم تناسب ؟
نظامي . اقتصادي دوګړو شمېر د ځمکې....
په سیمه کښې داسې هېوادونه شته لکه چین او روسیه که امریکا هغو سره جګړه وکوي تناسب شته هغوی هم لوی طاقت لري . داجګړه به اوږ ده شي اصلي مطلب به بل څه وي د ۲۰۰۴ م د اګست په پنځه ویشتمه د امریکې په C-Span چینل کښې یو بحث و ، په هغه کښې دا خبره کېدله څو چې مدرسه وي تروړنه ختمېږي . یوه سناتوړ وویل :
د عربستان ، پاکستان او افغانستان حکومتونه زمونږ دې هلته دا کار کولی شو که دې خبرې ته پام وکړو نورې ربړې په مخکې دې مونږ به برباد شو لکه دا خپل زړه تش کړم سر وتکوم همدا مې په وس دی .

خپل عمل چې سړی سپك کا لکه خس هسې یې ورك کا

دا په ظاهر ساده الفاظ دي که سړی ځیر شي معنی یې ډېره ده بنایي ډېر پښتانه کردار او عمل سپك کړي بیا ورك شوي وي . دا خبره د خوشحال ختك ده همدا ډول خوشحال خان وایي

چې شرم ننګ یې نه وي نه هنر لري نه پوهه
په مال یې نظر مه کړه مه په حسن مه په ذات

خوشحال دا خبره ډېره په ځای کړې ،چې ذات یعنې نژاد او نسل هیڅ نه دی که چېرې شرم ننګ هنر او پوهه یې نه وي
څلور تکي یې په ګوته کړل شرم . ننګ . هنر او پوهه راځئ وګورئ که څوك شرم ننګ هنر او پوهه ولري هماغه پښتون دی ؟
څوك ،چې سم عمل ولري پښتون دی ،

چې په خپله افغاني ژبه نادان یې په ترکي خبرې څه وایې افغان ته

افغاني ژبه پښتو ده دا بیت هم دخوشحال خان ۱۶۴۹ م دی ده لیدل ،چې پر قندهار باندې د ایران د صفوي دولت او د هند مغلي دولت تر منځ جګړې قندهاریان کله په دې لاس کله بل لاس کښې وی خوشحال ته ملي فسلفه او ملي فکر ژوندی شو نو ناره یې وکړه
درست پښتون لــــه قــندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او آشکار
هر پښتون دی په یرغوی دا بیت ولیکي ،چې هېر یې نه شي
د افــغان په نــنګ مــې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټك یم
دا خبرې د خوشحال له قوله شوي دي باری عمل نه ورباندې کېږي او خپل د ملي سوچ برخه یې نه بولو . د افغان په ننګ توره تړل نه مطلب دادی ،چې هر چار د افغان د ښېګڼې لپاره وي یادپښتانه یووالي له قندهاره تر اټکه یا درست پښتون هر چېرې.چې دې د خوشحال ارمان تر سره شو دا کار میرویس نیکه او احمدشاه بابا وکړ خوشحال خان څه ،چې وپلي هغه د شیرشاه سوري ګروهنی دی هغه سلطان سکندر او بهلول لودي زده کړې دي دا یوه لړۍ ده ،چې له ګرشاسب بابا تر اوسه

،چې شپږ زره کاله کېږي را رسېدلي دي .له هغه مخکې بيتني بابا د همدغه دعاکوله .

# بيتني بابا

د پښتنو لـه دريـو پلـرو يـوبيټ نيکـه دی ( غرغښـت اوسړبن ) ددوی ځيـر مهـا ځرګندول ګـران دي داسـې وچـې د هغـوی تـر اوسـتا لرغـوني دي ، کـه څـه هـم ، افسانوي تاريخ ډېر اعتبار نه لري مګر له بنسته ناسم هم نه دی .

يوازې په هغو اصولو برابرنه دی ،چې وروسته د تاريخ ليکلو کښې په کارېږي ،چې په هغه تاريخي مبداء داهميت وړ دی اوکالشمير ،چې مخکې اټکل کېده لس زره شل زره ...

مسلمانانو هجري کـال پـه کالشـمېر کښـې راوسـته مسـېحيانو يوکـال ځانلـه وټاکـه ،چې حضرت عيسی (ع) زېږيدلی دی باری دغه کالشمېر اټکل دی دومره ځيرنه دی لکه هجري کال د مسلمانانو مګر اوس د واړه منل شوي .

اوس ،چې داسې دي افسانوی تاريخ هم په پام کښـې نيـول شوی دی . يو شي ،چې عام شي بيا هماغه وي.

په امريکا کښې ،چې وايي کرستف کولمبس پـه ۱۴۹۲ م کښـې امريکامونـدلې ده پـه دې کلو کښې ثابته شوې ده ،چې دا غلطه ده تر دې دمخه چينايـان . امريکـا تـه راغلي ځينې ځاروي ورسره و هغـه امريکـا تـه راوړي او لـه امريکې ځيـنې هلتـه يعنې چين ته وړي .کوم کتاب ،چې په دې برخه کښې چاپ شوی څو ميليونه ټوکه خرڅ شوی اوس امريکا دغه لومړی کشف ومونـدل يـادوی ،چې پـه حقيقت کښـې دوهم دی.

پـه افسـانوي تـاريخ کيـومرث لومړی بنيـادم يادېږي ،چې آدم (ع) وي او وګـوری فردوسـي پـه شـاهنامه کښـې فريـدون پـه اوسـتا کښـې تريتونـه Tractions ليکـل فريدون او تريتو ډېر توپير لري.

دکتور پرويز ناتل خانلری وايي : " فريدون يکې از بزرګـان داسـتانی اقـوام مشـترک اقوام مشترك هندو ايراني کـه بعدها در روايـات ايرانـي خاصـه درشـاهنامه پادشـاه

کياني و مغلوب کننده .مخاك به غار رفت وبه سکون ثالت نام اصلي فريدون است وبعضي اورا ذوالقرنين اکبر گويند".

که دغه غولوونکو عبارتوته سړی ځير شي ،چې فريدون د هندو، ايراني د مشترکو قومو يو افسانوي مشر دی په ايراني روايتو په تېره بيا شاهنامه کښې کياني پادشاه او د ضحاك ماتونکي دي او په ځينو روايتو کښې په درېيم سکون د فريدون اصلي نوم دی او ځينې هغه لوی ذوالقرنين بولي .

کرکتنه : د هند او ايران تر منځ سند (افغانستان) باکتر درسره هرات او سيستان ،چې اصل کښې ساکستان دی او زابلستان ، کابلستان ، باميان ، کاپيسا چې هر يو په شاهنامه کښې يلاديږي دا ټول د هند او ايران په کلمه کښې ورکېږي ، مونږ بويه په ورکې پسې وگرځو که ونه گرځو د هند او ايراني او هندو اروپايي په اصطلا گانو کښې ورك يو بيا نه يو.

په بله جمله کښې ناتل خانلري وايي : مغلوب کننده ضحاك به شمار رفت وبه سکون ثالث نام اصلي فريدون است يعني څه ؟ بعض او را ذوالقرنين اکبر گويند . څوك ضحاك که فرويدن ؟

هغه بلاوی ،چې مونږ يې خوړلی يو هغه همدا دی ، چې په هند او ايراني کښې ورك کړي.

د بېټني بابا له بحث نه ليری پاتې شو .

شيخ بيټني حکيم و زړور و .

د شاهنامې له مخې فريدون (گريتون) چې شپاړس کلن شو د البرزله غره دښتې ته راغی خپله موريې ومونده ، هغې ته يې وويل مورې زما پلار څوك دی ؟

موري يې ښه ده زويه نن به دا خبره درته وکړم ،چې ضحاك ته کوډگرو ويلي و ،چې دآ بتين (بيټني) زوی فريدون به تا مړ کړي يا مات به دې کړی ما يوه غوا هغه چاته ورکړه ، چې تا وستائي ښه غواوه .

د اريانا د ځمکې بوميړنی و ،چې نوم آبتين (بيټن) و.

: کيان له نوکمه و وينښ سړی و پوه زړور او بې آزار و ، د تهمورث (طهمورث) نه زړوره ذات نه و پلار به پلار پيژندل کيده ستا پلار و او زما ښه خاوند ضحاك ته ستوري پيژندونکی ويل.

فریدن به ستا دور پای ته ورسوي
ستا پلار خان له تا ځار کړ د ضحاك د اوږو ومارانو خوراك شو بیا مات لړی بوتلي غوامي درته واخسته او ښو خلکو ته مې و سپارلې .
د آبتین زوی تریتون .چې په فریدون یادشوی نو که بیتن بابا په لومړنی سریو .چې آدم (ع) دومره نژدې دی د بیتني . غرغښت او سړبن د هستیدو مهال دبر لرغونی دی او په دې کښې نو مطالب هم شته .چې وبه ویل شي :

توبشناس کزمرز ایران زمین یکی مرد بود نام او ابتین
زتخم کیان بود و بیدار بود خردمند گرد وبې آزار بود
زطهمورث گردبودش نژاد پدر برپدر برهمي داشت یاد
بضحاك گفش ستاره ثمر که روز تو فریدون آردبهر

د ضحاك کلمه عربي شوې ده په اصل کښې سهاك یا ساك دی همداسې تریتون . فریدون شوې دي . تریتون یوه کلمه ده لکه بیلتون پیوستون ....
لغات او کلمې له یوې ژبې بلې ژبې ته ځي ځېږ او بنه يې بدلېږي لکه عربي معنی او انګلیسي مین Mean که پښتو کښې مانائیکل کېږي ناوړه نه ده .
ډیرې کلیمې لرغوني دي په تلوراتلو تلفظ يې بدل دا .چې ایراني لیکوال فارسي باستان میانه او معاصر وايي سمه نه ده .ځکه دا حالت په تولوژبو کښې دی ( لرغوني مینځنی اوسنی ) په لرغونو مهالو کښې . ماد ، پارت . پهلو . کوچیانیا . پیتلیان . ساکزیان. زابلیان ..... د تولو ژبه یوه وه له حالاتو او زماني سره اوریدلي دي بیا هم نه یوازې پښتو . فارسي . هندي په تولو هغو ژبو کښې .چې آریایي بلل کېږي شتون لري یوه کلمه .چې فارسي او پښتو کښې یو شاني وي لکه " سوکت " چې د ممسك معنی لري له سود + کت نه جوړه شوې ده .
سپاهی او ستا Spadha . پښتو .هندي . فارسي او نورو کښې سپاه ، سپاهیان دي لویه سرچینه همغه اوستاده
ډاك . ډاکی . ډاکخانه د شیرشاه سوري په مهال ډاك پیل شوی دی په پښتو کښې د رحمان بابا شعر کښې راغلي دي .

په سر پوښ محل کښې نور د آفتاب نشته
دا نعمت دی نازل شوی په ډاکیانو

په لغاتو کښې دا څرګندېږي ،چې یوه متاع له کومې سیمې نورو سیمو ته تللې ده .په پښتونولۍ کښې سیمه ورکول پناه ورکول دي همدغه کلمه په انګلیسي کښې اسایلم شوې ده .

دېوال ،چې انګلیسي کښې وال شوی دا ددې ښې ،چې ښاریه او ودانی لومړۍ زموږ په سیمه کښې وه .

مسعودی په مروج الذهب ۳۳۲ هجري کښې لیکلي ،چې انګور یاګور په غزنی کښې وپېژندل شو ،چې همالته د هغه نه "مې" "وین" جوړ شوی او د هغه لاس ته راوړل ښکلې کیسه لري او ما هغه لیکلی ده .

د ملي تاریخ فلسفه او پښتونولی سره اړوند دی که میړانه او ځوانمردي وی نو هغه عمل او کړه پاتې کېږي ،چې د ژوندون فلسفه شي مګر د لغاتو څېړنه په دې پورې اړه لري او داښې له کومه ځایه ،چې دغه لغت راغلی متاع هم د هغه ځای دی لکه اوس ،چې په لویدیځې نړۍ کښې کباب ، سه تار ، تندوری پېژني او رواج لري . او داله ختیځو هېوادو وتلي دي .

په دې مهال ،چې زړه چاودون لیکم په افغانستان کښې په زرهاو خلک وژل کېږي هلته امریکایي عسکر دي او ډېر نور . لوټماري ده بدلمني ده .

د ۱۳۸۳ د تلې میاشتې په لومړۍ د افغانستان لاسپوځي جمهوررئیس حامد کرزي وویل :

" امریکائیانو ته موږ هر کلي وایو ددوی عزت کوو شریني او کلچې ورکوو خوشآمند یې کوو ،چې دلته پاتې شي ځوځپل عسکر او پولیس مو ډېرشي "

ددې لپاره ،چې دی جمهوررئیس وي افغانان دې وژل کېږي . بیا د تېرو پښتنو خبره کوم ،چې کلي په زور ته جوړېږي .

زه ،چې په امریکې کښې یم ځمکه ځای نه راکوي افغانستان کښې هم امریکا ده روسان ،چې راغلل ۱۳۵۹ لمریز چا ویل ولې داسې راپېښ شوه ؟

ښه ژوند په تمه په لومه کښې سړی لوېږي :

د رحمن خاطر به ولې پرېشان نه وي؟
چې پرېشان ور څخه جمع همنشین شو

کوم هېواد ،چې ملي توليدنه لري جګړې او وچکاليو ځپلی وي ،عسکر او پوليس د پر معاش غواړي د هېواد وګړي په بېلولار ويشل شوي دي. بهرني لاسونه په کښې ښوري هغه د کرزي خوب څنګه رښتيا کولی شي؟

چا ،چې دخلکو دين، ناموس او استقلال نه وي ساتلي هغه به هيڅکله بريالی نه شي.

# افغان ملي فلسفه

کله،چې ديو ملت وګړي په روح او ځان هوساوي هلته بويه يوه فلسفه وي ،چې هوساينه ترې زېږيدلې وي د همدغې فلسفې موندل د ملت د هوساينې لپاره ضروري ده ، د افغانانو پام د لويديځ خبروته اړول لوی خيانت دی.

پام وکړئ د ترکستان د خلکو عريضې ته ،چې احمدشاه بابا ته څه وايي ؟

حاجي بي ( بيګ) عطاالله خان ترکمان ،حاجي مينګ او نور مشران دغه ستر واکمن احمدشاه بابا ته راغلل دا مهال احمدشاه بابا په هرات کښې و.

د احمدشاه بابا د عدل او زيرګی ( بزرګی ) اوازې خورې وې نو بابا ته يې وويل موږ هم له ظلم نه خلاص کړه .

احمدشاه بابا وويل : زه د هرات په چارو بوخت يم . لږ ډيل په کار دی .

که يارب بده خسرو دادګر که ګرديم آسوده از شور وشر
کسی را رسان توبه فروشکوه که از هيبتش لرز داليزرکوه
قوی طالعی را بده اقتدار که برهفت کشور شود کامګار
کرم پيشه يې را نما پادشاه که ګيرد جهان را به تيغ عطا
که زنجير عدلش به جندين دهان زند خنده برعدل انوشيروان
برآور نهالي زخاك مراد که درسابه اش خلق باشند شاد

خدايه عادل پادشاه را کړه ،چې موږ په کرارشو يو زورور او دهيبت خاوند وي ،چې ظالمان کاږی ، داسې سړی ،چې نړۍ د کرم او بخشش په توره ونيسي داسې عدالت ولري ،چې د انوشيروان عدالت ورته هيڅ ښکاري.

داسې ونه راته شنه کړې ،چې تر سيوري لاندې يې هوسا او بسيا شو.

په دغو اصولو برابر مشر کولای شي مشري وکړي ، (عدالت ، ښښنه) د احمدشاه بابا توره عدالت او مهرباني وه.
بل شاعر دده په برخه کښې وايي :

يو خپه مخ به ونه ويني دده په مهال
که ټوله نړۍ شي لکه يوه هينداره

مشري او پادشاهی داسې وي دکتور گنداسنگه وايي : د احمدشاه ابدالی له عدالته دوست ودښمن دواړه راضي و.
مونږ که خپلو مشرانوته وگورو دهغوی له شخصيت نه الهام واخلو يو څه دي .که لويديځ ته وگورو د ډالروشوق به مو له ښې وباسي بل څه دي .
له دې بحث نه غوره مطلب دادی ،چې په تاريخ کښې زمونږ ټولو مشرانو له شا او خوا هېوادو خلك راغلي او غوښتی يې دي ،چې ددوی مشري هم په غاړه واخلي او دا ډول غوښتنې امان الله خان نه هم شوې دي ، په قاهرې استانبول ، هند کښې بېلې خپرونې خپرېدې لکه چهره نما ، زميندار ، آزدی شرق او نور د اسلامی هېواد و خلکو دده مشري د خان لپاره هم غوښتله.
په ايران کښې ،چې خلکو د شاه محمود هوتك عدالت وليد د اعتماد السلطنه په وينا خلکو ويل کاشکې څوکاله دمخه راغلی وای.

# ترور ، القاعد او طالبان

کال ۱۳۸۰د وږی د مياشتې نونسمه په نيويارك او واشنگټن کښې د ملکی هوايي الوتکو درې برېدونه وشول، د همدغه کال د تلې په شپاړسمه پر افغانستان حمله وشوه مونږ ليدل شپه وه برېښنا وه ځراغونه بل و . (ب ۵۲) الوتکو داسې حال جوړ کړ ،چې له مېرمنو اولادونه وغورځېدل د خلکو دغوږونو پردې وچاودېدې . ددې درې کاله تېرشول ،چې اور بل دی .
د هغه تفصيل ته که لاړشم ،چې څه وشول هغه خبرونو اوراپورو کښې راغلي دي .
ترور : يوه لويديځه کلمه ده ډېر خلك په آسيا او افريقا کښې ترور شول او ټول د امريکې د جاسوسی د ادارې کارو ، لوممبا ، مجيب الرحمن ، اندراگاندی ،جنرال ضياء الحق ...

القاعده : دجهاد په کلونو کښې د هغه غړي د امریکې له خوا افغانستان ته راتلل همدغه رباني او سیاف پالل ،چې اوس په زورکې دي ۱۳۸۳ لمریز
طالبان : دوی څنګه ،چې ویل کېږي د یوې پېښې له مخې ،چې ځینو جهادي قوماندانانو د خلکو او لادونه د شهوت لپاره بیولي و ملا محمدعمر ،چې په جومات کښې ناست و ورپسې ورغی او هغوی یې وژغورل ،بیا نور خلك هم ورغلل او یوځوځښت جوړ شو.
دوی د شرف د عملي کولو یوه نمونه و ښوده تر دغه مهال پورې د محمد ظاهر شاه پلوي کوله کله ،چې طالبان له جوماتو راووتل له خلکو سره بلد و ساده کار و دوی ویل مونږ حکم نه لرو حکم د شریعت دی . ساده ژوند ، لږ مصرف ، امن ، اخلاق پیدا شول د طالبانو مخالفین ډېر و یو شمېر لویدیځ پلوه ، د پښتنو مخالفین ، په پای کښې د غلځي ، دراني خبره شوه ، روسیې ، ایران او هندیې له اول سره مخالفت کاو.
امریکې القاعده محکومه کړه په هغې پېښې کښې د ۱۳۸۰ لمریز د وږي په میاشت کښې نیویارك او واشنګتن کښې وشوه پېښه درنه وه . اروپا او نور هېوادونه امریکې سره ودرېدل طالبانو ته دنیاپاځیده حال دا ،چې افغانستان و چکالي ځپلی و دوه ویشت کاله جګړې شوې وې لارې پرې بندې شوې خمکه او هوا بنده وه امریکه هماغه خلکو سره ودرېده ،چې ۱۳۷۲کال کښې یې افغانستان په ټوټو ویشلي و. تر دې ځایه یوه ډېره لنډه مقدمه وه اصلي مطلب له دې وروسته لیکل کېږي ،چې د هغه په ترڅ کښې به د پښتونْ یا افغان اصلي فطرت وښودل شي.

## ظاهر شاه ولي پرېښودل شو ؟

تاریخي پېښې ،چې تېرې شي بیا وګړو سره یوه مفکوره پیداشي ۱۳۰۸ لمریز چې صفوی لنډه دسوره تېره شو ه محمد نادرشاه سره نورو مشرانو ملا وتړله ،چې حالات سم شي د امنیت د راوستو په برخه ، محمدګل خان مومند بشپړه مرسته وکړه.

نادرخان څلور ورونه درلودل ،چې صدراعظم محمدهاشم خان ،سردار شاه محمودخان ، شاه ولي خان محمد عزیز خان دوی ټول د کار خلك و . څلویښت کاله ددوی پادشاهی ښه تېره شوه ،چې په هند او اوسني پاکستان کښې انګلیسان و ،چې د نادر خان له کورنۍ سره یې سمې اړیکې درلودې . روس او ایران هم انګلیسانو لاس غځولو ته نه پرېښودل نو یوه آرامه فضا جوړه شوه کله ،چې ۱۳۲۶لمریز کښې انګلیسان له هند نه ووتل ، بهرنې لاسونه راوغځېدل د پښتونستان خبره که څه هم یوه ملي مساله وه خو روسیې او هند نه غوښتل ،چې پنجاب، سند او کشمیر له هغوی بېل پاتې شي .

د محمدظاهر شاه شاوخوا خلك تشیدل څوك خپه او څوك مړه شول . کله ،چې په ۱۳۵۲ لمریز محمد داود کودتا وکړه د ظاهر شاه لپاره څوك خواشیني نه شول د ظاهر شاه خبره وروسته له هغه ،چې کمونستان راغلل توده شوه ده هغوي ته څه ونه ویل د رباني ، مسعود دوره کښې دومره غلې شوه ،چې هغوي سره یې اړیکې غوښتې احمدشاه مسعود ،چې پارس ته لاړ ۱۳۸۰لمریز کښې ظاهرشاه د هغه لیدوته تمه درلوده مسعود وویل ،چې وخت نه لري . په دې حالاتو کښې پښتانه له ده خوابدي شول.

ظاهرشاه طالبانو ته راپورته شو . ده په لومړي سر کښې فکر کا وه چې طالبان به دی راولي طالبانو نه شو کولای پرته له اسلام نه په بل نوم ودرېږي.

# د ګرشاسب بابا لار

هر څومره ،چې په دې باب څېړنه وشي ګرشاسب زمونږ د وطن د مېړانې او سوله یز ژوند لومړنی بابا دی .

میخواران که یې خبرشي له مستۍ نه
درحمان د میخانې شراب دڅښو دي

ګرشاسب وویل : داسې یو تومن جوړوم ،چې د جهان د خلکو لپاره سیمه یادنیا ځای وي ګرشاسب د نړۍ خلك یادوي په بل عبارت افغانستان د هر چا لپاره دا من ځای دی همدغه مطلب احمدشاه بابا زرهاو کلو وروسته ووایه افغانستان د

ارالامان دی د هغو هېوادو سره ،چې مونږ دجګړې په حال کښې يو د هغوی وګړي د لته په امن دي.
ميرويس نيکه همدغه رېی ورپاو هرڅوك ،چې د عدل پلوی او د تېري مخالف دی افغان دي.
فرهاد وويل :" د افغانستان دوستان زمونږ دوستان دی دښمنان يې زمونږ غليمان "
محمد داود په مسکو کښې وويل : " مونږ خپله خپلواکي ،چې د ميليونو افغانانو په وينو ساتلې ده چاته اجازه نه ورکوو ،چې زمونږ په کورنيو چارو کښې لاس ووهي " دامهال اوبه تر ورخ تېرې وې او محمد داود څه ونه شو کولای.
احمدشاه بابا د حالاتو مخکې يادونه کوله که څه هم پوهېده ،چې وروسته څه پېښېږي بيا يې افغان خيالات عملي کول . د بلوڅو مشر دده حضور ته راغی او څه غوښتنې يې درلودې احمدشاه بابا دده غوښتنې ومنلې او نور ښه يې ورسره وکړل.
چې لاړ احمدشاه بابا وويل : دی ،چې هلته ورسېږي د هغه څه ،چې ده ويلي دي د هغه خلاف عمل کوي . همغسې وشول دغه مشر محبت خان و.
احمدشاه بابا ورپسې ورغی او هغه يې لارې ته سم کړ ، ده کولای شول په همدغه مهال ،چې احمدشاه بابا له کابله قندهار ته روان و په کلات کښې يې ده ته يعنې محبت خان ته انعام ورکړ او هغه يې نازاوه کولای شول هغه ونيسي داسې يوه خبره د احمدشاه بابا په زړه کښې ګرځېده خو کوم ثبوت نه و ،چې هغه يې همالته نيولی وای.

## افغان ملي فلسفه څنګه تر لاسه شي ؟

مونږ لومړی هغه مفکورې او فلسفې ،چې بهر نه راغلي له ماغزو وباسو داسې فکرونه کړو ،چې پرته له بهرنی مرستې څه نه شو کولای.
که مونږ د نونسمې ميلادي پېړۍ لومړي کلونه وګورو زمونږ اړتيا وې په سلو کښې سل دننه په افغانستان کښې بشپړيدلې او دغه سل په سلو کښې د نونسمې پېړۍ کښې لږ شوه د شلمې پېړۍ په پای کښې اتيا په سلو کښې له منځه تللې وه .

یوویشتمې پېړۍ ته دننوتلو سل په سلو کښې داخلي توليدله منيځه ولاړ ښايي درې څلور په سلو کښې لاپاتې و.

ملي فلسفه له هغه مهاله لاس ته راځي ،چې ملي توليد مو درلود . که تاسې د ساکو يا هاتيکو وسلې او کالي ،چې د اسنادو او آثارو له مخې رسم شوي دي وګورئ ،چې دوی څلور زره کاله دمخه کوم لوښي کومه وسله او کوم کالي درلودل له ځان نه به مرور شئ ،چې ولې ؟

ملي فلسفه دسوريانو ،چې زردښت هم سوري و . ساکو او هاتيکو . پاکتيانو ،چې سکې يې شته بيا ددوی عمل او تفکر و ګورئ تاسو پوهيدای شي ،چې د افغانستان ملي فلسفه څه ډول ده ؟

احمدشاه بابا ملي فلسفې ته " افغان خيالات " ويلي دي احمدشاه اشعار لري . ليکنې يې پاتې ډېر کتابونه ورباندې ليکل شوي.

دی پخپله د توپ جوړولو استاذ و دا ،چې پادشاه پخپله توپ جوړوي دا ډېره غټه فلسفه ده ،چې په نړۍ کښې يې ساری نشته .

يا ميرويس نيکه هغه پېښې ،چې د لاس او پښو په تناکو يې ګټلې وې په ما او تاسې ولګولې هغه ډېر سفرونه وکړل د شا او خوا هېوادو حالات يې سم وڅېړل بيا يې دعمل نقشه په ډېرې هوښيارۍ پلې کړه.

## لوی آرځاوا

لوی يوه پښتو کلمه ده، چې د" بزرګ " معنا لري . وروسته به په بين النهرين او کوچنۍ آسيا کښې دلوی او لويانو پر مدنيت خبرې وکړو.

مخکې تر هغه به په دې خبرې رڼا واچوو، چې له دې بحثونو څخه مو مطلوب څه دی ؟

مونږ دنړۍ او افغانستان په تاريخ کښې ګورو، چې هر ملت د خپل ملي تاريخ يو تصوير لري . دا ملي تصوير مثبت او روغوونکی څکه وي ،چې ملت يې پر ډاډ خپلې هلې ځلې پيلوي.

دافغانستان په ګاونډ کښې چين . روسيه . ايران او هند ته وګورئ. دوی دخپل ملي تاريخ داسې تخيلات لري. چې خپله بقا او پايښت د همدې تصوير له برکته بولي

دآركيالوجي د مجلې د ۲۰۰۲ ع كال د نوامبر او دسمبر په ګڼې كښې يوه عجيبه جمله ليكل شوې ده ،چې: اوس ډېر سياست لړه آركيالوجي ده . په بله وينا ډېرسياست لړ تاريخ دى .
دافغانستان تاريخ ګاونډيان دځان بولي( ايران، هند، چين او روسيه) .
په امريكا كښې دآركيالوجي پوهان لرغوني "مايا" او هغه مدنيتونه، چې مخكې يعنې په ۱۴۹۲ع كال كښې دلته تېر شوي وه . اوس خپلې كيندنې دامريكا له تاريخ سره يوځاى كوي.
مونږ. چې دافغانستان پر لرغوني تاريخ ټينګاركوو: ددې لپاره دى، چې خپله تاريخي سابقه،انځور او خوځښت خپل كړو؛ ځكه په افغانستان كښې دملي تاريخ په خلاف مبارزه روانه ده او هرڅوك يوه نوې مبداء جوړوي.
كمونستانو تاريخ طبقاتي جګړه وبلله او نورو هم داكار وكړ.دوى دافغان ملي تاريخ داسې تفسيركړى، چې يوه دوره هم نه مني،خو دګاونډيانو په نوي تاريخ خپله ملاتړي.

## لوى ، لويان او لويك....

په لرغوني تاريخ كښې دكسپين په غاړو، بين النهرين ، اروپا او هند كښې ډېر داسې قومونه يادېږي چې هماغه نومونه دپښتنو په قومونو كښې موجود دي .
له هغو څخه يو هم دلوى قوم دى. لوى همدغه معنا لري، چې پښتو كښې ترې اخستل كيږي.
لوى ، لويان ، لويك اونور.
دلوى مدنيت په بين النهرين كښې( چې عراق ، سوريه اردن فلسطين هلته دي ) لوى مدنيت و څنګه، چې كاسيان ، سوريان ، متاني، لودي او نور ول.
له تاريخي مداركو څخه داسې ښكاري،چې لويان هم دوه ځايه ول: دلته او هلته .
په تاريخونو كښې راغلي، چې دغزني ، باميان ، ګرديز او كابل سيمې دساميانيانو په لاس كښې وې او د تګين كورنۍ ( الپتګين او سبكتيګين ) له هغو نيولې دي. پوهاند حبيبي دلويانو خبره كړې ، چې په ګرديز او زابل كښې پادشاهان ول.
په دې برخه كښې داستاد احمد علي كهزاد له قوله ، څوجملې را اخستل كيږي:
بعداز دوره صفاري در زمانيكه ساماني هادرماورالنهر سلطنت داشتند ،كابل و غزني بدست خاندان لاويك بود كه شاخه از احفاد يفتلي‌ها بودند .بعض از نويسنده ګان .

کابل رانیز جزء قلمروساماني حساب کرده اند. که صحت این امر مشکوك به نظر میخورد. حقیقت اینست که در حدود کابل و غزنه دودمان لاویك سلطنت داشتند، الپتگین وسبکتگین در بامیان باشیر های بامیان جنگهای کرده اند و اولین جنگ میان لویك ها وتگین ها درحوالی کابل بود. برخي مآخذ از امرایی زاولی یاد کرده اند که در زابلستان وکابلستان وغزنی حکومت کرده اند. لویك، لویل، لاویك وانوك نامهای شاهان بوده"

پوهاند حبیبي ګرد یزاو څرخ کښې دلوی او لویك حکومتونه یادوي.

## لوی Arzawa

لوی آر – ځاوا : دتمدن په تاریخ کښې دغه نوم څوارلس پېړۍ مخکې له میلاده یاد شوی او داسې ویل شوي ( ۱۲۰ مخ ): دمصر امپراتوري په سیاسي او نظامي اړخ کښې بې غلیمه پاتې نه شوه. په۱۵۹۵ ق م کښې مور سیلس پر بابل حمله وکړه او پرمتاني او هیتي یې بری وموند. دمصر دوه یم رامس پرسوریې حمله وکړه،خو هیتانو ورسره جګړه پیل کړه. ښکاره شوه، چې یو هم جګړه ګټلی نه شي. په داسې حال کښې، چې مور سیلس دلوی آرځا وا امپراتوري نیولې وه.

لوي یا لویانو دداسې خط څخه،چې دفنیقیانو له خط هیروغلیف سره ورته و، کار اخستی. هیتي او لویي ژبې ترډېرې مودې پاتې وې.

عجبه لیا داده، چې دتمدن په تاریخ کښې لوی او لویان لیکل شوي. یعنې په هماغه بڼه، چې اوس په پښتو کښې دلوی جمع لویان دي.

آر یوه داسې کلمه ده، چې ډېره کارول شوې ده.

آر = اصل – سپین او سپېڅلی دی. لکه، چې د ارمینا نوم له دوه کلمو جوړ شوی دی: آر + مینه.

دلوی آر + ځاوا کلمه هم داسې ده . په دې برخه کښې دآرمینا تاریخ او نوم په ټولو قاموسونو پر همدې تشریح راغلې ده .

دپښتنو تاریخ په علمي توګه تشریح کوم ربړ نه دی؛ ځکه په دې برخه کښې مدارك او سندونه ډېر دي. یواځې یې اړیکې په ګوته کول غواړي.

دلویانو له ذکره مطلب دادی، چې افغانستان دټولو آریایي قومونو لومړنی ټاټوبی دی او دغه قومونه بین النهرین ، مدیترانې او اروپا ته تللي او یوه لیکه جنوب ته خوځیدلې ده.

پوهاند حبیبي او استاد احمد علي کهزاد په افغانستان کښې دلویانو ، لویك او لویکانو پر موضوع خبرې کړې دي.
اوس دګرمن محمد ربیع طبیبي وایي، چې محمد عیسی دامیر په جریده کښې لیکلي :
آنقدر که درتاریخ از احمدشاه بابا و میروس هوتك ذکر ګردیده است ،ازشاه اسمعیل ساماني وغیره ذکرنکرده است .
استاد احمدعلي کهزاد او پوهاند حبیبي وایي: په دغه مهال کښې لویانو په غزني او ګردېز کښې حکومت کاوه. استاد کهزاد وایي، چې کابل ، غزني . زابل او بامیانو کښې دلویکانو حکومت و او دتګین له کورنۍ سره یې جنګونه کړي دي .
پوهاند حبیبي وایي :" لویکان غزنه دودمان قدیم بودندکه نام یکی از اجدادشان درسنګ نوشته بغلان لویك بوسرآمده ، ودر حدود ۱۶۰ م بود.
بقایای این خاندان تا عصر یعقوب صفار وسلطان مسعود درګردیز و در بار غزنه موجود بودند".
پوهاند حبیبي د (افغانستان بعد از اسلام) په کتاب کښې دلویانو په برخه کښې بشپړ بحث کړی او دلویکان رساله یې په کابل کښې چاپ شوې ده .
دلوی ژبه او مدنیت په لرغوني تاریخ کښې ښکارند دی او دغه آثار زښته ډېر دي. په افغانستان او پېښور کښې حتا دموزیمونو آثار دتاریخ له مخې نه دي تشریح شوي.
دمسعودي په مروج الذهب کښې هم دلوی ذکر راغلی، چې متن یې په دی توګه دی:
" دملتان ولسمشر یې طلایي مهران بولي، چې د اسامه بن لوی له زامنو څخه دي او له هغه ځایه کاروانونه خراسان ته رسېږي . اسامه بن لوی بن غالب دی،چې له پخوا څخه دمولتان مشري ددوی په غاړه ده ".
په تاریخ کښې ښکارنده ده، چې ملتان تل دپښتنو ټاټوبی دی. شیخ حمید لودي په ۹۹۹ م کال کښې هلته حکومت کاوه. ده له سبکتګین ( دغزني له پادشاه) سره سوله وکړه او دشیخ حمید لودي زوی رضی او لمسی دا ود هم مشران ول؛څو، چې بهلول لودي دهند پادشاه شو او یوه پېړۍ ددوی پادشاهي وه. دلودیانو آثار په هند کښې خوندي دي او دډیلي په ښار کښې یو لوی واټ اوس دلودي واټ په نامه دی، چې دلودیانو یادونه په همدې توګه شوې ده.

دلودیانو اولویانو نژدیوالی پخوا ترمیلاده په بین النهرین کښې په ښه توګه موندلی شو ، هلته لودي اولوی دلته هم لودي او لوی سره نژدې اړیکې درلودلي دي.
دتاریخ په پلټنه کښې دا ډول مسایل، چې دپښتنو دقومونو یاد ګیرنه کوي. دراتلونکي یو والي لپاره ډېره اغیزمن دي.
داحمد شاه بابا کورنۍ هم په ملتان کښې ژوند کاوه او داحمدشاه بابا زیږیدنه هم په ملتان کښې شوې ده .

ACKU

# میروس نیکه او ملي پاڅون

دتاریخ پوهنه سړي ته دوې لیدنې ور په برخه کوي :
ـ تاریخ داسې یوه هېنداره ده، چې تېرمهال په کښې لیدل کېږي.
ـ تاریخ راتلونکی مهال سمولی شي.
ترېوه وخته پورې داسې ویل کېدل، چې تېرتېر دي او تېرهېر : پوهېدل یې کومه ګټه نه لري . دغه نظرسم نه و او په غفلت کښې دژوند تېرول ګڼل کېږي.
اوس داسې پوهېدل کېږي، چې " تاریخ راتلونکی ژوند تنظیموي.
تاجکستان ، ازبکستان ، ترکمنستان، قرغزستان ، ارمنستان ، اونور هغه جمهوریتونه دي، چې له پخواني شوروي اتحاد څخه وروسته رامنځته شوي، ددوی نوی تاریخ دافغان ـ روس له جګړې وروسته پیل شوی. اوس څه کوي؟
هر یو خپل تاریخ جوړوي. دوی هریو خپل هغه زاړه تاریخونه یادوي، چې ددوی خلکو په تېرو کښې کوم کارونه کړي دي.
چنګیز ، ګوډتیمور او هلاکو ظالم او تېري کوونکي خلك ول ،خو نن دوی پرهغو ویاړي:سلجوقیان ، سامانیان او خوارزمیان یادوي او په چټکۍ سره کتابونه لیکي او خپروني کوي.
که څه هم دوی یا هغوی له یو نسله نه دي یا په هغې ځمکې کښې نه اوسي. حتا دهغو ژبه نه کاروي.
دمثال په توګه د سامانیانو، خوارزمیانو یا د ماورالنهر د خلکو ژبه فارسي ژبه وه. اوس ترکمني ، ازبکي، قررغزي او قزاقي ژبې وایي .که څه هم له ترکي ژبې سره یوشانې دي،خو په لړ توپېرېې په خپلو نومونو، چې اوس یې لري، هغه کاروي.
په تاریخ کښې مرکزي آسیا او شمال ختیځه آسیا د آریایي قومونو مرکزو. ساك ، یفتلي او کوشان ټول دآموپردواړو غاړو پراته ول، جنوب او لویدیځ ته تللي دي. دوی هغوی هم خپل بولي.
ایران. هند او تاجکستان پرټولو دغو قومونو دعوی لري ( ساك ، کوشان یفتل). دساك قوم پښتانه دي ، ایران یې ایراني او تاجکستان یې تاجك بولي. په دې منځ کښې افغانستان، چې تل په تاریخ کښې یوه حوزه وه. داسې. چې په دې حوزه کښې شمالي هند ، شرقي ایران او جنوبي مرکزي آسیا شامل ول،چې تراوسه یې تاریخ ته پاملرنه نه ده

کړي. دا دهغه ځوان افغان وظیفه ده، چې په غربي هېوادونو کښې يې بشپړ وسایل په اختیارکښې دي.

# په تاریخ کښې چپتیا

افغانستان یو ځېرنده تاریخ لري، خو دچنگیز له حملې بیا د میرویس بابا تر راتلو په دغه ځېرنده تاریخ کښې یوه اوږ.ده چپتیا راغله.

په ۱۲۱۸ ع کال کښې چنگیز وخوځید،په ۱۷۰۹ع کښې میرویس بابا خپل داسې فعالیت پیل کړ ،چې له نشت نه يې شتون جوړ کړ؛ځکه،چې چنگیز څه نه درلودل او هېوادونه يې ویجاړ کړل.

کوم هېوادونه،چې چنگیز ویجاړکړي ، دټولو وګړي مسلمانان ول . دچنګیز پاتې کسانو دخپل حکومت دټینګولو لپاره داسلام مقدس دین اختیار کړ او ژبه يې فارسي واخسته.

په دې توګه هغه مغل پاتې نه شول، چې کفار ول او خپله مغلي ژبه ولري،خو پنځه پېړۍ پاتې شول.

په دغه ترڅ کښې پښتنو په هند کښې پادشاهي درلوده،چې غوریان ، غلجیان ، لودیان، سوریان...ول. ددوی فلسفه دا وه، چې همدا هندوستان به خپل هېواد کړو او دافغانستان پښتانه يې هم وروغوښتل .

بهلول لودي دهمدغې فلسفې لپ.ر.ه. چې په هند کښې به هرڅه بدل کړو ؛ځکه په هرڅه کښې به یو ډول ګډون وي.

سکندر لودي ویل: یو ډول تصوف به وي. چې ټول مسلمانان او هندي ادیان يې ومني.

تر دغه مهال پورې فارسي دکوم خاص هېواد ژبه نه وه،خو فارسي ته يې مخه ورکړه. دغه نظر تاریخي چوپتیا له منځ یونه وړه.

روښانیانو، خوشحال خان ، ایمل خان او دریاخان تورې ته لاس کړ او مغلو سره په جګړې کښې شول. که څه هم دوی کومې غوځې پرېکړې ته ونه رسېدل، خو دمغلو بنسټ يې وښوراوه؛څو، چې په لنډ وخت کښې میرویس نیکه پر یون شو او چپتیا يې ماته کړه

## ميرويس نيکه ملي لاربنود

ميرويس نيکه هند، ايران او ماوراالنهر ته سفرونه وکړل. ده دهرځای دحالاتو څېړنه کوله. دده ظاهري کار تجارت و،خو په اصل کښې يې ديوه ملي دولت لاره لټوله.
ميرويس نيکه له ټولو وسايلو ګټه اخستله (په ودونو کښې، په تجارت کښې په قومي اړيکو کښې) خان به يې دټولې سيمې له حالاتو باخبره ساتلو او دپښتنو په عيب او هنردواړو پوه و.
ده دخپل لاس ګټه او شخصي پانګه په ډېر پراخ زړه او سخاوت په ملي لارو کښې ورکړې تر دې حده، چې دايران د دربار وزيران او مشران يې په خپلو شخصي پيسو خوشحاله ساتلي وه.

## دميرويس نيکه څېره ددښمنانوپه هينداره کښې

ډېرځله داسې پېښ شوي، چې بهرنيو ليکوالو او دښمنانو زمونږ ترخپلو ليکوالو سم قضاوتونه کړي دي. دبېلګې په توګه دوکتور ګنداسنګه داحمدشاه بابا په برخه کښې تر فرهنګه ښه قضاوت کړی. ايرانی تاريخ ليکونکي اعتماد السلطنه محمد حسن دميرويس نيکه په برخه کښې زمونږ ترليکوالو سمه خبره کړې. ډېر ليکوال دګرګين دوژلو په برخه کښې وايي، چې ميرويس نيکه ګرګين ته خپله وربره ورکړه. بيا خينو دغه خبره لږ سمه کړه، چې وربره يې نه وه، يوه نو کره يې ورکړه. بيايې دخپلوانو په توګه ميلمه کړ او بيايې وواژه.
اعتمادالسلطنه داسې ليکي:
ميرويس، چې بېرته کندهارته راغی؛ افغانانو او بلوڅو سره يې خبرې وکړې او له بلوڅو سره يې داسې جوړه کړه، چې مونږ به ستاسو له لاسه ګرګين ته شکايت وکړو، چې بلوڅ زمونږ مالونه او څاروي بيايي.
ګرګين له خپلې ګرجي رسالی سره د بلوڅو پر لوري ورځي، چې يو حد ته ورسيد ،بلوڅو له مخې ووهل او بېرته په شاشول او پښتنو ووهل، چې ګرګين له خپلې عسکري رسالې سره له مينځه لاړ او ميرويس پخپله له خپلو ملګرو سره دکندهار ښارته ننوتلو او ښار يا دکتاب په اصطلاح دکندهار کلايي ونيوله . دا و يو پردی، چې اصلي خبره يې وکړه او دښځې دروغ اوربښتيا يې ورک کړل،خو سمه خبره يې رابرسېره کړه.

ميرويس په خپله لنډه وينا کښې وويل : (( بسم الله الرحمن الرحيم. کم من فتنه قليله غلبت فتنه کثيره. باذن الله.
اوس مو، چې ددين او غيرت لپاره داکاروکړ: بويه يو زړه او يو لاس شو. خپل ځان او مال دمحمدي دين په لاره کښې ورکړو.
دعجم پادشاه ( مطلوب دايران پادشاه دی ) ته پاڅيدلو او دهغو په فکر يا غيان شو؛ هرومرو دغچ داخستو لپاره راځي او لښکر راولي. که چېرې العياذ بالله پرمونږ برې ومومي، مونږ ټول وژني ښځې او اولادونه به مو اسيران کړي.
دا دغيرت او دين لاره ده ؟ چې ګرګين زمونږ پر مال او ځان تېری کاوه او دحضرت پيغمبر صحابه و ته يې زمونږ تر مخې ښکنځلې کولې.
دادی دحجاز د عالمانو فتوی راسره ده او دماورالنهر دعالمانو فتوی مې مخکې تر دې اخستې وه. غيرت، دين او توره مونږ ژغورلی شي.
دملي لاربنود ميرويس نيکه له دغې وينا څخه وروسته خلك په ټينګ عزم له ده سره ودرېدل او ميرويس ته يې دعا وکړه او دده دعقل او غيرت پر ستايلو ټينګ ودريدل.
وروسته دګرګين له وژلو او دکندهار له خپلواك کېدلو دګرګين وراره خسروخان دقزلباش پادشاه (دکتاب په اصطلاح ) کندهار ته نژدې شو). ميرويس نيکه، چې په ترتيباتو بوخت و اته سوه اوښان يې پر زنبورك توپو سمبال کړل او خسروخان ته يې ماته ورکړه. شپږ زره يې ترې ووژل، چې ډېرې ګرجيان ول . ميرويس نيکه ته په دې نښتو کښې پوره خزانه او وسله په لاس ورغله .
ميرويس نيکه اووه کاله ژوند ی و ،خو هرکال د قزلباشو عسکر راتلل او ماتېدل.

## دحضرت ميرويس نيکه وروستۍ خبرې:

ملي لاربنود ،چې کله په بستر کښې پريوت، افغانان پرېشانه شول. دمرګ په کټ کښې ميرويس نيکه داسې وفرمايل :
بسم الله الرحمن الرحيم
لومړۍ مې ستاسې ټولې چارې حق تعالی ته سپارلې دي، چې ددښمن په جهاد کښې له جهد او عمل څخه کار واخلئ.
دوه يم په هر حال کښې خپل همت لوړ ولرئ او ټول يو موټی و اوسئ: روافضو ته سر ټيټ نه کړئ.

دهغوی دمضرت په مقابل کښې جهد وکړئ؛ دعجم خلك ( مطلوب ایران دی) له خلاف او نفاق څخه خلاص نه دي، دهغوی دولت دنړیدوپه حال کښې دی.
دهغوی ډېرلښکر او کاذب حشمت به تاسي وډارکړي ،خو تاسي یو موټی او یو زړه حرکت وکړئ متوکلاً علی الله پرهغوی بری مومئ او اصفهان نیسئ.
دغه جملې یې وویلې او دهغه سپېڅلی روح آسمانونوته لاړ.

# د اعلیحضرت شاه محمود افغان دخولې خبره !

وروسته دحضرت میرویس له وفاته اعلیحضرت شاه محمود افغان ته دغه دنده وسپارل شوه. که څه هم سمدلاسه میر عبدالعزیز دمیرویس بابا پرځای د ملت مشر وټاکل شو. میر عبدالعزیز دمیرویس بابا هغه وینا هېره کړه، چې دمرګ په بستر کښې یې کړې وه او تاسو دلته ولوسته. بویه د خپل مشر وینا څوك هېره نه کړي، چې اوس یې هېروو.
مګرشاه محمود دخپل پلار وینا په دغو جملو کښې تا یید او تکرار کړه :
(( صفویان کاذب دولت اوکاذب شهرت لري، خوکاذب رحمت نه لري او دخدای تعالی رحمت حقیقت دی)).
داعلیحضرت فاتح ولي الله شاه محمود خبرو خلك پرهغه عزم ټینګ ودرول، چې زمونږ عاقل او له غیرت څخه جوړ نیکه دمرګ په کټ کښې پرې ټینګار کړی و.

# دمیرویس نیکه سیاسي لیکونه

که څه هم دمیرویس بابا لیکونه نه دي لیدل شوي یا به زه ترې پوه نه یم ،خو په تاریخونو کښې دهغو له متن څخه خبرې شوي دي.
داحمدشاه بابا لیك داستانبول په موزیم کښې شته او دترکیې حکومت د هغه متن اوکاپي دتاریخ ټولنې ته ورکړي، چې خپورشوی دی.
استادعبدالروف بېنوا دمیرویس هوتك په کتاب کښې ددغو لیکونو متن چاپ کړی دی او ما د افغان ملي تاریخ په کتاب کښې هغه راخستی. اوس داسې ښکاري، چې هغه یې دکتابونو له متن څخه راخستي او منسجم کړي دي.
تاریخ منتظم ناصري، چې دقاجاریانو په دوره کښې لیکل شوی؛ دکتاب لیکوال اعتمادالسلطنه دی ،چې دخپرونو او اطلاعاتو وزیر و. دده په واك کښې ټول رسمي

اسناد ول او کیدای شي، چې هغه یا اصل مکتوب هلته وي، چې صفوی پادشاه ته لیکل شوی او اعتماد السلطنه، چې دلیك محتوی وایي، هغه یې لیدلی وي.
زما دلیکنو موخه داده، چې افغان سیاست په دې دورکښې هماغه دمیرویس نیکه دی.

## لومړی ـ دهندمغلي پادشاه ته لیك :

په دغه لیك کښې میرویس نیکه هغه ټولې پېښې لیکلي دي، چې دده تر مشرۍ لاندې سرته رسېدلي.
بیا یې دا مراتب بیان کړي: پښتانه اوس توره په لاس پاڅېدلي او خپله دفاع کولای شي. بیاهم که دصفوی پادشاه لښکر ډېر وي او خدای مه کړه مونږ یې و نه شوکولای، تاسې به زمونږ مرسته وکړئ.که چېرې العیاذبالله زمونږ مقاومت ختم شي دغه نور قومونه به دهند په لورې مخه وکړي.
دهند مسلمانان زمونږ سني مذهبه ورونه دي او هغه څه، چې مو روافضو صفویانو سره کړي تاسو سره نه غواړو.
په دغه لیك کښې میرویس نیکه خپل قوت، دنورو قومونو تګ هندته او ټول هغه اټکلونه، چې دپېښدو لاره یې شته، ښودلي دي.
میرویس نیکه او احمدشاه بابا په دومره قوت لوی افغانستان جوړ کړی که انګلیستان او دهغوی لویه لوبه نه وای، لوی افغانستان به پاتې و. دا یواځې نه ده، چې دوی ( میرویس اواحمدشاه) توریالي وه او ځمکه یې( لوی افغانستان ) مونږ ته پرېښې ده. دوی مونږ ته ټولنیز اصول پرېښي دي او سیاسي لیکه یې پاتې ده . مونږ بویه دغه اصول خپل کړو.

## ۲ـ سلطان حسین صفوي او دهغه اعتمادالدوله ته دمیروس نیکه لیك :

دکتاب له مخې دغه لیك په داسې سپېڅلي صورت لیکل شوی و، چې سلطان حسین نه شو پوهیدای، چې د ملګری دی که دغلیم : په دواړو لیکو تو کښې خوف او رجاء. هیله او ناهیلی دواړه لوستل کېدل. دا ددې لپاره، چې دوی چټك بریدونه ونه شي کولای او میرویس نیکه ته مهال په لاس ورشي، څو خپل لاس او پښې وخوځوي. پښتون او افغان راټول کړي او ددواړو قوتونو (ختیځ او لویدیځ) مخه ونیسي.
کندهار څو خلې دمغلي هند او صفوي پاریس تر منځ لاس په لاس شوی و او دواړو غوښتل، چې کندهار خپل کړي.

کندهار اوس خپل څښتن لري. سبيله شوې خمکه نه ده.
دميرويس نيکه په دواړو ليکونو کښې دمطلوب روح همدا و او احمدشاه بابا دغه روح اوساه لوی افغانستان ته ورکړه.

## صفوي پادشاه ته دميرويس بابا ليك :

افغانان دګرګين خان له بدسلوك نه تنګ شوي وه او هغه يې له نورو ګرجيانو سره مړکړ او زه يې له لاسه ونيولم او کندهار (۲) ته يې بوتلم او دوی سر واخيست
اوس که دايران پادشاه دغچ اخستلو هڅه وکړي افغان لښکر پرېښو ولاړ دي، چې د زړه له کومې مقابلې ته چمتو دي.
اوس دوه حالته دي يا به پرتاسو برې ومومي او که عاجزه شول . کندهار به دهندمغلي پادشاه ته وسپاري او هغه مهال به کار دروند شي. زما خوښه داده، چې دلښکرو لېږل وځنډوئ، زه به دوی ته ډاډ ورکړم.
دغه ليك په ډيپلوماسی کښې دومره پوخ دی، چې دايران پادشاه ونه شو کولای چټك ګام واخلي او خپلو اميرانو سره خبرې پيل کړي . په پای کښې دې پريکړې ته ورسېدل، چې دګرګين وراره خسروخان له شپاړس زره لښکرسره کندهار ته ولېږي.
په دغه موده کښې ميرويس نيکه خپل بشپړ ترتيبات ونيول. اته سوه اوښان يې پر " زنبورك" توپونو سمبال کړل. دګرجيانو او قزلباشو لښکرمات شو او څوك ترې ژوندي پاتې نه شول.
که چېرې دميرويس نيکه هوښياري ، پوهه ، سياست او ډيپلوماسي نه وای: نو دی ديوه عسکري نابعه په توګه پېژندل شوی و. دی اووه کاله مشرو او هر کال يې ايراني لښکرمات کړی. چې شاو خوا هېوادونه لکه هند ، روسيه، عثماني ترکيه او اروپايي هېوادونه. چې ددوی تاجران اومبلغين په اصفهان کښې ول ، ټول حيران پاتې ول، چې څنګه کندهار يو ولايت يوې دوه سوه کلنې امپراتورۍ ته متې نغښتې دي،چې يو ګام هم صفوي لښکر پرمخ نه شي تلای او ټول تباه کېږي؟
محمود دميرويس زوی پرخلکو ګران او ښه وينا وال و، په قرآني آياتونو پوهېده. کله، چې محمود خپله وينا وکړه هغو ټولو ډيپلوماتيکو اقداماتو ته يې د خلکو پام راواړولو،

---

۲ دلته له کندهارد مطلب دکندهار ښاردی او ميرويس نيکه خپل کلي کښې و.

چې میرویس نیکه کړي وه. دا یې هم وویل : څو کاله مو په ښه شان تېرکړل ، زما تره غوښتل، چې له عجم سره سوله وکړي زما تره له خپل قوم سره درغلي وکړه او بیا یې مونږ دروافضو لاس ته سپارلو؟

اعلیحضرت محمود دخپل تره هغه لیك، چې دسولې لپاره یې صفوي پادشاه ته لیکلی و، خلکو ته وښود. قراني آیات او نبوي احادیث یې ولوستل.خلك هملته پرده دافغان دپادشاهۍ غړ وکړ او ده دهېواد د چارو واګې په لاس کښې واخستلې.

## داعلیحضرت ولي الله شاه محمود لومړی برې:

دایران شاهي دربار صفي قلیخان، چې په کار پوه او داصفهان حکومت یې په ښه صورت کړی و، دکندهار دبېرته نیولو لپاره وټاکه. صفي قلیخان د دربار دمخالفت له کبله معزول شوی و او له دې لامله،چې سخت خپه و ، دکندهار سرداري یې ونه منله.

پادشاه او دهغه دربار د کندهار سرداري او مرصع تاج دصفي قلیخان اتلس کلن زوی ته ورکړه اوشپاړس زره قزلباش عسکر یې ورسره کړل. صفي قلیخان دخپل زوی سره یوځای و خوځید. دده زوی ښکلی او غښتلی سړی و او پلار یې دی یواځې پرېنښود، ورسره رهي شو.

کله، چې دقزلباشو دحرکت خبرشاه محمود ته ورسېد :ځنډ یې روا ونه باله، سمدستي یې دهغوی مخه ونیوله.

دصفي قلیخان زوی کندهارته نژدې دښکار لپاره ووت.چې درې څلورسوه خلك ورسره ول. افغانانو وپېژندلو او دصفي قلیخان زوی یې مړکړ او ورسره خلکو ، چې پلار د زوی په مړینې خبر کړ، خپل واك یې له لاسه ورکړ او پر غضب جګړې ته راغی او دا خلې بیا ټوله وسله ، توپخانه او خزانه ترې پاتې شوه.

خلکو دا ومنله، چې شاه محمود افغان لکه خپل پلار میرویس نیکه ، عامل او د برکت خاوند دی:ځکه، نو په خپلې ټاکنې خوشحاله شول.

## لطف علیخان لکزی:

کله، چې دغه غمجن خبر عجم ته ورسید ، هلته وېره خوره شوه او دوی وویل : که مونږ افغان پرېږدو افغان مونږ نه پرېږدي او که جګړه کوو، زمونږ سرونه تويېږي.

دغه مهال سردار لطف علیخان لکزی، چې داعتماد الد وله خپل و، دی یې دکندهار دسرداری لپاره ور وباله. په دغه مهال کښې له بحرین څخه ایلچي راغی، چې دمسقط امام، بحرین ونیولو او دبندر عباس پر لوري روان دی. لطف علیخان دکندهار سفر پرېښود ، دبحرین پر لوري وخوځید.

په دغه مهال کښې شاه محمود افغان کرمان ونیو ، لطف علیخان لکزي بحرین پرېښودو، کرمان ته راغی او هلته یې له افغانانو سره جګړه وکړه.

شاه محمود بېرته کندهار ته لاړ. په داسې حال کښې، چې په کندهار کښې دایران پلویانو او څه دشاه محمود غلیمانو تالان جوړکړی و. دلطف علیخان لکزي لپاره دا یو نوم شو. له دغه تصادفي نامه څخه دلطف علیخان کورنیو مخالفینو ګټه پورته کړه او پادشاه ته یې وویل، چې لطف علیخان په خپل سر دی او دپادشاه حکم نه مني . دوی فکر کاوه، چې شاه محمود افغان له کرمان څخه په شاشو، دا به دلطف علیخان لپاره یوه فتح وي او ښایي، چې دایران پادشاه لطف علیخان لکزی ته لوړه رتبه او مرتبه ورکړي . صفوي پادشاه لطف علیخان په اصفهان کښې بندي کړ. کله ،چې دی په بند کښې ناروغه شو؛نو صفوي پادشاه پښېمانه شو او یو رنځورمل ( طبیب) یې دهغه دعلاج لپاره ولېږه.

لږه موده وروسته شاه محمود افغان اصفهان ته ورغی او لطف علیخان لکزی یې ونیولو. شاه محمود فکر وکړ، چې لطف علیخان لکزی له صفوی پادشاه او دربار څخه خوابدی دی؛ له ده سره به ملګری شي، دی یې وپاله . لطف علیخان، چې مهال وموند وتښتید او طهماسب صفوي یاغي شهزاده سره ملګری شو؛ بیا نور حالات راغلل،خو دشاه محمود افغان خلکو دی ونیولو او شاه محمود افغان ته یې وسپارلو. داخل شاه محمود لطف علیخان مړ کړ.

دا کیسه مي؛ ځکه را واخسته، چې لطف علیخان لکزی او اعتمادالدوله دواړه لکزیان ول.

لکزیان الکوزي دي، چې دسرخاني خان الکوزي سره یو خلك دي ،خو ایرانیانو الف او واو له الکوزي څخه غورځولي دي او لکزي کړي یې دي.
نادر افشار الکوزي له شیروان ، داغستان او دخزر له غاړو بېرته کندهار ته راوستل، چې اوس په کندهار کښې هماغه الکوزي دي او ایراني لکزي ورته وایي. شیراني ، الکوزي او جدون دخزر(کسپین) پښتانه دي، چې یا ایرانیاني شوي یا شړل شوي دي.
په هند کښې، چې کومې لیکنې شوي لکزي، الکوزي بولي. لکه خورشید جهان. ځینې قومونه بې ځایه شوي. لکه، چې اوس سدوزي له کندهاره په کشمیر کښې ډېر دي ، محمدزایي مشرانو لکه وزیرفتح خان او امیردوست خان داحمدشاه بابا کورنۍ په افغانستان کښې پرېښودله؛ هند ته یې ولېږل، چې اوس په هند ، پاکستان او بنګلدېش کښې دي.
دوی نوره پښتو نه وایي. دا پنځم نسل دی، چې په بل هېواد کښې استوګنه کوي.
اعلیحضرت شاه محمود افغان؛ ځکه لطف علیخان لکزی ځانته راوباله،خو کله، چې هغه مخه وګرځوله ؛ نو بیا پر خپل برخلیك اخته شو.
اعلیحضرت شاه محمود افغان په زړه کښې هوښیار و؛ نو، ځکه یې لکزی خپل وګڼلو.
دا ، چې علیخان لکزی په لومړي سر کښې دشاه محمود افغان مقابلې ته لاړ نه شو؛ همداسې فکر کېده، چې ښایي هغه سره همدغه فکروي،خو په پای کښې یوه خواهم دده نه شوه او هره خوا یې بایلودله.

خپله پوهه لرم ، خپله لره
وهر چاته خپله پوهه ده کره
(خوشحال)

له دې څخه مخکې قزلباشو لکزیان په دې جرم ځورولي وه، چې دوی سنیان دي او عام لکزیان له افغانانو سره ملګري وه.
تردې ځایه داسې ښکاري، چې میرویس نیکه او شاه محمود افغان دواړه د تولید په فکر کښې ول. دغه تولید د پښتنو او دهغو داندېوالانو ملي او د میړانې له افکارو سره خپلواك اوغښتلی تومن و.
دا ، چې دوی خدعه او چلونه دخپلې آزادۍ لپاره او دپیاوړیو غلیمانو په برخه کښې دارتیا له مخې کړي، په دې خوښ نه ول.

پام وکړئ داعليحضرت شاه محمود افغان دغې خبرې ته:

پر تدبير او حيله ، پر جګړې اوسربښندنې مو خپل ګريوان له روافضو خلاص کړ. اوس څنګه بيا خپل ګريوان هغوی ته په لاس ورکړو؟

افغان شعيه هم له محمود افغان سره ودريدل.هرڅوك، چې د افغان لپاره ملا وتړي او افغا ن رپی ( بيرغ) لاندې ودرېږي، افغان دی.

کله، چې کندهار داصفهان په لاس کښې و، ايران و او افغانان ايرانيان ول. خو کله، چې ميرويس نيکه اصفهان ته پاڅېد، زمونږ او دايرانيانو له ليدنې او سترګو څخه افغان شو

" قدم نامبارك محمود _ ګربدريا رسد برآرد دود"

د فارسي ادب دا خصوصيت دی، چې په چټکه هجوه يې شعرجوړيږي. په همدغه کتاب کښې دغه بيت ليکل شوی اوپه نژ کښې هم دا وايي، چې د محمود افغان راتګ سره خلکو خپل صفوي دولتونه هېرکړل او خوشحال ول. په ۱۰۶۹ مخ کښې ليکل شوي : افغانان دارمينانو سيمې ته ننوتل پرفقيرانو او دکليسا پرخلکو يې تېری ونه کړ او يو سړی يې هم مړنه کړ.

## دميړنو پادشاه اعليحضرت شاه محمود افغان:

دزلمي پادشاه لاړ او دولتخانې پر قالينو فرش وې؛ ټول مشران او درباريان دشاه محمود افغان تعظيم پرخپل مقام ولاړ ول او د بعيث مراتب يې پرځای کړل.

محمود امروکړ هرڅومره آذوقه، چې دده په اردوکښې وي، د اصفهان خلکوتـه دې ورکړشي. کوم خلك، چې له اصفهان څخه تښتېدلي وه، بېرته راغلل اوکومو خلکو، چې دايران له صفوي پادشاه سره خيانت کړی و، دهغو د اعدام امر يې ورکړ .هغو ايرانيانو ته يې، چې له خپل پادشاه صفوي شاه حسين سره يې ملګرتيا او ملاتړ کړی و، هغوی يې وستايل او د ايران صدر اعظم معتمدالدوله يې پر خپل حال پرېښود. چې له پلار او نيکه څخه د صفويانو خدمت ګار ول.

معتمدالدوله ووېل : اعليحضرته! يو عرض کوم، چې هر خدمت ته چمتويم. يواځې مابه د شاه طهماسب ايراني شهزاده جګړې ته نه لېږئ؛ ځکه، چې ما ددغې کورنۍ مالګه خوړلې ده .

شاه محمود لفغان په دې خبرې خوشحال شو او ويې ويل: ته به پرخپل مقام پاتې يې او دطهماسب جګړې ته مه ځه! دغه راز يې د قزلباشو مشرانو سره ښه روغ بړ وکړ او يو

تقوی لرونکی په شريعت پوه زاهد سړی يې داصفهان ديوان بيگی وټاکه. دپادشاهی په قصر کښې ښځينه کار کوونکو ته زلمي ونه کتل او په کښې شراب او موسيقي نه وه . د پاکلمن خدای پالونکي پادشاه داخلاقو د بيلگې پر ليدلو ايرانيان دومره خوشحاله شول. چې خپل دوه سوه شل کلن دولت يې هېر شو- تاريخ منتظم ناصری ۱۰۸۱ مخ.

## محمودي :

دمحمودي په نامه سکه ووهل شوه او په بازار کښې هرڅه ارزانه شول.خلك خوشحاله ول، څو روس، ترکيې، انگليس او نورو په خپلو دسيسو جگړې پيل کړې.دجگړې دډگر زمری اعليحضرت شاه محمود، چې دوه ويشت کلن زلمی ا و پر سياست ، قوانينو او ادابو پوه و، چې دومره پوهه په دومره لږ عمر کښې دده دنبوغ نخښه ده.

ميرمحمد صديق فرهنگ داخبره کوي، چې شاه دخپل پلار خبرې په ځيره اوريدلې وې: که نه ددومره لږ عمر پادشاه دومره ښه اداره نه شي جوړولای.

دادی څلور کاله وشول امريکا او ټولې نړۍ ونه شوکولای،چې په افغانستان کښې اداره جوړه کړي ،څو پنځه طالبان په دې چاربريالي شوي وه .

ملي تاريخ دا ډول خبرې روښانوي؛ مسايل دده يا د هغه لپاره تت او تياره نه پرېږدي . ددې تاريخ نوم افغان ملي تاريخ دی.

# پښتونولي او سیاست

پښتونولي د پښتنو سیاست دی . بنا د پښتونولۍ او هغه سیاست تر منځ ،چې له لویدیځې نړۍ څخه راولاړ شوی ډېر توپیر دی .
اوس به همدغه موضوع وڅېړو : په لویدیځ کښې سیاست علم بلل کېږي او دغه نوم ماته سم نه ښکاري ،چې سیاست دې علم وي .
په پنځلسمې میلادي پېړۍ کښې یو ایتالوي " ماکیاولي" یو کتاب ولیکه د " شهزاده" په نامه ، دغه کتاب ډېر لوی نوم وموند او د هغه لیکوال یې د سیاست د علم پلار وباله .
په سیاست کښې وایي پورته تر سیاست کوم شی نشته لکه څښتن تعالی او دین په همدې توګه راځي د باندې له سیاست نه هم کوم شی نشته کېدای شي هڅوب او ملي عنعنات وي . همدارنګه اخلاق دي وایې زه ښښنه غواړم ،چې داخبره کوم .
شهزاده یا حاکم ته د بشر یا سرېتوب جایزه مه ورکوئ ،چې هغه په بنی النوع د سړي وي او په دې توګه هغه محکوم شي . په دې برخه کښې غواړم ،چې په سیاست او پښتونولي ډېرې خبرې وکړم دا دواړه خبرې هسې خوشې خبرې نه دي . دواړه بویه سم څرګند شي شهزاده بویه د وګړو طبیعت وپېژني او خلك د شهزاده په طبیعت پوه وي " ماکیاولي" د شهزاده دکتاب په لومړۍ برخه کښې د شهزاده په اصولو خبرې کوي کوم چې شهزاده غواړي خپل حکمیت ټینګ کړي دغه اصول اخلاقي ، دیني یا هڅوب نه دی د لښکرو او قوت خبره ده او د جګړې په لارو چارو کښې دی شهزاده اوږدې لارې لنډوي خو حاکمیت ټینګ شي کله چې جګړه نه وي شهزاده د اخلاقو خبرې پېل کړي او زړه سوادې شي ، څو وکولای شي بیا خلك و جنګوي او دا پلا به یې شعار د اخلاقو اصولو ساتل وي . د ننګ او ناموس خبرې کوي هغه خبرې ،چې په زړه کښې نه دي منلي یوازې یوه وسیله ده د قدرت دپاره .
خلکو ته وایې تاسو خپل ننګ او ناموس نه شی ساتلای څو زما سیوری لاندې رانه شئ ، شهزاده بویه خپل مخالفین ووژنی او دغه خبره دده ښه نامه ته تاوان نه رسوي او خلك یې ستایي ، سیاستمدار ښیې ،چې سم کار کوي او د یوې سمې موضوع دپاره ، داسې ښیې ،چې دی د خدای تعالی یو ښه مخلوق دی . لکه ،چې جمهور رییس بش وروسته تر هغه ،چې پر افغانستان او عراق یې حمله کړې ښه مذهبي سړی دی .

دا خبرې ضروري دي خو له اخلاقياتو سره اړه نه لري او نه اخلاقيات شته . حقيقت هماغه دی ،چې اغېزمن وي . او هغه عدالت وبولي ،چې دده په ګټه وي او دی وساتي . اړتياوې نه شماري په طبيعت کښې يې عدالت نه شته شهزاده بې له دې مسايلو حکومت کولای شي .

"ماکياولي " په پنځه لسمې پېړۍ کښې دا خبرې کوي . حال دا ،چې په لسمې ميلادي پېړۍ داسې اصول د ګرديزي په تاريخ کښې ليدل کېږي . هلته ،چې شيطان د يوه سپين ږيري له خولې شهزاده ته ښيې ځنګه د تبت ( فاقان) يعنی پادشاه شي ،چې وروسته به هغه هم وښودل شي .

کومه فلسفه ،چې زردشت او ګرشاسب پښتو ته ښودلې ده ، په هغه هم حکومت جوړېږي او که چېرې کوم شهزاده پرته له اخلاق پيدا شي . ټول اخلاقي اصول پښو لاندې کوي . خلك هغه مني .

کومې خبرې ،چې وزير محمد ګل خان امريکايي مامور ته کړې وې ، هغه د ملي فلسفې خبرې دي ما هغه خبرې هغې مقالې کښې وليکلې ،چې د وزير صاحب د ځلوېښتمې کليزې په مناسبت ټولې شوې وې . محمد ګل خان د پوهې له نظره هماغه مشرانو ته ورته دی لکه غرغښت بابا بېټنی بابا يا سړبن بابا دلته هغه رابطه ،چې د دوی تر منځ شته د هغه ساتنه او دوام د پښتانه کار دي . غواړم دغه معلومات خپلو پښتنو سره شريك کړم او دغه ليکنه نګه پښتونولی ته واړوم .

شهزاده دين . ايمان . صداقت . اخلاق هر څه وايي خو دا ټول د قدرت د ساتلو دپاره يو مثال . د مارچ په لومړۍ ورځ ۲۰۰۵ وويل شول ،چې د ايران د جمهور رييس خاتمي مېرمن . د کرزي د مېرمن په بلنه د درې ورځو په مخ کابل ته راغله . دواړه امريکې ته ښيې ،چې مونږ په اسلامي هداياتو پسې ډېر نه ګرځو . ملي عنعناتو پسې هم د سياست دپاره او ددې دپاره ،چې امريکا يې ومني او قدرت له لاسه ورنه کړي .

که امريکا د سياست دپاره يو کار کوي نو جنرال ضياء الحق له خپل سفير او يو جنرال سره الوتکی ته خېژوي . ضياء الحق او د هغه جنرالان وژل کېږي . دا همهغه خبره ده ،چې تر سياست پورته هېڅ شی نشته او نه د باندې له سياسته هم .

ماکياولي : " قابل سړی ښه دی نه ښه سړی " هېواد پالنه هم په سياست کښې نشته ملي ګټه د شهزاده دپاره کوم مفهوم نه لري . په پرديو او مېرځمنو هم ځان ساتي . لکه ،چې

اوس یې پوتین د روسیې جمهور رییس یې د امریکې په قوت ساتي ۲۰۰۰-۲۰۰۵ کلونه .

په افغانستان کښې د شهزاده مثالونه امیر دوست محمد او عبدالرحمن دي دوی ډېر د کار خلك وژلې دي . شخصي اخلاق یې بدو او انګلیسانو سره یې جوړه وه ، په داسې حال کښې د شاه شجاع شخصي اخلاق او پوهه ښه وه . صوفیانه اشعار یې درلودل دیوان یې درلود او ښه سوار یې درلود نه یې ځان ته څه وکول او ته هېواد ته . دوست محمد او عبدالرحمن په سیاست پوهېدل ځانونه او کورنۍ یې وساتلې نور یې هر څه وکول له بدلمنۍ تر قتل ... د دوی شهر هم هومره بد نه و . لکه ،چې د شاه شجاع و . په داسې حال کښې ،چې تر شاه شجاع دوی بد و . دوی پرته له دې ،چې د ماکیاولي په خبرو پوه وي . د طبیعت له مخې شهزاده ګان و ،چې په هېڅ اخلاقي اصولو ویشتلې نه و .

زمونږ خبره اسلام او پښتونولي ده ، دین او پښتو ساتل کله ګران پرېوزي زمونږ مشران ګرشاسب بابا ، آپتین بابا ، سرند بابا ، یعقوب صفار ، سبکتګین ، سلطان محمود ، غیاث الدین سام غوري ، شهاب الدین سام ، سوري ، میروېس نیکه ، شاه محمود ، شاه اشرف ، آزاد شاه ، زبردست خان ، سیدال خان ، احمد شاه بابا ، تیمور شاه ، سردار جهان خان ، شاولي یا منیرابي ، خان ګل خان تره خېل ، محمد ګل خان ....

د دغو ټولو کردار سل کتابه کېږي ،چې څښتن تعالی د پښتون په کاله کښې داسې څوك پیدا کړي ،چې دا سل کتابه ولیکي . غوره خبره دا ده ،چې زمونږ مشران په هم هغه فلسفه روان دی ،چې ګرشاسب بابا مونږ ته پرېښې ده . څوك ،چې د عدالت دپاره ولاړ وي هغه افغان دی .

د افغان ملي تاریخ کتاب ،چې چاپ شو یو ګوته نیول دا و ،چې ځینې خبرې تکراري راغلې دي ، دا سمه ده دا زما د معلمۍ یا ښوونې خوی او څېر دی اوس بیا یوه مساله د مطلب دبیانولو دپاره تکراروم . شاه زمان ،چې خپل یاغي وررور شاه محمود ونیوه ؛ نو د شاه محمود مور له قرآن شریف سره او سپین ږیرو سره شاه زمان ته په ننواتو راغلل . شاه زمان کتل ،چې مور یې " مېره " له قرآن پاك سره ،چې یوه ښځه ده پلونیولی قرآن ورسره سپین ږیرې . که چېرې دا یې نه وای منلې ، دین او پښتونولي بې قدره کېدل او ،چې شاه محمود سدوزی یې خوشې کړ . هغه بېرته یاغي شو بیا یې پادشاهي ونیوله تاسې وګورئ شاه زمان له سیاست پورته قرآن شریف مور او ننواتې ومنلې . شاه محمود

سدوزی ،چې پادشاه شو د شاه زمان سترګې يې ړندې کړې . افغانستان تورتې شو او خلك ملامت . که يې نه وای منلی بیا د دين بې احترامي شوې وه او پښتونولي تللې وه سياست و .

شاه زمان ته بيا شاه محمود په لاس ورغی د هغه سترګې يې ړندې نه کړې شاه بیا یاغي شو ، تر اوسه څوك نه پوهېږي د شهزاده سياست ښه دی که دين او پښتونولي ؟ دين او پښتونولي پښتنو مشرانو ساتلې ده . کوم ،چې غښتلې و ډېر ملي تاوان راغلی دی . زمونږ د نورو مشرانو ،چې په هند کښې و ، دين او پښتونولي او بېلو اديانو نژدې کول او پخلاينې امنيت او عدالت و ،چې پنځه شپږ پېړۍ پادشاهي يې وکړه .

مونږ د هغو د طرزالعمل پوښتنه او څېړنه نه ده کړې ، بهلول لودي ، سکندر لودي ، شېرشاه سوري ، علاو الدين خلجی يا غلځی همدا ډول غوريان پوهان . اديبان او شاعران ، معماران د هر څه پته ورکه ده .

مونږ دې ته اړ يو ،چې د خپلو مشرانو په خيالاتو خبر شو د دوی مهارتونه وپېژنو ددې له پاره ،چې مونږ سره ددې احساس وموندل شي ،چې خپل کار په خپله کولای شو ، که ډېر پېچلې تخنيك نه لرو غنم کرلی شو ، ونې نيالولي ، کالي اوبدلی شو ، لوښي جوړولای شو او دغه چارې مو دېرش زره کاله دمخه کړې دی ، تاريخي اسناد شته .

## شهزاده د ګردېزي په تاريخ کښې :

د ګرديزي په تاريخ کښې د شهزاده کيمه داسې راغلې ده ،چې پنځه پېړۍ وروسته ماکياولي د شهزاده کيسه داسې راوړې لکه ،چې له ګريزي يې الهام اخېستی دي .

د يمن پادشاهانو پر يوه سړي ويسا درلوده او دغه سړی ثابت نومېده ، د ثابت مور ورته وليکل ،چې تبت ته لاړ شه هلته ،چې بوټې يې سره زر دي او خاوره يې مشك ، ثابت لښکر جوړ کړ د تبت په لورې وخوځېده ، ثابت يوه توره درلوده ،چې کاليو لاندې ورسره وه ، شپه راغله تياره وغوړېده شيطان د يوه سپين ږيري په څېر ورته راغی .

شهزاده ته يې ،چې همدغه ثابت وي وويل : ما ته سجده وکړه او زما فرمان ومنه ، ثابت دا کار وکړ ، شيطان دې څملاو او جماع يې ورسره وکړه ، ثابت ته يې وويل وښته ، څوړند پرېږده او يوه مرۍ په غاړه کښې واچاو او ژېړه تيږه يې پر تندي وټومبله . بيا يې سپېرې ورکړې ،چې دا وخوره اوږد ژوند به وکړې ، بيا يې ورته وويل : د خپل لښکر اووه تنه مشران ووژنه ، شهزاده پوښتنه وکړه ،چې دا ټول مې وکړل ، بيا به څه وشي ؟

شيطان ،چې د سپين ږيري په څېر و په ځواب کښې ورته وويل : ته به خاقان شي ولايت به ستا وي او پادشاه به يې .
ثابت ،چې خپلو لښکرو ته ورغی هغوی وويل : چېرته وې شيطان وويل : فرشته ګانو خدای تعالی ته بوته او خدای يوه توره ورکړه ( هماغه ،چې ده سره وه ) او چا نه وه ليدلې او زه يې ،چې يو سپين ږيری يم ده سره راولېږلم . لښکر ،چې دا حال وليد ده ته يې د خاقان نوم ورکړ او دده تابع شول .
د خاقان کېدو دغه هنر دی ،چې له سياست پورته څه نه پېژني ځکه شيطان ته يې سجده وکړه . خپل دوستان يې ووژل په ښکاره د خدای په حکم کول سپړې يې وخوړې لـه پاك خوراك نه خلاص شو . اخلاق هم ورته پاتې نه شو اوس د خاقان کېدو دپاره سم شو .
په پښتنو کښې يو صوفي ملنګ شاعر رحمان بابا ده په کلام کښې پښتونولي ليدل کېږي .

چـــې کـــشور د افغانـــانو معطر شي
د هر بېت مصرع مې زلفې د خوبان کړي
چـــې زما په چمن راشي ګستاخي کړي
د شـــــبنم په څېر يې عمر يو زمان کړي

بل ځاى :

که وصال مې د يار بيا موند هله سيال يم
کـــــنه نه يم زه رحمان د هېچا سيال
هم نـــغمې کاندي هم رقص کا هم خاندې
د" رحـــــمان" په شعر ترکې د باګرام[1]

په دې څو بيتو کښې ليدل کېږي ،چې" کشور د افغانانو " معطر شي دا دهېواد پالنې غوره احساس ښيي . وروسته د څښتن تعالی له مناجات او ثناخپل وطن ته خپلې هېلې يادوي . او د تومن دفاع غواړي په شاعرانه بڼه يعنې که څوك ځما چمن ته راشي ژر يې ووژنئ .

---

[1] باګرام ،چې د کوشانيانو پلازمېنه وه او ډېره هوسا او بډايه وه هغه هم په خيال کښې يادوي ( خدای وطن ملت ) ده خپل جهان دی .

اوس خدای وطن او ملت په هادداگ ( يو ډول ويجاړه غوښه ده ،چې څه کباب غوندې دی ) ورکړ شوی دی ، نو دا د زياتې خواشينۍ خبره ده .
افغانستان زمونږ کډ هېواد و ،چا روسانو ته وسپاره چا امريکايانو ته ،چې کور کالي ډوډۍ ورکړي دا بې تنګه ده خوشحال وايي :

زه په ننګ د پښتانه يـم دوی نـيولي مغلان
لـکه سپی هسې جاروزي د مغل په آب و نان

مونږ خپل روايات او د ژوند فلسفه ،چې په ځوانمردۍ او اخلاقو ولاړ دي څنګه پرېږدو ؟ او خدای تعالی ته به څه ځواب لري ؟ سياست کښې دا ډول خبرې نشته .

## د پښتنو زلميانو دپام وړ :

هغه کوم خپل مطلوب ووايم او بېرېږم ،چې وبه نه شم کولای ،پښتون اوسيدل او ځان پښتون ساتل ربړوونکی چار دی خو د بشريت جوهر دی ، ډېر پښتانه به مو وټکوي او ډېر پښتانه به ونازوي ، تاسې به په دوو کښې پاتې شئ .

سر دی نه غړوي خوشحاله
د بـــلانه ،چې سردار دی

که څوك پښتون وي لـه بلا نه وې سر نه غړوي که يې وغړاو پښتو نه شو سياست شو ، څوك ،چې سياست کوي د سودا کولو خبره ده ، په دې بيت کښې سردار د سر خاوند دی نه مشر .

# بابا ګان اوپښتانه

اوس لمريز کال ۱۳۸۴ ته ورسېد . د ( ۱۳۸۰ لمريز کال - ۲۰۰۱ م د اکتوبر په اووه مه ) امريکايان او د هغه ملګرو پر افغانستان لـه هوا او ځمکې حمله وکړه ، په امريکا کښې خلکو اندېښنه وښودله ،چې دا به ښه پايناب ونه لري .
امريکا لس کاله د افغانستان دپاره ،چې روسانو سره ښتګېده ښې خبرې کولې او ټوله لويديځه نړۍ همداسې وه ، مسلمانانو جګړه خپلـه بللـه يـو ناڅاپـه وضع واوښتـه پـر افغانستان يې ودانګل پلمه هماغه د نيويارك او واشنګټن د سپتمبر ۲۰۰۱ م بريد و ،چې څو کسانو په عادي توګه د مساپر ورونکو الوتکو سره کړې وه ، او ډېر امريکايان

مړه شول په نړۍ کښې څوك د هغه په ارتباط پوهه نه شول ،چې دا يې څنګه په افغانستان پورې وتړله ؟

طالبانو دا ونه منله ،چې اسامه بن لادن امريکا ته وسپاري . امير المومنين ملا عمر ته د بي بي سي خبريال پوښتنه وکړه ،چې که تاسې بن لادن ونه سپارئ امريکا به حمله کوي . ملا عمر وويل :"دا ورسره تړلې ده " يعنې امريکا ،چې بې سببه حمله کوي ودې کوي ما د ملا عمر خبره ثبت کړه او ورته هېښ پاتې شوم وروسته له فکر کولو دې نتيجې ته ورسېدم ،چې طالبان ، مسلمان کاپر ته په لاس نه ورکوي او د امريکې حملې ته ولاړ دي . دا د ګرشاسب بابا اصول دي ،چې ناروا په هېڅ څېر نه مني .

د ګرشاسب بابا فلسفه دا ده ، د فساد او شر کار کول که د سر په تاوان هم وي پښتون نه کوي ، آبتين ،چې په تاريخ يادېږي هماغه بېټنی بابا دی ،چې د ضحاك ظلم يې ونه مانه ، ميروېس بابا د ګرګين ، دا يو ميراث دی . ډېر افغانان غواړي ميراث ميراث شي ، ډېر يې نه غواړي اوس درې کاله او څو مياشتې يا څلورم کال نږدې دی ، په افغانستان کښې امن رانه غی د تباهۍ پای نه ښکاري ، امريکا غوندې يو لوی طاقت ،چې اروپا او ملګري ملتونه ورسره ملګري دي ، بيلون بيلون ډالره ولګېدل ، جنګي ، سياسي . متخصصين يا ماهران هم ورسره دي د جګړې سامان ... بيا ولې امن نه راځي ؟

دلته ناسمې ډېرې دي ، د امريکې دومره و د تاريخ تجربې له مخې امريکا پاتې راغله لکه په نولسمې پېړۍ کښې انګليسان او شلمې پېړۍ روسان . دوی برباد شول مونږ يې هم برباد کړو ، خو سياست يې ونه شو کولای پښتونولي ورکه کړي ، د مارچ په نولسمه واشنګټن پوست وليکل (۲۰۰۵) امنيت افغانستان کښې ويجاړ شوی د طالبانو د مهال په ارمان دی .

ګرشاسب ، بېټنی ، سړ بن ، کرلان خپل روح دلته پرېښی دی کنه دا څوك کولای شي ؟ عراق هم داسې دی هغوی هم د دغو بابا ګانو زامن دي ، که څوك وايي څنګه ؟ د خبرې ژوره همدلته ده .چې د تاريخ پراخه مطالعه غواړي . زما په ليکنو کښې راغلي ، هغه داسې ده ،چې د عراق ، سورېې خلك عرب نه دي او مدنيت له سند نه هلته تللی دا شواهد وروسته څرګند شوي که په عراق سورېې يا بين النهرين کښې د " اور " مدنيت و اورګون په افغانستان ارزګان په افغانستان کښې اورياخېل اورمړ هم له اور سره تړلي

دي . تاسې وګورئ امريکا په خپله د نړۍ لومړۍ طاقت دی په اقتصادي . نظامي او سياست کښې له اروپا او نورې نړۍ سره پر دغه دوو هېوادو يې ودانګل د لويديځ د مدنيت ټول کمال يې وښوده ،چې بشريت به يې هېر نه کړي . د بدلمنۍ او بد اخلاقۍ ځلي يې ودرول .

د پښتنو پلرونو د زرهاوو کلونو په مخ د سرېتوب ډيوه بله ساتلې ده . د خپلواکۍ دپاره ځار وتلي دي ، ځار وتلي هم يو ژوندی قوم دی د خزر يا کسپېن د سمندرګي غاړو کښې پروت دی . چې دا هره خبره ځېړنه غواړي زما کار د هغو ژنو دپاره دی ،چې د ځېړلو وخت لري .

دا بحث ما ځکه راواخېست ،چې سياست او پښتونولي له سره نه جوړېږي که مو پښتو پرېښوده بيا هويت له منځه لاړ او سياست وخوړو .

ګرشاسب ،چې استاد احمد علي خان کهزاد يې هماغه د پښتنو بابا غرغښت بولي اوخپل دلايل يې ويلي دي او ګرشاسبنامه يې تحليل او تفسير کړې ده . نور کتابونه مې پسې وکتل ،چې هغه مې د افغان ملي تاريخ دوه هم ټوك کښې ليکلې دي . که د افغان تاريخ وکتل شي پخواني تاريخونو کښې هر ځای د ګرشاسب ذکر راغلی دی .

بله خبره د پښتو ژبې ده پښتنو په خپلو کښې ساتلې ،خو له نولسمې پېړۍ وروسته د ژبې خبره بل رونق وموند ،چې د ملي پېژند ګلوۍ برخه شوه که داسې نه وای او حکيم ابونصر اسدي توسي خپله ګرشاسبنامه په پښتو ليکلې وای ،چې زده يې وه زمونږ کار جوړ و . حکيم اسدي توسي د غزنويانو په روښانه مهال کښې . دی ګرم نه دی ګرم هغه دی ،چې په نولسمې او شلمې پېړۍ کښې دا نه دي کړي په يوويشتمې پېړۍ کښې يې ،چې مونږ نه کوو ويښتيا نه بيده توب دی. نه يوازې بيده بېسده هم .

هغو پښتنو ،چې د ژبې د ودې دپاره هاند کړی دا ښه کار دی . ما ته ډېر خلك وايي خپل آثار په فارسي وليکه . زه ورته وايم فارسي ته دولتونه کار کوي پښتو ته يې نه کوي .

بويه همدغه مونږ يې وکړو کنه تاسې يې ګورئ ،چې زما فارسي تر تاسې ښه زده ده

د ارمينا پادشاه يا آرمن شاه حکيم اسدي هڅولي دی ،چې ګرشاسبنامه وليکي . دا يو مونږ د غرغښت بابا زمان ،چې ځلوېښت کاله محمد ظاهر پر مونږ بادشاهي وکړه په ټکي پښتو خبر نه و بيا د ملت بابا شو د ملت بابا ګرشاسب و ،چې اوه زره کاله يې نوم

ACKU

او اصول پاتې دي ، په لرغونو تاريخو کښې ګرشاسب بابا يا غرشاسب دومره ياد شوی ،چې هيڅ پادشاه نه دی ياد شوی .
د پښتو زلميانو د پام دپاره . دلته يو متن د پښتو په باب له يو دايرې المعارف را اخلم تاسې يې په خير وګورئ . دغه دايرې المعارف د ۱۹۸۳ کال دی LEXICON UNIVERSAL ENCYCLOPEDIA نوميږي .
د دايرې المعارف په ۱۰۲ مخ کښې ،چې Pashtun راغلی هيڅ يې نه دي ليکلي دومره وايې ،چې پټهان وګورئ PATHAN ۱۱۱ مخ .
پټهان يا پښتون له شپېتو ډېرو قبيلو خاص ETHNIC نوم دی ،چې په بيلو لهجو خبرې کوي د ايراني ژبو له جملې ( پښتو ) ده . پښتانه په افغانستان او پاکستان کښې هستوګن دي او په نړۍ کښې يو لوی قبيلوي ګروپ دی داسې اټکل کېږي ،چې پټهان به اوه ميليون په افغانستان کښې او پنځلس ميليون پاکستان کښې وي . د دوی څمکه يا د اوسېدو ځای هغه غرونه دي ،چې د پاکستان او افغانستان پولو کښې دي . او اوس د افغانستان اوپاکستان هوارو څمکو کښې خواره شوي دي . په دوی کښې غټې قبيلې غلځي او دراني دي . په افغانستان کښې تر ۱۹۷۳ پورې د محمد زايانو پادشاهي وه .
پټهان تل په افغانستان حکومت کاو مګر هيڅکله په سياسي بڼه يو شوی نه دی ، له ۱۹۵۰م وروسته افغانستان د آزاد پښتونستان خبره کوله ،چې په پاکستان کښې و .
پټهانان په کرنې او کډوالۍ بوخت دي ،چې له يو ځای نه بل ته مالونه وړي .
دا و د پښتنو تعريف مخکې له اسلام او وروسته تر اسلام نه کوشانيان و نه يفت ليان ، نه غوريان ،نه غزنويان و ، نه هوتك ، نه ابداليان ، نه سوريان ، نه لوديان نه ژبه لري نه تاريخ بس يو مخ بربادي ده . دغه دايرې المعارف په ميليونو خلکو لولي د دوی به همدغه انتباوي په سلهاو داسې خبرې شته دا به څوك سموي ؟
افغان ملي تاريخ کښې هڅه دا ده ،چې د معتبرو مدارکونه د پښتنو تاريخ څمکه اومدنيتونه روښانه کړم او دا مدارك شته او زښت ډېر دي د تاريخ يوه څېړنه وړ کتابونه غواړي پوره وخت او دا زه لرم خو زما ليکنې ددې دپاره دي ،چې راتلونکي خوانان دې هغه بشپړ کړي سم دې کړي .
د يوه هېواد تاريخ هڅوب ادب بدايول ضروري ده ، په هند کښې مهابهارت شل زره مخه کتاب ليکل ،چې هندوان يې خپل سرمشق کوي .

په کال ۱۳۶۰ لمريز د ايران قونسلګرۍ افغانانو ته پيسې ورکولې ، قلمونه ، کتابونه وروړي ، حتی شخصي ليکونه او هغه ليکنې ،چې د پنځوس کلو وړاندې وې ما داسې افغانان وليدل ،چې يوه بوجۍ کتابونه قلمي آثار يې ورکړل ، دکمونستانو له وېرې ،چې کورونه يې لټول ټولو خپل کتابونه وسوځول . په انګلستان کښې د آمو د سپند د غاړو د سروزرو آثار سالت شوي . يو تاجکي ليکوال ويلي ، ښه ده هلته خو شته ، چې سړي بې وزلې شي نو څه ژوندون شو ؟
دا خبره مې واورېدله ،چې ښايي افغانستان راتلونکې ولري ، خو تاريخي آثار يې له لاسه وتلي دي ، ټول د لويديځ هېوادو په موزيمو کښې دي ، د آمو د سيند د غاړو آثار په افغانستان او تاجکستان پورې اړه لري ، لکه ګرشاسبنامه د ويانا په کتابتون کښې دی ښه دی ،چې هلته شته ځکه ګرشاسب زمونږ بابا او هماغه غرغښت بابا دی .
اوس ،چې مونږ په بيلو تاريخي ليکنو کښې پښتانه او د هغوی باباګان ليدلی شو ، په کار دی ،چې د هغوی لاره ځانګړې کړو او خپل سر مشق يې کړو .
لومړی : دا خبره ومنو ،چې پښتون د نسل ويني او نژاد نوم نه دی ځوك ،چې پښتو کوي پښتون يعنې ځوك ،چې پښتونواله لري هغه زمونږ د باباګانو فلسفه مني .
دوهم : د ژبې خبره په نولسمې پېړۍ کښې د ملي هويت برخه شوه تر هغه دمخه نه وه ، همدا ،چې وايې ژبه د افهام او تفهيم يا پوهولو راپوهولو وسيله وه .
درېيم : سورپاکت او ساك هماغه خلك دي ،چې د بشريت مدنيت يې پېل کړي دی .
څلورم : کوچانيان ،چې کوشانيان بلل شوي او يفتليان هماغه خلك دي ،چې وروسته غلځي او ابدالي شوي دي .
پنځم : امير سبکتګين ، سلطان محمود ، يعقوب صفار ، غيّاث الدين غوري ، شهاب الدين غوري ، ټول د عمل پښتانه دي ، پښتو ته يې کارونه کړي ، پښتونواله يې کړې ده ، په تاريخ کښې يعقوب غوښتل بغداد ونيسي همدا ډول کله ،چې سلطان محمود وفات شو دده زوی سلطان مسعود په سپاهان کښې و او غوښتل يې ،چې بغداد ونيسي بيا ددې دپاره ،چې د پلار ځای ونيسي بيرته راوګرځېد ، د مسعود خبره ده ،چې په بيهقي کښې راغلې ده لوړ دلته به يې متن راوړل شي !

سلطان مسعود غزنوي د " ری " ښار ته راغیٔ او داسې یې وویل : " ما ولایتې دور با نام بکشاده بودیم و قصد همدان و بغداد راداشتیم که نبود آن دیلمان را بس خطري ، ونامه نبشتم با آن رسول علوي سوی برادر تعزیت و تهنیت "
یو ځل مسعود خپل قصد وایي : " و قصد بغداد کردیمي تا مملکت مسلمانان زیر فرمان ما دو برادر بودي"
له ښې مرغې د میرویس نیکه د خولې خبرې د احمد شاه بابا . د اعلضحرت شاه محمود له خولې خبره ده . اعلحضرت شاه اشرف او اعلحضرت آزاد شاه راخستل شوي او په نښه شوي ، د یعقوب صفار ، محمود غزنوي او سلطان مسعود هم .
د سلطان مسعود خبرې د دري یو متن بللی شي او هغه دري ده ،چې اوس ایراني شوې .
د ظاهر په دوران کښې ځینې خلك ایران ته ولېږل شول ،چې ایراني زده کي او د فارسي دکتوران شي همهغسې و . دکتور د فارسي عبدالاحمد جاوید . د فارسي دکتور سپد مخدوم رهین ،چې جاوید د پوهنتون استاد او ریيس شو او مخدوم رهین د مجهولاتو په حکومت کښې د اطلاعاتو او کلتور وزیر دوی دري ورکه کړله د پښتو لاره یې بنده کړله دومره زړور و ،چې له چا یې ویره او حیا نه کېدله .
پښتانه ،چې ګورې دولت کار نه کوي خپله یې یه یوه هڅه پېل کړه ، په همدغه لیکنه کښې مو د لویدیځ سیاست ولید ،چې د افغان امریکا ګډ دښمن روس له امریکې سر کوږده وشوه ، د هغوی سره دوستي وشوه . د ایران او امریکې سیاست د افغانستان په برخه د غلیم سیاست نه دی هغوی‌هم ګډ کار کوي ، پاکستان او هندوستان هم د دوستۍ خبرې کوي . (۲۰۰۵ م ) لیدل کېږي ،چې پښتانه سیاست نه کوي نن ،چې څلور کاله د امریکې د حملې کېږئ ، د افغانستان د دفاع د وزیر کور په کابل کښې لوټ کېږي ، څوك چې د دفاع دپاره دې خپل کور نه شي ساتلای دا خبر غټ نه دی خو نزاکت یې ډېر دی . ۱۳۸۴ د حمل لسمه .

# افغانستان او لړه کي

د افغانستان د تاريخ محور پښتانه دي ، کله ،چې شمال ، ختيځ لويديځ او جنوب تاريخ ليدل کېږي. سور ، ساك ، پاکت ، کوشانيان ، يفتليان دي ، وروسته له سکزيان زابليان ، غوريان ، هوتك ، ابداليان دي. کله ،چې اسلام راغلی ، بيا ټول مسلمانان و او کله ، چې د لويديځ سياست راغلي ملتونه شول. اوس تاجك ، ازبك ، هزاره او نور افغانان دي او پښتنو د وهلو دپاره له هرې وسيلې کار اخلي ، همدغه د جنوب او ختيځ افغانان دي ،چې انګليسان ، روسان او امريکايان يې ټکوي .

ملي تاريخ ،ملي روحيه د افغنستان د بنسټ ابښېدونکي پېژندل او په درانه سترګه کتل دي ، که داسې نه وي بيا ملت نه دی .

پښتون همدغه تاريخ لري ، تاجك ، ازبك ،هزاره او نور دوی لارې لري يا به پښتنو سره د افغان ملي تاريخ خپلوي يا به د تاجك ، ازبك ، هزاره پسې ځي ،چې په دې ځېر که دوی افغنستان سره خيانت کوي نورو هېوادوته درومي .

پښتانه داسې نوې لارې نه لري همدغه تاريخي ميراث به ساتي ،چې د دوی نيکه ګان ورته پرېښې ده . د ملي تاريخ فلسفه د ملي تاريخ له لوستو لاسته راځي . " ارنست رنان د فرانسې د نولسمې پېړۍ فيلسوف ويلي دي : د ملت بنسټ تاريخي ويارنې او خواشينۍ جوړوي ، همدغه تاريخي سرلوړي د ملتونو راتلونې جوړوي " عروۍ الوثقی .

که چېرې تاجك ، ازبك ، هزاره ... او نورو تاريخي سرلوړۍ او خواشينۍ راسره ګاللې وې زمونږ ملت دې يو ملت دی .

زمونږ حالت ،چې د اروپا او امريکا له حالاتو سره ګډ شوی په داسې حال کښې ،چې اقتصاد ، عسکري طاقت ، دين او هځوب تاريخ او جغرافيه مو سره بېل دي . هغوی ته اسانه اومونږ ته ګرانه ده . ځښتن تعالی دې زمونږ ګرانه اسانه کړې .

# کشمير او افغانستان

پوهاند صديق الله "رښتين" د کشمير او پښتانه په باب يوه څېړنه کړې وه ،چې خورا په زړه پورې ده. کشمير په ټولو پښتنو کښې پېژندل شوی نوم دی ، له پوښاك ،خواړه ښه هوا ښکلې ورشو هر څه ياد او پېژندل شوي دي.

د افغانستان او کشمير غرونه او موقعيت يو شان دی. اوس هم سره گاونډيان دي. د پامير له ترانگې سره نښتي دي، چې د افغانستان د شمال ختيځ په وروستی برخه کښې دي. "هر چا ته خپل وطن کشمير دی" اوس هم په کشمير کښې پښتانه اوسېږي، چې خپله ژبه يې ساتلې ده او نور پښتانه د احمد شاه بابا له قومه دي، چې سدوزيان دي. دوی د کشمير په سياسي ژوند کښې فعال دي، ځينې سيدان هم هلته فعال دي.

په کشمير کښې د مسلمانانو اکثريت دی. په همدې څېر يې پاکستان غواړي، چې پاکستان سره وي. هند وايي هلته يو هندو مهاراجا و، چين هم برخه واخسته لداخ کښې يې يو ځای ونيو کوم، چې چين ته نژدې و. له دغې شوکې وروسته په کال ۱۹۵۹م کښې چين بيا دوهمه شوکه "سکم" په لداخ کښې وکړه. ۱۹۶۲م چې تراوسه د چين او هند ترمنځ شخړه پاتې ده.

په کال ۱۹۴۷م کښې، چې انگلستان ووتل د کشمير مهاراجا غوښتل، چې کشمير خپلواک وي. دا خبره نه هند منله او پاکستان که د کشمير د مهاراجا خبره منلې وای بيا څه خبره نه وه.

د پاکستان مسلمانان کشمير ته ننوتل او د کشمير له درېو برخو يوه برخه يې ترلاسه کړه او يوه متحد کشمير خبره نوره نه وه.

د کشمير مهاراجان، چې وليدل: نو ويې ويل، چې کشمير دې له هند سره وي او څه خپلواکي به لري. ده يو پارلمان جوړ کړ او کشمير واك يې د کابينې غړو ته وسپاره. يعنې په نامه مهاراجا و، دغو حالاتو دوه کاله دوام وکړ. ۱۹۴۹م ملگرو ملتو يو اوربند څرگند کړ او يوه نخښه يې کېښوده.

د کشمير د لويي بدني نه يې په ۱۸۱۹م کښې بېل شو. دا مهال په افغانستان کښې کورنی جگړې وې. محمد زايي سردارانو هېواد په خپلو کښې وېشلی و، خو يوه د خپلې سيمې د ساتلو توان نه درلود. کشمير په پنجاب پورې وتړل شو. چې بيا انگليسانو ټول هندوستان ونيو، بيا د انگليس اداري تشکيل تر تورخم ورسيد.

په کشمير کښې هندوستان مهاراجا ليرې د کانگرس د گوند له خوا حکومت جوړ شو. په دې کښې کشمير کښې يو ملي مشر عبدالله، چې د کشمير د زمري په نوم مشهور و، غوښتل يې، چې کشمير خپلواك وي. چې دا نه هند غوښتل او نه پاکستان.

که څه هم پاکستان هغه برخه کشمیر، چې په لاس کښې یې آزاد کشمیر باله، خو حکومت یې په خپله خوښه جوړو، شیخ عبدالله د کانګرس په ګوند کښې تر هغه د مخه. چې هند خپلواك شي او د خپلواکی دپاره یې هڅه کوله. داسې حالات راغلل. شیخ عبدالله د هند سره هم جوړ نه شو که څه هم دی د کشمیر صدراعظم و. پاکستان، چې شیخ عبدالله یې د کشمیر اتل باله په ده پسې له هند سر د سازش او جوړې تبلیغ کولو.
د شیخ عبدالله حکومت ړنګ او دی بندي شو، ۱۹۵۰ م کال کښې د کشمیر مساله ملګرو ملتونو ،چې تر اوسه په هم هغه حال پاتې په موده کښې شیخ عبدالله د خود ارادیت د کشمیر دپاره غوښت په همدغو کلوکښې مروې غوښتل د افغانستان دولت دکشمیرد دغې غوښتنې مرسته وکړي ، د ظاهر شاه د دولت هند او پاکستان دواړه نه خوا بدي کول او ویل یې مونږ د پښتونستان مسئله لرو کشمیر نه شو یادولې.
هندوستان کښې ناماسیمارای صدر اعظم د شیخ ولي زیارت وران کړ. د چهار یار شریف ښار یې وسوزاوه په زرهاو کورونه یې وران کړل ، د مسلمانانو هیڅ پروا یې نه کوله. همدغه ناماسمار او د اختلاس په جرم بند شو. په ۲۰۰۴م کال کښې خلاص شو له هغه وروسته ایودیا کښې بابري جومات ونړول شو.
کوم ربړ ،چې شیخ عبدالله ته پیښ شو هر ځای ملي عناصر تکول کېږي ، ځکه لویدیځ او ختیځ هند او مسلمان دا غواړي ،چې هر څوك د دوی په ګټه کار وکړي.
شیخ عبدالله ویل که پاکستان وایي ، مونږ مسلمانان یو نو د افغانستان خلك هم مسلمانان دي .مونږ به هغوی سره یو ځای شو ، کشمیریان مسلمانان دي بیا په هغه کښې پښتانه او هغه سدوزیان ،چې محمدزایانو وشړل د لاهور او کشمیر په هدیرو کښې ډېر سدوزي شهزاده ګان پراته دي.
عجیبه لادا ،چې د افغانستان د امپراتورۍ ځینې وسلې هلته موندلې کېږي ،چې مونږ یې نه لرو ، دکتور طیبي ،چې په ډهلي کښې د افغانستان لوی سفیر و. له شیخ عبدالله سره ملګری و. او دده مطالبې له افغانستان سره د یوځای کېدو د افغانستان حکومت ته ولیکل ، دغه مطلب په ۱۹۹۶م کال کښې د عروۀ الوثقی په ۶۰-۱۶ ګڼې کښې ولیکل.
په ۱ م کال د سپتمبر په میاشت په ډهلي کښې ماله شیخ عبدالله سره ولیدل او د هغه له نظره مې د یوه افغان په توګه مننه وکړه.

دکتور عبدالحکیم طیبي د افغانستان لوی سفیر د کلکتې د پښتنو دپاره ډېرې هڅې وکړې ،ځکه دا مهال د هند او پاکستان جګړه وه او هندبانو شپاړس تنه پښتانه وژلې و ،چې جنرال نیازي دپاکستان عسکري قوماندان بنګال کښې پښتون و . طیبي ،چې پو شو زه کلکتې ته روان یم نو دا خبره یې ماته وکړه . ما هلته یوه ورځ په همدې موضوع تېره کړه او پښتانه مې ځان سره غونډې ته بوتلل او هغه د بنګله دېش په نامه مرسته وکړه .چې اخبارونه راغله او د هندوانو روحیه بدله شوه . ما دغه تشویق کړل ،چې بېرته افغانستان ته لاړ شي او خپلې ځمکې ابادې کړي او خپل زامن ښوونځیو ته ولېږي . خو له دې خبرې پښېمانه شوم ،ځکه ډېر ژر د افغانستان حالات بدل شول . د محمد داود کودتا او ورپسې کمونستان راغلل پنځه میلیونه افغانان ووتل .

د شیخ عبدالله او د پښتنو هېواد ته تګ له خبرو دومره لېرې شوم ،چې زما راشن پاس په لاس کښې و ، پېښور کښې خیراتي غنمو ته ناست وم .

له شیخ عبدالله سره فاروق عبدالله او دده سکرتر هم و ، فاروق عبدالله تر ۲۰۰۰ م کال پورې د کشمیر صدر اعظم و او د فاروق عبدالله عمر عبدالله په هند کښې وزیر دی ۲۰۰۵ م دا مساله ما ځکه ولیکله ،چې افغانان پوه شي دا ډول هڅې وي .

اوس ،چې امریکا افغانستان کښې تر څنډه پاتې کېږي ،هر پښتون وایې د خوشحال دا خبره کوي :

د بې ننګه پښتانه له لاسه ما    لولي پرېښود ونیوله کمه ما

زورپادشاه ، حامد کرزی د افغانستان په ارګ کښې امریکایان ساتي او ډوډۍ ورکوي دا دی بې ننګه پښتانه .

دوهمه خبره د هغو تاجکو ازبکو او هزاره و ده ،چې پښتانه یې په امریکایانو مړه کړي او کورونه یې ولټول .

درېیمه د هغو پښتنو طالبان یې د غلځي توب سره د امریکې او د هغه د ملګرو په مرسته ووهل ، چې ملي تاریخ به یې هېر نه کړي .

تصویر – لیکوال له شیخ عبدالله سره ،چې په هم هغه موضوع یعنی افغانستان دکشمیر یووالي خبره ده .

•

دوه یم طیبي صاحب د کلکتې له پښتنو سره

درېیم حـــداد د کلکتې لـــــه پښتنو ســـره

ددې موضوع یادول ددې دپاره و هر څوك کولای شي . د خپل هېواد د ملي ګټو دپاره یو څه وکوي . ما د بنګله دېش لوی کمشنر ته په کلکتې کښې وویل که د پښتون هڅې په کلکتې کښې مات شي واخ یې په خیبر کښې اورېدل کېږي .

اندراګاندي او شېخ عبدالله یوې موافقې ته رسېدل په دې کښې داسې یون پېداشو ،چې دمسلمانانو او هندوانو د مقدسو ځایو سپکاوی کېده په دې توګه شېخ عبدالله خپل پراخ ګرانښت له لاسه ورکړ . او دا ددی څرګندوی دي ،چې پرته لـه هند او شېخ عبدالله هم ځېنو نور لاسونه و . داسې حالات راغلل ،چې کلونه کلونه مسلمانان او هندوان خپل مقدس ځایوتـه نـه شو تـلای ، د طالبـانو پـه مهال د کشمیر پښتانـه خوشاله و او نـورو مسلمانانو هم فکر کاوه ، له څېرمې شریعت کټ مټ عملي شي سوله هم ورسره راځي .

اوس ،چې د ۲۰۰۵ م کال د اپرېل لسمه ده (۱۳۸۴ لمریز د وري شلمه) د هندي کشمیر سرینګر او د پاکستان کشمیر مظفر اباد ترمنځ بس سروېس پېل شو ، خو څو بمونه و چاودېدل ،چې د بس تګ راتګ بند شي بیا هم لومړی بس سروېس سرینګر تـه ورسید کشمیریانو پنځوس کالـه وروستـه یـو بـل سره ولیـدل ، خـو د کشمیر دا مسئله نـه ده څرګنده شوې د یوه خپلواك کشمیر خبرې کېږي .

په افغانستان کښې امریکایې نظامي اډې جوړېږي ، امریکایان د هر ځای بندیان هلتـه ساتي ډالرې پانګې د انفرادي خلکو په لاس کښې د حامد کرزي حکومت کمزوری دی . په حکومت کښې د روس ،ایران ، هند ، چین ، اروپا ، امریکا ... خلك هر یو ځانله برخه لټوي ، ټول واك د امریکې دي محمد ظاهر زوړ پادشاه او حامد کرزی ځوان جمهور رییس امریکا عسکر ساتي ، د شرم خبرې ډېري دي مسیحي تبلیغ ، بدلمنی ، رشوت ، د ماشومان تښتول ، غلا له حده وتلې ده .

روسیه ، هند او چین خپلې ګټې لټوي او د امریکې تندي تـه هم ګوري پـه افغانستان د جنوبي سرحد پښتانه اوشرقي سرحد ته نژدې پښتانه وزیرستان او وانه عذابونه ویني .

په امریکا کښې دا څرګندونه کېږي " هغه کسان ،چې په پښتـو او انګلیسي پوهېږي ، د کال یو سل لس زره ډالره معاش ورکول کېږي " ،چې دا یـو لـك لـس زره ډالـره امریکایي پروفېسرانو ته څوك نه ورکوي . اوس هغه څوك ،چې زر ډالره نـه شي کتلی ، پښتـون او انګلیسي هم نه پوهېږي . بل کوم مهارت نه لري سمدلاسه د یو لك ډالرو خبره ورته کېږي

دغه خلك لكه يوه متاع خرڅ شي بيا ،چې د ډالرو خوند ووينې عزت او پت هم ويېري .
رحمان بابا:

اصيل چا پېر دى پلورلى نه دى ته په تورو سترگو اصيل پلوري پيري

په ملي تاريخ كښې د گرشاسب بابا شخصيت ډېر راڅي همدا ډول د سور ، ساك او پاكت خبره ده ،چې پښتانه فنيقيان سوريان دوى سمندري امپراتوري درلودې يوه نرى بحري ځمكه يې له اسپانيې تر سرې بحېرې پورې په لاس كښې .
فنيقيانو د اوبو ، كښتي ، د اوبو د يون سمتونه او د توفان په راتگ پوهېدل تر اوسه د دوى له پوهې گټه اخستل كېږي ، خط او نور هنرونه د دوى زده و ، د پښتنو غليمانو د ننه او د باندې داسې څه وايي ،چې گواكې دوى روښانه تاريخ نه لري . د ايران او هند په تاريخ كښې منډلي او څوك درك نه شي موندلى .
دا دى د هېرودت كور ودانوى ، چې د نړۍ په دغو دريو عناصرو يې ،چې پاكت ، سور او ساك وي خبرې كړي دي . (۴۵۰ پخوا تر ميلاده ) تاين بي اونورو تاريخ پوهانو اوس ډا ويلي دي .

# فنيقيان بحري تجارت او لويه واكمني

د لرغوني زماني پرمختگ د سودا گرۍ له امله و ،چې ځمكې او د اوبو لارې وې د مخه رېږوونكو چارو پېل له سور ، پاكت ، او ساك نه شوى دى ، بين النهرين ،مصر ، يونان ،چې له باكتر سره يې اړيكې وې . د لرغوني اسنادو له مخې هماغه دوره ده ،چې له باكتر نه سور يې ، عراق ، مصر ، لبنان ، فلسطين د مديترانې له غاړو له تېريدو هند او له هند د پاراپاميزاد له غرو ،چې هندوكش بلل كېږي ، بېرته باختر ته رسېدل او همدا ډول بېرته همدا لاره يې وهله .
په دې لويه دوره پاكتيا ، سوريان او ساكان و ، د فنيقيانو زړه پادشاهي ، له ۲۷۰۰ مخكې له ميلاده تر ۲۰۰۰ پخوا تر ميلاده وه . په ۱۳۰۰ پخوا تر ميلاده د مصر برخه شوه ، له دې وروسته د دوى د رانښكته كېدو مهال و .

# پښتانه او دهغوی هسك او ټيټ په تاريخ کښې

ددغه فصل راوړل تر یوه ځای د پایناب یادول دي . ددغه لوی تاریخ یاددښت تر اوسه د پښتنو په ماغزو کښې پاتې دي . دوی تر اوسه وایي پښتون غونډې زورور قوم بل نشته په تېره د حمزه شینواري په اشعارو کښې د پښتون فلسفه په ډاډ ویل کېږي ،چې د هغه ځینو نمونې به را واخلو . ده داسې اندېښنې په نثر هم بیان کړي ، په کال ۱۳۶۴ لمريز کښې دغه لیکوال شاعر او لیکوال محمد صدیق پسرلی او سلطان صابر د هېواد د جرېدې چلوونکی او صحافي د شینواري کورته پېښور کښې ورغلو.

حمزه شینواری په کټ کښې پروت و . زمونږ په لیدو کښېناست او ډېر خوشحال شو . یو رباعیات یې له کاغذ ورواخیست او په موسکا یې وویل : " شاعر ،چې زوړ شي رباعيګانې ډېروايي" اوږد مجلس مو و . په پای کښې یې خو پاڼې ،چې په نثر لیکلی شوې وې ماته راکړې ، ،چې وې لولم او چاپ یې کړم . هغه ملګري د ګوند په څېر ټول و ، هغه مې یوه پاڼه او شاعر ملګري ته ورکړې ،چې چاپ یې کړي هغه داسې کړې لکه ،چې ځوك ډوډۍ وخوري . حمزه صاحب السلام . پښتو پاله السلام او دا خبره سمه وه ځکه د سیستان په تاریخ کښې وایي کله ،چې مسلمانان سیستان یاساکستان ته راغلل او مشرانو سره په خبر وشول . مسلمانانو خپلې خبرې وکړې . مشرانو وویل ،چې زمونږ په تومن کښې دروغ نشته ، حرام ، حلال پېژنو ، ناحقه خون نه کوو . بدلمنی په مونږ کښې نشته مېلمه پالو ، ظالم نه پرېږدو .

غیرتي زما ارمان شو
چې پښتون شو مسلمان شو
پښتو مې د اسلام د الاالله نه زده کړه
همدې خوده راکړه د جنت پته
هرکله د انسان ،چې د افغان ولیکم
پوه شه پت او ننګ د مسلمان ولیکم

پښتون ،چې پښتونواله ولري پښتون دی :

د پښتون زوی او لــــه پــــښتونه خــــلاف
خــــاونــــده دا څه نــــه څه پــــېدا شــــو
په دې خبر مشه اېشيا ،چې بيا دې خبر نشته دی
چــــېرې کــــه ستا له جمعيت نه که افغان اووتو

رحمان بابا د حمزه بابا له سترګو :

هــــر بــــلبل يــــې د بقا سندرې وايي
د پښتو د بــــاغ ماليار عبدالرحمن دی
حــــمزه څومره خوشبختي د پښتو ده
چې په لاس يې د رحمان بابا ديوان دی

د حمزه شينواري تفکر اسلام پښتو او هېواد پالنه او ملتپالنه ده .

ګرشاسب بابا د اسلام د راتګ وړاندې نه ويلي دي ، يو روحي تړون دی د پنځو زرو کلو په اوږدو کښې حمزه بابا دا خبره کوي .

ستا دا هندکې بانه که تېغ وي څه شی ؟
لا څــــه شــــملې د پښتانه پاتې دي
پــــه خــــلاصــــېدوشوه د زړه وينه حمزه
لا ډېــــر غــــمونــــه مېلمانه پاتې دي

څنګه چې د رحمان بابا کلام الهامي د حمزه بابا هم الهامي دی .

تاريخ ،چې د لوی افغانستان په سيمه کښې همدغه سور ، ساك ، پاکت دی وروسته له هغه د اسلام مبارك دين راغی د قوم نژاد نسل او نسب خبره په اسلام بدله شوه . په نولسمه پېړۍ کښې له اروپا نه ملتپالنه يا د دوی په ژبه ناسيونالېزم بيا سر ښکاره کړ نه د انسان په نامه نه دافغان په نامه او نه د اسلام په نامه يووالی پاتې نه شو او دوه لارې پاتې دي . يا به د اسلام په نامه يووالی راځي يا د پښتون په نامه څکه مخکې تر اسلام قوم او قوميت و ، بيا اسلام راغی . اروپا کښې تل قوميت پاتې ، جرمن ، جرمن ، انګليس ، انګليس ، فرانسه ، فرانسه په اسلام کښې خلافت راغی . ددغه خلافت دښمني په اروپايي رواجونو وشو . لويديځ مدنيت مو انسانيت ومانه ټول قومونه د دوی په رواج شول حاکميت د دوی په لاس کښې پاتې دی .

اوس په څرګنده غواړي تړوله نړۍ وخوري مونږ به څه يو ؟ مچله ګان ،چې د دوی خولې او لاسو ته ګوري. دعا همدا ده ،چې له دې اسارت نه خلاص شو .
هغه موضوع ،چې مو مخکې وويله ،چې قوم ، نسل ، نژاد ، نسب په اسلام بدل شو نور قومونه ،چې مسلمانان شوي و ، مخه يې خلاصه شوه افغانستان ته هم راغلل داسې وخت راغی ،چې ( ان اکرمکم عند الله اتقاکم ) حکومت کاوه او دا ښه خبره وه . خو بيا دا لاره پرېښودل شوه . اروپايان راغلل ، آسيا ، افريقا او نورې قارې يې ونيولې ، عربستان او عربي ملکونه ټول د دوی شول . که عراق و که سوريه ، افغانستان و که هندوستان ، بخارا او ثمرقند ، مصر او ليبيا ، الجزاير او المعرب ، تونس ، ايران کښې " لاڅه شملې د پښتانه پاتې دي " او عراقيان او" ورپسې لا ډېر غمونه مېلمانه پاتې دي "
دغه څېر تفکر د وزير محمد ګل خان مومند هم و ، خو د دې ډول تفکر هماغه ګرشاسب بابا ، بېټنی بابا او سړبن بابا ته رسېږي ،چې شپږ زره کاله وړاندې تېر شوي . اروپايان د بشر د پېدايښت د ميليونو کلو خبرې ،چې په ختيځ کښې د آدم (عليه سلام) له پېدايښت نو يو حساب لري .
د آدم (عليه سلام) د پېدايښت څخه څو پښته وروسته د ګرشاسب بابا بېټنی او سړبن بابا نومونه راځي. کوم سياست ،چې اروپايانو په ختيځ کښې چلولی دی له اسلام او پښتونولي سره نه جوړېږي . له دې بلا هله خلاصېدای شو ،چې بشپړ يووالی او د اسلام او پښتونولی ساتل وي، اود ګرشاسب بابا د شخصيت پېژندل دي .
ميرويس نيکه ، شاه محمود او شاه اشرف وروسته آزاد شاه ، احمد شاه بابا ، مخکې تر هغو سبکتګين ، سلطان محمود ، شهاب الدين غوري ، غياث الدين غوري په ښلهاوو نور ، امان الله خان که څه هم يېد لويديځ د هځوب او کلتور په راوستو کښې لويه غلطي وکړه . همدارنګه يې د ډيورنډ کرښه ومنله ، خو ځينې کارونه دلو يو افغانانو و .
کله ،چې امان الله خان ۱۳۰۷ لمريز کښې اروپا ته لاړ دده ډېر عزت وشو په پاريس کښې يې ده ته د ناپليون کټ کېښود امان الله خان وويل ، زه د ناپليون په کټ کښې ځکه نه څملم ،چې د شاه زمان په زمانه کښې و .
زه د هغه د اولاد په صف او دا ،چې ناپليون د هغه هم عصره و ، دا بې احترامي بولم ، يوه ورځ امان الله خان د دارلامان نيمکاره قصر ته ختلی و ، د لرګيو يوې يوې موقتي زينې باندې په مشکل راښکته شو ، ستومانه و يو نشه يي چرسي ورته ودرېد او د مور

ښکنځل یې ورته وکړې امان الله وویل : ده ته د ورځې پنځه افغانۍ ورکړئ .چې ښه خواړه وکړي او اعصاب یې آرامه شي .
د امان الله خان دا ډول نو رکارونه د یو افغانانو و ، بیا هم د حمزه خبره څه پښتانه شملې پاتې .چې دغه پاتې شملې ټیټې نه شي او نورې شملې جګې شي ، پښتونولي یوه لار دسر لوړۍ ده او دغه لاره روښانه ده که په خپلو کښې جوړ و بل څه نشي کولای او د سیاست پنجو ته نه ورځو .
دې ته وګورو .چې روسان څنګه راغلل ؟ لومړۍ افغانان کمونستان شول او له خپلې لمنې لګېدل ، امریکایان څنګه راغلل ؟ خپلو افغانانو لمړۍ د امریکې د مریتوب کړۍ په غاړه کړل . انګریزان هم داسې ، انګریزانو سردارانو لاس په نامه ولاړ و ، سرداران د ایران دربار ته لاړل ،چې خراسان له لاسه ووت . کمونستي پلویان روس د لویدیځ غلامان امرکې ته .

# ابدالي او غلځي پښتانه

دا عجبه ده .چې امریکې دا نسخه په کار کړه خړیت پادشاه یې راوست ، ابدالي قومونه وریسې شول ،چې هغه غلځي د لویدیځ مریي و ، تاجک ، ازبک ، هزاره دا و د امریکې پیش قراولان د افغان مسلمان د وژلو دپاره ونه شرمېدل ودرېدل خړیت پادشاه او حامد کرزی د امریکایانو په حلقه او خارنې کښې ارګ دی لکه میرک کارمل ته ،چې روسان ولاړ و ... ملي تاریخ دوی په غلیمانو کښې شمېره د دوی سیاست یې هم کاوه وږی و خېټې یې ډکې کړي .
غلځي په ایران کښې په سخت مهال د ابدالو مرسته تر لاسه نه کړه مات شول تاریخ وایې پښتون مات شو نه وایي غلځي یا ابدالي .
دا ربښتیا .چې ابدالي د احمد شاه بابا په مبارک مهال درانې وبلل شول ، مګر ابدالي د احمد شاه بابا کورنۍ وشړله په هند کښې زمونږ سدوزي شهزاده ګان هدیرو کښې پراته دي . اعلحضرت شاه زمان په سر هند کښې ښخ دی .
په کال ۱۳۸۰ لمریز کښې زما یو خپل او ملګری ،چې بارکزی راته وویل : زه .چې روم ته لاړم ستا نوم به حضور ته ورکړم ما وویل : دې خبرې ته جوړ نه یم او په ترخ کښې مې دا هم وویل : .چې پېښور کښې د میروېس نیکه غونډه ده ،چې په دې غونډه کښې د

ميرويس نيکه د لومړي وينا متن اورول کېږي . دده د مبارکې وينا په مهال به ټول په دوو پښو درېږي .

دغه خپل او ملګري راته وويل : " زمونږ او ستا لارې بېلې دي " دغه جمله لکه چاړه په ما ولګېده . کله ،چې سلطان محمود زابلی و مړ ابو نصر مشکان سلطان مسعود ته وويل : چا ته دومره اجازه مه ورکوئ ،چې ووايي : " چې ماضي سلطان محمود غزنوي که داسې کړي وای ښه به و " د هېواد د مشرانو حرمت داسې ساتل کېږي .

# اعليحضرت آزاد شاه او شهزاده احمد آزاد

دغه بحث څومره ،چې اوږدېږي د هغه عمومي ماهيت سياست او پښتونولي ده ،چې د ملي تاريخ په څېړنې کښې غوره وينا ده ، د آزاد شاه په برخه کښې څو ځله خبرې شوې او دا پېر به څه لږ توپير ولري ، او د شهزاده احمد خان ،چې د آزادشاه زوی دی او دوی سرچينې هغه يادوي لږ معلومات راوړو او دابه هم ښه وي .

د آزاد شاه حکومت په آذربايجان کښې وړه خبره نه ده غزني او اسماعيل په آذربايجان ، روسيه او شيران حکومت کول به پښتونولي وه هغه له کوم لښکر سره له افغانستان نه هلته تللی دی يوازې او څه قوم ورسره و، سرخاني خان ،چې داغستان کښې پادشاه و هغه هم يوازې و د دواړو په باب تاريخ غږېږي .او د هغه منابع به وښيم :

شهزاده احمد خان سليمانخېل د اعلحضرت آزاد خان غلځي افغان سليمانخېل زوی دی ، آزاد خان ډېرو ځايو کښې افغان ياد شوی بيا غلځی او سليمانخېل . کوم مطالب ،چې د ژان ګور فرانسوي له کتابه ،چې خواجه تاجدار نومېږي ۵۱۲مخ تر ۵۱۴ اخستل کېږي ، په دې درې کتنې ضروري دي ، لومړی دا ،چې خپله ژان ګور فرانسوي څومره حقايق تر لاسه کړي ، دوه هم دا ،چې په کوم احساس؟ دومره پوهېدای شو افغان شهزاده دده د مطلب ټکی نه دی ، درېيم دا ،چې ژباړونکی ذبيح الله منصور په ترجمه کښې څومره امانت په سترګو کښې ساتلی دی ؟

د آمو ويل ،چې اعلحضرت آزاد شاه او کريم خان زند په خپلو کښې جوړ شول ،چې هغه موضوع به بيا وروسته ووايو . نو درېيم سړی محمد خان قاجار ،چې په دې مهال قم او تهران نيولی دی .

کریم خان زند احمد خان د آزاد شاه زوی او تقي خان زند د محمد خان قاجار مقابلې نه وتاکل په دې نه پوهېږم ،چې دا مهال خپله آزاد شاه چېرته او څنګه دی ؟

خو څرګنده ده ،چې شهزاده احمد خان یو زړور او مدبر سپه سالار دی . تبصره : که تاسو سره سوال وي ،چې خدایه دومره ملي خلك ولې پټ پاتې دي لکه خان ګل خان تره خېل ددې دا ده ،چې د غلځي ابدالي خبره ده وروسته له هغه دغه اوسنی توفان ۱۳۸۴ لمریز په یو ځېر ولاړ پوه زلمي پښتانه ددغه رنځ علاج او درملنه وکړي . ټول پښتون یو پښتون . پیوستون .

په دې جګړه سپه سالار احمد خان پښتون شهزاده د اعلحضرت آزاد شاه افغان زوی قوماندان دی او تقي خان زند دده مرستیال و .

جعفر خان ، احمد خان ته وویل ،چې وکیل الله یار کریم خان زند دا غلطي کړې ده ،چې اقا محمد خان قاجار ونیو او هغه یې مړ نه کړو . هغه به مونږ ووژني . جعفر خان زیاته کړه ،چې نجف خان زند ته ویلي وچې اقا محمد قاجار سر ماته راوړي هغه ناپوهي وکړه کله ،چې یې واورېدل اقامحمد قم ته نژدې شوی ده ځان په قم کښې محاصره کړ .

احمد خان افغان وویل : زه به هغه ژوندی پرې نږدم او زه له هغو خلکو نه یم ،چې د خطر په مهال خان محاصرې ته وسپارم . د اعلحضرت شهزاده احمد خان خپل د نومیالي پلار اعلحضرت آزاد شاه خبره بیا وکړه هغه هم دا خبره کړې وه .

اقا محمد قاجار ،چې د قاجاري لړۍ له ده پېل یو ظالم پوه او جنګیالی و ، دی نرښځی وه بیا یې هم ټول ایران ونیو او خپل پیاوړي مخالفان مات کړي او دغه لړۍ د رضا شاه پهلوي تر مهال پاتې شوه .

بېرته راځو داحمد شاه شهزاده خبرې ته : اقا محمد د لرانو ( یو ایراني قوم) نه پوښتنه وکړه ،چې د احمد خان لښکر څومره دی ؟ ټپي لرانو وویل شل زره به وي . اقا محمد قاجار بیا وپوښتل احمد خان څو پوځه لري ؟ لران نه پوهېدل بیا یې د توپونو پوښتنه وکړه احمد خان سره یوازې زنبورك توپونه و او لښکر یې هم د اقا محمد قاجار سر لښکر لس زره برابر و .

اقا محمد قاجار ټوله شپه ویښ و او د جګړې نقشه یې جوړوله . دی ،چې د احمد خان لښکر ډېر نه دی نو خپل لښکر یې یوه لویه نیم دایره کړه کله ،چې دایره سره نژدې شي د

احمد خان لښکر به د دایرې په مېنځ کښې ایسار شي کله ،چې شپه سالار احمدخان په نقشه پوه شو خپل عسکر او ځان یې له دایرې وایست او د قاجار نقشه یې شنډه کړه .
وروسته له دې د احمد خان آزاد پلټنه په تاریخ منتظم ناصري کوو . له بده مرغه همدغه محدود ماخذ دی . بیا هم ښه دی ،چې دوه سوه درې اویا کاله وروسته د خپل یوه شهزاده سر لښکر نوم اورولو .
د تاریخ منتظم ناصري په درېیم ټوك مخ ۱۳۹۵-۱۳۹۶ کښې د احمد خان خبره راغلې ده . ژان گور فرانسوي او اعتمادالدوله ،چې د ناصرالدین شاه د اطلاعاتو وزیر و . همدغه یوه پېښه دوه ډوله وایي . ژان گور وایي : اقا محمد قاجار وروسته له جگړې پوه شو د سردار احمد خان آزاد لښکر پنځه لس زره و او د محاصرې له کړۍ یې ځان وایست

تاریخ منتظم ناصري وایي ،چې کلکه ماته وخوړه دا ژان گور وایي ،چې سردار احمد خان آزاد جعفر ته ویلي زه محاصرې ته ځان سپارم او همدا یې وکړل . تاریخ منتظم لیکلي د سردار احمد خان آزاد لښکر لس زره و او د قاجار عسکر دېرش زره و . دغه جگړه ناصر آباد د کاشان ته نژدې شوې وه . دا د جنگي سردار مهارت و ،چې د دښمن دېرش زره لښکر یې ناکام او پرېشان کړ . دا افغان او زند په اړیکو به بیا خبرې وکړو .
تاریخ منتظم دغه تاریخ هجري ۱۱۹۹ او میلادي ۱۷۸۴ ښیي
په دې مهال افغانستان کښې امپراتور تېمورشاه و . د مېړنې پښتنو تر مېنځ د ناپوهي لړوالی و د کسپیین له غاړو د گنگا تر غاړو د پښتون بابا زامن و ،خو دوی برخې وې ، که څه هم د آزاد شاه او احمد شاه بابا تر مېنځ خبرې کېدلې ، مگر وخت د چا دپاره نه گرځي نه درېږي ، د خدای پار دی پښتون ددې خبرې علاج وکړي

که وصال مې د یار بیا وموند هله سیال یم
که نه یم زه رحمان د هېڅ چا سیال

د رحمان لمن نه پرېږدم څو خبرې نورې هم اوروم تاسې یې هم واورئ

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو
د فلك لاسونه سره شو تر څنگلو
هومره غم د بېلتانه راباندې راغی
چې حساب یې نه په خوله شي نه په کښلو

هــــسې بــند شه په کمند د تورو زلفو
چــــې حــيران يم د رحمان په خلاصولو

که تاريخ نه څوك پند وانه خلي بيا هغه څوك نه دي پتې سترګې راشي لاړ شي .

## بابا او توحيد

د صفويانو امپراتوري په ۱۷۲۲م افغانانو ونړوله . ايرانيان کلونه په دې فکر کښې و،چې د صفويانو بيا ژوندى کړي ، ايران هم لکه افغانستان د ډيرې سيمې له لاسه ورکړي.

يو مهال ايران دوه سوه پنځوس عسکرى د افغانستان سرحد ته راوستل شريف فايض د آريانا تلويزيون کښې ،چې واشنګتن کښې خپريده وويل : چې ايران حق لري افغانستان باندې حمله وکړى کله ،چې د امريکې تر پوځي عملياتو لاندې په کابل کښې حکومت جوړشو همدغه شريف فايض دلوړ تحصيلاتو وزير وټاکل شو داسې يې نور هم حساب کړي ايرانيانو مشر وټاکه ،چې صفوي امپراتوري اعلحضرت شاه محمود هوتك نړولي و . خو ملا محمد عمر په نرم غږ وويل : "مونږ همدا اوس ټولې نړى او ملګرو ملتو ته وايو ،چې ايران دې خپل دوه نيم لکه سپاهيان بيرته بوزي هغه نه خوشي کو نړى او ملګرو ملتونه دې بيا مونږ ته نه وايي ،چې دغه ځايونه خوشي کړي اوس دې ايران ته ووايي ،چې پوځ دې وباسي لښکريه شالاړ.

## لاسونه سره وره نه غلل

په ۱۷۴۹م کښې احمدشاه بابا د خراسان ولايت ته لاړ او هغه لوى ولايت ،چې له اوسني خراسان نه لوى و مخکې تر دې ،چې اصلي مطالبو ته لاړ شم دغه ټکى په ګوته کول ضروري بولم : "ميرمحمدصديق فرهنګ په خپل کتاب کښې افغانستان درپنځ قرن اخر کښې هر ځاى ،چې د خراسان ليکي لويديځ خراسان وايي له دې مطلب دادى ،چې افغانستان ختيځ باشرقي خراسان دى "

او دغې خبرې لپاره کوم سند نشته او دا خلك تراوسه دا خبره کوي.

دلته بيا د هغه ټپ يادونه کوم ،چې علاج يې د پښتانه په لاسه کيداى لاندې کرښو کښې د هغې د يوې برخې بيان وکړم ،چې تاريخ راغلى دى تاسې يې په خبره ولولئ :

په کال ۱۷۷۹ م احمدشاه بابا خراسان ته لاړ له دې وروسته دڅان ګور خبرې را واخلم ، چې بیا به خپلې موضوع ته راشم تاسې به وروسته پخپل ملي تاریخ کښې خپله کمزوري وګورئ.

احمدشاه بابا ، چې مشهد کښې کارونه سم کړل خپل یو سپه سالار یې ، چې شاه پسند خان نومېده د مازندارن په لوري ولېږه ، چې هغه سیمې ونیسي او د افغانستان سرحد د کسپین له سمندرګي سره ونښلي.

شاه پسند خان په مازندران کښې کلکه ماته وخوړه ، چې په زرهاو افغانان و وژل شول په همدغه مهال آزاد شاه په آزاد بایجان اور و میی شل زره سپاهیان درلودل ، چې ډېر سره نژدې و ددوی لاسونه سره وره نه غلل ؛ ځکه یوه خوا ابدالی و او بله خوا غلځي د واړه پښتانه و.

دادی اوس ۲۰۰۵م کال دی دا خبره شته او هره ورځ د امریکې په مرسته غلځیان د طالب او القاعده په نامه وژل کېږي کورونه کتل کېږي .غوتې په کورونو پلټل کېږي پښتون ځنګه پښتون ، چې دا کوي د اوینې دا اوري بیا هم بې تدبیره ګرځي خوشحال هم دي . دا سیاست د پښتونه ده سیاست د امریکې لپاره او دا خلك ډالر اخلي او خپل ورونه وژني.

که چېرې ددوی لاسونه سره ورغلي وای دواړه خواوې په زورکې و . له تاریخ نه سبق نه اخلو او دا به کوو او همداسې به پاتې وي تر دې ، چې دا خبره مو هم پته ساتلې ده

یو داسې پښتانه ، چې یوازې پښتانه وي پښتو او پښتونولی وساکي لومړی پلا ۱۷۲۹م .چې اعلحضرت شاه اشرف وروسته لومړی یې د هرارت ابدالیان له پښتو وغورځول بیایې دقندهار غلځیان دا خبره بیا پېښه شوه اقا محمد قاجار کریم خان زند او آزاد خان دواړه ووهل بیا د خراسان ولایت له ابدالیانو ونیو.

بیا په ۲۰۰۱ م‌یلادي امریکا تاجك ازبك هزاره او ابدالیان یو ځای او طالبانو سره یې وجنګول زمونږ خبرې په همدې برخه کښې بیابیا ویل کېږي.

# کریم خان زند او آزاد خان څه وکړل؟

دواړه میړنی و یوله بله یې په میړانه پېژندل کریم خان زند هم پادشاه و آزاد شاه هم کله ،چې دوی جوړه وکړه دواړه د پادشاه نوم له ځانه ایسته کړ آزاد شاه بېرته آزاد خان او کریم خان زند وکیل الرعیا نومونه د ځان کړل ددې لپاره ،چې ایران په کرارشي او د عمومي ګټو لپاره یې په ضبط نفس بریالی و.

پښتونولي په حقیقت کښې میړنتوب دی کریم خان زند یو میړنی آزاد خان دلته یوه نرۍ لاره ده ،چې هغه بنیم : کله ،چې د آزاد شاه او کریم شاه جګړه کریم خان ماته و خوړه او وتښتید د کریم خان زند کورنی د آزاد خان لاس ته ورغله آزاد دهغوی عزت د خپل هځوب او پښتونولی له مخې وکړ . د یوه پښتانه لپاره دا کوم فوق العاده کار نه دی یا هیڅ فوق العاده نه دی عادی دی.کله ،چې کورنی بېرته کریمخان ته ورسیده کریم خان وپوښتېدل تاسو سره د آزاد کړه څنګه و دوی وویل : هغه لکه پلار او عسکري ورونه .

کریم خان زند ،چې پخپله میړنی و خپله خور یې ورکړه ، پښتون په پښتونولی پادشاه دی شهزاده احمدخان آزاد هم د خپل پلار لاره ونیوله.

سیاست او پښتونولی داسې وي ،چې کله غټ تاوان پېښ کړی کله ګټه.

# بیا سرخاني خان الکوزی
# او د اغستان

په تاریخ منتظم ناصری کښې مخ ۹۵۶ دسرخاني خان په برخه کښې یولنډ مطلب راغلی مونږ دغه وړی څپرکی راتولوو ،چې پرېښودل یې نه دی په کار ، له دغه لنډ خبرنه داسې ښکاري ،چې سرخاني خان ۱۶۵۲م ـ ۱۰۶۳ سپوږمیز کښې ( څه دغه کال ماته سم نه ښکاري ) له روسانو سره جګړې کړې وې.

خبربه کټ مټ را واخلم :

په دغه کال کښې طهمروت خان ګرجي ،چې له صفوي دولت څخه خوابدی شوی و له روسانو یې غوښتلی ،چې د فونین سو په سیمه کښې څو کلاوې جوړې کړي ،چې دغه کلاوې به عسکري وي د شیروان سګلر بیکی دغه خبر صفوي دولت ته ورساو ،چې دغه مهال دوهم شاه عباس پادشاه و.

شاه عباس د آذر بایجان امیرانو ، خسروخان د دربند حاکم او دداغستان له حکمران سر خاني خان ، عباس قلي خان "اوسمی" او د زا خوری له خلکو و غوبتل ،چې دغه کلاګانې ونړوی او روسیې عسکرو سره دی جګړه وکړي او دوی داسې وکړل.
دوهم خبر هماغه دی ،چې نادر افشار ته چاماتې نه وه ورکړې خو سرخاني خان دی مات کړ په دې باب یو توپیر دادی ،چې سر خاني د شیرواسن او داغستان مشر و ،چې دغه منصب عثمانی امپراتوری له خواورکړ شوی و بیا سرخاني نادر افشار تسلیم کړی سرخانې وروسته له هغه خپلواك و.
شیروان یو ولایت دی ،چې خلك یې شیرواني دی ،چې د پښتنو یوڅانګه ده لکه جدون او جاروتلی.
د خزریا کسپین شا او خوا ډېر پښتانه دی ،چې د هوتکو په مهال کښې یې له افغانانو سره مرسته کوله نادر افشار له دوی نه ډېر خلك نوروځایوته ولېږل ، دا کار ګوډ تیمور هم کړی و.

که توفیق په اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا خوان

## د القاعدې زېږول

د کال ۱۳۸۰ وږي نولسمه یا د میلادي کال د سپتمبر نهمه او بیا دهمغه کال دتلې د میاشتې اولسمه ،چې د میلادی کال د اکتوبر او مه شپه،چې تلویزیون کښې د کابل ښار چراغونو رڼاکوله او د کابل ښار برېښنا درلوده ، چې ب ۵۲ الوتکو د لوګیو غرونه پاځول له بده مرغه مونږ په امریکا کښې یو څه راباندې تېرېږي څه افغانان خوشحال و ،چې طالبان لاړل په دې نه پو مېدل ،چې دا بمونه خو دچامخ او څټ نه ګوري . دا ستا ښار دی ستا خلك دا ،چې القاعده څوك و له کومه شول په دې کتابونه لیکل شوي له دې ورځې د طالبانو تر ماتېدو هغه مالیکلي تاسویې همدغه کتاب کښې لولئ.
څلور کاله تېر شول ،چې امریکا او د نړۍ ډېره برخه مونږ وژني او د کابل تر اوسه هومره رڼا شوي نه ده لکه ،چې د برید په مهال و ، "پکه دا دې بله سپکه"


په کال ۱۷۳۰م کښې نادرافشار د هند مغلي پادشاه ته وليکل غلځي پښتانه هلته درغلي دي هغه ماته په لاس را کړه .
د هند مغلي پادشاه هيښ شو نو د نادر افشار استازي ته يې وويل ،چې ته څه موده صبر وکړه ،چې زه خبره معلومه کړم د هند پادشاه هيڅ ونه موندل نادر افشار پسې ورغی دپادشاه خزانې يې راوړې ښاروته يې وران کړل خلك يې ووژل د هند پادشاه نادر افشار کمپ ته راغی نادر افشار ته يې وويل ستاسو په مبارك مقصد يوه شوم داد خزانې واخله او ځه .
کوه نور الماس يې هم ورکړ پنځوس ورځې وروسته نادر افشار د کابل له لارې خراسان ته لاړ خزانې ورسره وې او کوم غلځي ورسره نه و .
امريکا او اروپا ،چې د ځمکې پرمخ نور څه نه وينې هغه څه ته راغلي ،چې ځمکې لاندې دي د ۲۰۰۵م د اپريل په مياشت کښې رمزفيلد د امريکې ددفاع وزير د نهم ځل لپاره کابل ته لاړ حامد کرزي د افغانستان ګوډاګی جمهور رييس وويل " امريکا دې دلته پاتې شي"
ببرك کارمل لاهوښيار و هغه ويلي و: " دشوروي اتحاد د عساکرو وينې دلته تويې شوي دي اوس وينه مو شريکه شوه دا هېواد ددواړو دی"
اعلحضرت شاه محمود ،چې پادشاه شو : د شلو کلو ژړنی و ده و فرمايل : " قندهار (چې مطلب افغانستان و ) سبيله ځمکه نه ده خپل ځښتن لري مونږ به يې په هغه لاره چلوو کوم ،چې زمونږ نيکه ګانو چلولې وه " نن هم له پښتنو دغه خبره هېره نه ده .
په امريکې کښې يوه مجله خپرېږي ،چې مدر جوين نومېږي دغې مجلې ۲۰۰۴ د سپتمبر او اکتوبر په ګڼه کښې ليکلي : په سرحد کښې عدالت : پاکستاني عسکر په وزير ستان کښې وايي ،چې القاعده توليد کړي يا په يو شمېر خلکو د القاعده ټاپه ولګوئ ،چې د القاعدې ملګري دي.
د افغانستان او پاکستان سرحدي سيمې ته شل واری کتل شوي هر وارې څه ،چې مړه شوي طالبان و ؟ طالبان نه و پښتانه و او غلځيان .
په ۲۰۰۱م له مزار شريف نه نيولې تر وزيرستان څومره پښتانه وژل شوي؟
په زرهاو کله دا خبره پټيوو د ځښتن تعالی په حضور کښې دروغ دي.

په ملي تاريخ کښې داسې دروغ نه ويل کېږي . دا پښتونولی ده سياست نه دی سياست د شخصي ګټو لپاره دی پښتونولی د يوه اصول ساتل دي.
د بلخ مولانا وايي له ځانه تېر شه ،چې روښان شې رحمان بابا هم دا وايي .

## پښتون شمله او جرګه

داد دېرش زرو کلو ميراث دی ، د ساپيانو په بحث کښې راغلی :

د رقيب علاج آسان دی بلا دا شوه زه رحمان له خپله ياره ناوسيا يم



## په ځېر دا تصوير وګورئ :

غمځپلي پښتانه غواړي سره جرګه شي. چيرته ؟د غره په لمن کښې ،چې د بمونو په مهال خواره شي

په نړۍ کښې تر ټولو بې وزلې دوی دی او ټوله نړۍ يې ټکوي له ټولې نړۍ ماښجن له ابدالي پښتنو ماښجن بيا له تاجکو ، ازبکو ،هزاره .... ورونو په پردي توری خپل افغان او مسلمان ورور وهل پښتو نه ده .

پښتون شمله او جرګه د خدای تعالی رحم او کرم ته پاتې ده ؟

هیڅ مې نه زده نه پوهېږم دا څه پېرشه
چې دلدار مې د اغیار په شکل څېرشه

جان ویلر یوه اصطلاح په کاږوي ډاګ ګرځول یعنې له آباد ځای نه ډاګ جوړول په دې لیکنه کښې ډاګ جوړول د ودانیو نړول نه دي دوګړو ورانول دي ،چې څنګه سړي رنګ کړي. پښتون شمله او جرګه. رنګ شي او داړنګ شوی دی ډېرلږ پاتې دي. زه ،چې لکه پاڼه د خزان پښه په رکاب یم غواړم ،چې پښتانه پښتون شمله او جرګه بېرته روغ کړي.

په انګلستان کښې یو شمېر خلك د ډاګ جوړول لپاره وځورول شول بیا د کتاب له وینا دوه بیړۍ له مالوډګ ورسره کلکتې ته ورسېدل په دې مالو کښې لیږي لید "زره بین" وړوکی لید " زره بین " څو پره چاقوګان ،چې څوکاره ورکوي ، اوږده کوټونه هنداري ،چې ټول ځان په کښې ښکاره شي، ګړۍ درمل په تېره بیا د شهوت د ډېرولو ، د ښځــــو د ســـینګار ســـــامان نــــرم او ښکلـــــی ټــــوکران ....

ډاګ جوړوونکی یوې سیمې ته ورسیدل ویل به یې سوداګر دي لومړی یو شریك ملګری ومومي، بیا د کلي خان ، ملك ، ملا او پهلوان وپیژندني ، بیا به یې د خان او مشر د کمال احوال زده کړ. د خان دوستان او غلیمان ولمسول ،چې خان سره معامله ورانه کړي حتی د خان له کوره یوه ښځه وتښتویه دې اخوډب پېل شي د خان میرځمن یا غلیم ته پیسې ورکړي دې حته یې ورسوي ،چې د خان جایداد واخلي یا نور جایداد. خان ورو ورو عصبي او خواشیني شي ، بله ورځ د خان شمله ویجاړه شي دوستي او د کلي ښې اړیکې پاتې نه شي دوه ګوندي شي داسې حال ته راشي ،چې پښتون شمله او جرګه نه کېږي حتی له کلي خلك ووزي.

غرونو ته لاړشي بله ورځ ډاګ جوړوونکی دروغې او جوړې خبرې کوي او له جوړ شوي ډاګ ووزی یعنې چایې خبره ونه منله مرور شو.

هندوستان نه خلك کډه وکړي ایران ته لاړشي خانې ولاړه مساپر اوبې کوره شي . هڅه کوي ،چې نورې خبري کېږي پیسې وګټي په نوي ځای کښې ودونه وکړي او میشت شي.

په سيمو او کليو کښې نوي خانان راشي ،چې د انګليسانو طبع او طبيعت ساتي ، پادشاهان له کورني نفاق او بيلتون سره مخامخ کړي کورني او بهرني غليمان يې وپاروي.

اعلحضرت شاه زمان په شاه محمود سدوزی بدل وزير فتح خان وزير باتدبيرسي رنجت سنګهه د پنجاب زمری او مهاراجا ، ډاګ جوړول د تومن په خلکو کښې وشي ويسا په ناويسا بدله شي.

د خيبر نه هاخوا په کتاب کښې راغلي ،چې يوه ډاګ جوړوونکي د کابل په چوك کښې يو کور په کرايه ونيو ،چې تياره کوټه کښې به ناست و او د پردې تر شايې خپلو اخلاصمندانو ته خبرې کولې او د بل کچکول په غاړه بازار کښې ګرځېده ده خبرونو او حالاتو څرنګوالي د تيارې ګوټې ملنګ ته رسول او جنګونه په خلکو کښې روان يو د بل وينې يې تويولې.

اصلي ملنګ ، درويش ، قلندر صوفي او مجذوب ښه خلك و وروسته يې پېژندل ګران شوه د افغانستان په دغو خبرو پوهول ضروري وروستيو کلو يو ځل د بېلو هېوادو خلکو همدا کول ،ځوانانو ته يې په خپلو کوروکې شرابونه ورکول هر سړی له لويې خبرې کولې همدغه ثمرقند او بخارا ته لاړل او هلته يې ډاګونه جوړول په ايران کښې داسې و لومړی به دې خلکو سياسي حالات د انګليس له سياست سره برابر کړل بيا به اصلي نماينده ګان پادشاه ته ورغلل الکزاندر برنس دغه دوه بشپړه وهلې وه ،چې دهغه د سفر ليکه به تاسې په دغه کتاب کښې وګورئ.

که څه هم ډاګ جوړول د انسانانو د ا اصطلاح دلته راغله دا به دومره رسا اصطلاح نه وي ددغه مطلب لپاره ځکه :

ډاګ ډاګی ډاګخانه د امپراتور شېرشاه سوري په زمانه ډاګ ، د پوستي لپاره ډاګې د پوسته ،چې لپاره او ډاګخانه د پوسته خانې لپاره راغلې ده او پوسته په شپاړسمې پېړۍ کښې د شيرشاه سوري کار ابتکار و ،چې دغه وخت اروپائيانو نه درلوده او د ډاګ کلمه له دېښتې اخستل شوې رحمان بابا وايي.

په سر پوښ محل کښې نور د آفتاب نشته
دا دولت دی نازل شوی په ډاکيانو

ما د ډاک په تاریخ کښې ولیدل دا چې ډاک پوسته د شیرشاه سوري د مهال و دانه و راغلی داو ،چې لومړی ځل په اروپا کښې اوه لسمه پېړۍ کښې ځرګند شو.

## د ډاګ جوړولو بله پوله

کله ،چې د ټولنې او وګړي معنوي عزت ختم شو بیا بنیادي ټکي ته راتلل ،چې د صنایعو خاوندانو او کسبګرنه ډاګ جوړ کړي بیانو پښ ، چمیار ، جولا ،ترکاڼ وار راورسید دوی پسې ملنډې ووهلې ،چې هغو کسبونه پرېږ دي یا د ځمکې خاوندان شي ، غله شي له لومړي سره یې هم اروپایي کالي راوړل او خپلو کسانو ته یې ورکول ، خپله ختمایي پرېښوده ، دغور دپادشاهانو آهنګران ختمېدل ، احمدشاه بابا پخپله له کسبګرو سره کار کاوه ،چې د صنایعو خاوندانوته په درنه سترګه کتل کېدل ، محمدزایي بادشاهانو دکسبګر بیخ وایسته د محمدظاهرشاه په مهال اتیا په سلو کښې داخلي تولید له مینځه ولاړ کله ،چې ظاهرشاه د ملت بابا شو سل په سلو له کورنی صنایعو خلاص شولو لوځ لغړ وږي تږي وو د امریکې پیسې راغلې هر څه په ډالرو شول.

افغانستان په خوارۍ اوتش لاسی په نړۍ کښې دوهم راغلی سوالګر او درویزګر شو اوس به هېواد کرایه شي پیپ لینو او نظامي اډو کرایه خوري څوک ،چې خپلواك دین او ناموس غواړي دوی ټول وژل کېږي.

په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور و اور وېښور درې واړه یو دي
غزا و شوه که خان ستایې و رحمان ته
بې هنر وګاو وخر درې واړه یو دي
ستا د زلفو په رخسار پسې رحمان شو بې وطنه
مسافر د هندوستان او خرآسان شو زما روح

## هغه شهزا ګان ،چې نوم يې چانه اخيست :

شهزاده د پادشاه ځوى ته وابه شي پاچايان ډېر دي بيا هغه پاچا هنريې مهم دى ،چې پلرونه يې چانه دي پېژندلي ، او دوى معظم والاحضرات و . د شهزاده احمدخان په برخه کښې ځو خبرې کړي دي دا پلا يو بل پاچا هزي چې محمد نومېږي دى د اعلحضرت سرخاني خان زوى محمد شاه حسين هوتك زوى د ى، يو احمد او دوه محمد شهزاد ګان دي ددغو دريواړو شهزاده ګانو د جګړې ذکر ملي تاريخ کښې راغلى.

## د محمد پا چاهزي بې ډوله زولنې :

په ۱۷۳۳ھ د قندهار کلا چې ډېره مضبوطه وه په نهو مياشتو جګړو نادر افشار ،چې پخپله هلته و او قومانده يې په لاس کښې وه ونه شو نيولى او بې ساري مقاومت و . وروسته د قندهار له ماتې حربي اتل سپه سالار سېدال خان له والاحضرت شهزاده محمد سره د قلات کلا ته لاړل درې مياشتې هلته جګړې وې .

پانياب کښې سېدال خان او شهزاده محمد نادر ته په لاس ورغلل ، د نادر سترګې يې رندې کړې او شهزاده يې بندي کړ د بې بې زينبې ناره :

لېونى له ډېره ګرومه پښتنې وې

محمد خان نادر نيولې

په پښو کښې يې بې ډوله زولنې وې

شهزاده د پادشاه سرخاني خان زوى هم سپه سالار دغه شهزاده ګان ټول جنګيالي و ، چې دده نوم په درنادره کښې راغلي ځومره ،چې دغه لنډ دى بيا هم دا ښيې ،چې شهزاده زړه ور ، پوه او مدبر سړى و .

درنادره د نادر شاه افشار منشي ميرزا محمد مهدي استر آبادي ليکلى دى ، څنګه ،چې ده سره ښايي د خپل ولي نعمت نادرشاه افشار په خوښه ليکلى ،چې له مقاومت نه څه نه وايي ، او دفتح او برې خبرې کوي ، دغه لنډ معلومات به لومړى وليکم بيا به يې تحليل کړو .

# پادشاه محمود افغان او لرغونی هوتك

" هغوی سره پانگه او وسله شته ،خو د خدای رحمت ورسره نشته" ( دا جمله د اعلحضرت شاه محمود هوتك ده ، د قندهار په دوه همه جرگه کښې يې ويلي او تاريخ ثبت کړې ده ) . افغانستان د درېوو مدنيتو ټاټوبی دی ، سور ،ساك او پاکت ، درې طبيعي سيندونه دي آباسين ، هلمند او آمو ،چې دغه رودونه او مدنيتونه د نړۍ له پيدايښت سره زمونږ په گران افغانستان کښې دي دغه مدنيتونه دي ،چې اروپا او نوره نړۍ يې مدني کړه او دې په دوست او غليم سترگې نه شي پټولای.

نو مونږ له دغه د خدای راکړې استعدار سره ظلم او باطل تېری او ناروا ته غلي کښېنو ؟ يا خپل غږ پورته کړو ؟

ميروېس نيکه د پنځو پېړيو سکوت مات کړ . احمد شاه بابا لوی افغانستان بيا ودان کړ . اوس يې بچي لاره ورك کوي ؟ دا دی مونږ دغه لاره روښانوو او تاسو خبروو

## تارېخي دورې:

په افغانستان کښې درې تاريخي دورې تېرې شوي دي: لومړی سور ، ساك ، پاکت پخوا تر ميلاده د مسيح ، دوه هم وروسته له ميلاده کوچانيان ، يفتليان او ساك ،درېيم اسلامي دوره بيا هغه پنځه دورې دي : صفاري ، غزنوي ، غوري ، هوتك او ابدالي ، ابدالي دوره دوې برخې لري : مخکې د اروپايانو له راتگه ۱۷۴۷ تر ۱۸۰۰ دا دی ،چې مونږ د يوه اسلامي ملي سياست او ژوند دپاره دغه ليکنه پرېښوده ،چې د افغان مقدس دين اسلام ، هڅوب ( ثقافت) خپل اقتصاد ، خپل تاريخي ، خپل واك ولرو په وروسته پاڼو کښې به يې تفصيل راشي . ددې خبرې يادونه ضروري بولو.

ابراز کرده گفت : " هميشه در پيش نظرها نهاده مضمون آن از بر کنيد و فرصت غنميت دانسته ظلم و جور روافض را ياد آوريد و افعال شعيه و تعدياتی که به آنها کرده اند تعداد نماييد وغيرت اسلام در خاطر افگنيد ."

پس ميرويس بنای فساد نهاده جمعی از افاغنه رابر انگيخت تابه گرگين خان شکايت کرده اند که جماعت بلوچ آمده مال و مواشي ماراغارت کردند .

گرگين خان در صددتنبيه بر آمدبا گرجيان سوار شد و ميرويس در خفيه بلوچ را خبر کرد که آمده با گرگين خان و گرجيان آماده کار زار باشند ، چون گرگين خان بيرون رفت

افغـان دوشق ش ده استـاد بودنـد (گـرگين) غافـل در ميـدان استاده افغـان سواره مانـنـد سيل باو آمدند چون استادند بحر ذخار ( انتقام) افاغنه به جوش آمد مانند گرگين خان فرعون آسا در ميان غرقه طوفان بلا شد يكنفر از گرجيان بيرون نرفت كه خبر به قندهار رساند .

چون مقصود شان حاصل شد ميرويس ايشان را جمع آورده ، مصلحت كرد و پند داد و موعظه نمود كه در ملت خود ثابت قدم باشند ، و افاغنه او را دعا كردند ."

وړاندې كرښو نه ښكاري ،چې ميروېس نيكه له څه تدبير څخه كار اخلي ؟ دلته غواړو دا خبره هم وكړو ،چې زمونږ لويو ليكوالو او تاريخپوهانو دغه لويه په ناسمه خبره كړې ده ،چې ګرگين د نيكه لور وغوښتله او هغه د لور پر ځاى خپله يوه نوكره وركړه ،چې دا مې لور ده .

( حضرت ميروېس نيكه وفرمايل)( بسم الله الرحمن الرحيم مونږ افغانان ،چې دا وينا لولو بويه په همدغه مقدسه كلمه " بسم الله الرحمن الرحيم " پيل شي )

" اكنون معلوم شما باشد كه فرمان اعتماد الدوله درباب گرگين خان اصل نداشت و ساخته بود و اين كارى كه شد و از غيرت دين ناشي گرديد ، من مضطر و مجبور شدم كه اين كار راكردم . مضى ما مضى ـ حالا بايد يكدل و يک جهت باشيم و جان و مال و عرض خود را در راه دين محمدى(صلى الله عليه وسلم) بگذاريم چون به پادشاه عجم عصيان ظاهر كرديم و ياغي شديم لامحال در قيد اخذ انتقام برمى آيد و تدارک لشكر مى كند و اگر العياذ بالله بر ما غالب گردد همه ما را از شمشير مى گذراند ، اهل و عيال ما را اسير مى كند ، " **كم من فئة قليله غلبت فئة كثيرة باذن الله** "

(تعهد مى كنم ) كه بادشاه روگردان نمى شوم و سردار گرگين خان دست تعدى بر مال ور جال و عيال ما دراز كرده و صحابه پيغمبر را روبروى ما دشنام داد ، اين فتاوى علما حجاز است كه براى شما گرفته آورده ام ، پيش ازين فتاوى علماى ماورالنهر را گرفته در دست دارم ." الله اكبر الله اكبر .

اوس كه دغه فارسي متن ،چې يوه ايراني وزير (۱۷۴۸-۱۸۶۰ م ) ليكلې دى ، په پښتو واړول شي ، يو سند دى ،چې ددغه سړي يعنى اعتماد السلطنه ،چې د ايران رسمي اسناد يي په واك كښې و . څكه دى د اطلاعاتو او خپرونو وزير و ، تر اوسه بل داسې سند نه دى ليدل شوى ،كه څه هم د حالاتو له مخې د ميروېس نيكه خبرې ليكل شوى مگر دغه متن سم ښكاري .

# لوړ درشل شاه محمود افغان

دا منلې شوې خبره ده ،چې هر چا باندې خپل قوم ګران خپل ملت ورته وړاندې دی ، په دې برخه کښې د هغوی عيني شاهدانو له خولې د لوړ درشل شاه محمود څېره ښيو ،چې هغوی بهرني و او په ښه نيت يې نه ورته کتل او بلې خوا د دوسه اتيا کالو مخکې خبرې دي ، په دغه ليکنې کښې ځينې خبرې د بل چا لـه خولې کېږي ، د اوازې په توګه دی ،چې هغه سند نه شي کېدای . مګر که وواييي ده په خپله ليدلې هغه ډېر اهميت لري .

کله ،چې د کرمان ښار افغانانو ونيو د هالنډي شرکت دوه نماينده ګان کرمان تـه ورسېدل ،چې خاجاتور او آوانس نومېدل . د فبروري شلمه ۱۷۲۰ ، دغه دوه تنه هالنډيان دوه وارې له ښار نه د باندې ووتل او له کليو يې وړې واخستې دوی وايي :

" هغه خلك ،چې له ښاره تېښتېدلي و ورو ورو بېرته راغلل او ژوند په عادي توګه و ، لږ وروسته تاجران هم راغلل د ژوند ضروري شيان په بازار کښې ډېر و او ارزانه لاسته راتلل " دا د يوې اونۍ کار و .

په کرمان " يزد او دلار" کښې ،چې حالات ښه شول شاه محمود افغان د ايران ټولو خلکو ته ليکونه واستول او دوی ته يې ډاډ ورکړ ،چې تاسو ته کوم تاوان نه رسېږي ، ظلم فساد به ورك شي ، په ايران کښې ، زردشتيان ، کردان ، عرب او لکزيان په لومړۍ درجه خوښ و ، پاتې ايرانيان هم خوشحال و ،چې شر و شراب دواړه له مينځه واېستل شول يو اسلامي سوله يز ژوند راغلی دی .

مګر په ايران کښې روسانو دترکانو وېش پېل کړی و . انګليسان ، هالنډيان ، فرانسويانو ټولو دفترونه وسله او توپونه درلودل او خلکو ته يې پيسې ورکولې ،چې افغانانو سره مرسته ونه کړي او دوی ته دې د حالاتو راپور ورکړي .

پښتانه له جرمني نه تر بالکان پورې خواره و ، د دوی ژبه اندو اروپايي بلل کېده ، دا خبره له هغو قبرونو څرګندېږي ،چې هلته موندل شوي او سالم پاتې دي ، دوی جنګيالي غرني خلك و او ډېر مهارتونه يې درلودل ،چې دغه شيان لکه ګاڼه په قبرو کښې خوندي پاتې وه . ساکان شتمن خلك و . د آسانو په ځغلولو کښې ګړندي و جنوبي روسيه هم د دوی وه ، چلم يې په ګډه څکول ...

جرمني ، ډنمارك او سکاند نوي هېوادونه ښايي . هم د دوی له نوم اخستل شوی وي . دا ،چې بېلې منابع په ارمنستان کښې د پښتنو يادونه کوي هېرودت هم ،چې ارمنيا شي

؛نو دا بـه پـه زړه پـورې وي ،چې پاکت او پاکتیا هلتـه دې آر ، سپین او مینـه خـای دی ارمنیانو په کابل کښې یوه سیمه درلوده ،چې بالاحصار ته نژدې او د دوی مشر سلیمان نومېده ،چې له امیر دوست محمد خان سره یې اړیکې درلودې .
راځو همدغه مهال ،چې ۱۸۵۸ په ایران کښې ناصرالدین شاه قاجار پادشاه دی ، دده د اطلاعاتو وزیر په خپل تاریخ منتظم ناصري څه لیکي ؟ دا یـوه نمونـه ده سم او ناسم سر ګډ شوي ،چې په علمي اسنادو سپینول غواړي .

## کیفیت احوال افاغنه و ظهور دولت ایشان

نقـل کـرده انـد کـه طوایـف افغـان در سـواحل بحـر خـزر " کسـپین" در حـوالی شـیروان و داغسـتان مسـکن داشـتند یـا خـود در بـاب الابـواب خـارج داغسـتان در صحـرای بـیلاق و خشلاق طایفه مجهول الاصل بوده معلوم مطلقه نبوده است در زمـان اقـوام بحـر خـزر رهـا شدند بهر تقدیر کار ایشـان در آن حـدود نهـب و غـارت بـوده اسـت. در زمـان امیـر تیمـور گورگـان اهـالی آذربایجـان از ایشـان تشـکی نمودنـد آن پادشـاه ذیجـاه آن طایفـه از آنجـا کوچانید بین هند و قندهار ساکن و متمکن گردانید .
سیاح نوشته است که در بعضی از کتب تواریخ دیده ام آنهـا را اغـوانی الیـانی مـی گفتـه اند . و از ارمنی بوده اند ، وحالاناحیه قره باغ متصل به شیروان جماعت ارمنـی هسـتند که آنهار مناثری قندسار می گویند و در طریقه ایشان سرکرده و رئیس را اغـوان گوینـد و بـه زبـان ارمنـی بـاش نـوع اغـوان را گوینـد . در ولایـت گخـه ، ایـران و نـواحی نخجـوان و حدود گیلان مسکن دارند ، سقنان ایشان را به این نام می خوانند و طایفه ارامنـه کـه در صیال متمکن اند به این نام ( اغوان) می خواند و به ایـن نـام افتخـار کـرده ادعـای افغـان بودند چون از وطن اصلي دور و مهجور ماندند رفتـه رفتـه بـا اهـالی قنـدهار ، مخلـوط شد نه الفت و موانست پیدا کردند همگی مسلمان شدند یعنی سنی شـدند و در طبـع ایشان غارت و تاراج غلبه دارد و چون محلشای سر حد است همـه ایشـان جنـگ آورشـده اند .
له دغسې یوې لیکنې د حقایق را اېستل څه پراخه مطالعه غـواړي . سـر تـر پایـه ناسـم نـه دي ، نـه یـوازې ،چې ټول ناسـم نـه دي لـه همـدغې لیکنـې سـم پوهېـدل کېـږي ،چې د کسپین په غاړو افغانان پراته و ،چې ټول تاریخونه یې تاییدوي .

پښتون افغان ، پټان یوه خبره ،چې افغانستان رسمي نوم دی ، نو افغانولي د زړورتیا ، سخاوت ایمان داری ننبه ده ، افغانان ، افغانیت ، انسانیت بولي او وايي ، آخر مونږ افغانان یو . دپښتونولي افغانانو څه توپیر نشته او دا ،چې افغانان له پښتون بېل وي ، دا د غلیمانو خبره ده .

## د لوړ درشل شاه محمود افغان سیاسي او تبلیغاتي فعالیتونه

شاه محمود افغان ،چې شل کلن و د بشپړ سواد او معلوماتو خاوند و. تر اوسه په دې نه پوهېدل ،چې ده په خپلو فعالیتو سره د ایران خلك قانع کړی و.

هره ورځ یو لړ مطالب او احکام خپرېدل ،چې عام خلك یې خبرول . د هالنډي شرکت نماینده لیکي ،چې څو ایرانیان له افغان سپاهیانو سره مخامخ شول ، هغوی وویل : شاه محمود امر کړی چاسره وسله نه وي هغوی په امن کښې دي دغه خبره بزګرانو ته رسېدلې وه او تول خلك ډاډه و ، په حقیقت کښې جګړې هومره نه وې شوې . لوړ درشل محمود د اصفهان په لوري روان لویه دښته او ډېره لاره ووهله ایراني چارواکو فکر نه کاوه ،چې محمود به دومره ژر اصفهان ته ورسېږي وروسته څرګنده شوه هغه عسکر ،چې افغانانو سره جګړه نه کوي د دوی تر مخې کومه مانع نشته .

همدغه خبره ددې معنی ده ،چې خلك د یوه مثبت بدلون په انتظار کښې دي ، محمود لوټمار نه پرېښوده خپل سپاهیان یې د تقوی لښکر باله ،چې د خلکو سرومال او ناموس خوندي پاتې وروستی لیکوالو دغه خبرې کولې مګر پخواني لیکوال ،چې هغه زمانې ته نژدې و دا خبرې نه دي کړې .

درې سوه افغانان په پوه باغ ایسار شوی پر هغو چا بریدونه کړي او هغوی ووتل . د هالنډي شرکت تمامېده وايي ښایي مقاومت ونه شي افغانان مهم خلك دي او دغه کار د لوړ درشل شاه محمود کاري سیاست او د تبلیغاتو منظم موسسه ښیي لوړ درشل شاه محمود مخکې تر دې ،چې د اصفهان په لور وخوځېږي دده په اخلاقي رویي خلك خبر و .

## لوړ درشل شاه محمود:

د ۱۷۲۲ د اکتوبر په ۱۳ د صفوي امپراتورۍ لښکر ،چې ډېر مجهز و په ګلناباد کښې یې ډېره کلکه ماته وخوړه .

د ایران اعتماد الدوله له افغان جنرال امان الله سلطان سره خبرو ته کښېناست . د اکتوبر په ۲۱ شاه سلطان حسین د شپې یوولس بجې له څلورو پښتو دولتي ارکانو سره واړه درشل حضور ته په فرح آباد کښې ورسېدل .

لوړ درشل شاه محمود هوتك څو ګامه د صفوي پادشاه مخې ته ولاړ او هغه ته یې دکاکا خطاب وکړ او خپل میلمه یې څنګ ته کښېناو .

شاه سلطان حسین صفوي خپل تاج د لوړ درشل پر سر کېښوده او ویې ویل : دا تاج د څښتن تعالی دا دی له مایي واخسته تا ته یې درکړ لوړ د شل شاه محمود تاج له سره واخست تر مخې یې کېښود .

او دا د سپین ږیرې معزول پادشاه د مراعت دپاره و .

لوړ د شل شاه محمود چې په داسې حال کښې ،چې د ایران تاج یې پر سر و ، له پنځه زره افغانانو سره اصفهان ته ننوت

هالنډیان او انګلیسانو په هزار جریب کښې دغه تشریفات لیدل کله ،چې لوړ درشل شاه محمود له دې ځایه تېرېده هالنډیان اوانګلیسان له خپلو آسونو ښکته شول د فرانسې قونسل هم و . ــــــ

او د لوړ درشل حضور ته یې تعظیم وکړ .

کله ،چې لوړ درشل اصفهان ته ورسېد بیا د ایران تاج لـه سره اېسته کړ اود پادشاه پر تخت کښېناست . افغان پادشاه تـه دبدبه ښـه نـه ایسي ده حقیقي پادشاه پېژانده ،چې هغه د پادشاهانو پادشاه دی .

## د لوړ درشل شاه محمود مبارکه څېره:

د۲۴ کلو ښکاري ښایسته سړی دی د عدالت په اجرا کښې ګرندی دی . د شپې له مخې په خپله د ساتونکو او ښار وضع ګوري ــــ

دی د هوا د وضع پروا نه لري او ډېر وخت باندې له شاهي تختـه وي . دغـه څو لنډې جملې زمونږ افغانانو دپاره مهمې دي ،چې عیني شاهدانو ویلي دي .

### د لوړ درشل شاه محمود افغان ټاکنې :

۱- امام قلي خان د اعتمادالدوله ورور دلدار او کمبرون ( دبن عباس قاسم تر دغه وختـه د اصفهان امنیه قوماندان( دا روغه ) و .

۲- میرزا زاهد علي د شاه بندا په توګه

۳- محمد علي د ميرزا رفعيا زوی د شيراز وزير
۴- اسحاق خان پخوانی تفنگچي باشي د کهگو والي
۵- زين علي قلي خان اعتماد الدوله يا جناع د سيستان او قابند والي
۶- ابراهيم خان د شوستر والي ، له دغو اشخاصو ،چې ډير يې ايراني و ډيره وفاداري وليدله شوه
۷- د قورچي باشي محمود زمان زوی ابراهيم خان د قم حاکم په توګه
۸- دولت مراد د قوللر آغاسي په توګه
۹- محمد يونس خان ديوان بيګي ، ددغه شخصيت په برخه کښې بيلې خبرې همدغه کتاب کښې شوي .دوه وروسته کسان افغانان و .

د اعلحضرت شاه محمود تول خويونه د يو متقی ، پرهېزګار ، زاهد او خدای دوست په شانې و .

۱- کِرمان کښې يې د ولجي مالونه وسوځول.
۲- له خلکو يې د ضرورت په اندازې د بيې په ورکولو واخستل .
۳- په فرخ آباد کښې د ايران د پادشاه تر مخې يې د هغه جوغه پرسر کښښوده .
۴- کله ،چې اصفهان ته ننوت بيا يې د ايران تاج له سره ايسته کړ
۵- د ايران پر شاهي تخت کښېنناست .
۶- د قصر په تشريفاتو ،چې دوه سوه نجونو ،چې په لاس کښې يې د سپينو زرو شمعداني وې او سپينې جامې يې اغوستې ونه کتل او هغوی ته يې اجازه ورکړه ،چې ارام کښيني ، بيا يې د خلکو مالونه اوپيسې بېرته ورکړل .

مګر دده مزاج هغه مهال واوښت ،چې سره ددې تولو مراعاتو د ايران شهزاده طهماسب له اصفهان نه وتښتېده او له ده سره يې جګړه پېل کړه ، بيا نادرشاه افشار سره يو ځای هغه د پادشاه په توګه ومانه کله ،چې اعلحضرت شاه اشرف هوتك مات شو بيا طهماسب پادشاه پاتې نه د هرات ابداليان او نه د قندهار غلځيان تول د افشار نادر په توره ووهل شول .

۱- پښتنو مرخمن درې وارې يا درې پېرې ډېر شول .

په ۱۷۲۲ هوتکو د قندهار او اصفهان واټن په ځلوښتو ورځو کښې وواهه هغه هم د جګړې په حال کښې پلي تلل .

دوه څلویښت زره ایران عسکر دوی ته تسلیم شول . حال دا ،چې دوی افغانان شپږ زره و . او یوه زره امپراتوري یې رنګه کړې .
په دې مهال ،چې د افغانانو زړورتیا تقوی او قوت څرګند شو اروپایي لیکوالو څېړنې پېل کړې ، روس ، ترک ، انګلیس ،هالنډ ، فرانسه ، ایران ته ننوتل او د افغانانو پسې تبلیغ او د خلکو پارول پېل شو.
۲- کله ،چې لوړ درشل افغان بابا احمد شاه پاني پت ډګر کښې بریالی و ، اروپا او لویدیځ ،چې د انګلیس ، فرانسې او امریکې خلک دغه قوت او عظمت ولید دسیسې پېل شوې .
۳- کله ،چې طالبانو د شر او فساد سنګرونه ونیول په داسې حال کښې ،چې روسیې ، هند ، ایران او ترکیې د طالبانو مخالفینو سره مرسته کوله .
یو ځل بیا هماغه هېوادونه د امریکې په مشرۍ افغانستان ته په لوی نظامي قوت راغلل دا دی تر اوسه شته ۱۳۸۱ هـ ل .
پښتانه د دوی اصلي هدف دی دا مهال پښتانه تر سختو حملو لاندې دي . له دې حالاتو رتل څه په نړیز حالاتو اړه لري ،چې کومې خوا ته درومې لوی توپیر دا دی ،چې نن هر څوك پوهېږي که "شپه تیاره منې په شمار دي "
او هم د څښتن تعالی د رحم په اغېز هر څوك پوهېږي ،چې " غوا توره پی یې سپینې دي"

## پښتانه په خپلو کښې څوك اچوي،خپل که پردي ؟

که خپل یې کوي سره جرګه دې شي ، روغه دې وکړي او که پردې وي یو موټی دې شي ، هوتیك او لوېي که مونږ یې ومنو زر کاله چلېدلی و .
هورې بریدونه وشول دوی څه هلته ګډ او مېشته شول او څه بېرته خپل ټاټوبي ته راغلل دلته یې پخواني هر څه هېر کړي او د دغه تومن د خلکو په شان ښه مسلمانان او حلاله روزي یې خپله کړه .
دوې خبرې دي ،چې پښتون په پښتو او پښتونولي پښتون دی که داسې نه وي د وینې هډ او نسل پښتانه ټولې نړۍ کښې خواره دي .

دغـه د امـريكې ناتـار د نـورو ناتـارونو پـه شـان تېرېـږي مګـر پـه دغـه حقيقـت پوهېـدل ضروري دي ، چې له اويا كلو واوښتم ځينې خبرو ته مـې پام شـو خان سـره مـې ويـل سبا مري دغه ليكنې ته به د بل چا پام شي او د بشپړېدو هڅه به يې وكړي .

د هاتيك د پادشاهانو د ژبپوهانو دپاره :

| | | |
|---|---|---|
| لابرنا | LABARNA | ۱۹۵۰ |
| هاتتوسيلي | HATTVSILI | ۱۶۵۰-۱۶۲۰ |
| مورسلي | MORSILI | ۱۶۲۰-۱۵۹۰ |
| هانتلي | HANTILI | ۱۵۹۵-۱۵۹۰ |
| امونا | AMMUNA | ۱۵۶۰-۱۵۲۵ |
| هازييا | HUZZIYA | ۱۵۲۵ |

دا و نور پادشاهان له يوې كورنۍ څخه .

د هتتيانو قوانين همداسې ،چې زمونږ په ټولنه كښې و او قبايلي سيمو كښـې اوس شته ،چې بې دولته دولت دی .

پښتونولي : يو تشكيلات دی ، قانون دی او ټولنيز نظام ،چې زمونږ ډيموكراسـي ده ، د پښتون په كورنۍ او په ټولنه كښې هر سړی مسوول دی ،چې د ټولنې خبر ښېګڼې دپاره كار وكړي ."د غله دپاره هر سړي پوليس دی" .

لويديځه نړۍ خپل كلتور او اصول په نورو مني او داسې فكر كوي ،چې همدغـه ښـه دي حتى په نولسمې پېړۍ انګليسانو خپله ملي او بين المللي وظيفه بلله او هر چېرې بـه يـې لومې خورولې چې نور قومونه په كښې ونيسي .

لويديځه فلسفه دوستي دښمني نـه لـري خپلـه ګټـه لټـوي كـه پـه دوسـتۍ كښـې وي يـا دښمنۍ كښې ، پښتونولي كښې دواړو ته شرطونه لري پښتـون د دښمـن انسـاني كرامت او حيا ساتي عذر او ننواتې مني ، روغه كوي .

په هتتيانو كښې د ښځې طلاق عمومې نه دی وروسته لـه واده د ماشـومانو دښـې روزنـې او د خپلخانې د عزت خبره مهمه ده . ښځه اومېړه دواړه د هغه په ساتلو كښـې يـو شـانې مسووليت لري . دا ،چې هاتيك او لونۍ دلته هم يو ځای يادېږي او هلته هم يـو ځـای و ، يو ډول توره هغه مهال د سيلابي په نامه دلته هم

لواني په شپاړسمې پېړۍ کښې مخکې تر میلاده د یوې مقدسې مېرمنې ،چې د سپوږمۍ مثال و ، یا رب النوع او د هغې اولاد ستانه بلل کېده او په زړه پورې داستانونه لري . ما په تره خېلو کښې کابل نژاد داسې قبر لېدلی و اوس به هم وي ،چې لکه یوه لویه کوټه وه او دوه درې مړي په کښې ایښي او سپینې ټوټې پرې هوارې وې . یوه ګنبده وه ،چې سورۍ شوې له دغه ځایو خلکو دوی لیدل ویل کېدل ،چې دا شهیدان دي او شهیدان نه خاورې کېږي ، د هتیانو قبرونه همدغه شان و ، شپاړس پېړۍ مخکې له میلاده دغو حدودو هودخېل اوسېږي ، تره خېل ښایي دوی سره یو قوم وي. مونږ پېړۍ پېړۍ په داسې غمونو اخته یو ،چې دوی ته لاد چا پام اوس هم نه دی . مونږ افغانان یو مهال بویه خپلې خاورې ته په ځیر وګورو .

همدا راز د ننګرهار په درونټه د نهر په غاړه ګرځېدم ،چې هلته چا کور جوړاو ښې سپینې او رنګه ډبرې په غره کښې وې . هلته مې ولیدل ،چې د تهداب د کندلو په مهال پاخه دیوالونه ښکاره شوي و او پانیاب کښې هغه یو منظم کور و . ۱۳۵۷ هـ ل کال و یعنی شاهي وه .

دغو خلکو هغه کور کړی . په افغانستان پرته استاد احمد علي کهزاد ،چې ایتالویانو سره یې د افغانستان په نورو برخو کښې کیندنې لیدلې وې پوهېده بل څوك نه پوهېدل . اوس په افغانستان کښې ناتار روان دی دا څوك دی ؟ متمدنه . چې هوښیار ماړه پوه خلك دي ،مساله اقتصادي روس تودو او پوځي امریکا د تیلو چینې غواړي .

## شاه محمود لوړ درشل

افغان په کرمان کښې د لوړ درشل شاه محمود په امر د هالنډ کمپنۍ ته ورنه غلل او هغه یې هسې پرېښود . د انګلیس د کمپنۍ ورونه یې ،چې مات کړي او د هغه کالي یې وړي و ، دورازې یې جوړې کړې وي ، مالونه یې بېرته راوړل او په خپلو ځایو کښې کېښودل . کمپنۍ ورونه دروازې یې د ښار د سپین ږیرو تر مخې کلب او موم او مهر کړل .

لوړ درشل محمود هغو خلکو ته ،چې کورونه یې وران شوي و اجازه ورکړه ، په دولتي باغو کښې واړوي او د چا ،چې کورونه نه وي د نوي دولت له خوا کورونه دې بېرته ورته جوړ شي او دوی ته دې کافي ډوډۍ ورکړ شي .

د نوامبر له نیمې وروسته لوړ درشل محمود "رضا الله سلطان" له څلورو زرو سپاهیانو سره "یزد" ته ولېږه ،چې هغه افغان دولت سره یو ځای کړي د انګلیس کمپنۍ کارکوونکي ،چې له کرمان څخه تیښتېدلي په ۲۴ د نوامبر ۱۷۱۹ اصفهان ته ورسېدل. د" یزد " او "لار" د سقوط خبر اصفهان ته ورسېد . یو کاروان ،چې د هالنډیانوو او بندر عباس ته روان و د واك دشرکت مسلح خلك هلته ولېږل شول ،چې کاروان سره مرسته وکړي.

د ۱۷۲۰ م په جنوري ،چې لوړ درشل محمود له یزد څخه کرمان ته راغی په خپل نامه یې سکه ووهله د ایران خلکویې ته ډاډ ورکړ ،چې دوی ته به هېڅ تاوان ونه رسېږي.

په دغه لویو لښکري عملیاتو بلوڅان اوږه په اوږه د لوړ درشل محمود سره و ، محمود خپل لښکر د شیراز په لوري هم خوځول دغه خبر په شپږم د نوامبر اصفهان ته ورسېد. لوړ درشل محمود پنځه سوه تومان له پانګوالو څخه دخپلو سپاهیانو د خوراك دپاره واخستې په داسې شل زره تومان ورته ایښودل شوي وي.

لوړ درشل محمود تقوی لرونکی اوپاك نفس سړی و د بدبه یې نه خوښوله . له هماغه نه څرګند و ،چې ده خپلو سپاهیانو ته وویل ،چې د خلکو مالونه وانه خلی او چا ،چې اخستې هغوی ته یې وویل ،چې هغه وسوځوي . د هالنډي شرکت نماینده وایي هغه لمبې ما ولیدلې . انګلیس د نماینده ګی مالونه یې بېرته ورکړي . دده سپاهیان و ،چې دوډۍ خوړه بازار ته یې هېڅ تر لاسه نه کړل او نه له خلکو نه

د ایران خلك د دغو خلکو له اسلامي او افغاني اخلاقو ډاډه و . لکه ،چې په کابل کښې د طالبانو مخالفینو خپل ماشومان او ښځینه کابل ته لېږلې ،چې محفوظ وي . ځکه طالبانو هم هماغه اخلاق درلودل ،چې ایران کښې په اتلسمې پېړۍ کښې ښودل شوي که د تاریخ فلسفه وي نو همدا ده .

## محمودي سیاست

لوړ درشل محمود یوه تبلیغاتي موسسه درلوده ،چې مخکې له مخکې یې د ایران پېژندل شوو خلکو ته لیکونه استول ده د ایران خلك په سلهاو برخو ویشلي او هرې برخې سره د هغو له حالاتو سره سم لیکونه استول او دعامو خلکو دپاره یې اشتهارونه خپرول . د مثال په توګه زردشتیان ، عرب ، کردان ، ارمنیان ، لکزیان ، بختیار ، بیات ، افشار قاجار ، شیروانیان ، جاروتلي شاه سیوان ...

داسې ښکاري ،چې لوړ درشل محمود په تاريخ پوهېده ... څکه په خپلو ليکونو کښې يې د افغان او هغوی اړيکې ته اشاره کوله .
شاه محمود او شاه اشرف د ديپلوماسي ماهران و . دوی د خپلو خلکو او نورو په حالاتو پوهېدل کله ،چې لوړ درشل شاه زمان محمود شراب خاني بندي کړې د اروپـايـانو يوه لويه تحفه د شرابو بوتلونه و . چې دايران مشران يې پرې اخته کړي و .
په نهم د مارچ د ايران شرابچي باشي د هالنډ د کمپنۍ د رييس کور ته لاړ او له هغه يې ، توپچيان وغوښتل د هالنډ د کمپنۍ مشر وويل ،چې زه توپچيان اوس نه لرم . تاسو کولای شئ له انګليسانو او فرانسويانو توپچې وغواړي .
د هالنډي شرکت نماينده وايي ،چې شراب چي باشي قانع شو او لاړ مګر لږ وروسته د مهماندار باشي نايب او د اعتمادالدوله خواله راغی او د توپچيانو غوښتنه يې وکړه ، ايرانيانو کولای شول له هرې خوانه مرسته وغواړي عسکر راټول کړي .
مګر افغانانو باندې دا لارې بندې وې هغوی له شپږزره يا شپاړس زره که څوك موضوع تحليل کړي . افغانان لېږل ايران لويه خاوره هر ولايت کښې له زرو دو زرو زيات نه و . يو ورځ حکومت ګران بيا اته کاله شي او خارجي جګړې له روسيانو . عثماني ترك هم هغوی ته کلکې ماتې ورکړې افغانانو تر اوسه په دې فکر نه دی کړی . دوی به هېڅ کله د ملي تاريخ په فلسفه پوه نه شي .
له قندهار تر اصفهانه په پنځه څلوېښت ورځو کښې تللي دي . خبرې تـه اروپايـان هم ارپان دي ، دغه واټن ۱۸۰۰ کيلو متره و ، يعنی په ورځ څوېښت کيلو متره .
زړور بېباك سردار يعنی لوړ درشل شاه محمودافغان او زړور او بېباك عسکر ، غله او وابنه ، جګړه او مقاومت لکه تالنده تېره شوي دي .
د مارچ په اوولسمه لوړ درشل محمود اووه تنه د اصفهان ښار تـه لېږلي ،چې وګوري خلك د لوړ درشل محمود په پادشاهۍ خوښ دي . په همدغه دوه زره افغانان د ارمنيانو کلي جلفا ته تللي او د کلي يوه برخه يې نيولې ده يو ارمني ،چې تښتېدلی و وويل : افغانانو هېچا ته ازار نه دی رسولی او خلکو ته ويلې خپل تول سره او سپين له څانه سره وړلی شي په همدغه ورځ لوړ درشل محمو فرخ آباد هلته ،چې شاهي باغ دی راغی .

لوړ درشل محمود امر کړی ،چې بې وسلې خلکو سره کار مه لرئ مرسته ورسره وکړئ .
نن د مارچ لسمه يو افغان له خپلو ملگرو لېږي پاتې و ، دوو ايرانيانو هغه افغان ونيـو او د ايران پادشاه سلطان حسين صفوي ته يې ودراوو :
پادشاه افغـان اسير تـه وويـل : محمـود څنگه ژونـد کوي او مونږ څنگـه کولای شو هغـه وپيژنو . افغان اسير وويل : کوم محمود ؟ مطلب مو لوړ درشل شاه محمود دی ؟
افغان اسير يې په لتو وواهو پـه متروکو يې وواهـه بيـا يې بوتې . دا هم د ملي تـاريخ فلسفه ده ،چې اسير افغان ذليـل نه وي او د لاربشود احترام وساتي .

## پښتانه او غلامي ( مريیتوب)

هغه مهال ،چې کمونستي تيوري چلېدله دوی د ټولنې د بشـرېتيا پنځـه پولې يـا مرحلې ښودلې ،چې دوه همه د غلامـۍ دوره وه . د دوی تحليل داسې و ،چې هرې بشري ټولنې د غلامۍ دوره تېره کړې ده .
يوه روسي ليکوال په دغه مهال ويلي دي ،چې پښتنو د غلامـۍ دوره نـه ده تېره کړې . نېغ په نېغه فيودالي دورې ته ننوتلي دي ، کمونېست تيوري والو چاره نـه درلـود ،چې خپله تيوري يو استثنا ونه منې خکه دوی ددې مثال په تاريخ کښې نه درلود ،چې پښتنو داسې يوه دوره تېره کړې وي . پـه بشري تـاريخ دا د پښتنـو يـو ځانگړې خصوصيت دی ،چې غلامي يې نه ده کړې .

احسانمن د خپل خالق يم سره دواړو بدبختيو

اول دا ،چې پښتون يم اوبيا يم خوشحال ختك

### غلام کول يو صنعت او تجارت و :

آزادې ښځې او نارينه نيول کېدل بيا يې په بېلو برخو وېشـل او هر يـو د خپـل مهـارت . ښکلا جسمې او روغتيا له مخې يوه بيه موندلې او همداسې صادرېدل . غلام يوه متاع وه ،چې د څښتن په واك کښې وه .
يوه متاع وه ،چې خپله اراده يې نه درلوده هر روا او ناروا کار لـه دوی نه اخستـل کېـده د دوی شکنجه او وژل گناه نه وه . په ۸۵۶ م کال کښې صفاري حکومت ،چې سـاکان و . سيستان هم پاکستان معنی لري . هر کال به يې د دولت لـه خزانو غلامـان اخستـل کېـدل او آزادېدل او که چا ساتل . د اولاد په توگه ،چې ميراث به هم ورکول کېده .

سلطان معزالدین غوري ، سوري غلامان پادشاهي ته ورسول خکه اولاد یې بللي و . او پښتون خپله ژبه نه پرې کوي . دا افغان دی ،چې غلام پادشاهي ته رسوي دا افغان ظرفیت دی دلته ، د استعداد خبره وه . په افغاني سلطنت هر څوك ،چې څومره استعداد ولري . هغومره پر مخ تلای شي او لوړو مناصبو ته رسېږي .

په ۱۷۲۲ م ،چې شاه محمود افغان اصفهان ته ورسېد لومړنی امر دا و : هر هغه څوك وسله نه لري هغوی په امان کښې دي او هغه څوك ،چې خپله وسله تسلیم کړي هغوی هم په امان ، د خلکو مالونه مه اخلئ او په دې کښې به تاسې ته دوې ګټې وي . لومړی ،اوږې به مو سپکې وي ، دوه هم پر خپل نفس به حاکم یاست . دا سپرنیول . د جګړې تر مهال پورې و ، جګړه ،چې بنده شي هغوی به آزاد شول .

اعتماد السلطنه په دې برخه کښې یوه ډېره ښه خبره کوي ،چې افغانان د امیر او غلام ساتلو شوق نه لري ، اسیران لکه خپل اولاد ساتي . کله ،چې اسیران یې خوشې کول ځیني به نه تلل او ویل یې ،چې مونږ د شرافت په بند کښې خوشحال یو تر آزادی .

که څوك وغواړي په دې برخه کښې ډېر مدارك او مثالونه موجود دي ، دا ،چې وایي انسانیت ، افغانیت او افغانیت انسانیت دا حقیقي معنی لري ، احمد شاه بابا ۱۷۵۵ م که له پاني پت نه اسیران راوستي وای اوس به افغانستان له هغوی ډك و .

احمد شاه بابا خای په خای اسیران آزاد کړل مګر هغو مسلمانانو ته یې سخته سزا ورکړه کوم ،چې دمسلمان په مقابل کښې وجنګېدل .

کوم غلامان ،چې له پخوا یعنی د مغلو او صفویانو له وخته موجود و ، احمد شاه بابا داسې اوامر صادر کړل ،چې غلام څوك شکنجه کولای نه شي ،که غلام څوك مړ کړي هغوی باندې شرعي اصول عملي کېږي ، د انسان د بدن غړي څوك نه شي غوڅولی لکه پوزه ، غوږ ... احمد شاه بابا هر چا د عادل په توګه پېژندلی دی یو شاعر وایي .

دده په دور کښې غمجن نشته

که تبوله نړی هنداره کړي

قطب الدین ایبك یو غلام و ،چې وروسته سلطان ۱۲۵۶م کښې د هند پادشاه ده او تبولو پادشاهانو د سلطان معزالدین غوري په نامه سکه وهله او خطبه ویلي . غلامان هم بې وفا او بد خلك نه و . د هر یوه له نامه سره المعزي ویل کېده .

د آزادی هنگامه تل له افغان کهساره چلیږي . وگوریٔ اروپا او امریکې ،چې غلامی کله په کښې له مېنځه لاړه ؟

افغانستان په برخه کښې ،چې غلامي ورکه شو د بشر په تاریخ کښې دغه آزاد اوسېدل او نور آزادول . په اتلسمه پېړی کښې وروسته تر هغه ،چې افغانان له ایران نه ووتل او له هند نه د هم هغې پېړی تر پایه پورې د افغانانو په احترام خلك کرار نه کښېناستل او دغه پیغامونه اعلحضرت شاه زمان ته له هند او ایران نه رارسېدل . حتی امان الله خان ته هم له بخارا ثمر قند ایران او هند دا لیکونه راغلل د روهیله کند خلکو امان الله ته وویل : دلته بل افغانستان دی ، هند ،چې د شپږ پېړیو افغان سلطنتونه یادوي هغه د ډهلي د سلطنت یادوي له مغلو شروع ورپسې انگلیسان په صورت د افغان نوم نه یادوي .

په هغو دورو کښې ،چې افغانستان ته پردي قوتونه راغلي . هغوی د پښتنو یو ډول خپلواکي منلي ،چې ټول تاریخونه دا خبره مني ،چې هخامنشیانو ، یونانیانو هر څوك ،چې و ، په افغانستان کښې محلي مشرانو په داخلي چارو کښې په رسمیت پېژندلي .

دا ،چې ایرانیان هخامنشیانو او ساسانیانو افغانستان تیولی وي داسمه خبره نه ده ،څکه د هېرودت په قول .

کوروش په افغانستان کښې وژل شوی .

داریوس تېنتېدلی .

د دوی په مقابل کښې ساکو Sako مقابله کړې او بریالي شوي . د ساسانیانو په مقابل کښې یفتلیانو ،چې پادشاه یې اخشنوار و ، ساساني پادشاه فیروز دلته وژل شوی ، طبري ، گردیزي ... داخبره تایید کړې ، دریم فرهاد دلته وژل شوی .

په دې توگه کوروش ، دریم فرهاد ، فیروز ، درېیم یزد گرد ، شاه حسین صفوي ، او ناصرالدین شاه ،چې علي رضا د سید جمال الدین یوه شاگرد وواژه په خپله هم اعدام شو .

## دشواری مسایل ملي ما و جهان به اصلاح تمدن

د رفلسفه نو تاریخ گویند زمین ما در بشر است ، فرزندان این مادر ، آزاد بودند بهرنامی و نشانی که می خواهند می توانند باشند .

در همین فلسفه تولد ، بلوغ پیری و نیستی برای جوامع و بشر قبول شده است ، این همه طبعی است ، غیر طبیعی تحمیل عقاید ، گرفتن منابع اقتصادي به زور ... است .

آنچه امروز امریکا در جهان می کند . اختیار ملتها از میان برخاسته است ، دیروز نیز سخن از جهانی شدن جهان بود . ولی موضوع اخلاقی طرح می گردید "زردشت" کنفسیوس ، بود او دیگران رخ مادي نداشتند
مردم مال خود را به گونه تحفه به بزرگان می دادند و بزرگ به دیگران می بخشیدند ، مثال کوچک" بابه داود" در کابل بود و صدهای دیگر ، مردم به او پول می دادند ، او به ناداري می سپرد .
آن زمان تحمیل وزور نبود وقتی کتیبه های اشوکا خوانده شد رمز کار او اشکار گردید نگارنده این کتیبه ها را درمانسهره سرحد دیده است در بلندي روی سنگ ها و صخره ها نوشته شده است .
در یکی از فرامین آمده است : " با مردم به مهربانی پرستاران رفتار شود . نهاد های ، نوع دوستی ، گروهای مذهبی وکار های رفاهی از قبیل کشت درخت ، حفرچاها ، تأسیس شفاخانه های برای انسانها و حیوانات ، محدویتهای درکشتار حیوانات عملی گردد .در کتیبه های قندهار تاکید براین شده است ، روشهای حکام ظالم شکست داده شود ، حکومت مطلقه نباشد "
ازین فرامین برمی آید که کشتار حیوان نیز محدودیت دارد و حکم کشتن انسان وجود ندارد . مردم افغانستان گاهی بسیار پراگنده و بد خصال می شوند گاهی معجزه آسا ، جمع می شوند ، هر زمان تقوی و جوانمردی در کسی بینند یکجا و یکدل می شوند و خصایل بد دیده نمی شود .
درین شک نیست که مقابل با اروپایی ها ، روسها و امریکایی ها دشوار بود ، دشواری از آن بیش تر گردید که برخی افغانها در روایات مختلف هوا خواهان انگلیس ، روس و امریکا شدند
این دزدان خانه است از دشمن بیرون در ضرر فزونی دارند با چهرهای این دشمنان خانه گی ، شعارها و استدلال شان حالت "بیله" دلبدي می آورد . و مایوسی مستولی می شود ، بی حیا و کم مایه می باشند ، همسایه گان ما از آن بد تر عامل بدبختی ما شده اند
اصولی ملی چیست ؟
افغانها برای تأسیس از زمانه های پیش کوشیده اند ، درین اندیشه قرنها بودند ، مهمترین مرحله آن بود که در ساکستان ( سیستان) سکزی از خراج و عاملین محلی خلافت ، که فرمان ولوا ناراضی گردیدند .

یعقوب صفار عیاری پیشه کرد و مردم به تقوای جوانمردی او تکیه کردند دولت معظم تشکیل کرد.
خلافت بغداد را تهدید کرد خلیفه یعقوب را تلعیین نمود یک نوسنده تاریخ سیستان می گویند، سکزی ها پابرهنه به بغداد رسیدند.
عیاری، جوانمردی حصه را ملکات افغان است، شاه مردان علی کر را می گفتند، زیرا او تقوای، فقر و شمشیر را یکی کرده بود، اگر در قلب و مغز افغان خوب توجه شود. افغانها به تقوای، فقر و شمشیر او بیشتر گرویده می باشند.
امروز هم آهنگ همین پرده و لقب او شاه مردان سخی جان است، تقوای، فقر و شمشیر است اما کی می تواند این پرده را به نوا در آورد؟ که مرد این نوا میان بلند پایه گان امروزی دیده نمی شود، از دید سیاسی تأمین امنیت مهمترین بخش حکومت می باشد وجود عساکر خارجی در کشور یک نشان منفی است که هیچگاه نمی تواند مثبت باشد امریکا از افغانستان بسیار دور است و این به چند صورت است. اقتصادي، نظامی، اخلاقی و تفکر وجه مشترک دشمنی با کمونیزم و روس هابود و داشتن یک تاب اسمانی.
ولی امریکا همان دو (روس و کمونیست) را در اغوش گرفت مردم می بینند، که همان روس و کمونیست باشد، استاد فقید ابراهیم خان صفا حکایت می کرد: در زمان انگلیسها در هند، مفلسی سر براستان اجمیر گذاشته، باخود می گفت: ای بزرگوار صد روپیه ضرورت دارم در ردیف مردم کسی بود از خدمت گذاران انگلیس (هندی مسلمان) بوده. دست بجیب کرد صد روپیه بالای سر او گذاشت و رفت. مفلس چون سر بلند کرد صد روپیه دید در فاصله ده قدمی خدمتگار انگلیس رادید، دانست که جواد همین است.
بعد گفت: ای بزرگوار آرزیم راپذیرفتی ولی از دست نامردی پول بمن دادی چه می شد اگر از دست پاکمردی می بود؟
مردم ما خصایل خود در جستجو دستهای پاک و منزه هستند. ازین دستان ناپاک چیزی نمی گیرند او به سرکشي ادامه می دهند.
تقوای، فقر و شمشیر سبکتگین او سبب اتحادیه مردم شد، در همین مورد در خطبه، تاریخی سلطان مسعود غزنوی آمده است: یزد عز ذکره چون خواست که دولت بدین

بزرگی پیدا شود بروی زمین ، امیر عادل سبکتگین را از درجه کفر بدرجه ایمان رسانید و وی را مسلمانی عطا داد .
ناسیونالیزم اروپایی شمال جهان را تغیر داد ، اساس تأ سیس دولت های بعد از اسلام ، اسلام بوده است ، افغانها مسلمانان صادق القول و ایمان بودند در حالیکه خصایل انسانی تر داشتند ، خریدن غلامان و آزاد کردن شان و ظیفه دولتهای افغان بود ، نه تنها آزاد کردن بلکه بعهده ای بزرگ و سلطنت ها رسیدند

# هوښياري او ساپيان

دلته يوپه زړه پورې بحث را اخلم :
يوه تاريخ پوه ،چې ميخايل سل گرانت نومېږي د لرغوني تاريخ په برخه کښې يې پنځوس کتابونه ليکلي دي او څو پوهنتونو کښې استادي کوي .
دده يو غوره کتاب لرغوني مديترانه نومېږي دغه کتاب په ۱۹۶۹ م کښې چاپ شوی و دا دی اوس په ۲۰۰۲ کښې بيا چاپ شوی دی .
تاين بي او نورتاريخ پوهان په دې گروهنه دي ،چې بشر په همدغه ځېر ،چې اوس دی دېرش زره کاله پخوا هم و ، اوله دوی څنې اثار پاتې دي .
خو هغه انسانان ،چې هوښيار شوي او لکه مونږ ،چې اوس يو د خپل ژوند د ښه کولو دپاره يې هڅه کړې ده او ضروري سامان يې جوړ کړی هغوی ته هوموساپيان وايي Homo Sapian هوموساپين مادرن انسان دی ،چې ښايسته اوهوښيار دی لکه مونږ دغو خلکو سوکه سوکه د ژوندانه په لاره کښې بدلون راوستلی دی او نوې طريقې يې ترلاسه کړې د ښه ژوند دپاره د ښکار کولو دپاره يو تخنيك درلود ، له تيږې لوښې جوړول ...
دغه نوی Sapian د فرانس په نامه تشريح کېږي ، دميخايل گرانټ په عقيده خلکو سره دا سوال وی چ د غه کلمه په هيڅ ډول په فرانس پوری منحصر نه پاتې کيږي .French يا سپين سپا نش ، ولی؟ مونږ ساپيان لرو ،چې له هومو ساپيان سره هيڅ توپير نه لري .
مولف ميخائيل گرانټ له مو نږ سره په دې برخه کښې ملگری دی دده ورو ستی خبری په همدغه کتاب کښې دا خبره تاييدوی خو دی پښتنو کښې ساپيانوله شتون خبر نه دی . ميخاييل گرانټ دا خبره داسې سسته نه پر ېږدي په جرات سره خپلی خبر ی تـه داسې دوام ورکوي .

نهم مخ لرغوني مديترانه "دلته پخوانۍ ډبرې تيښي شته .چي د هوښيارو انسانانو هدونه هلته پيدل شوي لکه دافريقې شمالي غاړه . ايتاليې په لوړو برخو کښې .يونان او افغانستان کښي
پرته له شکه د هغوی زياته اندازه په غربي آسيا کښي دي .چي لوی مرکز دی د دوی د پراختيا اوهلته يي لويه ذخيره "که څه هم ميخاييل ګرانت د افغانستان نوم نه يادوي مګر د لويديځي آسيا نه مطلب بيا هم افغانستان دی يا افغانستان ته نژدې
ددغو خلکو .چي هوښيار لومړني انسانان دي غښي جوړولو پاکي اوبه يي څښلې . حتا بيښه او د لو دپاره لرونه يي جوړ کړي و
ګرانت . کرني لومړنی ټاټوبی افغانستان بولي . په دې برخه کښي دېرش زره کاله دمخه تر ميلاده يادېږي .چي غله پېژندل شوي کرل شوي او ريبل شوي او دغه مطلب په داسې يوې انګليسي جملې کښې Probable Afghanistan was their original home يعنې بنايې افغانستان يې لومړنی کور وي . دغنمو اونور ودانو کرل همدغه اوسني کرنه ده .چي اوس هم جريان لري .
په دغو دلايلو که سپاپيان همدغه زمونږ اوسني ساپيان وي څه لېږې خبره نه ده .
۱- د پيدايښت ځای افغانستان
۲- نوم هيڅ توپير نه لري ساپيان . سپانوي او فرانس ته ندې وي او که کټ مټ هماغه . مطلب او تلفظ وي هغه به همدغه ساپيان وي دا به د سري کمزوري وي .چي د تاريخ له مخي هم يوه خبره په زغرده ونه شي کولای .
کتاب وايي خلك د کردستان له لارې مديترانې ته تللي .چې يونان . ايتاليي او فرانسې ته رسيدلي بيا نورې نړۍ ته په بله ژبه ساپيانو د بشر دپاره خواړه موندلي او روزلي دي . او دغه صنعت يعنې کرنه له افغانستان نه زيږيدلې ده .چي د انسان په وده او پرمختګ کښي لويه برخه لري
مونږ روښانه او رڼه وينو .چي ساپيان هلته پيدا شوي دي او د ګرانت په وينا .چي افريقا يادېدله سمه نه ده . که چيرې همدغه هوموساپين Homo Sapian په دوه وو لارو خوځېدلي وي د سايبريا او د الاسکا له لارې امريکي ته راغلي وي او دلته مرکزي امريکي ياما مدنيت جوړ کړی و . او د مديترانې له غاړو اروپا او اسپانيي کښي اړولي وي . او په وروستيو پيړيو کښي بيا دوی سره موندلي وي . کومه مهمه خبره نه ده .

میخاییل گرانت د خپل کتاب په ۱۹ مخ کښې یوه بله خبره کوي . دوی د غرونو په لمنو کښې پاکې اوبه درلودې ، هلته د غشوسرونه موندل شوي ،چې ځانګړې ځېز دی او داسې سامان ،چې د چړې کار یې ورکاو . رنګونه له ګلانو تر لاسه کول تر اوسه د مغارو له صنعت نه کار اخلي .

کومې نښې او علامې ،چې په ختیځ افغانستان کښې لیدل کېږي که له یوې خوا د دوی کرنه او د ژوندانه لارې چارې په خپل حال پاتې وې له بلې خوا دژوند د ښه کېدو په هڅه کښې دي ، ګرانت وایي دغو خلکو انسانان د ځارویو دیوازني خوراك له غمه خلاص او دکرکښت لارې یې وروښودلې دغلې زېرمې یې وموندلې دوی و ،چې د مېوې دانې لاره یې پرانستله او انساني ژوند ته یې سمسورتیا وښیله . دوی ،چې ژوند یې په کېدو سوغات و هغه یې ورکړ ، همداسې په انساني ژوند کښې یو توازن او برابري راغله .چې د روغتیا دپاره یې ډېر اهمیت درلود او دا دی ،چې دوی تولې نړۍ ته وربښېده مونږ که خپل په دغه فعالیت یوه شو نور فعالیت او تفکر هم کولای شو . همدغه ځمکه او کرنه وه ،چې د انسان اړیکه یې ځمکې سره د وطن یا تومن سره ټینګه کړه . ځمکه وطن د انسان مور شوه ،چې له هغې ژوند ته دوام ورکوي

# څو خبرې د تاریخ په ژبه !

دا مهال دا حقیقت د ویلو دی ،چې افغانستان د تاریخ له مرحلې وتلی دی ، په دې ناخوالي خواشینی یم ، بېرته تاریخ ته ننوتل ربړوونکی دي ، زه دغه مطلب څکه لیکم ،چې د ژوند پایناب وینم دا نړۍ که هر څومره ښکلې شي زما ورسره خدای په اماني ده ، دا خبره مې ددې دپاره وکړه ،چې :

د خـپـل بـخـت په اړولو نـه پوهـېږم
چې غمخور شو د حمید خونخور په څه؟

اکوس او اندوس دوه سیندونه دي ،چې زمونږ په ژبه آمو ، آباسین دی ، دنړۍ مدنیتونه ( سور ، ساك ، پاکت ) له همدغه څمکې پاڅېدلي دي ، بیا بین النهرین ، دجله فرات ترمینځ څمکو ته تللي دغو خلکو څمکې رام کړي کړنه ، مدنیت او ښاري ژوند لـه دوی نه ښیرازه دی

په نړۍ کښې څلور فکري سرچینې دي ، د هغوی لومړی فیلسوف ( زردښت دی ،چې تاین بي هغه سوری بولي له هغه په لرغونې زمانې کښې پندونه لاړې چارې پاتې دي او د باکتر دی )

دوه یم کنفسیوس چینایي فیلسوف دی ،چې نجابت ، سپېڅلتیا او اصیل توب تـه پاملرنه کوي

دریم بودا دای ،چې وایي د انسان یاغي طبعت مهار کول غواړي او هغه په ریاضت کېږي

څلورم فیثاغورث دی ،چې د ژوند دوام دانسان نسل بولي ، له دې خبرې مطلوب دا دی ،چې هر څوك خپل فکر بنسټ لري

سوري زردښت د بلخ باکتر يا باختر دي ! ښه ويل . ښه منل او ښه کول دده فلسفه وه . دده عقيده د شر او خېر جګړه ده ،چې پاېناب کښې به شرماته وخوري . او خېر ښېګڼه برى مومي ،چې همدغه فلسفه په اديانو کښې راغلې او ټول فيلسوفان په دې لاره تلل اوس هم چلېږي .

مونږ افغانان بويه په دې پوه شو ،چې زمونږ چاپېر تومنونه هېوادونه جوړېږي او روغېږي مونږ نړېږو او ړنګېږو. پاکستان ، ايران ، ترکمنستان ، ازبکستان او تاجکستان ټول د جوړېدو په حال کښې دي . افغانستان دى ،چې نړېږي ( سور ، ساك ، پاکت) يو پښتون دى بيا دغه په اسلام او افغان کښې ځان د نورو سره ورونه بولي ،خو ځينې خلك له پښتنو او پښتونولۍ سره تعصب او غليم توب کوي له بهرنيو سره جوړ دي کورنيو سره وران .

مونږ له دوى غواړو مونږ مو ورونه يو راځئ ،چې ملي هويت ملي تابعيت سره وټاکو
د افغانستان نيکه او بابا وپېژنو .
د افغانستان دين اسلام ومنو .
د افغانستان تاريخ ومنو .
د افغانستان ملي اقتصادي ګټې خپلې کړو .

روس ،امريکا ، هند ، ايران ، انګليس او چين نه ځانونه کړي وساتو . تاسې په دې تعصب مه کوئ ،چې پاکستان ولې ياد نه شو ، پاکستان د آمو – آباسين کښې او شمالي هند د کوچيانيانو د دولت برخه ده . صفاري ، غزنوي ، غوري ، ابدالي برخه هم ده .

محترم عبدالستار "سيرت" په خپلې يوې مرکې کښې وويل : د افغانستان د هر قوم ډېره کښې د باندې دي د تاجك اکثريت په تاجکستان کښې د ازبك ازبکستان کښې د ترکمن ترکمنستان او شيع په ايران کښې پښتانه په سرحد او بلوچستان کښې يعنې هېڅ قوم داسې نه شي کولاى ،چې غوځ اکثريت ولري . زمونږ خبره داسې ده ،چې تاريخ د حوزې خبره فيصله کړې ده ،چې دغه حوزه د سور ساك پاکت ده او ملي هويت او تابعيت يې پېل دى . زمونږ لوى هېواد انګليسانو په نولسمه پېړۍ کښې ټوټې کړې اوس امريکا ، انګليس ، روس ، ايران ، هند بيا هغه زړه نسخه عملي کوي . او له نيستۍ سره يې

ACKU

مخامخ کوي ، موږ دوی ته وايو دلته د مدنيتو بنيادونه پراته دي دېرش زره کاله سابقه لري

يا به جوړ شي دا وطن د افغانانو
يا به بدله دنيا شي په بيابان هم (پياوړی)

تاريخ همدا وايي ، تاريخ دا هم وايي ،چې د افغانستان تاجك ، ازبك ، هزاره د امريکا بمبارديو ته خوشحالي کوله او خپل پښتانه ورونه يې عذاب کښه کول ډالرونه يې اخستل . ( په دې برخه کښې بين المللي اسناد ډېر دي )

د پرديو په تيغ خپل ورور وژل خدای نه بخښي عاجز بنده ګان يې هم نه بخښي ، تعصب دې ته ورسېد ،چې پښتو ژبه ، پښتو ادب ، تاريخ او د پښتانه پښتونولي هم نه مني . ددې پاېناب څه دی ؟ کله ،چې بهرني قوت ووت د دوی تاو به خيږي يا به ابدي غلامان وي . غلامان په هغه صورت کښې ،چې ګډ هېواد يې پرېښي وي نورو هېوادو ته تللي وي

دا د افغانانو په لاس کښې دی ،چې خپل تاريخ جوړ کړي خپله خپلواکي او خپله پلرنی هديره وساتي . دا د وياړ خبره نه ده ،چې خپل ورونه مو وژلي وي . د ډالرو دپاره جنګېدلي وئ

د محمد ظاهر شاه پادشاهي وه ،چې يو شمېر خلکو د پښتانه ستم پر نورو وباله ، محمد ظاهر شاه اوس هم د دوی په لاس کښې دی ، دپادشاهۍ په مهال هم د دوی و ، د پښتانه ژبه او کلتور يې نه پېژنده او پرې خبرهم نه و .

بابا ګان ډېر شول چا تاريخ له امير دوست محمد خان نه پېل کړ ،چې امير کبير شو ، عبدالرحمن خان استبدادي اداره جوړه کړه ، امان الله انګليس سره درېيمه جګړه وکړه ، نادرخان هېواد له سقويانو وژغوره ، محمد داود د جمهوريت موسس و ،نورمحمد تره کی د مترقي دولت ... نو دې ته وايې ډېر پلاره هېواد .

حقيقت دا دی ،چې د سور ، پاکت ، سور لرغونی تاريخ لرغونی هېواد ، لرغونی هڅوب به ياتې وي . ددې دپاره غوره نښه دا ده ،چې د لويديځ د مدنيت پاېناب رارسېدلی دی . لويديځ والو آسيا ، افريقا وخوړله ، په ۲۰۰۱ م کال کښې امريکې په اووه م د اکتوبر د غربي نړۍ د مدنيت پای او د ډيموکراسۍ مړينه په خپلو عملونو څرګنده کړه ،چې ګواکې د بشر حقوق خپلواکي انساني کرامت په يوه ځل خلاص شو ، وايي پاېنابونه دي

۱- تولي نړۍ د لویدیځ له مخه پرده لېرې شوه د دوی اصلي مخ څرګند شو.
۲- د امریکې او اروپا تر منځ لېرې والی.
۳- د غربي هېوادو ملګرتیا د امریکې په خپګان واوښته.
۴- درې تریلیونه ډالره د امریکې په بودیجه کښې کموالی راغی.
۵- اووه ملیونه خلك وزګار شول.
۶- د اروپا او امریکې روڼ خلك له خپلو دولتو په ډډه شول
روسیه، امریکا نه نیسي، خو تودو اوبو ته د رسېدو هڅه کوي. ایران په بل لورې کښې فارسي ژبې ته ویني همدغه افغانستان، تاجکستان اوماوراءلنهر دی. هند هندوکش ته ګوري.
دافغانانو تاریخ ستاسو په لاس کښې دی چې کومې خوا ته یې بایئ؟ جوړوئ یې که نړوئ یې؟
مونږ به دا هڅه وکړو، چې خپلو تاجکو، ازبکو، هزاره او نورو سره همدغه معضله مطرح کړو، چې ورونو څه کول غواړئ افغانستان ساتئ که یې نه ساتئ؟ پښتانه د دېرش زره کلو روڼ تاریخ لري دوی ولیدل، چې په شمال کښې له پښتنو سره څه وشول. مغلوڅه وکړل؟ بیا انګلیسانو، روسانو او امریکانو څه وکړل؟ پښتانه پښتو او پښتواله ساتي که دا و نه کړي ورځ یې نه ښه کېږي، پښتانه د اسلام سپاهیان دي. داسلام او افغان په نامه ورورې کوي، خو مسلمان، چې د کفر ملاتړ وي مسلمان بولي.

## طالبان

د افغانستان په تاریخ کښې د طالبانو حکومت مهم ځای لري. هغوی یووالی او امنیت راوست شر او فساد یې ورك کړ د تریاکو کښت یې ودراوه. ګاونډیانو یې، چې په ملي چارو کښې لاس واهه ودرول له سینکیانګ نه نیولی تر استانبول او جاګارتا پورې یو خوځښت راغی.
نو امریکا، اروپا، روس، هند ... ورته پاڅېدل د سپتمبر یوولسمه یې پلمه کړه. او دغه غریب هېواد، چې د ۲۰۰۱م بودیجه یې اتیا میلیونه ډالره وه په ځمکې او هوا له ډېرو درنو وسلو سره وواهه د مرګ کاروانونه یې روان کړل میلشه ازبك، تاجك، هزاره د طالبانو په خلاف ودرېدل. د امریکې ملګري شول په ملي تاریخ کښې یې د شرم څادر په سر کړ.

اوس هره ورځ په تلویزیون امریکا وایي : دا څوك وائي يې چې داسې يې وکړل ؟ مطلب يې د نيويارك او واشنګټن وهل دي د ۲۰۰۱ م د سپتمبر يوولسمه .چې دوی نه پوهېږي دا کار چا وکړ ولې يې وکړ

ددغه پېښې له امله لومړی القاعده ، دوه هم طالبان او درېیم پښتانه وټکول شول . مګر دا ټکول ډېر ګران پرېوتل او د نړۍ بنه واوښته

# د وسلې دور تېر شوی دی

د افغانستان او عراق له وهلو وروسته څرګنده شوه .چې ب ۲۵ الوتکې او بمونه او نورې نوې وسلې نور کار نه ورکوي .

لومړی دا .چې داسې اور اوروني امریکې ته په ګرانه بیه تمامه شوه .چې د امریکې اقتصاد يې ويجاړ کړ دوام يې لاويجاړوي .

دوه یم له امریکې او لویدیځې نړۍ نه کرکه پیدا شوه .

درېیم د خپلواکۍ . دیموکراسۍ . دبشري حقوقو مفهوم مات شو

د جارج واشنګټن . توماس جفرسن . ابراهم لنکن هغه اصول .چې ټوله نړۍ يې اغېزمنه کړې وه پای ته ورسېده .

دا .چې امریکې ونه شو کولای .چې يو سم تدبير ولري وړاندې وروسته يې د امریکې د ملت دپاره ورانه کړه

پښتانه یوازني خلك دي په نړۍ کښې.چې وينې په وينو نه مينځي او کولای شي وينې په اوبو پرې مینځي .

# د افغانستان د تابعیت سوالونه

۱- د افغانستان نیکه څوك و او کله چې دخپلواکۍ دپاره پاڅېد له چا نه يې تر لاسه کړه ؟

ځواب : د افغانستان نیکه حاجي میرویس خان و .چې ۱۷۰۹م ۱۰۸۸ هـ ل کښې صفوي دولت نه يې د افغانستان خپلواکي واخسته په کال ۱۷۲۲م ، ۱۱۰۱ هـ ل د اکتوبر په دوه ويشتمه اعلحضرت شاه محمود افغان د اصفهان پر تخت کښېناست .

۲- د افغانستان بابا څوك و او کله يې د افغانستان سیاسي او طبعي سرحدونه سره يو کړل ؟

ځواب : د افغانستان بابا " احمد شاه بابا " و ،چې ۱۷۴۷م ۱۱۲۶ هـ ل کښې یې پادشاه شو اوپه همدغه کال یې د افغانستان جنوبي سرحدونه تر آباسین پورې ورسول .

۳- د افغانستان رپی ( بیرغ) څو رنګه دي او هر رنګ څه معنا ورکوي ؟

ځواب : د افغانستان بیرغ درې رنګه لري . تور ، سور ، زرغون . توره ورځ په سرو وینو له منځه وړي زرغون او سمسورتیا راولي .

۴- د افغانستان دولت څنګه جوړېږي ؟

ځواب : د افغانستان د لویې جرګې له خوا جوړېږي ،چې د افغانستان خپلواکې اسلام دین او ملي دود دستور پر ځای کړي .

۵- لویه جرګه څوك ټاکي ؟

ځواب : لویه جرګه د ملت له پلوه د جلا اصولو له مخې ټاکل کېږي ،چې د ملت ټول غړي په کښې برخه اخلي .

۶- په افغانستان کښې څو ډول جرګې دي اود هغوی کار څه ډول دی ؟

ځواب : په افغانستان کښې سیمه ایزې جرګې بیا ولایتي جرګې دي ،چې دولت ته مشورې ورکوي اسو قانون جوړ وي .

جرګې دوې برخې لري ، لومړی جرګه مار ، دویم د سپین ږیرو جرګه ،چې لومړی اصول او قانون د حالاتو له مخې جوړ وي او د سپین ږیرو جرګې ته یې ورکوي د هغوی له منلو وروسته ملي مشر هغه باندې لاس ږدي او د اجراء حکم ورکوي .

۷- سید جمال الدین افغان د افغان مشرانو نومونه یاد کړي ،چې د هغو په پلو پل کېږدو؟

ځواب : میرویس . احمد شاه بابا ، شاه محمود هوتك : شاه اشرف هوتك او آزاد خان افغان .

۸- افغانانو څو ځله انګلیسانو ته ماته ورکړه ملي اتلان څوك و ؟

ځواب : افغانانو درې ځله انګلیسانو ته ماته ورکړه . لومړی جګړه ۱۸۴۲ مست زمری خان ګل خان تره خېل د بي یي مهرو غونډی جګړه .

دوه یمه جګړه ۱۸۷۹م سردار محمد ایوب خان په مېوند کښې

درېیمه جګړه امان الله خان او محمد نادر خان .

۹- افغانانو کوم کال کښې د روسیې شوروي اتحاد ته ماته ورکړه او کوم اتل و ؟

ځواب : ۱۹۸۹ عمومي پاڅون و د افغانستان اتل ملت و

۱۰- په افغانستان کښې پنځه ملي تکلونه شوي هغه کوم کوم دي ؟

ځواب : صفاري ، غزنوي ، غوري ، هوتك او ابدالي .

۱۱- هغه سړی، چې د احمد شاه بابا په دستار یې د غنمو وږی دشاهي تاج په توګه وتومبه څوک و؟

ځواب: صابر شاه کابلی یو زسپدلی فقیر و.

۱۲- د غنمو وږی په همدغه اعتبار اوس چېرته لیدل کېږي؟

ځواب: د افغانستان په ملي رېږي( بیرغ) کښې

۱۳- محراب او منبر ولې زمونږ په بیرغ باندې لیدل کېږي؟

ځواب: ددې دپاره ،چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی.

۱۴- دا د چا د خولې خبره ده ،چې افغانستان سبیله خاوره نه ده؟

ځواب: اعلحضرت شاه محمود هوتك ووېل " افغانستان سبیله خاوره نه ده خپل څښتن لري او هغه افغانان دي.

اوس په مونږ پورې اړه لري ،چې خپله خاوره که پرېږدو؟ تاریخ زمونږ په لاس کښې دي.

# نوی پېر او بل بدلون

آرنولد تاین بي وایي: اروپ په دوو لویو جګړو کښې خپله برلاسي له لاسه ورکړه او دغه برلاسي امریکې ته لاړه او ښایي برلاسي بېرته ختیځ ته لاړه شي.

د امریکې ډب هغه مهال پیل شو ،چې په ۱۹۹۵ م کښې د سي آی ای د فتر سره امیل کاسي دوه تنه د CIA غړي په رڼا ورځ ووژل.

د ۲۰۰۱ د سپتمبر یولسمه دوه ډب ډېر کلك و ،چې نیویارك او واشنګتن کښې ورکړ شو او دا داسي یوه غمجنه پېښه وه ،چې د نړۍ په تېره بیا د امریکې برخه لیك یې بدل که په دغه مهال که امریکې سمه لاره نیولې وای امریکا به امریکا پاتې وای.

اوس ،چې امریکې لومړی پر افغانستان اووم اکتوبر ۲۰۰۱ م حمله وکړه او پرعراق ۲۲ مارچ ۲۰۰۳ په نړیز سطح د امریکا اعتبار ښکته راغی. دغه مهال ،چې د ۲۰۰۳ د جون میاشت پیل دی بش د امریکې جمهورئیس، اروپا کښې دی روسیې او مینځنی آسیا ته هم لاړ د فلسطین د مسالې روغول، او له عربستان څخه د امریکې عسکر ایستل ،چې د بن لادن غوښتنې وې پیل شوې.

همداسې ،چې برلاسي له اروپا، امریکا ته لاړه اوس بېرته اروپا ته ځي او په بل پړاو کښې ختیځ ته ځي. اسلامي هېوادونه به برلاسی واخلي که څه هم چین ،روسیه او هند جاپان هلته شته مګر د هغوی خرځ دلویدیځ مدنیت په سردې ډېر یې اقتصادي، رېرونه لري د نفوس ډېروالی هم یو تکلیف دی مګر مسلمانان دومره مصرف او اسراف نه لري خدای تعالی ښه پوهېږي. والله علیم بالصواب

اسلامي هېوادونه اوس هم دښتي ډېرې لري .چې د آبادولو په تمه دي ، د تیلو سرچینې او نور امکانات یې ډېر دي تر ټولو مهمه د هغوی وهېنتوب دی .چې اوس حساب باندې پوه شوي
په اسلامي نړۍ کښې سربېره پر پخوانیو پوهانو او فیلسوف لکه بو علي سینا . امام غزالي ، حکیم سنايي ، بو نصر فاریابي ، الکندي ابن رشد ابن خلدون ابن بطوطه ... اوس په میلیون پوهان او دیني عالمان داسې یو علمي او فیلوسفي ذخیره څوك نه لري .

# د غزني په باب ځینې څېړنې

په افغانستان کښې غزني او غزنویان د تاریخ او جغرافیه له پلوه یو خورا مهم موقعیت لري . کلیفورد باسورث .چې د مرکزي اسیا د څېړنو د مرکز غړی دی . دوه کتابونه یې دلته شته .چې لومړی د سیستان یا ساکستان په باب لیکل شوی . دوه یم د غزنویانو په برخه کښې دی . سربېره پر هغه نور کتابونه ، چې دِ غزنویانو دوره روښانوي هم ډېر دي. دابه ډېره مشهوره وي .چې سلطان محمود غزنوي یا زابلي داسې امپراتوري جوړه کړه .چې له کاشغر نیولې د خزر یا کسپین پورې بیا تر گنگا جمنا پورې غځېدلې وه . کلیفورد بارسوث څېړونکی وایي .چې صفاریان د کوشانیانو او یفتلیانو د امپراتوریو په پل لاړل . بیا غزنویانو همدا لاره ونیوله .
سبکتگین د سلطان محمود پلار خان ترك نه باله . دی هوښیار سړی و د خپل بري دپاره یې دوه مهم کارونه وکړل . لومړی دا .چې د اسلام پاك دین یې ومانه دوم د پخوانیو مشرانو په شان یې په غزني کښې واده وکړ . او په دې توگه یې خپل موقعیت ټینگ کړ . کلیفوردباسورث په دې باب وایي .چې خینې ترك او خلج ترك بولي . دغه خلج او ترك آریایي دي اود غزني او زابل خلك دي او ترك نه دي .
تره کي او غلځي دي په دې باب نور مدارك هم شته .چې همغه نظر تاییدوي . پوهاند حبیبي دا لیکلي دي .چې په تاریخ کښې هم غلا کېږي . وروستی لیکوال .چې د سیاست او ملتپالنې له مخې څه لیکلي هغه غزنویان ترك بولي . ایرانیان یې ایراني شلو بولي دا خبره دفارسي له کبله کوي. دغه دفارسي ژبې موضوع ده یوه بېله تاریخچه لري . چې بېلې خبرې بویه پرې وشي . ساکستان عربو سجستان کړی . فارسیانو سیستان . ددې دپاره .چې د ساك او ساکستان موضوع کده وده وښیي :نو همدغه یادوي .

آرکيالوجي د ساکو په برخه کښې ډېرې خبرې لري .چې دلته يې نه يادوو . ځکه په خپله ډېر تفصيل غواړي . ما ځکه دا بحث راواخست .چې د افغانستان تاريخ مختصر او مغشوش ښودل تر کله ؟ ساك . سور . پاکت يو حقيقت دی . چې پکتانه دي اوس د تعصب خبره لويه شوې ده .ځکه ناپوه خلك د نژاد خبره کوي نه د مدنيت دوی مدني نه دي .چې خبره يې وړه کړې ده . له دريابه ويالې ته راځي .

ځو دې وس وي په لوی درياب کښې ګرځه
په ويالې کښې دې زوال ويـــنم نـــــهنګه

نو غزنوي په ملي تکلونو کښې دوه هم تکل دی .چې په ټولې سيمې پورې اړه لري يعنی ماورالنهر . هند . ايران پورې د دوی د تاريخ لويه برخه په همدغه غزنوي نهضت پورې اړه لري د فارسي ژبه هم دلته حل کېږي .چې د ايران له نظره يې ليدل علمي واقعيت نه دی .

اوس خبرې د غربي ناسونالزم پر بنسټ دي او غلطې دي .

ملك الشعرابهار دا موضوع .چې د زابل .کابل .غزني وي په خپلو عباراتو کښې داسې يادوي "زابلستان نام مملکت نيمروز که عبارت از سيستان است . زمين داور و توران . و غزنه و قندهار تا کابل در اينجا زابلستان ناحيه است که شهر غزنين قصبه ء آن بوده و بعدها آباد و پايتخت سلاطين غزنوي شده است و محمود غزنوي را بدين جهت زابلي خوانده اند

د سيستان په تاريخ کښې راغلي .چې غزني يعقوب بن ليث ملك الدنيا آباد کړی دی . مګر ويلي شو .چې غزني د مسعود له قوله زابلستان پادشاه فيروز بن کبك آباد کړی وي .

په دې ترڅ کښې ګرديز .چې غزني ته نژدې پروت دی حمزه اشاري هلته پادشاه و . دغه مهال .چې څلورمه هجري پيړۍ وه د کابل . غزني او زابل پادشاهانو يو له بله سره اړيکې درلودې .چې بست . زميندار او سيستان سره نښتي و .

د سيستان تاريخ کښې دا هم ويل شوي .چې يعقوب غزني آباد کړی ښايي .چې د غزني زوړ ښار ښيې وران کړي او نوی کړی يي و .

باسوث هم دا وايي ،چې ساکان ، کوشانیان ، یفتلیان ،چې کومې امپراتورۍ درلودې له باکتر تر شمالي هند پورې رسیده یوه مفکوره ،چې وروسته له اسلام ، صفاریانو ، غزنویانو ، غوریانو،هوتکو او ابدالیانو درلوده .

همدغه وجه ،چې نن افغانستان یو مهم ستراتیژیك موقعیت لري . ټوله نړۍ ورته راغلې ده ، دوی له هغو مسایلوویره لري ،هسې نه چې یوحال رانه شي اوحوزه تامین شي.دابه دهغوی فکروي مګرپه ملي تفکرکې بویه هماغسې وي چې مووېل، نو د افغان ژبه، کولتور او تاریخ ته په ښه نظر نه ګوري او دهمدې تاریخي دیوال نړول غواړي، دوی هم مخ په خوړ روان دي.

دکابل ، غزني ، زابل او سیستان دسیمییزو تاریخي کیسې اسدي توسي خپله ګرشاسب نامه کښې لیکلي ،چې خلك له خپلو روایاتو خبر کړي او د فردوسي شاهنامې نه په بلې روحیې لیکله شوې .

د بېلګې په توګه :

سپهدار رشاسب تازنده بود
نه کردش زبون کس نه افنده بود
به هند و روم و به چین از نبرد
بکر دآنچه دستان ورستم نکرد

که د رستم ساك و مګر د شاهنامې روحیه بله او ښایي سلطان محمود غزنوي له همدې امله فردوسي ته څه نه وي ورکړي ،چې روحیه بله .

تر دغه مهاله پورې غزني د لودیانو او لویکانو په لاس کښې و او انواك يې پادشاه کابل ، بامیان ، زابلستان کښې لویان ، د لویانو په باب مونږ نورې څېړنو ،چې دملي وحدت په رادیو کښې ویل شوي .

لوی لواني د دوی ژبه هڅوب هر څه په بین المللي تاریخي آثارو کښې راغلي . افغانستان په داسې یو موقعیت کښې نه وه ،چې تاریخ ته يې پام نه وي . څوك ،چې په تاریخ پوه نه شي خپله آینده نه شي جوړولای ، خدای تعالی دې مونږ له هغې ورځې وساتي ،چې اروپایي کالي مو اغوستي وي ، ږیره مو خریلې وي ، او له ملي تاریخه ناخبره و اوسو دا به د شرم خبره وي .

سلطان محمود غزنوي مجدالدوله د خراسان په جګړه کښې ونيو له هغه يې پوښتنه وکړه : په تاريخ پوهېږې . د اسلام په تاريخ خبر يې . د طبري تاريخ دې لوستی دی شاهنامه دې کتلې ؟ مجدالدوله وويل . هو . سلطان ورته وويل : ستا کار تاريخپوه ته نه پاتې کېږي او د مرګ مستحق يې وباله دغه خبره ،چې د اسلام په سياسي تاريخ کښې هم راغلې مونږ په دې پوهېږو .چې سبکتګين امر عادل او سلطان محمود دواړه په تاريخ پوهېدل ځکه بريالي و . هغه خلك ،چې دپادشاهۍ شوق لري او په خپله ناخبره او حريص ځان په خپله وژني ځکه کارونه يې نتيجه نه لري .

دا د پښتو فارسي د قوم او نژاد خبره نه ده دا د حوزې د سياست او مدنيت خبره ده : نو داسې خلك ،چې په بنيادي سياست نه پوهېږي ، د مليت خلك په بد ډول وژني ځانونه په بل ډول . هماغه و ،چې سلجوقيانو غزني هم ونيوه .

د غزنويانو په مهال کښې داسې پوهان و ،چې نن هم د دوی له کتابو او نظرياتو په اروپا او امريکا کښې ګټه اخستله کېږي او د نړۍ په زرو کلو کښې سل شخصيتونه ياد شوي يو يې هم سلطان محمود و .

## افغان شال ، افغان ، افغانستان !

د افغان رسالې (۵۳-۵۴) ګڼې کښې ،چې ددغې جريدې پنځم خپرونکی کال او جريده بريالۍ پنځم کال ته رسېدلې ده ، د افغان شال په نامه يو مضمون خپور شوی دی .

دغه مقاله د غښتلي شاعر عبدالباري جهاني ده ،چې زه دده د شعر په بند کښې يم ، د افغان شال په برخه کښې خپل نظر ليکم دا به له غښتلي جهاني سره د زړه خواله وي . څرنګه ،چې ده ليکلي د بيهقي په تاريخ کښې پنځه ځايه "افغان شال" راغلی دی او ښکاري ،چې دتشريفاتو يو مرکز وي ،چې پادشاه هلته خلکو سره کتل . ښايي همدلته تصميم هم نيول کېده . وروستي کتابونو کښې د غزنويانو دوره داسې يوه دوره بلل کېږي ،چې افغانستان يو ځل بيا په تاريخ کښې مطرح شوی دی . ميرويس نيکه او احمد شاه بابا په ملي پسې تللي .

غښتلي جهاني وايي د سلطان مسعود د ورونو مالياتو ته څوك نه دي پاځېدلي بيهقي وايي ،چې افغانان پاځېدلي . بيهقي هم د هغه مستقل ذکر کړی دی .

زما د زړه خواله به همدا وي .چې ورڅسته به یې ذکر وکړم او د پښتو یاد به وروازوم .
بیهقي تاریخ کښې لیکل .چې سلطان مسعود وویل له خلکو مال ټول کړئ که یې په
رضا نه ورکاوه په وهلو یې ترې واخلئ وهلو ته یې دري (لت) کلمه په کار کړي .
اسماعیل ښار ته لاړ او خلکو ته یې دسلطان خبره وکړه خلك وتښتېدل . بوسهل
اسماعیل ته وویل : یو دفتر جوړ کړه د دغو خلکو نومونه ولیکه او راټول یې کړه " در
هیچ شهر نبینند که آنجا بدان ور افغان نباشند" دغه دري جملې په یاد کښې وساتئ . په
دې کښې خبرې شته .خلك ونیول کورونه یې وسوځول ځلور ورځو کښې یې یو سل
شپېته زره دیناره ټول کړل .
افغانانو هر چېرې مقاومت کاوه . د بیهقي د جملې پښتو داسې ده " هېڅ ښار کښې یې
نه لیدل .چې هلته افغان نه وي"نباشد" یا "نبینند" دواړه دافرادو جمع ښیي.
مګر داکتر غني او داکتر فیاض چې دوی یواځې دبیهقي تاریخ اهتمام په غاړه
درلودپای پاڼه کښې لیکي دلته د افغان کلمه دفریاد او فغان په توګه راغلي افغان
یعنې فریاد . دا یو یوازې نه دی دوی سید جمال الدین افغان ته .چې ده په خپل نوم سره
افغان لیکه همدغه معنا ورکوي .چې فریاد یې مقصد دی .
دوی د افغان کلمه نه شي زغملای پښتون . خو بیخې پرېږدي . په دغه تازه لویه جرګه
کښې .چې دوې میاشتې مخکې خبره ده دوی وویل .چې مونږ افغان نه یو افغانستاني
یو لکه .چې وایي مونږ هندي نه یو هندوستاني یو دا خبره له ناپوهۍ ده .
افغانستاني او افغان څه توپیر لري ؟ او افغانستاني لا یو څه تاکید په افغان باندې دی
یعنی ډېر افغان یا کلك افغان .
دغه ناروا پښتنو په برخه کښې لرغوني دي بیا به ورته راشو . دا .چې مخکې له بیهقي
افغان بل کتاب نه وي په مروج لدهب د مسعودي کښې راغلي او فرخي شاهر هم ویلي
دي .

بونه، شل افغانیان دوېره وتـــــیز
چودسته بسته بهم تیر های بی سوفار

غښتلي شاعر ښه کړې .چې دا موضوع یې را برسېره کړه او پر هغې د خبرو موقع په لاس
راغله " شال" په کنړونو کښې یو ځای دی .چې د شال پاچاهان هلته اوسېږي . افغان شال
د ځای نوم دی .چې محمودي قصر همله و

ایرانی لیکوال دا ډول خبرې کوي لکه افغان . فغان کړې کله ،چې د دوی خوښه نه وي ،چې افغان ووایي . امیر عادل سبکتګین ترک کړي . بیا یې غلام کړي " د سامانیانو" حال دا ،چې هغه نه ترک دي نه غلام نوې څېړنې دواړه خبرې ردوي . بن بابا وایي سبکتګین یو محلي مشر و ، او ترک تورك ،چې یو پښتون مشر دی ، تورك لنډی توره

د افغانستان په تاریخ کښې همداسې ناتار دی لکه ،چې اوس پر افغانستان دی . که سیل کوټ شال کوټ وي . څوك څه ویلې نه شي .

ځینې لغات لرغوني دي تر اوسنی ژبو . لکه "انا" څلور زره کاله تر میلاده مخکې ده . پیر او میر هم داسې دی . میر افغان رایج نوم دی .

" پښتانه او لرغوني تاریخ" یو لړ هغه مضامین دي ،چې د پیام افغان رادیو کلیفورنیا کښې خپاره کړي دي . مسعود غلځیان ،خزاجیان بولي .

ملك الشعرا بهارد سیستان د تاریخ په پاڼه کښې زنبیل شاه ژنده پیل بولي . لغت که وروسته خپله بڼه واړوي کېدای شي ، خو په خپل مهال سم وي .

هېرودت پنځه پېړۍ مخکې تر میلاده د پښتون اود هغه اړوند قومونو په باب مفصل معلومات لیکلی ،چې په شکل کښې توپیر نه لري لکه پاکت ،پاکتي . پکتیکا .

قومونه لکه ساکان . توري . نري . سرماتي ... مګر ایراني لیکوال په ضمیمه پر هغه هم اعتراض کوي . په جرمني کښې یوه اصطلاح ده ،چې وایي : " سړی ښه سړی دی ، خو پوزه یې د ما نه ده خوښه " دا به بېله خبره وي .

خو دومره نیاو په کار دی ،چې آریایي قومونه د افغانستان له شمال ختیځ په دریو لارو تللي دي ،جنوب . شمال . لویدیځ ؛نو د لغاتو اصالت همدلته بویه وکتل شي .

## له پښتنو سره بدچلند

اوس ،چې غښتلي جهاني د بیهقي د تاریخ خبره پورته کړه له هغه به یوه مهمه موضوع راواخلم ،چې ټول پښتانه په دې پوه شي ،چې د دوی مخه بنده ده او په ټینګه پښتو دوی له دې حالته وتلی شي .

دغه موضوع . چې اوس یې د بیهقي له تاریخ اخلم . دوه مطلبه رښوي . لومړی د پښتنو سره دوه مخي دوه هم دا ،چې ټول پښتانه ،چې لوستي خلك دي فارسي پوهېږي . دی نه اړتیا نه لیدل ،چې فارسي متن په پښتو واړوم . بې کفایتي د هغو ده ،چې لوستی ځان

بولي په پښتو نه پوهېږي ، د غزنوي د امپراتورۍ له پلوه د خراسان والي ابوالفضل سوري و . اوس ولولئ ،چې بيهقي په لومړۍ برخه کښې څه وايي او په دوه همه برخه کښې څه وايي دا زر کاله دغه مخه نه ده بدله شوې .

## په خراسان کښې د ابوفضل سوري ښه کارونه

مگر سرسر ستمکاري ، مردي نيکو صدقه نماز بود و آثار خوش وی را به طوس هست از آنجمله مشهد علي بن موسی الرضا (عليه السلام) که " بوبکر شهمرد " که خدای قائق الخادم خاصه آبادان کرده بود سوری در آن زيادت های بسيار فرموده بود . مناره کرد و دهی خريد فاخر و بران وقف کرد و نيشاپور مصلی را چنان کرد که ، هيچ روزگار کس نکرده بود از امراء و آن اثر بر جای است و درميان محلت بلقا باد وحيوه رودي است خرد ( کوچک) وبوقت بهار آنجاسيل بسيار آمدي و مسلمان را از آن رنج بسيار بوري مثال داد ( فرمان) تا سنگ وخشت پخته ريخته کردند و آن رنج دور شد و برين دو چيز وقفها کرد تا مدروس نشود ، و برباط فراوه و نساتير چيزهای بانام فرمو و برجای است.

تر دی ځایه سوري دېر ښه کارونه کړي د ستاینې پر ځای دا خبر ورته کوي :

" و این همه است ، اما اعتقاد من وهمه آن است که بسيار ازين برابر ستمی که بر ضيفی کنند نيستند" بيا يو عربي ليکي . بيا داسې وايې : " نان همسايگان در ديدن و همسايگان دادن در شرع نيست "

د سوري دېبول لا پاتې دي او دا شعر وګورئ :

امیرا بسوی خـــراسان نـــــر
کــــه سوری همی بندوساز آورد
اـــــر دست شومش بما ند دراز
بـــــه پـــيش تـــو کاری دراز آورد
هــر آن کار کانـــرا به سوری دهی
چـو چــــوپان بــــد داغ باز آورد

دا و د امير مسعود په دوره کښې د يوه پښتانه سوري حال ،چې د بيهقي په تاريخ کښې راغلی ، سوري صادق مسلمان و کارونه يې تر اوسه ،چې زر کاله شي پاتې دي ،خو بد سړی و . د زړه خواله همدا ده ،چې ای پښتنو ، که دومره نيک آثار ولرئ تاسو ته څوك مخ

نه درکوي . پښتانه ،چې افغانان له اسلام او پښتونولي ،چې اسلام سره مغأیرت نه لري له هغه نه تېرېږي .
په نورو آثارو کښې پښتانه د دېرش زرو کلو مدنیت لري او دا استادانو لیکلي او د دوی کتابونه په پوهنتونو کښې چاپ کړي .
جهاني صاحب د بیهقي د تاریخ یادونه وکړه دغه تاریخ سم څېړل غواړي . ډېرې نورې خبرې ترې څرګندېږي . بیا هم ډېر حقایق ورڅخه ښکارېږي . بیهقي د افغان شال خبره کړې ته وا ،چې فرهنګ او غبار دا کتاب نه ولیدلی ، چې د افغان په باب یې څه ویلي وای ؟ ټوله خبره یې د شاه شجاع زمانې ته راښکلې ده . ځکه چېرته افغان وي هلته افغانستان وي .
په خپل وطن کښې خپل مونږ نه د افغانستان سند غواړي یا ځان افغانستاني بولي ،چې افغان نه یم افغانستاني یم هغه افغانستاني وي افغان نه کلک ناپوهـ دي او د افغانستان لویه جرګه دې راښکته شوه .
مونږ به هېڅ هغه څوك ونه بښو ،چې روس . امریکې په توره یې افغانان وژلي وي . ما کرزي ته ،چې اوس جمهور رئیس دی دیوه لیك په ځواب کښې لیکلي و . ته چې د ظالم او عادل سره یو ځای کار کوي هغه وطن نه جوړېږي .

# نوي محصولات

دا د وخت سره سم یوه نوې اصطلاح ده ، په دې معنی کله ،چې انګلیسان و د انګلیس محصولاتو خلك حکومت کاو ،چې روس راغی د روس محصولاتو حکومت کاو اوس ،چې امریکا له روس سره جوړ شو واده یې وشو نوي محصولات همدا دي ،چې دواړو ته کار کوي . هند او ایران د واده شاهدان دي . دوی هم هلته دي . وګوری رشید دوستم فهیم او نورو ته .
محمد ظاهر شاه بابای ملت . فهیم مارشال . د احمد شاه مسعود دولس کلن زوی ستر جنرال نوي محصولات دي له دوستم سره یو ځای دي .
ظاهر شاه که څه هم ۸۷ کلن دی نوی محصول ځکه دی ،چې هغه نه دی ،چې پخوا و او مارشال یې سردار شاه ولي و . نایب سالار یې عبدالوکیل خان . اوس یو دوولس نایب سالار دی

له ښې مرغې د دغو نوو محصولاتو نومونه په لست کښې راغلي دي . چا ،چې ویل مونږ نه شرقي یو نه غربي افغانستان د افغانستان دپاره غواړو هغوی هم په نوي محصولاتو کښې هم شرقي شول هم غربي ، هم هندي شول هم ایراني لکه فایض . قانوني او رهین مونږ بویه دوره په گوته کړو پېژندنه یې وکړو او خصوصیات یې وښیو یعنې تعریف او شناسایې وکړو . غښتلي جهاني سمه کړې ،چې افغان شال باندې چا خبرې نه دي کړې

چې زما په چمن راشې گستاخي کړې
د شـــــبنم په څېر یې عمر یو زمان کړې (رحمان)

# افغان ملي اصول او حکیم سنایي

افغان ملي اصول د یوه افغان حکیم له نظره د لومړي خل دپاره څېړم ددې دپاره ،چې افغان اصول نن له ډېرو لوړو ارتیاو څخه دي

دغه ملي حکیم او فیلسوف ابوالمجد مجدود بن آدم سنایي غزنوي دی . د خوشحال خان خټک ملي انګازې مخکې ښودل شوي

سنایي خپل هېواد داسې ستایي :

بسکه شنیدی صفت روم و چین
خیز و بیا ملك ســنایي بــین
تا همه دل بینی بــی حرص و بخل
تا همه جان بـــینی بی کبر و کین

په بله برخه وایي :

بیك روزه رنج دایـــي نیرزد
جمله نج محمود زابلستاني

په بل ځای کښې وایي :

چهار وهر چارپایه عرش و شرع مصطفی است
صدق و علم و شرم ومردی کار این هر چاریـــار

مونږ ګورو ،چې هېواد پالنه ، پر ځان ویسا درلودل ، صداقت پوهه ، حیا او خوانمردي ،چې ځلور یارانو درلودل دا د عرش ځلور ستني دي ، د نیا او اخرت پر ځلورو ستنو درول زمونږ د علم هینداره ده .

دل حیرت آفرین است بهر سو نظر کشایم
در خانه هیچ کس نیست اینه است ومـــایم

ځوك نه دي پاتې :

نشته داسې ځوك ،چې د زړه حال ورته بیان کړم
خاورې ننګیالی شول زړه مې تور دی له ژوندون ځنې

****

نـیك پشتي آمــدند الـحق نهاد شــرع را
آل مــــحمود از سنان و آل حداد از یمـــان
یـــك جهان شرین لبند از عشق آن فرهـاداو
او زنـــا ه شـــد رنجت نیك ماشرین ما
قوت فرهاد و مـلك خسروت چون یار نیست
دعوی اورا زلـف وخال و چهرهٔ شرین مـکن
صـــانعی بـــاید حکیم و قادر و قایم بـذات
تـــا پـــدیــد آیــد زصـنع وی‌بتان قندهار
خاطر کمتر راچه شعر مـــن چـه نظم ابلهی
کور عتیق را چه سناس وچه نـــقش قـــندهار

## ملي اصول او حکیم سنایي :

هېواد پاله ، صداقت ، پوهه ، حیا او مېرانه ، ځلور ګوهر دي ،چې د حضرت مصطفیٰ د هر یار صفت په کښې یاد شوی ، پښتانه همدا وایي د افغانستان ټول ملت په همدې لاره دی ، ملت په همدې جوړېږي یعنی له دغو اصولو ،چې دنیا او آخرت پرې اباد ېږي ، همدغه پښتون تاجك ، هزاره ازبك ټول همدا غواړي .

د عام ملت لاره منورو د غربي هېواد وراغلو پوهانو یا به لویدیځ اصولو مینانو بنده کړې ده ، د غربي فلاسفو خبرې کانت ، روسو ... سنایي ځوك نه یادوي ، حکیم سنایي لاره ښودلې ده .

# صداقت پوهه ، حیا او مېړانه

اوس مونږ بویه له دوو ژبو یوې ژبې شو او له نژادي شعور په ملي شعور بدل کړو . حکه افغان مسلمانان څلور ګوهره له څلورو یارانو واخلو د سړي لاره بویه پاکه وي .چې څلور یارانو ته نژدې شي او آخرت روڼ شي .

درې ژبه زمونږ یوه ژبه ده ، خو دري نه ده پاتې ایراني ده . یوازې د حکیم سنایي په دیوان کښې زرلغاتونه پوهېږي :نو دري پوهېږي . حال دا .چې په یوې ژبې کښې سړی په څلور سوو لغاتو پوه په همهغه ژبه خپل مطلب ویلی شي .

## دري ژبه :

دري ایراني نه ده تاسې به هیښ شئ .چې د حکیم سنایي غزنوي په دیوان کښې نژدې زر لغاته په ایراني ترجمه شوي د حکیم صاحب او بیدل دیوانونه په ایران کښې نه لوستل کېږي .

څکه دري د هغو ژبه نه ده د ناهیلې خبره دا ده .چې اوس په افغانستان کښې دري نشته ایراني ده .

د شهر سمك په کتاب کښې دومره دري ده .چې په ایراني فارسي بویه ترجمه شي ، د پښتو ژبه په اریایي ژبو کښې ډېره غني ده په انګلیسي او جرمني کښې پښتو لغات ډېر دي . په اساسي قانون کښې بویه ژبه پښتو وي که سبا پښتونخوا کښې پښتو رسمي شوه د افغانستان ملي یووالي ته تاوان رسېږي .

د حکیم سنایي له مخې خپل ځان په ملي او دیني اصلونو برابرول د قبیلوي شعور. ملي شعور ته تلل .

یوه ژبه کېدل . صداقت پوهه ، حیا او مېړانه خپلول ، ګدایي پرېښودل .

# لرغوني افغانستان د تاين بي له نظره

دا .چې د تاريخ په بيان کښې بدلون راغلی ، لومړی هماغه دی .چې ۱۹۲۰ کښې د سند يا اباسين .چې د کابل رود هم بلل کېږي د سند د مدنيت ښارګوټي تاکيد کښې وموند هرا په او موهنجېدارو د آباسين په اوږدو تر بحر پورې .

وروسته تر دغه د انګليسان تاريخپوه او فيلسوف د تاريخ دنوې فلسفې کتاب .چې ډېر لوی کتاب دی وليکه وايي پنځلس زره پانې دي .

د تاريخ نوې فلسفه د لرغونو مدنيتو علمي اقتصاد او سياسي اړيکي او داوسني نړۍ مدنيت .چې له هغو اخستل شوي او نوې څېره لري .

تاريخ داسې بيانوي .چې بشري مدنيت له افغانستان پېل شوي ، د سوريانو او ساکو باکتر خبرې ډېرې کوي . او هر ځای د افغانستان نوم يادوي .

تاين بي وايي د افغانستان موقعيت لس دولس زره کاله په خپل حال پاتې و . دی د لرغوني زمانې دوه مرکزه يادوي .چې يو يې د سوريې په شمال کښې او بل يې په افغانستان ، د مالونو حمل او نقل د بار وړونکو څارويو او لويو کاروانوکښې له افغانستان څخه پېل کېده ، دسوريې له شمال نه مديترانې ته ورسېدل او د جبل الطارق له تنګي بحر ته تلل .

د هندوکش له لارې .چې يوه بله دوره يې وهله شمالي افغانستان ته تلله بيا يې هماغه مسير نيوه. افغانستان او شمالي سوريه تله په دغه مسير کښې د پانګې او زېرمې آبادي صنايع مهم مرکزونه همدا و . د افغانستان هماغه زېرمې وې .چې موزيمونه ترې ډك شول .

تاين بي د افغانستان خبره تر نولسمې پېړۍ رسوي .وروسته له هېرودت نه ، تاين بي ، سور ، ساك ، پاکت او ډېر نور مدارك په علمي دلايلو بيانوي ، چې ساك ، سور ، پاکت .متاني .لودي .اورهيتي ، پارت ، ما د ټول او ټول له يوې سرچينې بولې . چې ژبه يې آريايي او په خپله آريايان دي .

پروفېسر تاين بي د متاني او کاسي په برخه کښې داسې وايي : پخوا تر ميلاده په اتلسمه پېړۍ کښې ستري انساني څپې بين النهرين او سوريې ته راغلی .چې سانسکريت ژبې و ، په اتلسمه پېړۍ کښې متاني دولت جوړ کړ او د هغو له ډلې نه کاسيان بابل ته لاړل ښارونه يې اباد کړل ، شپږ پېړۍ يې بابل وساته .

تاين بي وايي : د بين النهرين ، سند اونورو مدنيتو دننه په خپلو کښې يو ډول تورات او پيوندونه درلودل .

د تاين بي د تاريخ د نوې فلسفې کتاب ډېر غټ دى . حتى ده په خپله ،چې خپل کتاب باندې نوى نظر کاوه اووه کاله يې ورباندې تېر کړل .

که هېرودت تاين بي او "شپنګلر" غونډې تاريخ پوهان نه واى مونږ به ډېرې ناروا هم اورېدلې وې .

په ۱۹۲۶م کال کښې اعلحضرت امان الله خان له دغو مسايلو سره ډېره علاقه پيداکړې وه او ده له لرغون پېژندونکو وغوښتل ،چې د پښتو د تاريخ په حقايقو دې پوه کړي ، او په خپله به هم کاپيسا او بګرام ته ورتې او کيندنې يې کتلې دي ،ده دکابل موزيم جوړ کړ .لومړى موزيم د ارګ په کوټې باغچه کښې و او د خلکو ورتګ آزاد و .

همدغه افغانستان ،چې د نړۍ خزانې او موزيمونه د دوى له طلاو او صنايعو ډك شوي اوس هم ،چې همدغه هفته وي وويل شول ( چنګاښ – ورى ۱۳۸۱ ) ،چې افغانستان کښې د لرغونو زېرمو لوټمار روان دى او جريان لري .

اصلي ګټې کيان نقشې افغانانو ته ورکوي ،چې نبغ خزانو ته لاره وکړي . نن د ورې(۱۴-۱۳۸۱) د سپټمبر پنځم ۲۰۰۲ د کابل په ښار کښې بم و چاود ۴۰ کسه مړه او ۳۰ ټپيان شول يعنى لرغونې شتمنۍ په يوه لاره ځي او خلك مو په بله .

د تاريخ فلسفه همدا ده ،چې دولس زره کاله دمخه بشپړ امنيت و .په هومره لويه ساحه کښې مګر نن نشته ،حتى د کابل ښارکښې .

پروفېسر تاين بي دخپل همدغه فصل په پاى کښې وايي :

کله ،چې په شلمه پېړۍ کښې اروپا خپله برلاسي په دوو لويو جګړو کښې له لاسه ورکړه ، دغه د لارښونې نقش امريکا ته په لاس ورغى ، راتلونې (راتلونکى) څرګند نه دى مګر داسې برېښي ،چې په نړۍ کښې به لارښونه له امريکې نه شرقي آسيا ته ولېږدي .

يو بل تازه خبر د افغانستان د لرغوني تاريخ : د آرکيالوجي د مجلې د فبرورۍ – مارچ ګڼه ۲۰۰۲م د صفحې په سر يې ليکلي : سپېشل رپورټ : راپور ډېر دى ،خو بنسټيز مطلب يې دا دى ، د عاجو د يوې ښکلې مجسمې عکس دى په څنګ کښې يې ليکل شوي .لومړۍ ميلادي پېړۍ د عاجو مجسمه دکابل باګرام څخه

د مه سه دونیا Macedonians د پاچا امن تاس عاقبت داسې ،چې د ده د عاجو مجسمه د کابل په موزیم کښې وه . مګر اوس په بین النهرین بازار کښې د پلورلو دپاره اېښودل شوي . دغه مجسمه ،چې څومره قیمت لري په دې خبرې نه کوم که داسوال وشي ،چې دمه سه دونیا او کابل د باګرام څه اړیکې وې ؟ دا هم د تاریخ مهمه برخه ده .

## د آباسین ،سنده او اندوس مدنیت

دغه مدنیت په نړۍ کښې لرغونی مدنیت دی ،چې ویل کېږي . درې زره کاله مخکې تر میلاده وي (BC ۳۰۰۰) یوسل د پنځوس ښارونه یې درلودل او د ژېړو ( مس) په مهال پورې اړه لري ،په سند کښې دغه مدنیت د همدغې رود یعنې سند ، سیند ، اباسین او اندوس په نامه دي Mohanjidaro په پنجاب کښې Harapa هراپه په لویدیځ نړۍ د اندوس مدنیت بلل کېږي The Indus Civilization ،چې تر ۱۹۲۰ پورې نه و پېژندلی شوی په راجستان کښې د Kalibangam کالي بان ګن ښار وموندل شو ، مکران د شا او خوا له دغو ښارونو څرګندېږي ،چې افغانستان د سند د مدنیت په غوټ مینځ کښې پروت دی .

د همدغې لړۍ له مخې داسې ښکاري ،چې ښاري مدنیت Urban Civilization له افغانستان او بلوچستان څخه خوځېدلي او لویدیځې نړۍ ته رسېدلي Bc ۴۰۰۰ څلور زره کاله مخکې نه میلاده د دوی کرنې پراختیا وموندله او راز راز غلې دانې یې وکرلې .

د افغانستان په ختیځ کښې تاکید او بلوچستان کښې مهر ګر دننه په افغانستان کښې او لویدیځ کښې سوی ښار ( شهر سوخته ) اوس د افغانستان او تاجکستان کښې دننه په افغانستان لوګر ، ګردېز

تر دې ځایه و د بهرنې صنایعو معلومات اوس وګورو ،چې مسعودي په دې باب څه وایي :
ابوالحسن علي بن حسین مسعود ۳۳۲ هجري .

د نړۍ د اخبار پوهان وایي ،چې وروسته له توفانه لومړني پادشاهان سوریاني دي ،څوك وایي نبطیان دي ځینې وایي د لودماش ورونه دي ځینې هم نور څه وایي

د دوی لومړنی پادشاه سوشان نومېده . لومړی سړی و ،چې تاج یې پر سر کېښوده ، نورو پادشاهانو د دوی اطاعت وکړ شپاړلس کاله پادشاه و .

د دوی یو پادشاه ،چې اهر یمون نومېده لس کاله پادشاه او دغه کړونه یې وکړل . د ښارونو او ولایتونو حدود یې وټاکل د هېواد د تینګښت په کار کښې یې هڅه وکړه او هغه یې آباد کړ په تومن کښې نظم راغی د هند یو پادشاه د دغه هېواد له آبادۍ او پیاوړتیا څخه ووېرېده او دا ،چې سوریاني پادشاه غواړي نور هېوادونه ونیسي دغه هندي پادشاه د هند پر ټولو هېوادونو

حاکم و . دده ملك د هند او سند په حدودو کښې و :نو د غزني بست او د اور په لوري وخوځېده .چې د هېرمند پر غاړه پروت دی . د هېرمند سیند د سیستان سیند دی اوس .چې هجري درې سوه او دوه دېرشم کال دی د سیستان د خلکو د تفریح او تجارت ځای د هېر مند غاړې دغه سیندته تر دبست سیند هم وایي .چې تر سیستان پورې په کښتیو کښې مالونه وړل کېږي . په سیستان کښې بادي ژرندې دي .چې په یو وخت هم غنم او غله اوړه کوي او له ځا اوبه راوباسي او باغونه سمسوروي او په ټوله نړۍ کښې داسې ښار نشته .چې له بادو څخه دومره ګټه واخلي . د مسعودي له دې وینا ځرګندېږي .چې وروسته د نوح (علیه السلام) له طوفانه ودانې . مدنیت اوصنعت .چې بادي ژرنده یې ښه مثال دی .چې هم ژرنده وه او هم یې ځمکې خړوبولې . که دا مهال وای د برېښنا د تولید ګټه به یې هم اخستله . د کښتی او مالونو وړل خو هسې هم و .

کوم تاریخ .چې د سند د مدنیت دپاره لکه درې زره کاله مخکې تر میلاده دا هم په سمه توګه ځرګنده نه ده .چې دغه نېټه سمه ده د ځینو اثارو ګکه تله . تجارت کښې په کارېدله . دومره یو لوی حمام .چې دېرې کوټې لرې او په منځ کښې یو لوی حوض .چې ۱۰۸ په ۱۰۸ فیت دی . تاریخ پوهان وایي ښایي دا د مذهبي مراسمو دپاره مخکې تر دې .چې خلك حوض ته ننوزي فوارې دي .چې دغه مینځي .

دغسې یو حوض اوسنی نړۍ کښې نه لیدل کېږي.چې په ژمي او اوړي کښې تودې او سړې اوبه برابرېدلې د سند ودانی او مدنیت په ۱۹۲۰م کښې وموندل شو او ۱۹۳۱ م پورې دوام درلود . سر جان مارشال Sir John Marshal ۱۹۵۰ سرمارتیمر ویلر Sir Martimer Wheeler یو ځل بیا دغه سیمه وکتله دوی وایي ښار ماستر پلان درلود . اوبه بېلو بلاکو وېشل شوی و . مهمې ودانۍ یې درلودې

هره برخه هر څه جوړه کړې وه د همغه سرې په نامه یادېده . بانډې له ښاره شنه سمسور ښوبنه و . بیا د کرنې سیمې د یخو ځښتو په شناختوبېلېدلې چې همدغه ډول ځښتې بین النهرین او مصرکښې هم لیدل شوي. همدغه د سور مدنیت چې له سند نه تر مدېترانې پورې خوځېدلی و. په همدغه مهال اروپ کښې کرنه نه وه ښارې ژوند نه و . څو همدغه سور . مهال اوپاکت ورورسېدل او د هغوی ژوند ته یې بدلون ورو ښه په دغو مدنیتو کښې تراوسه داسې لیکنې نشته .چې لوستل شوي یې داسې څروي او بوتې .چې نه پېژندل کېږي

په دې برخه کښې به د کابل په برخه کښې دا وو ایم .چې په ۱۳۱۶ هـ ل کال کښې .چې د کابل په شو او خوا کښې دوه ډوله خربوزې وې .چې یوې ته یې سرده ویل اوبل ته یې طلا قبلي زرده ژېړ پوټکې درلود خپله سپینه وه خواږه کړینده خوږې کېده

د طلا قبلي پوټکی شين او طلایي رنګ درلوده او کرښې وې مینځ یې نرم شين رنګ .چې د زرو ډېر خوښېدل خوږ او عطرناك ورم یې لاره په وروسته کلونو کښې یعنې ۱۳۴۰ هـ ل کښې

نه يې وجود درلود او نه چا پېژندل يا دوناب ونه ،چې زمونږ د ښوونځي په بڼ کښې وه ، يا ژېړ ارغوان ،چې ګذرګاه په غزه کښې وه . د واصل آباد په غرو کښې خړې سويې او زرکې وې ، بيا ورك شول ، په لرغوني زمانو کښې داسې بوټي او څاروي و ،چې بيا يې نښه ورکه شوې ده .

دغه راز که داسې شيان په ليك کښې راغلي وي څوك يې نه شي پېژندلای ،مرغان هم داسې دي ،چې نسلونه يې ورك اوس په دې‌ږنړۍ يوازې په ژوبڼ کښې د ځينو څارويو او مرغان يوازې نمونې ساتل شوې . زمونږ نړۍ له وګړو ډکه شوې ده . ډېر څاروي او مرغان له مينځه تللي دي خطر دا دی ،چې دا مدينت به هم پای ته ورسېږي .

د سند مدنيت کښې د نوې نړۍ ،چې اوس زرېږي اندازه لکه ،چې متر ، وزن لکه کيلو دا ټول ليدل کېدل لکه ،چې اوس دې کوم ،چې شپږ اووه زره کاله دمخه و .

مهم مسايل په لرغوني تاريخ کښې ډېر دي ، پښتانه په څو څپو کښې د هندوکش له غره تېر شوي او جنوب ته راغلي دي ،چې تاريخ يې په نښه کوي .

پاکت له باکتري ، ساك له سور سره يو ځای شوي دي ، پښتو ژبه او پښتونولي د دوی هويت به همدا وي يا به نه وي

# ماه ملك اوسلطان رضیه

د افغان په ملي تاریخ کښې ښه مثالونه ډېردي باري بدمثالونه هم شته خو د ښو مثالونو ورکول د ملي تاریخ کار دی.

ماه ملك دسلطان غیاث الدین غوري سوري لور وه ، مونږ د هغه‌څه او صاف بیانوو ،چې د افغان پېغلو لپاره په زړه پورې دی.

دا مبارکه په تاریخ پوهېدله دې د ملك الکلام مولانا فخرالدین هغه تاریخ لوستی و ،چې د سوریانو په باب لیکل شوی و . ماه ملك مبارکه پوهیدله ،چې یو هېواد څنګه ، ودانیږي او سیاست څنګه وي.

دغه کتاب ورك شوی و خو ددې په حافظې کښې یې مطالب و ،چې بیایې د لیکلو هڅه وکړه . منهاج الهراج وایي د ماه ملك خط لکه مرغلرې ښکلی و، دا د قرآن شریف حافظه وه ، دې دومره مهارت درلود ،چې هر کال بې د قرآن پاك ختم په دوه رکعت لمانځه کښې کاوه او دې ته دا ختم کول آسانه و.

ماه ملك د خپل معظم پلار ابوالفتح غیاث الدین ،چې د آسیا له څلورو برخه یوه برخه یې په لاس کښې وه د سیاسي مشاورې په توګه کار و یوه حافظه وه ،چې ټول اخبار دې سره و.

کله ،چې سلطان غیاث الدین وفات شو شهزادګۍ اوه کاله د لمانځه پرځای کښېناسته او د لمر مخ یې ونه لید څو مړه شو.

دغور خلك دې ته د یوې بزرګې په سترګه کتل او ددې د خاورې زیارت ته تلل. دا پېغله مړه شوه خپل ژوندیې د افغان هېواد لپاره ځار کړې و.

یوازې ماه ملك نه وه له دې ځمکې معظمې میرمنې ولاړې شوي دي لکه ملکه جلالی او سلطان رضیه .

## السلطان رضیه الدنیا والدین

رضیه لوی پادشاه و ، هوښیار ، عادل ، کریم او د پوهانو پالنه یې کوله دده پر مهال عدالت خپور رعیت ترې خوشحال و ، لښکرې کارونه یې په ښه توګه کول او دلویو پادشاهانو ښېګڼې په ده کښې وې.

سلطان رضیه د پلار په مهال هم د عسکري او دفاع کار کاوه. او د بري په قصر کښې اوسیده.

کله ،چې شمس الدین پادشاه امرو کړ ،چې رضیه دی ولیعهد وي . امیرانو وپوښتېده ،چې په دې کښې څه حکمت دی ،چې له زامنو یونه پادشاه کوي خپله لور پادشاه کوي؟

پادشاه وویل : زما زامن په عیش او عشرت لګیا دی د پادشاهی لایق نه دی ، تاسو ته به څرګنده شي ،چې دی به ښه حکومت ولري.

همداسې وکله ،چې سلطان رضیه پادشاه شوه عدالت او امنیت تامین شو وروسته له هغه سلطان فتوحات وکړل او د خلکو رضایت یې ترلاسه شو . نو امیرانو دا ویل چې :څنګه یوه پېغله دومره بریالی وی ؟

له بلې خوا هر چاغوښتل ،چې دې سره واده وکړي او دا موافقه نه وه سلطان رضیه د هند له لویو پادشاهانو نه وه.

سلطان رضیه په دې لیکنه کښې د طبقات ناصري په اقتصاد مونث نه دی یادشوی .

المعزی د سلطان محمد بن سام شهاب الدین غوري نوم دی ،چې له ده وروسته دده په اعزاز او تعالیم تول پادشاهان په ډیلي د المعزی په نامه یادیده او په سکه خطبه هم راته یعني دغه لړی پادشاهان تول المعزی و او د هغه تعالیم یې پر خای کول ،چې عدل او انصاف یې کاوه دغه سلسله پنځه سوه کاله د بابر تر راتګ پورې پر خپل حال و.

له غزنویانو سره شپږ سوه کاله افغان سلطنت و.

## غز او ترک :

په شمال کښې ،چې غز او ترک و په جنوب کښې دغه نومونه و خلك هغه نه و تاریخپوهان وایي ،چې په غزني . زابل او کابل خلج . غز او ترك آریایي دي

چې له غز ګر او تورك نه نوږو نیکوالو ،چې غرب یونانی او اروپایي و په دې نه دي پوهیدلي د تلفظ له بدلولو سره یې معنی هم بل شاني شوې

نامتو استاد احمد علي کهزاد د ګرشاسب نامه په څېړنه کښې توضیع کړې کلیفورډ باسورث هم په خپلو څېړنو کښې ویلي دي.

## د ملي تاريخ فلسفه :

کله ،چې ماپه ۱۳۷۱ هـ ل د ملي تاريخ فلسفه او پښتونولي وليکله يو شمېر خلکو د ملي تاريخ فلسفه يود ناسمه اصطلاح وبلله دوی نه پوهېدل ،چې تاريخ اوفلسفه نږدې اړيکې لري . همداسې ،چې فلسفه تاريخ لري تاريخ هم فلسفه لري.
داده د ملي تاريخ فلسفه د غوريانو په مهال کښې په څرګند ډول ليدل کېږي .
ډېرو پښتنو پادشاهانو خپل ځان پادشاه نه کړل ،چې په هغو کښې يې دا صلاحيت نه ليد جهان خان لودي وويل :" زه له پنځوسو اوښتنی او ځامن مې نه شي کولای د هند ځمکه اداره کړي "
سلطان معزالدين په خپله اصطلاح غلام يا مريي ته سلطنت پرېښود ،چې قطب الدين ايبك و . تاريخ منظم ناصری کښې ويل شوي ،چې افغانانو اسيران نه ساتل که يې ساتل د خپل اولاد په توګه يې ساتل.
يعقوب صفار غلامان روزل بيا په دولتي چارو مقررول او هر کال يې غلامان اخستل او آزادول سلطان غياث الدين او سلطان معزالدين غوري هم دا کار کاوه احمدشاه بابا هم داسې و . راشئ افريقايان په امريکا کښې وګورئ ،چې څه ورسره وشول؟ او تر اوسه کېږي.
د انساني اخلاقوله مخې لوی افغانان له لويديځ او امريکا سره نه پرتله کېږي د هغو په مقابل کښې يعنې لويو افغانانو دوی مدني نه دي بللي.

**دغورصنايع** : دغه موضوع د پلټنې ده ،چې ولې غور يو صنعتي هېوادو ؟ او د غور صنايع صادريدل د غور وسله نامې وه د علاوالدين غوري او سلطان سنجر جګړه په همدې ،راغله ،چې غور پر سنجر وسله بنده کړه .
آهنګران د غور صنعتي ښارو .
فيروز کوه پلازمينه وه.
سنګه آباد او منديش يې ښارونه ول.
همداسې په ټول غور کښې زرجنګی کلاوې وې پوهان او عالمان پردوی راټول و که د اټول و څېړل شي ملي فلسفه او د ژوند لاره څرګندېږي. هو که د لويديځ بد اخلاقيو او ظلمونو ړانده کړي يو بيا خبره بله ده

# سلطان محمود غزنوي - زابلي

امیر اجل سید یمین الدوله و امین الملت وکهف الاسلام
ابوالقاسم محمودبن ناصرالدین والدولة سبکتګین رحمه الله علیهم

امیر اجل ، امین الملت سلطان محمود د عادل امیر سبکتګین زوی :
د افغانستان په اسلامي تاریخ کښې دوه هم ملي پاڅون دغزنویانو دی په دې دوره کښې حوزه یو ځل بیا تامین شوې ده .
له نېك مرغه لااوس داسې اسناد شته ،چې د هغې لـه مخې مونږ پوهېږو سبکتګین او محمود دواړه ،چې پلار او زوی دي سپېڅلي افغانان دي ، دوی ترك نه دي تره کي دي .
د دې مطلب دليلونه د همدغې ليکنې په درېيمه برخه کښې راغلي دي .
ددې خبرې سپیناوی ضروري دی ،چې د یوه تصادف له مخې دري یا فارسي د عربي پر ځای راغله ، د هغه بیان دا دی ،چې په ځلورمه هجري پېړۍ کښې یوه شاعر د یعقوب صفاري ،چې ساکزی و ستاینه په عربي ژبې وکړه . یعقوب ملك الدنیا پوه نـه شو، نو پـه کلکه یې وویل : " په هغه ژبه ،چې پوهېږم ولې څه راته وایئ ".
محمد وصیف دده د زړه ښه کولو دپاره په فارسي د ستاینې شعر ووایـه د سیستان پـه تاریخ کښې لیکل شوي . تر دې مهال پورې پارسي لیکنه نه وه او دا لومړی ځل و ،چې پارسي په شعر وویل شوه او ولیکل شوه .
د سیستان تاریخ وایي " بن فحله " ،چې په خپله ساکزی و هم پارسي شعر پېـل کړ . او یعقوب صفار تـه یې شعر ووایـه . لـه دې ټکي داسې بریښي ،چې کـه همدغـه مهال " وصیف" "بن فحله" پښتو شعر ویلي وای ،نولې رسالې او دیوانونه پښتو کېدل او هند تـه به هم پښتو تللې وه او ماورالنهر ته هم ،چې پښتانه تر اوسه هم د ضرورت په مهال پښتو نه وایي .
وروسته له هغه ،چې غزنویانو هم پارسي وپالله هند ته هم لاړه لـه بله پلوه د ژبې موضوع وروسـتـه اهمیـت ومونـد او د نولسـمې پېـړۍ پدیـده ده ،چـې د روس پـه دربـار کښـې فرانسوي وه او بیا وروسته روسي شوه . دپارسي لمنه لـه ترکیې او هندوستان څخه ټوله شوه .

ازبکستان ، ترکمنستان کښې ازبکي او ترکمني د پارسي پر ځای راغله ، له بده مرغه پارسي يا دري له زرنج نه غزني او له غزني نه غور ، بيا قندهار او کابل کښې د رسمي ژبې په حال کښې پاتې شوه .
اوس هغه مهال رارسېدلی دی ،چې په افغانستان کښې يې لمنه ټوله شي . ځکه وروسته نژدې دوې ژبې په يوه هېواد کښې نه ځايېږي ،چې دواړه رسمي وي . اکثريت په ډېره کې وي ، هر تومن کښې بېلې ژبې دي ،خو رسمي يوه وي . د نړۍ د يو سل نوي هېوادو مثال ځوك نه وايي ، يوازې سوېس يادوي .
د عمر په دې مهال کښې ددوو ناروا خبرو وځورولم ، لومړی دا ،چې په" سويس کښې دري ژبې رسمي دي ، دوه هم دا ،چې امنيت په محبس کښې هم شته ."
د سويس موقعيت ، سياست او اقتصاد وګورئ بيا افغانستان : افغانستان ،چې سوېس غوندې شو بيا دې پنځه ژبې په کښې راشي .
د طالبانو په مهال کښې امنيت و دا خبره په شرق او غرب کښې کېدله ،چې امنيت خو په محبس کښې هم وي نو څه ؟ چېرته ،چې امنيت وي زندان ته حاجت نه وي د ټولې نړۍ لښکرې افغانستان ته راغلې ، امنيت ټينګ نه شو د الښکرې د هغه افغانانو په مرسته راغلې ،چې په ملي تاريخ کښې هغو ته متعصب اجساد ويل کېږي .
نو که په غزني کښې د سلطان محمد په مهال څلور سوه پارسي ژبي شاعران و ، هغه مهال ژبه مطرح نه وه دا کار په اروپا کښې وشو او ټولې نړۍ ومنله .
افغانستان کښې ژر اوسه نه ده منل شوې دا بـه د پښتو ور اخلاق وي . سلطان محمود زرکاله د مخه و . مونږ اوس ژوندي يو او د ژبې موضوع مطرح ده . هغه مهال مطرح نه وه .
سلطان محمود د خراسان ولايت له سامانيانو ونيو په غزني پورې يې وتاړه ترکان يې د افغانستان له شمالي سيمو وتړل . اوسني پنځه شمالي هېوادونه تاجکستان ، ازبکستان ، ترکمنستان او قرغستان يې په افغانستان پورې وتاړه تر ګنګا پورې يې ،چې هلته ساکان و . په يوه مرکز غزني پورې وتړل شول .
امير عادل او محمود دواړه تاريخ پوهان و . هلته ،چې ساك سور او پاکت و هغوی هندوان شوي و . دوی يې مسلمانان کړل په زرهاوو جوماتونه يې جوړ کړل دوی افغان مسلمانان و او خپل تاريخي کردار يې سر ته ورساو .

سلطان محمود سني مذهبه و . په ايران کښې دده په برخه دوه گوني احساس و . دا ،چې سني مذهب و . په يو سترگه يې ورته کتل او دا ،چې پارسي ژبې ته يې ډېر کار کړی و . په بله سترگه يې ورته کتل . پښتنز هم د پارسي د پرمختگ له امله ترې خوشحالي نه ښودله .

افغان امپراتوران ټول زړه سواندي و او له دې کبله يې تاوانونه ليدلي خو دوی رنگه بنگه پښتونولي ساتلې ده . د سلطان محمود غزنوي د زړه سوې يوه نتيجه دا وخت ،چې په ماورالنهر کښې يې سلجوقي کورنۍ ته اجازه ورکړه ،چې سرخس کښې و اوسي . په همدغه مهل دده يو امير ،چې امير توس نومېده ( طبقات ناصري) په قول امير ارسلان ،خو(گردېزی تاريخ وايي) ،چې امير توس نومېده. سلطان محمود ته وويل : چې دا کار ستا تېروتنه وه . له دوی به بلا جوړه شي اوس يا ټول ووژنه يا يې غټې گوتې پرې کړه سلطان وويل : اوس ما ژبه کړې ده او دا کار له ترحم لېرې دی .

## نردبان

هفتادوسه سال پيش در کابل تولد شدم در کابل با کابليان بزرگ شدم کابل را خوب می شناسم کوچه ها و بازارهای آن رابلد بودم .

مردم کابل مهماندار مردان مرد بودند( زهر گوشه يی که درويش و صاحب حالی می آمد کابليان او را خدمت می کردند اين قصه دراز است که در هر کوچه متصرفي می بود و آن يک فقير ژنده پوش از حال رفته و تارک دنيا بود .

همچنان مردم کابل بزيارت اوليا به غزني می رفتند و کودکان خودرا باخود می بردند که روحانيت بزرگان در بچه ها که مردان فردا بودند اثر کند . و اين گفته فردوسي درست بود :

کودک چو لب از شير مادر بشست
زگهواره محمود گويد نـــــخست

من هم در جمله اين کودکان باکسيکه آشنا شدم سلطان محمود غزنوي بت شکن بود قدری در مکتب چيزی از مو سپيدان بهمه حال نردباني بود که شناخت محمود زابلي را ميسر ساخت هر قدرکه سالهای زنده گاني بلارفت سلطان محمود غزنوي رابهتر شناختم اما همت آن نبود که اثری بنويسم در سال های واپسين اندک ناروا در باره او شنيدم ناچار معلومات خود را از متن کتبيکه داشتم جمع کردم و تحليل و شناخت خود

را برآن استوار کردم و چند صفحه نوشتم اگر چه سخت مایوسم از فردا که کار ناتمام تمام شود و همین سبب بود چند صفحه نوشتم که این فرصت هم برای نسل آینده ما نخواهد بود .

ما زمیخانه عشقیم گدایانی چـــــند
باده نوشان و خموشان و خروشانی چند

سلطان محمود مردی بود مسلمان ، افغان ، مدني ، دانشمند و جوانمرد برین نردبان هر قدر خواستند بالا رفت . از همه بیشتر مرگ او مرا به حیرت رسانید و حیرت همان مقامی است که بیدل گفته است .

دل حیرت آفرین هر سو نظر گشاییم — درخانه هیچ کس نیست آینه است و مایم

از بخت شوریده چنین است .

روز سوم عقرب سال ۱۳۸۲ برابر ۲۵ اکتوبر ۲۰۰۳ میلادي در شهر واشنگتن هزاران نفر جمع شدند بر بوش و اعضای کار او فریاد کشیدید که عراق و افغانستان اشغال شده اند . برای حرص و ثروتمند شدن چند نفر . بوش مارا فریب داد عسکر امریکایي ازین دو کشور براینده .

امریکایها می گفتند اعلامیه استقلال ، قانون اساسي ، حقوق بشر ، دیموکراسي ما چه شد ؟

درین گرد آمدن از سراسر جهان مردم بودند مگر افغان نبود . مرا شعر حضرت ابوالمعاني بیدل یاد آمد از گفتار ، طولاني باز آمدم و این ادبیات را آوردم .

## تیغ

نفس بو الهوسان بردل روشن تـــــیغست — شـــمع افروختـه را جنبش دامن تیغت
شیشه را سرکشي خویش نشانده است بخون — گـــردن بی ادبان رارگ گردن تیغست
منت سائه اقبال زآتش کــــــم نیست — گرهــما بال گـــشاید بسر من تیغست
خاک تسلیم صبر کن درین خاک هـــلاک — تونـــداری سپر و در کف دشمن تیغت
عکس خو نیست فرو ریخته از پیکر شخص — گرهمه آینه ســازند زآهن تـــیغست
تا مخالف ز موافق قدمی فاصله نـــیست — در گلو آب چـو استاد زرفتن تیغـــست
کوه از ناله و فریاد نمی آسایـــــــــد — چکند برســر این پای بلا من تیغـــست
ذوالفقار دیگر است آنکه قطع کند امـــــل — ورنه مـــقراض هم از بهر بر بدن تیغـــست
سطر خونی زپرافشاني بلبل بسمل خواندیـــم — که گر از خویش روی جاده روشتن تیغست
زین ندامت که بوصلی نرسیدم بـــــیدل — هـــــر نفس در جگر تادم مردن تیغست

من دایم در وسوسه می باشم که فردا استاد اگر پرسد چه داری ؟ ومن خاموش و بی جواب باشم .

بیک روزه رنج گدایی نـــــیرزد
همه گنج محمود زابلستانـــــی
خجسته درگه محمود زابلی دریاست
کدام دریا کازا کرانه پیدا نـــیست

حسن ختام نردبان همین بود .

# سلطان محمود غزنوي پادشاه بزرگ افغان

سبکتگین پدر سلطان محمود به دین اسلام مشرف شد ونام پسر خود را محمود گذاشت ، پدر و پسر هر دو تاریخ خوان بودند ،چون به مزاج عمومي می داشتند به کامیابیهای بزرگ نایل شدند . نهضت غزنویان بعد از صفاریان دومین نهضت ملي اسلامي افغانستان محسوب می شود ، در برخي نوشته ها این مطلوب آمده است ، همچنان در اسناد رسمي این نیز دیده می شود .

" سلطان محمود غزنوي سومین و مقتدر ترین فرمانروا این سلسله ، حوزهٔ قلمرو خود را از غرب تا بخشهای وسیع از ایران از شرق تارود گنگ توسیع داد .

وی طی هفده لشکر کشي به سرزمین هند سباط قدرت هندوان را در غرب رود سند برکنده و با افراشتن پرچم اسلام توانست قبایل افغان را به جرگه سپاهیان خود بکشاند .

گفتنی است که در همین دوره بود که افغانها همگي به دین اسلام گرویدند و به دوراز الهام و ازوی دیرینه به نحوی مشخص و روشن در تاریخ مطرح شدند ".((گزیدهٔ اسناد سیاسي ایران و افغانستان)).

در تاریخ کامل ایران چنین می خوانیم :

" سبکتگین چند مرتبه بخاک هند لشکر کشید و باهندوها جهاد کرد پنجاب رابگرفت ، همچنین بست و قصدار را تحت امر خود در آورد و بقدری متانت از خودشان داد . که افغانان مطیع او گشتند . در سال ۳۸۴ که دولت سامانی مراتب ضعیف و زوال می پیچمود نوح بن منصور از سبکتگین استمداد خواست و او هم باپسرش محمود بخراسان آمده ابو علی سیمجور و فایق راشکست دادند ، محمود از طرف نوح حکمران نیشاپور گردید و سبکتگین درسنه ۳۸۷ وفات کرد .

ACKU

محمود بزرگترین پادشاه غزنوی بر خراسان استیلا یافت آن بلا د را از دست سامانیان خارج ساخت ،سپس قهستان بدست او افتاد در سال ۳۹۳ هجري سیستان را گرفت چند بار به هند لشکر کشید ایکل خان ترک را که قصد خراسان داشت بکلی متهدم نمود و بر ماورالنهر مسلط گردید سپس بلاد غور را فتح کرد. احکام اسلام را در آن حدود هجري ساخت در سال ۴۰۷ دیار خوارزم را جزء متصرفات خود نمود و در سنه ۴۱۶ هجري قصد سومنات کرد و پس از فتح آن حدود و بدست آوردن غنایم زیادت سومنات را هم بشکست ویک قسمت آن را بغز نه آورده در عتبه مسجد قرار داد .
در سال ۴۲۰ " ری " وحدود آن را از مجدالدوله دیلمي گرفت ."
اکنون گفت و شنید سلطان محمود با مجدالدوله دیلمي : از کتاب تاریخ سیاسي تاریخ کامل ایران ص۱۹۱ اسلام می خوانیم .
بیشتر گفتیم سبکتگین امیر عادل و سلطان محمود پسرش از تاریخ آگاه بودند . " از کارهای بزرگ محمود این بود که نفوذ بویهان را از "ری" و دیار جبل برانداخت و جون مجدالدوله فرمانروای"ری" را بگرفت و دستگیر کرد .
از آن پس محمود مجدالدوله را بحضور آورد و گفت : مگر شاهنامه نخوانداې و تاریخ شاهان قدیم را ندانی . مگر تاریخ طبري نخوانده ای تاریخ مسلمانان را ندان ؟
مجدالدوله گفت : چرا ؟
محمود گفت : کار تو بتاریخ خوانده نمي ماند .
از این شرح معلوم می شود که محمود تاریخ می دانست و آن را به کار می بست خلاف آن بزرگان دولت های اخیر افغانستان که تاریخ نمی دانند ، و نمی توانند ، حکمروایي کنند پس از خارج استمداد می جویند .
سلطان محمود افغان غزنوي ایلک خان ترک را که قصد خراسان داشت از بیخ وبن کند پس چرا او را ترگ می گویند ؟ اهل بویه که از پا انداخت . به هند رفت و سرزمین های افغان را یک کاسه ساخت .
او به فردوسي اعتناء نگرد زیرا فردوسي نمی دانست محمود کیست ؟ محمود افغان بود

گفت وشنود محمود با فردوسي : در تاريخ سيستان آمده است :

" ابو القاسم فردوسي شاهنامه به شعر كرد ، و بر نام سلطان محمود كرد و چندين روز همی بر خواند ، محمود گفت : همه شاهنامه خود هيچ نيست مگر حديث رستم و اندرسپاه من هزار مرد چون رستم هست ابوالقاسم گفت : زندگانی خداوند در از با ، ندايم اندرسپاه او چند رستم باشد ، اما اين دانم كه خدای تعالی خويشتن را هيچ بنده چون رستم ديگر نيافريد. اين بگفت و زمين بوسه كرد و رفت ."

ما ديديم در سالهای فتور بسياری هموطنان سرا از چمبر افغان بودن بيرون كشيدند و بيگانه گان را به وطن آوردند . از اسلام بديدن شان سبب آنست كه مردان چون محمود را گاهی به سامانيها و گاه به ترک ها می كشانند نمی گويند او افغان بود و نام افغانستان و افغان را بلند آوازه ساخت .

فردوسي در اول سلطان محمود غزنی را چنان مديح گفت :

چو كودک از شير مادر بشست — زگهواره محمود گويد نخست
بتن زنده پيل و بجان جبرئيل — بكف ابر بهمن بدل رود نيل
جهاندار محمود شاه بزرگ — بآ شبخوار آردهمی ميش وگرگ

همينكه صله مورد نظر فردوسي برايش نرسيد لحن كلام بد ينگو نه گشت.

پرستار زاده نيايد بكار — وگر چند باشد پدر شهريار
ازين در سخن چند را نم همی — چو درياكرانه ندانم همی
بنيكی نَبُد شاه را دستگاه — و گرنه مر بره نشاندی بگاه
چو اندر تبارش بزرگي نبود — ندانست نام بزرگان شنود

محقق " كليفورد باسوث" برميز ديگري اشاره كرده است كه غيرت ملی سلطان را تاييد كند . اسدي طوسي بعد ازين پيش آمد شاهنامهء ديگري نوشت كه در آن از قهرمانان غزني و زابل و كابل ياد می كند .

باسوث در شرح تاريخ سيستان كه از سيستان بزرگ ياد می كند : با امپراتوري های فاتحان ديرينه ناحيه مانند سكاها ، كوشانها و هيتاليان كه قلمرو شانی كه گاه از سيستان تا هندوكش و شمال هند می رسيد مطابقت دارد ."

در اينجا و پيوست اين مطلب چنين می نويسد : " از سوی ديگر ،بندات پيش می آيد كه سامانيها دامنه قدرت خود را فراتر از مرزهای شرقي سيستان گسترش دهند .

همین افغانستان بزرگ است که سکاها ، کوچانیها و هپتالیان قبل از اسلام ،صفاري ها ، غزنوي ها ، غوري ها ، هوتکها و ابدالیها بعد از اسلام به تطبیق سرحدات ملی ، سیاسي و طبیعي پیروز مندانه اقدام کرده اند

روحیهء افغان یا ملی ما همین است که سلطان محمود از خویش نشان داده وقتی ازین خطء انحراف شود بدبختي رومی آورد و باز نمی گردد تا روحیهء خود را با تاریخ یکی نکرده باشیم .

مدارک این تاریخ بسیار ولی در افغانستان تاریخ نویسي آغاز شده است محل تاسف استکه بعد ازین نیز نه شود

مولف شاهنامه یعنی علی بن احمد اسدي طوسي است که نوسندهء کتاب تاریخ سیستان . کلیفورد باسوث او را از هوشمند ترین شاعران فرهنگ نویس مـی شمارد( ۱۰۸۰م) او یعنی کلیفورد باسوث درست می گوید کاش در ۲۰۰۳م یا قرن بیست یکم ، چون اسدی طوسي نوسنده ، شاعران و فرهنگ نویس ملی داشتیم .

اسدی توسي شاهنامه خود را گرشاسب نامه عنوان کرده است . او را چنین توصیف می کند :

سپهداربود گرشاسب تا زنده بود      نه کردش زبون کس نه افگنده بود
به هندو ،به روم و به چین از نیرد      بکرد آنچه دستان و رستم نکرد

درین ساحه نبرد گرشاسب را تاهند و روم و چین می داند . اسدي توسي مولف گرشاسب نامه دانشمند دیگري را بحیث موءخذ ومعرفي می کند و آن ابوالموید بلخي است . به این صورت ابوالموید بلخي را می شناسیم که بیدریغ وطن پرست است که هر دو باید برای نسل رنجور فعلی که داو طلبانه وطن فروشند و تروخشک را بسوزانند منبع الهام شوند .

این نهضت ملی غزنوی با تمام نهادهای خود اساس یک کشور سربلند و استوار برای ما می باشد رهبر بزرگ و بزرگوار سلطان محمود غزنوي است

در ما بعد این مقاله به دو مطلوب دیگر اشاره می شود که عبارت است ، از گفتار ملک الشعرا بهار درمورد سلطان محمود زابلی که همان سلطان محمود غزنوي باشد . ملک الشعرا بهار در حواشي تاریخ سیستان که از جانت او تصحیح شده است به مطالب بسیار مفید اشاره می کند به صورت مثال در صفحه ۲۶

" در کتب پهلوی نام مغرب ( خورواران) است و خاور شده است و خاور بمعنی مشرق غلط است " ازین جمله چنین معلوم می شو که خاور مغرب است نه مشرق به خورشید و خراسان تعلق نمی گیرد و نه ایران به این معنی دیده شده است .

صفحه ۳۰۸ تاریخ سیستان :

" زابلستان نام مملکت نیمروز است که عبارت از سیستان و زمین داور و توران و قندهار تا کابل است ولی در اینجا مراد از زابلستان ناحیه است که شهر غزنین قصبه آن بوده و بعد ها آباد و پایتخت سلاطین غزنوی شده است و محمود غزنوی را بدین جهته زابلي ( زابلستاني) خوانده اند."

در ترک و خلج و سجستان تحریفی است که در آثار عربي آمده است ، اعراب در تاریخ نویسي در قرن چارم آثار متعددي نوشته اند وهمین تحریف با معرب ساختن موجب اشتباهاتی شده است که ترک و خلج را ترک نژاد گفته اند . در نتیجه سلطان محمود هم ترک شده است در حالیکه سبکتگین خود را ترک می گفت و تفصیلی در مورد موجود است

در مورد کلیفورباسورس شرحي در مورد می نگارد به این صورت :

" در جنوب و مشرق افغانستان پیشروی اسلام تا مدت درازي به دست شاهان بومی ناحیه ایکه از بست و زمینداور تا دره کابل امتداد می یافت و برجسته ترین آنها زنبیلها و کابلستان بودند متوقف گردید . این دو دودمان خویشاوند بودند . اگر چه منابع عربي از سرناب اگاهي زنبیل ها را ترک می خوانند (چنانچه هپتالیان شمال باکتریا را نیز ترک می گویند) با اینکه منابع جغرافیایي اسلامي سده چهارم هجري دهم میلادي می گویند که ترکان خلج با احتشام خود در فلات میان کابل و بست گردش می کردند ، اما این سخن بدان معنی نیست که در گذشته عنصر ترک درین ناحیه سر می برند ، در واقع محتمل می نماید که این " ترکان خلج" اصلاً ترک نبودند ، بلکه بقایای قومي بودند که خاستگاه آن معلوم نیست و از تاخت و تازهای هپتالیان در مشرق افغانستان بجا مانده بودند در بحث مارکورات Marqrout که در بافت حلجان بقایای هپتالیان بودند باز هم برخی آنها قوم ترک می دانست . "

پوهاند حبیبي درپاورقی های تاریخ گردیزی ( که من هنوز آن را حاشیه و حواشي می نویسم ) تصریح می کند که ترک تره کی و خلج غلزی یا غلخی است . غرض از ادامه بحث همین است که سلطان محمود غزنوی زابلی با کدام لشکر ترک نیامده بود . بلکه

منصبی داشت از جانب سامانیها ، طوریکه دیدم خراسان را از سامانیها مجرا کرده به غزنین مربوط ساخت و ترک های ایلک خانی را بهم زد .

( و یک افغان بود او افغان وافغانستان را در تاریخ حوزه مطرح کرد در هندوستان از همان تاریخ یعنی قرن دهم تمام شاهان غزنوی ، غوري ، خلجي ، لودي ، سوري ، ابدالی بنام افغان یاد می شوند . نویسنده گان دوره بحران یا ابتند از نام افغان و پشتون خود و تاریخ را دور می نوشتند که پایه علمي نداشت و تعصب سند و مدرک شان بود .

درین نوشته که از نویسنده گان ایران دلیل آوردیم نویسنده گان حقیقي ایران مانند ملک الشعرا بهار .... برای آن بود محقق و دانشمند افغان و ایران ندارد . همچنان همین دانشمند در مورد نام سیستان توضیحی دارد که در اصل ساکستان است و ساک قوم معروفی است در افغانستان و جاهلی هم به نام ساک در پکتیا شیوه کی .

میدان و سایر جاها ، نام ساک به جبث قوم و محل سکونت ذکر شده است ، در سالهای تعصب و دوری جستن از اصل خویش حمله آوران لفظی هر مساله را نفی می کنند در عمل نیز کلمات ، لغات ایرانی را ترجیح دادند و دری را گم کردند .

از ملک الشعرا بهار در مورد نام سیستان :

" انچه علمای علم لغت معتقد باشند ، سیستان مخفف سکستان است که مملکت سکه ها باشد و این سکه ( در زبانهای اروپای Sakas ساکار آمده است ) مردمی بودند از عشایر آریایی که بعد از انقراض هخامنشی در حدود ۱۳۰ ق م در اوایل عهد اشکانیان وارد آن سرزمین شدند . و تا سند و پنجاب را تحت متصرفات خود قرار دادند . "

" و قبل از آن نام سیستان " زرنگا " بوده است که نام شهر زرنگ از آن گرفته شده است . ثمر زرنگ که مرکز داستانهای این کتاب ( تاریخ سیستان ) است حاله در سرحد شرقي سیستان و جزء ملک افغانستان واقع است ، این شهر در هجوم تیمور خراب شد و فتنه های ازبک و هرج و مرج او اخر عهد صفوی و انقراض ملوک سیستان از عمران افتد و امروز در محل آن شهر قریه کوچکی است معروف به ( ناد علی ) و در جنب آن قریه تل بزرگیست و برفراز آز آن تل هنوز آثار خرابه های ارگ زرنگ برپا و قلعه و باروی کهن آن برجاست . "

درین نگارش غرض بنده چند مفهوم است : شخصیت سلطان محمود و نسب او ، یکی بودن کابل ، غزنی ، بست توران و سیستان در ادوار تاریخ ، همچنان رمزی از شاهنامه فردوسی و گرشاسب قهرمان همین حوزه.

در دو سه دهه اخیر اجساد متعصب بس ناروا گفتند و این ناروا بسیار سودمند بود چون تعداد زیاد مردم را به کاوش در تاریخ وادار ساخت . در مورد گرشاسب قهرمان ملی و شاهنامه اسدی توسي که گرشاسب نامه تالیف او و مطالب زیاد است این شخصیت ملی و علمی همعصر سلطان محمود است .

نتیجه این تحقیق به آنجا خواهد رسید که سلطان ترک نبوده بلکه تره کی و پشتونست چانچه ملک الشعرا بهار نیز تایید می کند که منابع عربي این نامهارا نافهمیده گفته اند . منابع غربی نیز از آن گرفته اند اما تحقیق آرکیالوژي گاهی چنین نبوده است . وراه را کاملا هموار ساخته است .

پرورش زبان فارسي در غزني و چهار صد شاعران همچنان رساندن آن به هند بخشش مهم تحقق ما می باشد

# گرشاسب

گرشاسب همچو ضحاک و رستم از قهرمانان ناحیه کابل ، غزني ، زابل ، سیستان و حوالی آن می باشد اسدي توسي ( طوسي ) گرشاسب نامه نوشت زیرا گرشاسب را خصلت های جوانمردی بسیار بود ، "گر" باغز و غرشاه غرچه غرجستان همآهنگ و یکی است .

از روایات تاریخي برمی آید ضحاک ظالم بود اما گرشاسب تصمیم گرفت تا شهری آباد کند تا مردم را اسامه باشد یعنی پناهگاه و این شهر چهار هزار سال پابر جا باشد تا اسلام بیاید .

کلمه شهر به این مفهوم نبود که شهر امروز است اغلب به کشور و مملکت اطلاق می باشد در گفتار عام هنوز شهر بمعنی مملکت استعمال میشود شهر کفر یا شهر اسلام ، شهر هند یا جرمن همچنان شیر پادشاه را می گفتند شیر بامیان یعنی پادشاه بامیان . گرشاسب سیستان را آباد کرد نظم و امنیت در آن قرار گشت مردم از سهولت های آن استفاده می کردند .

آنچه تاریخ سیستان از اخلاق مردم اخلاق مردم ذکر می کند اصول مردانه گی در آنجا رعایت می شد و اینهمه را گرشاسب بمیان آورد .

در گفت وشنود ضحاک و گرشاسب آنجا گرشاسب سیستان را سر زمین مردان مرد می نامد . ضحاک در جوابش می گوید " راست گویی ای پهلوان ، قرار تاریخ سیستان گرشاسب از اسلام خبر داد و این خبر را چهار هزار سال پیش از اسلام او گفته بود این شهر یکه من آباد کنم تا آن زمان دوام خواهد کرد و آنگاه مردم سیستان اسلام می آورند

ارتباط سلطان محمود غزنوي باگرشاسب شهنامه است که اسدي توسي نوشته و آن را به سلطان اهداء کرده است

اکنون اگر عقاید گرشاسب از روایت های شاهنامه اش و تاریخ سیستان تحلیل شود او شخصیتی است با همان اوصاف یک افغان صالح که به شرح مختصر خواهم پرداخت .

سلطان محمود غزنوي آن صفت ها را داشت نه تنها یک افغان با شخصیت مطابق به تعریف گرشاسب بود بلکه مردم به بزرگی او نیز اعتقاد داشتند اکنون مردم غزني او را سلطان صاحب می گویند و به زیارتش می روند .

نام اسدي حکیم ابو نصیر احمد بن منصور و نشبش به ملوک عجم می رسد . گرشاسب نامه اسدي توسي در کتابخانه شاهی ویانا موجود است .

در گرشاسب نامه اسدی به فردوسي یاد می دهد که قهرمان شاهنامه او که رستم است . در موردی ضعیف واقع شده است اما گرشاسب شده است و چنین می گوید .

زکــــردار گرشاســـب انـــدر جهـــان
یکـــی نامـــه بـــه یادگـــار از جهـــان
ز فرهنـــگ و نیرنـــگ ودار رســـتم
زخـــوبی وزشـــتی و شـــادی و غـــم
زرســـتم همـــی چونکـــه خـــواهی شـــنود
گمـــانی کـــه چـــون او بمـــردی نبـــود
گـــر از رزم گرشاســـب یـــاد آیـــدت
همـــه کـــار رســـتم بـــه بـــار آیـــدت
همـــی رســـتم آن بود کـــه دیـــو نژنـــد
ببـــردش بـــه ابـــرو و بـــدریا فگنـــد
ســـتوه شـــد زهومـــان بگـــرز گـــران
زدش دشـــتبانی بمـــا زنـــدران
زبـــون کـــردش اســـپند یـــار دلیـــر
بـــه کشـــتیش آورد ســـهراب زیـــر
ســـپهدار گرشاســـب تـــا زنـــده بـــود
نـــه کـــردش زبـــون کـــس نـــه افگنـــده بـــود
بـــه هنـــد و بـــه روم و بـــه چـــین از نیـــزد
بکـــرد آنچـــه دســـتان و رســـتم تکـــرد

بقول یکی از نویسنده گان " اسدی توسی از جریان جدا گانه یی از حماسه ملی یاد می کند و از روایات محلی غزنی و زابلستان استفاده کرده است و آن را به جریان اصلی حماسه ملي بسته است. ساختن گرشاسب از بیداد ضحاک ( سهاک) دور بوده و به آبادی شهرها کندن نهر ها و باغ ها شهرت داشت .

من ایدون زطبعم بهار آورم     مریان شاخ را نوبهار آورم
بـــیا دهـــنر گل کفانم براو     زابـــر سخن در فشانم براو

# وصف سلطان محمود و سایر شعراء

شهر غزنی وسعت زیاد داشت . دوازده هزار مسجد و مدرسه وقصور زیاد داشت ، سلطان محمود از خوارزم و خراسان و هندوستان دانشمندان را به غزنی دعوت می کرد و در آنجا اسایش آنان را مهیا می کرد . محیط مساعد برای پیشرفت صنعت هنر و ادبیات بود .

آثار فلسفی یونان ترجمه می شد لغت های سانسکریت تشریح شده و آنچه در زبان سانسکریت موجود به فارسي ترجمهء آن میسر بود علوم ریاضی حدیث و نجوم .

اسدی توسي نیز دارای فرهنگ و آثار دیگر بود برخ این آثار امروز در کتب خانه ها و موزیم ها اروپایی موجود است که هنوز فهرست آن را ندارم تا آن عکاسي یا رونویسی می شد . مدح سلطان بسیار شده است ، عنصری ، بلخی ، فرخی ........

سـدهء جشن ملوک نامدار است — ز افریـدون و از جم یادگار است
زمـین تـوگویی کوه طور است — کزونور تجلی اشـکار اسـت
گر از فـصل زمستان است بهمن — چرا امشب جهان چون لاله زار است
هـمی مـرمـوج دریـارابه سوزد — بدان ماند کـه خشم شهریار است

ابو نصر فاریابی و البیرونی در جهان به علم و فضل مشهورند که در اکثر دایرةالمعارف دیده می شوند .

کتاب World History تالیف پیترن سترنز Peter.N.Sterns سال ۲۰۰۰م . این از جمله کتابهای است که زیاد بفروش می رسد چنانچه درد سترس نگارنده چاپ ششم آنست .
این کتاب در موارد مختلف همان غلطی های را تکرار کرده است که در همین نوشته به آن اشاره شده است زیرا نویسندهگان افغان هنوز به بخش این موسسات نشراتی نرسیده اند .

دانشمند بزرگ اسلامی مرجع غرب یعنی اروپا و امریکا می باشند ، اما سیاست هر دوجانب اسلام و غرب رابه راه های می برد که غرب از پیشرفتها اسلام انکار می ورزد و اسلام بنابر سابقه علمی خود از غرب انکار دارد

ابو نصر فاریابی که افغان است و از فاریاب Abu Nasr Mohammad al-farabi در مورد این شخصیت چنین می نویسد : یکی از بزرگترین علمای شرق میانه است و فیلسوف او پیوسته در مورد منطق می نوشت ، خدا شناسي و سیاست ،گرامر و ریاضي

ACKU

و موسیقی او به فلسفه اهمیت بیشتر قایل بود و آثار در علم نجوم دارد او در جستجو حقیقت بود و معتقد بود "دین" یگا نه راه نجات بشر است ، کتابی در مورد موسیقی نیز دارد بنام کتاب الموسیقی الکبیر .

امام غزالی متولد ۱۰۵۸ م در مورد اسلام کتابهای زیادی نوشته است ؛ و کتاب مهم او احیای العلوم الدین می باشد ، امام غزالی در باره ساینس Science ، فلسفه و تصوف کتبی نوشته است و علم ، دین . امام غزالی مفهوم اسلام را در شریعت و تصوف شرح کرده است که حیات معنوی ومادی انسان را تنظیم کند او مدت ده سال به حیث استاد و پروفیسر در مدرسهء نظامیه بغداد مشغول بود و به حل مسایل پرداخته است .

قرار شرح کتاب حضرت امام غزالی تمام مسایل مدنی را تا حقوق زن ، تشریح کرده اند که در سایه دین ، اسلام ، بشریت به سعادت دنیا و آخرت برسد امام صاحب ، مذهب اهل سنت و جماعت را بقدر فلسفی شرح نموده اند که جای مناقشه نمانده .

چنین معلوم می شود که علمای غرب تا حدی با استفاده از آثار امام صاحب تخیل جهان مدنی با بهم رسانیده اند ، اما استعمار غرب در آسیا و افریقا رخ منقلب نشان داد تجارت و استثمار و بی رحمی و قتل عام کار عادی شان بود ، استعمار که از عمارت گرفته شده است گپ خوب بود ولی این تحلیل و مفکوره به طور عملی به بدمعاشی ، دزد و آدم کشی مبدل شد .

امروز ۲۰۰۳ با تسخیر افغانستان و عراق یکبار دیگر چهره اصلی شان نمودار گردید و جنگ دو طرف آغاز گردید و این جنگ دو مدنیت نیست آنکه خاتمی می گفت قرار شرح علمای اسلام ، اسلام یک دین است ، با پشتیانه ساینس و فلسفهء بسیار پروقوی و چنان ذخیره یی موجود هست . که در جهان و تاریخ جهان دیده نمی شود ، در سال ۱۱۹۹م محمود دربنگال برای نخستین باریک حکومت اسلامی را به اقتدار رسانید .

البیرونی ساینس مشهور در هند به هدایت سلطان محمد لسان سانسکریت را آموخت آثار یکه بزبان سانسکریت نوشته شده بود برای محمود ترجمه کرد ، سلطان محمود در هند همچنان با شعرا صحبت می کرد و به آنان صله مي داد ، او توانست محیط آرامی را برای تمام ادیان مهیا و میسر سازد و این تهداب تا قرن شانزده هم میلادي دوام کرد .

البیرونی حدود صد کتاب در علوم طبعی ، ریاضی و نجوم نوشته است . این همه آثار ماخذ یاد آورد برای غرب بود .

بوعلی سینا بلخی ۹۸۰م تا ۱۵۳۷ م : کتابی معروف او بنام القانون فی الطب تا امروز مورد استفاده، جهان غرب قرار دارد .
البیرونی با ابن سینا همعصر بود (۱۰۵۰) م وفات نمود . امام غزالی ۱۱۱۱م مرحوم شد . اینهمه دوره سلطنت وسیع غزنویان بود ، که میراث عظیمی آن به جهان غرب رسید . فخرالدین رازی در ۱۰۴۹ م وفات یافت . این شخصیت در خداشناسي ، فلسفه و منطق استاد بود و اسلام رابه قوت همین علمو نشان داد و در رشته، تحریر در آورد .
در جهان هیچ دین و مسلک اینقدر پشبانه علمی ندارد که در اسلام موجود است این ذخیره علمی قران نهایت ندارد و قسمت امام اعظم کار علمی آن در دوران سلطنت غزنوی بوده است که بانیان آن سبکتگین و محمود پسرش بودند ، جهان غرب مولودی است از جهان شرق و افغانستان .
چطور خواهد شد که ملت متوجه دانشمندان خود شود یعنی ،چه باید کرد ؟
دین را مال ملا می دانند ملایان در افغانستان مشعل علم را قبل از معارف به شیوه غربی چقدر فروزان داشته بودند ولی ما دین و عالم دین را به نظر صایب ندیدم .
این معلومات را نگارنده از همان کتاب تاریخ جهان چاپ ششم سال ۲۰۰۳م گرفته چنین است که جهان غرب از مابسیار گرفته و آموخته است و جزء مصیبت بما چیزی نداده است .
سلطان محمود غزنوی هنوز به نظری دیده می شود که فقط قصه، " ایاز "است و شکستن بت سومنات و غنایم .
هیچگاه او را یگانه دهر ندانسته اند یکی سنی متعصب دیگری چپاول گر گفت و درام مزخرفی را در مورد سلطان محمود به نمایش گذاشتند که موجب خوشحالی دشمنان گردید و اندوه دوستان .
علوم ساینس ، طب ، ریاضی ، نجوم ، هندسه و آثار دیگر در کتب مجله در چپاولهای بدست شان رسید ، تا حال به دزدی آثار تاریخی ما مشعولند خود را حقیر فکر می کنیم و جهان غرب را امیر . این نحوه تفکر باید تبدیل شود در ما بعد این کلام در باره به غزنی برمی گردیم و به تماشای قصر فیروزه شما را دعوت می کنم .

ACKU

# قصر فیروزه نیست مگر در تخیل

امروز قصر فیروزه غزنی و شهر فیروز کوه غمود وجودندارد حتی موقعیت آن معلوم نیست قصر فیروزه اگر از فیروزه ساخته نشده بود اما فیروزه در آن بکار گرفته شده بود ، هیچ تعریف و مدرکی در دست نیست که خبر موثق از آن برسانید . اما تماشای قصر در ادبیات میسر است شما این ابیات بخوانید در تخیل و تصور آن را ببینند .

همرا با فرخی سیستانی سکزی به قصر فیروزه می رویم :

در شناخت میزبان خود فرخی چند سطر از چهار مقالهء عروضی می خوانیم :

فرخی از سیستان بود ، پسر جولوغ ، غلام امیر خلف بانو ، طبعی بغایت نیکو داشت و شعر خوش گفتی و چنگ تر زدی و خدمت دهقانی کردی از دهاقین سیستان و این دهقان او را هر سال دویست کیل پنج منی غله دا دی و صد درم سیم نوحی ، اورا تمام بودی ، اما زنی خواست هم از موالی خلف و خرجش بیشتر افتاد ...

در اطراف و اکناف نشان ممد وحی شنمود تاروی بدو آورد ، باشد که اصابتی یابد . تا خبر کردند او را از امیر ابوالمظفر چغانی ، بچغانیا که این نوع را تربیت می کند واین جماعت را صله و جایزه فاخر همی دهد .

قصیده یی بگفت و عزیمت آن جانب کرد :

باکاروان حله برفتم زسیستان          باحله تنیده زدل بافته زجان

خواجه عمید اسعدی مردی فاضل بود شاعر دوست ، شعر فرخی را شعری دید تر و عذب ، خوش و استادانه فرخی را سکزی بی دید بی اندام ، هیچ باور نکرد این شعر آن سکزی را شاید بود .

چون پرند نیلگون بر روی پوشد مرغزار
پرنیان هفت رنگ اندر سرآرد کوهسار

کار فرخی در خدمت او عالی شد و تجملی تمام ساخت ، پس بخدمت سلطان یمین الدوله محمود رفت و چون سلطان محمود او را متجمل دید بهمان چشم در او نگریست و کارش بدا نجار رسید که تابست غلام سمین کمر از پس او بر نشستندی . والسلام

به فرخنده فال و به فرخنده اختر          بنو باغ می خواست شاه مظفر
به باغ درختان او عرو صندل          بباغ ریا حین او بسد تر
به باغ چو پیوستن مهر خورم          بباغ چو رخسارهء دوست دلبر
به باغ دور سایه شاخ طوبی          بباغ دور چشمهء آب کوثر

بهشت اندرو بازیابی به نیسان | بـــهـــار انــدرو با زیابی به آذر
زســـرو بــریده چو زلف بریده | زشـــکل مدور چو چـــرخ مدور
درو مســـکن ماهرویان مجلس | درو خـــانهء شیر گـــیران لشکر
بکاخ اندر ون صفه های مصفی | در آن صفه ها ساختـه سوی منظر
یـکی همچو دیبای چینی منقش | یکی همچوار ژنگ مانی مــصور
نـــگاریده در چند جامر مصور | شـــه شرق را انـدران کاخ پیکر
بیک جای در صد در دست ژوبین | بیک جای در بزم و دردسـت ساغر
از آن کاخ چـــو انــدر گذشتی | یکی رود آب اندرو همچو شـکر
برفتن زتیزی چـــو فرمان سلطان | بخوردن زخوبی چو عیش توانگر
بدنیسان بباغ انـــدرون تندرودی | یـــکی ژرف رودی مــر آنرا برابر
بدو اندرون ماهیان چون عروسان | بگـــوش اندرون پر گهر حلقهء زر

منظر این باغ و این کاخ که هزار سال بیش و کم از آن می گذرد درین عصر بدان خوبی نیست تصاویری در آن بوده است و ترتیب زینت آن بسیار خوبتر از قصور امروزی نیست . امام غزالی ، ابو نصر فاریابی ، اسدی توسي ، البیرونی ، فلسفه دیگر که اسلام را از روی منطق و فلکیات ، علوم طبیعی پایه های استوار داده اند هزارها کتاب بود که امروز در ویانا ، لندن ، پارس و سایر شهر های غربی زینت کتابخانه و اکادیمی ها علوم است .

## امیر عادل سبکتگین افغان

اگر نگاهی به تایخ شود . سبکتگین یکی از شخصیت های ملی است که همه کامیابی ها از تدبیر او بود او سلسلهء غزنویان ، افغان را پایه داد و افغانستان در تاریخ جهان سبب تحول بزرگ اجتماعی ، علمی ، وسیاسي گردید .
تاریخ بیهقی حکایاتی دارد از بزرگاوری امیر عادل سبکتگین که صبغه مردانه گی و دلسوزی او رانمودار سازد .
از آن جمله قصه آهو بره است که سبکتگین خود چنین بیان کرده است :
" بیشتر از آنکه من بغزنین افتادم ، یک روز برنشستم " نزدیک نماز دیگر " به صحرا بیرون رفتم ببلخ و همان یک اسپ داشتم . تیز تک و دونده چنانکه هرصید به پیش من آمدی باز نرفتی ، آهویی دیدم ماده و بچه باوی اسپ را برانگیختم و نیک نیرو کردم و بچه از مادر جدا شد و غمی شد بگرفتمش و پرزین نهادم و باز گشتم . و روز نزدیک

نماز شام رسیده بود چون لختی براند . آوازی به گوش من آمد ، باز نگرستم مادر بچه بود که بر اثر من می آمد د غریوی و خواهشکی می کرد . اسپ برگر دانیدم به طمع آنکه مگر وی را نیز گرفته ابد ، ونیاختم ، چون باداز پیشم برغت باز گشتم ، دوسد بار همچنین افتاد و این بیچاره کک می آمد و همی نالید تا نزدیک شهر رسیدم آن مادرش همچنان نالان نالان می آمد . دلم سوخت و باخود گفتم ازین آهو بره چی خواهد آمد ؟ برین مادر مهربان رحمت باید کرد ، بچه را بصحرا انداختم ، سوی مادر بدوید . و غریو کردند هر دو بر فتند سوی دشت ."

سبکتگین می خوابد ، پیر مردی را می پیند سخت فره مند و می گفت : یا سبکتگین ، بدانکه آن بخشایش که بر آن آهو ماده کردی و بچه گک به او باز دادی ، ما شهری را که آنرا غزنین گویند وز اولستان بر تو و فرزندان تو بخشیدیم .

سبکتگین ازین خواب قوی دل گشت ، حکایت مجازات پیلبانی است که به درخت خرمای نادار بسته بود و خود خرما آن شخص چیده بوده . امیر عادل چون قصه بشنید خود به آنجا رفت درخت خرما را خرید و به آن شخص بخشیده و کسیکه خرما را برداشته بود بدرخت ببست .

سبکتگین خود تاریخ خوان و تاریخ نویس بود و اثری از او با قسمت سبکتگین یک پادشاه عادل و دانشمند بود .

اطلاعات درباب سبکتگین بسیار است اما این آثار و اطلاعات بدسترش قرار ندارد . سبکتگین پند نامهء خود به محمود چه گفته است ؟ نا خوانده نمی دانیم اما در تبصره سوم کتاب غزنویان متاخر نوشته کلیفورد باسورت ترجمه وهاب فتانی دیده می شود که پند نامه سبکتگین در جورنال آف رایل ایشیاتیک لندن ۱۹۳۳ متن ۶۱۰ باشد .

اما مهتمرین اطلاعی که در ضمیمه ۳ آمده است عبارت ازین است که ام ای شین در اثر خود تاریخ اسلام کمبریج ۱۹۷۶ درج نموده که " سبکتگین به هیچ نحوی غلام نبوده بلکه رهبر بومی منطقه غزند بوده است . در تاریخ نویسی اختلاف می باشد اما فلسفه تاریخ همین باشد که وقایع در منابع گونه گون دیده شود و از آن روشن و تفکر کتله های و طریق به کار بستن آن که انعکاس و تصادف با آن چی می کند و جهان غرب در برابر شرق چگونه از وحشت کار گرفته است .

زر دشت ، بودا در شمال و جنوب آسیا دو متفکر بودند زردشت در بلخ یا باکتر و بودا در هند این دو جریانی عقیدوی برای ما چه بار آورد ؟ یعقوب لیث و ساکزیان در سیستان از اصول جوانمردي و اسلام را هی داشتند و با خلاف بغداد جنگ کردند .
یعقوب گفت : من شبانه روز هفتاد رکعت نماز می خوانم نان و پیاز می خورم و بر سپر خود تکیه زده می خوابم .
این روشن زنده گانی یک پادشاه یا امپراتور بزرگ برای یک افغان قابل دقت نیست ؟
سبکتگین و محمود پسرش را چه می گویند متعصب در تسنن ، غلام ترک .....
اکنون ثابت می شود نه ترک بودند نه غلام ونه متعصب از همه مهمتر راز بزرگترین انسانهای عاقل مدنی و دانشمند بودند .
همین روشن مسلمان جوانمرد ، در غوریها هوتکهاو ابدالی ها مشاهده می شود .ازینجاست فلسفه ملی تاریخ افغان ریشه می گیرد که وحشیان غربی پیوسته این سرزمین را می کوبند و اجسادی را به پول می خرند می گویند اینان افغانان روشن اند که نوکر شان شده اند و افغان خود را می کشند .
افغان افغان رانمی کشد اجسادی با پول ساخته اید که افغان رابکشد این نخستین بار است که نگارند کلمه اجساد را برای نوکران بیگانه به کار می برد . بیهقی در پنج جای‌از افغان شال یاد می کند که در آنجا پادشاه غزنه با بزرگان ، امپراتوری غزنوی و سفرای ممالک ملاقات می کرد هر گاه شاه از سفری می آمد همانجا می بود .
شال بمعنی ی‌ای یا محل خواهد بود تا آن زمان کلمه " ستان " نبود ، شال در کنرها موجود است ، پاچا های شال و منطقهء شال ، همچنان در بلوچستان شال سرزمین است ، مانند ساک که هم نام قوم است و هم منطقه در کابل ساک شبوه کی در گردیز ساک ، سکاندره ، سکاندره در میدان ساک و مانند آن ، سکانشاه پادشاه ساک .
**خرمیل** : _ پوهاند حبیبی می گوید خرمیل شاید مشکل کلمه عربی قرمیل باشد که بمعنی شتر دوکوهانه است .
بعقیده نگارند خر در سابق بمعنی بزرگ بوده است ، خرمن ، خرگاه ، حتی خورشید خرسید ومیل بمفهوم زور و نیرو در کابل پهلوانان ضرب میل داشتند . آهن دراز ومدور هم میل گویند .
این میل مانند کیل از کلماتی است که از سرزمین ما به جاهای دیگر رفته است مهاجر و مسافر شده است از جمله در انگلیسي

در چهار مقاله عروضی فرخی سیستانی کلمه کیل که وزن باشد و کیلو از آن باشد "
فرخی قصه بدهقان برداشت که مرا خرج بیشتر شده است ، چه شود که دهقان از آنجا که کرم اوست غلهء من سیعد " کیل " کند وسیم صدو پنجاه درم . مگر با خرج من برابر شود . "

درین چند جمله که می خوانیم سه لغت اکنون استعمال نمی شود . دهقان حالا بذرگر را گویند آن زمان بزرگ و کلان حتی پادشاه را دهقان می گفتند .

کیل به مفهوم مقیاس وزن در غرب کیلو ، سوم کلمه سیم بجای پول این مثالها توضیحی است از کلمات تر و خلج که امروز التباس می شود و ترک و قبیله خلج .

نتیجه اینکه غزنویان افغانان درست بودند و به علم و دانش در جهان کمک کرده اند و امروز که قرن بیست یکم میلادي و آنگاه قرن دهم میلادي یک هزار سال پیشتر شهر غزنی بسیار وسیع و پیشقدم جهان ، در کتاب تاریخ بیهقی و افغان شال ذکري می یابیم از دریایا د می شود . و اکنون تزدیک دریا چیزی نمی شود ، عروس شهرها دیگر دون آن دوسه مینار چیزی ندارد . شهر غزنین نه همان است که من دیدم پار .

## ملک اختیار الدین خرپوست و دفاع از غزنی

ملک اختیارالدین خر پوست از مردان مشهور و مذکور کشور ماست . این مرد از عیاری و مردی در آسیا با نام و بلند آوازه بود . چنین معلوم می شود ، استقلال و اختیار خود داشتن بی مانند بود . قرار روایت منهاج السراج بعد از سلطه خوارزم شاهان ده . سال در نصر کوه تالقان در برابر لشکر خوارم مقاومت می کرد .

درطبقات ناصری منهاج الراج نوشته شده است : " او مردی کاردان و دلاور و مبارز و ضابط بود و مدت ده سال نصر کوه تالقان را از لشکر خوارزم شاه چون به غزنین آمد از اطراف لشکر اسلام بدوری نهادند .

و در حضرت غزنین لشکر بسیار جمع شد ،چنانچه بقدر صدوسی هزار سواد حرار تمام مسلح مرتب در عرض آمد . "

ملک اختیار الدین خرپوست درین مرحله از غزنی در مقابل هجوم چنگیز دفاع می کند ما اطلاعاتی اندک در مورد این شخص شخیص داریم . اما کافی است که او شناخته شود نگارنده درسال ۱۳۸۰ هجری شمسی در رادیو پیام افغان در سلسله تشریح تاریخ افغان ازین شخصیت ملی یاد کردم . نام ملک اختیارالدین راکس نشنیده بود امایک محترم در تلفون به رادیو گفت : "خدا شمارا خیر بدهد که شخصیتی را بما معرفی

کردید در لوگر یک قریه بنام خرپوست ها یاد می شود . اما کس نمی دانست این نام چقدر بزرگ است ازینگونه اشخاص زیادند که تاریخ سز بوده اند اما شناخته نیستند . همین اکنون بقوت تبلیغات اشخاص بسیار معمولی را قهرمان ملی می گویند . در باب ملک اختیار الدین خر پوست معلومات بیشتر است چگونه از دنیا فانی به دنیا باقی می رود که در همین تحریر خواهیم نوشت .

آن رو بروشدن ملک اختیارالدین خرپوست بادسایسی است مانند دسیسه های امروزی این مطلوب از خامه منهاج السراج می خوانیم : در غزیمت برآن مصمم گردانید که لشکر مرتب گرداند مدام در ترتیب لشکر و استعداد حشم می بود . و اکابر و معارف خوارزم . که از خدمت سلطان محمد جداً افتاده بودند بنزدیک او می آمدند ، شهاب الدین الب که وزیر ممالک غزنین و غور بود از جهت خوارزم شاه به غزنین آمده بود .

در غزنین کوتوالی بود که او را صلاح الدین گفتندی ... چون ملک اختیار الدین خرپوست بن علی لشکر بسیار جمع کرده بود . شهاب الدین الب وزیر با صلاح الدین کوتوال غدری در خفیه اندیشید و بزمی گردانید و ملک خرپوست به ضیاقت طلب کرد و آن ملک غازی صلاح الدین کوتوال بزخم کارد شهید کرد و آن لشکر که جمع کرده بود جمله متفرق گشتند . "

ملک اختیارالدین محمود بن علی خرپوست از پشاور که همانجامی بود با تعداد لشکر برای دفع فتنه چنگیز خان به غزنی آمده بود این مرد غازی از چنان شهرت و محبوبیت برخوردار یک صد وسی هزار گرد او جمع شد و محتمل اگر د چار آن دسیسه نمی گردید چنگیز خان را در غزنی دفن می کرد .

با این اینکه حکایت ملک اختیارالدین محمد بن علی خرپوست اینجا آمد اما سلطان محمود غزنوی را فراموش نکرده دوباره به شرح تاریخ آن سلطان غازی می پردازیم .

## سلطان محمود غزنوی بر سلجوق رحمت آورد و عاقبت چه سد ؟

تاریخ و آینه :

تاریخ مانند آینه است که باید گذشته را در آن دید و از روی آن ، به تنظیم آینده پرداخت . بیدل می گوید :

حیرت آهنگم کی می داند زبان راز من　　گوش بر آینه نه تابشنوی آواز من

عبرت از تاریخ عبرتاز آینه است اگر آینه نیکو نمود و دوام می یابد داد و اگر نیک نبود از دوام و تکرار خود داری می یابد . سلجوقیان که به فرمانروایی رسیدند در ترکیه فعلی ایران و افغانستان مردم صحرا بود از سال ۱۰۳۸ م تا ۱۱۵۳ م حکم راندند .
هنگامیکه بسلطان محمود در ماوراءالنهر بود ، قرار نوشته " گردنیری" فوجی مردم از سالاران و پیشروان ترکستان پیش او آمدند و بنالید از ستم امراء ایشان برایشان ، واز رنجهایی که برایشان همی بود گفتند ما چهار هزار خانه ایم اگر فرمان باشد خداوند ( سلطان محمود ) ما را بپزیرد ، که از آب گذاره شویم ( از آب بگذریم )و اندر خراسان و طن بسازیم او را از ما راحت باشد ، و ولایت او را از ما فراخی باشد که مرد مانی دشتی ایم و گوسفندان فراوان داریم و در لشکر او از ما انبوهی باشد "
سلطان محمود ایشان را اجازه داد تا در قسمتی از خراسان دولت غزنوی سکونت اختیار کنند ، محلی کنند محلی که برای شان انتخاب کرد سرخس[۱] بود ( که بعد از فروپاشي دولت شاه زمان ۱۸۰۹ م از افغانستان مجزا گردید )
درین وقت یکی از زغمای دولت به سلطان محمود گفت : این ترکمنان را چرا اندر ولایت آوردی و این خطا بود که صورت گرفت . رئیس این ترکمنان دقاق نام داشت و پسرش سلجوق که این سلسله یعنی سلجوقیان همین نام را شدند و سلطنت بزرگی تشکیل کردید غزنی را نیز تصرف کردند .
سلطان محمود متوجه شده بود تنها گفته بود اسلحه با خود نداشته باشند.
شرح حال سلجوقیان و فتوحات شان تا استانبول و بغداد موضوع این مختصر نیست اما در همان زمان امیر طوس که یکی از شخصیت های زمان غزنویان بود به سلطان محمود گفت که اشتباه شده است همچنان بود که سلجوقیان غزنی را گرفتند داخل قصر محمود شدند .
در کتاب طبقات ناصری نام این شخص امیر ارسلان آمده است که حاجب خراسان بود ولی هر دونام که یک شخص است به سلطان محمود مشوره دادند که ایمردم " سلجوقیان " را بکشند یا شست های دستان را ببرد که نتوانند سلاح استعمال کنند . سلطان گفت : " من همین وعده را کرده ام این بی رحمی است که آنان را بکشیم یا انگشتان شان را ببرم . "

---

[۱] سرخس با تعیین خط دیورند بروسیه تعلق گرفت، فعلاً در ترکمنستان است

چنین مثالها که خاکی از ترحم شاهان بزرگ افغان باشد بسیار است ، و درین مختصر از ذکران می گزاریم .
امیر عادل سبکتگین و سلطان محمود هر دو از روحیه افغان بر خوردار بودند ، چون ملک الدنیا یعقوب صفار و غیاث الدین غوری ، شهاب الدین غوری، شاه محمود هوتک ، احمد شاه بابا اکنون می خواهم مثال بسیار نادری از یک افغان عادل بیاورم که او پادشاه نبود ، برای آنکه هر افغان آن را بخواند و با خود بیندیشد که با این شخصیت در چقدر فاصله قرار دارد .
ذکر مثال از یک شخصیت دولتی دوره قاجار ایران است بنام حسین اعتماد السلطنه در کتابی که برای ناصرالدین شاه نوشته است از دوره هوتکیهای افغان در ایران نیز سخنها دارد : روز هفتم نومبر **۱۷۲۲** م شاه محمود هوتک افغان در اصفهان نخیستن مجلس خود را دایر کرد .
درین مجلس که ذکر آن آمده است شاه محمود هوتک آنانیرا که به شاه حسین صفوی خیانت کرده بود به تایید شاه حسین به گفته اعتماد السلطنه ناصر الدین قاجار از تیغ بیدریغ احسان گذرانید. در سال های اخیر از سال **۱۳۵۷-۱۳۸۲** هیچ خاین و جنایتکار مجازات نشد همه در همه احوال عزیز و سر فراز بودند تنها نجیب الله آخرین رییس جمهور رژیم های کمونیستی که طالبان او را مجازات کردند .

## مرگ سلطان محمود غزنوی

کارنامه های محمود زابلستانی غزنوی همه ممتاز است اما مرا از مرگ او تعجب آمد چنین مرگی کس نداشت مگر گرشاسب معروف به غرغشت .
تاریخ گردیزی از مرگ او چنین یاد کرده است :
و مرامیر محمود رحمة الله علیه علت دق پدید کرد [۲].و چند گاه برآن آمده بود و علت قوی گشت ، و هر روزی امیر محمود از آن علت ضعیف تری شد ، همبران نالانی خویشتن را بتکلیف و حیلت قوی همی داشت و چنان نمود بمردمان که او را رنجی و بیماری نیست ، و همبران حال بخراسان آمد و بیلخ رفت وزمستان آنجا ببود ، و چون وقت بهار آمد ، نالانی بروی قوی گشت ، وروی سوی غزنین نهاد و چند روز در غزنین ببود ، و هر چند حیلت کرد خویشتن را اندر نتوانست یافت ، نهایت ضعیف گشت .

---

[۲] بیماری سل

اجل مرگ از آمد و هیچگونه برجامه[۳] نخفت الاکه همچنان نشسته همی بود و اندر آن حال جان بداد رحمة الله نور حضرة .

وفات امیر محمود رحمة الله روز پنجشنبه بود بیست و سوم ماه ربیع الاخر سنه احدی و عشرین و اربعمائه .

سلطان محمود که یکی از بزرگترین رجال افغانستان بود بنام امیر هفت کشور یاد می گردید .

خـداوند ماشاه کشتورستان که مای بدوگشت زاولستان
امـیر دول میر محمود غازی امین مـال ، شاه زابلستان
شـه زابلستان محمود غازی در گردن کـشان هفت کشور
به نـیزه کرگدن را بکند شاخ به ژوبین بشکند سیمرغ راپر

"[۴]اسدی طوسی"

سلطان محمود زابلستانی را دوهمسایه به دو صورت به نگاه مساعدی نمی بینند هند به علت شکستاندن بتان ، ایران به سبب محکم بودن او در اوهمه شهکاری ها او از " ایاز " یاد کنند که بخش بسیار کوچک زنده گی او باشد یا نباشد .

سلطان نام افغان را در تاریخ جهان زنده کرده است

---

ـــــــ

# زمزمه غلې شوه

ژوندون د څښتن تعالی په فاني نړۍ او باقي نړۍ کښې کښلی دی او "تله يې کېښودلې د حق او باطل د خير او شر د بنده ګانو دډاډ لپاره ،چې د لته يا هلته به عدل کېږي حق به د هر چاپر خپل ځای وی .

شفاعت به زمونږ د پيغمبر محمد"ص" ور سره وي . الحمد لله رب العالمين زه بنده د الله قدرت الله ،چې ۱۳۱۰ لمريز د تلې په لسمه د کابل په آهنګريو کښې زېږېدلی يم درې نومونو سره بلد شوم آهنګرخانه ، بالاحصار ، لاهوری در وازه .

لومړی آهنګرخانه د بالاحصار په خوا ،چې هلته امپراتور تيمور شاه او سيده دده د اور دو وسله دلته جوړيده .

دوهم لاهوری در وازه ،چې ابدالي پادشاهان هلته و .

دريم لاهوري در وازه ،چې له همدې ځايه لاهور سره تګ راتګ کيده لاهور هم د افغانستان لوی ښار و.

په کابل کښې مسلمانان ، ارمنيان ، يهودان، هندوان ، چنداوليان ، کردان ، کشميريان ، بيات ، افشار ، بختيار و ريکا ، فرمولیان ، پنجابيان ، سبارسيان اوسيدل د ټولو لپاره کوڅې او سيمې وې د هند موسقي استادان راټول د امپراتور تيمور شاه په هوسا دور کښې و دوی ټولو دخوشحالی ژوند کاوه.

د دريو نومونه په باب کتابونه ليکل کيدای شي.

تاسې به وګورئ ،چې زمزمه څنګه غوريدله او څنګه غلی شوه ؟

زمزمه ،چې غلې شوه ملي ژوند مو غلی شو.

# زمزمه غلې شوه

زمزمه د هغه توپ نوم دی ،چې د احمدشاه بابا په حکم جوړ شو او د پاني پت په ډګر کښې وغوړېد زمزمه توپ اوس په لاهور کښې دی په کال ۱۳۸۴ لمريز و ،چې زما زوی ولي احمد مور او مشره خور يې لاهور ته لاړل .

ما دوی ته وويل : چې د لاهور له پوهنتون او موزيم سره هلته زمزمه توپ دی د هغه عکس واخلئ او ماته يې راوړې ديرش کال وړاندې ما ددغه توپ زيارت کړی دی.

ددوی سترګې ،چې په زمزمه توپ ولګیدې لاسونه یې په تندی کینښودلي و او د توپ سلامي یې کړې وه .

دوی ،چې بیرته راغلل سربېره په عکس د توپ د ژیړو وړو کښې نمونه یې هم راوړې وه ،چې لاهور کښې خرڅېدله او دوی پیرودې و.

ما ،چې د توپ نمونه او عکس دوستانو ته ښوده دوی ته عجیبه برېښیده او باوریې نه و ،چې دا به همداسې وي؟

د احمدشاه بابا توپ خانه له زنبورك ، عندلیب زمزمه چهرپاري ډېره لویه وه ،چې او ه سوه توپونه و

په دې ورځو شپو کښې افغانان په خان ډاډه نه دي ،چې دوی به حربي صنایع درلود . له نیکه مرغه په لاهور کښې د " خبران" په اخبار کښې د زمزمې په باب یو نوی مضمون خپور شو ،چې د توپ عکس هم په لومړی مخ کښې چاپ شوی و په لاس راغی

په لاهور کښې یوازې زمزمه نه ده غلې د امیرشیرعلی خان دزماني څو نور د ماشین خانې توپونه هم غلي دي په افغانستان کښې دا نشته یوازې پخواني دفاع وزارت مانۍ سره د انګلیس جوړ دوه توپونه و ما په کابل کښې د یوه آهنګر په کور کښې د یوه توپ میل لیدلی و

چې هغه هم د اوسپنې یو ټوټه وه د کارشیان تري جوړیدل.

خبره هلته کوډه وه ،چې محمدزي پادشاهانو کوم ،چې انګلیسانو راوستي و سر امریک ظاهر شاه کرزي پورې ټول ددغو غورځنګونو ،چې میرویس نیکه او احمدشاه بابا په لاره کړي وه ، مخالف و ل . نو د احمدشاه بابا اوه سوه توپونه یو هم د زیارت نیاره په افغانستان کښې نشته یوازې زمزمه په لاهور کښې ده نور ټول اثار ورك دي.

افغانانو سره به دا سوال وي ،چې ولې ټوله نړۍ افغانستان ته راغله ؟ په دې نه قانع کېږي ،چې بن لادن او ملا محمد عمر دوه سړي دلته و دا دریمه نړیزه جګړه ده ،چې روانه ده زمزمه غلې ده نه غوریږي بابا ګان نشته ۱۳۸۴ هـ ل

بیا هم څه شته ،چې د ۱۳۸۴ لمریز د لړم په میاشت کښې انګلیسان ، کاناډایان ، جرمني ، امریکایان ، استرالیایي رومانیایي پرله پسې وژل کیدل. اوس له کرزي تر

بوشه وايي طالبانو سره مرسته کېږي څوك يې کوي ؟ که دا ګوته چين ، روسيې ته ونيوله شي دريمه جګړه پېل شوي ده مونږ نه پوهېږو ،چې وروسته له امريکا به له چارسره لاس او ګريوان يو په څرګند درې تنه يادېږي ،څې لويديځه نړۍ يې له دومره عسکري ، تخنيکي او اقتصادي قوت سره لالهانده کړې ده .

نن ،چې د (۲۰۰۵م) کال د نوامبر ۱۸ او د ۱۳۸۴ د لړم اته ويشتمه ده سهار اوه بجې مې د امريکې په خبرو کښې واورېدل ،چې پر امريکايانو لوی بريد شوی څلور ژوبل يو مړ او څه د کرزي او دده دائتلاف عسکر وژل شوي اودا لړۍ د کړم سره روانه ده په يوه خبر کښې و چې د کابل جلال اباد او کابل ګرديز سړکونه له بهرنيوعسکرو ډك دي بيا هم بريدونه کېږي .

## زمزمه غلې ده نه غورېږي :

د ۲۰۰۵ دجولای اتمه خبران ورځپاڼې د زمزمې عکس په خپل لومړي مخ کښې چاپ کړ ، خبران ليکلي زمزمه د احمدشاه ابدالي په حکم جوړ شوی.

د انګليستان نامتو شاعر کپلنګ زمزمې ته شعر ويلي او زمزمه په اروپا کښې مشهوره شوه.

رنجيت سنګه له زمزمې کار اخستی دی : څکه افغان سرداران په شاتللي و .

هغه زمزمه ،چې ۱۷۶۱ م په پاني پت کښې غوريدلې وه ۱۷۵۷م وزير شاه ولي د توپ جوړولو مامور و.

۱۷۶۲ خواجه د عبدالله خان ،چې دکشمير والي و هغه سره وه .

زمزمه غلې ده نه غورېږي.

کپلنګ شاعر د افغان په لومړی جګړه ۱۷۴۲م افغانی ميرمنې ،چې په جنګ کښې يې برخه اخسته وي ستايلي دی يا دا ،چې ده د زمزمې لپاره شعر ويلي په دې خبرنه وم يوه ورځ مې له يوه قندهاري مشر نه پوښتنه وکړه زمزمه پېژنې ؟ هغه منفي ځواب ووايه .

زمزمه غلې ده شا او خوايې دومره ترافيك دی ،چې سړی نژدې نه شي ورتلای يوې غاړې ته به درېږې او سلام به کوئ.



د احمد شاه بابا د زمزمې توپ

زمزمه غوربږي او مونږ يې غږ اورو د نړۍ قوتونه راغلي ،چې زمزمه غلې کړي څلور کاله واوښتل میاشتې نورې تېرې شوې د پښتانه وینې بهېږي ؛څکه د امیراث دی د زر هاوکلو:

د لړم په ۲۷ کال ۱۳۸۴ د پرتګال یو عسکر هم په افغانستان کښې ووژل شو دوه سوه عسکر پرتګال هم لېږلي د لتوانیا استونیا عسکر هم شته ، د ټولې نړۍ عسکر هلته تللي یا نور خلك دهر چا په لاس کښې یوه چاره ده ،چې د پښتون غوښه پرې کړې.

په بله وینا زمزمه غلې کړي ، لیونۍ دنیا ده ،چې درې تنو سره جګړه روانه ده زرقاوي ، بن لادن او ملا محمد عمر تاریخ به همدا وایي ؛ څکه تروریزم یا القاعده کوم هېواد نه دی طالبان هم کوم هېوا د نه دی څه خلك به وي ،چې لاړ دي اته زره به هم نه وي ، دوه سوه زره یوازې عسکروته را وتلي دي ټولو وسایلو سره .

نن سبا د امریکې خلك وایي د عراق او امریکا لپاره یو بل ویتنام دی او څینې دا خبره نه مني ،چې یو حکومت هلته جوړ شوی.

مرګ ژوبله هره ورځ ډېرېږي او امریکایان د هیڅ لپاره وژل کېږي . په افغانستان کښې طالبانو د کرزي او صبغت الله مجددي د سولې وړاندوینه ونه منله وایي څو امریکایان ونه وزي دوی خبرې نه کوي .

دغه خبره هم څېره شوې، چې د امریکې د بهرنیو چارو وزیر رایس په پاکستان له یو روحاني مشر نه غوښتي ،چې طالبان خبروته وهڅوي اوس دوه مطلبه یا دوم لومړی دا ،چې هماغه ډله ،چې د امان الله خان په وهلو او دسقود زوي په شړلو کښې ۱۳۸۰ لمریز یو موټی و له طالبانو وروسته همغه بیرته څرګند شوی دی : د محمد نادرشاه په ځای دده زوی د نقیب او حضرت په ځای بیا یې زامن ، دوستم ، رباني ، شیخ محسني ، د نظار شورا غړي خلقي او پرچمي افغان ملتي د ټولو سرونه د امریکا له ګریوان څرګند شول دوه یم مطلب دادی ،چې د ګرشاسب بابا وینا ده ،چې د ظلم تېری په خلاف جګړه د افغان وظیفه ده دا هم روانه ده او زمزمه نه ده غلې.

د افغان ملت ګوند یو شمېر خلکو د غلام محمد فرهاد شخصیت او د افغان ملت د جریدې نوم خپل وباله او د امریکې تر خوا و درېدل ،چې تاریخ کښې ددوی حیثت وطن پلورونکی دی. *

دغلام محمد فرهاد د شخصیت او د افغان ملت جریده د تاریخ په ځانګړي پېر کښې په خپل حال پاتې دی.

## زمزمه غلې ده !

زمزمه دې ولې غلې ده بابا
لوی احمده په افغان پرته بلا
ستا حملې به ابتدا دزلزلو وه
احمدشاه بابا وخت غواړي ابتدا
زمزمې ته ضرورت دی بابا پلاره
ستا وطن کښې کړي ظلمونه امریکا
کندهار کښې جوړه شوې غلبله ده
حلا لیږي دې بچیان سبا بېګا

ACKU

پښتنـــو تـــه جـهــوره شـــوې دسیســـه ده
کفـــر کـــړي ایـــتلاف ورتـــه نـــن بیـــا
احمدشـــاه بابـــا راپورتـــه شـــه چـــې وخـــت دې
قنـــدهار کـــره بیـــا د ښمـــن تـــه کـــربلا
د ملالـــي ننګیالـــی د تـــپې وخـــت دی
پـــه میونـــد کښـــې ایوبـــان غـــواړي لـــه تـــا
زمزمـــه دې بیـــا ننګیـــال وختونـــه غـــواړي
لـــه "قتیـــل" نـــه وطنپـــال شـــعرونه غـــواړي

## زمزمه یوازې نه وه:

د احمدشاه بابا شخصیت په دې برخه کښې لاځلانده دی .چې دی د توپ جوړولو استادو . انګلیسانو دا خبره و ایستله .چې د صنایع کار .خانان ونه کړي . پښ او تبار تر کان او جولا دا ډول کارونه ټیت کارونه دي مونږ هم د احمدشاه بابا اصول پرېښودل .چې اروپايي کالي مو خوښېدل بیا څه وشول ؟ بربادشولول او ورك شولو.

د احمدشاه بابا په توپخانه کښې زمزمه یوازې نه وه تر هغه د مخه د عندلیب توپ و بیا زمزمه تر هغه وروسته چهار یاري توپ و بیا زلزله توپ و .

عندلیب ، زمزمه ، چهاریاري او زلزله د احمدشاه بابا توپخانې لـه زنبورك نه .چې د میرویس نیکه اعلحضرت فاتح شاه محمود هوتك توپونه و په زرهاو و .چې مونږ یې له زیارت کولو بې برخې یو یوازې بخت زمزمه پرېښې ده او دلاهور خلك نه یوازې د هغو زیارت کوي د هغه مادلونه په کورونو کښې لري . زمونږ ډېر افغانان له دې واقعي خبرنه دی څوك .چې دومره بې خبره وي نو تر دوه دېرش بیر غولانډې به ژوند کوي.

ماته له خپلو تاریخي مطالعاتو داسې ښکاري .چې زه هغوي کوچیانیان بولم په اصل کښې هم هغوی د چینايي لهجه یو چې دی بیا وروسته له اسلام نه دوی کوچیانیان شوي دي .چې کډوال وي مګر دوی خپل نوم ساتلي کوچیانیان بلل کېږي او کوچیان په لغت کښې کډوال ته نه وایي یو قوم دي وګوري د برهان قاطع تعریف ته .

**کوچ وبلوچ** : این لغت از توابع است ، ونام طایفه باشد از صحرانشینان که در اطراف کوهای کرمان توطن دارند .
په تاریخ او ادبیاتو کښې کوچ وبلوچ یوځای یادیږي . کوچیانیان او بلوڅان یو قوم دی دوی د تاریخ یوه لویه انساني امپراتوري درلوده .
زنبورك واړه توپونه دي ،چې په اوښانو وړل کېدل اوله همغه ځایه به یې ګولۍ ویشتلې د ایران په فتح او د پاني پت په جګړه کښې زنبورك زمونږ پت ساتلي ،چې خپلو استادانو جوړول دغه زنبورك په کابل کښې دیوه غره نوم هم دی زنبورك شاه یو پادشاه هم و د وړو کوشانیانو یا کوچیانیانو.
کوشانیان ترلسمې میلادي پېړۍ پورې واکمن و ، یعقوب لیث صفار په نهمې میلادي پېړۍ کښې او غزنویانو په لسمې پېړۍ کښې دوی سره جګړې کړې او هغوی یې اسلام ته بللي دي لویان هم دوی و.
په لومړي میلادي پېړۍ کښې ځلور امپراتورۍ وې ،چې ځلور واړو په خپلو کښې ښې اړیکې درلودې ،چین ، کوچیان ، پارت او روم .
تاین بي وایي د کوشان او پارت لاره او کړه یوشانې او سیاسي میراث یې یو و.
" څه وکړم خدایه یارمې نادان دی"
مونږ ،چې نن یوه ستن نه شو جوړولی په اتلسمه پېړۍ کښې توپخانه او جزایل مو درلودل اوس ستن نه لرو ولې ؟
د انګلیس او امریکې په تمه ناست یو بویه مونږ دغه کرکتر بدل کړو .
ورشی زمزمې ته سلام وکړئ.
زه فکر کوم د زنبورك توپ د زنبورك شاه په نوم وي ، دا نه شو ویلای ،چې کوچیانیانو توپ درلود : ځکه هغه مهال باروت نه و او باروت ګوډتیمور په پنځلسمې پېړۍ کښې راوړل خو د زنبورك شاه ، رتبېل شاه او زنبېل شاه نومونه په زاړه کابل کښې د عوامو په خبرو کښې راتلل کابل د شیردروازه او آسمایي غرونه هر یوه خپله معنی درلوده د شیر معنی پادشاه دی . آسماني له سیمې سره نژدې دی آسماني کیدای شي پناه ورکوونکی وي.
آسمایي ، شیر دروازه او دزنبورك غرونه خوایه خوا دی.

## انساني امپراتوري:

دغه اصطلاح ددې لپاره راغله ،چې دغه څلورواړو امپراتوري د امن نړۍ وه تجارت مسافرت ، يوله بله زده کول يو له بله سره مرسته کول د تعصب خبره نه کول ....
همدا دی ،چې اوس ۱۳۸۴ لمريز کښې کوچياني يا کوشاني آثار له ځمکې ابستل کېږي او غلا کېږئ مونږ دوه زره کاله وروسته غلا او غلامي ته هڅه کوو.
دراني : تر ډېره داسې فکر کېده ،چې دراني به لقب وي اوله احمدشاه بابا وروسته راغلی دی دراني قوم دي احمدشاه بابا په دې پوهېده دراني افغاني ، الياني پکتيان سبريان ، متاني ... هماغه آريايي قومونه دي ، د احمدشاه بابا نوم به مهر کښې داسې دی.
الحکم لله
ياهو يافتاح
احمدشاه در دراني
درانيان Duranian په ډېرو زړو آثارو کښې ليدل کېږي مايو څه هغه کتابونه ليدلي ،چې احمدشاه بابا د هغو مطالعه کړې ده . او د څوپاڼو کاپي يې لرم.
د يونان د لرغونو داستانو په کتاب کښې داهم ويل شوي ،چې Dorian دورين ، ايونيان Ionian او اليوليين Aeolian ،چې يونان ته راغلل تر نورو دښې رويې خلك و . د افغان کلمه هم له همدغو کلمو څخه اخستل شوې زمزمه په برصغير کښې ،چې اوس هند ، پاکستان ، بنګله دېش او کشمېر دی مشهوره ده په انګليسي اردو او فارسي اشعار د زمزمې په باب ويل ، زمزمه د بري نښه وه له دې امله په ډېرو شاهي کلا ګانو ګرځېدلی ده .
په ۱۸۷۰ م کال کښې د موزيم تر مخې په لاهور کښې کېښودل شوه ،چې ډېرسيلانيان هغه ته ورځي اوعکسونه يې اخلي.
دا و د احمدشاه دراني د توپ سوانح ،چې د خبران د ورځپاڼې په مرسته وليکل شو روزنامه خبران درېيم مخ ۸ د جولای ۲۰۰۵.
د زمزمې معنی کله ،چې څوك ورو ورو د څښتن تعالی ذکر کوي او په مکه معظمې کښې ديوې کوهي نوم دی او دزردښت د يوه کتاب نوم هم دی ( برهان قاطع)

د زمزم او به له همغې ځا نه دي ،چې مسلمانان يې د تبرك په توګه ختني افغانستان كښې يې پركفن ښندي.
زمزمه يو مبارك نوم دی او مبارك توپ د بری سوبې نښه ده او ما دپښتنو په لرغوني تاريخ كښې ثبت كړ.
پښتانه شاعران به په خپلو شعرو نوكې هغه راوړي . كه له يوې خوا په وطن بدی ورځې دې او زمزمه غلې ده له بل پلوه دغه خواشينوونكى حالات ثبت شي ،چې په راتلونى كښې زمونږ تګ لاره څرګنده شي.
په كال ۱۸۰۲م رنجيت سنګه په امرتسر كښې زمزمه تر لاسه كړې وه او خپلې كلا كښې يې ساتلې وه په ټولو حالاتو كښې ،چې په غلې زمزمې راغلي بيا هم زمزمه ژوندۍ ده د پاكستان په تېره بيا د لاهور خلك زمزمه د نيك مرغۍ يوه نښه بولي او د ډېرو لپاره هغه يادوي ډېر افغانان له دې ټولې قيصې بې خبره دي او دغه د برم او وياړ ځلى تري پاتې دی.
زمزمه يو ښكلى نوم دی ،چې احمدشاه بابا خوښ كړی دی يو شاعر د احمدشاه عدالت په دې ادبي رنګك كښې ويلي دي.
دده په قلمرو كښې نور ظلم شته     كه ښكلي له غمزې لاس واخلي

# ميرويس نيكه او احمدشاه بابا

حضرت ميرويس په ۱۷۰۹م كښې افغان چارواګي په لاس كښې ونيولې په لوړ كفايت يې سر ته ورسولې د ايران په فتح كښې زنبورك توپونه فعال و احمدشاه بابا پخپله عندليپ توپ جوړ كړ ،چې دنيشاپور كلا عندليب پرانيست.
استاد احمدعلي خان كهزاد وايي د سكندر مقابله ،چې كيدله او سكندر هسې پر مختګ ،چې نورو ځايو كښې كړي و دلته يې نه شوكولای ښكاره ده ،چې دلته منظم قوتونه و.
همداسې د صفوي امپراتوري مقابله كول او د هند د مغلي امپراتوری مقابله

مونږ افغانان په دغه ځرګنوالي پوه نه شووله هغه بده دا شوه ،چې ۱۸۰۹م وروسته شعار داشو : انګليسه راشه ماپاچا کړه ما جوړ کړه روسه راشه امريکا راشه دغه خلك له مشرانو تر کشرانو افغانان ښه دي انګليس ، روس او امريکايان دي ټول بدنام او ناکام دي.

افغان بچيان دې دا نه کوي ، دوي دې خپله رڼاله ددو بلوډيوو ځخه واخلي ميرويس احمدشاه ، ځوان لاربنود شاه محمود او شاه اشرف ، آزادشاه او سرخاني شاه شهزاده احمد او شهزاده محمد ، له رحمن بابا دې زده کړي ؤايي:

چې زما په چمن راشي ګستاخي کړي

د شبنم په ځېريې عمريو زمان کړي

ميرويس نيکه او احمدشاه بابا د نبوغ او لياقت تدبير او کفايت سره سره په مذهبي لحاظ وليان و . خوارق يې درلودل ۱۷۰۹ م ،چې د ايران صفوي د خسروخان تر مشرى لاندې پنځه ويشت زره عسکر قندهار ته ولېږل اوخسرو خان د ګرګين خان وراره و ،چې دبدل موضوع هم وه له دغو عسکرو ځو تنه ژوندي پاتې دخسروخان حال صفويانو ته ورکړي

د احمدشاه بابا پادشاهي لاځو ورځې تېرې ،چې قومي مشران پا ځېدل ډېر خلك ورسره و احمدشاه بابا پخپله ورغی هغوي يې ملت کړل دومره نوي دولتونه ، چې کال ورباندې تېر نه و بهرني او کورني قوتونه يې مات کړل خلکو ،چې دا حالات ليدل هغوی د ليل نه شو ويلای يوازې دا ،چې الله تعالی ددوی په خوادی . يعنې د ميروييس نيکه او احمدشاه بابا د سردار پاينده خان زامنولوی افغانستان ګام په ګام ويجاړ کړ دوي د پښتونولی روغه ونه منله.

شاه شجاع ،چې ووژل شوله دی نه و ،چې هغه انګريز سره و له دې و . چې د نواب محمدزمان په ځای شاه شجاع نايب امين الله خان لوی وزير ټاکلی و.

## غليم پرځوونکی توپ:

چې په فارسي خصم افګن توپ د امپراتورشاه په مهال جوړ شوی توپ ۱۱۰۷ سپوږميز کال د استاد حسن خان جوړشوی توپ دی د افغانستان د توپونو له ډلې نه يوازې زمزمه بختوره وه،چې پاتې ده د کابل د ماشين خانې ځو جوړ شوي توپونه ،چې د امير شيرعلي خان په مهال جوړ شوي هم په لاهور کښې ،چې هغه هم ماليدلي دي هغه د شاهي مسجد په يوه برخه کښې و.

ماشين خانه بيا هم انګليسانو جوړه کړې وه مګر تر هغه د مخه کوم توپونه توپك او توري ،چې په آهنګرخانه کښې د امپراتور تيمور شاه او شاه زمان په مهال جوړې شوې وې او د افغان ،انګليس جګړه يې ګټلې وه.

حسن خان په ښه توګه غليم پرزوونکی توپ جوړ کړ او پر عرابي يې و خيږ او ميرزاعبدالهادي موسوی د امپراتور تيمورشاه منشي يو شعروواېه ،چې له يوې مصرع يې د توپ تاريخ ځرګندېږي ،چې ۱۱۷۰ سپوږميز کال دی.

د غليم دهستی بنسټ د هغه له غږه له پښو ولويد

# د ملي تاريخ فلسفه

د افغان ملي فلسفه له تياري رڼا ، له ظلم او تېری نه عدل او هوسايي ته تللې ده افغان د ژوند خوند په دې کښې ويني ،چې له ظالم سره جګړه و کړي او مظلوم سره خوا خوږي. کوم ملت ،چې تېری کوونکي سره جګړه کوي هغه به خپل سرنه ژغوري ماله او پيسه خو شمېري.

هوسايي ، ښيرازه ژوند ، سمسورتيا خلکو ته راوړل د ګرشاسب بابا چارې وي. مونږ پردې نه راولو ،چې مونږ ته کور ، کالي ، ډوډی راکړي يا آبادی راته وکړي مونږ ،چې خدای وشرموي بيا نوروته لمن نيسو اوله دې نه مو کوم خيرنه دی ليدلې

سوسيالزم د يموکراسي او ناسيو نالزم نه غواړو مونږ د تاريخ ملي فلسفه لرو مونږ پښتونولي لرو افغانولي لرو مونږ افغانيت لرو افغانيه خدمت لرو که زمزمه په خبرو راشي همدا به راته ووايي.

د امان الله خان دا خبره سمه ده زه د امنیت لپاره له بهرنه څوک نه راولم ۱۳۰۸ دلیندی ۲۷ د کابل په عمومي بڼ کښې امان الله خان دا خبره کړې وه ،چې سقاوزوي خیرحانې ته رسیدلی و.

د ۲۰۰۵ ددسمبر لسمه د ۱۳۸۴ د لیندۍ نولسمه ، د افغانستان په باب څو خبرې لومړۍ دا ،چې د ناروې دولت افغانستان ته پنځه F_۱۶ الوتکې ورکوي ، حامد کرزي په اسلامی کنفرانس کښې ،چې مکه معظمه کښې و وویل : افغانستان د ځان د ساتلو توان نه لري موږ ته له بهره باید نظامي او مالي مرسته وي.

په افغانستان کښې څلور الوتکې بېړني ښکته کیدوته اړ شوې بیا سوځېدلې دي .

لس تنه پولیس هم وژل شوی . پنځه امریکایان ټپیان شوي یو تن وژل شوي دا ،چې د یوې ورځنی وي خوښکاري ،چې زمزمه غوریږي.

د دسمبر په نهمه ۲۰۰۵ اسلامي کنفرانس د ایران جمهور رئیس احمدي نژاد عجیبې خبرې وکړی هغه په لومړي ځل ویلي ،چې هتلر د جرمني مشر زما په فکر یهودان نه دي سوځولي او شپږ میلیونه یې نه دي سوځولي او شپږ میلیونه یې نه دي وژلي په دې کښې مبالغه شوې ،چې د اسرائیلو لپاره ایرائیل جوړ شو په اتریش یا جرمني کښې دې یوځای دوی ته ورکړ شي.

احمدي نژاد مخکې هم دا ویلي و ،چې اسرائیل دې له نقشې و اېستل شي په همدې باب د آزادی رادیو ،چې له پراګ نه خپرونې کوي ښاغلی تکل ، سره مرکه وکړه دغه رادیو هم د امریکې ده ،چې افغانستان کښې آسانه اوریدل کېږي.

ما وویل : د احمدي نژاد دا خبري سیاسي نه دي احساساتي دی بله پوښتنه داوه ،چې احمدی نژاد غواړي د خمیني غوندې مقام و مومي ماوویل : خمیني له ښخه ملا راغلی هغه امام شوی داجتهاد حق یې درلود احمدي نژاد داسې نه دی.

ما وویل : په ایران کښې شعیه امامت و په افغانستان کښې سنی امارت امریکا امارت ووایه عراق کښې یې هم سنیان برباد کړل.

ددسمبر په لسمه ۲۰۰۵ دا خبره هم وشوه ،چې عراق کښې د پترولو لوی شرکتونه پیسې لګولي ،چې د عراق تېل واخلي اوس عراقیان مقاومت کوي ، بش وایي ،چې بله اونۍ د عراق دولسي جرګې انتخابات کېږي او وضع ښه کېږي . دا جګړه لکه

،چې وبل کېده ښکاري د تيلو لپاره دي افغانستان کښې همدا خبره ده ،چې د مرکزي آسيا او خپله د افغانستان منابع دي، له دغو چينوګته غواړي.

شمه تورې تکه تورې   زه دې خورم ته راته ګوره

د پښتنو وړکودا دلوبې سندره وه اوس يې ګورو.

اتلس کاله مې وشوه ،چې امريکا کښې يم تر اوسه په امريکايي خوی نه يم بلد په ۱۳۸۳ کښې يوه ځوان امريکايي ،چې ځان يې د کانګرس لپاره کانديديت کړي و يو ليك راولېږه ،چې دديمو کراتانو له پلوه دوير جنتيا د کانګرس من لپاره ټاکل شوي يم او زما د کار لارې دادي نوته خپل کورنی او ملګري و هڅوي ،چې ماته رايه راکړي دوه يم څه بسپنه او ما دا مرسته ورسره وکړه ، ددوی پخپلو کښې رابطه ده بيا دسناتور ادوارد کيندی هم همدغه غوښتنه وکړه دا ددوی د کار لاره ده زه کوم رسوخ نه لرم.

حکايت : داسې مې اورېدلي ،چې کوم انګليس له خپلې مېرمنې د مرۍ د علاقې ښنتن ته ورغلي و ،چې د مري سيمه ،چې ډېره ښکلې سيمه ده نژدې اسلام آباد ته پروت دی دوی پخپله کښې چنې وهلي ،چې په دومره يې اخلم د ځمکو خاوند نه منله په دې کښې د مری د ځمکو ميرمن خپل خاوند وروغوښت ورته ويې ويل ،چې خير دی په همغه بيه يې ورکړه ،چې پرنګي يې غواړي خوار خلك دي وګوره د ښځې کميس يې څومره لنډ دی ته‌ا هم فکر ،چې سپين ږيری ستاتور يوه څه غواړي ته هم شل يا پنځه ويشت دالره ورکړه دومره پيسې مې دوی ته ورکړی . دوی مخه راوکړه اوس ليك په لنك پسې راځي د ۲۰۰۵ م کال د نوامبر په اته ويشتمه د ستاتور هرې ري Senator Harry Reid ليك راغی ده ليکلي : " زه تل د خلکو په چوپړ کښې يم ډېره موده ددوی خدمت مې کړی هيڅکله نا هيلی شوی نه يم لکه ،چې اوس له بش او د هغه له جمهوري ګوند نه ناهيلی شوی يم " دده ليك هم څلور مخه دي.

د ۲۰۰۵ م کال د دسمبر په لسمه د صدام جسين د عراق د جمهور رييس محاکمه وه وايي ده په ۱۹۸۱ م کال ،چې دده پر ضد يوه دسيسه شوې وه ده يوسل څلوېښت کسان خپل مخالفين وژلي دي.

په افغانستان هغو کسانو ،چې مخکې له ۲۰۰۱م کال کښې او بيا په ۲۰۰۱ کال د امريکې له جملې سره سم قندز تسليم شوي طالبانو اته زره کسه وژلي دي .

دغه خلك وزيران او دولسي جرگې غړي دي په سوونو ميليونه ډالره يې وهلي دغه دواړه خبرې د امريكې تر مشرۍ لاندې رواني دي . سناتور ريد څکه دا خبره ليكلې ده ،چې دی هيڅکله داسې مايوس نه و ،چې دی داسې وي زما به هرومرو له زړه ويني څاڅي ، دزمزمي رنګ بدل شو د بي بي زينبې دا ناره .

که څاڅي له شنه زړه مې ويني څاڅي

اصفهان پرون زمونږ و نن نادر ته نرو ښځې په کښې ناځي

هغه و کال ۱۷۳۰م اوس د۲۰۰۵م ،چې دوه سوه پنځه اويا کاله واټن دی مونږ په خبره لاپوه نه يو . نو د زمزمې زمزمه ډېره اوږ ده شوه.

د ۲۰۰۵ د سمبر ۱۹-۱۸ د ۱۳۸۴ د ليندۍ ۲۶-۲۷ .

په افغانستان کښې ديك چيني د جمهور رييس بش مرستيال د ولسي جرگې د پرانيستو په غونډې کښې گډون وکړ د افغانستان امنيت د امريكايانو په غاړه دی د ملگر ملتو ، ناتو او ددفاع وزارت عسكر ،چې ټول سل زرو ته رسيږي هوا او ځمكه د امريكايانو له خوا څارل كېږي حامد كرزي دا حالت د خدای مهرباني وبلله .

د امريكې جمهور ريس بش وويل : زه د عامه رايو پروا نه لرم څوزما ساعت گرځي زه به جگړې ته په عراق كښې دوام وركوم بش په دوو اونيو کښې پنځه وينا وې وکړې په پنځمه وينا كښې يې وويل مونږ يوازې نه يو عراق او افغانستان راسره ملگري دي. بش په تيليفون او ايمېل بنديز و لگاوه ،چې هغه به څارل كېږي ديموكراتانو وويل بش د امريكا په ملت ويسا نه لري.

ددې خبرو اړه له زمزمې سره ده ؛ ځکه افغانستان د امريكې په لاس كښې د طالبانو بريدونه دوام لري او زمزمه غوريږي.

د ليندۍ په ۲۶ کال ۱۳۸۴ له پراګ نه د آزادي راديو په يوه گردی مېز خبرې و کړې د افغانستان دولسي جرگې په باب له واشنگتن نه ليكوال له پاريس نه داكتر اكبر وردگ له هالند نه پخواني د پلومات د ياني او وينا اتريش نه زكيه مليار د ښځو دحقوقو د كمېټې مشره ده .

ما وويل : رحمان بابا وايي

مركه زما دمرگ نه دې نو څه دی رقيبان دې رابللي دي پوهېږم

## د ((افغان ملت)) لنډ بهیر:

په دې باب ډېرې خبرې نه لیکم ، په کال ۱۳۴۴ لمریز خدای بښلی فدا محمد فدائي ما ته وویل: مونږ یو ملي ګوند جوړوو پاپا تر مشرۍ لاندې . زه پاپا ته ورغلم ،چې داسې یو څه مو په نظر کې دي ، هغوی وویل هو ، ما وویل : ګوند جوړول یو سیاسي عمل دی ، په سیاست کې مخالفت وي ښایي تاسو دوستان هم مخالفت ته ملا وتړی او ددوی اخلاص او احترام به نه وي ، پاپا وویل :" زه د افغانستان دپاره هر تکلیف منم " بیا ما د هغوی حضور ته وویل : د ګوند تګ ټکی به څه وي ؟

هغوی وویل : " اعلحضرت امان الله خان د افغانستان دپاره ښې هیلې درلودې هرې ملي خبرې ته یې پام و ، په اسلامي ازادو هېوادو کې لوړ حیثیت و ، مونږ به د هغه د احساس او هیلو له مخې په مخ ولاړ شو . "

دافغان ملت په جریده کې د امان الله هغه وینا خپره شوه ،چې د انګلیسانو دتګ په مهال یې کړې وه ، همدغه ورځ د استقلال ورځ هم وه .

د امان الله خان د وینا ټکي داسې دي " د استقلال په ورځ ما ویلي و ، یا مرګ یا ازادي ، نن د الله تعالی په مهربانۍ او ملت د توري له برکته هم ژوندی یم هم ازاد ،چې زه دا دوه هم ژوند بولم ."

امان الله خان وویل : " مونږ د هند له مسلمانانو سره خواخوږي لري که د هغوی فریاد زمونږ تر غوږ شي مونږ به هغوی سره ودرېږو او که د سرحد د پښتنو فریاد واورو مونږ به د سرحد په اوږدو کې جګړه پېل کړو . "

په داخلي سیاست کې هغه وویل : د افغانستان ابادي ، سمسورتیا او معارف زمونږ ضروري کار دی.

د امان الله خان د هیلو په رڼا کې زمونږ کار پېل شو . کله ،چې د امان الله خان ویناوې خپرې شوې او د غلام فرهاد شخصیت د افغان ملت د جریدې او حزب پېژندنه وشوه .

مونږ دا هم شعار وګرځاوه ،چې زمونږ فلسفه د میرویس نیکه او احمد شاه بابا ده . هر کله چې هر څوك په دغه خط ولاړ وي هغه افغان دی .

دا خبره څکه وشوه ،چې که پاپا غلام محمد فرهاد افغان ملت دا دی ،چې نن ملي پرګنې په همدې ولاړې دي ،سوله په دې راځي .

که نه نوداسې اخ او ډب به روان وي هېڅ څوك به هېڅ ډول برې تر لاسه نه کړي ، د هند مسلمان او پښتانه د اعلحضرت امان الله خان په وینا کې یاد شوی ، د پښتنو وژل په شمال او جنوب کښې د اختر معنی نه لري ، اختر نه دی . رحمان بابا وایي :

که هزار خله لاسونه سره کړي په نکریزو
تا زما پـه ویـنو ولـلـې دی پـوهـېږم

## داحمدشاه بابا افغان فلسفه

د احمدشاه بابا له مبارکې خولې د فلسفې کلمه نه ده وتلې ، هغه عالیجناب افغان خیالات ویلي دي اعلیحضرت احمدشاه بابا ویلي دي افغان خیالات بویه روښانه شي . دغه خیالات به له هغه ځایه پیل کړو ،چې نادر افشار وژل کېږي " ژان ګور" هغه داسې بیانوی : کله ،چې احمدشاه ابدالي د نادر د قتل خبرو اورید ده نه منله ،چې په دومره حفاظتي تر تیباتو دې چاوژلی وی . ځکه دده مخافظین د نادر افشار له قوم او خپلوانو څخه و.

ژان ګور وایي : د احمدخان ابدالي په باب ډېرڅه نه وایم ؛ ځکه موضوع بدلېږي که څه هم احمدشاه خان ابدالي د غره له څوکو څخه دی.

احمدشاه بابا دا خبره نه منله څوتنو افغانانو ورته وویل : چې د نادر افشار سر یې د نیز په سرلیدلی دی احمدشاه بابا پوښتنه وکړه پرون شپه د خاصه قرا ولانو مشر څوك و ؟

ده ته وویل شو : قوچه بیك افشار .

د افغانانو امیر له کرکې ډك غږ سره وویل : آیا د پادشاه ساتونکی پادشاه وژني ؟ هغه خو د ساتلو دنده درلوده افغانانو وویل : تاسې یې په خپلو سترګو لیدلی شي.

احمدخان ابدالي توره تر ملا وتړله او ځادر پر اوږو واچاوه د پېښې ځای ته ورغی .

افغان خیالات کښې هغه څوك ،چې د محافظې وظیفه لري هغه د خپلې دندې په خلاف څه نه کوي.

احمدشاه ابدالي افغان ازبك مشران خپلې خیمې ته وبلل او هغوی ته یې وویل : زمونږ اړیکې له افشار وسره ښې نه وي یوازې له نادرشاه افشار سره مونږ قول کړی و اوس ،چې هغه مړ دی مونږ تعهد نه لرو د نادر شاه خزانه هغو ته رسېږي ،چې دده دوستان او دښمنانو ته یې نه رسېږي.

مکر لويه او ثابته خزانه هغه د پارس د ملت مال دی هغه به هماغسې پاتې وي.
احمدخان ابدالي هلته ،چې نادر وژل شوي ورسيده څلور خوا وې ونيولې سخته جګړه وشوه افشارو ماته وخوړه.
قوچه بيك پر احمدخان غږ وکړ ته خوافشار نه يې ولې د هغه بدل اخلي ؟ احمدخان وويل ماخپله وعده تر سره کړه.
احمدشاه بابا چټك د قندهار په لوري وخوځيد.
خيالات : " هر ځای ،چې يوه دنده مو په غاړه واخسته صداقت به مخې ته نيسي" " په وعده او ژبې به وفا کوئ"
" دښمنان حق نه لري دچا له مال نه ګټه واخلي دا حق د دوستانو د ی"
د افغان د پادشاهانو پادشاهی دښمنا نوړنګه کړې ده.
" هغه مو بېرته جوړه کړه ټول افغان په يوه مرکز ټولوو"
دوی نور له پردې اسارت نه خلاص دی"
" افغانستان دارالامان دی او دلته هر چاته امان دی"
" هغو دولتو سره ،چې مونږ د جګړې په حال کښې يو د همغو هېوادو وګړي دلته په امان کښې.
" جسمي آزار او سپکاوی د انسانانو منع دی"
هغوی ،چې غلامان لري د هغوی د شکنجې او وژلو حق نه لري.
" هغوی ،چې د ظلم په خلاف او د عدالت پلويان دی افغانان دي"
افغان خيالات د احمدشاه بابا ددولت په اصولو کښې ليدل کېږي ، چې د هغه لپاره کار بوږيه وشي.
کوم هدايت ،چې د ه خپل زوی امپراتور تيمورشاه ته ورکړی دی له هغه هم افغان خيالات ځرګنديږي.

۱. د مجرم پوزه له غوږ غوځول په قطعي صورت سره منع دی.
۲. افغان قبايل تال په يو والي او اتحاد کښې وساته.
۳. مالك ته د غلام د وژلو واك مه ورکوه.
۴. حکم وکړه هر څوك کولای پر پادشاه آزاد اعتراض وکړي څو عمومي رای در سره وي.

۵. خپل رعيت تل سلام استوه ـ او د پوهانو غوندې جوړ وه ،چې له ټولو علومو خبر شي مذهب او طبيعات او نور علوم او د هغوی يعنې پوهانو په اتفاق.نظر د هېواد کارونه پر مخ بيا يه .

۶. د حکومت لپاره سم قوانين جوړ کړه مخکې تر هغه ،چې قوانين پر خلکو عملي کړې په خان وزيرانو اميرانو شهزاده ګانو او عزيزانو باندې يې عملي کړه .

۷. عسکرو ته په خپل لاس معاش ورکوه او تل يې رضايت ترلاسه کړه .

۸. د هېواد د خمکو له ماليا تو يوه پيسه به د خان لپاره نه اخلې .


۹. د تعظيم او ټيد بدلو د ود منع کړه .

۱۰. فاميلي يو والي وساته او د بېلېدو اجازه مه ورکوه.

افغانانو ته اجازه مه ورکوه ،چې خپلې ښځې طلاقې کړی او دابې ننګې ده.

# د افغان ملي فلسفې شرحه د احمدشاه زینت الفردوس په سکو کښې

د احمد شاه بابا له دورې دوه نیم سوه کاله کېږي ،چې چا دا خبره ونه کړه ، زما له ژوند نه پنځه اویا کاله اوښتي دي که یې ونه کړم بیا به دوه پېړۍ نورې پاتې وي . د هغې مینې له مخې ،چې زه یې میرویس نیکه او احمد شاه بابا سره لرم د دوی په یاد مې ډېرې قصې ټولې کړې . له هغې جملې نه مې د احمدشاه بابا څلور سکې ساتلې دي ،چې یوه مې په غاړه کښې وي ددې مانا دا ده ،چې زه له اوسني مهاله مخ اړوم ،چې امریکې او ایتلاف زما تومن لاندې کړی دی . خپلو ورونو مې امریکې سره مرسته کړې او کوي یې



لومړۍ سکه : د سپینو زرو ، حکم شد از خالق بیچون وچرا احمدشاه سکه زن برسیم و زروپشت ماهي تابماه .

دوه همه سکه : مسین ، احمدشاهي فلوس په یوه مخ په بل مخ یو ښکلی ګل

. درېیمه سکه : افغان ملي

فلسفه : د دوو مرغانو په یوه لاس یو ګل نیولی ، بل لاس یې یو بل ته د روغبړ په څېر ورکړې یعنې :

ملګرتیا ، دوستي ، وروري او سمسورتیا ، خوشحالي او ښېګڼه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |

شپږ خواوې ،شش جهت ، ختیځ لویدیځ شمال جنوب هسك ځمکه .

څلورمه سکه : مسین ، پرته زمونږ نړۍ ، توره پرې ، شنه څانګه په بل مخ فلوس لیکل شوی . زه نېك مرغه یم ،چې زما سترګې د بابا په نوم او سکو لګېږي او لمسولی یې یم. دغې سکې ،چې په خیر وکتل شي دوه تورې دي اودي ته وایي احمد شاهي ذوالفقار.

ACKU

د رقیب د بده خویه یار بدخوی شو
زوغ سرې پمنوي د پـــمن پـــخه
(حمیدبابا)

# د پښتون په کور ناتار

څو به ګورم د قیامت ورځو او شپو ته
دا انــــجام په دم قدم کښې د آغاز را

د ۱۳۸۰ لمریز کال د تلې د میاشتې اوه لسمه وه ،چې د امریکې (ب ۵۲) الوتکې والوتې او د افغانستان ښارونه یې بمبارد کړل له دې کلکو بمباریو وروسته څا ونه ویل څومره خلك مړه شول ؟ څومره کورونه او ودانۍ ونړېدې ؟ ځکه د نړۍ خپرونو دانه شو ویلې .

له دغې ورځې وروسته ټول ناتار د پښتانه په کور دي ، تاجك ، ازبك او ډېر پښتانه له امریکې سره نیغ ولاړ دي . درانی معتدل خلك غلځیان تاوده دي ، دغه نرم پښتانه د ګرمو مخالف دي دا خبره څوك کړلې نه شي ،ځکه طالب او القاعده کېږي او د هغوی وژل نه یوازې روا دي ضروري هم دي جنګ له دوی سره دی . یوه خوا امریکا ،اروپا بله خوا پښتانه ، پښتني بې بیانې سرتورې شوې لکه د نادر افشار په ناتار کښې ،چې بې بې زینبې ویلې دي .

چــــالـــیدلې زیـــــنبو وه ؟
اوس له کوره وزې زخمیانو ته سرتوره

که پښتانه په هغو حالاتو خبر وای که دوی پښتني احساس درلودای که دوی پښتانه وای داسې بیا نه پېښېدل . خریت بادشاه محمد ظاهر ددې ناتار په سر کښې ودرېد دا خبره هم څوك نه شي کولای . سترګې پرانستې ،خولې ترلې دي .

چې هر دم پرې د نیستۍ تاختونه کېږي
هی توبه شه د حمید له دې هــــستۍ

دواړه خواوې چپه خوله دي . د ډالرو باران دی . چپه خوله پښتانه و له دین ناموس او خپلواکۍ تېر شوي و .

ACKU

وزیرستان کښې لا پښتونولي شته پاکستاني عسکر مخکې امریکایان وروسې بمباري د امریکایانو په لاس کښې ده خلك داسې فکر کوي .چې وزیرستان لکه هندوستان یو لوی هېواد دی ، دوه بلیونه ډګري لري اتومي وسله او پیاوړی اقتصاد لري . وزیرستان یوه وړوکې سیمه ده غرنۍ ده حتی سمه غله هم هلته نه کېږي . عام پښتانه دي . کوډلې دي یوه غوا یا کومه وزه که څوك ولري هماغه یې پادشاه ده .

د پاکستان حکومت ،چې امریکې سره په دې ناروا جګړې کښې ملګری دی دم په دم څه خلك د القاعده په نامه امریکایانو ته په لاس ورکوي . لکه ،چې لرغوني زمانې کښې یو پادشاه و هغه ته یې ضحاك ماران ویل دده پر اوږو دوه ماران و ، هر ماښام به دغو دوو مارانو ته د دوه وو انسانانو د سر ماغزه ورکول کېدل .چې په وار به سرې راوستل کېدل.

امریکا ضحاك ماران دي د وګړو د سرونو ماغزه یې خوراك دي . څومره د وېرې او ډار فضا ده ؟ پیلان لکه موږکان شوي دي له امریکې یې زهره چوي . لکه چین او روسیه افغانستان به څه وکړي ؟ په داسې حال کښې .چې ملت یو موټې نه دی . خپنې پښتانه .چې یو خای بل خان وښیې .

ضحاك ظالم و وایي دیوان ورسره و ټول هېوادونه یې نیولي و ، وایي کوډګر و ، ټوله نړۍ بې وزله شوې وه .

مګر بېت نیکه حالات څارل او غوښتل یې ضحاك ووژني ددغه کار د ناره یې پوخ پلان درلود او هغه یې عملي کړ . شېخ بېټني نیکه خپل زوی توره تون له صحنې ووایست او هغه یې دې ته چمتو کړ .چې د خلکو او هېواد بدل له ضحاکه واخلي او همداسې وشول.

توره تون .چې وروسته په فارسي ادبیاتو کښې فرېدون شوې او په اوستا کښې توره تون دی . توره تون .چې لوی شو د یوې دښتې په لور وخوځېد او خپله مور یې وموندله . مور ته یې وویل : مورې ووایه پلار مې څوك دی .چېرته دی؟

ما ته ووایه زه د چا له توکم یم ؟

مور یې وویل : زما نومیالیه زویه . ټوله کیسه به درته ووایم :

په دغه ځمکه یو مېړنی و د هغه نوم بېټني و پوه او بې آزاره و . د مېړني تهیو مرث اولاد و پلار په پلار نومیالی او پېژندل شوی و

کمونېست مزاجو دغه دوه ضحاك وژل د "کاوه "پښ "آهنګر" بالـه که توره تون تـه وایې کاوه څه نه شو کولای : فرخي یزدي وایي :

ACKU

زبـــيداد فـــزون آهـــنگر گمنام رخـــتمكش
عـــلمدار و علم چون كاوه حـــداد مـــی گـــردد
علم شد در جهان فرهاد در جـــان بازي شرين
نه هر كس كوه كن شد در جهان فرهاد مى گردد

له دې دوو بيتونو داسې څرګندېږي كله ،چې څوك يو كار وكړي بيا په يوه نوم نوميالى شي د پښتونولۍ د فلسفې له مخې كه يو سړى د ښې ختې او ښې كورنۍ وي ،چې څه نه كوي هغه يو څوك نه دى د بيابان شګه ده .

له يو كاوه " آهنګر" ،چې بې نوم و كله ،چې يوه توره يې وكړه نوميالى شو ، د فردوسي په شاهنامه كښې بيتهنى يا ښېټ بابا آبتين ليكلى شوې فردوسي د هغه په سم اصلي تلفظ نه پوهېده لكه دده زوى ،چې توره تون و فرېدون شوې . اوستا كښې ،چې د فردوسي يو ماخذ دى ترسيون راغلى خو پښتو كښې توره تون دى ، توره تون ،چې فرېدون شي بيا يې څوك موندلى شي توره – تورك ( تصغير حالت ) توره تون ،چې توره كښې وي په معنا كښې توره تون وايې وياړي ،چې د آبتين زوى يم .

منم پور آن نيک بخت آيين          كه بگرفت ضحاک از ايران زمين

بېتهنى ( ښېټ نيكه ) ،چې متقي او د طب يا روغتيا په علومو پوه و دده سياسي كار همدا و ،چې يو ظالم پادشاه يې اېسته كوي او عادل پادشاه راولي . د ننۍ جغرافيا له مخې ،چې اووه هېواده يادېږي دا د ضحاك په لاس كښې و . پوهاند حبيبي او نور پوهان وايې ،چې ضحاك د سهاك معرب دى يعنى عربانو ضحاك كړى دى .

ددغه داستان له مخې توره تون ،چې فرېدون شوى دى . د ښېټ نيكه زوى دى . افغانستان ، ايران ، ماوراءالنهر هېوادونه سند او د هند يوه برخه ددغو پادشاهانو په لاس كښې وه له دغو داستانو ،چې اوستا بنددهش او شاهنامې كښې راغلي د پښتو درې نيكه ګان غرغښت ، بېتهنى او سړبن پادشاهان و .

ښاغلى احمد علي كهزاد د افغانستان نوميالى تاريخ پوه په دغه باب،چې پښتانه نيكه ګان څوك دي ؟ يوه رساله ولیكله : ګرشاسب يا غرغښت ـــــ اقتباس ، تحليل تعبير و تفسير از احمد علي كهزاد متن اشعار از حكيم اسدي توسي .

استاد كهزادپه دغې رسالې كښې د پښتنو د نيكه ګانو په برخه كښې پخواني نظر يې د انګليسانو ايجاد وبللې او غوڅ نظر يې داو ،چې اوستا او بنددهش كښې ،چې درې

نیم زره کاله د مخه لیکل شوی د بېټ نیکه ، ګرشاسب یا غرغښت بابا او سړبن بابا نومونه او کردارونه راغلي دي دا ،چې پښتانه بني اسراییل وي عرب یا ترک دا ټولې خبرې علمي بنسټ نه لري .
له بده مرغه تراوسه دا ډول نظرونه لیکل کېږي .
پښتانه ظلم نه مني دوی ،چې ضحاک ته پاڅېدل هغه هم سهاک او پښتون و .
او دا خبره له هم هغه الهام دی ،چې وایي .

چې نشه د استبداد لري په سر کښې
ماته یو دی که مغل دی که افــغان

ضحاک ،چې نړی یې ویجاړه کړه توره تون ( فرېدون) او " کاوه" ورته پاڅېدل لاسوه یې سره یو کړل ضحاک یې ونیو او د ماوند په غره کښې یې بندي کړ ، او توره تون د هغه ځای ونیو او پادشاه شو. له دې شفاهي تاریخه داسې څرګندېږي،چې پښتون ظلم تېری او ناروا نه مني

## د عصر تېری :

دا ،چې یویشتمه پېړۍ ده ، ۱۳۸۳ لمریز پر ۲۰۰۴ میلادي د پښتون په کور ناتار راروان و ، څلو کاله هماغه ناتار دی ، د القاعده او طالب په نامه کوټې پښتانه شهیدان شول کورونه یې ړنګ شول ځاروي، ماشومان، زاړه، زرې یو شانې په یوه بمبارۍ کښې مړه شول . نن پرون ،چې د نومبر ۲۸ او نهه ویشتمې وې لادغه عملیات د پښتنو په سیمو کښې روان دي ،چې کله کله په تلویزیون کښې هغه د هندوستان په پروګرام کښې ځکه د هند او پاکستان اړیکې د ښه کېدو په حال کښې دي دا عملیات د پاکستان د حکومت فعالیت ښیي ،چې د القاعده ،طالب د تروریزم په نامه دی پاکستان په دې برخه کښې د امریکې ملګری‌دی .
په عراق او افغانستان کښې جګړه روانه ده په عراق کښې جګړه ډېره کلکه ده په افغانستان کښې د پښتنو سیمې دي هغه هم جنوبي او شرقي .
کله ،چې امریکې د ۲۰۰۱ د اکتوبر په اوومه پر افغانستان حمله وکړه او د طالبانو حکومت سره یې جګړه پیل کړه. ډېرو افغانانو که په طالب خبر وو یا نه وو خبر خوشحالي کولې ددې دپاره ،چې د ځان ساته وکړي . طالب او کلک دریزه ( دریځه اسلام ته بد ویل یوه وظیفه وه . سخت کار وو طالبانو ته ښه ویل ، خپل پردي غټ واړه

ټول يود خوا وو د امريکې په خوا ما دغه سخت کار کاوو ، په هغه خوا کښې ،چې د طالبانو ټکول و نعمتونه و . ډېرې پيسې او ډېر قدرت او مونږ دا بله خوا ونيوله هر څه چې شوه تکيه پر خداى .

د لويديخ سرېتوب داسې وي ،چې په بمونو او مينو يې پښې او لاسونه والوزول بيا د طبيعي پښو او لاسو پر ځاى مصنوعي لاس او پښې ورته جوړې کړې ،بې چاره گي دومره ډېره شوي ده ،چې هغه ته هم خوشحال وي .

توره تون يا فرېدون د ضحاك قصر ته ننوت ضحاك ته يې خبر ورکړ ،چې درې تنه ،چې گروزونه يې په لاس کښې دي قصر ته ننوتل او ځوك يې مخې ته نه شي درېداى . ضحاك وويل دا به مېلمانه وي نوکر ورته وويل : مېلمانه نه ښکاري ستا د نيولو دپاره راغلي دي ټول خلك له تا اوښتي دي او ده ته تسليم شوي دي .

گرين نامور هست مهمان تو چى كاراستش اندر شبستان تو

نوکر ضحاك ته وايي که دغه نوميالي ستا مېلمانه وي نو ستا د خوب په سراى کښې د هغه څه کار دى؟ د توره تون سپاهيان د ښار خلك ټول قصر ته ننوتل او ضحاك يې کلك وتاړه . ضحاك ظالم و كوډگر و ديوان يې ساتلي و توره تون د ښېښ نيکه زوى هغه له پښو وغورځاوه اووه هېوادونه ،چې د ضحاك پادشاهي وه توره تون ته لاس په نامه ودرېدل په داسې اساني ځپوکې د فرېدون عسکر ورك و .

د بش پادشاهي د ضحاك پادشاهي ده هره ورځ خلك له ده اوري د چا پلار مړ و د چا ورور د چا زوى د چا مېړه دا ټول په يوه سرې ودرېدل او هغه توره تون يا فرېدون و کله ،چې اهل پښتون د ضحاك ماران له ظلمه په عذاب شول د ښېښ نيکه قرباني وه ،چې اهل پښتون يې له عذابه وژغور او لکه ،چې ميرويس نيکه بيا هغه وکړل او دده شاه محمود هوتك څه وکړل ؟ ده هم د توره تون په طريقه د ايران خلك د خان په لور راواړول صفويان يې په خپلو قصرونو کښې ونيول .

زه پښتانه پېژنم خو بد پښتانه تر اوسه ډېر نه دي ښه اهل د پښتون ډېر شته . نن اهل پښتون له يهود نصار او هندو سره لاس او گريوان دي . عراق هم داسې دى مړه ژواندي پښتانه عراقيان او مسلمانان شته خو توريالي او ننگيالي دي ،چې سربازي کوي .

د رقيب له بده خويه يار بد خوى شو روغ سرى پــــمنوي د پـــــمن پخه

" عبدالحميد "

عرض دا دی اهل پښتون ته ،چې د پمن له پخې څان ساتل فرض دي . پمن پښتانه په دې نه پوهېږي ،چې د ظالم ملکرتیا ظلم دی پر خپلو خلکو اوملت ،خاندي او خوشحالي کوي نورو ته ست کوي ،چې راخئ عجبه مېله ده په ډالرو کښې ولامبی . دوی پمن دي له دوی نه کرکه په کار ده .

د امریکې نبه هېواد دی ددغه ملك پخواني مشرانو نبې لارې چارې پرېښې دي خو ضحاك پرې سم شوی خپل او پردی وژني ضحاك کوډګر و . بش هم داسې دی په تشو خبرو خلك تېر باسي افغانستان او عراق کښې د تروریست په نامه په زرهاوو خلك وژل کېږي ،چې په القاعده او طالب خبر نه دي .

همدا ،چې څو کاله دمخه په سي آی ای کښې د CIA خلك ووژل شول بیا د سپتمبر نهمه ۲۰۰۱ م هماغه دی ،چې د ضحاك شبستان ته ورغلی و او ضحاك ویل دا به مېلمانه وي . ضحاك ،چې پوه شو دا فرېدون دی ،چې تر قصر پورې رسېدلی ډېر عصبي شو او څوك یې نه موندل ،چې پوښتنه ترې وکړي .

همه در هوای فریدون بودند که از جور ضحاک پرخون بودند
به شهر اندرون هر که برنابد چــه پیران که در جنگ دنا بدند
ســوی لشکرا فریدون شدند زنـــیرنگ ضحاک بیرون شدند

دلته لولو ،چې شاعر یو شاعر دی . فرېدون هم فرېدون دی مګر شاعر ،چې ابوالقاسم فردوسي دي د فرېدون نوم سره یې الف لیکلی ،چې افرېدون شي همداسې دی . ښېتنی ،چې آبتین لیکل شوی په تلفظ او لیکلو کښې د الف راوړل یو معمول دی . اوس په امریکې کښې د ضحاك پیر ناست دی او هغه بش نه دی پوهېږي ،چې خلك څومره له ده خوابدي دي نن ( د نومبر دېرشتمه دوه زره څلور) په واشنګتن او کاناډا کښې دده په ضد مظاهرې وي . پولیسو مظاهرچیان ووهل او ونیول بش کاناډا ته تللی دده غفلت په دې برخه کښې لکه ضحاك داسې دی .

هر ساعت په کښې ناحق خونونه کېږي
د خاطر کشور مې ډك شو لـــه فتوره

په دې مهال څوك ،چې د احساس خاوند وي زړه چاودون به ورسره وي .

فریدون چنین پاسخ آورد باز که ز چرخ دادم دهد از فراز
بیرم پی اژدها را از خــاك بشویم جهانرا از ناپاك پاك

فرېدون وويل : د ښامارانو جرړې وباسم او نړۍ به له ناپاکانو پاکه کړم .

## ګرشاسب ( غرغښت ) بېټنی او سړبن

پښتانه ليکوال کولای شي په هر يوه کتابونه وليکي بيا له هغه ملي فلسفه ومومي او هغه ټينګه کړې ،چې د نړۍ ټولو ايډيولوژي ګانو ، معتقداتو ته يو ځواب وي .

له نېکه مرغه زر کاله دمخه حکيم بونصر توسي ،چې په اسدي توسي پېژندل شوی . ګرشاسبنامه ليکلې ده . کوم پهلوانان ،چې په دغه شاهنامې کښې يادېږي . د کابل ، زابل او سيستان دي. او سيستان په اصل ساکستان دی ،چې د ساکو سيمه ده او ځلانده تاريخ لري ، حکيم اسدي توسي خپل ماخذ لري .

استاد احمد علي کهزاد دا مسايل روښانه کړي دي ، د آرمن شاه هڅونه حکيم اسدي توسي ته ،چې ګرشاسبنامه وليکي . خپله همدغه خبره د څېړنې وړه ده ،چې د آرمن دغه داستانونه ساتلي و او دا يې غوښتل ،چې د ګرشاسبنامې په څېر وليکل شي ،چې د هغه اصل د اتريش د پلازمېنې ويانا په کتابتون کښې شته ، په اصل کښې د پښتنو د نيکه ګانو ګرشاسب ، بېټنی او سړبن کارنامې دي ،چې تاريخي لرغونتوب لري د اوستا په مهال يا دشوی .

دوی هر يوه يو کمال درلود او دغه ميراث مونږ ته پاتې دی له بده مرغه مونږ هغه نه شو خپلولای دا دی پاتې پښتو پښتونولي او تاريخ پلورو .

لکه خسني سپک بې قدره ښه يم
خدای مه کړه هسې دروند ،چې په چا بار شم
" عبدالحميد "

اهل پښتون هر څه زغمي خو دين ، ناموس او خپلواکي ساتي هغه ،چې دا نه کوي ، هېڅکله پښتون او افغان نه بلل کېږي ، مسلمانان ځکه نه دي ،چې اهل کفره شوي دي .

ضحاك ،چې هره ورځ يې سري خوړل د دوو سړيو د سر ماغزه يې اېستل خپلو مارانو ته يې ورکول او دا خبره کلو ته ورسېده ، کاوه " آهنګر " اتلس زامن درلودل له اتلسو زامنو نور د ضحاك مارانو خوړلي و ، يو زوی ورته پاتې شو د هغه وار هم ورسېد دلته دې ،چې کاوه وايي ، ماته ځواني پاتې نه دي زامن مې مارانو وخوړل نو ضـ ، ته ورغی ، او هغه ته يې داسې وويل :

مـــرابود هـــژده پسر در جهان     از ايشان يکی مانده است اين زمان

جوانی نمانده ست و فرزند نیست بگیتی چون فرزنده پیوند نیست
مـــرا روزگار این چنین کوژ کرد دل بـــی امـــید و سری پر زدرد
یکی بی زیـان مـــرد آهنگرم زشاه آتش آیـــدهمی برسرم
توشاهی وگر اژدهـا پـــیکری بـــباید بـدین داستان داوري
که گرهفت کشور شـاهی تراست چرا رنج و سختی همه بهر ماست

کاوه وویل : په دې لویه نړۍ کښې زما د زامنو وار ولې دومره ژرورسید ،ضحاك دده زوی بېرته ورکړ ، کله ،چې کاوه د پادشاه له قصره ووت د ښار خلك هلته راغلي و ،چې موضوع څنګه شوه ؟. کاوه خلکو ته وویل : تاسې دوزخیان یاست ،چې د ضحاك پادشاهي او خبرې مو منلې دي ، په داسې حال کښې ،چې رېړدېده . هغه څرمنه یې له ملا خلاصه کړه ،چې د کار په مهال یې تر ملا تړله ( پښان یا آهنګران کله ،چې له اوسپنې شیان جوړوي د اور بخري الوزي نو دوی د څرمنې یوه لویه ټوټه تر مخې ځړوي ،چې د اور بخري د دوی کالي ونه سوځوي)هغه یې له ملا خلاص کړ او پرنېزه وټومبه رپی یا بېرغ یې ترې جوړ کړ دی مخکې او خلك ورپسې شول .

ای خدای پرستانو ضحاك د خدای دښمن دی ، کاوه پوهېده ،چې توره تون چېرته دی په هم هغه خوار روان شو خلك ورپسې .

ضحاك د کاوه زوی ورکړ خو د کاوه زړه ډك و او خلك یې ،چې ولیدل نو موقع یې له لاسه ورنه کړه او پاخون پېل شو توره تون یا فرېدون هم رسېدلې و. د فرېدون سپاهیان او د کاوه د ملګرو لاس یو شو .

زبیداد فزون اهنگر گمنام وزحمتکش علمدار و علم چون کاوه حداد می گرد

هغوی ،چې وایي تاریخ نه تکرارېږي تاریخ تل تکرارېږي په افغانستان کښې په همهغه ربړ ،چې انګلیسان اخته په همهغه روسان اخته اوس د امریکې وار دی .

دوه پلا د قندهار بانك غلا شو ټولې ډالرې یې ورځخه یوړلې ، همدا ډول د مزار شریف کوداو بریښنا خزانه غلا شوه شل دېرش زره ډالره له دغو بانکو په غلا لاړل تر کومه به امریکا بانکونه ډکوي او غله به یې تشوي . ۲۰۰۵ جنوري

# خوا له له پښتو سره

دلته غواړم يو مطلب وليکم : دا کلونه ،چې زه د بوډا توب شپې ورځې تېروم ډېر سخت کلونه دي ځلور کاله کېږي ،چې ښاغلى واتر بش د امريکې جمهور رئيس دی دا دی د ۲۰۰۴ د نومبر په دوه هغه بيا وټاکل شو

نن د نومبر د مياشتې نهمه ده ،چې د ۱۳۸۳ لمريز د لړم نولسمه کېږي ، ژوند په خپل ډول چلېږي ، خو زما حواس پرېشان دي له پښو لکه ،چې پاتې يم ، په خبرونو کې دا و ،چې امريکايي او عراقي عسکرو په عراق کې د فلوجې ښار محاصره کړی او د ښار د مرکز په لور روان دي ، ټانکونه ، الوتکې ښار له ځمکې او هوا ولي دلته د مقاومت خلك دي ،چې مقابله کوي داسې ښکاري ،چې مقاومت به ډېر پاتې نه شي ملکي خلك له ښاره وزي

د امريکې خلکو ته وويل شول کله ،چې مقاومتونه ختم شي او عراق عسکر د هېواد چارې په خپل لاس کې ونيسي نور نو هلته د امريکې د عسکرو د پاتې کېدو ضرورت نشته ، کلکه جګړه روانه ده که لس امريکايان مړه شي زر عراقيان مري

زما مطلب دا دی ،چې دغه حالت ټ حوروي نور نه ځوروي ، کله ،چې اروپايان په نولسمې پېړۍ کې آسيا افريقا او جنوبي امريکې ته لاړل او هغوی يې لاندې کړل ښه يې وخپل وې خبښل دا دی په يوويشتمې پېړۍ کښې بې ملا تړلې ده ، له افغانستان نيولې تر مراکوپورې دغه ټوله سيمه ،چې د پترولو او د کارسيمه ده غواړي لاندې کړي

په دغو هېوادو کې يو شمېر خلك د امريکې او اروپا په دې چار کښې ملګري دي اويو شمېر نه دي ، هغوی ،چې نه دي هغوی به خپل دلايل لري ، ځکه د خپل مرام دپاره خپلې وينې تويوي

په نولسمې پېړۍ کښې د وطن د خلکو دود دستور او اخلاق بدلېدل ځينو مقاومت کاوه ، جګړې يې کولې ، اوس غواړم خپل مطلب ته راشم ، چا ،چې د انګليس مخالفت کاوه هغو ته درانه کتل کېدل او هغه نورو ته سپك کتل کېدل په دې توګه د مېړنو او غازيانو ځای ښېل و ، ډېر کلونه وروسته دا وويل شول ،چې پيسې او اقتصاد د انسان آزادي ده

خداوندان روزی بحق مشتغل<br>
پراګنده روزی پرا ګـــــنده دل

يعني عبادت هم په مړه ګېډه کېږي ، ددغو خبرو مطلب دا و ،چې خپلواکي هغه ده ،چې ډوډۍ ولري . دين ناموس خپلواکي ته ارزښت نه ورکول کېده . دغه ډول خلك هم ډېر دي
زه له ځوانۍ د خوانمردۍ په لټه کښې وم ، تاريخي نوميالي مې خوښېدل د اعلحضرت شاه محمود هوتك ،چې اصفهان کښې پادشاه و او احمد شاه بابا ،چې ډهلي ته تللی و ، دوی مې ډېر خوښ و . د تاريخ له موضوع سره مې مينه ډېره وه .
وګړي غواړي داسې خلك ومومي ،چې هغه خپل سر مشق کړي په ښو يې وبولي يو اتل يې په کار دی . چې د هغه عکس او مجسمه جوړه کړي . د انسانانو کار دی خو هر څوك خپل خپل اتلان لري. اروپايان مونږ يو څه رانښيي او په خپله بل څه کوي . مونږ ته وايي تاريخ پسې مه ګرځئ اينده جوړه کړئ .
کال ۱۳۴۷ لمريز ما ته داسې يو فکر پيدا شو ،چې په افغانستان کښې دې يو داسې مشر پيدا شي ،چې دی د يوه عام سړي په څېر وي څو اروپايي کلتور ېبرته وباسي دغه اروپايي کالي او د ژوند طريقه زمونږ له اقتصاد سره سم نه دي تل به پور وړي يو . اروپايان به تر خان ښه بولو د هغوی د ژوند طريقه به سړيتوب بولو خانونه به سړي نه بولو . ددغه طريقې د بدلولو په فکر کښې وم په داسې حال کښې ،چې نورو اروپايان د سړيوب سر مشق بلل ماته دوی وحشيان غله اوسړي خواره و . په دې کښې هغه توپير ښودل و ،چې سړي له خپلې تولنې لېرې کوي او دوستان په ملت کښې کموي . تر هر څه لاګرانه دا ده ،چې وايي امريکا او اروپا دې زمونږ وطن راته جوړ کړي . زمونږ جاهلان دې ووژني جاهلان د دوی په نظر طالبان دي ،چې القاعده يې هم بولي ددې دپاره ،چې آسانه يې ووژني . دغه خلك هغه افغانان دي ،چې پيسې او منصبونه غواړي که پيسې او منصبونه نه وي بيا دوی مجاهدين کېږي دا بله موضوع ده ،چې دوستان نه پاتې کېږي
خدايږو دومره يوازې يم ،چې د رحمان بابا خبره( لکه مړی په عالم کښې پروت.له عالمه بېګانه يم ) . خو بيا هم له خپله خدايه راضي يم او منتبار ،چې لاهم داسې خلك ډېر دي ،چې خپل ايمان يې ساتلی دی . خو هغوی خدای زده کوم کوم خای کښې دی . زه خو پڅ امريکې کښې يم . بيا په امريکې هم دا ښه ده ،چې د بش سياستونه هر څوك نه خوښوي وګړي ،چې ځيني خپل تاريخي مشران ستايي . دغه ستاينه دوی ددې دپاره کوي ،چې

دوی دغسې یوه سرمشق ته ضرورت لري مګر مخالف تبلیغ دومره ډېر دي ،چې د پښتو نوم هم څوك سم نه شي يادولی ، ځکه سړی بې خبره ښکاري له اروپايي خوندونو.
په لرغوني نړۍ کښې د يوه سړي نوم يادېږي ،چې افسانه دې که تاریخ ، خو د بشر د قدرت مېړانې زړورتیا ډېره غټه نمونه ده .
د لرغوني نړۍ دغه نوميالی ګرشاسب دی ، استاد احمد علي خان کهزاد وايي ګرشاسب د پښتو نیکه غرغښت دی ،چې د غر کليمه چټکه په ګر بدلېږي . د ګرشاسب نوم اوستا ، بنداهش زړو کتابو کښې راغلي ، چې ما ليکلې دي . ابوالموید بلخي ، حکيم اسدي توسي دی یادوي هر ځای کښې نوميالی دی او دومره مشهور او نامتو سړی بل نه لیدل کېږي .
دا ،چې ولې ما دا ليکنه پېل کړه هغه داسې ،چې يو ځل مې بيا دده ( ګرشاسب) په نامه سترګې ولګېدلې . ځه ،چې ما د ده په باب ليکلي و هغه خو و دا ځل مې يو بل مضمون کښې ځای ورله ورکړ .
ما په خپله زمانه کښې د ډالرو شهیدان ولیدل نو يوازې مې تسل په لرغونو ميړنو کېده دا پلا مې د ګرشاسب نوم د طبقات ناصري په دوه هم ټوك کښې وليده ،چې د کتاب بحث د ګرشاسب له زمانې ډېر لېرې و يو ناڅاپه دې په کښې راغی .
قاضي منهاج السراج د غور د پادشاهانو په مهال قاضي و له همدې امله د طبقات ناصري تاریخ د يوه عيني شاهد ليکنه ده ،چې د ډېر اهميت وړ دي .
منهاج السراج ليکي ما په لکنهو کښې له يوه د اعتبار وړ سړي واورېدل ! کله ،چې ملك سوزبك دکامرود ښار ونيو دومره خزانې مسلمانانو ته په لاس ورغلې ،چې تول او حساب کښې نه راتلې ، ورپسې وايي : دغه خزانې د ګرشاسب له زمانې وي ،چې د چين په لور تللي و اود چين له لارې هندوستان ته راغي تر دغه مهال پورې يو زر او دوه سوه خزانې وې ، ټولې دغه خزانې د رايانو له خوا مهر شوې او په نښه وې ، هېڅ يوه له رايانو په دغو خزانو کښې تصرف نه و کړی .
دا ،چې حکيم اسدي توسي په ګرشاسبنامې کښې ويلي دي :

سپهید رشاسب تازنده بـــــود
نکردیش زبون کس نه افنده بود
درهـــــند و چین و روم از نـــــبرد

بـــکرد آنچه که رستم دستان نکرد
د طبقات ناصري له دې وينا ،چې ګرشاسب له چين نه هندوستان ته راغی او دغه خزانې يې پرېښې وې او چا لاس نه و وروړی دده برم او عظمت ښيې ، ما دا هڅه کوله ،چې ووايم د افغان ملي فلسفه له ګرشاسب بابا پيل کېږي .
تاريخ ملي فلسفه پاللې ده او ښيې يې خو کوم قانون ،چې لومړی له چنګېز نه پاڅېد بيا له اروپايانو د انګرېز له لورې يې مونږ ته دومره همت هم نه دې پرېښی ،چې ځان راټول کړی شو .
زه تل له دې په وېره کښې وم ،چې له بده بدتر نه شي او تل احساساتيانو ګرم او ملامت بللم ما د محمد ظاهر دوره تر محمد داود ښه بلله ، بيا مې محمد داود تر نور محمد تره کي ښه باله په دې کښې ملامت وم ،چې د تره کي په مهال بندي شوم ، بيا ،چې خبره نجيب الله ته ورسېده هغه چمتو و ،چې انتخابات وکړي . استعفا ورکړي د ګوند مرام يې بدل کړ اساسي قانون يې بل جوړ کړ .
بيا ګرم وم ،چې نجيب د خاد رييس و دا به و مګر کومه ورځ ،چې زار وآنه ده هغه ډېره بده ده ، په پای کښې طالبان راغلل ، طالبانو امن او امان راوست ، اخلاق سم شو ، اروپايي دودونه ،چې زمونږ له اقتصاد سره سم نه و ودرېدل .
له سينکيانګ نه تر استانبول او جاګارتا پورې خوځښت راغی .امريکا اولويديځه نړۍ روسيه هند او چين ټول يو لاس شول ،چې طالبان ووهي ، ما ويل طالبان چمتو دي ، امريکې سره خبرې وکړي او شمال او جنوب اقتصادي لارې سره يو ځای کړي که طالبان نه وي ، بېرته په هر څه له منځه لاړ شي ، دا ځله ټول راته په غصه شول هغوی ،چې غصه نه وي هغوی له وېرې څه نه شو کولای ؛ نو ډېر يوازې وم هره ورځ مې ،چې ملګري خپلوان ليدل ،چې د ډالرو په ځرك پسې خوځېدل دی د زړه وينې مې وچېدلې .
د دين ناموس او استقلال خبره نه وه ، ما به ،چې کرزی په تلويزيون کښې وليد ،چې خوشحال دی او خبرې کوي ،چې لغغانستان نيك مرغه دی ځان سره مې ويلي دي داسې خوشحال دی ، زه به مرګ په خوشحالۍ ومنم نه داسې څوکۍ يا مقام ، هغه نور لا څه کوې ،چې يوه ترجماني يا قرارداد يا کومه څوکۍ غواړي سفارت يا رياست تر مديريت پورې .

په دغسې زمانه کښې ،چې زما نه شي کېدای ژوندنه شي کېدای ژوند کله معنی لري ؟ ټول کار ،چې کولای شم څو کرښې ليکنې څو خبرې هغه چاته که پوهېږي څه نه شي کولای . بيا دا خبره ده ،چې عمر يو پاتياب لري . فعاليت يو موسم غواړي لـه هغه ژوند به څه خوند وي ،چې سم دروغ اوري بېګناه خلك ښځې . ماشومان زاړه وژل کېږي د ړنو سترګو ظلم بربنډ ظلم ويني .

د ريا خرقه خدايه مه کړئ ورپه غاړه
رحمان کوږ پټکی تړلی قـــلندر دی

دغه وحشت دی که مدنيت ؟ هغوی ،چې وحشت مدنيت بولې تر دې پورتـه ريا چېرتـه ده ؟

زه ،چې له خپل خدای سره کومه وعده لرم هغه صداقت دی کومه وعـده ،چې خپـل ملت سره لرم هغه خدمت دی که مې دانه شو کولای خيانت او ريا نه کوم نه به مې کړې وي .
ګرشاسب بابا ويلي : زه داسې هېواد جوړوم ،چې د نړۍ د ټولـو وګړو دپاره اسامه وي ، يعنې د امن سيمه مونږ دده په لار ځو . امير سبکتګين په همدې لار و . احمد شاه بابا ويل زمونږ هېواد دارالامان دی حتی هغو هېوادو سره ،چې مونږ د جګړې په حال کښې يو د همغو هېوادو خلك ،چې افغانستان ته راشي هغوی په امن دي . د ګرشاسب بابا فلسفه تر اوسه چلېږي . طالبانو دا و کړل ټولو ته امن . په ما باندې درې اويا کاله تېر شوي ما هر څه ليدلي په دغه پېر کښې مې نوميالي افغانان ،چې ژوندي و وليدلکه عجب خان اپريدی ،چې ۱۳۲۸ په مزار شريف کښې و . دده ورور شهزاده خان پېښور کښې مې آباد خان وليد . دا هغه سړي و ،چې د هند او بنګال ملي اتل سوباش چندوابوش يې د سرحده واړاو . ورو اروپا ته ورسېد ،چې هټلر او موليولني سره وکتل سړي تورې هسکې ژورې کوم ارمان ډوله څه پاتې نه دي . خوخپل د ضمير خلاف کوم کار مې د پيسو دپاره نه دې کړی . زه د ګرشاسب بابا په خبرو پوهېږم . افغانستان مرکزونه درلودل . کابل . زابل . غور . بلخ ،چې هر يو يې د قدرت مرکزونه و . لـه غور نه بنګال او جنوبي هند پورې اداره کېده بلخ هماغه باکتر دی ،چې د تاريخ په ټولـو دورو کښې د باکتر د پادشاهۍ په نامه دی . باکتر پاکتر . پکتانه هماغه يو خلك ،چې هېرودت يې تاييدوي .

آرنولد تاین بي وایي د باکتر ، مصر ،کسپین ،هند تجارتي کړی یوه تصادفي خبره نه وه ، مونږ د خپل تاریخ په رموز داسې ژر نه شو پوهېدای دا ډېر وخت غواړي داسې ښکاري ،چې برباد شولو دین ،ناموس ، استقلال ، اقتصاد ، ملي کلتور اخلاق هر څه د ډالرو په ډب کښې لاړل سبا که سرکونه پاخه عمارتونه دنګ ولاړ وي هغه افغانان به وخوروي ،چې د دوی تاریخ اقتصاد ، هڅوب ، دین ، ناموس او استقلال تللي وي یا به بیا داسې و نړېږي لکه ،چې ... : عراق دنګې ودانۍ نړېږي .

وروسته ۱۸۴۲ م ... ... له میاشتې افغانانو هغه عمارتونه وسوځول ،چې انګلیسانو جوړ کړي و .

دین ، ناموس او استقلال د سمنتو او ګاډرو په مقابل کښې څوک نه ورکوي ، افغانستان یو طبیعت لري ،چې د همدغه هېواد له تاریخه اوبه خور لري انګلیسانو روسانو ،چې جوړ نه شو کړای ، امریکایان یې هم نه شي جوړولای . که سبا افغانستان ودان شي ګڼه ګونه په کښې ډېره وي ، نڅا سازونه شرابونه وي ، خوشحالي او خنداوې وي مونږ به نه یو ، خو دا حق لرو ،چې هغه ونه منو .

سلطان محمود زابلي یا غزنوي د ابوالقاسم فردوسي شاهنامه خوښه نه کړه ګرشاسبنامه یې خوښه نه وه ، د ده مطلب د داسې یوه کرکتر غوره کول و ،چې د افغانانو دپاره او هم دده د اولاد دپاره سر مشق وي دی هم لوی سړی و ، یو سم پښتون و ، په ژبه ولاړ ، زړه سواند او عادل و ، افغان ملي مشران یو د بل په افکارو پوهېدل ، احمد شاه بابا ته ثاني محمود وایي دواړه د اووه هېوادو پادشاهان بلل کېدل .

نن ځکه مونږ تاریخ نه لرو غزنویان ، غوریان ، باکتر ، هرات ، ایراني ځینې لیکوال د ایران بولي خبره دایرت المعارفو ته هم ختلې ده ، وروسې کتابونه کښې لیکل شوي دي .په خپله هم نه پوهېږو خوچې امریکا دلته وي ، مونږ له هر څه تېر یو !

# القاعده او امریکا

القاعده یو تنظیم دی امریکا د نړۍ یوازنی زبر ځواك دی . د دوی جګړه ده لږ تر لږه درې نیم کاله کېږي . جرمني د دوهمې عمومي جګړې پنځه کاله مقاومت وکړ ، زما په عقیده القاعده انفرادي خبره ده ، چېرته چا سره ځنګه یوه عقیده پیدا کېږي ؟ هغه فاعل مختار دی ، کومه لاره غوره کوي ؟ بیا هم ګورو ،چې مقاومت څلورو ته ورسېد لکه جرمني ،چې پنځه کاله مقاومت وکړ .

نن بیا دا خبر خپور شو ،چې ۲۰۰۴ م د نومبر په لسمه د وزیرستان په وانه کښې نظامي عملیات شوي د پاکستان له لورې او دخلکو له لوري کسان وژل شوي، په دغو کسانو د چا زړه نه بدېږي ، وانه کښې د ختو کورونه دي لږه کرنه او لږه مالداري لري ، بې وزله دي ، بن لادن د الجزیرې تلویزیون کښې ښکاره شوي کوم ځای وتکوو ؟ وانه ، امریکا او پاکستان دواړه پوهېږي ،چې هلته څوك نشته بیا :نو څه وکړي ؟ له بیچاره ګۍ نه وانه ټکول کېږي ، وانه بخت دی خراب دی .

فلوجیا او وانې ته خواشینی یم هلته انسانان دي ، زمونږ همنوع دی بیا مسلمانان دي ، وانه کښې پښتانه دي .

د څښتن تعالی په رحمت په دې ورځو کښې ناروغ یم ، یعنې مړ نه یم دردمند یم ، کیڼ لاس مې ډېره کمزوري ښیې پښې مې هم کمزورې دي ، سم قدم اخستی نه شم په ټول وجود کښې سترګې او غوږونه مې ښه دي ، ډېر افغانان ګرشاسب ته له شرمه کتی نه شي ، خو زه ورته ګورم او دا مې بس دی ،چې ګرشاسب بابا ته کتلی شم . د څښتن تعالی حضور کښې به څه کوم ؟ یوه لاره شته ،چې زه بله لاره نه لرم ، ته مې لاره لټولې ده . هغه افغانان ،چې ما پېژني دوی به وایي ،چې زه چا( د بنده) په دربار کښې نه یم لیدلی، له دې بحث نه څو مطلبه او مطلوب دی لومړی دا ،چې افغانستان یوې کندې ته لوېدلی . دوه هم دا ،چې دیموکراسي او آزادي یادېږي ،چې امریکا یې تر شا ولاړه ده امریکا وایي په عراق او افغانستان کښې همدا روان دي ،چې آزاد شول یعنی افغانستان له طالبانو او عراق له صدام حسین خلاص شو ، دا به څوك ووایي ،چې مهرباني وکړه په عراق اوافغانستان کښې وګورئ ،چې خلك څوك غواړي وایي په افغانستان ټولټاکنې شوي کرزی یې منلی ، دوې میاشتې وروسته په عراق کښې هم انتخابات کېږي . ایا د علوي دوله راځي ، دا وې د امریکا یې استبداد پایلي خاین افغانان او خاینو عراقیانو د

امريکې دغلامۍ کړې غاړې ته وغورځولې ، يوملت ،چې د بل په پښو ولاړ وي ولاړ نه دي .
په دې اعتراف کوم ،چې د کمونستانو په هنګامه ما فکر کاو ،چې ديموکراسي د امريکې اساسي قانون او ، د خپلواکۍ اعلاميه به د دوی د زړه خبرې وې ، د ۱۳۵۷ لمريز د زمري په ۲۷ بندي شوم ما ته يې ويل : ستا له خولې او خبرو په عذاب يو څکه مو دلته راوستی يې ، د ۱۳۵۸ د مرغومې په ۱۸ خلاص شوم . د ۱۳۵۹ په مرغومې کښې پېښور ته لاړم هلته تر ۱۳۶۶ لمريز پاتې شوم لامو هم فکر کاوه ،چې د امريکې خبرې به رښتيا وي . د ۱۳۷۹ د تلې له مياشتې پوه شوم ،چې هسې نه دي هغه هم داسې ،چې په تلويزيون کښې يې قندهار کښې د يوې بمبارۍ يوه صحنه وښودله ،يو سپين ږيری تپي يې له خاورو راواېستې دغه تپي وويل : خبره نه په طالب کښې ده نه په القاعده کښې خبره بل څه ده ، لکه ماشوم له خوبه ويښ شوم په لومړۍ کښې ،چې نښتی وي هسې کيوتی وم .
دا درېيم کال شو څلورم ته سم شولو دين ، ناموس ، استقلال پاتې نه شول د طالب او القاعده په پلمه د پښتون اصول ماتوي ، څوك ،چې پښتون وي تر دې بده خبره بله نشته ،چې محارم ونه لري يوازې پښتانه هر وګوري حق لري ،چې محرم ولري .
په امريکې کښې د سپتمبر د يولسمې پېښې د خلکو همدردي له امريکې سره ډېره کړه وروسته داسې خبرې څرګندې شوې ،چې شك پېدا شو لکه دا ،چې په دغه ورځ هېڅ يهودي د کار دپاره نه و تللی حال دا ،چې تجارتي مرکز و يهودانو چلاوه .
د بش په کتاب کښې ( بش په جګړه کښې باب دوه ) د بش له خوا يو سړی ملا محمد عمر ته ورغی ،چې بن لادن وروسپاري ملا محمد عمر وويل داسې اسناد نشته ،چې هغه داکار کړی وي . که وي هم مونږ يې دلته محاکمه کوو . امريکا ته يې په لاس نه ورکوو ، د بش استازي وويل : بيا امريکا حمله کوي ، ملا محمد عمر وويل : دا خبرې ورسره تړلې دي کله ،چې دغه سړي بش ته دا خبره وکړه ، بش وويل ورشه دی وپوښته ،چې ولې ؟ دا ډول خبرې ډېرې دي ،چې دنيوبارك ،پنتاګان باندې حملې نه دوی خبر و يعنی امريکايي مقامات .

په افغانستان کښې شمالي اتحاد ، ازبك ، تاجك ، هزاره ،چې ډېر بدنام و ، امریکې غېږ کښې ونیول . اسیر طالبان یې د مزار شریف جنګي کلا کښې په بېرحمۍ ووژل دغو ټولو خبر د انساني حقوقو او د جګړې د قوانینو په برخه کښې شکونه پېدا کړل .

ما باندې د افغان ملتۍ اوطالبۍ ، نوم اېښودل شوی و ، په ۲۰۰۱ د اکتوبر په اووه مه ،چې د طالبانو او امریکې جګړه ونښته د هغو ،چې خوښ نه وم دا به وویل ،چې دی لومړی افغان ملتی و په آخر کښې طالب شوی زه د دین او ملت په نامه ولاړ وم ، دوی خپلې خبرې کولې دوی ،خو نه غوښتل ،چې امریکایان او شمالي اتحاد ته په بد نظر وګوري . د ۲۰۰۱ م کال کښې ماسره لس مرکې بي بي سي وکړې ما خپل نظرونه وویل ،چې ثبت یې شته .

ما فکر کاوه په سپین ږیري توب کښې بل عیش نشته بې له حق ویلو . د ۱۳۸۳ لمریز کال د روژې اختر و ، زه په روغتون کښې پروت وم د عراق په فلوجیا کښې کورونه او جوماتونه وهل کېدل ، سکنه وژل کېدل په پیپونو تړلی شوی وم نرساني تلې راتلې ځان سره مې ویل :( دغه اختر ماته په دغه ځېر ښه دی ، خوله مې خندا ته جوړېږي د یار غمه ستا دلاسه . )

نن د ۱۳۸۳ لمریز د لړم ۲۹ یو ځل په هلمند او ارزګان کښې څو تنه حکومتي عسکر وژل شوي . وېره دا ده ،چې دغه جګړه د غلځي دراني نه وی که داسې وي هر پښتانه ته د شرم خبره ده .

ټوله یو دي که غـــلځی که ابدالي دي
ښه هغه ،چې یې د زړه صفا ښینه ده

د زړه ښینه صفا نه وه تر اوسه هماغه د شرم خبره ده ( غلځي دراني) ډېر خلك په دې خبرې سترګې پټوي او په عمل کښې جریان لري .

امریکا د نړۍ جغرافیه بدلوي ، که بریالي شي یو حالت دی که نه شي بل ، که نه شي ډېر خلك به تر مینځ بې ارتباط پاتې شي اوپه زړو به یوې خوا ته بېول کېږي .

حمزه شینواری په داسې حالاتو کښې وایي زه د بل چا یا نورو خبرو کښې فکر نه کوم ، زه د افغان په غم کښې یم : دغه مطلب ډېر غوره دی یو ځل یې دلته لیکم .

په دې د روڼ غوندې ماحول کـــښې زه
څه مستقبل بـــه دانــــسان لـــــټوم ؟

د ځــانـځانی ځپه مې وړې پــه مخه
لـــه ځانه ورك یمه خپل ځـــان لټوم
تــه د مــذهب چېرته نښان پـــاتې شو
نــه زه هندو نــه مـــسلـمان لټوم
دمستقبل پـــه تــاریــکــو کښې زه
کــــه لټوم فقط افـــــغان لټوم

تفکر لـه دې ډډې په ټپه ولاړ دی د سل په سلو کښې اړ اړوند ملي تولید صفر دی داسې هېواد نه شي جوړېدای . ځو خپلې چارې له سره سمې نه کړي .

# د پښتون په تاريخ کښې
# نوې څپه او د دوی لرغونی تاريخ

نوې څپه نه ده ، دا څپه زړه ده . ډېره زړه څومره ،چې فکر کولای شئ . کال ۱۳۸۰ هـ ل او ۱۳۸۱ ،چې پښتانـه دلويـديځې نړۍ هدف شـول دوه ويشت هېوادونـه هلتـه لاړل زه دلته په امريکې کښې د عمر وروستۍ شپې ورځې تېروم .

نه غواړم چې امريکې ته خپل د راتلو هغه ټول دليلونه ووايم ،ځکه ګټه او تاوان پـه کښـې نـه وينم ، پښتانـه سـپين ږيـري پـرې يـوه ژوره وينـا لـري " وروره زمـا پښـې پـه قبر کښـې زوړندې دي زه دروغ نه وايم " دا ،چې په افغانسـتان دغـه بدې ورځـې راغلـي دا يـوه بـين المللي لوبه وه وايي : " هلك لوی شوی په اوبو کښې اوبـه نـه پېژني کبـه " مونـږ بويـه اوبـه پېژنـدلې وای ، کلـه ،چـې د طالبـانو حکومـت ، ويـل کېـدل ،چـې پاکسـتان سـعودي عربستان او امريکې په ګډه دوی راوستي دي ، ځينو ويل دغه مثلث دپاکسـتان ، عـرب ، امريکې ښه دی تر هغه بل مثلث ،چې د روس ، ايران او هند دی .

مونـږ وليـدل ،چې طالبـانو د پاکسـتان ، عـرب او امـريکې خبرې نـه منلې دوی شـريعت عملي کړی و ، له سنګانګ تر استانبول او جاکارتـا پورې يـو خوځښـت راغـی ؛ نـور ټول غير اسلامي هېوادونـه يـو مـوټی شـول حتـی روسـيه ، ايـران ، هنـد لـه خپلو اقتصـادي او سياسي ګټو تېر شول . ايران او هند له خپلو مسـلمانانو پـه وېره کښـې شـول ،چې هلتـه ( افغانسـتان ) طالبانو شريعت عملي کړی دی ، روسـيې سره هـم دا وېـره وه ، امـريکې پـه يوه غشي دوه مرغۍ ويشتلې د مرکزي اسيا د تېلو زيرمو ته نژدې راغله .

له شکه وتلې خبره ده ، چې چين روسيه ،ايران او هند د امريکې راتلو ته خوشحال نـه دي ، هغوی داسې فکر کوي څو ،چې امريکـه پښېمانـه کېږي يالـه اقتصـادي پلـوه کمزورې کېږي او بيرته روانېږي دوی به دافغانستان ځای نيولی وي .

يو شمېر پښتانه ،چې موقتي اداري سره کار کوي يـا حريصان دي يـا د غلجي درانـي پـه فکر کښې دي يا ناپوه .

تـاين بـي ، ميخايـل ګرانت او مسـعودي .... دوی وايـي ، چـې انسـان پـه لويديځـه آسـيا کښې شوې افغانستان په لويديځه آسيا کښې دی . دغه ليکوالان دا وايي ،چې انسـان پـه افغانسـتانکې پېدا شوی او همدلته هوښيار شوی .

لومړی متن ۳۳۲ ه ۹۳۵ م مروج الذهب ۱۶۳ مخ .

" پادشاه قندهار از ملوك سند و جبال آنجاست و حجج نام دارد و آن نام عمومي اوست "

" قندهار بنام دیار هبوط معروفیت ."

" و رود چهار از دیار کابل و کوهستان آنجا که مجاور سند است "

" و در حدود بست و غزنین و زرغون ورخج و بلاد داور نزدیك سجستان است . "

د قندهار پادشاه د سند له پادهانو او د هغه له غرونو دی حجج نومېږي او هغه دده عمومي نوم دی ، قندهار د دیار هبوط په نامه پېژندل کېږي .

د سند او د هغه مدنیت د نړۍ له ډیرو لویو مدنیتونو څخه دی په تاریخ کښې اوسنۍ جغرافیا بویه ونه کتل شي . دیار هبوط یعنی چېرته ،چې انسان ښکته شوی دی اوس دغه نوم او ځای د هراووت په نامه یوه ولسوالۍ ده او قندهار کښې ده .

او څلورم رود د کابل له ځمکې او د هغه له غرونو ،چې د سند په څنګ کښې دی او د بست ، غزنین او زرغون او خج او د داور ښارونه سجستان ته نژدې دی .

په دغو لنډو عباراتو کښې څرګندېږي ،چې د یار هبوط قندهار دی ،چې وروسته ۱۳۸۱ کښې دغه خبره د پوهانو له پلوه تایدېږي ،چې تاین بي او ګرانت ،چې دوه تاریخپوهان دي دغې موضوع باندې خبرې کوي .

د اور ، رخج یعنې قندهار " زمیندا ور" قندهار کښې دی ، سجستان ، ساکستان دی یعنې د ساکو ځمکه ،چې عربو سجستان کړې ده او په آخر کښې سیستان شوې ده مسعودي ،چې ۳۳۲ه کال کښې د مهال توپیر یوولس سوه کال دغه تاریخ که څه هم لکه اوسنی تاریخ نه دی لیکل شوي مګر شته ،چې اوس په تاریخي څېړنو کښې راځي او ددغه تاریخ لوستل ضروري دي.

اوس د سند مدنیت د ور دی او آریا سو بلل کېږي . مسعودي ،چې ډېر مخکې یې خپل تاریخ لیکلی خبري منسجم نه دی خوحقایق بیا مونږ به ددغو حقایقو هغه برخه وګورو ،چې یوزر وسل کاله وروسته لیکلي شوي دي او هغه همدغه مضمون کښې راشي.

بیا مروج الذهب مخ ۲۰۳ : " مطلعان اخبارملوك جهان گفته اند که نخستین پادشاهان مابعد توفان ( د نوځ توفان ) پادشاهان سریاني بوده اند "

" نخستين پادشاه ايشان مردی بنام سوشان بود ، در تاريخ نيطيا اول كسي بود كه تاج بسر نهاد " و ملكوك زمين مطيع اوشدند ملكش شانزده سال بود"
" پس از او فرزندش بربر پادشاهی يافت و ملكش تاهنگام مرك بيست سال بود پس از آن سيما سربن اوت هفت سال پادشاهي كرد و پس اهريمون ده سال پادشاهي كرد :"
حدود وشهرها وولايتها معين كرد و در كار استواری ملك و آبادي سرزمين خويش كوشيد"
وچون كارش استقرار يافت و ملكش تنظيم آمد يكی از ملوك هند از قدرت وبسط عمران ملوك.
" سريان واينكه در طلب ممالك ديگرند خبر يافت و اين شاه هندی بر همه ممالك هند كه در اطراف بود تسلط يافت .
" گويند ملك او درحدود سند وهند بود پس بجانب دياربست و غزنين ولعن و ديار داور"
شتافت كه بر ساحل نهر هلمند است و هرمند رودسيستان است كه تاچهار فرسخ آنجا جريان دارد.
(( اكنون بسال سي صدوسي دو املاك و نخل وكوه تفرجگاه مردم سيستان بركنار اين رود است .
د تاريخ په څېړنه كښې په دې وروستيو شپو ورځو كښې د پښتانه درې قومونه دي هوتك ، ساپيان او ويان . دغه قومونه اوپښتانه قومونه درې زره كاله مخكې له ميلاده د سند له حوزې نه د عربو له بحيرې بين النهرين ته تللي دي بين النهرين ته په اروپايي ژبو كښې Mesopotamia چې ددوسيند ونو تر مينځ معنې لري.
اوس تاريخونه وايي ،چې پښتانه هغوی اندو اروپايي بولي ،چې دا خبره نه ردېږي او نه منل كېږي. كه تاسو د هغه مهال ( درې زره كاله مخكې تر ميلاده) نقشه وګورئ په هغه كښې دغه نومونه ګورئ .

Hurrain Land هورين

SUBARI سبري

Mitanni متاني

Luwaini لوايني

| | |
|---|---|
| Hattic | هاتك |
| Sakas | ساكاز ، ساك |
| Soka | ساكا |
| Shekels | سكه = رايجه پيسه |

In ۲۳۰۰ BC a great wave of indo – European Speaking peoples suing a Lavian Dialect same to have swept over Asia minor from the Direction of Bosphorus .

په ۲۳۰۰ مخکې تر میلاده یوه لویه څپه خلك ،چې ژبه يې اندو اروپايي وه ، او يوه لوانی لهجه يې په کاروله داسې بريښي ،چې د کوچنی آسيا له سره د بسفور په لار تېر شوی وي .

که د اندو اروپايي قصدنه وای وتلی نو په دې برخه کښې دوی اړ و ،يو څه نوره رڼا واچوي بيا به کار آسانه شوي و . هوتيك په اوسنی ترکيې کښې و ،چې ترکان بل څوك دي او يو ګډ نسل دی .

لومړی مورسلي Mursili د هیتیانو پادشاه و ، دده پادشاهي په مرکزي اناتوليا کښې وه ، چې هغه ته يې د هاتي Hatti ځمکه ويله دا مخکې له ميلاده په اولسمه پېړی کښې و ، پنځه سوه کاله وروسته د برونز Brons يا د ژېړ فلز دوره وه ، چې هيتيانو ، امپراتوري جوړه کړه ،چې له اناتولي تر سوريې خوځيدلي وه بيا تر بين النهرين پورې د امپراتوری رسمي ژبه اندو اروپايي وه ،چې Nesite نيسيته نومېدله . مونږ يې نن هيتي ژبه بولو .

هيتيانو شا اوخوا دولتونه کورنی واك ورکړی هيتيانو منظم عدالت درلود . په اومرو د هيتي يوه کرښه ليکله ،چې هغه ترجمه شوی وای .

Hattusili هيتو سيلي هم يو پادشاه و ،چې لوی پادشاه د تبارنا Tabarna و . همدا ډول د يوې مېرمنې نوم ،چې د پادشا په زړه پورې Hastayar نومېده دغه کلمه هستاياره ده"يار" اوس هم ډېر په کارېږي .

بله کلمه کاديس ده ،چې همدغه ګاډي Kadesh ،چې دوه څرخي يې درلودې آس کشوله يو يا دوه کسه په کښې ناست دي ، دغه رسم اوس شته ،چې پر تيره ايستل شوی او د اوسنی ترکيې په تاريخي آثارو کښې ساتل شوي .

هوتوسا Hittusa د هوتیك پلازیمنه ده ، پروفېسر هوزیوك Ozyuk یوه کتیبه موندلې ده ،چې پادشاه Tudhaliya III تیودهالیه دربیم په زمانه کښې لیکل شوی ده ، ۱۴ سوه کاله مخکې تر میلاده دی ،چې خپلو مامورینو ته لارښوونه کوي .
د هیتي ژوند او نړۍ کتاب کښې لیکي لواني ژبه یوهندي اروپایي ژبه او په کتیبو کښې لیکل شوی ده . خو دا نه وایي ،چې کومې اندواروپایي ژبې ته نژدې ده. څوك ،چې دغه کتاب وګوري داسې لغات ویني مونږ ته پردي نه ښکاري .
هوتیك ، یار ، کادین یاکیلا او لواني اریایان دي ، ژبه اندواروپایي ده ،پښتو په قومونو کښې "هودلواني" ، "هود خېل" ، "هوتیزي" ، هوتك ، "هوتکز" ."لواني" ، "لوهاني" ، "لواني خېل"[۴] .
تریور بریس Travar Bryce ،چې د هیتي ژوند تولنه او نړۍ کتاب یې لیکلی اوپه اکسفورډ پوهنتون کښې یې چاپ کړی . وایي ،چې هیتیانو پر لرګیو باندې لیکنې کولې او تولنې لوړ خلك لکه طبیبان او مامورین سواد درلود ، د دوی ژبه لواني Luwiani بیا هغه خبره ،چې یوه اندواروپایي ژبه وه ، او ورسره زیاتوي ،چې ډېره آسانه توري یې درلودل او لواني ویونکو ژر زده کوله ، دغه ژبه تر سمیتك Semitic او اکدین Akkadan ډېره ویل کېده او فرعون Amenhotp امن هاتپ ته په همدغه ژبه لیك استولی و ، نوموړی لیك دا ارځوا (Arzwa ) له پلوه لیکل شوی او د هیتیانو رسمي ژبه وه .
داسې ښکاري ،چې د ژبې په برخه یو څه لیوالتیا ښودل کېده او دغه کتیبې د ارشیف په توګه ساتل کېدې . ګرانه خبره ده ،چې دغه کتیبې وکتل شي کومې اندواروپایي ژبې نژدې دی. له دغو څېړنو ښکاري ارځوا ځای دی او په نقشه کښې ارځوا د ځای په توګه لیکل شوی .
د دوی تجارت له افغانستان او د سند له حوزې سره و له افغانستان څخه قیمتي تیږې هلته تللې د مصر د فرعون کورنۍ ورسره علاقه درلوده . سړی که فکر وکړي دا سیمې لیرې مګر هغه مهال تګ او راتګ اوتجارت موجود و .

[۴] پښتني قبیلې او خېلونه لیکوال د سر څېړونکی مرستیال حسن ګل باندہ وال

لپس لاژولي Lapis Lazuli هغه قيمتي غمي وي ،چې هيتي سوداګرو له افغانستان څخه وړلې ۹۱۰ مخ هيتك نړۍ

اور وسيمو Wurv(n) Semu د لمر رب النوع ،چې آرينا Arina هم بلل کېده ،

ليوانۍ Lewani د سپوږمۍ رب النوع . لويه ارځو Arzawa – Luwiya Arzowa

لو ی – لويان } مخکې له ميلاده اتلسمه پېړۍ کښې د لوی په برخه کښې همدغه ګرامري شکلونه راغلي .
لوی – لويه

لومړی هاتتاسيلي Hattusili I د هيتيانو پادشاه .

تابرنا پادشاه Tabarna

هيتي ژبه — Hatti, Hattic, Hittite } هغه بېل شکلونه ،چې هوتيك په کار شوي .

هايتيان — Hattians

د هيتيانو پلازمينه — Hattusa

دغه برخې مې د هغو ليکوالو دپاره واخستلې ،چې ژېپوهنې کښې څېړنې کوي ، په کار ،چې د محکمې قوانين ، د ماليې لارې چارې ، ډيپلوماسي او صنايع . هم راخستل شوي واى ،هغه ډېر وخت غواړي .اوس دومره څه وشول ،چې يوه خاطره وموندل شي او فکر پرې وشي .

چې مې بيا مونده، دعشق کيميا ګري
څکه شوه خاکي بشره زما زري

# د بشر هوښیارېدل

↓

۳۰،۰۰۰ Bc Homo Sapian هوموساپیا

↓

افغانستان

↓

د ښکار سامان | غله پېژندل او کرل

↓ (غله پېژندل او کرل)

کډه کول

↓

کردستان ← یونان

مدیترانه ← ایتالیا ← نور اروپایي هېوادونه

د کتاب نوم : لرغوني مدیترانه

لـــیکـــوال: میخائیل ګرانت

د چاپ کلونه ۱۹۶۹ - بیا ۲۰۰۱ نهم مخ

تـــر دي ځایـــه و د هوښیـــار انســـان تاریخچـــه ،چـــې هوموســـاپیان نومېـــدل .

۱۳ مخ متن :

The Noble Grasses, Wild grains of wheat and ban lay that are ancestral to our own cultivated crops, and found from the Adriatic to Caspian, But their original place has Been variously assigned to Abyssinia and Afghanistan, if as seems probable, Afghanistan was their original home, than they spread westwards very early ando Kurdish hillside.

کله ،چې انسانانو د کتاب په حواله یو د بل غوښې خوړې بیـایـي د نـورو حیوانـاتو ښکـار کاوه او اومې غوښتنې یې خوړلې .

دا افغانسـتان و ،چې بشریت ته یې د غنمو تحفه ورکړه او نورې غلې دانـې ، اوس څنګـه د امریکایانو او نورو اروپایانو خځلې لتوي ، کومې چې افغانسـتان کښـې یې هر سـهار وروسته غورځوو . افغانستان کښې درې بشري مدنیتو نه تهوکېدلې دي ، او هغـه سـور ، ساك . پاکت دي . کوم ،چې د آباسین . هلمند او آمـو پر غـاړو جوړ شوي بیـا د مـدنیت

ACKU

سوغات يي اروپا ته رسولي ،چې امريکا ، کاناډا او استرليا ته رسيدلی . دغه خلك ،چې سرې خواره و ، هماغه خوی ورته پاتې دی .

په ۲۰۰۱ کال د امريکې تلويزيون وښودل ،چې قندهار کښې د بمبارۍ له امله کورونه وران شوي و. يوسپين ږيری يې له خاورو راوايست په هماغه حال کښې يې وويل : " والله که القاعده په کار وي يا طالب خبره بله ده " سپين ږيری ډېر ښه پوهېدلی و . څرګنده شوه ،چې خبره په تيلو کښې ده اوس امريکايان هم وايي . دومره توضيح ضروري وي .

اوس ،چې ترکمنستان ، افغانستان او پاکستان په يوه اقتصادي پايپ لين پورې تړلی دي شعارونه تبليغات پرېږدو اصل حقيقت ته راشو ،چې زمونږ راتلونکي ژوند پورې تړلي دي .

يو ځل بيا هوښياران شو دا ځل يوه بله ښه تحفه نړۍ ته ورکړو ،چې وروره اصلي خبرې ته راشه ،چې خبرې درسره وکړو .

څنګه ،چې مونږ ډوډۍ دروښودله پښتونولي به دروښيو وژل ډېبول مه کوه زمونږ خلك په ډالرو مه اخله غلام جوړول پرېږده .

واشنګتن ليکي CIA عبدالله عبدالله بهرني وزير ته يو ميليون ډالره ورکړل ، دا دده بيه يا قيمت شو افغاني احساس اسلامي ايمان او انساني کرامت نه لري يو کالې يا متاع شوه ، همدا ډول نور هر يو ،چې په دې ډلې کښې راځي ، نور خلك کلونه وروسته رسوا شي ، د دوی بدبويي په يوه کال کښې مطبوعاتو اونورو خپرونو ته ورسېده .

تاريخ کښې دا خبره روښانه ده ،چې تر ۱۸۰۰ م پورې لوړ درشل شاه زمان دوه پلا لاهور له سکهانو ونيو اوسنی پاکستان د نولسمې پېړۍ پورې د افغانستان د سلطنت برخه وه اوس هلته مسلمانان او زمونږ ورونه دي . تصوف هلته د افغانستان په طريقه دی .

د پښتونستان موضوع دغې تاريخي موضوع ته يو بل رنګ ورکړ ، ملي اسلامي نه قومي او نژادي خبره شوه او پايناب کښې تاجك ، هزاره ، ازبك هم پيدا شو ، پښتانه که يو ځای شي پاکستان او افغانستان له اوسني حالت نه وزي ، امريکا داسې يوه نقشه لري ملي وحدت په اسلام راځي او تاريخ افغانستان د پاکستان دپاره د شا تير دی . ځکه د اسلام او تصوف مرکز دلته دی ، په دې صورتکې دين ، مذهب ، تصوف ، نسل يودی . افغانستان د اسلام له نظره مرکز دی د مرکزي آسيا مسلمانان او د جنوبي آسيا مسلمانان افغانستان ته ګوري همدا وجه وه ،چې طالبانو ډېر ژر په نړۍ کښې د

مسلمانانو پام خپلې خوا ته راوګرځاوه. ځکه د شریعت عملي کېدل . د ټولو مسلمانانو دپاره یو زېری و ، چې دا د نړۍ سیاسي دولتو ته همهغه ،چې لویدیځ درولی اوخپله لویدیځ د زغم وړ نه و ، همدا شوه ،چې نن ۲۰۰۲ نومبر په کابل دوه ویشتو هېوادو عسکر پراته دي ، روسیه او امریکې لاسه په لاس . غاړه غړی افغانستان کښې حضور لري هر څومره ،چې مهال تېریږي دا مسایل روښانه ښکاري .

او د نړۍ خلك په څرګنده دا خبره کوي ،چې اسلام او اقتصاد د دغو ننداړو له امله دی او بل کبل نه لري .

پایناب : دا لاڅرګنده نه ده ،چې امریکا خپلو هدفو ته رسېږي ؟ چین او روسیه هنداو ایران خپلې اوبه په احتیاط له امریکې سره څه شی په زړه د یوه هم یو بل ته جوړه نه ده ، او دغه ملتونه د امریکې خلاف ذهنیت لري (که دا وړی شړی نه شوې ) بیا به د هر چا زور او توان څرګند شي ،چې څوك من دی او څوك نیم من .

څه عجب ساده رنګین وایي "حمیده"
دا زري فــکر دې مــه شــه نظري

والله علیم بصواب

# جناب مولينا محمد يونس د اتلسمې پېړۍ بې سارې شخصيت

د تاريخ د پلټنې په لړ کښې ليدل کېږي ،چې په سلهاو شخصيتونه نه دي پېژندل شوي او د دوی د شخصيت او مبارزې ذکر نه دی د ناهيلې ځای دی . کوم کار ،چې دومره کلو کښې نه دی شوی وروسته له دې هم نه کېږي .
د افغان ملي تاريخ يوه فلسفه لري له دې نظره چا نه دی کتلی له علمي نظره ،چې ارکيالوجي وي نه دي څېړل شوې . دافغانستان موقعيت په څلور لارې کښې او څلور لارې ژوند وينې خلك کولای شي د ملي تاريخ د فلسفې بيان ښه موضوع ده .
کوم شخصيت او دده فکر او عمل په څو جملو کښې په لاس راغلې . د افغان د ملي فلسفې يو څرك دی خو سړی سم پوهېږي ،چې مطلب څه دی ؟
دا هم بهرني ځينې سرچينې دي ،چې ځينې درکونه يا مدارك په لاس راکوي . د مثال په توگه آرنولد تاين بي وايي ، چې زردشت سوری و د بلخ او باکتر و .
بيا همدغه د زردښت فلسفه تر اوسه يوه غوره فلسفه ،چې هر چا د خپل مطلب دپاره استعمال کړي ما د جناب محمد يونس نوم له يوه کتابه او دده پېژندنه له بل کتابه . بيا هم دده نور حالات معلوم نه دي . اعلحضرت شاه محمود هوتك افغان د ۱۷۲۲ د نوامبر په اووه مه په اصفهان کښې پر شاهي تخت کښېناست واقعه داسې ده ،چې دی پادشاه اعلان شو ، مگر پر تخت کښېنه ناست ځکه دغه ظاهري تخت ،چې يو ښايسته په طلا او جواهرو ښکلی شوی دغه افغان فاتح ته څه اهميت درلود .
دی ماشوم نه و ،چې جلبل ته خوشحالي وکړي دغه موضوع په خپله يوه فلسفه ده .
هالنديان ،چې په مجلس کښې و او دده مبارکه څېره يې ليدلې ده داسې ليکي : يو مړنی دی ،چې څلېرويشت کلن برېښي ښکلی جوړ سړی دی .
پرته له دې ،چې د هوا وضعې ته وگوري د شپې له مخې په خپله امنيتي حوزو باندې گرځي او خپل ډېر وخت په آزاده فضا کښې تېروي له قصر او مانۍ سره علاقه نه لري . "
کتاب ليکي : په دې شاهي مجلس کښې ده د ايران د دولت مشران وټاکل او ولايتونه يې واليان ولېږل نور يې ايرانيان وټاکل هغوی ،چې ايران ته يې خيانت نه وی کړی ، د ايران پخواني پادشاه شاه حسين صفوي هم حاضر و . دغه ټاکنې يې دده په مشوره وکړې

يعنی هغو کسانو ،چې پخوانی پادشاه يعنی شاه حسين صفوي سره خيانت کړی و ونه تاکل شول او په جزا ورسېدل ځکه هغوی ،چې خپل پادشاه وطن تل او خاورې ته خيانت کوي ددې دپاره ،چې ډېره ګټه واخلي د سزا مستوجب دی . دکتاب له مخې شاه محمود افغان دوه تنه افغانان وټاکل ،چې يوه دولت مراد نومېده . وقوللر آغاسي ( د دربار وزير) دوه يم يې محمد يونس د ديوان بيګي په مقام کښېنې . دلته مونږ دومره پوهېږو ،چې محمد يونس ديان بيګی شو .

اوس ،چې ۲۰۰۳ کال ملي خاينان د پرديو غلامان لوړې چوکی او بيا خارجي پيسې .

د اعلحضرت لوړ درشل شاه محمود هوتك افغان د عقيدې او ايمان خبره وه ،د ظلم او تېري او فساد له مېنځه ايستل و .

اوس به راشو د جناب فضيلت مآب محمد يونس شخصيت ته . دغې متقي لوی شخصيت په څو لنډو جملو کښې پېژني ددې جملې ليکوال د ايران ناصرالدين قاجار د اطلاعاتو وزير دی يعنې اعتماد السلطنه ،چې لومړی ضياءالدوله محمد حسن و .

دغه سړی ډېر حقايق سم بيان کړي . دده اطلاعات او معلومات د افغان او افغانستان په باب ډېر ګټور او مهم دی .

جناب محمد يونس ،چې نوم يې چا نه و اورېدلی څو جملې په تاريخ منتظم ناصري کښې داسې راغلي : ۱۰۸۰ مخ .

(( لوړ درشل شاه محمود هوتك افغان)) امر کرد که هر چه آذوقه در اردوی خود مهيا کرده بودند . به اصفهان کشيدند و همان روز چهار قيه آرد( وزن) به دو قروش ( بولی واحد) بيع و شري نشد و به قدر کفايت ،کفاف نان و گوشت پيدا آمد ، و محمود برسم قزلباش ضيافت کرد خوانين قزلباش و اهل بيت و ارباب استشاره شاه سلطان حسين صفوي و کساني که در خفيه به شاه خيانت کرده بودند . در مهمان خانه از تيغ بيدريغ احسان گذرانيد ، وکسانی که با محمود پيمان داشتند و امان داده بود به قتل رسانيد مگر خان حويزه را حبس اند نمود و پسر عم او در بيرون نزد محمود بود به حکومت حويزه سربلند ساخت و رجالی که به شاه اخلاص واردت ورزيده بودند خطاب کرد که اگر به من هم اخلاص واردات بکار آوريد شما را نوازش و صحبت خواهم کرد ، معتمدالدوله که از قديم اجداد او به صفويه خدمت کرده بودند باز به خدمت خود مقرر شدند و عرض کرد که در هر خدمت کمال ارادت به ظهور خواهم رسانيد به شرط آنکه به من تکليف جنگ شاه طهماسب نتارييد ، که من نمک پرورده دولت اين دود مانم .

این سخن محمود را بسیار خوش آمد و گفت من تورا از وکالت عزل نخواهم کرد ،به رجال قزلباش اظهار ملاطفت و نوازش کرد و به تعدیل و تسویه در منازعات شرعیه و دعوی حقوق عباد شخصي را از جماعت افاغنه منصب دیوان بیگی به او تفویض کرد.
و اومرد کامل و زاهد و متقی ورشید و عالم و عاقل و داننده قواعد شرعیه و شریعت بود ، مردم چنان از دیانت و پاکدامنی او مسرور و خوشحال شدند که زمان گذشته خود را که باعث زوال دولت شان بود و افسوس بی نهایت افسوس خود به فراموش کردند

ACKU

# اتلسمه پېړۍ د افغانانو د بخت وېښېدل

په ۱۷۰۹ م د میرویس نیکه هڅې بریالۍ وې او قندهار د یوه خپلواك دولت مرکز و . ایران ،چې هغه مهال پارس او عجم بلل کېده د هالنډیانو ، انګلیسانو ، روسانو ، فرانسویانو ، ترکانو د فعالیت خاوره وه .

کله ،چې لوی درشل شاه محمود کرمان ته ورسېد هلته هم د انګلیسانو او هالنډیانو تجارتي مرکزونه ول ، دغه معلومات په زړه پورې دي ځکه ،چې له دې وروسته ویل کېږي ،یوه هالنډي شرکت VOC نومېده ورځني پېښې راغونډولې یې ، دغه اطلاعات د عیني شاهدانو له خولې دي ،چې په دې وروستیو کلو کښې د دکتور ویلم فلور له خوا د یوه کتاب په څېر چاپ شوي .

دغه معلومات افغانان متوجه کوي ،چې د دوی فاتح او لښکر کښې سیاست پوه پادشاه همدا ،چې کرمان ته ورسېد هلته اروپایان و ، لوی درشل محمود او لوی درشل له روسانو . ترکانو ، انګلیسانو هالنډیانو ... سره جګړې کړې دي او د ایران خاوره یې له ډېرو لویو امپراتوریو څخه لکه ووس تزار ، عثماني ترك ، انګلیس ، هالنډ او نورو ساتلې ده ، دا داسې نه وه ،چې افغانان یوازې د ایران له صفوي دولت سره مخامخ و ، افغانان له ډېرو نورو هېوادو سره مخامخ و د افغان روس ، افغان انګلیس جګړه له ۱۷۲۸ م نه را هسې پیل شوې ده .

کوم قرارداد ،چې لوی درشل شاه اشرف له روسانو سره وکړ هماغه ،چې روسان ، د کسپین له جنوب ووتل او هغه ځمکه ایران ته پاتې شوه .

د افغانانو د ښې ادارې مسلمان او اخلاقي ژوند یادونه په ایراني آثارو کښې ډېره شوې ،خو کله چې سیاست او ناسیونالزم راشي د هغو ښو یادونو له څنګه نور څه هم وایي بیا هم تر افغان اوسني لیکوال ښه دي .

د مثال په توګه ډېر افغان لیکوالو د ګرګین د وژلو په برخه کښې د یوې مهرمنې ګرګین ته په نامه کول یا دوی ،چې ګواکې میرویس نیکه دا کار کړی وي .دغه واقعه ایراني آثار ردوي ،چې داسې نه وه میرویس نیکه داسې وکړل ،چې بلوڅو سره یې جوړه کړه ،چې د قندهار خلك په شکایت وکړي ،چې بلوڅ زمونږ مال او غله وړي ، ګرګین به د بلوڅو د ټکولو دپاره لښکر وکړي په خپله هم ورسره لاړ د لارې په مینځ کښې یې ګرګین مړ کړ او ورسره لښکر یې هم ،دا کار پښتنو او بلوڅو په ګډه کړي دي .

میرویس نیکه د وفات په مهال دغه خبرې وکړې : تاریخ منتظم ناصري ۱۰۵۵ مخ .

بسم الله الرحمن الرحیم : لومړی مې ستاسو چارې حق تعالی ته سپارلي دي ، چې د خپلو دښمنانو په جهاد کښې جهد وکړئ ، دوه هم په هر حال کښې خپل همت لوړ وساتي او ټول یوموټی و اوسئ روافضو ته سر ټیټ نه کړئ او د هغوی مضرت دفع کړئ د عجم ( ایران ) خلك له

نفاق او خلاف نه خلاص نه دي د هغوى دولت دنړېدو په حال كښې دى د هغوى له كثرت او حشمت نه به ستاسو زړونو كښې وحشت او دهشت وخوځېږي ، تاسو خپل زړونه ټول كړئ او په خپلو كښې يو موټى يون وكړئ ،چې متوكل على الله پر هغوى برى ومومي . اصفهان به ونيسي ( لااله الاالله محمدالرسول الله) او دده پاك روح آسمانو ته لاړ .

د ميروېس نيكه داسې جملې او عبارات ،چې دده له مباركې خولې وتلې وې هغه مونږ ته اسرزښت لري . لوړ درشل شاه محمود دغه خبرې د زړه په غوږونو واورېدى او دخپل بې سارې پلار خبرې يې عملي كړې . ځينې تاريخ پوهان تعجب كوي ،چې لوړ درشل محمود افغان ډير زلمى و ۲۰-۱۹ دى . څنګه دومره مدبر پوه سړى و . مير محمد صديق فرهنګ وايي ،چې دده د خپل پلار خبرې سمې اورېدلي وې كنه نو لس كلن ځوانان دومره نه شي كولاى . د افغانانو تاريخ كښې داسې خلك نشته ،چې مونږ به د همدغو مداركو پر بنسټ د لوړ درشل تدبير له كرمان نه تر اصفهان پورې ګورو .

د ميروېس نيكه د حكومت دوره اووه كاله وه لكه ،چې د امپراتور شيرشاه سوري پنځه كاله وه . د ۱۷۱۹م د نومبر په پنځمه نېټه د لوړ درشل شاه محمود افغان په كرمان كښې ځرګند شو . ۴۶ مخ بر آمدن محمود :" در پنج نومبر بقيه السيف سپاهيان افغان به دروازه' شهر رسيدند ، فرمانده افغانان محمود شاه پسر ميرويس ( ميرويس نيكه) فرمانده . سپاهيان سيستان اسدالله خان سيستاني پسر جعفر خان بود كه سه پيل ، چندتوپ ، سلاح هاى گونه گون مانند منجنيق ، آلات آهن شكن و ابزار و آلات جنگى فراوان براى درهم شكستن قلاع و استحكامات ، به همراه داشت .

تخميتاً هفت تا هشت هزار تن بودند هر چند از لحاظ اسلحه كاملاً مجهز بودند سپاهيان تقريباً برهنه و خنجر هاى بركمر داشتند .

در آغاز افغانان باكرمانيان رفتار بدى نداشته حتى محمود خان( لوړ درشل شاه محمود) برخى از سپاهيانش را كه جنايت كرده بودند در ملا عام به قتل رسانيد ، دستور دارد همه مردم به كار هاى شان بپردازند . "

هالنډي او انګليسي تجارتي نماينده ګانو دا هم ليدلي ،چې افغانانو مالګه له اوړوسره يو ځاى كوله او هغه به يې خوړل مګر له خلكو نه يې ډوډۍ نه خوړله دوكانونه اوباغونه يې څه نه اخستل . لوړ درشل محمود ويلي دي ،چې مونږ د ظلم د وركولو او عدل د راوستلو وظيفه لرو . د لوړ درشل محمود په سپاهيانو كښې ويل كېدل مونږ دومره اوږده لاره وهلې ده ستړي اوستومانه يو له پوخ دولت سره جګړه كولاى شو

عيني شاهدان د هالنډي شركت خبر لوڅ وايي : دغه خبرې د محمود غوږ ته ورسېدې محمود وويل : كوم مالونه مو ،چې اخستې هغه وسوځوئ ، خبر لوڅ وايي ما په خپلو سترګو وليدل ،چې مالونه يې يو ناڅاپه وسوځول او محمود خپلو سپاهيانو ته وويل : دغه لاندې څو جملې د لوړ درشل محمود له خولې او د كتاب ۱۰۱ مخ كښې ثبت شوي دي . افغانانو ته ډير اهميت لري،چې د خپل يو فاتح مشر له خولې واوري : " تاسو به له دې ښو خبرونو سره څه كوئ ښه دا ده ،چې مالونه ځان سره وانه خلئ اوږې به مو سپكې شي څو بې غمه اوپه زړورتيا سره جګړه وكړئ زما قصد دا دی ،چې يا اصفهان ونيسم يا سمدواره ټول څه ورك كړم او ماته وخورم .

كارېوه وايي : محمود لكه نورو سپاهيانو كالي اغوستي و ، يوازې له يوې ښكې سره يې د ستار ښكلي كړی و ، يوازې په دې توپير ،چې محمود ښكه ،چې خواته ټومبلې وه ، اوپه همدی يوې ښكې پېژندل كېده ،چې پادشاه دی ، يوپيل او پنځلس آسان ورسره شپاړس توپونه .

د مارچ لسمه : د ويساوږ منابعو خبر وركړ ،چې منشي الممالك انګليسانو اخطار وركړ ،چې خپله دوستي د ايران پادشاه ثابته كړئ . او بيدريغه مرسته وكړئ ،چې افغانانو ته ماته وركړو د انګليس نماينده وويل : په دې مهال مونږ مرسته نه شو كولای او خپله دوستي نه شو ښودلای مونږ نه شو كولای خپل ځای وساتو ، څنګه كولای شو داسې خلكو سره مقابله وكړو ،چې دوه څلوېښت زره ايراني عسكر يې تسلمېدو ته مجبور كړي دي .

## پښتون او افغان، پکت او اليان

په تاريخ کښې سم سند هغه وي ،چې ليکلی وي . د وېدا اوستا له سندرو څرګندېږي ،چې پکت او اليان په هره توګه سره يو و ، استاد احمد علي خان کهزاد دغه موضوع په بشپړ توګه څېړلې ده ،چې دده په کتاب د افغانستان تاريخ کښې ډېره ښه څرګنده شوې د تاريخ له مخې پکتيان او اليان ،چې له اريايي قومونو څخه و .

هماغه د ويدا او اوستا سندرې دي ،چې په ګاتونو يادېږي . په ډېرو ژبو ترجمه شوي ، بل سند دهېرودت تاريخونه دي ۴۵۰ تر ميلاده مخکې دی يوه ډېره مهمه خبره کوي ، هغه دا ده ،چې آسيا نه راغلي يونانيان يادوي اليان ابونيانَ او داسې نومونه يادوي . ډېرو ليکوالو داسې ګڼله ،چې نورستانيان له يونان څخه له سکندر سره راغلي دي . خبره اوښتې ده ،چې اليان يونان ته تللي . يونان او يونانيان له اليان سره لفظي نژدې والی لري بيا دا کلمه اليان او المان ته رسېږي . المان افغان ، اليان دا د کلماتو اوښتون دی له يوې ژبې بلې ژبې ته .

هېرودت په خپل کتاب کښې Garian Arian Aeolian Lonion دا اړوند يادوي ، احمد علي کهزاد دا خبره پخه کړې ده ،چې د اريايي قومونو تاتوبی هرې خوا ته چې تللی سرچينه يې افغانستان دی . کهزاد دا خبره نه ده کړې ،چې اليان افغان دی او دا وايي ،چې اليان نورستانيان دي ،چې د پاکتيانوسره يو دي .

ما دا خبره په تاريخ منتظم ناصري کښې وليدله ،چې افغان ، اغوان د اليان اوښتې بڼه ده په اصل کښې اليان دي ،چې افغان شوې .

## ګرمن ، جرمن، المان

ګر او غرز ژر سره بدلېږي ، ګرشاسب بابا ، غرغښت بابا استاد احمد علي خان کهزاد دغه پاياب ته رسېدلی ،چې ګرشاسب او غرغښت يو سړی دی ، چې د پښتنو نيکه دی ، چې ګرشاسب بلل کېږي او د ګرشاسب په تاريخو کښې ډېر ياد شوي ،چې پادشاه زړوه ور او ماتېدونکی نه و .

د افغان ملي تاريخ په لومړي ټوک کښې ما د افغان د کلمې په باب د پوهاند دکتور حسن کاکړ خبره اخستې وه ، تاريخ څوك نه شي بشپړولای .

هېرودت ،چې اسیایي یونانیان یادوي هغه نه شي کولای ،چې د هغه سم ځای وښیې کوم خلك ،چې هغه غربي ترکیې یا دکړی د اسیا صغیر یا د کوچنی اسیا دغه خلك اریایي دي هغه مهال د ترك خبره نه وه د ترك خبره دولسمې میلادي پېړۍ وروسته په کرار کرار پېدا شوه ،چې مغل سلجوقیان هلته لاړل بیا هم ترکیه تر اسلامي پېړیو د روم په نامه یادېده . مولانا جلال الدین بلخي ،چې ترکیې ته لاړ ترکیه د روم په نامه یادېده ،چې ځینې خلك مولانا رومي بولي په خپله هم وایي :

از بلخ به روم آمدني بلخي وني رومي

ترکیه هغه مهال د شرقي روم په نامه یادېده ، بیا عثماني امپراتوري شوه د افغانستان په باب همدا وایي ،چې وروسته افغانستان شوی . په افغانستان کښې افغان اوسېدل ، د اقوامو په نامه یا د ځای په نامه و . خو هغه ځایونه او قومونه اوس هم په افغانستان کښې دي ، لکه صفاریان ،چې سکزي و او صفاري د کسب نوم دی ،چې د صفاري د سلسلې جوړوونکي د مسکر زوی و . یعقوب صفاري او ساکستان سیستان شوی و .
بیا غزنویانو دي ،چې غزني د ځای نوم دی ، غوریان هم داسې غوریان په هند او افغانان یاد شول ، عربو افغانیه باله او خلجیه یې هم بلل خلج ،غلځ دی . مېروېس نیکه افغان بلل کېده ، د افغانستان په باب معلومات د پخو سیندونو له مخې دی لکه د ویدي اوستا سندره ،چې شته او بیا د هېرودت تاریخ دی ،چې شتون لري .
ساك یو قوم دی،چې اوس دافغانستان ډېر ځایونه د ساکو په نامه دي ، کابل ، پکتیا او میدان نورو ځایو کښې هم .
د هېرودت په کتاب ساك د هېواد او قوم په نامه راغلي دلته به یې وګورئ . د لومړي کتاب ۸۳مخ ،چې ساکو پر مصر برید کړی دی په دې تفصیل کښې سکاتیا . د هېواد په توګه یادوي Scythia .
په ۱۰۶ فقره ۸۳ مخ کښې وایي اته ویشت کاله ساکان د اسیا مشران و انګلیسي متن یې داسې دی .
For twenty-eight years, than the Schythians were masters of Asia.
دوی له خپل غرور نه وروسته پاتې شول ، د هېرودت له خبرې دوی ورغلي و ،چې فرعون له پېښو وغورځوي .

ساك ، افغان دی د دوی هېواد سکاتیا نومېده ،چې اوس افغانستان دی هغه مهال سکاتیا ( ساکستان ) و ، هماغه ،چې اوس یو ولایت دنیمروز ،چې سیستان هم بلل کېږي .
دا ،چې ولې مونږ نیمروز نوم ورکړ څرګند نه دی سیستان د امیر شیرعلي خان په مهال د انګلیسانو په خوښه حکمیت د افغانستان او ایران تر منځ وویشل شو . ۱۸۷۵م ایرانیانو د سیستان نوم ورکړ افغانستان نیمروز ښکاره خبرده ده ،چې د ایران په ګټه هر مهال داسې کارونه کېږي ، دا کار هم د محمد ظاهر په مهال دی ،چې په ولایاتو نومونه کېښودل شول حال دا ،چې د سیستان مرکز د افغانستان په برخه کښې دی ،چې اوس د نادعلي ولسوالي ده .
افغان او ډېر نور قومونه دي ،چې په اوسنۍ ترکیې ، پروني عثماني او پخوا تر هغه شرقي روم و ، هلته لیدل کېږي ، په خپل ځای بیان شوي وي نقشې کښې هم ښودل شوي .

ترکیې ته څکه وړوکې اسیا ویل کېده ،چې هلته اسیایې قومونه راغلي و او له هغه ځایه یونان او نوریې اروپا ته تللي و .
کومه نقشه ،چې د هېرودت د کتاب انګلیسي متن په پای کښې لیدل کېږي ، دغه سیمې دي ،چې د پښتنو قومونه دي ، لومړی Lydia ،لودیا ، دوه هم Lonia لونیا ، دریېم Garia ګاریا
لیدیا ، لودیا ، لونیا ، ګاریا دا کوم خیالي شیان هم نه دی دا پښتانه قومونه دي ، چې لودي ، لواڼي او ګاړي دي .
که تاسې هغه کتاب ،چې هیتیتي ټولنې امپراتوري په نامه لیکل شوی او د اکسفورډ پوهنتون چاپ کړی تاسې به وګورئ ،چې لواڼي هوتك یو ځای یوه امپراتوري او لومړنی سیاسي اړیکې یې له مصر سره ټینګې کړي دي د هېرودت په تاریخ کښې هم راغلي .
همداراز د یونان په افسانوي تاریخ کښې دا حالات دوی درې زره کاله مخکې له میلاده ښیې او تاریخ داسې یوه پوهه ده ،چې تل د نورو اثارو له موندلو سره بدلېږي .
ما د دې دپاره دا بحث راواخېست ،چې څو خبرې دي :
لومړی : د افغان افغانستان په باب بې مدرکه خبرې کېږي ،چې موخه یې تاریخ د افغانستان مغشوش او تت ښودل بله دا ،چې ډېر هېوادونه دوه دوه نومونه لري ،

انګليستان برتانيه )، ( جرمني المان ) ،( پولنډ لهستان ) ، ( هنګري مجارستان ) ، هندوستان ، بهار ) .... افغانستان يو نوم دی ،چې د افغانانو وطن دی افغان په دې معنی ،چې د افغانستان خوی ، دود فلسفه او روحيه يې د افغان دی که څه هم ازبك وي يا هندو .

بله دا ،چې ديوانو سره پهلواني ده د تاريخ په اوږدو کښې له سکندره تر چنګيز له انګليسه تر روس د امريکې له راتګ اووم د اکتوبر ۲۰۰۱ ډېرو افغانانو له ديو سره پهلواني پرېښوده په خدمت کښې ورسره شول ، له بده مرغه ډېر پښتانه هم د دراني په نامه يد واسپدل زوړ ظاهر شاه سره يو ځای بيا هغه له مقاومت مات نه شو – ۱۳۸۴ تر پايه .

دراني لقب نه د قوم نوم دی ،چې احمدشاه بابا په دې پوهېدی په يوناني افسانوي د Durian په نامه له اليان او لواني سره ياد شوي دي . مونږ د تاريخ په اوږدو کښې خپله وظيفه يا دنده تر سره کړې ده ، او هغ ديوانو سره پهلواني ده .

## دل شوي پښتانه

په دې تاريخ کښې ډېره خبره د پکتانو ده او همدغه پکتيان ،چې پښتانه دي دغه پکتيانو کلمه دلته څکه کله راشي ،چې د هېرودت په تاريخ او د اوستا ويدي په سندرو کښې پکت Păct او د جمع په حالت کښې پکتها فارسي ، پکتين يوناني ، پکتانه پښتو راغلي دي .

نن ،چې ۱۳۸۴ لمريز د مرغومې ۲۴ ده په باجوړ کښې د جمعې په شپې درې بجې ،چې هر څوك ويده وي درې کورونه بمبارد کړل ، نارينه ، ښځې ، ماشومان او څاروي يې ووژل .

اولس تر شلو کسانو پورې و د غه کورنی باجوړ د ښار هتې وال و ،چې زرګري يې کوله . خبرې څانګو په اسيا ، اروپا ، امريکا او نورو ځايوکې دا خبر خپور کړ ،چې امريکايې الوتکې له افغانستان څخه راغلي ،چې ګواکې دلته ايمن الظواهري داسامه بن لادن ملګری دی . د باجوړ خلکو مظاهره وکړه ،چې دغه شهيدان شوي بې د حلالې روزۍ د لاسته راوړو په بل څه خبر نه و .

د امريکې تلويزيونو وويل ،چې د دغو مړو نه پارچې اخلي او واشنګټن ته يې راوړي بيا يې ګوري ،چې الظواهري په کښې شته . دا ،چې دوی د څه شي له مخې د الظواهري غوښه پېژندلی شي ؟ زه نه پوهېږم .

او دا ،چې په نامه پښتون غوځېږي دوی پرې خوښېږي بېله خبره ده . د اروپا په خبرو کښې ،چې سي آي ای له هره ځايه خلك تښتوي ،چې دا القاعده دي . په شرقي اروپا کښې يې زندانونه جوړ کړي هلته يې بيايي . په وزيرستان کښې په لسګونه خلك په همدغه ورځ ووژل شول . د خوست په بازار کښې هم خلك تېپيان شو دلوی اختر شپې ورځې .

ډېر پښتانه وينم ،چې خوابدي نه دي . ځمکه هغه سوځي ،چې اور پرې بل وي ،چې دا نه وي نور احساس نه ښکاري .

ما په دې تاريخ کښې پرون او نن يو ځای کړي دي ،چې دا د نن خبرې د سبا تاريخ دی او دا کار اسانوي . ځکه خدای زده ،چې دا به څوك وليکي ؟

دا ډېره ښه خبره ده ،چې پښتون افغان دی هر افغان پښتون دی کوم تعصب ،چې د افغانستان په خلکو کښې دتاجك ، ازبك ، هزاره له خوا څرګند شو دا د ګاونډيانو کار و ،چې افغانولي رنګه کړي .

دوی نورستاني ، الياني . هم په تاجك . ازبك ، هزاره کښې يادوي او نورستانيان يو نم ،چې د عبدالرحمان په مهال ورکړ شوی کنه دوی الياني دي يعنی د پکت په شان افغانان بلوڅ هم داسې او دا خبره ډېرو تاريخونو ليکلي او دوی ساك هم بولي .

د ختيځ اريايان لويديځ ته لاړل خپل مهارتونه يې هلته ورسول اروپا يې ودانه کړه ، کله ،چې بېرته ختيځ دوی يوازې په ګټه او تجارت پوهېدل ، داحمد شاه بابا په مهال د سپاريانويابنجاره په نامه پېژندل کېدل .

## هندوکش غر

دغه غر د پاروپاميزاد په نامه يادېده ، له شمالي افغانستان تر مرکزي آسيا پورې آريايي څپې هندوستان ته تللې له همدغه غره تېر شوي دي کله ، به دوی د هندوکش له غره واوښتل او هوارو ځمکو ته ورسېدل نو دوی ګڼل ،چې هند ته ورسېدل .

هندوکش د هند غر یا ور و په څو ځپو کښې هلته تللی بهارتـا لکه پکت یـو قـوم و .چې هندوستان کښې پښت شول او د اریایانو نورې څپې اوسنی ترکیې نه اروپا ته لاړل .چې لومړی یونان ته ورسېدل همدا وجه ده .چې د لرغونې هند او یونان ارباب النوع یوشانې دي .

په هندوستان کښې لکه چې لیکوال وایي .چې هند دوه ډوله سرحدونه لري ، سیاسي او طبعي . په طبعي سرحدو کښې هندوکش او کراکرم غرونـه یـادوي . پـه اسلامي دوره کښې حد د اسلام و . چېرته هندوان دي او چېرته اسلام یا د نـورو ادیـانو خلك نـو پـه دې توگه هندوکش له دې امله و .چې اریایان حتا سکندر هم له دې لارې ، تېر شوی دی .

افغانستان وړوکی هېواد دی او څوك شتون نـه دی خوشحاله مـا دا خبره پـه دې کتـاب کښې کړې ده .چې زمونږ گاونډیان پاکستان دی .

پـه تـاریخ کښـې مـو گاونډیـان هندوسـتان دی ، همـدا ډول پـه شـمال کښـې روسـیه نـه د مرکزي اسیا هېوادونه بلخ او بخار یو ځای و په لویدیځ خراسان کښې نه دې ایران دی خراسـان مرکـزي اسـیا او پاکسـتان د تـاریخ د حسـاب لـه مخـې ډېـر کلونـه یـو ځـای و ، سکایان ، پاکتیـان کوشـانیان ( کوچـانیـان) ، یفتلیـان ، صـفاریان ، غزنویـان ، غـوریـان ، هوتك او ابدالیان دغه دورې .چې وشمېرل شي په طبعې توگه یو دي .

## درانیان

ډېره موده دا فکر کېده .چې دراني لقب لـه در دران نـه اخستـل شـوی ، پـه حقیقت کښـې دراني یو لرغونی قوم .چې لواني او گاړي سره یو ځای یادېدل . پـه دوه زرم کـال مخکـې تر مـیلاده د یونـان پـه افسـانوي تـاریخ کښـې داسـې لیکـل شـوي : د هیلینیـك Hellenic راتلل د قبل المیلاد په دوه زرم کال کښې په عسومي توگه د الیـان او لونیـان ( لـواني ) پـه نامه یادېدل ، داسې ښکارې .چې لږ وران کار و تر نورو اسیایانو لـه هغـې ډلـې Dorian او وړې وسله بند ډلې وې .

او کلك خلك و ، د اریایـانو پـه څېـر یـې عبـادت کـاوه. بیـا وایـي د انـدرا Indra ، میترا Mitra او وارونا varuna اود اودریس Othrys له غرو تېر شول ، بشـپړ سـوله خوښـوونکي و ، په تیسیلي او مینځني یونان کښې .

احمد شاه بابا پراخه مطالعه درلوده ، دده په کتابتون کښې هر ډول کتابونه و ، او په تېره تاریخي کتابونو یې ډېر کتل .
هلن او هلنیك د یونانیانو مدنیت ته ویل کېده حال دا ،چې په دغه کتاب کښې ،چې د یونان افسانوي تاریخ دی ، د لیکوال په مقدمه کښې دغه مطلب ،چې یو څه بیا ن شو راغلي و ، د کتاب لیکوال Robert Graves د کتاب نوم The Folio Society ۱۹۹۶م لنډن .

## ترجمانان ، نطاقان او ژورنالستان

په دغه مهال وروسته له هغه ،چې کونستان راغلل استخدام پېل شو ، امریکایان ،چې راغلل په زرهاوو ترجمانان شول ،چې مورنۍ ژبه یې پښتو وې اوانګلیسي په روانه توګه زده او د امریکې تابعیت ولري دکابل په یو لك پنځوس زره ډالره او نورو امتیازاتو منل کېږي
په لنډن ، واشنګټن ،مسکو ، تهران ، پراګ ... په لسهاو نطاقان دي ، ډېر نور ژورنالستان دي ،چې اخبارونه ، راډیوګانې او تلویزیونونه ، فلمونه چلوي . په زرهاو عسکر ، قضایي ، فضایي ، اداري ... دې ټولو ته امریکا او د هغه یو شوي هېوادونه په ډالرو پېسې ورکوي ، دغه نوکران د ګېډې خادمان په لکونو دي ، د امریکې ناټو ملګرو ملتو عسکرو په مقابل کښې سپېره وږې پښتانه څنګه مقاومت وکړي ،څو مقاومت نشته . دا پنځم کال دی ،چې دغه لوی توفان او سېلاب کوم ځای ته نه دې رسېدلی . ما اتلس د زرګرو کورنۍ ولیدل او لکونو خلکو ،چې مظاهرې ته وتلي و .
افغانان دي ،چې قرباني ورکوي . دا او هغوی برابر نه دي " د دوزخ او جنت خلك یو برابر دي د جنت اصحابو ګټلې ده "

شعر نه دی دا خو ناب د زخمي زړه دی
یا دستي وتلی دم د خولې د مړه دی
یا دونیو اباسین وهلی موج دی
یا له ښهره د حیرت وتلی فوج دی

( حمید بابا )

## کاسي او متاني

مخکې مو دا خبره وکړه اوسنۍ ترکیې کښې دغه خلك ،چې دې لرغونې ترکیې کښې نه و ، کوم اریایان ،چې ختیځ ترکیې نه خوځیدليٌ د تمدن په تاریخ کښې د تاین بي Arnold Tyonbe لیکنه کښې راغلي ، دلته یې ښیو : " اریایان Ariansد ننۍ ترکیې له ختیځ لوړو برخو نه د پرله پسې څپو په څېر بین النهرین او سور ته راغلل ، لرغونې سانسکریت ژبې په کتار ،چې مخکې تر میلاده ده اتلسمې پېړۍ کښې یې متاني دولت جوړ کړی و ، له هغو سره ،چې بابل کښې یې د کاسیانو مرسته کړې وه ، د ژبې پېژندنې بېلګې شته .

داسې ښکاري د زهاوو کلو په ترخ ،چې نومونه حتی ژبه یې اوښتې وي او نه پېژندل کېږي .بېرته موندل یې څه کار غواړي ما دوه غښتلي پښتانه لیدلي ،چې دوی به ویل ټوله نړۍ پښتانه دي ،چې وزیر محمد ګل او حمزه صاحب و . ما په دې ډېر سوچ کړی ،چې افغانان ولې دومره وهل شوي . قصه دا ده ،چې مونږ بویه دیوانو او شیطانانو سره پهلواني وکړه . ګرشاسب بابا دا خبره راته پرېښې ده او دغه ډنډوره یې راسپارلې ده . هر څوك ،چې دا کوي پښتانه دي افغانان دي که یې نه کوي بیا نه دي .

په دغه ورځ ،چې ۱۳۸۴ لمریز کال د مرغومي ۲۴ ده او ۲۰۰۶ د جنوري څوارلسمه ده ، زه د ډمه ډول د شهیدانو په ویر کښې دم ماښام افغان ملي ټولنې یو د هڅوب غونډه وه ، چې ملي اتڼ او شاعري وه ، ښه انتظام و ،ماښام باد لګېده واوره اوباران شو خوشال شوم . ځکه دا ددې ورځ وه .

اتلس کسه باجوړیان شهیدان شول ،څلور میاشتې په کشمیر او د هغه په شاوخوا د زلزلې له امله پنځه اویا زره خلك مړه شول ، اودرې میلیونه یې بې کوره شول . هغه د خدای تعالی له پلوه و .

د امریکې په باجوړ کښې څه ښځ دي ،چې مرګونه کوي تېری دی ، د پښتانه ورکول دي ،چې بلوچستان د پاکستان حکومت یې کوي . له دې حالاتو سره به څنګه سړی بې تعلقه پاتې شي ؟

همداسې ،چې پر دوی بمباردي کېږي د دوی د نوم اونشان ورك کول دي ، دا مهمه نه ده ،چې زرګر دې که مسګر دي .

د پښتانه غلیمان ډېر دي خپل ،چې ځان پښتانه هم بولي هغوی هم دي ، نور محمد تره کی او حامد کرزی دواړه په تلې کښې واچوی یو برابر خبرې . روس ، امریکا ځینې دواړو سره ځینې له چین ، ایران ، هند ، انګلیس سره چې ښیي د ځايي دباو له کبله به له شمالي برخو راغلي وي ،چې د دوی سیمه د اسیا جنوب ختیځه برخه وي .
دشمالي اسیا جنوب ختیځ سیمې یو افغانستان دی . اریایي دي ژبه یې دسانسکرېټ ځانګونه ده نوم یې کاسي و ،خو دا به نه وایو ،چې پښتانه دي یا افغانان . متاني قوم مرسته ورسره کړېده له دې امله زما نظر دا دی ،چې د عراق او سوریې لرغوني خلك افغانان دي .کله ،چې ژبه عربي شوه په عربي هېوادو کښې شمېرل کېږي .
د دوی پادشاهان لکه ناسر باني ، ناسر بي هغه ،چې مونږ په "ص" لیکو ناصر پال هماغه پالندوی دي یا پالنه ده ،چې په لومړي سر کښې " بل " و .

## جال

زه غلیم د اورنګ زېب یم
سر په غره پـه بـیابـان
زه په ننګ دپښتانه یم
دوی نـیولـي مـغلان
لکه سپی هـسې جاروزي
د مـغل پـه آب ونـان

(خوشحال خان ختك)

نن حال دا دی ،چې د امریکې د جاسوسي چارو خلك یو لوی جال لري په دې جال کښې یې زښت ډېر کبان نیولي .

هلك لوی شوې په اوبو کښې
اوبـه نـه پـېژنـي کـبه

ترجمانان ، مامورین ،ژورنالستان ، نطاقان او نور ... د کبانو لړۍ اوږده شوې ، له ډېرو کلو شل پنځه ویشت کاله ،چې افغانستان کښې دولتونه پردي شول .
خو ورو ورو پښتنو شاعرانو لیکوالو ادبي ټولنې جوړې کړې د پښتون او افغان د تاریخ څېړل ،چې چا اسراییل ، چا عرب چا څه او چا څه بلل . لکه یوناني او هر څه ...

دې موضوع ته يې تلوسه ډېره شوه ، شعر او ليك ډېر شو ، ما هم ډېر كتابونه وكتل او ډېر څه مې وليكل او خپل مهال مې هم همدې ته وساته . اوس چال امريكايي جاسوسي ته هرڅوك يو سوغات وركوي پاياب كښې يې ادبي ټولنې ته پام شوی :نو په دې ټولنو وركړ څېډل د ټولو په باب يې پراخ معلومات ټول كړل . فرد فرد شاعران او ليكوالان پېژندل شوي

د ايران دولت هم په دې كښې ښخ دی ، چې افغان په لاس كښې ولري ، هندوستان او روسيه دوی افغانستان يادوي ،خو په افغانستان كښې پښتو نښه ده دې خبرې به لا دومره پروا نه وه كړې ،چې د پښتانه دې پام وای ،چې دوی په دې پوهېدای څه روان دي ؟ كومه څېړنه ،چې امريكا كښې د پښتو ژبې ، هڅوب او تاريخ په باب روان دي ښكاري ،چې دوی د پښتو په باب پراخ هدفونه لري تر مور دايي مهربانه ده.

چې سرې ګوري شوروي اتحاد هم دا ټولې چارې كړي وې حتی د پښتو ژبې د كتورا يې وركولې ايران د فارسي دكتوران را وروزل څه سوچ كولو خبره ده ،چې پښتون به په كوم څېر حقيقت وومي ؟

شهزاده احمد علي خان دراني ،چې د ادبي انجمن مشر و ، محمد نادر شاه ته يې يو وړانديز وكړ ،چې د افغانستان تاريخ دې له نوي سره وليكل شي ،محمد نادرشاه ومنله او فرمان يې وركړ ،چې دا كار دې وشي په دې كار پېل هم وشو ،چې لرغوني تاريخ وليكل شو ، استاد احمد علي كهزاد د افغانستان تاريخ د وېدا او اوستا وليكه د اسلام تر راتلو پورې پوهاند حبيبي له هغه وروسته وليكي دغه تاريخونه شته او پښتو شوي نه دي

سړی كتلی شي ،چې يو يو چال كښې لويېږي پاياب به څه وي ؟ ميروېس نيكه ، د رحمان بابا كتاب كوت .

فال به څه ګوري رحمانه
خپل افعال د سړي فال شي

حمزه بابا وايي :

حمزه څومره خوشبختي د پښتنو ده
چې په لاس يې د رحمان بابا ديوان دی

رحمان بابا وايي :

د دنــيا چــارې هــمه واړه فــاني دي
باري پورته څه يو بل رنګه حکمت کړه
په طبيب د عــاشقانو دارو نــه شــي
درومه بل خوا دارو دې خپل زحمت کړ
څــو دې حق موندلی نه وي مه جاروزه
په دا مړ شــه دا جهان واړه لت پت کړه
ای" رحــمانــه" اول تــه نصيحت واخله
دغــه پــس هغه بيا بل ته نصيحت کړه

افغان او پښتو بې پوهې مخالفينو ډېر څه ليکلي او دا ليکنه د تاريخ د نړيز پوهانو لـه ليکنو اخستل شوي ،چې په اکسفورډ او نورو پوهنتونو کښې خپاره شوي

مونږ په خپل تاريخ کښې سندرې يا سرود شعر لرو او ملي اتلان ،مخکې تر دې ،چې ميرويس نيکه شاه محمود هوتك ، شاه اشرف هوتك ، ازاد شاه سليمانخېل ، سر خانی خان الکوزی خپلې کاروايې ګانې پېل کړي خوشحال ، رحمان بابا ، حميد بابا دغه مفکوره ورکړې وه ،چې همدغه ليکنه ، کښې يې مثالونه راغلي دي .

که دولس زره کاله شاته لاړ شو ګرشاسب بابا ، بيټنی بابا ، سړبن بابا ... بهلول لودي ، سکندر لودي او شېرشاه سوري بله څپه وه ،چې دوی هندوستان مهابهارتا ،چې پکتانو سره د اوستا ويدي د سندرو نه مخکې يو دی دا به افغان شي ،چې د بهلول لودي بلنه پښتنو ته د هغه ښه بېلګه ده . دا ملي فلسفي اشعار او عملي ګامونه زمونږ سا ( روح ) کښې ځای لري .

# افغانستان په بل درشل کښې

د دوه زره شپږم عیسوي کال سر او یوزرو درې سوه څلور اتیا لمریز هجري کال پای دی . د جنوري اوه لسمه د مرغومې اته ویشتمه . بلوچستان باجوړ ،وزیرستان . قندهار ، ارزګان ، هلمند ، زابل کښې د وینو اباسین وهلی موج دی .

کوفي عنان د ملګرو ملتو سر لیکوال وایي : افغانستان وروستي بریدونه ،چې د طالبانو له خوا سر ته رسېدلي د سولې چارو ته په افغانستان تاوان رسوي ، اروپایي ټولنه هم اندېښمنه ده ،څکه امریکایانو نظامي عملیات ناټو ،چې د اروپایي هېوادو عسکر دي ،بریښي دي .

حامد کرزی وایي که دوی له افغانستان څخه په شا ځي مونږ له حالاتو سره مقابله نه شو کولای . کرزي سره دا تجربه وه ،چې شوروي اتحاد څنګه لس کاله وروسته په شا لاړه ؟

ما ،چې خپل بې غیرته پېسه ډب افغانان لیدل دوی پر څښتن تعالی ایمان نه درلود ،پر امریکا یې درلوده . له حالاتو او خبرو ښکاري ،چې رښتیني پښتانه له دېو سره پهلواني کوي . مونږ سره یوه اندېښنه شته ،چې نولسمې پېړۍ انګلیس ، شلمې پېړۍ کښې روسیې اتحاد شوروي په یوویشتمې پېړۍ کښې امریکا راغله بیا به څه کېږي .

د مولانا سیف الرحمن سیفي ټوکه راپه یاد شوه هغه هم لیکم ،چې سیاسي ټوکه ده ، سیفي صاحب دنورو ټوکې نه ویلې خپلې یې جوړولې .

هغه مهال ،چې ۱۳۴۰ هـ لمریز سیفي صاحب د پښتو ټولنې غړی و ، ده ویل : اتحاد شوروي ،چین توده یې ، یونو .

یعنی روسیه ښوروي ، چین یې تودوي ، یونایتد نېشن UN (یو نو) .مطلب ،چې یونو ، چین ،چې تودوله لکه ،چې اوس پوخ شوی وي .

د مرغومې د میاشتې بریدونه ،چې یو کانادایي لوړ پوړي دیپلومات او درې عسکر ووژل شول . په سپین بولدك شل مړي او شل ټپیان شول دغه حمله دولتي پولیسو باندې وه ۱۳۸۴ د مرغومې ۲۵-۲۶-۲۷ پر له پسې حملې کېدې تر اوسه پورې حالات داسې دي ،چې ژمي کښې دومره بریدونه سر ته رسیدلي نه و .

د جنوري په ۲۷ الګور د امریکې د جمهور رییس بل کلنټن مرستیال یوه اوږدوه وینا وکړه ده وویل : د امریکې اساسي قانون شاته غورځول شوی دی دا هغه حالت دی ،چې د کوریا د جګړې په مهال و .

د افغان لرغونی تاریخ هغه و ،چې تر مصر او یونان پورې تلل بیا هغه و ، چې د اسیا څلورمه برخه دوی سره هوساوه اوس دا دی ،چې امریکا ، ناټو ، ملګرو ملتو عسکر ورته راغلي د پښتنو سیمې لټوي او د القاعده او طالب په نامه نارینه ښځې او ماشومان وژني هره ورځ خبرونه اورو او وینو .

دا د افغان هنګامه ،چې پای نه لري ،څه بدلون په نړۍ کښې راروان دی . نامتو تاریخ پوه په خپل وروستي کتاب کښې لیکلي : " اروپا خپله برلاسی په دوو لویو جګړو کښې له لاسه ورکړه ، برلاسی امریکې ته پاتې شوه که امریکا د نړۍ د خلکو د دین او هڅوب درناوی ونه کړي ، برلاسی او زبرځواکي شرقي اسیا ته درومي " ډېرو پوهانو دا ونه منله او خبره په مناظره کښې پاتې شوه . اوس داسې څرګندېږي ،چې Arnold tynbe خبره رښتیا کېږي . والله اعلم بالصواب .

تاین بي په خپل وروستي کتاب کښې ،چې هغه یې په ۱۹۷۹م کال کښې د ځمکه د بشر مور په نامه بشپړ د کایناتو له تکوین نیولی تر ۱۹۷۹م کال یو ځغلنده نظر دی ، ښه خبره دا ده ،چې د بشر له هبوط نه تر ۱۹۷۹م کال پورې په ټول ړ مراحلو کښې دافغانستان یادونه کوي .کله په راتلونې نړۍ خبرې کوي داسې وایي : له دې وروسته نه ده راغلې تېر تېر شوې دي ، هغه سندونه ،چې له پخوا پاتې دي . بدلون نه مومي سره له دې ،چې بشپړ نه دی بیان شوی ، بویه ووایو ،چې په تېرو پنځه زره کلو کښې دولتو د خلکو اړیتاوې نه دې پوره کړي . که چېرې چین له خپلو تېر ناسمو عبرت واخلي او بیا هغه تکرار نه کړي نه یوازې د ځان دپاره د ټول بشریت دپاره به په دغه بحراني حالت کښې مهم خدمت تر سره کړي .

بشریت به ځان له تباهۍ وساتي یا به ځان سم او روغ کړي له حرص !، تمې به ځان وساتي ؟ دا هغه کړمن سوال دی ،چې ټول بشر ورسره مخامخ دی . مونږ په پنځه زره کلن تاریخ وایو دا د نړۍ د ټولو اریایانو تاریخ دی ، اروپا ده ،که امریکا ، افریقا ،اسیا . د پښتنو خبره داسې نه ده .

ACKU

## د پښتنو اړوند قومونه

يوپښتون ،چې پکتان ، پکتها ، پاکت ، پاکتي ، پاکتيسيا ، اړوند تاريخي لرغوني قومونه دا دي:

۱ ساپيان
۲. ساک
۳. هاتيك
۴. سبري
۵. متاني
۶. لودي
۷. اوريان
۸. ګاړي
۹. سوريان

دغه قومونه په تاريخ کښې جلا مطرح دي ، د هر يو يې خانله مدنيتونه امپراتورۍ لري ، دا د څېړنې يوه داسې پراخه ځمکه يا زمينه ده ،چې شل پنځه ويشت کلو کښې هم نه بشپړېږي ، په لويديځې نړۍ کښې يوازې د سومر ، سور مطالعه نه ده تر سره شوې

## د ډمه ډول زرګران ترخاورو لاندې شول !

د لوی اختر په ورځو شپو کښې د امريکې جاسوسي څانګې دا خبر تر لاسه کړ ،چې باجوړ کښې هغو زرګرانو ،چې د باجوړ په ښار کښې دکانونه و ، الظواهري د القاعدې يوه مشر مېلمستيا کړې وه ، ددغو زرګرانو نوم زرګر دی ،خو زر نشته دوی د مسو او سپينو زرو ،چې نقره ورته يو مخلوط نه پاولی ،ګوتې او غاړه کۍ جوړولې ، ماښام څه د کور سودا واخلي کورو ته تللي دوی خبر نه و ،چې نه يې القاعده پېژندل نه الظواهري ،خو بکه وړياندې ولوېده ، اوس امريکايي خبرونو کښې راځي ،چې څو د القاعده خلك هلته و ، د کلي خلکو ويل دوی غريبکاران و

# شپږ ويشت هېوادونه

د شمالي اتلانتيك دفاعي موسسه ،چې له شپږويشتو جوړه ده هله ،چې شوروي اتحاد و د اروپا د دفاع دپاره و اوس ناتو افغانستان کښې او له امريکايي خواکونو نه جګړه په خپله غاړه اخلي ،چې تر اوسه نيمايي افغانستان کښې يې اخستې ده . حامد کرزی وايي که بهرني پوځونه له افغانستان په شا شي افغانستان بېرته د ترهګرۍ خاله کېږي . پښتانه وايي : ( پردی کټ تر نيمو شپو وي ) کاشکې په دې پوهېدای ( وی نيسه . وی تړه ما پهلوان ته يې په لاس راکړه ) افغانانو دا دوې خبرې خان سره وليکلي ،چې بيا به داسې نه کوي . ناتو . امريکايي عسکر . د ملګرو ملتو عسکر د افغانستان د دفاع وزارت او پوليس ټول لګيا دي په بېليونو ډالرې په زرګونو جاسوسان او اجيران . ترجمانان . بشکيل او ناکامه دي

دلته يو روح کار کوي ،چې هغه نه ليدل کېږي او هغه د ( افغان روح دی ) او ( دغه روح ځوك نه شي وژلای ).

تاريخ کښې راغلي ،چې ګرشاسب بابا خپله هوښياري مونږ ته پرېښې ده . شپږ ويشت هېوادو يا ټوله اروپا ،امريکا يې په سر کښې . ګرشاسب بابا وايي " دنيا ديوانو او شيطانانو ويجاړه کړې . زه به د دنيا د وګړو دپاره دامن سيمه جوړه کړم " او دغه عقل ،چې ديوانو او شيطانانو سره پهلواني له ګرشاسب بابا مو اوريدلي او هغوی ،چې ديوانو او شيطانانو سره مرسته کوي . هغوی سره به مري.

پاکتيا کیPaktyike دا د پښتنود هېواد نوم دی . د پرسيانز په کتاب په دې ځېر دی په داسې حال کښې ،چې د هېرودت په تاريخ کښې پاکتيسيا Pactycia ،چې لومړی پاکتيا او دوه هم شکل پکتيکا دی او دواړه د هېواد په صورت دي . د پاکتياك هېواد يا د پکتيکا هېواد کله ،چې د هېواد کلمه راځي هلته د يوه نظام خلکو اقتصاد . هڅوب او صنعت خبرې شته ،چې د هېرودت په تاريخ کښې ددې ټولو دپاره يادونه شوې ده .

د ۱۳۸۴ لمريز د مرغومي په مياشت کښې ووېل شو ،چې حامد کرزی د افغانستان لاس پوځي جمهور رييس د ايران د جمهور رييس محمود احمدي نژاد په بلنه تهران ته ځي د تاجکستان جمهور رييس امام علي رحمان وف هم بلل شوی و .

# دري فارسي ژبې هېوادونه

ایران ، افغانستان او تاجکستان فارسي ژبې هېوادونه دي ، برهان الدین رباني د افغانستان ګډوډ رییس جمهور رییس په خپل مهال ددغه مثلث د جوړېدو هر کلي کړی و ، حامد کرزی تهران ته لاړ نه شو او د تاجکستان مشر ورغی .
بله خبره د ترکمنستان د ګازو لېږدونه ده د پاکستان ، ایران او هند تر منځ که دغه پیپ لین یا نل لیکه له افغانستان نه ونه غځېږي او فارسي ژبې حوزې کښې ودرېږي بیا به څرنګه وي ؟ که څه هم حامد کرزی خپلواك نه دی ایران په دې پوهېږي بیا هم هڅه کوي وعده به ورکړي ،چې د افغانستان د اړتیا ګاز پوره کوي ، په دې توګه روسیه ، ایران او هند خپلې هڅې کوي .
فارسي ژبې هېوادونه یوازې ایران دی او دري ژبې په خراسان د افغانستان یوه برخه تاجکستان او توران ،چې ماوراءالنهر وي ، دې سیمو کښې دي ، د ایران دا کار نه دی ،چې ترکي ژبې آذربایجان ، عرب ، کردان ، شاهسوان او ډېر اقلیتونه یې د فارسي ژبې ونه بلل ، پاکستان تر هغه لا نه کړې ،چې اردو یې د ملي ګټو دپاره رسمي کړې ، چې پاکستان کښې د هیچا ژبه نه ده پښتانه لږ تر لږه د اوو زرو کلو مدني تاریخ لري او دپښتو ژبه د تاریخ ژبه ده که څوك په پښتو ونه پوهېږي په لرغوني تاریخ نه پوهېږي ، ځکه هغو تومونه ،چې پښتو دي په لرغوني مهال کښې همدغه و لکه اور بوس هم اور دي
اور UR یو مدنیت تېر شوی اتلس پېړۍ مخکې له میلاده Union داسې فکر کېده ،چې اورین به د اریین یو بل ډول وي او راتا یو مهم ښار و ، سبریان بل مدنیت او قوم و هاتیك همداسې او نور
دا خبرې په نوي توك کښې راغلي خوشحال به یم ،چې په دې باب څېړنه وشي او سمې څېړنې څرګندې شي .

# د انګلیستان شهزاد چارلز
# افغانستان کښې اسلامي پوهنتون جوړوي!

د یوه خبر له مخې ،چې ۱۳۸۴ د سلواغې په اووه ویشتمه خپور شو د انګلیسانو شهزاده چارلز په افغانستان کښې د اسلامي پوهنتون جوړوي . دا خبره لرغونوالی هم لري په بریتانوي هند کښې د علي ګړ یو پوهنتون جوړ شو او د دیوبند مدرسه ،چې ډېر پوهان له هغو ووتل له هغو نه ډېر ویه اسلامي خوځښتونو کښې برخه واخسته .

انګلیسان څلور زره نور عسکر هم د هلمند ولایت ته لیږي .چې د انګلیستان ټول عسکر نهه زره شي وروسته له امریکایي عسکرو دوی به دغه دنده د ناټو په چوکاټ کښې په غاړه واخلي . ناټو یعنی شمالي اتلانتیک نظامي موسسه د روسیې د اتحاد شوروي په مقابله کښې جوړه شوې اوس افغانستان ته راغلی . دا خبره هم شوې ،چې افغانستان به په ناټو کښې وي .

له بلې د لندن نومولي ورځپانو سندي تلګراف او اندېښنه نت د بریتانوي خبریالانو له خولې لیکلي ،چې هلمند ناکراره ولایت لکه غښتو خاله ده ، د بریتانیا عسکر په داسې ناکراره پنجې او حساس ځای کښې هېڅکله دنده نه ده تر سره کړې .

ورځپانې دا هم لیکلي ،چې د لندن د واټونو نوي په سلو کښې هېروین له افغانستان څخه راځي . د هغه مخنیوی یوملیارد پونډه تاوان غواړي . ډګر هېرمن وایي ،چې خبریالان اندېښنه لري ،چې هلمند کښې یو هېر شوی جنګ تازه کوي . د سلواغې لسمه ۱۳۸۴

په هلمند کښې انګلیسانو له افغانانو وپوښتل څه ښېګڼې غواړئ ؟ افغانان غلي و او خواب یې ونه وایه او ،چې پوښتنه یې وکړه څه ستونزې لرئ؟ هغو سورنا کړ ،چې ستونزې ډېرې دي .

په داسې حال کښې ،چې د خان عبدالولي خان له مړینې څو ورځې تېرې وې د سلواغې په لسمه ۱۳۸۴ برهان الدین رباني د اسفند یار ولي کور ته لاړ .

رباني د آزادی راډیوته وویل : مرحوم ولي خان په افغانانو کښې د مقام او احترام خاوند و . د جارج بش شپږ کاله وشول ،چې د امریکې جمهور رییس دی . څو میاشتې کم پنځه کاله کېږي ،چې امریکې پر افغانستان برید وکړ . ( د اکتوبر ۲۰۰۰ ،

د بش گرانت څلوېښت په سلو کښې ته رسيدلي دي او شپيته په سلو کښې امريکايان دی نه غواړي په عراق او افغانستان کښې وروسته له هغه ،چې زرگونو زرگونو خلك ووژل شول . زرگونو بليونه ډالره يې تاوان وشو ،چې د امريکا اساسي قانون يې شا ته غورځاو دننه په امريکا کښې خلك وزگار شول کوم طبي پلان يې ،چې جوړ کړي و هغه هم کار ورنه کړ .

په افغانستان کښې رشوت فساد ناکراري ډېره شوه د کابل ښار بيا هم برېښنا نه لري واټونه بند دي روغتيا يې وسايل نشته د پاکستان حکومت د بورې تاکس لوړ کړ افغان تاجرانو د بورې نرخ پورته کړ . اوړه غوړي . صابون . تکر هر څه له پاکستان څخه راځي .کوم توليد افغانستان ونه موند .

د سلواغې په شپږمه ۱۳۸۴ خان عبدالولي خان د خان عبدالغفار خان زوی د اته نوي کلو په عمر مړ شو پېښور کښې د هغه جنازې ته سل زره لر و بر پښتانه ورغلي و . له افغانستان په رسمي توگه برهان الدين رباني . کريم خليلي . حاجي محمد محقق او ځيني نور له ولسي جرگې نه هم ورغلي و . رباني تاجك . کريم خليلي . هزاره او محقق عبدالولي خان افغان مهاجرو ته د مهاجرو په سترگه نه کتل هغوی يې ددې ملك خلك بلل او د هغه بله خبره دا وه ،چې د افغانستان آزاد قبايل او صوبه سرحد پښتانه دي . سرکشي او د خپل برخه ليك دپاره دي يو سر وتړي . خو پښتانه دي کار ته چانه پرېښودل او نه شو کولای ،وې نه کړ . دا کار ضروري دی افغانستان کښې يو شمېر خلکو په لړه کيوکي دا ويل ،چې مونږ ملت نه يو ميليتونه يو .

پښتانه ،چې په کوم جال کښې په نولسمې پېړۍ لوېدلي تر اوسه ،چې يوويشتمه پېړۍ ده نه دي وتلي . دا تاريخ ،چې د افغان پښتون دی په دې اړه ورځني خبرونه ډېره غوره برخه دي .

د ۱۳۸۴ د سلواغې ۱۳ د ۲۰۰۶ د فبرورۍ ۴ د هلمند سنگين ولسوالۍ د جگړې په باب خبرونه خپاره شول . هغه د قندهار او هلمند د واليانو له خولې و . يوسف ستانيکزی د کورنيو چارو د وزارت وياند سلواغې په پنځه لسمه وويل ،چې درې کسه حکومتي پوليس ووژل شو اوه لس طالبان او د هغوی دوه قوماندانان . د انټرنېټ په انگليسي پاڼه کښې دغه خبر په انگليسي ژبې داسې ليکل شوی

## Afghanistan Battle Leaves ۲۵ Dead

A district Governor is among ۲۵ people killed after a fierce bottle between afghan troops and taleban fighter in Afghanistan, official say Abdul Qoudos, the District chief of musa qala, was killed by taleban fighters fleeing after a ۱۲ hour battle in the neighboring sangeen district.

دا جګړه دوه ورځې اوږده شوه ، امریکایي انګلیسي الوتکې بمونه وغورځول د ځایي کورو خلك خپل کورونه خوشې کړل سرګردانه شول .

امریکایي انګلیسي افغان ملګري عسکرو ماته وخوړه بیا د هلمند والي امیر محمد وویل : عسکر ځکه په شا شول ،چې ځایي خلك ونه وژل شي خبرونه د لوړ رتبه مامورین بي بي سي د امریکې غږ آزادی رادیو بیا هماغه خبرونه وایي کوم ،چې خپلواك خبریال هلته نه وي .

د بي بي سي انګلیسي خبرو د ۱۳۸۴ لمریز د سلواغې په شپاړسمه لیکلي و ،چې په قندهار کښې د یو بم د چاودلو له امله شپږ پولیس افسران ، نور پولیس ووژل شول ، جګړه دري ولسوالیو کښې وه ، دغې عمومې جګړې کښې دوه سوه طالبانو ګډون درلود ، دوه شپې ورځې یې دوام لاره .

# د افغانستان د خلکو وېش

لومړی د امریکې او د هغه ایتلاف پلویان ، ابدالي پښتانه ، تاجك ، ازبك ، هزاره ...

دوه هم د امریکې او د هغه د ایتلاف نه غوښتونکی .

درېیم د ګذارې او د ژوندي پاتې کېدو غوښتونکی .

هر افغان سره ،چې سرې مخامخ شي له دغو درېو یووي او بسه کلك ولاړ وي ، د ۱۳۸۴ د سلواغې په شپاړسمې ټولو اسلامي هېوادوکښې د هغه قانون له امله مظاهرې وشوې .

په دغه کارتون د حضرت محمد (ص) په لنګوټې د بم د الوزولو فیوس اېښودل شوي ، له دې یې موخه دا وه ،چې اسلام له پېل نه د جګړو او وژلو دین دی .

مسلمانان ټول پېغمبران او د هغوی کتابونه مني او احترام ورته لري ،خو وروسته دین ، اسلام د وروستي پېغمبر حضرت محمد (ص) دی اروپایان ،چې مسیحان دي ، په دې نه پوهېږي .

په دغو مظاهرو کښې مهم شعار ډېرې خبرې کېدلې لکه د دنمارك حکومت دی عفوه وغواړي چا ،چې کارتون ایستلی دی هغه دې ووژل شي اود دغو شعارو مهم شعار دا و ، چې اروپایي کالي نه اخستل کېږي . ددغه شعار عملي بڼه د اسیایي هېواد په اقتصاد کته او دارو یا په تاوان دي .

# ترورېزم سره جګړه

د دې جملې ترجمه دا ده : پښتون سره جګړه پښتون سره عمومي او نړیزه جګړه روانه ده د خبرې فلسفه : رحمان بابا وایي :

لکه ږوند چې لاس د بل په اوږه کېږدي
هېڅ ژوره لــوړه نــه وي ورمعلومــه

دا ړانده څوك دي ؟ محمد ظاهرشاه ، کرزی ، کابینه ،ولسي جرګه ، مشرانو جرګه ، والیان ، ژورنالستان ، ترجمانان او ټول ،چې په دې عمومي جګړې کښې لـه امریکا او ایتلاف سره ولاړ دي .

خدای راپېښه نړۍ لاړ کړه نالــیدلې
لکه ورانه ماشوړه ،چې وي سرګومه

دا ورځې ،چې تېرې شي بیا به ټول ووایي ،چې رښتیا پښتون سره د ټولې اروپایي نړۍ جګړه وه . ډېر پښتانـه ،چې نن د ډالرو غلـه دي بریتونـه یې تـاو کـړي ،چې زه همـاغـه پښتون" تاته یا د دې افسانې زما" .

۱۳۸۴ لمریز د سلواغې اوه لسمه د هلمند د ولایت کرزي ته راغلي و حامد کرزي تـه یـې وویل ، پولیس ،چې د طالبانو د لټون دپاره راشي بیا ښځې وهي . ټول مالونه مـو وړي . کرزي وویل : که مې دا خلك په سزا ونه رسول . بیا زه د جمهور وړ نه یم دا بـه هـم ولیدل شي

## رحمن بابا

هر څوك ،چي خان پښتون بولي د عبدالرحمن بابا شعرونه دې ولولي ،زده دې كړي او عمل دې پرې وكړي .

رحمن بابا صوفي ملنګ دی ، خو تر هغه ډېر لسان الغيب دی او پښتون دی . دا څرګنده ده ،چي پښتانه مريتوب نه مني نه مريي ساتي او نه په خپله دا مني او دا خبره په دې عبارت كوي .

اصيل چانه دی پلورلـــی پـېرودلی
ته په تورو سترګو اصيل پلوري پېری

## د افغان فلسفي پرتله كول په عمل كښې

استاد په خپل كتاب ( د كابل بالاحصار او د هغه پيښې ) د اكبر نامې د دوه د فتر په ۵۴ مخ كښې دا وړيو مطلب را اخستی دی : " هيمون په اصل كښې يو بقال و . چي له مصافاتو دغه هيمون د سلطان محمد شاه عدي او سكندر خان په مهال ،چي هغوی د شېرشاه سوري د تره له زامنو و ، ساتونكي او وزيري مقام ته رسېدلی و . وروسته له هغه د سوريانو مقاومتونه پای ته ورسېدل او جلال الدين اكبر د ډهلي پادشاه شو " هيمون" مغلي پادشاه سره كلكې ډغرې ووهلې . پاينـاب كښې د جلال الدين اكبر دپادشاهی په دوه هم كال ۹۶۴ هجري قمري كښې ووژل شو . جلال الدين اكبر د هغه سر كابل ته راوړ او دكابل د ښار د اوسپنې په ور يې وځړاوه د ښادي نقاري يې ووهلې او خوشحالی وشوې .

اعلحضرت احمد شا بابا ،چي د ډهلي ۱۷۵۰ د هم هغه جلال الدين اكبر لمسی د ډهلي د پادشاه په توګه ېبرته ودراوه . ځكه د ډهلي پادشاه ده ته ننواتې وكړې . اسلامي روحيان او عالمان يې راوستي و افغان فلسفه همدا ويل ،چي ننواتې ومني .جلال الدين اكبر هغه وكول احمدشاه بابا دامنلې وه .

# څو د کار خبرې

دغه کتاب، چې تاسو لولئ، د افغانستان د تاريخ په داسې يو ويرجن پوړ کښې ليکل شوی دی. چې زمونږ هر څه له لاسه وتلي دي. دا داسې يو بدلون نه دی، چې په يوه ډول تعبير شي دغه بدلون به زمونږ هر څه ورک کړي.
د افغانستان په ځای کښې، چې فکر نه کېده تاريخي آثار ځرګند شول او لوټ شول. په عراق کښې هم داسې وشول.
افغانستان او عراق کلکې تاريخي اړيکې لري. پخوا تر اسلام او وروسته له اسلامه دغه افغان مدنيت دی. له دوو لارو عراق ته رسيدلی دی. د آباسين له لارې، چې د هند بحيرې ته ځي او په لويديځ کښې د ايران او ترکيې له لورې وروسته له اسلام افغانستان د بغداد د خلافت پلوي و.
دا يو تاريخ دی، چې اور او اورګون هلته هم و. دلته هم سته اوس دواړه اورونه د مړه کېدو په حال کښې دي.
پښتانه قومونه دواړو کښې نشته. لکه متاني، لودي هوتك، ساك، سور ... رحمان بابا يو له هغه باباګانو څخه دي. چې مېرويس نيکه دده په کلام عمل کاوه او دا خبره په تاريخ کښې راغلې ده.

رحمان هسې بې وقوف سوداګر نه دی
چې د دين متاع بدله په دينار کا

مونږ دا کار کړی او کوو يې، چې د دين متاع بدله په دينار کړو.
که په ګنج د شاهي فخر شهر يار کا
عاشقان يې د دلبرو په رخسار کا
څو دې حق مونډلی نه دی مه جاروزه
په دا مړ شه دا جهان لټ پټ کړه
د ويدي اوستا له مخې، چې استاد احمد علي خان کهزاد د لرغونو پښتنو باپکيانو تاريخ څېړلی کله، چې پکتان له "اندرا" رب النوع د باران او توفان نه مرسته وغوارې. هغه يې مرسته کوي. د خدای تعالی کارونه د ۱۳۸۴ لمريز د وږي په مياشت کښې د پښتنو کورونه لټ پټ کېدل، هوايي بمباری وې، د کرزي د ملت بابا محمد ظاهر د

غازي مسجدي خان نښانونه امريکايي افسرانو ته د ښه خدمت په مقابل کښې ورکړي، چې په جنوب او ختيځ افغانستان کښې يې عمليات کړي وو. په امريکا باندې دوه توفانونه د کترينا او ريتا په نامه راغلل، چې د امريکا اقتصاد يې برباد کړ.
د افغانستان جګړه د عراق د کترينا او ريتا توفان لاس په لاس شول. لکه، چې "اندرا" رب النوع د پښتانو مرستې ته راغلو. د هغو زړو سرودنو له مخې، چې ويدي اوستا کښې ويل شوي هماغه وشول. دغه خبره هماغه اته زره کال مخکښې پورې اړه لري. کرزی، ظاهر د امريکا ائتلاف ازبک، تاجك. هزاره يو دم له الله تعالی سترګې پټې کړې. د جمهور رييس بش تابعين شول. ما وويل: زه له ګناه سره يو مسلمان پښتون يم دا نه شم کولای. که څه هم حامد کرزي په لومړي سر کښې بلنه راکړه او د ۲۰۰۲م کال د اګست په شلمې ورځ يې داسې ليک راواستاوه.
ډېر ګران او ښاغلي پوه قدرت الله حداد فرهاد!
تر ټولو د مخه خپلې ښې هيلې او تاوده سلامونه تاسو ته وړاندې کوم. تاسو پوهېږئ، چې افغانستان له يوې څليريشت کلنې جګړې وروسته تازه د سولې او سوکالۍ په لوري ګامونه اخلي، د وضعې د استحکام او ثبات دپاره کارونه پيل شوي دي، د هېواد د بياجوړونې له پاره اساسات طرح شوي دي. خو زمونږ په هېواد کښې مشکلات او نيمګړتياوې تر حد او د انسان تر تصور زيات ليدل کيږي. دا ستونځې به د ټولو افغانانو په تېره د پوهانو دانشمندانو او ملکي کسانو په ګډه همکاري رفع کوو.
مونږ هيله لرو. چې که تاسې او نور افغان پوهان بيرته خپل هېواد ته راستانه شئ؛ نو به د خنډونو او ستونزو په له مېنځه وړوکې يو بل سره اوږه ورکړو . او ګران هېواد به که خدای(ج) کول په ګډه سره جوړ کړو .
زه باور لرم ،چې زمونږ پوهان او مسلکي کسان د خپل هېواد له آبادۍ سره مينه لري ، هېواد او هېواد وال تاسو ته سترګې په لار دي او مونږ به په خدمت کښې يو . حامد کرزی د افغانستان د موقتي اداري مشر . د حامد کرزي دغه ليک دد٠ پلار او نيکه ،چې ما لېدلی ما ته د احترام وړ و ، خو کوم حقيقت ،چې په افغانستان کښې په عمل کښې موجود و هغه بيله خبره وه ، د افغان ملت د ګوند په نامه هم يو شمېر خلك هلته تللي و او کارونه مقامونه يې درلودل . زما لاربښود د ډپلوم انجينر غلام محمد فرهاد افغان ملتيانو ته ويلي و :

(( هر کله .چې تاسو له کوم بهرني هېواد سره د ملي مسايلو په نامعلومه کوله زمه نوم د افغان ملت له لست نه وباسئ.))

هلته .چې د امريکې لښکر او د هغه د ملګرو پوځونو زمونږ خلك د طالب او القاعده په نامه وژل ۵۲ ب الوتکو بمونه غورځول کېدل په کومو سترګو او کوم زړه تلاى شوم ؟

د منت دارو که مرمه نه يې غواړم

که علاج لره مې راشي مسيحا هم ( خوشحال)

د ترجمانانو په نامه پښتانه او افغانان د کال په يو سلو دېرش زره ډالرو استخدام کېدل ډېر لاړل او په دې لاره کښې مړه او ټپيان شول څوك د پيسو څښتنان شول کوم افغانان .چې په امريکا کښې يې د معاشتې زر ډالره نه شو جوړولې خبره تر لسو زرو هم تېره شوله . د افغانستان عام خلك دين . ناموس او خپلواکي غواړي نه کور کالي ډوډۍ بيا امريکا او لويديځه نړۍ له روسيې سره برياللي نه شول .چې څلوروګلو کښې امن راولې په داسې حال کښې .چې څلور طالبان برياللي شوي و .چې امن ټينګ کړي

ما وکړه رسوايې هغه مې نه شوله روزې

تاريخ هغه خبرې نه کوي .چې دچا په زړه کښې ګرځي تاريخ هغه څه ليکي . چې څوك يې کوي همدا اوس زما په لاس کښې ليکنې دي او تاريخ ليکم زه ليکلاى شم .چې محمد ظاهر شاه په سپينه ږيره د جهاد اعلان وکړ ټول مردااران ورسره شول حامد کرزى انوارالحق احدي ، قانوني . رباني . سياف . محسني . مدبر دوستم رهين او نورو غازيانو امريکايان له ارګ ، هوايي ډګر وايستل د امريکا بيرغونه (ريې) ښکته کړل د انګليس او نورو هېوادو هم محمد ظاهر شاه په شهادت ورسېد حامد کرزى ټپي شو؟ دا مرتبې ددوى نه دي تاريخ دوى د بهرنيو غلامان بولي. د افغانستان لرغوني تاريخ له يوې خوا نا څرګنده دى له بلې خوا څرګند نا څرګند په دې .چې کومه شرح نشته څرګند .چې ځمکې لاندې نه داسې اثار تر لاسه شوې .چې يوه مدني دوره ښيې دا تاريخ .چې ويل کېږې پنځه زره کلن دى يوازې د ويدي اوستا له سندرو چې د کتاب په څېر وروسته له خپلې اصلي زمانې ليکل شوى تر هغه د مخه څه نشته مګر اروپايي تاريخ پوهانو ډېر څه ليکلي او کتابونه په دې برخه کښې په سلهاوو دي لوى استاد احمد علي خان کهزاد د افغانستان پر لرغوني تاريخ رڼا اچولې ده استاد په دې برخه کښې خپل کار کړې دى

ACKU

خو هغه کتابونه ،چې په وروستيو شلو کلو کښې ليکل شوي دي هغه نه دي مرتب شوي او کار غواړي يعنی افغانان ځوانان دي دغه کتابونه ،چې د تاريخ نوميالیو پوهانو ليکلي دي مونږ ته دخپل تاريخ په باب ډېر معلومات راکوي او يو فکر ،چې ولې دغه اوسني حالاتو ته راورسېدو ؟ او که کېدای شو دا دی وڅېړي څنګه د تاريخ بېرته بېرته لاړ شو ؟

د لويديخ له مدنيت سره پرې کول د هغوی هڅو هڅوب نه منل ،چې هند کښې ګاندي دا کار وکړ اروپايي دريشي يې وغورځوله خپل لُنګ يې وتاړه په لکونو څرخي يې په کار واچولې څو کالې يې خپل شي د ژېړو لوښې ،چې په پېړيو کار ورکوي له خپلې بړستنې سره يې سمې پښې وغځولې . افغانانو په داسې حال کښې ،چې اقتصادي بې د باقلو او توتو و. انګليسي ، ايتالوي ، جرمني کالي واغوستل ځانونه يې اروپايي کول ،چې ورځ يې دې ته ورسېده غلامي ورته سرفرازي شوله ۱۳۸۴ لمريز . غښتلی استاد احمد علي خان کهزاد ،چې کوم تاريخ د افغانستان ليکلې له درد او له سوزه ډك دې .

ګواکې ده د افغانستان په تېر برم ژړلي او اوسنا نه وراندې تاريخ يادوي ،چې سرودونو کښې راغلي و . په هغه تاريخ کښې نظام . اقتصاد او غښتلي پادشاهان وو . پکتيان يادوې ،چې پياوړی قوم وو استاد کهزاد د اوستا ويدي زند هغه برخې ،چې پاتې دي په ځيره کتلې دي او هغو قونونو سره ،چې د پښتنو و د زړه مينه لري لکه برسيا يا بړيځې پکتيان اريايان ...

لکه حمزه شينواری يا محمد ګل خان مومند هر څه د پښتو بولي ، توپير دادې ،چې د استاد ژبه فارسي ده خو پښتنو مشرانو هم فارسي پاللې ده سکندر لودي تحفه العادت لغت نامه په فارسي لرې شېرشاه سوري . رحمان بابا ، خوشحال خان ،احمدشاه بابا ټول فارسي اثار لري کرکه د غو ايرانيانو پيدا کړه چې د ايران ژبه يې فارسي کړه بيا يې ايرانيان دوی برخې کړې ايرانيان او ايرانې شوي هغه ، چې فارسي وايي . بيا يو شمېر له افغانستان نه ايران ته د فارسي د زده کولو دپاره لاړل ،چې دا ناپوهي وه ، اوس دوی غواړي ،چې پښتو او پښتانه ورك کړي ۱۳۸۴ دادې د تلې د مياشت ده . بشپړ څلور کاله وشول هره ورځ بې له ډيله له دېرشو تر پنځوسو وژل کېږې . څلور کاله مخکښې دغه پښتانه اته زره او بيا پنځه زره په شمال کښې د امريکې په مرسته ملك او دوستم په چل ووژل . د ۱۳۸۴ د وږې په اووه ويشتمه حامد کرزي يوه غوره وکړه ،چې هوايي

بمباري دې د امریکایانو له خوا بندې شي او د پښتنو کورونه دې بې د حکومت له سلا نه کتل کېږي او پلټل دې نه کوي یوه ورځ وروسته امریکایې نظامي قوماندان وویل ،چې هوایي بمبارد به دوام لري او لټون به وي مطلوب دا وچې کرزیه ! ته مونږ کښېټولې یې . دلته ،چې د تاریخ په ترځ کښې تازه خبرونه بویو راځي دا هم تاریخ دی ، ځکه زه په دې مهال د پښتنو لرغونی تاریخ لیکم یعنې هماغه یو پښتانه دي پرون هسې و نن داسې دي .

په امریکې کښې توفانونو ډېر تاوان پېښ کړ بوش وویل : چې ګاډې ډېر مه کرزوئ او تېل مه په کاروئ ، د امریکې په جنوب کښې کورونه داو بو لاندې دي دلته ،چې د واشنګټن برخې دي ځاځکې باران نه رالوېږي . کله ،چې حالات د پښتو په خلاف وګرځېدل د پښتو ژبې په سلهاو ادبي ټولنې جوړې شوې پښتو خپرونې ډېرې شوې ډېر کتابونه چاپ شول ، ډېر لوی شاعران راپورته شول د شعر معیارونه اوچت شول خو بې ننګه پښتانه ،چې په خپلواکۍ اوملي حاکمیت پسې نه ګرځېدل استاد کهزاد ،چې خپل کتاب یې شپېته کاله وړاندې لیکلی (۱۳۲۵ لمریز) او په ۱۳۸۴ لمریز کښې پنځه زره ټوکه بیا چاپ شو ، په دې مهال کښې کتاب په دې ښه و ،چې ده شپېته کاله دمخه غوښتلی و افغانان دې خپل خان وپېژني او د ګرشاسب بابا لاره دې ونیسي ؟

په اوستا کښې پکتیان په شعر کښې غښتلې و او خپل اصول یې په شعر کښې بیان کړي و اوس هم هغه د پنځه زرو کلومخکښې احوال بیا راغلي ،چې پښتانه خپل درد غوښتنې او اصول په شعر کښې ووایې او ډېر ښه یې وایي ، دغه ورته والی داسې یو غورځنګ ښیې ،چې د پاکتیا اړتیا ده نه د شرق سوسیالستي ده نه د غرب دیموکراسي پښتني اخلاق دي ،چې د پښتانه د اصولو میوه او ثمر دی ،قوم ، قبیله او ګوند په ملت بدلېږي په افغانستان کښې نور قومونه په یو څېر او بل څېر د محمد ظاهر پښتانه د امریکې د برید په لومړي سر کښې د نغدو ډالرو په اخستلو یې دین ، ناموس او خپلواکي ،تاریخ ، مېړانې او هځوب ( کلتور) پرېښود ځکه دوی ټول امریکایان د شمېرل شول نه افغانان .

په دې تاریخ کښې هر ځای د رحمان بابا ، حمید بابا ، خوشحال بابا ، احمد شاه بابا اشعار وایې ځکه له هغو سره زمونږ اړیکې ملي ضرورت دی . زه شاعر نه یم خو خوی

مې د رحمان بابا دی ،چې لیوني مې یو خوا ته بیا یې هوښیار مې بلې خواته کله مې ملا حلالوي کله مست د شرابو ست خو پښتو د مېکدې مست یم همېش خلیل وایي :

هغه ومري ،چې د لاړ په منځ کښې کښېني
د منزل په لور روان او دوان نه مري

## د پښتون د تباهی ناره

په داسې حال کښې ،چې غواړم د اوستایې مدنیت خبرې وکړم د اریایانو په شپاړس سیمو او لسو مشرانو یا ملکانو پیاوړتیا باندې څه ووایم دم ګړی د پښتون د ستې کېدو خبر اورم د ۱۳۸۴ لمریز کال د وږي اتمه : د امریکې د امنیتې چارو مشر پاکستان ته تللې هلته یې ویل ،چې اوس په سیمه کښې د القاعده خطر د طالبانو دی امریکه ، پاکستان او افغانستان په ګډه د طالبانو د وهلو کار وکړي ځکه طالبان د امریکې ، پاکستان او افغانستان دپاره خطر دی

اوس به خبر وخېږو ،چې القاعده نه وي پاتې شول طالبان . طالبان خوپښتانه دي او غلځي پښتانه په کښې ډېر دي ، طالبان ،چې طالبان وي هغه څومره وي ؟ نو تنظیم یو حرکت دی په جنوب کښې له ځمکې او هوا شته او ورځ لټول کېږي دوه دېرش هیواده د امریکې مرستې ته راغلي ،چې د امریکې تر قوماندې لاندې دې زښته ډېر جنګي ساز او سامان او ډېر غښتلی اقتصاد ورسره دی .

د پښتنو جونګړې څه ساده مالدارې او کرنه نو د ګنډو تجارت دومره لویه هنګامه د شرم خبره ده دغه پښتانه وچې کنړونو ، زابل ، پکتیا ، پکتیکا هلمند کښې پټ په خپلو کورو کښې په تېښته دي غرو رغو کښې څوك کولای نشي د دوی دغه ناخوالې په خپل ذهن کښې وباسي او تصویر یې کړی اما په نړۍ کښې داسې چېرته لیدل شوي ؟

دا د تباهی نعره ده په همدې کتاب کښې ما د زړه چاودون په نامه د ۲۰۰۱ د اکتوبر د اووه مې ورځې حالات لیکلي او دغه جګړه څلورم کال ته رسېږي په دوه یمه عمومي جګړې کښې د جرمني پیاوړې دولت پنځه کاله مقاومت وکړ دادی د طالبانو څلور کاله وشول ،چې د اور تر اسمان لاندې مقاومت کوي په هېڅ توګه د طالبانو جنګیالي تر اتو زرو ډېر نه دې خو یو سل ( لك ) دېرش زره خپل و پردو سره مقابله کوي د بابای ملت ، قومونو هزاره ، ازبك ، تاجك ، امریکا او دوه دېرش هېواده په ۲۰۰۱ میلادي په پسرلي کښې احمد شاه مسعود فرانسې ته لاړ دغه مهال محمد ظاهر شاه په روم کښې و له

احمد شاه مسعود سره د لېدو هيله يې وښودله احمدشاه مسعود وويل : اوس وخت نه لرم بيا به ګورو

محمد ظاهر شاه له مسعود سره جوړ و مګر غلځي يې نه ښېل . په ۱۳۸۴ لمريز کښې يې مسعود د خپلواکۍ اتل وباله

يادونه کلونه وروسته .چې زما دغه ليکنې چاته په لاس ورشي فکر به کوي . چې له لويديځ او ستميانو او له ظاهر شاه څخه ناخوال يم . داسې نه وه په شخصي ژوند کښې کومه نيمګړتيا نه لرم ما دا خبره ملګرو ته کړې .چې دکتور نجيب الله او حامد کرزي بلنليکونه ما ته راغلي او هغه مې ساتلې که د امير المؤمنين ملا عمر کوم خط ما ته راغلی وای هغه به مې په ښکلې چوکاټ کښې ايښوده او په کوټه کښې مې خړاو . ډاډه يم .چې ملا صاحب ما په نامه هم پېژني ما له هېڅ حکومت نه په افغانستان کښې کوم امتياز نه دی اخستی نه د تنظيمونو او بهرنيو هېوادو . الحمد لله رب العالمين لکه .چې خوشحال خان وايي

احسانمن د خپل خالق سره دوارو بدبختيو
يو دا .چې زه پښتون يم بيا يم خوشحال ختک

# ((افغان ملت)) ګوند په دا پير کښې

يو شمېر سپين ږيرو افغانانو په ۱۳۴۴ لمريز کښې يو ملي اسلامي ګوند جوړ کړ .چې افغان ملي فلسفه وساتي څکه موسيالستي .ديموکراسي بهرنۍ خبرې ډېرې شوې وې . افغاني فلسفه په نړۍ کښې تر ټولو فلسفو زړه ده او په دې خبره تاريخ يوه فيلسوف آرنولد ټاين بي هم ولاړ دی

مخکښې له اسلام نه د سوز . سان پاکت مدنيتونه و وروسته .چې د اسلام مقدس دين راغی پنځه ملي تکلونه شول . صفاري . غزنوي . غوري . هوتکي او ابدالي په دومره اوږده خوځنده تاريخ کښې مونږ .چې ټولې نړۍ ته لاره ښودله يوه لاره مو خانته نه درلوده ؟

د افغان ملت تلپاتې هلې ځلې د ملي اتلانو درناوی و لکه د افغان ـ انګليس لومړۍ جګړې يادونه استاد احمد علي خان کهزاد د هغه سرمقاله وليکله د هوتکو د نهضت

اتل چال ناصر یا .چې د هغه سرمقاله د کتور طبیبي ولیکله او د قبر لوحه یې پوهاند عبدالحی حبیبي لیکلې ده .

د پښتو د سیمو په باب مقالې تورن جنرال عبدالرزاق میوند او تورن جنرال خان محمد مرستیال د افغان ملت مشر غلام محمد فرهاد په خلکو کښې د ګرانښت خاوند و دکابل خلکو درې ځلور وارې خپل وکیل ټاکلی و یو ګوندي غړی و .چې د لوړ شخصیتو نو د باندې له ګوند نه دغه شخصیتونه و .

۱. د افغانستان مشهور تاریخ پوه استاد احمد علي خان کهزاد افغان انګلیس د لومړۍ جګړې په برخه کښې .

۲. عبدالمالك عبدالرحیم زی پخوانی د مالیې وزیر په اقتصادي برخه (ملي اقتصاد)

۳. دکتور عبدالحکیم طیبي مشهور دپلومات .چې په وچه کښې ایسارو هېوادو ترانزیت حقوق . ده بري ته ورساوه .

۴. تورن جنرال عبدالرزاق میوند د سرحد د پښتنو د ملي حقوقو د تامین دپاره مقالې .

۵. تورن جنرال خان محمد خان د عسکري لاژې چارې .

۶. استاد ګل پاچا الفت د ولسي جرګې وکیل .

استاد قیام الدین خادم . محمد رسول پښتون ، صابر ساپی ، الفت صاحب ، اونور د ویښ زلمیانو له تکل څخه و ، استاد عبدالروف بینوا د افغان ملت نوم په ملي سندره کښې ځای کړ .

دېرې هڅې وشوې .چې افغان ملت مات کړي ، په دې کښې سلطنت ، روسي کمونستان ،چیني کمونستان د پاکستان له خوا ځینې مذهبي پوهان ، د ایران ناسیونالستان او د هغوی پلویان د افغان ملت ځوانانو په دغه دېب دېاو کښې .سوسیال دیموکراسي ته مخه واړاوه ، په پایناب نه دا شو نه ، کمونستان او سیاسي اسلامي بنسټ پالو په دننه هیواد او جهادي جبهو کښې دوی وټکول . کله .چې طالبان او سیاسي رنګونه و ، خو د طالبانو له نړېدو وروسته د یو شمېر ځوانانو سره د کرزي او امریکا له ګریوانه څرګند شو . او قصه بدله ښکاري د زور اوبه مخ په لوړه درومي .چې کله دا زورونې بېرته ولوېدې هر څه به اصلي ځایوته ورسیږي

دا زمونږ د تومن له څرګندو واقعيتو څخه دي ،چې که افغانستان جوړېږي د مېرويس نيکه او احمدشاه بابا په لار به وي د مېرويس نيکه ويناوې او سياسي ليکونو څه برخه شته بيا په ايران کښې اعليحضرت شاه محمود سياسي او اداره څرګنده ،چې د ايران خلك خوشحال و او عثماني ترکيه تزاري روسيه ، هالند ، پرتګال ، انګليس او فرانسي غوښتل ،چې ايران هم لکه هندوستان خپله مستعمره کړي د هغوی کورنۍ پاتې کسان تول فعال و په تېره بيا ،چې د هرات ابداليانو او د قندهار غلځيانو په ناپوهۍ د شاه اشرف افغان مرستې ته ورغلل .

د بي بي زينبې نعره په دې باب

که زمــري دی اشـــرف د جـــنګ زمـــري دی

۵ اشرف ته کام رانه غې د نادرخکه پر اشرف بری دی

پښتانه دې تل دغه نعره په ياد لري . که څينې مسايل مکرر راځي د هغه دپاره همدومره اړتيا ده . بي بي زينب وايي شاه اشرف د جنګ زمری ،چې کام ورته رانغی ځکه د نادر پرې بری .

څنګه کولای شو يو موټی شو او د تېريو لړۍ وشکوو .

د افغان ملت د ګوند دوستان ،چې په ګوند کښې نه و د ملي احساس له مخې تولو ګټوره مرسته وکړه کله د افغان ملت نوم لوړ شو خوانانو ته دوه فکره پېداشول د مشرۍ تر لاسه کول او د ورځې له مزاج سره سوسيال ديموکراسي منل . سپين په سوسيال ديموکراسي نه زه هم نه پوهېدمه څينو دا ويل سوسيال ديموکراسي مينځنۍ لار ده او ښه ده .

نورو بيا دا ويل ،چې سوسيال ديموکراسي نه سوسيالستان خوښوي نه ديموکراتان څوك ورسره علاقه نه اخلي . د افغان ملت مشرانو دا يوه فيشني خبره زمونږ حالات د اروپا په سويه نه دي د خپلو باباګانو لاره ،چې تجربه شوې هغه مونږ ته ښه ده .

عبدالمالك خان عبدالرحيم زي وويل : زه دافغانستان په خلکو کښې د يوه بدلون زور نه وينم .

دکتور عبدالحکيم طيبي ويل په اسلام کښې شورا شته او همدا ديموکراسي ده ،چې د غرب تر ديموکراسي ډيره پخوانۍ اوښه ده .

استاد احمد علي خان کهزاد د تاريخي لارې تعقيبولو خبره کوله او له تاريخ نه زده کول په ملي مسايلو کښې د نفاق لته ايستل و که چېرې په افغان ملت کښې يووالى واى نن به ناخوالې نه واى .کوم شخصيتونو ،چې د افغان ملت له ګوند سره خواخوږې درلوده د افغانستان له لوړو علمي اداري ، نظامي او سياسي خلك دپلوم انجينر غلام محمد په ملي سطحه يو منلى سړى و خو خبره په افغانستان کښې نه وه او نه ده روسيې ، امريکا او لويديځو نور هېوادونو بيا ګاونډيانو هر يوه په افغانستان کښې يوه څه کول . وزېر محمد ګل خان د ۱۳۲۴ لمريز په لويه جرګې ،چې لويې جرګې نايب رئيس وويل : هغه افغانان ،چې انګليستان کښې سبق وايې انګلس فيل ( پلوي ) په امريکا کښې .مريکن فيل په روسيې کښې روس فيل .... افغان فيل به له کومه شي دده اعتراض په دکتور عبدالمجيد د پوهنې وزير باندې و او صلاح الدين سلجوقي د مطبوعاتو مستقل رئيس باندې پوهنه په کومه خوا درومي او مطبوعات ؟

د افغانستان خواخوږې چاسره نه وه مونږ وليدل ،چې خبره داسې نه وه له بلې لويې جرګې وروسته ،چې نوى قانون جوړ شو د پښتو د ژبې رسمي کېدل د يوازينى ژبې په توګه فرهاد بابا مطرح کړه. بيا مونږ داسې ګوند غوښت ،چې په ملي تاريخ ولاړ وي ، ملي فکتور ، ملي مقدسات ، ملي اقتصاد او د هېواد پالنې ګډ احساس دې خلك راغلل خومونږ په خپله بله وکړه ،چې سوسيال ديموکراسي وه افغان ټولنپال ولسواك دې خبرې به لا دومره اغېزه نه وه کړې په څنګ کښې افغان سوسيال ديموکرات ګوند وليکل زمونږ دوستانو دا ټکي ايسته کړي بيا دا خبره پېدا شوه ،چې فرهاد ښه سړى دى خو په سياست نه پوهېږي پاپا فرهاد يوه جرمني سوسيال ديموکرات ژورنالست ته ويلي سوسيال ديموکرات مفکوره زما خوښه نه ده .

دپلوم انجينر غلام محمد فرها په سياست پوهېدو ،چې څلور وارې ټاکل شوى په دوو لويو جرګو کښې د کابل ښاروالى او ولسي جرګه فرهاد پاپا د کمونستان په پېر کښې سوسيال ديموکراسي بيخي رد کړه څکه سوسيال ديموکراسي په اروپايي هېوادو کښې اقتدار درلود پاپا فرهاد دا هم وويل ،چې هېڅ بهرنى اړيکې نه غواړو که دا کار مو وکړو زمانوم د افغان ملت له نوم لړ نه وباسئ ، سره ددې خبرو خلکو ويسا درلوده او ۱۳۴۸ لمريز کښې ولسي جرګې ته د کابل خلکو په غوڅ اکثريت د وکيل په توګه وټاکه په ولسي جرګې فرهاد صاحب ولسي جرګې د بې نظمې يوه نمونه ګرځېدلې ده

په ګوند کښې زما خبره نه چلېده ځکه ځوانانو ویل ګوند ددې دپاره دی ،چې قدرت تر لاسه کړي ما ویل قدرت تر اوسه خلك چاته نه ورکوي د لویدیځ او ختیځ ( کمونستي پانګه والي) د رقابت مساله نه شرقي نه غربې افغانستان د افغانستان دافغانانو دپاره غواړو . داسې یو ګوند قدرت نه شي اخستی څو بهرنۍ مرستې نه وي .
په ۱۳۶۰ لمریز کښې بینبور کښې همدا خبره وه ،چې عادي خلك سطحو نه لري لکه سید احمد ګیلاني ، صبغت الله مجددي ، ګلبدین حکمتیار ... ما ویل دا کارنه شم کولای ، ملګرو ویل داسې نه کېږي ،چې تش لاس جهاد وکړو په عسکرو او مجاهدینو کښې داسې خلك و چې د افغان ملت پلویان و خو ځانونه یې پټ ساتل پاکستان پوهېده ،چې دوی سره د لوی افغانستان نقشه ده کله ،چې طالبان و زه په ۲۰۰۰ کال کښې د پښتو عالمي کنفرانس ته وبلل شوم ملګري ،چې د طالبانو خلاف خبرې کولې ما وویل دا خبرې ما د شپې له ماسکو ، دوشنبې ، تهران ، دهلي ، امریکې غږ او بي بي سې نه اورېدلې دې طالبان ،چې ۲۰۰۱ د اکتوبر په اووه مه ولوېدل ما له بي بي سي سره په مرکه کښې وویل هر حکومت ،چې خپل امنیت په خپله ونه ساتې هغه حکومت نه دی .
د افغان ملت هغه برخه چې د قدرت او پیسو ارمان یې درلود له حامد کرزي سره یو ځای شول . د افغانستان د تاریخ په اوږدو کښې زمونږ د خپلواکۍ ضامن اسلام او پښتونولي ده او ددې عناصرو د ساتلو خلك له سختې مقابلې سره مخامخ دي او دې خبرې سره د مرګ په لورې روان یم .
استاد احمد علي خان د افغانستان اوستایي مدنیت او ګرشانیان یفتلیان به د اسلام د مقدس دین تر راتلو پورې بشپړ تصویر ورکړي،چې ټول پښتانه هغه وګوري ددې دپاره د هر مسایل حل کوي زما تحلیل په داسې حال کښې ،چې د استاد احمد علي خان کهزاد شرح په بشپړه توګه منم او په ډېر استادانه احترام مې خپل تحلیل څېړنه لیکلې ده ،چې په افغان ملي تاریخ او د پښتو په لرغوني تاریخ راغلي دي .

# لومړی پښتون او د هغه تاريخ

کوم تفصيل چې د پښتون په برخه کښې مونږ لوستي دي هغه ډېره وروستي. ده او پښتون کلمه ډېره لرغوني ده څومره لرغوني ؟ اووه زره کاله يا تر هغه پخوا دا به چېرته لېکل شوي د مثال په توگه د ويدي په سندرو پکتها پکتيان خو دا خلك به تر دې سندو څومره پخوا و؟

همدارنگه د هېرودت په تواريخ کښې پنځه سوه کاله مخکې تر ميلاده هغه داسې مهال و .چې پاکت ، پاکتي . پکتيا ( په يوناني تلفظ) په بشپړه توگه موجود و پکتيسيا pacticia وطن " هېواد" پاکتي کالي او پاکتيان دا .چې خدای زده څومره مهال مخکې و .

## پښتانه قومونه:

په تاريخ کښې داسې قومونه يا دشوي .چې پښتون نه د پښتانه اړوند قومونه لکه کاسيان اتلس پېړۍ لرغوني تر ميلاده په بابل کښې . ساك او ساکستان هوتك د هاتك په نامه لودي ، متاني دوه زره کاله مخکې تر ميلاده د مدنيت ، ښارونه او امپراتوريو خاوندان و ، نن پښتانه د زنکدن په حال کښې دي زمونږ خبره داده ،چې بيا هم که له تاريخ نه زده کړه ونه کړو بيا به هم هماغه حالات راشي ،چې ( دوه پك هغه هم سره ورك ).

زما د کتنو له مخې په افغانستان کښې درې سندونه دي آمو ، هملند او اباسين درې مدنيته دي ، پاکت ( باختر پاکتريانا) ساك ساکستان ، سور ( سورستان) بيا همدغه خلك له خپلې ټولې زده کړې او پوهې سره له هندوکش نه تېر شوي جنوب کښې تر هندوستان پورې د آمو له شمال نه مرکزي اروپا ته د آمو له جنوبه مديتراني ته ، فنقيان ،چې بحريه يې درلوده هم سوري دي غوريان سوري دي وروسته له اسلام څخه صفاريان ساکزي ، سيستان ، غزنويان غز نه، غوريان غور نه، فېروز کوه کښې هوتك ، اصفهان او قندهار ، ابداليان ، قندهار ينې د افغانستان د پلازمېنې په نامه ياد شوي . او خراسان د افغانستان لويديځ ولايت و ،چې يعقوب ليث صفار په سيستان پورې تاړه غزنويانو په غزني پورې ، غوريانو غور پورې او قندهار په قندهار پورې تړلي و .

د افغانستان نوم هېڅکله خراسان نه وه دا د هغه کسانو کار دی ،چې نه پوهېږي افغان او پښتون يو دی او دوی له خپله يا پردي دا خبره کوي ،چې د افغانستان نوم خراسان و .
پښتانه له اريايي قومو څخه دي لکه افغان ، اليان ، دايوه اټکل دی ،چې په کومو ځمکو ،چې اريايان پراته و اريانا بلل يې اسان و ، د اوستا له شپاړسو ځمکو يا سيمو يو يې اريانا ورشو دي او نور يې نور نومونه لري هرات هري ، هريرود دا هم اريا پورې اړه لري .
اريانا ويجه ، پعد ،مرو ، بخدي ، نيسايا ، هريوه ، اوراوا ، خننتا ، هردويتې ، هيتومنت ، راغا ، کخرو ، وارتا ، هپته هندو ، رانگه يا رانغ په دې شپاړسو ټوټو ځمکو کښې يو يې اريانا ويجه دي ، د نورو نومونه ساتنه هم ضروري ده .
مگر اريانا خلك او پادشاهي يې ، د پاکت ، پاکتيان ، ساك ، ساکستان ، کوشان ، يفتليانو ، زابلستان ، کابلستان ، په نامه په تاريخونو يادېدل او ليکلي اسناد شته . دا ،چې د افغانستان لومړی نوم اريانا و بيا خراسان شو په پای کښې افغنستان حقيقت نه لري که زمونږ خوښه وي وی به . هغه تاريخ ،چې انساني بڼه لريي د تيارې او رڼا په منځ مگر يو تاريخ پوهېږي ،چې کوم حکايتونه له واقعيتو سره لگي لکه گرشاسب او ضحاك يو قوم حتی سره خپل و خو گرشاسب بابا خپله فلسفه بيان کړه ،چې د ځمکې ابادول او د خلکو هوسا او خوشحال ژوند دپاره کارکول ،چې د اسمانو له سپېڅلتيا سره يو شانې وي . ککړتيا نه پرېږدو مونږ لکه وريځې د اسمان سپېڅلی ژوند غواړو هغه دين ،چې محمد(ص) يې وايي همداسې دی . زمونږ مسلماني خپله ،چې څلورزره کاله مخکې مو درلوده په څښتن تعالی ايمان ، دروغ نه ويل ، ميلمه پالل ، ناحقه خون نه کول ، پاکلمني او له زنا څخه ځان ساتل .
گرشاسب بابا دا خبرې وکړې ،چې زمونږ تومن به د هر چا لپاره د پناه ځای لري ، چې اسامه نومېږي .ما دا خبره مخکې هم کړې ،چې زمونږ ډېر وياړنې په هند ، ايران ، تاجکستان ، ازبکستان ، ترکمنستان ...
زه چې دا خبرې کوم د دوستانو خبرې هم اورم يوه ملگرې چکېسلواکيې نه راغلی و د خبرو په ترڅ کښې يې وويل ،چې يوه کروشيايې ليکلوال دا خبره ليکلې ،چې کروشايان افغانستان کښې هم شته ،چې هغه ته اوس خروتي وايي دا هم دومره لېرې نه برېښې او

څېړنه غواړي . بله ورځ يوه بل ملګري راته وويل : چې د ګرشك نوم له ګريس يعنې يونان نه اخستل شوی(Greece) .
په همدغه حال کښې انګلستان د افغانستان ختيځ او جنوب لويديځ ته ،چې پښتانه د طالب او القاعده په نامه وټکوي اوستې يې وباسې د ۱۳۸۴ د تلې لسمه له انګليسانو ،چې چار په نولسمې پېړۍ کښې پاتې و دايې په يوويشتمې پېړۍ کښې بيا راغی اوس مهال کښې دېرش امريکايان له ناټو بين المللي عسکرو . خبر افغان سپاهيان ټول د امريکې تر مشرۍ لاندې انګليسانو وويل مونږ نه نور مجهز عسکر د افغانستان جنوب ته لېږو هلته کوم دولت او ترتيب نشته خو دا ځا ره دې ته رسېدلې په نامه پښتون هغه وژنی هماغه شعار دی غلځي پښتانه د امريکې په مرسته د القاعده او طالب په نامه وژني د کابل په ارګ کښې محمد قاتل شاه او حامد کرزی دواړه ابدالي پښتانه دې ،چې امريکايان يې ساتي .

# د هېواد پالنې اصول

د افغانستان په تاريخ ،چې پياوړی استاد احمد علي خان کهزاد ليکلی دغه کتاب د وطن پالنې تاريخ او اصول بللی شو . ددغه کتابه په ۱۹۲ مخ کښې داسې ليکل سوي دي . " په دې کښې شك نشته ،چې اوستا يو مذهبي کتاب دی د ويدې سندرې هم مذهبي اړخ لري خو څومره ارزښتناك جغرافيوي او تاريخي معلومات د قبايلو دود او دستور د ژوند سويه او زمونږ ټولنيزې خواوې له هغه څرګنديږي ،چې د تاريخ د څېړنې تګ ټکی هم همدغه معلومات دي ."
له دې هم څرګندېږي ،چې زمونږ مذهبي سندرې له نورې نړۍ بشپړ توپير لري استاد بيا ليکي :
" څرنګه اوستا د ويدي تيت وپرك سندرو کښې يو اصول ، ديانت له ټولو بنسټو سره د قوانينو او فروعاتو شتون څرګندوي د تاريخ او جغرافيې په برخه کښې هم په ډېره اندازه ژورې خبرې کوي . ګټه يې تر دې ډېره ده ،چې پېښې په هره برخه کښې يو له بله سره تړلې دي ، د يوه ملت ټول اقتصاد ، پروګرام ، اصول او سياست ،چې د يوه هېواد دپاره ضروري دي په هغه کښې راغلي دي او يو غښتلی شاهي هېواد ښيي لکه يوه تاريخي رساله ده د لويو پياوړو پادشاهانو "

دا ډېر زېرونکې ده ،چې مونږ وکولای شو د هغه په ځرنګوالي باندې پوه شو ځکه لويديځو اثارو کړو وړو زمونږ حواس ګډوډ کړي د افرادو د ژوند تامين دوه لارې لري کار او زيار دوهم قناعت او خپل فکتور او اروپا او امريکا پسې نه تلل

## مولوي وکيل احمد متوکل

وکيل احمد متوکل لاد ځلوېښتو کلو نه دی . د ی د طالبانو د امارت د بهرنيو چارو وزير و ددينې علومو په کورنۍ کښې زېږېدلی دی دده په کورنۍ کښې شهيدان ډېر دي ددغې کورنۍ ژمنه له خلکو سره د خدمت و دی هم د نرم خوی خاوند دی . مولوي متوکل د افغانستان د خلکو په طبيعت پوهه ، کوم وړوکی کتاب ،چې ده د افغانستان او طالبانو ليکلی دی . يو ځغلنده نظ طالبانو د دورې او کارونه نيمګړتياوې او لوړو ملې اسلامي کارو کښې يې تر ډېره حده يوه خوا نه ده نيولې .. د ده اخلاق ، معلومات او عقايد د افغانستان له تاريخ سره تړلي دي . ده دا کار ښه کړی ،چې دغه کتاب يې ليکلی دی .

که چېرې بوډا کهزاد تاريخ پوه او ځوان وکيل احمد متوکل سره ناست وای ژر يو د بل په خبرو پوهېدل په دغه مقايسه کښې ،چې يو ديني عالم او يو نامتو او ځار تاريخ پوه په افغانستان خبرې کولای شي لاره وتله زمونږ نيک مرغې وه يو د کابل بل د قندهار يو فارسي ژبې بل پښتو ژبې يو سني مذهب او بل شيعه مذهب يو په اروپايي کاليو بل په وطني کاليو کښې مطلب سره يو ځکه طبيعي افغان و اوس د کهزاد او متوکل کتابونه شته دافغانستان تاريخ د احمد علي کهزاد مفصل کتاب او افغانستان او طالبان کتاب مختصر .

د مستقبل په تاريکيو زړه

که لټوم فقط افغان لټوم

مولوي وکيل احمد متوکل د طالبانو پر مشر تابه "هومره" نيوکې کړي ،چې د شورا په برخه کښې د بڼانو . دينځو د تعليم زما غوځ نظر دادی ،چې طالبان له خپلو نيمګړتياوو نه مات له مشتو مات دي طالبانو وسله ټوله کړه . امن راغی . شر او فساد ورک شو . شريعت عملي شو له دې نه په اسلامي نړۍ کښې يو خوځښت پيدا شو د چين له سينکيانګ نه تر استانبول بيا له استانبول تر جاکارتا طالبان جوت شول هر چېرې يې د طالب طريقه غوښتله چېچنيا په رسميت وپېژندل شوه د ايران ګوانۍ ته سم خواب وويل

شو . د هندي طیارو مسئله په ښه توګه حل شوه . کله ،چې متوکل په بګرام کښې امریکایانو سره بندي و څو کاله وروسته ، له هند نه یو هینت راغی په بګرام کښې یې د وکیل احمد متوکل نه تحقیقات پیل کړل دا دنړۍ په کوم قانون کښې شته ؟
نو که چېرې طالبانو هغه نیمګړتیاوې نه درلودای بیا هم دا کارکېده په ۲۰۰۰ م کاله د ایران د پادشاه زوی رضا پهلوی په تلویزیون کښې خبرې کولې . له ایران نه یوه سړي تیلیفون وکړ څه یې په عربي وویل نطاق ،چې د ایران تر څنګ ناست و وویل : سخن شما را نفهمیدم هغه وویل :
خلاصه ایکه امیرالمومنین ملا محمد عمر خلیفه المسلمین است بروی زمین . تیلیفون یې چټك غوڅ کړی شو او دا خبره په واشنګټن کښې وشوه ،چې ما واورېده وچې خبره دې حد کښې وه . چین ، روسیه ، هند ، امریکا ، اروپا ، ایران ، فرانسه ،جرمني ... ټولو یو استقامت ونیو د طالبانو غوڅول محمد ظاهر شاه ، کرزي ، دوستم ، رباني ، شورای نظار وحدت هزاره حرکت محسني ، پرچمیان ، خلقیان په همدغه استقامت د امریکا په مشرۍیو وجود شول نن ،چې د اکتوبر درېیمه ده ۲۰۰۵ په پکتیکا کښې یودپرش تنه طالبان ووژل شول
شکمن طالبان یعنی غلځي پښتانه هره ورځ دېرش تنه شکمن طالبان وژل تاسې د بي بي سي او امریکا غږ خبرونه واورئ یا یې انترنیت کښې وګورئ د تلې میاشت ۱۳۸۴ .
اوس ویل کېږي د تروریزم جنګ نه دی جنګ اسلام سره دی ، پښتانه وایي جنګ مونږ سره دی عراقیان وایي جنګ مونږ سره دی که چېرې دغه جګړې حالت وخوځېږي د لویدیځې نړۍ اقتصاد کمزوری کېږي په اخ و ډب کښې نوی نسل وده کوي هغوی نور د دیموکراسۍ او د بشر د حقوقو عامه حقوق شعارونه نه مني او د نړۍ حالت بدلوي .

## دومره مدنیتونه ،چې لاړل څوك ګرم وبلل شول ؟

په شلمه پېړۍ کښې څو مدنیتونه وموندل شول ،چې تر دغه مهاله چا نه پېژندل لکه د سند په حوزه او ترکیې کښې .
که چېرې د ویدې اوستا سندرو ته پام وشي نظامونه مدنیتونه نه و خو د هغو په برخه کښې معلومات نشته په پخواني نظریاتو کښې ،چې په نړۍ کښې بیان شوي دي اوس پوهان هېښ هېښ پاتې دي ،چې خبرې څو هر لورې دي بشر ته د حمزه شینواري له سترګو وګورئ ، هغه الهامي پوهېدلي ،چې په بشري نړۍ کښې د ښېګڼې ، خپلواکۍ

او سپېڅلتیا رېی ( بیرغ ) دوی رپولی دی خوشحال خان ، رحمان بابا ، حمید بابا ، بیا احمد شاه ، سیدال خان او بي بي زینبې په شاعرۍ ښېګڼه ، خپلواکی ، سپېڅلتیا ، ګرشاسب بابا ، بېټنی بابا او سړبن بابا پیغام کړلان یا کرلاڼ یا هغه مشر دی ،چې د پکتون د ابادۍ یوه پېښه ده .

استاد احمد علي کهزاد وایي د اوستا په سندرو کښې ،چې د خپلو نیکونو یادونه او ویاړ نه کوي سړی نه شي پوهېدای ،چې هغه د کوم مهال دي .

# بیا هغه انګریز دی

د تلې د میاشتې پنځلسمه کال ۱۳۸۴ کومه ورځ وړاندې یا وروسته د لندن "ډیلي ټلګراف" ورځپاڼې یوه سیاسي تبصره لیکلې وه ،چې د بي بي سي له څپو هم خپره شوه . "توني بلیر" د انګلیستان صدر اعظم د خپل ګوند په کلېزه کښې ویلې و "په دې ویاړم ،چې د انګلستان غونډې یوه هېواد مشرې مې په غاړه ده "

ده ویلې دي ،چې په عراق او افغانستان کښې به د انګلیس عسکر ډېر شي او خپله ونډه به د ناټو او بین المللي ایتلاف سره ډېره کړي په افغانستان کښې په دوامداره جګړه وې څو د تروریزم جرړې وایستل شي .

بیا هغه انګرېز دی ،چې څه کم دوه پېړۍ مو سره وهلی و هغه وزیرستان دی ، هغه وانه هماغه قبایلي پښتانه په دواړو هېوادو ( افغانستان او پاکستان ) . داسې بده ورځ ،چې داسې زمونږ حال څه وي ، ګرده نړۍ د پاکستان او افغانستان پوځونه هم ورسره شي د پښتنو سترګې چاته اوړي ؟ د رب دربار ته هره ورځ دېرش کسه شکمن طالبان وژل کېږي. د شکمن طالب مطلوب پښتون دی هغه هم د سرحدي سیمو پښتانه د پاکستان شمال لویدېځ د افغانستان جنوب ختېځ او جنوب لویدیځ دغه اروپا ، امریکا ښکته پورته ټوله نړۍ دغو پښتنو ته خړېدلې ده یوویشتمه پېړۍ ۲۰۰۵ م کال ، عمومي جګړه ده له پښتنو او عراق ، سره دا هسې یوه عادي پېړۍ نه ده ، دغسې یوه نړۍ د تاریخ په اوږدو کښې نه وه . د امریکې جمهور رییس " بش " په نړۍ خوړلو کښې د انګلیس تجربه نه درلوده نو د انګلیس صدر اعظم " توني بلیر" مخته شو ابتکار یې ورو ورو له امریکې واخیست د امریکې مرسته به اخلي ، عراق او افغانستان کښې به استعماري زړې نسخې به راواړوي خلك په پیسو اخلي او خپل قوم به پرې ووهي لکه محمد ظاهر

شاه نوی کلن او حامد کرزی په زرهاو نور له هرې نژادې او فکر طایفو خپل وطن خپل تاریخ او دودونو یې پرې ووهل د ښځو د حقوق په نامه یې له اروپا او امریکا لاډېرې مېرمنې پارلیمان ته راوستې فلمونه ، د ښکلا د ملکې لپاره یې لوڅې کړې او نړۍ ته یې وښودلې ،چې لوڅې لغړې مو کړې په لندن کښې " حماسه " د لندن د کال ښکلې ښځه شوه حماسه یعنې غیرت غیرت لوڅ شو ، تاسې ډاډه و اوسئ د لندن په هره کوڅه کښې تر حماسې لس برابره ښکلې شته بیا بله بیا بله د ښکلا ملکې ډېرې شوې لوڅې بر بنډې شوې ، په هند ، انګلیستان او اروپا کښې ، هره نجلۍ ،چې لوڅه شوه اخبارو او تلویزیون او انټرنېټ کښې راغلې افغانه نه ده زمونږ د دېرش زرو کلو دا شعار دی .

## ښېګڼه ، خپلواکي ، سپېڅلتیا

دغه ښه شعار د رسېدو لار ښه ویل ( یا ښه وینا ) ښه منل او ښه کول دي .

لاره شته که د ډالرو شوق پرېږدئ تېر مهال د هرچا د خپلو پېسو نوم د بین المللي معیار ډالر دي په ټوله نړۍ کښې پټرول له لومړۍ سرچینې په ډالرو اخیستل کېږي ۱۳۸۴ لمریز د تلې پنځلسمه د انګلیس صدر اعظم ټوني بلیر عجبه وکړه : نوی او اغېزمن وسله له ایران نه عراق ته رسېږي دغه تور سربېره په هغه تور دی ،چې ایران اتومي وسلې د جوړولو په درشل کښې دي انګلیس رامخکې شوې کېدای شي پر ایران هم داسې برید وشي لکه په عراق او افغانستان چې شوي .

## پښتانه د ښېګڼو ، سپېڅلتیا او خپلواکۍ په پېر کښې

د اوستا په مدنیت کښې یوه ټولنه وه ،چې خپل قانون او اصول یې درلودل د پښتو ټولنه په "آر" پیل کېږي د آر معنی اصل ، سپین ، سپېڅلې دي . استاد احمد علي خان کهزاد او دغه دوره څېړلې ده ،چې لس قبیلې او شپاړس قطعې ځمکه ده ،چې د هغه ذکر په دې تاریخ کښې ضرورې بولم لس قبیلې یا ټبر دادی .

۱. النیان Allinos ( په دې برخه کښې توضیح او کتنې ډېرې دي ،چې د افغان په تاریخ کښې مهمې دي.

۲. پکتیان Pakthos ( پکتوس ،پارت ،پختون، پختانه )

۳. بهالانا Bhalona ( د بولان د درې اوسېدونکي )

۴ شیوا chiva
۵ ویشانن vishanin
۶ انو anus
۷ دریوهو druhy
۸ توروانشا turva
۹ یادو yadu
۱۰ پورو Puru

هره قبیله یو مشر لري او خانله احوال . ( د افغانستان تاریخ احمدعلي کهزاد) شپاړس قطعې ځمکې دادي .

| | |
|---|---|
| ۱ آیریانم ویجو | ۱. Ainya nam vaeja |
| ۲ سغد | ۲. Sughdha |
| ۳ مورو | ۳. Mouru |
| ۴ بخدي | ۴. Bakhdi |
| ۵ نیسیا | ۵. Nisaya |
| ۶ هریوه | ۶. Haroyu |
| ۷ ویکرء ته | ۷. Vacketeta |
| ۸ اوروا | ۸. orva |
| ۹ خننتا | ۹. khnenta |
| ۱۰ هروه ویتي | ۱۰. Harvaiti |
| ۱۱ هیتومنت | ۱۱. Haetumant |
| ۱۲ راغا | ۱۲. Ragha |
| ۱۳ کخره | ۱۳. Kakhra |
| ۱۴ وارنا | ۱۴. Varena |
| ۱۵ هپته هندو | ۱۵. Hap+ Hindu |
| ۱۶ رانگه یا رانغه | ۱۶. Rangho |

( د افغانستان تاریخ احمد علي کهزاد)

ACKU

دغه قبايل ،چې د هند او اروپا په لوري خوځېدلي دي او ځانګې يې د مهال له تېرېدو سره ډېرې شوې دي . خپل روايات يې ساتلي دي او دا کار په هندوستان کښې نور ډولونه موندلي دي په يونان کښې هم مګر نومونه په خپل حال پاتې دي لکه د ارباب الانواع . په هند او يونان کښې

تول پيغمبران عليهم السلام لکه يعقوب . يونس . يوسف . آدم او ابراهيم عليهم السلام

حتى په انګليس ژبو کښې په سلو کښې دېرش پښتو لغات ليدل کېږي . لکه = لايک . ديوال = وال . واده = وېډنګ . قانون لا = لاز . تندر = تند . اګى = اېګ ...

په ډېرو لرغونو ژبو کښې داسې لغات شته ،چې فکر کېږي عربي دي لکه عزيز = ازيز .

امير =اميره يا . يار

آغا = آغا

اکو = اکو

ارجون = ارجون

ارض = ځمکه Earth

هيله – هيلن Hellen رڼا . هيله . هيله من . هيلن . په سوريني ژبه کښې دا لېدل کېږي . هسې ،چې وايې نګه ژبه په نړۍ کښې نه لېدل کېږي . مهاجر لغات به په هره ژبه کښې وي مګر که خپل لغات وي لکه پښتو کښې ويسا يعنى اعتماد ويسا به ښه وي .

Hellam يوناني مدنيت دى ،چې د رڼايې معنا لري . تاين بي دا خبره کوي ،چې افغانستان له دوو خوا هيلن يا هيلني شو له لويديځې خوا او د سند له خوا خو دا خبره سمه نه ده يونان داسې شوي . هېرودت او يوناني آثار ليکي ،چې الياني . اسيايي . يونانيان دي . چې يونان نيولي

د The Greek Mythus کتاب کښې وايي الياني . لېوني راغلل دا هم وايي ،چې دوى ظالمان نه دي

د اسنادو له مخې ثابته ده ،چې الياني . الياتيان افغانان دي او له پکتيانو سره يو خلک دي پښتانه يا افغانان ظالمان نه دي .

ما لومړې ځل دا مطلب په تاريخ منتظم ناصري کتاب کښې ،چې اعتمادالسلطنه ليکلې وليده کتاب دړې ټوکه دى ما سره شته او دغه مطلب ترې وليکم .

بيا هېرودت الياني ، ايوني ، استايي او يونانيان ،چې يونان ته تللي همدا مطلب استاد احمد علي كهزاد د افغانستان په تاريخ كښې وايي الياني ، نورستانيان دي له لسو قبيلو او پكتيانو سره يو دي د تاريخ نورستان په كتاب كښې هم دا ثابته شوې ده څو مياشتې مخكې حسن خان مومند ،چې غوريانو باندې كتاب لري او دده څېړنه ده . زه وپوښتلم د افغان په كلمه له كله پېدا شوې ده ؟ سمدلاسه ځواب راسره نه وه وروسته مې ددې كلمه سرچېنې وموندلې.

لومړی دا ،چې د تاريخ منتظم ناصري په ۱۰۳۸ مخ اعتماد السلطنه د ناصرالدين شاه د استخباراتو وزير داسې ليكلې دي .

كيفيت احوال افغانه و ظهور دولت انتيال :

نقل كرده اند كه طوايف افغان در سواحل بحر خزر (كسپين) در حوالي شيروان و داغستان مسكن داشتند ، باخود در باب الابواب خارج داغستان در صحرا ی ييلاق و قشلاق می نمودند و طايفه مجهول الاصل بودند و معلوم نبوده اس از قوم بحر خزر يا از شعبه يا طايفه آنها باشند بهر تقدير كار ايشان در آنحدود نهسب و غارت بوده است . در زمان امير تيمور گورگان اهالي آذربايجان از ايشان تشكيل و تظلم كرده آن پادشاه نه ديجاه آن طايفه از آنجا كوچانيده در صحرا كه واقع بود درمابين هند و قندهار ساكن و ستمكن گردانيد . و دست تعدی ايشان آذربايجان به صد منزل دور كرد و در آنجا نيز عادت است نهب وغارت بود . سياح نوشته كه در بعضی از كتب تواريخ ديده ام آنها راغوانی اليانی می گفته اند و اغوانی غلط اليانی است و از ارمنی بودند و حالانا حيه قره باغ متصل به شيروان جماعت ارمنی هستند كه آنها را مناشری قندسار می گويند و در طريقه ايشان سركرده و رئيس را اغوان گويند و به زبان ارمنی باش ، نوعی اغوان را گويند ، در ولايت گنجه و ايروان و نواحی نخجوان و حدود گيدل مسكن دارند ، مقتان ، ايشان را به اين نام می خوانند و به اين نام افتخار كرده ادعای افغان بودن می نمايند و می گويند لفظ قند سار بوده ، و از كثرت استعمال قندسار شده و قندسار غلط قندهار باشد زيرا كه قلعه قندهار در بعضی كتب نوشته اند كه بناهای اسكندر بود آن وقت كه آن طايفه انجا ساكن شده ارمنی بودند چون از وطن اصلي خود دور و مهجور ماندند رفته رفته با اهالی قندهار مخلوط شدند و الفت و موانست پيداكرده همگی مسلمان سرحد است همه ايشان جنگ آور شده اند ))

دغه مطلب ما ځو ځایه راوړی ،چې د افغان د کلمې بنسټ ته د سړي پام راګرځوي ،چې افغان او پښتون د یوه مهال خبره ده ، همدا وجه ده ،چې افغان او پښتون دواړه ، پښتون هم پکت ، ، پختون = پکتون ، پکتانه ، الیان هم الیاني اوغان ، اغوان د زرهاوو کلمو په ترڅ پښتون او افغان شوي دي دواړو په نړۍ خواره شوي او زاړه قومونه و لکه ساکان ، سوریان ، پاکتیان ، ارمن ، آرمني ، آرمنستان ساك ، ساکان ، ساکستان ، بیا سیستان شهرسمك ،چې د ځوانمردانو تومن دی ددغه کتاب لیکوال څرګند نه دی خو د داستال په توګه یو ښار ښیې پخوا ښار د وطن په معنا هم و شار پادشاه ته هم وایی لکه د بامیان شار یا د غزنویانو په ښکلي مهال افغان شال و ، چې (ر) په (ل) بدل شوی .
د افغانستا تاریخ یو سمندر دی ،چې غوتې په کښې وهي ډېر څه به په لاس درشي زمونږ دپاره دغه کتاب ډېر په زړه پورې دی لومړی دا ،چې د مېړانې یا عیاري ځوانمردي او فتوت بشپړ نظام دی ه څه په کښې څرګند شوي د مېړنتوب اصول کالي ، وسله ، خواړه عدالت ، بازار تجارت ...
په تېره بیا د کتاب ژبه او د مېړنو اصطلاحات د کتاب ژبه دري ده فارسي نه ده په دې حال کښې ،چې فارسي ایراني شوې له " دري" ډېر لیرې شي د تعجب خبره ده په ۸۳ مخ ،چې هر مخ ۲۸ لغاته تشریح شوی دی یعنې له دري په فارسي ترجمه شوي دي دغه کتاب په ایران کښې داسې دې لکه بله ژبه په افغانستان کښې په تېره بیا په کابل کښې داسې نه دی د کابل ویجاړول د پاکستان ارمان و ،چې ددغه ارمان په پوره کولو کښې رباني او مسعود ډېره مرسته وکړه .
( ۱۹۹۰ م څخه تر ۱۹۹۶ م ) کابل یا کاول له زابل یا زاول سره نژدې تاریخ لري او دلته د غزنویانو مخکې او وروسته د افغانستان د تاریخ مهمه برخه ده دلته ډېر تاریخي روایات خوندي و . د سمك د ښار کتاب د خپلو روایاتو له مخې داسې بریښي ،چې مخکې تر اسلام حالات په کښې راغلي یوازې لوړه د دادار په نوم ،چې څښتن تعالی دی یادوي .
که ددغه کتاب ټولې خواوې وکتل شي سړی دې نتیجې ته رسیږي ،چې د سمك ښار کابل دی ژبه یې سوچه دري ده . د کوڅو نومونه او محلې هماغه . جهارسو ، کاه فروشي ، د قصابانو کوڅه ، د بزازانو کوڅه ... د جګړې په مهال یې ډول غږول ،چې

پښتو کښې د چغې وهل دي د خوشحالی په مهال هم کابلی ډول غږېږي .د پادشاه کور او کار هم څرګند دی .
د ځوانمردانو ټولی د خلکو او پادشاه تر منځ ځانله کارونه لري .چې د فساد مخه نیسي دغه دود په کابل او پاکاله مخکې بیا تر وروستیو کلونو پورې پاتې و . له دې تفصیلاتوله مخه که له یوه پلوه درې ژبه ځوانمردي او د مېړانې عملي ټولنه مونږ اوستايي مدنيت يوه نمونه همدا بللی شو . لارې په امن او سفر کوم ربړنه لري مسافر او میلمانه پالل کېږي دروغ څوك نه وايي که څه هم خپل سر بايلي .
ايراني پوهانو ،چې دغه کتاب موندلی دی او هغه يې څېړلی کتاب او د سمك ښار يې خپل نه دي بللي يوازې دومره يې ويلي ،چې ځينې اصطلاحات په ايران کښې شته . د نورستان تاريخ يو غټ کتاب دی،چې اکبر شور ماچ ليکلی دی هلته د اليان افغان خبره څېړل شوې اکبر شورماچ په ځوانی کښې زما ملګری و . دی د نورستان دی حربي ښوونځی او د ادبياتود پوهنځي د جغرافيې څانګه لوستې يې ده په حربي ښوونځې کښې ښوونکی و عسکري رتبه يې درلوده . دی ډېر کلونه لګيا و ښوونه او مطالعه يې کوله مفکر سړی دی څلوېښت کاله همداسې لګيا و د ډېرې تجربې خاوند دی بيا يې له حاله خبر نه يم خو د نورستان تاريخ اوس په امريکا کښې د افغانانو په دکانونو کښې ليدل کېږي . ده دا خبره غوڅه کړې ده ،چې نورستانيان چور افغانان دي د افغانستان دپاره يې تل خدمتونه کړي دي . خيانت په دوی کښې نشته يا به لږ وي . په شهر سمك کتاب کښې يو وطن دی ،چې مېړنی او عياران په کښې دي او بشپړ نظام لري اخلاق يې د ځوانمردانو و . د غور کوهي نوم هم راغلی ،چې مشر يا پادشاه و غور کوهی کېدای شي هماغه غرغښت يا غورغښت وي.
نن زمونږ تومن کښې دا فکر هېڅوك نه شي کولای ،چې زمونږ ژوند په لرغونو مهالو کښې څه ډول و ؟ نظام ترتيب ، قانون ، دود او دستور په کومه توګه و ؟
داسې فکر کوي ،چې اوس تر پخوا ښه دی کله چې (۳۲۳) مخکې تر ميلاده سکندر باختر ته راغی او بيا جنوب ته لاړ زمونږ دپاره دغه کتاب ډېر په زړه پورې دی لومړی دا چې د مېړانې يا عيارې ده اباد ښارونه منظم عسکر يې وليدل ،چې دده مقابله يې وکړه ښادي مدنيت خدای زده کله پېل خوانمردي او فتوت بشپړ نظام دی څه په کښې څرګند شوي د مېړنتوب اصول .

ACKU

په تېره بيا دکتاب ژبه او دمېړنو اصطلاحات د کتاب ژبه دري ده فارسي نه ده په دې حال کښې چې فارسي ايراني شي له دري ډېر لري شي د تعجب خبره ده په ۸۳ مخ چې هر مخ ۲۸ لغاته تشريح شوي دي يعنې له دري په فارسي ترجمه شوي دي دغه کتاب په ايران کښې داسې دی لکه بله ژبه په افغانستان کښې په تېره بيا پهه کابل کښې داسې نه ده د کابل وېجاړول دپاکستان ارمان و چې شوی و ؟ په ويدي اوستا کښې ،چې کوم نظام ابادي يادېږي د هغه اټکل پنځه زره کاله کېږي او دا ،چې هغوی ،چې پلرونه او نيکونه يادوي هغه به څه مهال و ؟

# د سمك ښار

دا د يوه کتاب نوم دی ،چې نه يې ليکوال شته او نه يې تاريخ او نه ځای يا جغرافيه او نه د هغه کسانو ،چې پرې يادېږي د هغوی سم دې د کتاب ژبه دري ده څنگه دري هماغسې ،چې وايې دري او د ايران فارسي بېل دې . د مېړاني او مېړنتوب ،چې مونږ يې پښتونولي بولو مخکې له اسلامه او وروسته تر اسلامه په افغانستان کښې و . د احمد شاه بابا دولت د ځوانمردی و . د صفاريانو دولت ،چې سکزي و. د غزنويانو دولت ،چې زابلي و . د غوريانو دولت ،چې سوري و گرشاسب بابا ،چې خبرې وربانده شوې دي او همدغه کتاب کښې دي ،چې ده خپله دنده گڼله ، چې ځمکې خړوبې کړي . هېواد سمسورشي او خپل هېواد د امن هېواد کړي وروسته پښتنو مشرانو هر يوه مېړانه او مېړنتوب درلود .

محمد زايي پادشاهانو يو يو ملي دود د شرعيت په نامه ماتاوه ،چې ځان شريعتمدار وښيې او په خپله يې هر څه کول ، سمك ښار ،چې د يوه هېواد د بشپړ نظام ښيې د کتلو وړ دی . سمك د يوه عيار نوم دی ،چې د ډېرو مېړنو عيارانو استاد دی ، دده له خولې دا خبرې پاتې دي .

مېړنی سمك وايي :

مېړنې بويه په مېړانه پوه وي ،چې مېړانه څه ته ويلای شي ؟

په تيارو لارو پله وي .

مېړنی بويه په چم پوه شي او ډېرې چارې سر ته ورسولای شي .

خوندورې خبرې وکړي او د هرې پوښتنې ځواب ورسره وي .

ACKU

ورو خبرې وکړي .
څه يې ،چې ليدلې وي هر چا ته دې نه وايې .
د خلکو عيبونه دې وساتي .
لږدې خبرې وکړي .
د ډگر په ساتلو کښې گړندی وي او ميدان چاته خوشې نه کړي ، په دې توگه کولای شي د مېړانې نوم غوره کړي او له مېړنو سره په يوه لاره لاړ شي . د سمك ښار داسې يو كتاب دی ،چې ايراني پوه پروېز ناتل خانلري ،چې كتاب يې كتلې هغه د ختيځ د يوې ټولنې هېواد او ښار اخلاقي اقتصادي صورت ښيي ،چې په مېړانې ولاړ دی په دغه كتاب كښې متلونه اصطلاحات او پندونه دي چې همغې زمانې كښې يې رواج و مونږ اوس ۱۳۸۴-۱۳۸۵ لمريز كښې د داسې علمي څېړنو دپاره وزگار نه يو. اوس ،چې ډېر شيان د ځمكې لاندې نه لوټماران تر لاسه كوي په منډه يې بهر ته رسوي دا شيان يو مهال چا جوړ كړي دي ،چې لوټماران يې گېډې ته اچوي .
سره لـه دې ،چې دغـه سامان ، وسلې ،گاڼې ، سكې ، لوښي زمونږ هېواد كښـې په زرهاوو كلو وړاندې جوړ شوي دي اوس يې له جوړولو عاجزه يو په پردي پيسو اوكاليو پسې گرځو ژېړ مخونه مو نيولي دي. كومه ورځ به په سمه شو او بل رنگه حكمت وكړو ؟
اوس دهغو څو پندار مثالونه را اخلو :

د گور شپه نه په گور كېږي
چې بد گرځي بد به پرزي

مېړني هغه دي ،چې رښتيا خبره وكړي او هغه خبره وكړي ،چې سر تـه يې سولی شي .
مېړني بويه چې غليمانو سره ژوند وكړي دوستانو سره يې هر څوك كولای شي ، د سمك د ښار كتاب كښې دوه زره څلور سوه لغته ،چې كتاب كښې په كار شوي ښېرته په فارسي ترجمه شوي كه دغه لغات نه وي، په ايران كښې پوهېدل گران دي لكه د بېدل ديوان په افغانستان كښې هلته نه لوستل كېږي .
زما نظر د دري په برخه كښې دا دی ،چې دري د ايراني فارسي لـه خوا خوړل شوې ده كوم خلك ،چې غواړي دري له ايراني فارسي بيله كړي د سمك ښار كتاب ډېره مرسته ورسره كوي ،چې ديوې ټولنې د ژوندانه د گردو اړخونو خبرې كوي په تېره بيا ،چې له ۲۰۰۱ م څخه تر ۲۰۰۵ م پورې د افغانستان د مطبوعاتو وزير يو سړی دی ،چې په

ایران کښې یې د فارسي ډاکټري اخیستې ده د پښتو مخه نیولې د دري یې ښه ایستلې ، ایراني کړې یې ده ،چې ویې ګورئ د کابل هغه کابلي اوسېدونکي وژل شوي ،کورونه یې نړېدلي دي ، ژوندي سرتري وتلي دي .
هغو خلکو ،چې د زړو مدنیتو زړي یې ساتلي و، کابل پر پښود نورو ځانونه رباني او مسعود ،چې کابل او د کابل ښځې او ماشومان خپل ډال کړل او د هغوی تر شا پټ شول نو خپل یو فرهنګي مرکز یې هم ونړاوه.

## د ویدي سندرې هم په خپلو ډولونو کښې پاتې نه شوې !

استاد احمد علي خان کهزاد د اوستا او ویدي سندرې په خپل څېرکي کښې څېړلې هغه مهال ،چې د کابل او د دوی د آر او ژبې توپیر نه و او که و دغه قومونه له باختر او پاکتیا ، نورستان ، سستان ، هرات ، د خزر غاړې ، اذربایجان ، داغستان او ډېرو نورو ځایو پورې د اریانا د شهباز وزرې غوړېدلې .
اوستا او ویدي ژبه یوه ده د لویدیځې نړۍ د تاریخ پوهانو بله ده. خو یوه کیسه بیانوي ،چې همدغه کیسه د یووالي ده ، که مونږ دغه سندرې د زړه په غوږو واورو او پردۍ سندرې وا نه ورو د پردۍ له سندرو مطلب هماغه د لویدیځ دودونه دي .
وګورئ دغه سرود یا سندره :
کله ،چې دغه سندرې اورۍ یا لولۍ اووه اته زره کاله شاته لاړ شی " د پکتانه زلمې پادشاه توروایانا Turva yana ،چې ولیدل ((اندرا)) د جګړې رب النوع ،چې د پاکتیانو مرسته یې کوله اوس غلی شانته دی ((توروایانا)) د مور ((اندرا)) د خوشحالولو لپاره لکه سیلاب شراب پر ځمکه توی کړي ،چې ځمکه ښیرازه او سمسوره شي د جګړې رب النوع د پکتنو مرستندویه مسکن شي ډګر د پکتیانو شي او جګړه وګټي " .
" پکتیان ، بهالونا ، شیوایان ، الینان او نور یو ځای شي توریالي سره ورونه دي ، غلیم ته ماته ورکړي او نذرونه وویشي "
پکتیان ( پښتانه)، بهالونا ( د بولان د درې خلک ) ، ښیوایان ،ښیکي ، الینانان ( افغانان) او نورو قومونو د ویدي د سندرو له مخې سره یو موټی شي او برۍ تر لاسه کړي . پښتانه دغه لاره د زرهاو کلونو په ترخ بیا بیا نیسي او برې ته رسیږي .
د پښتانه یا پکتیان څومره ذکر ،چې په ویدي اوستا کښې راغلی او هېرودت ،چې خپل تواریخ.کښې یادې کړې نو ددې ځای نه پاتې کېږي ،چې دوی عرب یا بني اسراییل یا

بل څوك وبلل شي سم روښانه تاريخ د پښتنو چال اوس ويجاړ دى ، پښتو ته كه خداى توفيق ورکړي ،چې له دې پېره ووزي بيا به دوى هم پوه شي ،چې دوى څوك و .
د ۱۳۸۴ لمريز كال په اوږدو كښې ،چې ما دا انشاء كوله خداى رو په پښتنو دومره سخته راغلې وه ،چې شپه او ورځ كربلا وه . ۱۳۸۴ لمريز د تلې مياشت ،چې روژه هم وه په مظفر اباد كښې پاكستان په برخه كشمير كښې دومره كلكه زلزله وشوه ،چې د هغه ساري نه وليدل شوى . دېرش زره كسه مړه شوي اومړي ايستل كېږي. بالاكوټ او ډېر كلي له مينځه لاړل . بارانونو هم سړكونه پرې كړيدي . دا د خداى(ج) له پلوه و د انګليس ،كاناډا او امريكايي افغان اجير عسكر هلوكوپترونه الوتكې. توپونه د افغانستان د جنوب او ختيځ سيمو كښې ( وزيرستان) كښې پاكستاني عسكر همداسې ناتار روان کړي و . د الله تعالى حكمتونه هر ډول بيا ،چې سړى كوي هغه خلك ،چې د انګليس . امريكې په جګړه كښې شهيدان كېږي يوه معنا لري او يو تاريخ دى ۱۳۸۴ لمريز د تلې ۱۹ د ۲۰۰۵ م كال د اكتوبر ۱۱ او په همدې اونۍ كښې ، په هلمند ، زابل ،ارزګان . پكتيكا ، پكتيا او كنړو كښې همدغه اروپا او امريكا د مدني خلكو كورونه نړوي . وينې بهوي . ابدالي پښتانه د محمد ظاهر او حامد كرزي د راحت او خوشحالۍ دپاره د امريكې لمن نيولې د وينو په درياب كښې ناست دى دامريكې خارجه وزيرې كاته د څو ساعتو دپاره لاړه دوى ته يې ډاډ وركړى ،چې د امريكې عسكر به د ډېرې مودې پورې پاتې وي څو افغانستان او امريكا دواړه ډاډه شي مقاومت نه دى پاتې .
د افغانستان هزاره ، ازبك ،تاجك او ابدالي پښتانه ،چې د محمد ظاهر شاه او حامد كرزي قوم خان بولي په هم هغه بين المللي ايتلاف كښې د القاعده . طالب ، پاكستاني په نامه پښتانه وژني په ابدالي پښتنو كښې ځينې نه پوهېږي څه پېښ دي ؟ ځينې يې دغه كار اسلامي او ملي نه بولي .
د هغې زلزلې له امله ،چې پاكستان كښې شوې وه د مړو . ټپيانو شمېر يو لكو ته رسېدلى . پاكستاني عسكر ، پوليس او مامورين هم په دې ډلې كښې دي . د بې كوره خلكو شمېر ډېر دى د تلې شلمه ۱۳۸۴ لمريز د شنبې ورځ وه ،چې دا ټكه ولوېده .
په هغه ورځ ،چې كاندوليزارايس د امريكې خارجه وزيره وه . كابل كښې دوه توغندي ولوېدل اوخارجه وزېره په هم هغه ورځ پاكستان ته والوته .

که هزار ځله لاس سره کړې په نکريزو
تا زما پــه ويـــنو لــولې دې پوهــېږم
(رحمان بابا)

## سندرې او اويستايي سرودونه

پکتيان او د هغوی زلمي پادشاه توروايانا ، اندرا د جګړې رب النوع ،چې تل پکتيانو سره مرسته کوي ، سندرې هم په همدې باره کښې دي . توره يوه ډېره لرغوني کلمه ده ،چې افغانستان يې ډېره خوښوي، سرودونه په لنډيو ، نارو او ټپو بدلې شوي دي ،چې هېلې او خيالونه څرګندوي.

بابا د تورې نه دې ځار شم — زه د وطـن شـپې ستـا پـه تـوره تېرومـه
بابا له تورې دې لوګې شم — سـتا همـت تـور کفـار ورك کړيدينـه
توره د هغه زلمي کـــار دی — چې د غيـرت پـه اوبـو مـور مينځلي وينـه
توره راواخله ورګـــــډ ېږه — مدام به نـه وي د حضرت پـه ديـن جنګونـه
وطن دې خپل دی په کښې ګرځه — زه مسـافر د بـل وطـن سـبا بـه ځمـه
وطن د زېړو ګلو بـــاغ دی — ځکـه جانـان وربانـدې سـر قربانوينـه

(( "اتاروه ودا" د پکتيانو د زلمي پادشاه لـه پاره ليکلې پڼواك ژباړلي دي ، ژباړه لـه انګليسي متن نه ده او کهزاد خپل کتاب کښې راوړې اوس وګورئ د هغه پښتو متن :" ته ټول واك يې له ټول برم سره د خلکو د واکدار په څېر وبريښه )).

(( ټولواکه ، پرېږده ،چې اسمانونه تا تـه ست وکړي او خلك ستا خدمت " ستا د قبيلې خلك او دا د اسمان پنځه ټوټې تـا خپـل ټولـواك بـولي لـه ټول قـدرت سره پـه شاهي تخت کښېنه او مونږ ته زېرمې او خزانې وښيه ))

(( خپلوان به تا ته ست وکړي ستا په لوري به درشي "اګني" به لکه ګړندی ملګري تـا سره وي او خلکو ته به زېری ورکوې )).

(( پرېږده ،چې د دوی زامن په دوستی ښه وروزل شي او تا ته ښکلې سوغاتونه راوړي))

ای " اندرا" زما شهزاده ونازوه قدرت ورکړه لوړ يې کړه او د خلکو يـوازينی ټولـواك يـې کړه غليمان يې خوار کړه او ده ته يې په لاس ورکړه ،چې په خپله توره يې سم کړه )).

(( ای ټولواکه ته ډېر لوی يې ټول غليمان تر تا ښکته دي " اندرا " تاسره مرستيال ده سوبه او بری راوړه لکه زمری خپل غليمان ونيسه او لکه پړانګ يې خواره کړه )).

دپښتو اوسنی حال ۱۳۸۴ لمريز همداسې دعا او سندرې غواړي ، د پاکتيانو پادشاه او دوه رب النوع د هم هغه مهال " اندرا " او " آګني " اوس نشته ، ای واحد او لاشريك خدايه ته زمونږ د پښتو جرړې ټينګې کړې ځانګې يې پياوړې کړې سرلوړې يې کړې غليمان يې پاتې راولې

چې زما په چمن راشي ګستاخي کړي
د شبنم په څېر يې عمر يو زمان کړي
( رحمان بابا )

د حميد او د فريد دور به بيا شي
چې په توره پښتانه کا ګذارونــــه
( احمد شاه بابا )

پښتانه که بل څه فکر کا نـــاپــوه دي
بې له تورې خلاصې نشته په بل کار

وګورئ په ټوله زمانه کښې د زلمي پاکتي پادشاه توروانا نيولې اوس پښتانه څوك دي ؟ ته ای اميره وځغلوه د غيرت او ننګ آسونه دغه توره بله وواهه ،چې زمونږ په پښتونخوا راغلې ده زمونږ بچيان خوري ته " توره تون " يې دغه ښامار په وينو ولړه ، ساه ترې واخله ، پرېږده ،چې وينه يې د لمر وړانګې وچه کړي او تورو خاورو کښې ورك شي

# د شهزادګۍ ګوشا سندرې یا سرودونه

(( ای د سهار ستورو ،ستاسو بګې ،چې تر خیاله چټکې دي ، هغه بګې ،چي زړه ور او چټك آسونه يې بيايي د خلکو په لور چېرته ځي ؟ د سپېڅلو سيمو پورې ، ای زړه ور پهلوانانو ( اتلانو ) زمونږ سيمې ته راشئ .))

تاسې ای د لوړو چارو خاوندانو " وندانا" راولئ څو د برم او بري خاونده شي لکه نګه زر ،چې پټ پاتې وي . هغه ،چې د تباهی په زړه کښې ويده وه او لکه لمر ،چې په تيارو خونو کښې پټ وي.

# اسلام ، طالبان او افغانستان

په اوو مه ميلادي پېړۍ کښې د اسلام رڼا خپره شوه په **۵۷** هجري کښې اسلام افغانستان ته راغی لومړی خراسان ، بیا سیستان اسلامې مرکزونه شول له خراسان نه شمالي افغانستان او له سيستان نه زابل ، غور ، قندهار ، غزني او کابل اداره کېدل ، په دغو ځايو کښې د قدرت سيمې وې کلونه جګړې وې تر نهمې پېړۍ پورې ،چې د سيستان د ساکزو او ځوانمردانو دولت جوړ شو له دې وروسته حالات بدل شول ځکه له خلافت نه بېل خپلواکه هېواد شو ، دغه تاريخ ډېر لوی دی ديني ، ادبي ، اقتصادي ، سياسي او اداري مسايل و .

ځوانمردي مېړانه ژبه له اسلام سره د خپلواکۍ نښې وې ژبه که دري یا فارسي نه وای عربي به وه په دې توګه به ترکیه ، ایران ، افغانستان ، تاجکستان ، ترکمنستان ، ازبکستان ، هند بیا پاکستان دا به ټول عربي ژبې هېوادونه و دا که ښه شول یا ښه ونه شول ، ددې بحث موضوع نه ده .

د شریعت نارې ټول وهي خوشریعت په یوه سطحه وې په بله نه وي څو دایران اسلامي انقلاب خو ایران ونه شو کولای کټ مټ شریعت عملي کړي ؛نو د ایران اسلامي انقلاب د لویدیځې نړۍ له اقتصادي او دیموکراسيې سره ګډ شو دیموکراتیک اسلامي هېواد غوندې سره له دې یې پنځه ویشت کاله کېږي ،چې دوام لري په دې ترڅ کښې یې له عراق سره جګړه وشوه د ایران له دغه دولت سره نه دیموکراتان خوشحال وو ،نه شریعت پال . خو په ایران کښې د مخې خلك نه دي پاتې لکه په افغانستان کښې طالبان لاشته

او دغو ناوړه حالاتو کښې مقاومت کوي په ایران کښې کوم څرګند مقاومت نشته له دې څرګندېږي د ایران خلك تردې ښه کوم څوك نه ښيي .

## پاکتریا باختر ـ باکتریا بلخ

له تاریخي څېړنو داسې ښکاري ،چې پاکت باکت خکه شوي ،چې په څېړنو ژبو کښې د (پ) توری نشته هغوی پاکستان ته باکستان وایي لـه کومو سرچینو ،چې معلومات یا څرګندونې اخستلی کېږي هغه چینې یوناني وروسته هندي بیا عربي دي ورپسې اروپایې ژبې دي .

اروپایان پاکتیا ته باکتریا وایي او باکتریا دوی مکروب ته هم وایي لـه یوه څه ووکي توپیر سره مونږ دې تـه اړ یو ،چې د کلمې خپل څېړونـه وایـو کولای شو سیستان تـه ساکستان ووایو ،چې خپله ښه يې ده .

پاکتیا ،چې باختر ، بلخ ، بخدي شوی هماغه پاکتیا ،چې هېرودت Poctycia وایې ،چې پکتیکا بیا پښتونخوا ده په ډېرو لیکنو کښې بختیا بختې ، بخدي بلخ ، بلهیکا . افغانان ،چې خپلو پښتنو ته څه لیکلې په هغه کښې هماغه په پښتو شکل دي، ولیکې په اروپایې آثارو کښې تیمور لنګ تـه تیمورلن وایې ،چې پښتو یې ګوډ تیمور دی ، غزنوي، غزنوید لیکي زمونږ دې خبرې ته پام وي ،چې خپله خوله او لیکنې د هغو سره ناسم نه کړو که ایرانیان ګاډي ته ماشین وایي ځینې نور موتر وایي .

کله ،چې د کلمې اصلي شکل په لاس راغی . بیا د هغه په کارول په کار دي لـه دې بحث نـه هـدف دا و ،چـې شـمال د افغانسـتان د پاکتیـانو اریایـانو لومړنـی تـاټوبې بیـا پـه پاراپامیزاد یعنی هندوکش پېر شوې جنوب تـه راغلی او دلتـه د سندرو بلـه دوره پېـل شوې ده دا ،چې وایې له آمو څخه تر اباسین یو هېواد دي واقعیت دی کومـه احساساتي خبره نه ده .

څنګه ،چې دغه تاریخ د افغان ملي تاریخ دی د همدغه افغان حالت په همدغه زمانه ډېر ویجاړ دی ۱۳۸۴ لمریز ،چې دتېرې او تجاوز څلورم کـال د بي بي سي خبرې دی . د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر پر شلمه او د ۱۳۸۴ د تلې نهه ویشتمه " امریکایان د دوو طالبانو مړي سوځولي بیا د کلي خلکو باندې یې ملندې وهلې او خندلي دي . پښتانه وایې "

دښمن دې وژنه مېړانه يې مه وژنه " د مړې سپکاوی په پښتو کښې نشته " که د غليم مړی هم وي .

# سناتور ادوارد کېندي ته يو ليك

د ۲۰۰۵ د اګست په ۲۵ د ديموکراتو د مشر سناتورادوارد کېندي ليك راغبی په دې سيمه کښې ،چې زه او سم ديموکراتان ډېر دي او د ليك پېل داسې شوی !
ګران ملګری :
جورج بوش له قدرت نه بده ګټه اخلي بوش او دده ښې لاسي ملګري يو تلپاتې خطر دی د ملت دپاره بويه ودرول شي . د دوی بې باکه مغروره او بې کفايته خلك دي زمونږ هېواد کمزوری کړي زمونږ شهرت يې له نظره غورځولی دی په نړۍ کښې ځوك مونږ په ښه سترګه نه ګوري د تروريزم په نامه يې زمونږ هېواد وېشلی دی لکه ،چې تاريخ يې ويشلی و . هره ورځ نوې واقعات سرپورته کوي د بوش له بې کفايتۍ امريکايي عسکر بې له کوم مدرکه وژل کېږي هره ورځ نوی مصيبت .
د بوش غلطې لاربښوونې مونږ جګړې ته ورګډ کړو .
دوی بې شرمه دې د دوی بې باکي او سپين سترګې حد او سرحد نه لري او د امريکې په تاريخ کښې بې ساري دی او مفسدين دي ، دوی لاجواب دي تاسې مرسته وکړئ ،چې ځواب ترې واخلو . لاس ليك ادوار کنېډي ستاسو سناتور " دغه څلور پاڼې وې .
ما ده ته يو ليك واستاوه ده ته مې وليکل هره ورځ په افغانستان کښې کلي بمبار کېږي کورونه نتوزي ... ،چې القاعده او طالبان لټوي بله ورځ ،چې ګورې عام خلك ښځې او ماشومان يې وژلي وي . ما د ديموکرات ګوند کمېټې ته پنځوس ډالره اعانه ورکړه .
افغانان که په کانګرس کښې ملګري ومومي دوی ته ووايئ ،چې د بوش اداري زمونږ هېواد برباد کړ ، راځئ خبرې وکړو ،چې ولې مو زمونږ هېواد نېولی ؟ دا هم يو فعاليت دی ، خلك دومره وېرېدلي ،چې د طالب نوم څوك نه شي اخستلی افغانان ،چې خبرې کوي لومړی دطالبانو يو څه بد ووايي . ما دغه ډول رښتيا وې ليکلي ويلي مقالو کښې هر ځای ،چې چا غږولی يم .
د اکتوبر په شلمه د ديموکراتانو د سناتورانو دکمپين او فعاليت د مشر له خوا J. B.Poersch. يو بل ليك راغی :

ګرانه قدرت الله فرهاد :
زه نه شم کولای کافي تشکر او مننه وکړم کومه برخه د پنځوسو ډالرو ،چې زمونږ د سناتورانو په ټاکنو کښې مو اخستې ده . تاسو پوهېږئ ،چې خپل هېواد بېرته نه شو تر لاسه کولای ځو په سنا کښې اکثريت تر لاسه نه کړو او په دې برخه کښې منابع بويه تر لاسه شي ځو وکولای شو ښې ارځې سناتورانو ته ماته ورکړو . ستاسو نه مننه مونږ غواړو د جورج بوش ښې ارځې ايجندا ته دپاى ټکى کښېږدو او دا کار هله کېداى شي ،چې ۲۰۰۶ م په سنا کښې اکثريت تر لاسه کړو .

J. B. Poersch
Exccutive Director

د امريکې جمهوري ګوند د بوش په مشرى يو مسيحي کلك دريځه ګوند دى ، چې مسلمانانو سره يې را اخستې ده ، ترې د مسلمانانو تر غورځولو پورې چين ، روسيه ، هند او اروپايي اتحاد د بوش مخه نه نيسي او مرسته ورسره کوي کله ،چې مسلمانان ټول د امريکې تابع شي وروسته له هغه امريکې ته دغه سروالې نه پاتې کېږي او هغوى امريکا يوازې پرېږدي . نه يوازې ځانله پرېږدي ،چې د ډالرو بين المللي معيار له منځه ورې هر ځوك به خپلې پيسې چلوي داسې به نه وي ، تېل ، ګېس ، سره زر او نورو فلزاتو بيع به په ډالرو کېږي اوس هېڅ هېواد تېل په خپلو اسعارو نه شې اخستې او له دې بنده به ځان خلاصوي .
سناتورادوارد کېندي وايي : چې د کلنټن له دورې ۲۳۶ بليونه ډالره اضافي پاتې هغه او درې سوه بليون ډالره يې د عراق او افغانستان په جګړو لګولي دي اوس د امريکې په بوديجې کښې ۲۳۳ بليونه کثر دى پنځه ميليونه امريکايانو دخپلې روغتيابېمه له لاسه ورکړې بوش په خپلو خطاګانو اعتراف کړى دى خو ځان نه سموي .

## ولې پښتانه ياديږي ؟

ددې لپاره چې پښتانه يوازې پاتې دي تاجك ، هزاره ، ازبك او ظاهر شاهي پښتانه د امريکې په ايتلاف کښې دې دوى له دين ، ناموس او خپلواکۍ تېر شوي دي . په امريکا کښې دوه ګوندونه دي ، جمهوري پلوه او ديموکراتان .
مابسپنه ديموکراتانو ته ورکړه ځکه چې جمهوري پلوه مذهبي مسيحي دي . ديموکراتان نه دې بوش او دده ملګرو اسلام پسې راخستې ده . ځو دوى په قدرت کښې وي د اسلام

مخالفت نه پرېږدي او مونږ داسې څوك منلی نه شو ،چې له بنیاده د اسلام مخالف وي .
اسلام د افغانستان داسې دین دی ،چې پښتانه په فطرت کښې مسلمانان دي لکه ،چې گرشاسب بابا ویلې دروغ ، زنا ، لواطت ، ناحق خون ،غلا ، بدلمني په مونږ کښې نشته د اسلام ارشاد هم دا دی ، خو گرشاسب بابا څلور زره کاله مخکښې له اسلام نه دا خبره کړې ده .
استاد احمد علي خان کهزاد گرشاسب او غرغښت بابا یو سړی بولي . د قیقي بلخې او ابوالموید بلخې اسدي توسي حکیم ، ارمن شاه د گرشاسب بابا خبرې کړې دي .

ټول یو دي که غلځي که اودي
ښه هغه ،چې یې د زړه ښیښه صفا ده

محمد ظاهر او دده قومي ملگرو په امریکایانو غلځي پښتانه ووهل دا وه ددوی مسلماني او پښتو. القاعده او بن لادن په لومړي سر کښې ۱۳۶۰ لمریز کښې د امریکي سوغات و ،چې تبلیغاتي خبرو کښې یې هغه له طالبانو سره وتاړه ، بیا "دوستم ". "ملك" محقق دوه پېړې پښتانه په شمال کښې قتل عام کړل او دا کار دوی د روسیې او امریکې په خوښه وکړ ، تاریخ دا ناځوانمردي نه شي پټولی .
ساده مسلمانانو په ۲۰۰۰ دوه زرم کال بوش ته ځکه رایه ورکړه ،چې بوش دوی ته مذهبي مسیحي برېښېده او هغه به د کمونست دښمن وي حال دا ،چې کمونسته روسیه لاړه بوش او پوتین سره خپل شول د افغانستان په پښتنو کښې د غلځي دراني خبره شوه دراني له امریکایانو سره ودرېدل دا به څنگه کېږي یاره ،چې ته مست یې زه تایب .

## غښتلی جلیل دراني :

چې د احمد شاه بابا شپږم هلی دی د احمد شاه بابا د کتابتون کتاب تحفه الطاهرین د څو پاڼو کاپي راوړې داسې ښکاري ،چې احمد شاه بابا د شېرشاه سوري په افکارو او تاریخ خبر و . زه داحمد شاه بابا د سپینو زرو سکه لرم او پنځه داسې کتابونه ،چې دده په باب لیکل شوي پایناب کښې هغه کتابونه مې ښکل کړل ،چې دده مبارك لاسونه په هغو کتابو لگېدلی خوشحاله یم چې زما مینه له هغه سره یوځای ورسېده احمد شاه بب څوك نه لري ،چې ویې ساتي ؟ ابدالي یا دراني ۲۰۰۱ م کښې امریکایان شول د نورو پښتنو دنده ده ،چې بابا وپالي په نیویارك کښې یو پښتون پوپل زی ، د اعظم پوپل زي له کورنۍ دده نوم بوستان دی مشهور په تورجان ده ته مې د غښتلي عبدالجلیل دراني


خبره وکړه او دده د استان مې ورته ووايه تورجان د دراني دتيلفون نمره وغوښته ما ويل څه يې کوي ؟ تورجان ويل : نازوم يې خفه دی . رښتيا ،چې دوی سره ظلم شوی او د نازولو دی .

# سدوزيان په کندهار کښې

دا يوه مقاله ده ،چې کاکا اسدالله ليکلې او ( کندهار د تاريخ په اوږدو کښې) چاپ شوې . دغه کتاب عبارت له يو څو مقالوڅخه دی . په ۱۳۸۴ لمريز کښې همدغه کال ،چې نفس مو په ختو دی، مړي سوځول کېږي . ځوانان مو مري دوه دېرش بيرغونه د دوه دېرشو هېوادو موږ په هېواد کښې ريږي ، په تاريخي قندهار کښې د مېرويس نيکه او احمد شاه بابا تر سره پورې مونږ دا وېره کړې ،چې سدوزيان له افغانستان څخه شړل شوي دي .


په قندهار کښې د ګوتو په شمار يو څو سدوزيان شته ، کاکا اسدالله د ډګرمن متقاعد عبدالولي داسې حساب ورکړی دی :

سدو بن عمر بن معروف بن بهلول بن ګتی بن پامی بن حبيب بن پوپل




ACKU


محمدزمان خان بن دوست خان





کامران خان بن پوپل




عظیم الله خان د غه سړی د امان الله خان په مهال په افغانستان کښې ،چې نایب الحکومه هم شو ، تر پایه د امان الله خان وفادار نه و .ښه په انګلیسي پوهېده د بهرنیوچارو په وزارت کښې هم و او عکسونه یې هم شته



دین محمد خان بن نورمحمد خان
میرزا محمد شفیق خان
حاجی عبدالرحمن خان
میرزا حاجی عبدالکریم خان
حاجي عبدالرحیم
عبدالحکیم
عبدالحلیم
مرحوم عبد النبي
مرحوم عبدالعلي
محمد ابراهیم
عبدالله خان
عبدالصمدخان
نوراحمد خان
محمدعظیم
عبدالحق
عبدالمنان
عبدالسمیع
احمدشاه
زمان
تیمورشاه

له حاجي عبدالرحمان بن دین محمد خان بن نورمحمد خان
حاجی محمد شریف
حاجی محمد رفیق
ډاکتر محمد صدیق
حاجی محمد اکبر
محمد گل زمان
عبدالغفور
محمد اسماعیل
محمد حسن
عبدالباري
عبدالهادي
شاه لالی
عبدالروف
عبدالعزیز
عبدالقادر
محمد اسحق


ACKU

داسې ښکاري وروسته له ميرزا حاجي عبدالكريم ،چې دربيم زوی سره يې مرحوم نه دی ، هغوی ژوندي و ، د سدوزي پاتې كسان نور ټول په پخواني هند او اولسي هند او پاكستان كښې دي . له هغه جملې ما عبدالغفور خان په كوټې او انور خان دراني ،چې په خپله د پېښورپه ډېګری كښې اوسېدو او كلې اكبر پوره ، نژدې پېښور كښې و ، د عثمان لمسې ،چې سردار عارف نومېده د پېښور په كبابيانو كښې ما لېدلي و ، زامن يې اوس هم شته .

دوی خانله پوپلزي وايي، سدوزي نه وايي او دا شجره مې ځكه واخسته ،چې څو كسه تاسو موندلای شئ دا د هغه اختلاف نتيجه ده ،چې باركزی او سدوزي سره وران و ، د افغانستان د امپراتوري له منځه تلل له همدې امله و . اوس هماغه ابدالي دی ،چې ۱۷۲۹ م كښې يې له اشرف سره مرسته ونه كړه نتيجه يې هم هغه وه ، چې نادر افشار تر ډهلي پورې لاړ .

داحمد شاه بابا توري ، سياست او تدبير بيا لوی افغانستان جوړ كړ . كله ،چې سردار پامين خان له يوه هندي مسلمان ميا غلام احمد سره ،چې ځان يې روحاني جوړ كړی و ، كښېناست . او شاه زمان هغه خلك ،چې غوښتل يې شاه زمان لېرې كړي او شاه شجاع راولي . قندهار ، كابل ، هرات ، پېښور او كشمير سره ووېشل شول . سرداران د ايران دربار ته د مرستې دپاره ورغلل بيا نو ورونه سره نه جوړېدل ، خبره له ملت نه قوم او له قوم نه كورنۍ ته ورسېده بيا د دوست محمد خان جګړه له ورور سره وه اود مكناتن پښو ته پرېووت .

دادی محمد ظاهر او حامد كرزی د امريكې د ائتلاف بېرغ لاندې د طالبانو په نامه ټول پښتانه وژني كه طالب مري كه حكومتي عسكر ،جنازې د پښتنو دي ،چې قندهار كښې ښخېدل.

كه توفيق په اتفاق پښتانه مــومــي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا خوان

ACKU

# پښتونخوا او خراسان

پښتونخوا او خراسان دواړه په نولسمې پېړۍ کښې د افغانستان له وجوده بېلې شوې په دواړو کښې د انګلیسانو لاس و ، په دواړو کښې زمونږ سرداران و ، داسې سرداران چې د یوه سړي زامن و او په خپلو کښې ورونه و ، د سردار پاینده خان زامن دا و.

۱) وزیر فتح خان
۲) نواب اسد خان
۳) نایب تېمور قلي خان
۴) نواب عبدالجبار خان
۵) سردار محمد عظیم
۶) سردار پردل خان
۷) نواب عبدالصمد خان
۸) سردار عطا محمد خان
۹) سردار شېردل خان
۱۰) سردار یارمحمد خان
۱۱) امیر دوست محمد خان
۱۲) امیر کهندل خان
۱۳) سردار امیر محمد خان
۱۴) سردار طره باز خان
۱۵) سردار سلطان محمد خان
۱۶) سردار رحمدل خان
۱۷) سردار سعید محمد خان
۱۸) سردار مهر دل خان
۱۹) سردار جمعه خان
۲۰) سردار پیر محمد خان

دغه شل زامن ، شل آفته و او له هغو نه تنو پادشاهي یا حکومت کړی دی په دې ترڅ کښې د دوی تولو جګړه له سدوزو سره بیا ، چې له هغه فارغ شول بیا یې په خپلو مېنځو

کنبې جګړه پېل کړې ده . د انګليس ، ايران او بخارا دربار ته تلل اود هغوی ته يې
ځولۍ نيوله ،چې مرسته وکړه پادشامې کړه زه به دې غلام يم .
ددې شرمېدليو اعمالو په نتيجه کښې لوی افغانستان ونړېد په دې توګه .

۱) ۱۸۰۴ ميلادي پورې د محمود شاه سدوزي او دده ماما وزير فتح خان د
نامېرنتوب له امله د خراسان ټوله سيمه د ايران ضعيف قاجاري دولت ته پاتې
شوه او پر پښو دل شوه.

| | | |
|---|---|---|
| ۲) | ۱۸۱۲ م | د اټك کلا سېك او انګليس ته |
| ۳) | ۱۸۱۸ م | ملتان کلا سېك او انګليس ته |
| ۴) | ۱۸۱۹ م | کشمير |
| ۵) | ۱۸۲۱ م | ډېره غازي خان |
| ۶) | ۱۸۲۰م | ډېره اسماعيل خان |
| ۷) | ۱۸۲۳م | پېښور |
| ۸) | ۱۸۴۲م | سند |
| ۹) | ۱۸۵۴م | بلوچستان |
| ۱۰) | ۱۸۷۸م | فوشنج ، کوژك ، کرمه ، لنډي کوتل ، دګندمك ترون |
| ۱۱) | ۱۸۸۵م | سوات ، چترال ، ارنوي ، وزيري داور ، شاګی ، چمن ، د ډيورنډ ترون ، په |

يوولسو پړاوو کښې ،چې يو اتيا کاله کېږي ، ستاسو د لوی افغانستان ټغر ټول شو ،
پنجاب له دې مخکې نېولی ، د سيك انګليس په معامله کښې خراسان د محمد شاه
سدوزي وزير فتح خان سرجان مالکم او ايران په معامله کښې .

۱۲) په ۲۰۰۱م کال کښې د بارکزو او سدوزو روغه وشوه ، د بارکزو ،
محمد ظاهر د سردار سلطان محمد طلايي نبيره او حامد کرزی ، پوپل زی ، دسدوزو له
لورې ،چې لومړی سړی بابای ملت شو او دوهم يې جمهور رئيس . په ۱۳۸۴ لمريز
۲۰۰۵ م کال د افغانستان په دغو ولايتو کښې جګړې رواني دي هلمند ، زابل ، ارزګان
، پکتيا ، پکتيکا ، کنړونو.

بابای ملت محمد ظاهر شاه پخوانی پادشاه
دلسمشر يا جمهور رئيس حامد کرزی

ددغه لنډ تاریخ تفصیل په ډېرو کتابو کښې راغلی په انګلیسي آثارو کښې د جان ویلر کتاب ،چې له خېبره ها خوا د انګلیسانو بدمرغي او افغانستان در قرن نوزده د سېد قاسم ربښتیا لیکنه په همدغه پېړۍ باندې جامع بلل کېږي .

# خراسان او د هغه تاریخ او جغرافیه

ابن حوقل به صورت الارض د خراسان ځلورخواوې داسې ښيي :

ختیځ خواته سیستان ، لویدیځ لور ته د غز دښته او د ګرګان سیمې ، شمال ته ماوراء النهر ، جنوب ته د فارس سارا یا دښته ،

سیستان هماغه ساکستان ،چې دساکو ځمکه ، عربو ، سجستان او بیا سیستان شوی ځنګه ،چې طبري تاریخ کښې راغلي د سند او آمو ،چې طبري کښې د نهر بلخ په نامه لیکل شوی کله د فېروز ساساني او اخشنوار یفتلي تر مېنځ جګړه شوه ، فېروز مات او یفتلي پادشاه خشنوار د خراسان ولایت د یوه تړون لـه مخې ترې واخېسته . کوشانیان ،چې په اصل کښې کوچانیان او یفتلي هم یپتلي دی ، خراسان د دوئ په ځمکه کښې وه وروسته تر هغه ، صفاریانو ( ساکو دولت ) غزنویانو ، زابلیانو هغه ولایت ونیو او ابوفضل سوري یې والي و ، وروسته لـه غوریانو سره هوتکو ایران ونیو. احمد شاه بابا بېرته لوی افغانستان تا مین ،چې خراسان او د ایران ډېرې برخې ورسره وي .

# د سلطان مسعود وینا د خراسان خلکوته

ما غوښتل ،چې مرو ته لاړ شم بیا مې ولیدل ،چې ګڼ شمېر پوځ زما خاصه خادم بریالی شو ، چې ترکمنان ووهي ، سوري او عبدوس د نسا خوا ته لاړل ، علي لوی سپه سالار په ګوزګانان او بلخ کښې دی لوی حاصب په تخارستان کښې دی. دغه لښکرې سره نژدې دي او ځوك دا توان نه لري ،چې دې خوا ته وګوري ، خراسان ، په کراتو ، سوري به چتك دلته راشي او نور کارونه به سم کړي . ویل کېږي لس منه غنم په یوه درم دې او پنځلس منه اوربشې په یوه درم تر لاسه کېږي ، او دا وړیا دي . جبال اوري ته خبر رسېدلی ،چې مونږ له نیشاپور نه هلته څو د هغه ځای خلك خوشحال دي ، تاش به تر همدان سورې لاړ شي . چې هلته کومه شخړه نشته بېرته به نیشاپور ته راشو ، تاسې په دې برخه څه دایاست ؟ خلکو وویل :

مونږ رعیت یو فرمان د سلطان دی مونږ غواړو زمونږ ولایتونه ډېر شي مونږ فداکارۍ ته چمتو یو، بیهقي تاریخ ۴۴۴ مخ .
د غزنویانو دوره روښانه وه او سوري ،چې د خراسان والي او د دیوان خاوند و هغې ځمکې کښې یې کارونه کړي دي ،چې د بیهقي تاریخ یې داسې بیانوي .
د سوري د دیوان خاوند په طوس کښې د هغه د ښو کارونو ډېرې نښې شته ،له هغې جملې نه د علي بن موسی الرضا علیه السلام مشهد چې شهر بوبکر ښه ښکلی جوړ کړی ، سوري هغه ته منارې جوړې کړي او یو لوی کلې د وقف دپاره له اوبو سره واخېست او نیشاپور مصلي یې داسې جوړه کړه ،چې په هېڅ مهال هېچا نه وه کړې .
د ،بلقا باد او حیوه ترمېنځ یو رود ( سین) دی ،چې د پسرلي په مهال هلته سیلابونه راتلل او مسلمانان په عذاب و ، سوری مثال ورکړ ( امر وکړ ) ، چې له تیږواو پخو ښختو داسې کلك شي ،چې خلکو ته تاوان نه وي د نسا او مروه په رباطو کښې داسې آبادي وکړي ،چې تر اوسه هم شته .
بو فضل سري د غزنوي دولت داسې ،چې یوازې په خراسان کښې هر ولایت ته به لاړ هغه به سمسور و .
امیر مسعود د خراسان خلکو ویل ،چې تاسې زما له زړه خوښ یاست ، د سلطان مسعود په څېر پادشاه سورې غوندې د دیوان خاوند ،چې راواخلې بیا بابای ملت او کرزی سره پرتله کړئ ، چې څه ترې راوزي . خراسان هم لکه پښتونخوا د جهاد په دوران ډېر مهاجر افغانان په خوا کښې ساتلي و .
ما داسې کوم سند لیدلی نه دی خو اورېدلې مې ،چې اعلحضرت امان الله د خراسان له قومي خلکو سره دوستانه اړیکې درلودې .
په وروستی کرښو کښې به مونږ د احمدشاه بابا د ژان ګور فرانسوي له کتاب وګورو ،چې په مشهد کښې کړې ده مخکې تر دې ،چې د احمد شاه بابا له وینا څو جملې راواخلو د ایران په وضع یو ځغلنده نظر کوو . هغه هم د خواجه تاجدار له کتاب څخه .
کریم خان زند په کال ۱۱۶۸ هجري سپوږمۍ له حسن خان قاجار نه ماته وخوړه اوشیراز ته لاړ له هغه وروسته د ایران هېواد پرته له خراسان د درې پادشاهانو د هلو ځلو ډګر و .
اعلحضرت ازادشاه سلمانخېل حسن خان قاجار کریم خان زند ، د اعلحضرت آزاد خان افغان په لاس آذربایجان و ، ددغو هلو ځلو سیمه د پارس د خلیج له غاړو نیولې د عمان

تر بحر پورې بیا تر کسپین پورې د کشمکش په ترڅ کښې په لکونو خلك مړه شول . کتاب لیکي ،چې آزاد شاه افغان یو زوف سړی و او پر خپل نفس قابو و. حسن قاجار د اقامحمد قاجار پلار و . زوی او پلار په اصفهان کښې و . چې احمد شاه ابدالي خراسان ته راغی ،خکه درې کسانو یو هیئت جوړ کړ د شاهرخ میرزا د نادر افشار نمسی ،چې له سترګو ړوند و . له هغه یې هر څه تر لاسه کړي و . دغه سړی د احمدشاه بابا له خوا دلته پادشاه و . په ټول ایران کښې د شاهرخ پلویان ډیر و مګر هلته درې پادشاهان په جګړه کښې و ، احمد شاه ابدالي هغه درې کسیزه ډله لیرې کړه او شاهرخ یې پر تخت کښېناو.

## د احمد شاه بابا د وینا یو څو جملې ،چې د مشهد خلکو ته یې ویلې وې

بسم الله الرحمن الرحیم : که چیرې زه د سلطنت دپاره خراسان ته راغلی وای په خپله به پر تخت ناست وم او د چارو واګې به مې په لاس کښې نیولې وای . خو زه ددې دپاره راغلی یم ، چې د نادرشاه لمسي ،چې د تخت وارث دی د سلطنت چارې هغه ته وسپارم او دغه چاره سرته رسیدلې ده زه بیرته ځم مګر که ما ته بیا خبر راغی ،چې دلته ځینې کسان غواړي د نادر شاه لمسي وغورځوي بیا به راشم او هغوی به په سزا ورسوم

د خراسان وضع ښه شوه په دې مهال اعلحضرت آزاد شاه ګیلان کښې و او غوښتل یې ما زندران او الترآباد ونیسي .

# سوځېدلي کترې

د لړم ځلورمه کال ۱۳۸۴ لمريز دا پنځه ورځې دکېږي،چې ما هغه تصوير وليد ،چې د دوو طالبانو مړي سوځولی شوي . لمبې ترې پورته وې ، امريکايان په يوه غونډۍ ورته ولاړ و او خندل يې . دغه سوځېدلي کترې د هغه دوو کسانو وې،چې په يوه حساب طالبان و . په بل غلځي او په دريم حساب پښتانه و. کاشکې د محمدظاهر شاه او حامد کرزي وينې سرې شي ډېر پښتانه يې د طالب په نامه ووژل او تاو د غلځي دي .

تاسې ولوستل ،چې اعلحضرت آزاد خان سلمانخېل د آذربايجان مشر و . ژان ګور فرانسوي وايي آزاد شاه افغان په اصفهان کښې خپله پادشاهي اعلان کړه همدغه مهال دده خبرې احمد شاه بابا سره رواني وې . د افغانستان په تاريخ کښې د ده نوم راغلی او يوه کرښه ورباندې ليکل شوې ولې؟ ددې لپاره ،چې آزاد خان غلځی و.

په داسې حال کښې ،چې ډېرې ايرانی خېروني د افغانستان تاريخ تحريفوي مونږ بويه هغه رښتيني حقايق وښيو . امريکا د ايران دپاره دا وکړل ،چې په عراق او افغانستان کښې يې د شعيه مذهبو مشري ايران ته وسپارله او په راتلونکې کښې به د سني او شعيه جګړې وې .

په حقيقت کښې بدمرغی په نولسمې پېړۍ کښې پيل شوي دي ،چې انګليسان راغلل ، فرانسويان هالنديان ، پرتګاليان ، جرمنيان ، آسيا ، افريقا او جنوبي امريکې ته وخوځېدل . په ميليونو ميليونو خلك يې د مدنيت او استعمار په نامه ووژل او د دوی نړوله هستې يې واخېسته خپل فکتور او ژبه يې په دوی ومنله . د احمد شاه بابا ځو جملې ما ځو ځايه ليکلې دی ،ځکه دده د خولې دي او سلطان مسعود هم په ايران قاجاري پادشاهان په افغانستان محمدزايي سرداران د دوی لاس کښې و.

امان الله خان ،چې خپلواك پادشاه و ، په هغه يې هم د ده نيکه منلی سرحد ومانه .

په کوم مهارت او کومه دسيسه يې طالبان وغورځول او دا ځلور کاله کېږي چې د اور سکروټې پرې وروي. پښتونخوا او خراسان دوه وزرونه دي ،چې لوی افغانستان خپل ځای ته رسوي اوسنی حال همدغه دی ،چې ونيولې ځو هيله مو به تل همدا وي .

ځو دې وس وي په لوی درياب کښې ګرځه
په وياله کښې دې زوال وينم نهنګه

آقا محمد قاجار کله ،چې اعلحضرت شاه زمان په افغانستان کښې پادشاه و .د زيارت په پلمه مشهد ته راغی . شاه زمان په څپل تدبير له مشهد نه وتلو ته اړ ايسته .
د طالبانو په مهال کښې کله ،چې د ايران دوه نيم لکه عسکر د افغانستان سرحد ته راغلل اميرالمومنين پرته له لښکرو هغوی بېرته ايستلو ته اړ کړل په قندهار کښې يوه ټوکه وه ،چې چا ملا عمر ته وويل :د ايران دوه لکه عسکر سرحد ته راغلي ، ملا عمر وويل : ملا حسن مې پنځه ويشت کسانو سره لېږلی دی .
اقا محمد قاجار د ايران پادشاه نر ښځې وه . کله ،چې لطف علي خان زند ماته وخوړه دې يې اقا محمد قاجار ته راوست . لطف علي خان زند دی نه و ليدلی کله ،چې لطف علي اقامحمد وليد وچ شوی مخ و ، پښېمانه شو ،چې کاشکې په جګړه مړ وای ،چې د هغه غږ يې واورېده ويل يې کاشکې غږ يې د نارينه وای .

## خراسان د افغانستان يو ولايت و

ډېر ليکوال وايي ،چې د افغانستان نوم خراسان و . ما په هېڅ تاريخ کښې دا ونه ليدل ،چې د افغانستان نوم خراسان وي. دا يو منحط ذوق او ناپوهي ده .
يو شمېر خلك افغان پښتون بولي افغانستان د پښتنو وطن دا همداسې دی ،چې په اريايي قومونو کښې پکتيان او افغانان و ،چې په خپل ځای بيان شوي دي .
له نيکه مرغه په تاريخي اتلسو کښې افغانستان په هر مهال په خپل نوم ليکل شوی لکه ساکستان(سکاتيه ) د کوشان امپراتوري ، د يفتليانو امپراتوري ، صفاري ، غزنوي ، زابلي ، غوري ، ابدالي دولت ته يې افغان امپراتوري ويلي دي . پاکترياناا يا پاکتر ، باختر بختي ،اراکوسيا ، داشته .
حتی اريانا نه دی ليکل شوی هرې ، هريوا ، هرويتي يوه برخه ده . دا ،چې افغانستان کښې اريايان ټول تارېخونه ،چې شمالي او جنوب د افغانستان د اريايانو د مهاجرتو او مدنيت مرکز دی . اريانا ويجه افغانستان کښې دې مخکې په شپاړسو سيمو او لسو قومونو کښې راغلی د اريانا ورشو .
سره له دې هم د پښتنو او افغانانو تاريخ ډېره څېړنه غواړي ، آراکوزيا ، اراکوزي ، الکوزي ، لکزي ددغې موضوع سپړل څو کتابونه کېږي ، هر تاريخي اتلس کښې اراکوزيا لېدل کېږي

هرات ،سیستان ،باکتریا ، زابل ، اراکوزیا ، په دایرة المعارفو او اتلسو کښې ډېر راغلي خراسان له خپله ځایه نه دی بنورېدلی مګر د افغانستان غربي ولایت و .
د ځایو نومونه لکه ګرشاسب ، قره باغ ، پاکتیا ، د خزر په غاړو کښې د ځاینو نومونه دلته هم شته.
په میرویس نیکه او احمد شاه بابا ځکه ټینګ ولاړ یو ،چې اصلي فکر خو هغو سره و ، زمونږ ډېر ځوان او تعلیم والا د اروپا ، امریکا فکر راته راوړي ، که چا نه ورسره منله ، بیا نو روس ، انګلیس ، امریکا ټول راولي وژني مو کبابوي مو . ظاهر شاه ، حامد کرزی هم خوشحال وي ، چې مور ته مو مېړه رواوست ، خو:

ځو وانخلي له غلیمه انــــتقام
مرد نه خوب کا نه خواړه نه ارام

## د محمد زاییانو د دورې تاریخونه

۱۸۴۲ کله ،چې انګلیسانو وتل شپاړس عسکر یې تباه شول سم له هغه شاه شجاع د بالاحصار او سیاه سنګ تر منځ لار کښې ووژل شو ، شجاع الدوله د نواب محمد زمان خان زوی وواژه او لامل یې هم دا وه ،چې شاه شجاع غوښتل نایب امین الله خان خپل لومړی وزیر کړي دا کوم ملي احساسات نه و ، وروسته ولیکل شول ،چې ملي احساسات و .
نایب امین الله خان ،چې جنګي زمری بلل کېده له شاه شجاع وغوښتل ،چې د غازیانو سره ودرېږي. انګلیسان دې له جلال اباد نه وباسي او همداسې دې وړاندې لاړ شي ، شاه شجاع له بالاحصار نه روان شو ،چې په سیاه سنګ کښې له غازیانو او ملي لښکرو سره یو ځای شي .
دا خبره ،چې نایب امین الله خان دا ډول غوښتنې درلودې د امیر دوست محمد له خوا بندي شو ځو مړ شو. په دې دوره کښې لومړی تاریخ امیر عبدالرحمن ولیکي تاج التواریخ ،چې اوس هم موندل کېږي ، امیر عبدالرحمن په تاج التواریخ کښې ډېر څه لیکلي دا یې هم لیکلې ،چې ده د شهزاده په کوټې کښې یوه پیانو ایښې ده ، پیانو د موسیقۍ په سامانونو کښې تر ټولو لویه دی ددې دپاره ،چې لویدیځ ته خپل میلان وښیي

دوه هم تاريخ دده زوی د امير حبيب الله په دوران کښې وليکل شو د سراج التواريخ په نامه . همٰاغه فيض محمد کاتب ته وظيفه ورکړه شوه او حبيب الله محمد زايي سردارانو ته وويل : چې خپل معلومات فيض محمد ته ورکړئ .

استاد احمد علي کهزاد ، مير غلام محمد غبار ، علي احمد نعيمي ، پوهاند عبدالحی حبيبي افغان ، پوهاند عبدالشکور رشاد ، د سيد جمال الدين افغان تاريخ د تتمت البيان في التاريخ الافغان سيد قاسم رښتيا د مطبوعاتو وزير افغانستان په نولسمې پيړۍ کښې کتاب وليکي نجيب الله توروايانا ، دوست محمد خان د نجات د ښوونځي د تاريخ استاد په دغو تاريخو کښې ځينې حقايق نه دي ليکل شوي . امير کبير دوست ( دوست محمد خان ) ، وزير باتدبير وزير فتح خان ، امير عبدالرحمن خان هوښيار ، دري واړه بد خلك ځلورم يې وزير اکبر خان و ، دې ټولو ته اتلان جوړ شوي . سوال دا دی ، چې لوی افغانستان چا وران کړ ؟ دوی که ليوني و ، که هوښيار ، خو د انګليس له خوښې سره تيل کېدل د دوی د پادشاهۍ دپاره په ميليونو افغانان وخت په وخت ووژل شول .

بيا به هم ستايل کېدل ، تاريخ پوهانو به لږ څه ويل او ډېر نه .

په ملي تاريخ ملي اتلان ، لکه خان ګل خان تره خېل ، آزاد خان سليمانخېل ، دده شهزاده احمد ، سرخاني خان الکوزی د داغستان پادشاه ، اوس تاسي وينئ ، چې داغستان يو جمهوري هېواد دی. آذربايجان هم له اته لسمې پيړۍ وروسته له دې ، چې اعلحضرت سرخانې خان او اعلحضرت آزاد خان وفات شول . د دوی زامنو شهزاده احمد او شهزاده محمد ډېرې ښندنې وکړې او د روسانو د ډېر پر مختګ مخه يې ونيوله .

زبردست خان ، اسلام خان په سلهاونورو ، چې په دوی خبرې نه دي شوي . په هند کښې ، چې شپږ پيړۍ پښتانه پادشاهان و ، شپږ سوه کاله ډېر وخت دی . مونږ دتاريخ په څو تنو باندې خبرې کړي ، هر کال په هندوستان کښې د شېرشاه سوري په باب يو يا دوه کتابه خپرېږي .

د غور ، غورستان په امپراتورانو او دا ، چې له دغې غزنۍ سيمې بنګال اداره کېده ؟ ډېرې خبرې نه دي شوي . د پښتون تاريخ ليکل شوی ، خو هغه د هغو تاريخو په استيناد دې ، چې انګليسانو ځينو پښتنو ته ويلې ، چې خپل تاريخ وليکي لکه خورشيد جهان يا حيات افغان....

سو تاريخ يوه تولې خبرې سمې نه شي كولاى . بويه ډېر كتابونه وكتل شي څو حقايق تر لاسه شي. د خراسان او ايران تر مينځ دښتې دي ډېرې لويې يا غرونه په شمال كښې په يوه ډېر معتبر كتاب د لندن د يو خپرندويې ټولنې خپور كړى دى . فولوسوسياتي[1] نومېږي ليكي : په ۱۷۱۹ كښې افغانان ،چې ايران ته ننوتل په لويه دښته له ډېر برخو عسكر يوه برخه له ټول سامان سره له لاسه وركړ حال دا ،چې خبره غلطه ده صفوي دولت په اصفهان كښې همداسې فكر كاوه مګر ناڅاپه افغانان ګلناد نژدې اصفهان ته ورسېدل .

دا يوه معجزه وه ،چې افغانان د ستر فاتح شاه محمود هوتك په لارښودنه په يو ځلوېښت ورځو كښې ،چې يوزرو اته سوه كيلو متره لار وه ورسېدل صفوي دولت وارخطا شو ،چې دا پېريان دي ؟

هوښيار لارښود شاه محمود خپلو عسكرو ته وويل : « د خلكو مالونه مه اخلئ دا كار تاسو ته دوې ګټې لري يو مو اوږې سپكې وي او دوه هم پر خپل نفس به برلاسي ياستئ الله تعالى به مو مرسته كوي » بې سارې لارښود . رښتنې افغان داسې وي

## د ايران لرغوني حالات

د ايران لرغونى نوم پارس و . په دې لنډو مهالو كښې ۱۳۱۳ لمريز ۱۹۳۴ ايران يو مهم ګام واخست هغه دا ،چې په دغه كال د پارس نوم په ايران واوښت . رسمي ژبه يې فارسي اعلان كړه او رسمي مذهب شعيه . اسلام .

دا مهال دمحمد ظاهر د پادشاهي لومړى كال ايران په دومره موده كښې فارسي ژبه خپله كړه او ملي ژبه شوه . او دشعيه مذهبو مرجع او مركز شو او د ايران له نوم سره يې اريايانو ځان يو وباله ،چې جرمني او نور اروپايان وي . د افغانستان په ژبه پخه شوه نه سم سني مذهبه او اريايي خبره يې هم وركه شوه . ملي يووالى هم را نغى . وروسته پاتې شو . خپلواكي يې هم لاړه پښتانه غلځي دراني شول نو د افغانستان . اقليتونه ژوندي شول . پنجشېر ولايت شو احمد شاه مسعود ملي اتل د پاكستان ورور تينګ شو . په منځ كښې افغانستان مذبذب پاتې شو

---

[1] The Folio Society

وروسته په دلته د ایران لرغوني حالات وګورو اته پېړۍ مخکې له میلاده ، پارسو یو وړوکی قوم و له مادا سره نژدې شول ( Parsua Mada ) دوی شمال او جنوب کښې مېشت پارس او کوردستان .

Achen د هخامنشیانو پلار و بیا د هخامنشیانو او مادانو جګړې او امپراتورۍ جوړې شوې په همدې مهال ساکیه یعنې د ساکانو هېواد د آمو له غاړو تر خزر او لویدیځ افغانستان کښې مېشت خلك و . بل مهم قوم پاکتیکا و ، پاکتیکه هم بلل کېده ،چې ارمنیان هم په دوی ورګډ شول .

په ارمنستان کښې پالتیکه شته .

نن د ۱۳۸۴ لمریز د لړم څلورمه ده تاسو ،چې کوم وخت دغه لیکنه لولې دابه ډېره په زړه پورې وي ،چې همدغه مهال ،چې خبرې پرې وشوې یعنې اته پېړۍ مخکې له میلاده اثار ، د انټرنېټ د خبر له مخې بېنوا سایت کښې ولیدل شول ،چې د جرمني پوځیانو د افغانستان په شمال کښې د فاریاب د ولایت د فرخار په ولسوالۍ د تخت سلیمان غونډۍ سپړلې ده او تاریخي اثار یې نړې وړې دي .

زمونږ دپاره خواشینوونکې ده ،چې تاریخ مو له حال سره یو ځای لوټېږي مونږ په تاریخ خبرې نه کوو نن په تومن کښې د ډالر ذکر دی . بیا هم په دې هیله ،چې ګوندې کوم مهال د ډالرو له ذکره د تاریخ ذکر راشي The Persian Empire د پارس امپراتورۍ په کتاب کښې G M Cook ج ام کوك لیکي : ایران د اریایانو د ځمکې په معنی په لرغوني جغرافیه کښې نشته پارس او ماد ددغه هېواد دپاره لرغوني دي . اریایان په شمال ختیځ د آمو او اباسین په جنوب کښې و .

Paktyike پاکتیان په دغه توګه لیکل شوی هېرودت په یونانې توګه Poctycia لیکلې په دواړو بڼو کښې پکتیکا دی ،چې پښتونخوا شوی دی Paschtoonkhwa او پاکتیا د باکتر ،باختر ،بلخ ،بخت ،بختي (بختي[۲] په لغت کښې د نجیب په معنی راغلی دی ) آر هم په هم هغه معنی دی ، اصل لیك ،چې وایي : دی له آره و آغلی څه کـه شوه په ویرنتلی.

انګلیس . امریکا زمونږ ډېرتاریخي اثار خپلو موزیمو کښې ساتلي دي ، د تاریخ پوهانو په تاجکستان کښې هیله وکړه چې ددغو اثارو یوه برخه تاجکستان ته د یوې

---

[۲] برهان قاطع

میاشتې په مخ دلته راولېږي ،چې د تاجکستان د پوهنتون ځوانان يې وګوري بیا دې ببرته یوسي دغه اثار د اکسوس په نامه یادېږي ،اکسوس د آمو سېند ته وايي افغانستان د امو په غاړه پروت دی دغه اثار لږ تر لږه د دوارو هېوادو دي ، خو د افغانستان خوان تعليم يافته نور څه کوي دا نه کوي ، د تاجکستان يوه پوهه ويلي دي ،چې دا اثار په لندن او واشنګټن کښې خوندي دي ، که دلته وای لوټېدل ، ماتېدل او ویلي کېدل . دغه خبره د بي بي سي په فارسي تاجکي برخه کښې و ، د افغانستان خبره ماپه کښې واچوله په خبر کښې نه و. او زياته مې نکړه ،چې لرغوني مهالو کښې تاجکستان د پاکتر په سیمه کښې و دغه د سرو زرو اثار له لويه سره زمونږ دي .

# استاد احمد علي خان کهزاد
# او دافغانستان تاريخ

دغه پیاوړی استاد په کلك ملي احساس د افغانستان تاريخ مخکې تر اسلام للکلی دی او پوهاند حبيبي وروسته تر اسلام سره له دې ،چې حبيبي په زرو مخونو کښې ليکلی دی بیا هم تر لومړې ملي تکل دریم اسلامي پېړی ته نه دی رسېدلی . که صفاريان ، غزنويان ، غوريان ، هوتك او ابداليان ، د انګليس په راتګ اسيا ته دغه تاريخ ،چې زمونږ د تباهی تاريخ دی ، ټوټې ټوټې ليکل په دې برخه هم استاد احمد علي ډېر څه ليکلې دي او له کابله راډيويې مقالې لوستې دي .

استاد احمد علي کهزاد د ويدي او اوستا مدنيت سرودونه ټولنه هر څه بشپړ تشريح کړي دي کوم څه له ده پاتې دي ، هغه وروستې کتابونه دي ،چې له ۱۹۷۰ تر ۲۰۰۵ م ليکلي دا طبيعې خبره ده ،ځکه دغه مهال استاد د ژوند په وروستي پوړ کښې و . مګر دا ضروري ده ،چې وليکل شي اوس افغانستان د ډالرو او بربادی په مرحله کښې دی ،چې ګرانه ده دا پېر په آسانه واوړي .

استاد د واقعات بالاحصار کابل په کتاب کښې ځېنو مسايلو ته پاملرنه کړې ده ،چې د هغه سپړل بل کتاب دی ، مګر استاد احمذ علي کهزاد خپل کار کړی دی . د هغه حق پر مونږ دی ، استاد پښتون نه و ، خو تاريخ يې د پښتنو ليکلی او ځان يې پښتون بللی دی خبره هم دا ده ،چې واقعیت څه ډول دی ؟ دا نه ،چې زه څوك يم ؟ حتی د ايران جګ

پوړو استادانو هم رښتیني خبرې کړي دي ، پوهه یوه مرحله ده ،چې هلته ټول یو شانې فکر کوي
د استاد زوی دکتور فریار کهزاد دغه نېك کار کړی ،چې د خپل پلار د افغانستان تاریخ کتاب یې او د خپل محترم پوه پلار یو ژوند لیك یې له سره چاپ کړی دی ۱۳۸۳

## خراسان د افغانستان برخه

هېرودت د تاریخ پلار خراسان نه دی یاد کړی ،هېرودت آر په . پاکتیسیا پاکتر ښودلی . دَ خراسان موضوع هله غوره شوه ،چې مسلمانانو هغه خپل نظامي اوسیاسي مرکز وټاکه تر هغه وروسته هر ځای به ونیول شو هغه به یې خراسان یا حد اسلام بَاله دوه هم مرکز سیستان و . خراسان او سیستان دواړه وروسته دِ یو لړ سیاسي او ملي یا ځونو هډې شوې .
پارس د امپراتورۍ په کتاب کښې له دې امله ،چې د پارس ځمکه عجم وباله شو ، چې هلته پارسو او ماد و او ساکان په زړه پورې معلومات راغونډ شوي . کله ،چې تاسې هغه وګورئ د ایران عجم یا پارس ،چې ټول یو مطلب لري د هغه د تصور په ځای د پښتنو د قومونو په خیال کښې پاتې کېږي .
د پارس دامپراتورۍ په ۲۹۱ مخ کښې د خراسان ښه تصوېر ورکوي " خراسان یوه ځمکه ده د پارتیا او اریا تر مېنځ " مګر دغه خبره اوس څوك نه مني . وَابې د افغانستان نوم په اسلامي دوره کښې خراسان و . د انګلیسي عبارت یې داسې دی .

" KHORASAN ROUGHLY IN THE SPACE BETWEEN PARTHA AND AREIA"

یعنې د هرات او پارتیانو تر مېنځ اوس هم همالته دې .
بیا ساك Saka یا سکتین Scythian کوچیان و ، په اومه پېړۍ کښې له میلاده نژدې ختیځ ته رسېدلی و ، ،چې مطلب یې بین النهرین دی ( عراق سوریه ) .
ساکان د پښتو یو پیاوړی قوم ،چې اوس په افغانستان کښې او ساك هر ځای لیدل کېږي ،هېرودت د دوی یوه ځانګه مساکیت بولي ،چې داریوش ته یې ماته ورکړه او هغه یې وواژه . د ساکو او هخامنشیانو تر منځ کوم قومې توپیر نه و د دوی چارې د ساکو په لاس کښې نو د هخامنشیانو کوم ویاړنې دي په هغو کښې ساك دی همداسې ،چې نن ښتانه په خپلو کښې جګړې کوي دا له بده مرغه ډېر لرغونی دود دی ،چې توفیق په

اتفاق نه شي موندلای .خو پښتانه ځوانان کولای شي خپلو مشرانو ته ځولۍ ونيسي .چې خپلو کښې مه سره خورئ.
خراسان مخکې تر اسلام او وروسته له اسلام نه د افغانستان برخه وه . په دې کتاب کښې د سلطان محمود غزنوي او نور مضامين په فارسي يا دري راغلي هغه زمونږ د خراساني ورونو دپاره دي.
خراسان مروخوارزم افغانستان يو هېواد و .چې له غزني سره تړلی و لکه .چې سند ، پنجاب ، بلوچستان ، ملتان ، کشمير او نور بيا له غور سره يو ځای .
احمد شاه بابا سره دغه ټول ځايونه او له هغه لاردرې پېړۍ نه دي تېرې شوي . کله .چې د پښتون غليمان هر ګدر ډب کړي ، نو مونږ به تاريخ ته وګورو او له تاريخ نه به پوښتنه وکړو مونږ څه وکړو ؟ پاکتيان او د هغوی اړوند قومونه په نړۍ کښې خواره شوي بدل شوي له هغو ساکان دي .چې د سکات په نامۀ نازيږي ، دلته يې ( امريکا) پر موترو ليکلي : " خدايه مننه .چې زه سکات يم " لکه .چې خوشحال خان ويلي .

احسانمن د خپل خالق يم سره دواړو بدبختيو
اول دا .چې زه پښتون يم او بيا يم خوشحال خټک

دغه دواړه يوه خبره کوي ، خو ترجماني غواړي .چې پښتون بيا پاځي ، که د پښتنو نوی کهول د پيوستون غږ پورته کړي د رحمت شاه سايل يو شعر مې واورېده .چې مطلب يې دا و :
" کچکول مې بيا پترې کړ له پښتون نه د پښتو سوال کومه " که دغه کربنه خپله سايل ولولي زما بېسوادۍ ته به حيران شي ، خو کټ کښې پروت وم .چې راديو نه مې په ترنګ کښې واورېد تک ټکی يا هدف دا دې له سايل نه دې کچکول د پښتنو په دېرو او حجرو دې وګرځي د پښتو او غيرت سوال دې وغواړي وه خوښ په دې يم .چې زه چېرې رحمت شاه سايل چېرې ؟
زه يو ټکولې بوډا په امريکې کښې . هغه پېښور او تر ما ډېر ځوان زما کابل کښې زېږېدلی او لوی شوی هغه پښتونخوا کښې خو د زمانې ضرورت او احس ا ن دادی .چې سايل په شعر کښې ويلې او ما په تاريخې څپو کښې زمونږ کچکولونه په ساړه دي.
پښتنو ته مو لاره نيولې د پښتو خير ترې غواړو .........

.........خير د پــــښتنو نه د پــــښتو دپاره غواړمـــه

# پښتانه د بشري تاریخ

## لویه برخه

له نېکه مرغه نن تاریخ پوهان هغه حقایق څرګندوي ،چې دوی ته په عملي توګه په لاس ورځي . په دې ترڅ کښې هغه اړیکې ،چې د پښتنو د تاریخ تر منځ شته د دغو اړیکو شتون د ډېرو څېړنو لپاره لاره هواروي .

په ۱۳۰۷ ل ھ زما مشر ورور په جرمني کښې و ، د برېښنا د انجینرۍ درس یې وایه په کابل کښې یو عکاسخای د توفیق په نامه جوړ شو ، هلته زما پلار او ورونو یو عکس واخېست او زما ورور ته یې جرمني ته ولېږه . کوم یوه جرمني ،چې عکس لېدلی و . ویلې یې و دا د اندو اروپایي اصلي څېرې ښیې ، دا خبره زما ورور پلار ته ولیکله .

پلار مې ،چې دا خبره ولوستله نو ویې لیکل ،چې زویه ! موږ نه " اندو " یو نه " اروپایي " موږ پښتانه یو . دغه د اندو او اروپایي اصطلاح اروپایانو اېستلې ده ،چې یو ډول اعتراف دی ،چې دوی ( جرمنیان) له دې لورې هلته تللي دي ، مګر که تاسې د آریایانو خط السیر وګورئ په هند پورې اړه نه لري له شمالي افغانستان نه په دریو لارو تللی د امو له شمال او د امو د سېند له جنوب نه شمالي هند ته تللي دي نه اریایان او نه د هغوی ژبه له هند نه راغلې ده ، او له اروپا او لویدیځ نه دا د اندو یورپ خبره بیخي ډېره شوې ده ، ددغه حقیقت لټون یوه علمي مجادله غواړي څو یوفزیکي حقیقت څرګند کړي

که چېرې موږ په پښتنو یوازې خبره ونه تړو نو پښتانه ډېر معتبر قومونه لري ،چې هغوی پښتانه دي او په شمېر کښې ډېر دي په بشري فعالیتونو کښې ډېره برخه لري هر ځای ته رسېدلي دي هرې قارې ته او دغه پیاړوی قوم " ساك " دی ،چې سکا ، سکیت ، سکیتین او ساکا ، ساکاز Sakas بلل کېږي ډېرو لیکنو کښې د سکا ، ساکاز او سکتین خبرې او قصې راغلې دي .

د سکاتلنډ په تاریخ کښې ویل شوې ،چې دوی شپږ ... کاله دمخه له لویدیځ اروپا نه اوسني سکاتلنډ ته راغلي دي . دوی د پکت په نامه یادېدل س یا S د جمع دپاره په کارېږي ،چې پکتسPects شي یا په جرمني کښې د ساکسینا ولایت ،چې هلته ۱۹۹۹م

کال کښې د ساکو خزانې وموندل شوې د باکتر ، بلخ ، پاکتي ، بختي ، بخدي دا ټولې کلمې یو له بله اړوندې دي .

چینایي منابع کوچې ته( یوچې) وایې په لویدیځ کښې کوشي او بیا کوشانیان ویل شوې ،چې دا د لهجو او تلفظ خبره ده کله هم د ځېنو تورو نه درلودل دې لکه عربي کښې ( پ P) تورې نشته جابان او باکستان وایې او هم یې لیکي .

باکتر یا بلخ او باختر په شمال کښې او په جنوب کښې باکتیا ، پاکتیا ، پکتیکا اوسنی لهجه کښې پښتونخوا هماغه یوناني پاکتیا دې Pacticya دی .

یوه نظریه داسې وه ،چې یو نیم زر کاله پخوا تر مسیح اریایان د شمال ختیځ نه افغانستان ته راغلي بیا دا نظریه سمه نه راخېږي ،چې د سند ، اندوس ، اباسین حوزې ته کله راغلي ؟ چې د سند مدنیت تر هغه زوړ دی .

له بده مرغه ،چې باکتر سند او د هغه مدنیت ، کوشانیان ،ساك او ساکستان وروسته سیستان هر یوه باندې یې هندوستان ، ایران ، اوس ، تاجکستان دعوی کوي، چې دا زمونږ دي او خورا په ډاډه زړه دا خبره کوي .

مونږ هم ددنیا غمونو اخستي یو او د رحمان بابا دا خبره زړه ته نه غورځوو ،

چې وایې دواړه نه کېږي رحمانه یا به یار وې یا به دار

دا ډېره لېږې خبره برېښي ،چې د افغانستان علمي ټولنې ، دې سرحد ته ورسېږي ،چې ددغو غلطو مفاهیمو اصل حقیقت د نړۍ علمي ټولنو ، د ایرة المعارفو او تاریخي کتابو ته ورسوي او هغه غلط ټکي سم کړي . د اندو او اروپايي په مفهوم کښې د ژبې او ځمکې حقیقت ، خپلو ملي کټو او هم واقعیت ته راګرځول اسانه کار نه دی . په داسې حال کښې ،چې افغانستان به یې اوس نه پېړۍ وروسته له صفره پېل کوي .

فال څه ګوري رحـــمانه

خپل افعال د سړي فال دی

" لکه ړوند د بل په اوږې لاس کښېږدي هېڅ لوړه ژوره نه وي ورمعلومه " او خدای راپېښه نرۍ لار کړه نالیدلې لکه چړه ماشوړه سرګومه "

( تاین بي ) تاریخپوه او فېلسوف وایي : " سړی ،چې تر اویا کلو تېر شي په ډېرو واقعیتو پوهـ شي بیا یې ویلی نه شي " ددې دپاره ،چې ټولنې یو شکل خپل کړی وای واقعیت نه

شي پېژندلای له چا سره بدلېدل یوه طبعي خبره ده ، کله ،چې بشپړ بدل شي بیا پخواني سړی نه دی یا په بل عبارت مړ شي ، خو ژوندي وي .

ژبه او هڅوب دواړه له ټولنې سره اوچتېږي یا لویېږي ،ژبه او هڅوب ساتي خلك ژبه هڅوب ، هڅوب یوه پښتو کلمه ده ،چې له هڅې سره تړلې ده په اروپايي ژبو کښې کلتور یا کلچر ، ثقافت عربي کښې فرهنګ پارسي کښې مګر هڅوب د خپلې معنی له مخې بشپړه کلمه ده .

کلتور[۳] انتروپولوجي[۴] او آرکیالوژی[۵]

کلتور یا هڅوب یو اصول دي ،چې ټولنه یې په خان مني چاپېریال او بشري ټولنې له زړو کلو یوې ټولنې ته شکل ورکوي او ټولنه کولای شي له چاپېریال ، پېښو ( حوادث) او بدلونونو سره مقابله وکړي.

## د تاریخ پوهنې ضرورت د وګړو لپاره
## پرون ، نن او سبا پېژندنه

تاریخ سړي ته اوږد عمر ورکوي یو تاریخ پوه سوچمن دې ،چې دده ژوندون خورا ډېر دې له پرون خبرې دې ،نن وینې اود سبا اټکل کولای شي .

د انسان ژوند پر ځمکې باندې د لویدیځ تاریخ پوهانو له سترګو تر پنځه میلیونو کلو پورې لرغوني دی ، مګر هغه تاریخ ،چې لیکلي اسناد لري تر پنځو زرو کلو نه اوړي . علمي یا ساینټېفك Scientific او ماتریالیستېك یعنې " مادي " د ځمکې لټونې آرکیالوجي کار دی او له هغې مخه دا ده ،چې بنسټیز ، هڅوب ، کلتور ، د هغوی د ژوندانه لاره او اصول او د ټولنې پر مختګ او بدلو څرګند کړي .

کله ،چې یو زوړ ښار موندلی کېږي د همغو خلکو کلتور ، د ژوند طریقه او پرمختګ څرګندېږي. د لیکلو لارې دا وي .

لومړی دوی بهلمده ختېه هواره کړه لیکل به یې پرې وکړل بیا به یې لمر ته کېښوده ،چې وچه شي بیا به یې تودوخه ورکړه بیا به یې کڅوړې کښې واچوله او ستوله به یې .

---

۳ Culture

۴ Anthropology

۵ Arcaeology

دوه هم د لویو ونو پوټکي به یې د کاغذ په توګه په کارول او همدا د کاغذ پېلانه وه . درېیم د څارویو پر پوټکو . لیکل یوه معنی لرې یوه سپینه پاڼه تر هغو اهمیت او وړتیا نه لري څو یو څه پرې ولیکل شي بیا سند شي او یوه مساله پرې ثبت شي .

## تاریخ پېژندنه :

آرکیالوجي ARCHAEOLOGY د ځمکې کیندنه د لرغونو وګړو د ژوندانه وسایل موندل .

## انتروپولوجي ANTHROPOLOGY :

دا د وګړو ټولنیز ژوند څېړي . چې یو له بل سره څه ورته والی او څه توپیر لري او څنګه د مهال له بدلېدو سره بدلېږي ؟

انتروپولوجست دا هم ګوري . چې انسان څنګه د یوه ژوي په توګه څه ډول بدلونو سره مخامخ شوی .

مسعود وایي : سپین اریایان . چې هند ته لاړل د هغه ځای له تودی هوا او چاپېریال سره تودشول . په غرو کښې بل ډول اغېزې وې ....

خواړه . ځمکه وچه هوا او لمده لوړه ، ژوره ټول هغه عوامل دي . چې د بېلو علومو متخصیصن یې څېړي او تاریخ یوازې هغو ته نه دې پاتې . چې حالات ولیکې د هغه تحلیل او تجزیه د نورو پوهانو کار دی .

امکان نه لري . چې یو سړی د تاریخ په ټولو اړخونو پوهه شي ځکه تاریخ له طب . ستوري پېژندنې . فزیك . کیمیا هر هغه څه و . چې د نړیوالو ژوند بدلوې لکه برېښنا . د انرژۍ سرچینې او نور له هوایي سفرونه او ترانسپورت . کلتور . ټولنه پېژندنه . فلسفي او ادیان ... ټول یو تاریخ لري . جغرافیا او چاپېریال .

تاریخ په زړه پورې او ګټور مضمون دی . تاریخ پوهان ډېر داسې شیان پېژني . چې اوس "شتون" نه لري او موجود نه دي .

## کلتور او هڅوب :

د کلتور دپاره . ثقافت او فرهنګ هم په کارول کېږي . خو هڅوب په پښتو کښې . چې له هڅې اخستل شوی تر ټولو موخه او ښه ښه ولي . هره ټولنه یو فکتور لري . چې د هغه له مخې پېژندل کېږي هڅوب یا کلتور ټولنې ته شکل ورکوي د هغې له نورو ټولنو

سره توپير څرګنديږي . هر هڅوب په خپل کړه وړه او عادتونه لري ،چې د هغې لـه مخې پېژندل کېږي . اقتصادي ، ټولنيز ،قضايې اصول او اخلاق ،چې د ټولنې هر يو غړی د هغه په منلو ځان اړ بولي .

هڅوب له يوه نسله بل ( کول ) ته رسېږي ، ګروهنې ( عقايد ) دين ، ورځني مفاهمې يو بل پوهه يو بل پوه کول او خبرول خپل معلومات شريکول دا ټول يو لاس د ټولنې کلتور ښيې . هڅوب خلك په ټولنه کښې سره نژدې کوي .

سوړ ژمی ، تود اوړی د دوی کالې د ژمنې او دوبينی په څېر وي ،چې په ژمي کښې تود وي او په اوړي سوړ . د دوی کالي ، ژبه دودونه يو شانې وي .

کله ،چې پښتانه د افغانستان په شمال کښې اوسېدل دوی ،چېنې اغوستې وزير محمد ګل خان ،چې د شمال تنظيمي رئيس و ، پښتنو ته يې وويل : چپنې مه په ځان کوئ او لنګوټې د پخوا په شان تړئ . دی پوهېده ،چې دا د چاپېريال اغېزه ده ورورې يې خويونه او عقايد بدلېږي . دا څېره مونږ د هند او ايران په پښتنو کښې وينو. ژبه ، کالي او دودونه ،چې بدل شي بيا پښتانه بلل کېږي . دوی يا دوه نسله ځان پښتون وساتي ، خو دا څرګنده ده ،چې چاپېريال او نوې ټولنه دوی جذبوي په دې برخه کښې داسې مثالونه شته ،چې نه يې بدلوي لکه د کشمير پښتانه .

د افغانستان . هندوان او سکهان ،چې پېړۍ يې کلتور ، حتی خپل رسم الخط ساتلی دی ، دايې ښه کړي کنه اوس به يې نښه نښانه نه وه .

پښتانه په دې خبرو پسې نه دي ګرځېدلي يوازې د تايلند پښتانه که درشي ولرې بيا هم پګړۍ تړي.په کال ۱۳۸۰-۱۳۸۱ ،چې په امريکې کښې د سپتمبر د يوولسمې پېښه وشوه مګر ډېرو مسلمانانو خپل کالي بدل کړي نه و ، په داسې حال کښې د دې دپاره ،چې دنيويـارك د تجارتي مرکزونوپـه وهلـو کښـې ډېر دغـرب لاس و ، او امريکايـانو مسلمانانو ته په ښه نظر نـه کتـل او حتـی يو سکهـ په نيويارك ،چې امريکايانو يې لـه مسلمان سره توپير نه شو کولای شهيد شو .

يو انتروپولوجست ( ايدوارد تايلر Edward Tylor ) ، هڅوب داسې بيانوي .

فکتـور د پـوهې ، عقايـدو ( ګـروهنې ) ، هنر ، اخـلاق ، قـانون ، رواجـونـو ، خويونو يـوه مجموعه ده ،چې د ټولنې خلك ځانته رابولي .

ارکیالوجي ، ځمکه کېندنه او د تېر تاریخ د ژوند وسایل را اېستل او د هغوی هڅوب پېژندل دي . انتروپولوجي د ټولو خلکو دغو ځانګړې هڅوب یو بل سره څرګندوي ، دغه دې ډوله پوهنې له تاریخو سره تړلی دی . ځکه تاریخ ،ارکیالوجي او انټریولوجي سره اړوند دي او بېلېدای نه شي .

## بشري ټولنه او تاریخ :

تاریخ ښیې ،چې پخوانو خلکو څه ډول کار کاوه، کومه ټکنالوجي یې درلوده ، یو بزګر قولبه کوي هماغه یې ټکنالوجي ده ،چې ځمکه تخم ته جوړوي مفکوره همدا وه بیا یې لاره ماشین ( تراکتور) ته جوړه شوه . همدا ډول دوی کالي اوبدل ، هماغه د اوبدلو لومړي وسایل و ، اوس ماشین دی یعني زرو کالو دمخه بشر ټکنالوجي درلوده ، همهغه بشپړ شوي دي ، بشر له تاریخ سره تړلی دي او خپل سبق له تاریخه اخلي .

## د افغانستان تاریخ د بشري مدنیت له مخې :

په نړۍ کښې درې مدنیته ډېر لرغوني دي ، سندر ، بین النهرین او نیل . په دې کښې تر ټولو لوی لرغوني ، پرمختللی د سند مدنیت ده ،چې د افغانستان په همدغه حوزه کښې دې یعنې د اباسین په دواړو خواوو کښې د کابل سین له اباسین سره یو ځای کېږي .

مونږ د سند مدنیت ته ،چې په نړۍ کښې د لرغونتوب له امله تر ټولو لوی او پرمختللی دی ، دوه نور مدنیتونه هم لرو ،چې باکتر او ساك دی دا دواړه هغومره اهمیت لري لکه ،چې د سند مدنیت یې لري .

## افغان او افغانستان

د افغانستان مفهوم د میرویس نیکه ۱۷۰۹ م ، احمد شاه بابا ۱۷۴۷ م له شتو سره شتون لري ، میرویس نیکه د عدالت پلویانو ته غږ وکړ ،چې د ظلم په مقابل کښې پاڅئ د نسل او نژاد خبره یې نه ده کړې ،نو سر بېره پر پښتنو نور قومونه ورسره ودرېدل لومړی بلوڅ و بیا نور په ایران کښې کرد ، عرب ، زردشتیان ، سنیان ...

یعنې افغان هغه دی ،چې عادل وي او د ظلم مخالف وي .

احمد شاه بابا افغانستان د میرویس نیکه په اصولو دارالامان وباله یعنې هر چاته دامن ځای دی د عدالت پلویان دلته اوسېږي . شاعر د احمد شاه بابا دور داسې څرګندوي .

یوه غمجنه څېره نه لیدل کېږي دده په دور کښې
که تپوله نړۍ یومخ هنداره شي

د دغو دوو باباګانو سیاسي او اخلاقي اصول په نړۍ او د نړۍ په تاریخ کښې ساري نه لري دا ،چې تر اوسه دغه اصول نه دي تشریح شوي خدای دې رحم وکړي . یو بل ته مسوولیت درلودل دایې ،چې خوشحال خان شېر شاه سوري ته مسوولیت لري او وایي :

ومغلو ته به هـــغه چار ښکاره کړم
چې راضي راشخه روح د فرید خان شي

فرید خان د شېرشاه نوم دی کله ،چې ده زمری وواژه شېرخان شو بیا ،چې پادشاه شو شېرشاه دغه ته وایي ( ترقي ) په پښتونولۍ کښې همدا ترقي وبولي ، چې شېر شاه د زمري له وژلو پېل او بیا امپراتور شو .
احمد شاه بابا وایي :

د حمیداود فرید دور به بیا شي
که زه وکړم په لوري تاختونه

حمید لودي سلطان د هند پښتون پادشاه ، فرید امپراتور شېرشاه سور . یعنې اوسني پښتانه خپل تاریخ او تاریخي باباګانو ته مسوولیت نه لري خدای دې ورحمېږي ، خدای دوی ته ورکړ بې مسوولیته ژوند .
بیا دې هغو پښتنو سره خدای ښه وکړي ،چې پښتو او پښتونولي ساتي ، ځکه همدغه هڅوب دی ،چې وګړو ته څېراو ډول ورکوي یعنې شکل او صورت هر ګوره که چا ته ،چې وویل شي بې کلتوره ، ښه خبره نه ده د کلتور او هڅوب خاوند ښه بللی شي .
فېروز شاه د ډهلي پادشاه و ( ۱۲۹۰ م څخه تر ۱۳۲۰ م )
خورشید جهان لیکي د فېروز شاه په دربار کښې ( پښتو او پښتو بازي ) ډېره وه .
تاریخي دایرة المعارف داسې وایي :

The Khalji Dynasty of Delhi was founded by Firoz of the Khalji Tribe of Turks, Long Resident among Afghans.

د خلجي لړۍ په ډهلي کښې د فېروز لـه خوا کېښودله شوه ، خلجي د ترکو یوه قبیله ده ،چې د افغانانو په مېنځ کښې ډېره موده اوسېدلې دي

ACKU

دغه دايرة المعارف دوه زرم ميلادي كال كښې خپور شوى دى . د افغانستان او افغانان په برخه كښې په سلهاوو داسې مسايل لري ،چې سمونې غواړي دغه كتاب دومره لوستونكي لري ،چې دادې په شپږم وار چاپ شو .

مونږ داسې وايو ،چې خلجيان ، غلجيان د پښتنو يو ډېر لوى او پياوړى قوم دې ، ترك يو پښتون قوم دى،چې اوس تره كى بلل كېږي . غلج او تركپارسيان وايي اوانګليسي نه هم د دوى له خوا ورغلې ده .

مونږ به څومره داسې غلط معلومات ،چې پارسيانو ، هنديانو او نورو كړى دى ، اصلاح كوو ، په داسې حال كښې ،چې مونږ لوستي نه وي يا نه يې لولو . په همدغو منابعو كښې ددغو غلطو معلوماتو اصلاح د پېړى خبره ده ، هغه اصلاح خو لا پرېږدئ ۱۳۸۱ كښې له دې وروسته مونږ ملي اردو ، ملي پوليس ، ملي معارف او ملي اقتصاد جوړول مو لا پېل كړي نه دي دعا كوئ انډيوالانو!

كه زه داسې ټكي راوباسم څو كتابه به ترې جوړ شي ، خېر له خدايه غواړئ ملګرو دا نه پيداكېږي ، مګر په تاريخ كښې افغان يو فعال عنصر دى ،چې نوم يې تل يادېږي .

ځيني وايي ،چې دولت خدادادى كار يې كېږي ، علم ،عقل او منطق ته ضرورت نه لري ، خو خپل حال ته وګورئ نولس هېوادونه يا په بله ژبه ټولـه نړى ورته راغلې ده ، امنيت شته اوس مو افغاني نوټونه چاپ كړي هر څه په صفر كښې دي يا خدايه ته يې له صفره وباسې ،خپلواكي مو وساتې د زمري زړه راكړې وروري مو بېرته جوړه كړې ، بېلتون مو پيوستون كړې توره شپه مو رڼا كړې .

امين يا رب العالمين

توره شپه ده توره خونه
شين خالى نه ده معلومه
توره شپه به خداى رڼا كړي
شين خالى به خداى پيدا كړي

كومې معتبرې سرچينې ،چې په تاريخ كښې شته د افغانستان تاريخ له هند ، ايران ، ماورالنهر ، تركيه ، اروپا او چين سره يو ځاى ګنل كېږي . د افغانانو تاريخ په شپږ سوه كلونو كښې ،چې د دوى پادشاهي ، دوى به هند كښې اوس د ډهلي د سلطنت په نامه

يادېږي . تر هغه وروسته ،چې انګليسان له هند نه ووتل . هندي ناسيونالزم د افغانانو نوم سلطنت کېښود . حتی د ښوونځيو له درسي کتابو څخه يې افغان واېستل شو .
يوه بله موضوع ده ،چې يو واقعيت د يولوی دولت له خوا پټېږي . داحساس له مخې تاريخ نه ليکل کېږي ،او واقعيتونه دي . په ۱۱۵۰ م ميلادي کښې ،چې د غور شنسباني ( سوري) له کورنۍ سلطان علاوالدين غزني ونيو په تاريخي کتاب کښې ،چې يودايرة المعارف دی داسې ليکل : (يو شنسباني پارسي شهزاده له غور نه لاړ غزني يې ونيو د غزني پادشاه پنجاب ته لاړ). وګورئ ،چې شنسباني شهزاده ،چې پارسي شهزاده څه معنا لري ؟ داسې مسايل ،چې سم ونه ليکل شي خبره جړه شي .
نو پښتانه د بشري مدنيت له پېل نه تر اوسه پورې لويه برخه لري مګر ددې خبرې روښانول په پټو سترګو نه کېږي .
که زمونږ زلميان په تاريخ ځان پوه نه کړي د پرون نن او سبا په رابطه پوهه نه وي نو ماشوره ورانه ده او سر په لاس نه راځي . مونږ پرون باندې ځان خبروو نن مو په واك کښې دی ،سبا تنظيمولای شي او هغه داسې کېدای شي ،چې د پرديو په غرضونو پوه شو او واك خپل کړو .

## سبا به څه پېښېږي ؟

په دې ځېنې پوهانو لکه (ټاين بي ) دا وړاندليد کړې دی ،چې د غرب مدنيت مخ په ځوړ روان دی او ددې نښې نښانې ډېرې ليدل کېږي ، ويسا په ناويسا بدله شوې ده ، ټاين بي وايي اروپا خپله لوړتيا په دوو خپل منځنۍ جګړو کښې له لاسه ورکړه دغه برلاسي امريکا ته ورسېده ، ښايي برلاسي ختيځې اسيا ته لاړه شي .
د ژوند چاپېريال ويجاړېدل ، کمونېزم ،چې پانګه والي نظام ته خطر وله منځه تللی دی له دغه لارې اسلام سره جګړه روانه ده ، امريکا دا خبره نه پټوي ،چې غوارې د نړۍ لاړښوونه په غاړه واخلي . نړيوال پوهېږي ،چې امريکا د ځان لوړتيا غواړې او ټولې اقتصادي سرچېنې به په خپل واك کښې ولري .
پښتانه بويه د حالاتو انتظار وباسي ،چې ټوله معلومه شي ، په راتلونکي مهال کښې پښتانه دې ته اړ دي چي تاريخ ، هځوب او پښتونولي وساتي ، به بهر کښې سني مذهبه مسلمانانو سره ښې اړيکې ولري . په لويديځو هېوادو سره دقرار دادو له مخې ،چې هر څه په کښې ځرګندوي اړيکې وساتي ، طالبانو غوښتل ،چې امريکې سره خبره سپينه

کړي ،چې د دوارو هېوادو کار معلوم وي ، خو امریکې دا کار ونه کړو او جګړه یې پېل کړه .

د افغانستان او پاکستان اوسني حالت ته پاتې کېږي ، په دوارو صورتو کښې به پاتې افغانان او پاتې پاکستانیان سره نژدې اړیکې ولري هېڅ به دومره زور ونه لري ،چې بل وخوري دوی بویه په دې پوه شي یو بل ته دې امکانات برابر کړي ، پاکستان به د بحر لاره ورکوي افغانستان به مرکزي اسیا ته دواړه د دوارو هېوادو دپاره ضروري وي

# فلسفه تاریخ ملی افغانستان

در تاریخ معاصر افغان از خود بریدن ، بابیگانه پیوستن منشاء همه بدبختهاست. چي قبول کنند چه نکنند این نسلها گنهگارند ، بالاخره به احساد متحرک مبدل شدند درنده خوی و متعصب.

شبی دوستان گردهم جمع بودیم هریک داد سخن مي داد به جمع یاران گفتم ما همه قاتلین قوم خود مي باشیم ؛ ازین گپ همه تعجب کردند و طالب توضیح شدند ، توضیح اینکه :

روزیکه مایک جوره بوت ایتالوی یا انگلیسي بپاکردیم بوت دوز وچرمگر خودرا کشتئم زیرا ما پول خودرابه او ندادیم به سرمایه ایتالیا یا انگلیس افزودیم بهمینگونه لباس و مصنوعات دیگر ، قهرمانی وروشنگری ماهمین بود که صنایع و صنعتگران خودرا براداشتیم . اصطلاح به پخته حلال کردن همین است.

آرکیالوجی وبه اصطلاح خود ماحفریات از صنایع وشروت شش هزار سال پیش بما خبرداد اما آن را فروختیم اینه عبرت نشد.

دل حیرت آفرین است بهر سو نظر گشاییم

در خانه هیچ کس نیت آینه است و مایم

آرنور تاین بی ، انکه از فلسفه نوین تاریخ سخن گفت دریک اثر واسپیسن خود ازچهار فیلسوف جهان کهن شرحی دارد ، او می گوید در زمان باستان چهار تن فیلسوف بودند اگر چي تاین بی پیام آور و فیلسوف گفته است ، بدون تردید فیلسوف بودند.

قدیم ترین آن زردشت است کنفسیوس ، بود او فیثاغورث تاریخ دان شهیر تاین بي به زردشت دوعلامت می "دارد که او از بلخ باختر باکتر بود وسوری نژاد یعني افغان قرأریکه زردشت می گوید : خیر وشر اهریمن واهورا مزاد باهم در جدل می باشند تاریکی وروشنی نیکی وبدی.

اینکه در مابعد هیگل جنگ اضداد گفت این فلسفه ازلووومارکس نیست همان فلسفه زردشت که به شکل رحمان وشیطان در ادیان ذکر شده است منظور نویسنده اینکه افغانستان ، هند ،چین ویونان چهار مرکز اساسي است و جهان خارج از همین چهار فلسفه نیست .

ACKU

زردشتی از هر طرف زیر فشار آمد بودایي مسیحی و چین اما دین اسلام ساحه یي عمومی را از آسیای مرکزی پارس و هند شمالي در حلقه خود گرفت که ترقی نظم و اداره باشریعت اسلام رونق یافت.
سلسله مدنیت های ساک ، کوشان ، پیتلیان از خطه کابل زابل سیستان ، باکتر ، پاکتیا دامنه اقتدار خود را وسعت بخشید ند وهمین خط اساسي از جانب ساکزیان سیستان و غزنویان وغوریان ، هوتکها و ابدالیان تعقیب شد وعنصر اخلاقی جوانمردی درهم جلایش داشت.
افغان باتعقیب این خطوط افغان می باشد نه با آثار کشنده ، غرب که پیروی کور کورانه آن صنایع و صنعتگران مارا ازبین بردند ، دیموکراسي ناچل کمونیستی جاهلانه ... از همین خطه بهم خورد.
سنایي اخطار کرده است.

یک روزه رنج گدایي نیرز د
همه گنج محمود زابلستانی

اینها چه کسانند که دیروز باروس و امروز با امریکا استاده اند؟

## تیغ چیست؟

تیغ نزد ماتوته آهن یا فولاد برنده است اما تنها این تیغ نیست تیغ انواع دیگر که بیدل شرح می دهد.
باید بگویم که سنایی ، بیدل ، مولوی ، یعقوب سفار ، سبکتگین محمود غیاث الدین غوري ، میرویس ، شاه محمود هوتک ، شاه اشرف هوتک ، احمدشاه بابا ، آزادشاه سرخانی پاشا ... بزررگان مامي باشد ،
از خط اتان بر آمدن کار افغان نمی باشد.
اما موضوع تیغ رابیدل شرح مي دهد.

نفس بوالهوسان بردل روشن تیغ است ( تیغست)
شمع افروخته ار جنبش دامن تیغ است ( تیغست)
منت سایه اقبال زآتش کم نیست
گرهمابال گشاید برمن تیغست

رنج گدایی گفته سنایي منت سایه اقبال که خفی استقلال باشد به این مطلوب می تواند باشد گر امریکا بال گشاید برمن تیغست.

تیغ رابايد شناخت احمق بودن رواناباشد.

خاک تیسم بسرکن درین خاک هلاک
تونداری سپر و درکف دشمن تیغست
تامخالف زموافق قدمی فاصله نیست
در گلوآب چواستاد ، زرفتن تیغست

## بیدل و افغانستان

امپراتور تیمورشاه آثار بیدل را درهند جمع وچاپ کرد مانند طلسم حیرت بین وفات بیدل ورسیدن تیمورشاه به هند بیست دوسال تفاوت بود همین تیمورشاه افغان بود که آثار بیدل را از ماورالنهر تا شمال هند وراج داد.

مردم افغانستان تا امروز بابیدل سرو کار دارند ، اینکه شعر بیدل را سبک هند مي گویند غلط است ، فارسي از افغانستان به هند رفته است ، سبک بیدل دری و کابلی است وهمین سبب بود که شعرای افغان را درسلک خود در آورد و تا امروز مقبول است اطلاع دارم که حلقه های بیدل خواني در کابل وسایر شهرها موجود است.

بیدل در افغانستان شاعرروز است اگر مردم به اصطلاحات بیدل آشنا نمی بودن کلیات بیدل بارها نایاب نمی شد.

دل خاک کوی وفاشد چه بجاشد
سر در ره تیغ تو فداشد چه بجاشد

کسانیکه با اصطلاحات فلسفی بیدل آشنایي دارند می دانند که حیرت آبینه بسمل آهنگه حیا هر کدام مفهومی دارد در زنده گی ما ، نویسنده گان وشاعران افغان ازین اصطلاحات بیدل تخلص انتخاب کرده اند.

آینه یوسف بسمل انور بیتاب ملک الشعرا حیرت غبار محمود الفت حیرت حیران حباب عبرت شفق ....

در انجا مثالی می آورم از سبک بیدل وزنده گی ما :

از قضا برخوان ممسک گرکسی نان بشکند
تاقیامت منش بی سنگ دندان بشکند

شکستن نان نزد مامفهوم دارد توته نانی از نان کندن که نباید از نان ممسک کند آغاز شعر فارسی یا از حنظله بادغیسی است یا محمد بن وثیق دبیر یعقوب لیث در یا رودکی در ماورالنهر شعر بیدل را در همین ساحه می خوانند.

کابل بدست یعقوب کشوده شد و سال ها از خانواده یعقوب که نخستین شعر فارسی در دربار او گفته شده بود به قول تاریخ سیستان تا آن زمان نامه پارسی نبود .
فلسفه تاریخ ملي افغان : قصه امیر عادل سبکتگین مشهور است که آهو بره را درشکار گاه گرفت اما مادر آهو بره از پی او میدوید سبکتگین آهوبره را رها کرد که نزد مادر خود برود .

## سلطان محمود غزنوی وسلجوقیان :

در تاریخ گردیزی وطبقات ناصری آمده است که سلطان محمود در ماورالنهر بود سران سلجوقیان که شخص سلجوق هم بود به سلطان عرض کردند که ماچهار هزار خانه ایم چراگاه نداریم اگر سلطان مرحمت کند بما چراگاه بدهد سلطان محمود آنان رابه سرخس فرستاد.
امیر توس به سلطان محمود گفت : عجب مردیي رحمی به این کار دو عیب دارد نخست اینکه من باایشان وعده کرده ام دوم سخت بی رحمی است.
دلسوزی ، بوعده وفا کردن ، کسان را معیوب نکردن فلسفه تاریخ ماست در شمال افغانستان در سال ۱۳۸۰ به افراد تسلیم شده به ائتلاف شمال وایتلاف بین المللی در حضور امریکا پنج هزار نفر را بکدام بی رحمی کشتند در کشور سلطان محمود چرا چنین شد ؟
تاریخ هردو واقعه را ثبت کرده است . سلطان محمودغزنوی تا امروز سلطان صاحب است شاهان غوری سلطنت را به غلامان خود دادند یعقوب لیث غلام می خرید وآزاد می کرد سنایی غزنوی چه گفته است ؟

خانه طامات عمارت مکن — کعبه آفاق زیارت مکن
نامه تلبیس نهفته مخوان — جامه ناموس قصارت مکن
گر زمقام توبپرسد کسی — جز بخرابات اشارت مکن
سربخرابات وخرابی درآر — صومعه را هیچ عمارت مکن
چون مه سرمایه تومفلسی است — در ره افلاس تجارت مکن
چون تومخنث شدی اندرروش — قصه معراج عبادت مکن
تانشوی دردین قلاش وار — خرقه قلاشان غارت مکن
گرتوشدی الکن در راه دین — دعوی مردی و عبارت مکن

عمربشادی چون سنايي گزار    کاربســـــتی وحقارت مکـن

حاجي صاحب پابمنار ، مولانانجم الدين در قرن نزده در غزا باانگليس همين فلسفه دين و مردانه گی را بکار بردند در جهاد باروس و اکنون همان يک فلسفه ملی است.
که ازفلاسفه نامدار جهان که افغان نيز باشند مانند ابونصر فاريابی ، البيرونی ، الکندی وده هـای ديگر ميرويس نـه شاه محمود هوتک شاه اشرف و احمدشاه بابـا ، همين يک فلسفه را پيش برده اند دين وجوانمردی.
آنچه گرشاسب از آن گفته است نسل به نسل تعصب شده است اگر به تفصيل برديم کاريک مقاله نيست گرشاسب توضيح کرده است سرزمين ماجای مردان مرد است .

چـــي کشـــور د افغانـــانو معطـــر شـــي
دهربيـت مصـرع مـی زلفـی د خوبـان کـړي
( رحمان)
د افغـــان پـــه نـــڼ مـــی وتړلـــه تـــوره
ننکيـالی د زمـانې خوشـحال ختـک يـم
خوشـحال ختـک

شرح فلسفه ملي در تعريف يک شخصيت ديني وملي افغان از قلم اعتماد السلطنه :
هفتم نوامبر ۱۷۲۲ اعلحضرت شاه محمود هوتک افغان در شهر اصفهان مجلس رسمي داير کرد.
" به رحال قزلباشيه اظهار ملا طفت و نوازش کرد وبه جهت تعديل و تسويه درمنازعات شرعيه و دعوی حقوق عياد شخصی را از جماعه افاغنه منصب ديوان بيگی به او تفويض کرد.
او مردی کامل وزاهد ومتقی ورشيد وعالم وعاقل ودانننده قواعد شرعيه شريعت بود ، مردم چنان از ديانت وپاکدامنی او مسرور و خوشحال شدند که زمان گذشته خو درا که باعث زوال دولت شاه بود افسوس به نهايت خوردند فراموش کردند"
(صفحه ۱۰۸۰ تاريخ منتظم ناصري)
در نويسنده گان ايران دانشمندانی می باشند که از حق وواقعيت نمی گذ رند وتعصب نمی کنند که همه شان مورد احترامند موخذ مسايل.

نام مبارک این شخص قرار روز نا مچه هالندیان محمدیونس بود ، دارای این صفات کامل ، زاهد ، متقي ،رشید ، عالم ، عاقل ، داننده قواعد شرعیه ،پاکدامن بادیانت.

مراد از فلسفه ملي همین صفات می باشد که یک شخص مانند جناب محمد یونس به آن متصف بود.

اگر چه بار اول خواهد بود که نام محمدیونس به نظر خواننده گان می رسد اگر مابهاصل اصول بازنگردیم از مصایب خلاص نمی شویم گناه خودمامی باشد که به اجساد متحرک مبدل شده ایم.

هشت سال افغانها در ایران حکومت کردن ، درین هنگام روسها و ترکها راکوبیدند جزایر هر مزرا از انگلسها و هالندی ها پس گرفتند این کشور بزرگ را چگونه اداره می کردند ؟

رجالي بودند مانند ، دیوان بیگی محمد یونس ، زبردست خان ، زاهد علي خان نصرالله خان ، ملا زعفران ، الماس خان ، آدم خان امان الله خان ، سیدال خان ... وسدهای دیگر اِنند خان خویزه..

تبلیغات بدو مداخله روسها ، انگلسها ، هالندی ها فرانسویان ، ترکها ، مخالفین داخلي همددست بهم داده زمینه ظهورنا در افشارا سبب شدند.

بی بی زینب خواهر شاه محمود این واقعات را در اشعار خود ثبت کرده است.

در اینجاچند مثال آن را می نویسم که سر مشقی برای زنان افغان باشد.

بی بی زینب در اخیر دوره اعلیحضرت شاه اشرف که نادر افشار به قندهار نزدیک شد چنین فریاد کرد.

تري توري ډالونه پر ځلمو تل وي د کوټیو بارانونه

ملو خان

که لاسونه د ملو اوږده لاسونه
چې جنګ شروع شو په هر لاس کښې دوه دوه سرونه
پښتنو د غره په سر وهلي توري
احمدخان اندړ ناري کړې ورونو مه ګورئ دوري هوري

زینبو بي بي وې وروره ستا بخت بیده شو احمدزئ شنه زمریان و په احمدزو څه ناورین سیده شو

وامثال آن بسیار است بي بي زینب حسرت روزهای خوب را دا شته وچنین مي گویند:

که څاځي له شنه زړه مې وینې څاځي
اصفهان پرون زمونږ و نن نادر ته نر او ښځې په کښې ناځي

ACKU

# لرغونی کابل

میر غلام محمد غبار لیکي: کابل په ۷۷۰ پخوا تر میلاده د آشور پادشاه دوهم سالمانه ساء له خوا جوړ شوی دی" که دغې خبرې ته سم ځیر شو څه لږ کابل درې زره کاله د مخه ودان و. له بلې خوا د کابل زابل او بابل یووالی سره ښیي؛ ځکه آشور و، چې د سند له حوزې نیولی تر بین النهرین پورې خوځېدلی و.

کله، چې د بغداد موزیم تالاکېدلو مونږ دا خبره وکړه. چې دغه آثار او د کابل د موزیم آثار سره یو وه. افغانستان او عراق بین النهرین آمو، آباسین، دجله او فرات د بشر مدنیت له همدغو دوو سیمو پیل شوي دي.

اوس څرګنده شوې، چې آریایان په دوو بېلو دورو کښې هندوکش یا د پارې پامیزاد له غرونو تېر شوي، چې مونږ دا دوهم یادوو، چې د زردښت له مهاله یو نیم زرکاله د مخه تر میلاده دي. وروستی څېړنې وښودل، چې مخکښې تر دې هم آریایي څپې شمالي هند ته رسېدلې وې.

دا هم څرګنده شوې ده، چې د سند مدنیت تر نورو لرغونی دی.

کجولاکدفیزس پنځه کوشاني قبیلې په باکتر یوځای د کابل سیمه یې له بهلوله څخه ونیوله. د ده زوی ویکاکدفیرس د همدغه ځای یعنې شمال لویدیځ هند ترلاسه کړه. کابل او بنارس وي هند د ده په لاس کښې وو ، پېښور یې خپله پلازمېنه کړه. ساکان د دوی ملګري و.

ساکان ګجرات نه جنوبي هند ته هم لاړل، چې هلته نژدې دوه سوه میلیونه خلک دي. مونږ وینو، چې نژاد او وینه کومه مسئله نه ده ژبه، هڅوب دین د ټولنې بنه جوړوي. وروسته له باکتر کابل د دغو بدنونو دوهم مرکز دی.

د خراسان، روم، بابل، چین مالونه په کابل کښې موندل کېدل. د هغو مالیات اته لکه شاهرخی و هره شاهرخي یو مثقال سپین زر و (نقره).

کابلي نیل د نادر شاه تر مهاله پورې د کابل یو تولید و. بابر له خراسان، روم او بابل سره د کابل د تجارت یادونه کوي.

ابن حوقل په خپله سفر نامه کښې د کابل دوه ټکرانْ یادوي، چې روم، چین او خراسان ته تلل او له هغو بډایانو کالي جوړول.

د دغو مشهورو ټوټو نومونه "سنبي" او "شرابي".
دا د کابل هغه صادراتي مالونه و، چې نومونه يې ياد شوي. لکه کابلی نيل، سبنی شرابی ټکران زر کاله وروسته د کابل تماشې له راشي څه په کښې ګوري.
ابن حوقل وايي، چې دغه مهال حاجب الپتګين کابل ته راغلی و، چې د کابل د خلکو رايې ترلاسه کړي.
اوس ځوك راغلي او ديموکراسي راښيي. لسمه ميلادي پېړۍ ګورئ او يوويشتمه ميلادي پېړۍ. ابن حوقل دا هم وايي، چې د کابل د رايو د اخستلو دپاره خپله بادشاه راځي.
د اعليحضرت شاه زمان په مهال کښې په کابل کښې ښکلې ودانۍ جوړې شوې وې، چې د انګليسانو له خوا په جګړو کښې ورانې شوې.
دلته د ګرديزي له تاريخه يو قصه رااخلم، چې د کابل ټولنيز هځوب ښيي تاسې هغه وګورئ. بيا پخپله قضاوت وکړئ. د دې خبرې يادونه ضروري ده، چې تر آرکيالوجي د مخه تاريخ له ځينو سمو او ناسمو خبرو ډك دی، چې نه غوځ پرېښودل کېږي او نه غوځ منل کېږي. دا يو بل کار غواړي، چې ډېر وروسته که وشي.
چون هرمز به مملکت بنشست، هر دختر ملك کابل را به زنی کرد: و چون دست بدو خواست کرد اين زن امتناع کرد او را ناخوش آمد پس از پسر موبد پرسيد که اگر کس اندر پادشاه عاصی شود و فرمان او نکند، برای آنکس چه واجب شود؟ پسر موبد گفت آن کسی را ببايد کشت هرمز زن را بکشت.
و چون موبد حاضر آمد از وی بپرسد همان مسئاله، گفت: کشتن واجب بود مگر زن باشد يا مست يا کودك. پس گفت چه گويی اگر کسی برکشتن کسی راه نمايد که بر آن کس کشتن واجب نباشد؟ گفت اين راه نماينده را ببايد کشت فرمود تا پسر موبد را بکشند.
وګورئ د هغه مهال هځوب ته، چې ښځه که عاصي شي نه وژل کېږي يا ماشوم يا مست او ليونی که ښځه زره کاله د مخه د کابل په ځمکه کښې دا قانون وي اوس ولې داسې وشول؟ چې حتی د ليوني، او مرستون او بنديخانو ښځې هم په امان نه دي. په هغه مهال که چا پادشاه ته غلطه لار ښودله هغه هم وژل کېده. ځوك، چې خپل هېواد له پښوا ونه پېژني اوس يې نه شي پېژندلی.

مخکښې تر دې، چې کابل د افغانستان پلازمینه شي، کابل ډېر شهرت درلود. په لرغونو کتابونو کښې د کابل د نوم صنایع او تجارت یادونه شوې ده.
د افغانستان مورخینو لکه میر غلام محمد غبار، حافظ نور محمد کهګدای، احمد علي کهزاد د کابل په برخه کښې غوره مقالې او کتابونه لیکلي دي.
په عربي منابعو کښې د کابل یادونه ډېره شوې، چې د ټولو راغونډول د یو ځانګړي کتاب کار دی. کوم آثار، چې ما سره دي هغه دا دي، چې که چېرې څوك وغواړي له دغو منابعو ګټه واخلي د کابل په باب به ډېر معلومات ترلاسه کړي.

۱. د کابل مجله ۱۳۱۰، د غبار او کهګدای مقالې.
۲. "بالاحصار کابل و واقعات تاریخی آن" د کهزاد لیکنه.
۳. تاریخ ګردیزي د ابو سعید عبدالحی لیکنه د پوهاند حبیبي تصحیح.
۴. مروج الذهب د مسعودي لیکنه.
۵. د ابن حوقل سفرنامه.
۶. تاریخ بیهقي
۷. تاریخ سیستان
۸. برهان قاطع د کابل لغت داسې ښيي:

"کابل نجم ثالث و سکون لام نام شهری است درمیان کوه ما بین ماوراالنهر و هندوستان و بعضی گویند مابین خراسان و هندوستان و نام ولویتی هم هست گویند که در آن ولایت جراحان خوب می باشند"
له دغې لنډو جملو درې مطلبه څرګندېږي. لومړی، چې کابل په یوې پراخې سیمې کښې د مرکزیت ښه لري. د ماورا النهر او هندوستان ترمینځ، دوه یم د خراسان او هندوستان ترمنځ، درېیم د کابل په ولایت کښې ښه جراحان شته.
مسعودي د کابل په باب لیکي: "شهریان کابل مردم کابل و بامیان هستند که بدیار زابلستان و زرنج پیوسته است و سابقا در همین کتاب ضمن سخن از اقوام سلف و ملوک قدیم گفته ایم که زابلستان قلمرو فیرور بن کبک پادشاه زابل است.
مسعودي ۳۳۲ هـ کال کښې وايي، چې د خراسان او چین ترمنځ د کوشان ځمکه ده، چې په تنظیم کښې ساری نه لري.

له دغو مدارکو دوه مطلبه لاس ته راځي. يو دا ،چې کابل د ټول افغانستان د مرکز په څېر دی. د چين او خراسان ترمنځ د ماوراالنهر هند ترمنځ د خراسان او هندوستان ترمنځ ځمکه يوه ځمکه ده، چې يو له بله سره تړلې ده. دوهم چې کابل د دغه لويې ځمکې مرکزي او مهم ښار دی.

په دې باب مدارك ډېر دي. سند هم په همدې حوزه کښې راځي.

هند او سند تل سره بېل يادېږي. په همدغه ځمکه کښې اوسنی پاکستان دی، چې کابل زابل، بابل سره ارتباط لري.

عزيزي هغه مهال، چې احمد شاه بابا د کابل دېوال جوړاو، يو شعر ويلی و، چې څو بيته يې دا دي:

ثانی محمود احمد بادشاه
آنکه از امر حق عالم شکار
غم نه بندد صورتی در عهد او
گر شود عالم همه آئينه وار
امر کرد از لطف آن کهان خديو
از سر جاه وٌجلال و اقتدار
تاکشد حصنی زبهر حفظ خلق
دور کابل همچو گردون پايه دار

حافظ نور محمد کهگدای ليکي:

د امير معاويه پر مهال د کابل له بازاره يوازې د کابل نيل د ورځې د اتو لکو دينارو اخستل کېده. همدا ډول ظهير الدين بابر په خپل تزك بابري کښې ليکلي.

د بابر په زمانه کښې يوه درنده زلزله وشوه، چې د ښار ډېره برخه ونړېده؛ نو داسې وويل شول، چې وروسته دې سپکې ودانۍ جوړې شي. سنجي ديوالونه وروسته له هغه رواج شول، چې تراوسه خلك په همغه صورت کورونه جوړوي.

د کابل باغونه، باغ عليمردان، باغ عالم علم گنج، د تيمور شاه باغ، د نواب باغ، چهارباغ او نور، چې اوس يې اثر نه ليدل کېږي.

ښهر دروازه او آسمائي غرونه لرغوني مهالو کښې دلته جنگي کلاوې وې. ښهر پخوا پادشاه ته ويل کېده. ښهر کابل باميان او آسمار چې د سيمې له کلمې څخه دي د پناه گاه معنى لري.
د کابل موزيم په نړۍ کښې د خپلې سيمې غوره انتيك بلل شوي.
کابل تل په بهرني يرغلونو وار وار نيول شوي. وران شوي او لوټ شوي. بابر له کابله هند لاندې کړی او د ده کورنۍ مغلي سلسله په هند کښې جوړه شوه. پخپله هم په کابل کښې ښخ دی. د بابر باغ د ده په نامه شهرت لري.
پخوا تر بابر دغه باغ د جلال په نامه يادېده او دغه جلال د بابر د کورنۍ نه دی.
خوشحال خان وايي:
چې څوك ياد کاندي کابل
په کوگل مې شي غلغل
د کابل لرغوني مدنيت په سور پوري اړه لري او د سور مدنيت په ټوله نړۍ اغېزمن مدنيت دی.
ابن حوقل په صوره الارض کښې ليکي:
شهر کابل دارای قهمندری بس استوار است که تنها يک راه دارد و ساکنان آن مسلمان اند و در ايض شهر کافران و يهودان سکونت دارند، مردم کابل معتقدند که کسی پادشاهی را شايد جزاينکه در کابل او را به پادشاهی نامزد کنند و اگر کسی ازين شهر دور باشد باید بدانجا رود و با مشروطی که از قديم باز اندکی از آن رانگه داشته اند او را به پادشاهی بگمارند. کابل نيز در خانه هند قرار دارد و از آنجا بهرسو راه هست درين شهر نيل فروان بدست آيد و ارزش نيلی که در قصبه و سواد آن شهر تهيه می شود جز مقداری که در دست بازرگانان می ماند نبايد گفته بازرگانان بيش از دو ميليون دينار است ۳۳۱ هـ.ق ۹۴۱م.
يو ښار، چې توليد، صنايع او سياسي کړنلاره ولري څرگنده ده، چې اقتصاد پوهان، تکنالوجي، اجتماعي اصول، ښاروال، عامه گټې او قوانين هر څه لري، چې د کابل د ښار مطالعه له دغه نظره نه ده شوې. ابن حوقل وايي. د کابل گلان د ورم او ښايست له نظره ساری نه لري.

زما د مطالعاتو مخه دا ده، چې د لویدیځ مدنیت او اقتصاد مونږ یو مخ برباد کړي یو او څو په دې خبره پوهېږو ډېر مهال نور غواړي.

چې څوك یاد کاندي کابل
په ګوګل مې شي غلغل
در گلستان کابل
افگنده ایم غلغل
ما هم صفاز بلبل
در نغمه کم نبودیم

ACKU

# زبان کابل ـ جوانمردي

پیریم آخر می و پیمانه برد باد سحر شمع زکاشانه برد

کوشش بنده ناتوان در هیاهوی حرص مردم دنیا هیچ باشد، مرا توانایی نوشتن بود، بسیار نوشتم سخنی استاد بهزاد بحقی آورده است پس با معنی:

نی نقش چین نی حسن فرنگ کشیدن است
بهزادی ترا دست ز دنیا کشیدن است

این نوشته هایم خوب بود یا نبود اما وقت مرا به آرامی گرفت و گذشتاندن عمر را آسان ساخت، دیار کابل جاییکه تولد شدم و آغاز زنده گانی ام بود گذر آهنگری بود. گذر آهنگری پیوسته بود به مندوی آنار فروشی، محله کلالی، کوچهٔ سا دوها، مغلست ها، تنورسازی، ریخته گری، خرادی، موچی پره، دروازه لاهوری، چمن حضوری. بالاحصار، تخته پل، شور بازار، بازار سراجی ...

در قدم دور تری، خرابات، باروت سازی شمع ریزان، چرمگران، آرمونیه سازی قرار داشت خوشبخت بودم که بالاحصار کابل را از بام خانه می دیدم.

درین محیط همه باکمال بودند صنعت و حرفتی داشتند، تولید و تجارت.

دروازه لاهوری، بالاحصار باهم وصل بودند می دانستم که بالاحصار ارتباطی با لاهور پنجاب داشت چمن حضور و مسجد عیدگاه حکایت از حضور پادشاهان می گرد در بالاحصار شیر شاهان زنده گی می کردند. شناختن همین ماحول خود یک معلومات تاریخی و اقتصادی بود.

پیریم آخر می و پیمانه برد باد سحر شمع زکا شانه برد

هر قدر بزرگتر شدم مردم را بی کمال می دیدم و صنایع محلی از میان برداشته می شد.

پیری داغ عمر سبکبال و انمود موی سفید آب به غربال و انمود
جاییکه شرم نم کشد از گیرو دار جاه نتوان بکوس شهرت اقبال و انمود

در سال ۱۳۴۵ مسوولیت نشر جریده افغان ملت را بعهده داشتم در مقالات خود از صنایع محلی در حال پرواز یعنی کم شدن و فرهنگ کابل می نوشتم این سخن را در سال ۱۳۴۷ با یکی از صدراعظمان شهید نور احمد اعتمادی مطرح کردم و او یادداشت گرفت.

دلیل شکوه من سعی نارسا نشود زپا افتاده گیم ناله را عصا نشود

از شوری بخت از هفت سالگی به هفتاد رسیدم افغانستان صنایع و شادابی خود را از دست داده بود هر قدر سعی می کردم چیزیکه مایه دلخوشی ام شود نبود.
از بسیار پیشتر راجع به زبان و فرهنگ کابل فکر می کردم که زبان به فارسی ایران ترجمه شده است از جمله شهر سمک و تاریخ سیستان و از هر دو مهمتر دیوان سنایی.
نویسنده گان ما کتب ایرانی مطالعه می کردند و محصلین که در ایران فارسی آموختند و دکتوران فارسی شدند. فارسی با ادبیات حزب توده آمیخته به کابل رخنه کرد البته کمونستهای افغان بیشتر به آن تکیه کردند مانند آنکه در ایران ترجمه از زبان فرانسوی، جرمنی و انگلیسی ساختمان زبان را دیگر گوته کرد. .
عده یی دیگر در پی ناب و خالص ساختن زبان فارسی شدند درین همه گیرودار نگارنده در حیرت بود.

خون شد دل از تکلف اسباب زنده گی
یک لفظ پوچ و آنهمه اعراب در نظر

اشتراک کلمات در زبانهای دنیا زیاد است ناب شدن زبان ممکن نیست و ضرورت آن دیده نمی شود اگر در فارسی عربی دیده می شود در عربی نیز فارسی زیاد است همچنان سایر زبانها.
اگر شما کلمات آغا، آقا، انا، نام، مهر، و مهر-بان، کمان ... را ببنید از چهار هزار سال قبل بود و عمر طولانی دارد، مانند پدر، مادر، برادر و خواهر.
در زبانهای اروپایی، همچنان کلمات جنگل، دیوال، وال، جان، من.
یک فیصدی در هر زبان می باشد جرمنی و انگلیسی بسیار نزدیکند حتی انگلیسی انگلستان از انگلیسی امریکا فرق دارد.
"کت" یک کلمه یا لغت مروج در پشتو است "قطع" در عربی و کت Cut در انگلیسی یکی است تفاوت زبان در ساختمان و اصطلاحات بیشتر است.
در بیتی از بیدل آمده است "جاییکه شرم نم کشد" نم کشیدن شرم و اصطلاح "دیوار نم کش" از آن است.
جاییکه شرم نم کشد از گیرودار جاه" شرم نم می کشد یعنی شرم و حیا خدشه دار می شود از نم کشیدن جاه طلبی بعد می گوید نتوان بکوس شهرت اقبال و انمود

دیوان بیدل در افغانستان مقبول عام است بخاطریکه زبان دری یا کابلی است چون مردم با اصطلاحات و لغات آن آشنا می باشند مقبول شده است. همچنان آثار حکیم سنایی غزنوی.

این دو شاعر و دانشمند سنی مذهب بودند در تشیع استقبال نمی شوند تا جاییکه کار به زبان شعر و معانی تعلق می گیرد باید استقبال شوند و مسایل مذهبی در کتب دیگر است.

همینکه شعر بیدل را سبک هند گفتند این سخن ناجور است برای آنانیکه از هند نبودند. بیگانه فکر می کردند شعر فارسی سبک خراسان، عراق و ماورالنهر صحیح نیست، انعکاس زنده گی و پندار هر جا فرق می کند. آنرا سبک شعری نمی توان نامید فارسی با لشکرکشی های غزنویان در قرن دهم میلادی به هند رفت، همین دری افغانستان است و بیشتر غزنی و کابل.

همچنان دیوان سنایی نیز سبک افغان است.

دل حیرت آفرین است بهر سو نظر گشایم　　در خانه هیچکس نیست آسیه است و مایم

در سال ۱۳۸۲ هـ.ش واقعه عجیب برایم این بود که نگارنده این سطور در امریکاست افغانستان نیز در اشغال امریکا.

در هفت ساله گی خوشبخت بودم در هفتاد و دو ساله گی نبودم زیرا هیچ چیز دیگر افغان نبود حتی در افغانستان.

پس موجودی بودم بی همه چیز، تاریخ می خواندم و در گذشته زنده گی می کردم دیوان بیدل حکیم سنایی و مثنوی مولوی، دیوان رحمان، حمید و خوشحال اشعار طاهر عریان ابوسعید و عشقری ...

اما کتب بیشتر تاریخ بود از مدنیت های قدیم. در وسط این دو بودم روز ها شام و شامها صبح می شد اخبار وطن ناگوار. تابعیت امریکایی دارم ولی این تابعیت افغان و افغانستان را از مخیله ام نمی برد برای اینکه امریکایی بمن مهربان نیست و افغان هست.

## شرح سنایی:

حکیم ابوالمجد مجدود بن آدم سنایی غزنوی روشن عمومی خرطهٔ افغان را از کابل، غزنی، زابل، سیستان، بلخ، غور و با میان ننگرهار و پکتیا ... تمام افغانستان را در چهار عنصر می بیند.

به اصطلاح خودسنایی چهار گوهر، چهارپایه عرش و این عدد چهار موارد استعمال زیاد دارد و آن عبارت می باشد از صدق، علم، شرم و مردی که چهار ستون زنده گانی ماست.

چار گوهر چارپایه عرش و شرع مصطفی است
صدق و علم و شرم و مردی کار این هر چار یار

چار یار، چار عنصر، چار ترک بیدل (کلده چار ترک) چار گوشه، چهار سو چهار نفر، چهار دهی، چهار آسیاب، چهار خانه، چهار گوهر ...

در اصطلاح کابل چهار نفر سیال و شریک چهار خانه قوم و خویش و دیگر ...

امروز صدق و علم و شرم و مردی برخاسته است دوباره آوردن آن ضروری است.

عیاران کابل بهمین چارگوهر صدق، علم، شرم و مردی معتقد بودند و حیات عمومی مردم آنرا می خواست ازین سبب ما افغانها در مقابل غرب موقف دیگر داشتیم.

در دیوان حکیم سنایی می بینیم که از صفحه ۹ - ۱۱ تا صفحه ۱۲۱۰ ترجمه لغات دری به فارسی ایران است. این لغات شما از دیوان سنایی است، سایر کتب مانند طبقات ناصری اثر منهاج السراج جوزجانی تاریخ گردیزی همچنان است.

درین مقاله چند موضوع مورد بحث قرار گرفته است. زبان دری، اصول، جوانمردی عقاید بزرگان ما بصورت خاص کسب و کار اما این بحث بسنده نیست، مروری مختصر خواهد بود.

مراد ازین گونه مباحث شناخت افغانستان است که مسایل آن در مسایل همسایه گان و غرب پیچیده یا پیچانده شده است.

در سالهای ۱۳۰۷ و ۱۳۰۸ هـ.ش یکی از افغانها در جرمنی بغرض آموختن انجنیری برق بود. برای او از جانب فامیل تصویری فرستاده شد که در عکاسخانه توفیق گرفته شده بود.

در آن زمان در المان افکار نازی نفوذ داشت این افغان تصویر را که پدر و دو برادرش در آن دیده می شدند به المانیهای دوست خود نشان داد. آنکه در ایشان دانا تر بود

گفت: "این یک خانه واده اصیل هند و اروپایی است" افغان محصل عین جمله را برای پدر خود نوشت. پدر در جواب بپسرش چنین نگاشت: "المانها غلط کرده اند که چنین گفته اند ما نه هندی می باشیم نه اروپایی، ما پشتون و افغانیم".

اکنون بر می گردیم به لغات دری و پارسی ایران از متن دیوان حکیم غزنه سنایی چقدر توپیر و فرقیکه در لغات دو کشور است، در اصطلاحات دو چندان است.

| | | |
|---|---|---|
| آ. | آب دست | آبی که بدان دست شوند و ضوکنند. |
| | آبگون | آب مانند کنایه از آسمان |
| | آخال | چیزهای افگندنی مانند پوست میوه. |
| | آخته | برکشیده |
| | آرام | سکون |
| | آژده | خلانیده آجیده کرده |
| | آسا | مانند |
| | آسمانه | سقف خانه |
| | آمیخت | ممزوج کر. |
| ب. | بابزن | سیخ کباب |
| | باد | نخوت و تکبر |
| | بادام | کنایه از چشم |
| | بادسار | مردم سبک و بی تمکین |
| | بارانی | لباس که برای حفظ تن از باران پوشند. |
| | بارنامه | تفاخر و غرور و مباهات |
| | باری | القصه، بهر حال، مرتبه |
| | باشه | مرغ معروف شکاری |
| | بالکانه | دریچه ای که از درون بیرون را توان دید (این کلمه در زبانهای اروپایی به عین مفهوم است در افغانستان در قرن دهم میلادی مروج بود.) |

| | | |
|---|---|---|
| پ | پاره | ضد درست. |
| | پالانی | اپی که لایق بارکشی باشد. |
| | پالوده | صاف کرده شده. |
| | پاتابه | پارچه درشتی که مسافران هنگام راه رفتن بر پای بندند. |

شما این لغات در دیوان سنایی حدود یکهزار است که ترجمه شده است.

## قصهٔ بابه کامل:

مرحوم حاجی محب الله بوت دوز شخصی محترم بود پسر او پاینده محم محب زاد حکایت می کرد، در کابل شخصی بنام بابه کامل زنده گی می کرد ربابنواز و خوشخوان بود خوش قیافت باریش انبوه و سفید.

بابه کامل در هر محل که به سمواری (چای خانه) می رفت استقبال می شد، شاگرد:
سموارچی به سرک می آمد به آواز بلند اعلان می کرد:

جوانان سرهٔ کابل
چای سبز اعلی اینجا
قند سرهٔ اینجا
بابه کامل اینجا
کجا می روید؟

در دقایق چند صحن سموار و تخت های آنرا جوانان کاکه کابلی پیزارهای پت شف های مقبول و دراز لنگی قمه و کمربند به کمر سوی بابه کامل دیده دو دست بسر می گذاشتند سلام می کردند.

لحظهٔ بعد بابه کامل با آن چهرهٔ نورانی رباب خود را سر می کرد بعد اشعار صوفیانهٔ خویش را از پی وفایی دنیا و جوانمردی می خواند نیت و مراد می گفت نیت و مراد هر کس مطابق نیت، تفکر خود مرادش را حاصل می کند.

همینکه بابه کامل آخرین بنچه رباب خودرای نواخت با وجد و شور این بیت را می خواند.

کامل ترا در گوشهٔ دوزخ سراچه ایست
بهشت نصیب ما شد شد نه شد نه شد

سرخود را شور می داد و مضراب رباب را به گوشه رباب میخلاند.

ACKU

جوانان کابلی که غرق در تفکر صوفیانه بودند صدا می کردند زنده خوباشی بابه کامل.

بی صحبت تو جهان نخواهم　　　بی خشنودیت جان نخواهم
جان را بدهم بخدمت تو　　　من خدمت رایگان نخواهم

این فرهنگ کابل دیگر نیست به اصطلاح خودشان جوانان کاکل چنگ و پاچه تنگ بسیار شدند ذوق اروپایی آمد. بقه تقلید مار کرد زدلینگه او گار کرد.

برمی گردیم بموضوع زبان:

تحولیکه در مسایل تاریخی آمده است مطالعه کننده گان تاریخ را بحیرت اندر ساخته اند آن ازین قرار است در آغاز قرن بیستم آرکیالوجستان از آثار و مدنیت ها خبر می دهند که تا امروز آگاهی از آن وجود نداشت.

یکی ازین عجایب کشف مدنیت، زبان و اصول هاتیک است در ترکیه امروز ۲۸ کیلومتر دور از شهر ازمیر در قاده کب کوه مجسمه دیده شد با کلده بلند پیک دار تیر و کمان و به کمر شمشیری هلال نما مانند امروز، یکی از تاریخ دانان درین مورد از هیرودت که در قرن پنجم ق.م زنده گی می کرد روایت می کند که هرودتس این مجسمه را دیده است و کتبه آن را خوانده است که در آن نوشته شده است "من با عساکرم این سرزمین را بدست آوردم".

این مدنیت به قرن هفده قبل المیلاد تعلق دارد. در کتاب "زنده گی و جامعه جهان هستی" اثر Trevor Bryce تریور بریس چاپ اکسفورد سال ۲۰۰۲م همان اصطلاح نامعلوم اند و اروپایی آمده است می گوید آریایی می باشند زبان شان بنام لوانی یاد می شد و خود شان هاتیک از شرق آمده اند. با افغانستان روابط تجارتی داشتند و سنگها قیتمی از آن ناحیه می رسید.

در کتاب دو نقشه نیز چاپ شده است که در همین ترکیه امروز است نام چاها بکلی فرق می کند و بینند فکر می کند افغانستانست. اکنون مثالهای آن را ملاحظه کنید:

در شمال کنار بحیره سیاه منطقه تومنا (TUMMANNA) و پالا (PALA) تومن لغتی است بمعنی جای یا وطن خوشحال می گوید:

چه په درست تومن او څادر دی　　　نن هغه زما یار دی

"یار" نیز از همان کلمات باستان است چنانچه دختر زیبایی را هستا یار گفته اند هاک پیسا Hakpissa، در شرق سبری Sabari، متانی Mattni، در جنوب کوزودانا

Kuzzwadana، اراځوا Arzawa همچنان در نقشه هورین Hurian دیده می شود که نام و روشهای شان آریایی است.
یار "ازیر" که در عربی عزیز شده است ولی معنی ازیز همان عزیز است یعنی لغات. با کاروانهای تجارتی حرکت می کنند.
در عهد قدیم بازارهای که کلمه بازار نیز از همان جمله است در حرکت بودند، یعنی بازارهای سیار تا همین اواخر رواج بود.
منظور ازین بحث زبان است که این لغت ها در تمام زبانها داخل می باشد که زبان را نمی توان ناب گفت.
کمتر فکر می شود که مهربان دو کلمه است که مهر و بان باشد این کلمه به زمان آفتاب پرستی می رسد. "بان" نیز رواج دارد مانند آسیا بان در اصطلاح وان شده است گادی وان که در حقیقت بان است.
مدنیت های بین النهرین تا مدیترانه از همین افغانستان امروز و آسیای مرکزی بصورت امواج بشری به آن طرفها رفته اند.
اروپاییان می دانند که مدنیت از شرق بغرب رسیده است.
قرار اسناد از ابتدای قرن نزدهم ذخایر تاریخی افغانستان به تاراج سپرده شده است. چنانچه انگلیسها و فرانسویان که برای یافتن آثار قدیمی می آمدند باهم در کابل و غزنی می دیدند.
در کتاب آنسوی چیز ذکر شده است گروه ها اروپایی، بصورت تاجر، سیاح، در حقیقت برای مطالعه از اواخر قرن هژدهم شروع شده است.
جود یک هزار لغت دری در دیوان سنایی و ترجمهٔ آن درسی و یک صفحه قابل دقت است.
اکنون در مسوده قانون اساسی زبان پښتو و دری گفته شده است اما دری وجود ندارد دری را قبلاً از بین برده اند.
از بین رفتن کابل یک نقشه خطرناک بود که زبان فرهنگ آن مانند یک موزیم بود هرگونه اثر تاریخی در آن موجود، از آفتاب پرستی آتش پرستی، بودایی کتیبه ها سوریانی که همه کاوش ندقیق به کار داشت و صورت نگرفت.
استاد مرحوم احمد علی کهزاد در زمینه معلومات زیاد فراهم کرده است خوشبختانه آثار او چاپ شده است این مرد افغان با آنکه تنها بود شخصیت عالی و ملی کشور

ماست او از زردشت و گرشاسب و هر چه گفته است در قسمت تاریخ کهن و نو تا حدیکه توانسته است آثار نوشته است.

نگارنده افتخار دارد که در گذرگاه همسایه استاد بود و نظر او را تا حدی درک کرده بودم اما استاد رفت و ما فرصت خواندن و تحلیل آثار او را نداریم.

حال که این فرصت مطالعه نیست آثار پراگنده ما نیز پراگنده صدای خبر به خاوند نمی رسد. رباب بابه کامل نوایی ندارد جوانان سره کابل پیر مردان نحیف شدند، صنایع محلی و صنعتگران گم شدند ولی گپ از دیموکراسی شنیده می شود.

یعقوب لیث، سبکتگین ومحمود غزنوی غیاث الدین غوری، میرویس نامدار، شاه محمود فاتح، شاه اشرف شکست دهند دو امپراتوری روس و عثمانی احمد شاه بابا، آزاد خان و سرخانی خان در فکر ما نیستند اجساد هستیم گدایی گر، راه و روشی نداریم دین را دالر کردیم.

گویند شیخ ابوالاسحق را مدرس کردند در جامع نظامیه بغداد به او گفتند زمین مدرسه مال غصب است شیخ گفت من در جاییکه غصب شده باشد درس نمی دهم. اکنون سرزمین ما غصب شده است. چگونه دل بدان خوش کنیم . اما این روز گار ناهموار سپری می شود.

## زبان دري و افغانستان

بعض چنین فکر مي کنند دري وفارسي یکي است دري وفارسي یکي نبود دري را فارسي کردند اگر دري وفارسي یکي بودی هزار ها لغت آن را به فارسي ترجمه نمی کردند.

درتاریخ ادبیات سرحدی دیده مي شود که از پشتو به دري عبور صورت گرفته است .

در تاریخ سیستان آمده است : باز محمدبن مخلد هم سکزی بود مردی فاضل بود وشاعر ، نیز پارسي گفتن گرفت و این شعر را بگفت :

جزتو نژاد حوا وآ دم نکشت شیرنما دی بدل وبرمنشت .

معجز پیغمبر مکی تویي بگفتش وبمنش و بگویشت

فخز کنا. عمار روزی بزرگ کوهدانم من که یعقوب کشت

از عبارت تاریخ سیستان چنین معلوم مي شود محمد ابن مخلا با مجله دوازدهم خود سگزی بود فاضل و شاعر نیز پارسی گفتن گرفت یعنی زبان او پارسي نبود اما به خاطر خوشي یعقوب صفار پارسي گفت.

در شعر یکه سروده است کلمه " منبنت " آمده که این لغت بمعنی پندار است در بیت دوم گفتار ازدشت است در مصرع دوم " بکنش وبمنش وبگویست"
کردار نیك . پندار نیك وگفتار نیك
کنش = کردار
منش = پندار
کویش = گفتار
درپشتو : کول ، منل ، ويل مې شود.
ابن خلف تبریز صاحب برهان قاطع می نویسد : زبانهای هروی بسکزی زاوی وسغدی متروك است درې وپهلوی وپارسي مې باشد. دری آن بست که در آن نقصانی نبود زبان در قدیم یکی بوده بعد شعبانی از آن جداشده است.
پیدایش و پرورش دری در افغانستان بوده است ازسیستان بطرف شمال جنوب شرق و غرب و سعت یافته است در غزني وزمان غزنویان به نهایت بلندي خود رسي بالشکر کشي ها به هند رفت ودر هند چهل ودو لغتنامه نوشته شده است که در ایران از آن خبري نبود.
پهلوانام شخص است نه زبان ، پارتها باکوچیانیها قرابت وتوارت دا شتند ، هرزمان در حال تحول مې باشد . اما درې وفارسي همزمان بوده اند انهم معلوم نیست که فارسي.
به پارس تعلق دارد یا فرس که در عربي اسب راگویند.
شماري از داشمندان الماني راجع به زبانهای شرق تحقیقاتي کرد که همان تحقیق مورد استفاده قرار گرفت ، اماشرط نیست که همان گفته بصورت دايمي پذيرفته شود.
درحقیقت امر آرکیالوجي یا حفریات از روی مسکوکات ، کتیبه ها لباس سامان آلات استخوانهای حیوانات ، دانه های زراعتی یك نظر مبتني بر مردم شناسي ، کلتور ، ادیان صنایع بیولوژی ، جیولوجي سوسیولوژی بودجود آور د .
درکتب مطالعاتي شان چاپ شد که این مطالعات از سال ۱۹۸۵ تا ۲۰۰۳ میلادي سیار مهم است .

زبان دري شكل تكامل يا فته زبانهای آريايي است كه از سيستان زرنج زابل و غزني كابل به شمال هندرسيد قرنهاز بان در باربوده ماورالنهر رفت باسلجوقيان به تركيه رفت . ايران لقمه آماده شده بدست آورد و آنرا زبان رسمي قرار داد و همين سبب بود كه دامن دري كه فارسي هم شمرده مي شود از هندواستانبول وماورالنهر چيده شد.
حوزه سند ، هيرمند و جيحون كه سه درياست و ته مدينت پرور ده است
( سور ، ساك و پاكت ) همين . مدنيت به بين التمرين مديترانه اروپا .... حركت كرده است از همين سبب است كه پښتون ، پښتو و پښتونولی ميرات همين مدنيت هاست اين مدعا مشكل مي نمايد اما ساده است.
يك مثال اينجامي آورم : انسانهای هوشيار با سلاح موثر ، داشتن زراعت وصنعت در افغانستان بودند " بعد درسواحل شمالي مديترانه ، يونان ، ايتاليا ، شمالي افريقا آثاري آن يافته شده است كه ذكر افغانستان بصورت مشخص آمده است . ( كتاب مديترانه باستان اثر ميخاييل گرانت سال ۲۰۰۲م)
آثاري متعددست كه گويند مدنيت شهری از افغانستان آغاز گرديده است .
همچنان يا دداشتهای سكندر مقدونی توضيح مي كند اقوامي را كه دربين النهرين ديده بود پاكتسيانيز ديده است . هيرو دتس كه درقرن پنجم قبل الميلاد مي زسيت از باكتر . پاكت ، سور وساك حكايت هادارد .
ازنگاه اين مدنيت پشتو نزديكتر بزبانهای سور ،ساك و پكت از ينجاست كه پشتو زبان مدنيت های باستان است كه تاريخنويسان پشتو را شاخه يي ازشاخه های سانسكريت مي دانند دري نيز از همان ريشه و اساس است
اكنون كه هر يك پی كار خود شده است نظربه مدنيت های سور ، پاك ،پاكت پشتو و پشتونولی قديمترين شيوه زبان مي باشد .
هيرودت پدر مورخين در هر دو مورد حكايت های دارد . در دوره تعصب مسايل علمي سياسي شده و تعبير غلط بسيارشد .
روز ۱۳ نوامبر ۲۰۰۳ مطابق عقرب ۱۳۸۲ در انترنيت از قول وزير خارجه امريكا پاول گفته " هنوز در عراق يك حامدكرزی نيافته ايم اميداست در آينده پيدا شود" يك سخن مهم و تاريخي همين ، وزير دفاع امريكا رمزفيلد در كابل چندی قبل از ين گفت : " هيچ ملت خوش ندارد عسكر خارجي ر دركشور خود ببيند " ۱۵ سنبله

۱۳۸۲ حامدکرزی رییس حکومت انتقالي محمدظاهر شاه سابق و دوستانش ملیشه های تاجك ازبك هزاره و پشتونهای ظاهرشاه و کرزی در تاریخ افغانستان حایزاین مقام پست و نوکر وآله دست شدند.

این تحول بزرگ است در تاریخ ملي است که وحدت ملي رابکلي خدشه دارساخت مرمت آن سالها نخواهدشد.

سلطان محمود غزنوی از شاهان بزرگ افغان فکر واندیشه غیر از آن داشت. که امروز زمزمه مي شود او شهنامه فردوسی را رد کرد اسدی توسي گرشاسب نامه نوشت فردوسي واسدی از یك فامیل بودند اما اسدی مفکوره سلطان محمود را درك کرد در غزنه مجمع علما و ادبا بود و زبان دري که از زرنج آغاز در غزنی کامل شد در هند. به شکل علمي تر در آمد برای اینکه هنوز مورد دعوی قرارنگرفته بود اگر در همان لحظه که یعقوب لیث باشیندن مدح خود بعربي ناراض شد شعری به پشتو گفته مي شد همه چیز امروز صورت دیگر مي بست:

دري زباني است در افغانستان زادگاه آن بود پرورش یافته و گسترش ، اما پشتوبخش دیگری از زبانهای اریایي است که بحال خود بود در کهساران باقي مانده است در غور رایج و امیر کروړ سوری شعر حماسه خود راگفته است . تفاوت نسخ ، چندسالي است نه قرنها اگر شعر امیر کروړ با اشعار فارسي مقایسه شود از نگاه لغات و ترکیب تکامل یافته تر است.

بهر حال هر دو زبان از همین زمین اما امروز نظربه وضع سیاسي و جغرافیا سیاسي وحدت و استقلال کلتوري مصلحت ملي درآن است که پشتویگانه زبان رسمي باشد تا تناقضات داخلي و خارجي رفع شود ، پشتونهای پاکستان که افغانستان ، وطن آبایي شان مي باشد دلبسته آن باشند.

نثر ونظم پشتو بسطح عالي رسیده است ، هجوم فرهنگي و پارسي ایراني رابه جایي دري قرار دادن باید متوقف شود حفظ وتصحیح دري از فرایض ملي است بیدل سنایي ، رودکی و هزار شاعر ونوسینده دیگر در حوزه افغانستان وجود دارند تابتوانند این مامول راپیش ببرند.

کسي کو برمش سزای مست  به بزم اندرون دلکشاي منست

از آوردن يت فردوسی منظوری است برای نمایاندن غلط گویي جزوه کوچکي است بنام . ضحاك از شهنامه فردوسي ، به اهتمام ليما ساحل را مسري بامقدمه دكتور پرويز ناتل خانلری . صفحه ۴۶ در پاورقی رامش چنين توضيح شده است ۱- رامش " اوستايي" به معنی آسودن ( یا دداشتهای گاتها ۵۴) آسودگی . آرامش .
در حاليكله رامش و رامشگر موضوع موسيقي وموسيقي نواز است :

کسي کو برامش سزای منست　　به بزم اندرون دلگشای منست
بيار انجمن كن برتخت من　　چنان چون بود درخور بخت من

يعنې همان کسې که به سويه من برابر باشد در بزم دلگشايي من است.
در پاورقي صفحه ۴۴ _ تنبل را نيرنگ فريب وبند ترجمه ياشرح كرده است تنبل بمعنی كاهل تن آسان درست است.

به وگفت شاه آفريدون تويي　　که ويران کنی تنبل و جادويي

يعنې خود تنبلي به جارو اینکارهامې كنی روح داستان نيز به همين گونه است كه ضحاك جادوگر بوده است تنبل بمعنی کاهل ست وبيكاره کاری بعمل نمې آید جادو و نيرنگ وفريب صفات خوب نيست ولې شخص فعال مې باشد
درجای دیگر سروش بمعنی اطاعت و فرمانبرداری نوشته شده است در زبان دري سروش پيام الهام بخش است که از غیب بیاید . منظور فردوسی نیز همین است ملاحظه بفرمایید .

بيا مدسروش خجسته دمان　　مزن گفت کورا نيامد زمان

ازمثالهای دیگر ترجمه دري بفارسي چنين برمی آید که دري رساتر از پارسي است.

ACKU

# شپږم تکل٠

په لاندنیو کرښو کښې یو غوره مطلب پروت دی .چې دهېوادوالو پاملرنه هغه ته راګرځوم . په دغه مهال کښې .چې روښانول یې ګران دي . وروسته له دې څخه .چې په ۱۳۵۲ کال کښې د هېواد نظام او اداره له مینځه ولاړه . دادی څه دپاسه دوه ویشت کاله وشول .چې استقرار رانغی . بویه دا .چې دا او سني حالات پای ته ورسیږي .

د تاریخ څیړنه ډېره ګټه لري او هر سړي ته دغه پوهه سودمنده ده . د وګړو شخصیت پر تاریخ ولاړ دی او راتلونکی ژوند هم د تاریخ له مخې جوړیږي .

دغه ټولې بدمرغی .چې تاسې ګورئ له دې راولاړې شوي .چې تاریخ ته سپك وکتل شول خوانانو پردی ایډیالوژی ولوستلې . ولس . هېواد او څانونه یې برباد کړل . که چېرې دوی له خپل تاریخ نه زده کړه کولای . هغه څه .چې پېښ شول نه پېښېدل .

د افغانستان تاریخ دوې غوره برخې لري :

مخکې تر اسلام او وروسته تر اسلام .

علي مسعودي .چې یو زروسل (۱۱۰۰) کاله دمخه افغانستان ته راغلي و . وايي :

په بست . زمینداور او غزني کښې وروسته له توفانه (مطلب یې د نوح (ع) توفان دی) په نړۍ کښې لومړی پادشاهي سوریانو جوړه کړه . د ملك حدودې و ټاکل . ونې یې وکرلې . او ابادي یې ډېره شوه .چې لومړی پادشاه یې "سوشان" نومېد .

په دې توګه هغه تاریخ .چې مونږ یې پنځه زره کاله بولو . اوه زره کاله وړاندې دروميي (تاین بی) په خپل هغه اثر کښې .چې په ۱۹۷۳ میلادي کال کښې لیکل شوی د پښتنو د قومونو موجودیت دولس زره کاله دمخه ښیي او د "سور" . "لوی" او "اور" مدنیتونه یادوي .

د مسعودي په کتاب کښې (۳۳۲ لمریز) د جدون . دوداني . شیرواني او سوریاني یادونې شوي .چې دا قومونه اوس هم شته .

کوشانیان وروسته کوچانیان یا کوچیان شوي . کوشانیان په لومړي سر کښې کډوال وو او دلته یو التباس شوی . لکه .چې په کابل کښې یوه کوڅه ده .چې هغې ته یې "بارانه" ویله . چې له باران سره یې اړه نه درلوده . اړ یې د "بار" سره وه . یا رسته

دستان ، رستم داستان ویل کېده ، چې له داستان او کېسې سره یې اړه نه وه ، داستان د شخص نوم و ـ نو کوچیان که د کوچ سره ظاهري اړه لري، مګر معنوي اړه نه لري ـ پښتو کښې کډوال او کوچ ته لیږد وایي.
دا هماغه کوشانیان دي ،چې له امپراتورۍ وروسته بېرته کډوال شوي ـ دسکا ، ساک ، ساکستان ، سجستان او سیستان همدغه لړۍ ده .
له نېکه مرغه ، د پښتنو د قومونو نومونه په عربي اثارو کښې که څه هم ژباړل شوي مګر دومره نه دي بدل شوي ـ ایواني لیکنو کښې سیک ته سیخ وایي ، حال دا ،چې دا هندي کلمه ده او زده کوونکي ته وایه شي. پاملرنه وکړئ دغو عباراتو ته د مسعودي له کتاب څخه :
" مجاور مملکت شیروان مملکت دیگري است که ایران نام دارد و پادشاه آنجا را ایران شاه نامند ـ وهم اکنون شروان شاه بر این مملکت و مملکت دیگري بنام موقاتي.
نیز تسلط یافته ، جمعي از انها کافرند ، مطیع شاه شروان نباشند و آنهارا دوداني گویند و بریك سوی باب ابواب مملکتی است که جیدان نام دارد".
مسعودي " برغر" ، " زر غونّ" ، " سیمه " او نور"داسې نومونه یادوي او وایي د قندهار پادشاه حیج نومیده ـ اوس " شیرواني " قوم شته خو شیروان شاه نشته " دوداني" قوم شته خو هغه برم نشته ، "جیدان یا جدون " قوم شته خو خپلواك هېواد یې نه دی پاتې که چیرې په همدغه برخه کښې څېړنې وشي ـ هر پښتون قام د یو مدنیت میراث دی .
کله ،چې مونږ شپږم تکل وایو، څرګنده ده ،چې پنځه تکله تیر شوي دي .
وروسته تر اسلام نه افغانستان کښې پنځه تکله راغلي دي ،چې هر یو یې اوږود بحث لري او هغه دادي : صفاري ( سکزي) . غزنوي ( د ایران دولت درسمي اسنادو ، او ځینو نوږو دولتي او غیر دولتي معتبرو اسنادو له مخې د غزنویانو فتوحات د غلځو او تره کوله خوا شوي و)، غوري (سور، شنسب ، لودي ) ، هوتك ( غلځي ) او ابدالي ( دراني ).
دې پنځو تکلونو کښې ،چې له نهمې میلادي پېړۍ تر شلمې میلادي پېړۍ پورې یوولس سوه (۱۱۰۰) کاله نیولې دي د لودي افغانستان سیمه یوه شوې ده او پنځه پلا سیاسي او طبیعي سرحدونه سره یو شوي ( د خزر له سمندر ګي نه تر شمالي هندوستان پورې اوله تبته د عربوتر بحیرې پورې )

بهرني تایخونه او تاریخپوهان ، هندي ، ایراني او نور تول دغه پنځه تکلونه افغان بولي ، مګر د افغانستان تاریخپوهان او لیکوالان دا خبره نه کوي او وایي ،چې د افغانستان نوم د اسلام نه وروسته خراسان و ، حال دا چې خراسان په پنځو تکلونو کښې د لوی افغانستان یو ولایت و . د نونسمې پیړۍ په پېل کښې شاه محمود سدوزي او وزیر فتح محمد خان هغه له لاسه ورکړ

اوس ځوانانو ته ویل کېږي ،چې شپږم تکل ته خانونه چمتو کړئ دا زمونږ دنده ده ،چې د پلرو میراث ترلاسه کړو ، بویه سره نږدې شو ، خوابدي پرېږدو او یوله بله سره مرسته وکړو.

دلته ما سره یو مهم ایراني اثر پروت دی چې " ګزیده اسناد سیاسي ایران و افغانستان " نومیږي ، د محمد نادر نصیري مقدم په هڅه او د ایران د سیاسي او بین المللي څېړنو د دفتر لخوا خپور شوی ( ۱۳۷۴ لمریز هجري).

د کتاب په مقدمه کښې نادر نصیري مقدم د افغانستان جغرافیه او تاریخ څېړلی دی . دغه سریزه زمونږ تر ډېرو لیکوالو او تاریخ پوهانو سمه اوښنه لیکل شوې ده . دابه هومره سمه خبره نه وي ،چې د اروانباد غبار ، اروانباد فرهنګ او نورو خبرې په ایراني لیکوالانو ردې شي ، مګر چاره څه ده ، دوی خپل دریغ پخپله تاکلي دی . په ۱۳۳۴ لمریز کال کښې اروانباد محمدګل خان مومند په لویه جرګه کښې وویل : " څوک ،چې روس ته ولاړ شي ، روس فیل شي ، څوک ،چې جرمني ته ولاړ شي ، جرمن فیل شي، څوک ،چې امریکې ته ولاړ شي امریکن فیل شي او داسې نور ... افغان به چېرته روزل کېږي ؟"

داسې ښکاري ،چې کورني تاریخپوهانو ته په خپل وخت کښې سم ماخذ په لاس ندی ورغلی ،چې ملي تاریخ ولیکي .

نادر نصیري مقدم کله ،چې د افغانستان تاریخ بیانوي په ترتیب سره د بطلیموس له قوله وایي ،چې هغو زمانو کښې د افغانستان نوم آریانا و او بیا د باکتریا په نامه یاد شوی ( باکتر ،باختر ، بلخ ) . دی وایي زردشت هم په بلخ کښې زېږېدلی . تر سکندر وروسته یوناني باختر خپلواک هېواد جوړ شو .

بیا د کوشانیانو امپراتوري جوړه شوه ( ۱۳۵ کاله مخکې تر میلاده ). په دې امپراتورۍ کښې صنعت او تجارت مخکې ولاړ او چین او روم سره وتړل شو ( د

وربښم لار ) . بيا د يفتليانو دولت جوړ شو ( يپتل ، ادال ، ابدالي ). وروسته تر اسلام نه په ترتيب سره پنځه تكله صفاري ، غزنوي ، غوري ، هوتك او ابدالي بيانوي د كمونستانو او روسانو د راتګ پورې او د افغانستان سيمه يوه خپلواكه پراخه سيمه ښيي ،چې دهندوستان او ايران پراخه سيمې ددوی په قلمرو كښې راتلې.
كه په ايران كښې هخامنشيان وو ، په افغانستان كښې باختري دولت و ، كه هلته ساسانيان و. دلته ساكان و ، د ساك سكزي ( اوسني ابراهيم خېل) دولت ، ، كوشانيان او يفتليان و.
د سلطان محمود غزنوي په برخه كښې وايي : " با افراشتن پرچم اسلام توانست قبايل افغان رابه جرگه سپاهيان خود بكشاند.
وانيان بهند كه طلايه داراان لشكر سلطان محمود را در حمله به هندوستان و استيلای مسلمانان براين سرزمين تشكيل ميداند .
گفتني است در همين دوره بود كه افغانها همگي به دين اسلام گرويدند". اوس كورني ليكوال دي ،چې افغانستان د اسلامي دورې خراسان بولي.
نصيری مقدم وايي افغانان پر هند ورغلل او هغه هېواد يې د اسلام ځمكه كړه ،چې همدغه پښتانه قبايل و. په ۲۹ مخ كښې ليكي : " فتح علي شاه قاجار ،چې خراسان ونيو ، عباس ميرزا يې وګوماره ،چې پر هرات يرغل وكړي " ټول بيان ،چې په كتاب كښې راغلي دا خبره نه كوي ،چې دافغانستان نوم خراسان و . د كتاب اهميت په دې كښې دی ،چې د رسمي اسنادو له مخې ليكل شوی .
كله ،چې خليل الله خليلي د اعليحضرت محمد ظاهر شاه مطبوعاتي مشاور د عياري از خراسان كتاب څوارلس كاله دمخه وليكه او د خراسان كمپ جوړ شو ، نو دغې خبرې يوه بد مرغي راوسته ،چې په نتيجه كښې د خليلي زوی د مسعود مشاور شو.
دا دی څلور كاله كېږي ،چې پنجشيريانو او تاجكو پر كابل قيامت جوړ كړی دی . كه څه هم پنجشېريان تاجك نه دي او په بلور پورې اړه لري ، مګر ددې لپاره ،چې خپله سيمه پراخه كړي احمدشاه مسعود د برهان الدين رباني لور خپل ورور ته وكړه او ځان يې په تاجكو ورګډ كړ.
د جهاد په تودو شپو ورځو كښې خراسانپورانو جهاد نه كاوه د قدرت د اخستلو لپاره يې خپلو ځانوته وسلې او پيسې ساتلې وې . دا تنظيمي رهبران لكه د تيرې يالرګي

آلې دي ،چې د پردیو په لاس کښې دي ، دا وهه او هغه وهه و دا ړوان کړه او هغه وران کړه . له دوي څخه د انسانیت اسلامیت او افغانیت تمه ساده توب دی .
شپږم تکل : او س ،چې پنځم تکل یعنې ابدالي ولاړ او اتلس کاله کېږي ،چې هېواد ورانيږي ، وګړي یې وژل کېږي ، پت او عزت یې ورکیږي . نو ای د یعقوب ، محمود ، غیاث الدین ، بهلول ، شیرشاه ، میرویس خان او احمدشاه زامنو ودریږئ ، او شپږم تکل جوړ کړئ . د پردیو مزدورانو ستاسې بچي ووژل ، هستي او شته یې لوټ کړل ، نه غوړیدلی افغانستان جوړ شو او نه مسلماني . نوموږ ته پیښه ده ، که ستړي یو که تیپیان ، که بوډاګان یو که ځوانان ، که تور سري یو که توربږیري ، یو د بل لاس ونیسو او شپږم تکل جوړ کړو دخوشحال ارمان پوره کړو . د میرویس شمله وساتو ، د شیرشاه بریت تاو کړو ، د بهلول خولۍ سمه کړو ، د احمدشاه توره سمه کړو ، د محمود زغره وربه ځان کړو او د اشرف شاهي تاج بیرته ورکړو . ( ومن الله توفیق)

# زړه چاودون

## د افغان انګلیس څلورمه جګړه - د افغان ـ امریکا لومړۍ جګړه

## ۱۳۸۰ ل هـ ، اکتوبر ۲۰۰۱

سلام بابا ګانو !
څوک ،چې مړ شي نو مړ شي له دې کبله پښتنې وایي :

په تور توپک ویشتلی راشې
د بې ننګی اواز دې رامه شه مینه

کور چې و نړېږي نو ونړېږي که یې د انګلیس امریکا کروز میزایل ونړوي . سیلاب یا زلزله ، کور له لاسه ووت .
چنګېز او ګوډتیمور زموږ ښارونه داسې وران کړل ،چې بیا هلته مالوچ کرل کېدل فیروز کوه دغور پایتخت داسې وران شو ،چې نن یې څوک په موقعیت نه پوهېږي ،چې چیرته و ؟
چنګېز او ګوډ تیمور یوه بلا و یو افت و ، نن انګلیس امریکا هماغه دي ،چې پرون هغوی و .

کله تدبير کارونه کړي په دولسم ميلادي کال کښې ( څه باندې اته سوه کاله اوښتي دي ) ملك اختيار الدين خرپوست له پېښوره غزني ته راغی .چې چنګېز سره جګړه وکړي .
يو سل ديرش زره جنګيالي پرې راټول شول يوه بل افغان .چې د غزني کوټوال و او صلاح الدين نومېده دغه مېړنی غازي يې ميلمه کړ او خپل کور کښې يې په شهادت ورساوه . د ده غوندې مېړنی او غازي بل نه و .چې خلك پرې ټول شوي وای خلك خواره شول چنګېز وکړل هغه څه .چې ده وغوښتل . دواړه افغانان و يوه څه وکړل او بل څه ؟
چنګېز(B۵۲ الوتکی ) کواف ۱۶ و کروز ميزايل نه درلودل بيا هم سرې خو پرېږده چرګان يې پرې نه ښودل وني يې له بېخه وايستلې وحشي خوی يې درلود .چې اوس يې انګليس ، امريکا لري . دوسلې خبره نه ده انسان .چې انسان وي که نه وي بيا نه وي.
ددوی لپاره شرم دی .چې چنګېز او ګوډ تيمور او هلاکو پرتخت ولاړ دي که انګليس امريکا (توني بش ) سل کاله بمونه واوروي . افغانستان ټول خلك مړه کړي مهاجر افغانان به بيرته راشي او دلته به ژوند وکړي؟
چنګېز .چې هرات وران کړ وکړي يې ووژل يوه ټوټه لاړ بيرته راوګرځيد ويل يې کيدای شي کوم سړی ژوندی پاتې وي بيرته راغی نهه لس تنه ټپيان لاژوندی و هغوی يې ووژل زړه يې ټول شه لاړ.
مونږ ومنله .چې د اچنګزيان دی بيانو دښوتمه غلطه ده .
په نړۍ کښې مسلمانان پرخپل راتلونکی برخه ليك فکر کوي او خواخوږي مومي ، ددغه اسلامي نهضت په سر کښې ملا عمر اميرالمومينين ودريد .
ما تاريخ خپله فلسفه ګرځولې ده په ۱۹۱۹م امان الله خان د اسلام په نامه جهاد اعلان کړ او انګليس سره يې جګړه اعلان کړه اسلامی هېوادو کښې ديوه اتل په توګه وپېژندل شو او ډېرو خنيفة المسلمين باله .چې اروپا ته لاړ غربي پېښې يې وکړې خپلو خلکو په مخه کړ په دې کښې د انګليس لاس و مګر که خلك ورسره وای صفويانو په سلو کسانو نه شو شړلی .
که تاسې د امان الله خان عروج او خروج سم وګورئ کله به افغانستان له لاسه نه و وتلي مونږ به هم په يوه توګه ژوند کولای . هيچا دغه دوره سمه مطالعه نه کړه او له همدغه ځايه کارله مونږ نه وران شو . وروستي حالات له همغه وزيږيدل بيا .چې وضع

ښه شوه هسې بې مسوولیته خلکو سوسیالیزم ته هوس وکړ که داسې وی داسلسله نه ختمیږي نن یې طالبان په هره ممکنه توګه استه کړل غربي تمدن راوله سبابه بیا ملایان اسلام راولي لس پیړۍ به په دې کښې تېرې شي . اوس ،چې دا خبره راسره څوك نه مني زه به یوازې پاتې یم . خپل بچیان به هم زما خبره نه مني زما زړه روښانه دی تاریخي تحلیل لرم .

که څه هم:

پــه هجــران کښـې زه بــې بــرګ ښـنـوا یــم
لکــه کښـت چې اوبــه نــه مـومي شـډل شـي
پــه عاشـق بانـدې داهســې ګمـان مــه کـړه
چې یـار زړه ور څخه یوسـي تـش کوګـل شـي
زه رحمــن بــې یــاره هســی شـل شـل یــم
لکـه کـب چې بـې محیطـه شـل وشـل شـي

که سم تحلیل ، وینا او عمل وي تر دا ښه ،چې ناسم . غافل او جاهل وي مونږ ته داپېښې ده ،چې پوه تعلیم لرونکی او د شمال جانیان ( مجاهدین )خړیت پادشاه ، ځیني پښتانه ټول په زاریو د امریکې انګلیس مزدوري غواړي او خپل جګړې ځپلي هېواد ته یې رابولي ،چې راڅه خلك مړه او کورونه یې وران کړه خو مونږ خپل مرییان کړه

ز غــره واغونــده مــلا و تــړه پــه جــنګ
د هغــه پــس معرکـــه کــوه د جـــنګ
وبــې نـنګ وتــه د نـنګ خبـرې مـه کـړه
یــا خـــان وګڼــه پــه خپلــو وینــو رنــګ
ننګیــالي ،چـې یــو ځـل مـخ کاپـه یولـوري
نــورهیڅ نــه وینــي کــوهي وي کــه ګــړنګ

(رحمان بابا)

پښتانــه کـــه بـــل څـــه کانــا پــوه دي
بــې لــه تــورې خلاصـی نشـته پـه بـل کــار

( خوشحال)

په نړۍ کښې دوه ابرقدرته و له ۱۹۷۹ تر ۲۰۰۱ م دواړه زمونږ مېلمانه شول په وینو ماړه شول بې پته بې وقاره بېرته لاړل .

## افغان خیالات د لویدیځ د لویو طاقتونو له جګړې سره مخامخ شو

سلام زمونږ بابا ګانو!
مبارك موشه ستاسو بچې په ۱۳۸۰ هـ ل کال کښې د وړې تلې میاشتو کښې د امریکا . انګلیس . فرانسې . روسیې . هند . اروپایي یووالي . ناټو . جاپان . تاجکستان . پاکستان . ازبکستان او نورو مقابلې ته ودرېدل . دا ټول د امریکې په قوماندې او فرمان سره راغونډ او د امریکا سر داري وه د امهال واتر بش د امریکې جمهوررییس دی دولس کاله دمخه د همدغه بوش پلار .چې هغه هم بش نومېده د جارج په اضافه ویلي و : مونږ تر اوسه سم خوب نه شو کولای اوس .چې شوروي اتحاد رنګ شو زمونږ زامن په کرار ویده شول او دا کار د افغان په وینووشو . خو دایې ونه ویل .
نن هماغه امریکا خپل هوایي . ځمکنی . سمندري قوایي دافغانستان په لور و خوځولې او د افغان په خلاف یې د جګړې اعلان وکړ ټوله نړۍ یوه خوا افغانستان بله خوا . مبارك موشه افغانانو .

کاشکې خوان د پښتانه په توره مړ وای
نه چې ګور لره درومـــــی له تلتکه

دا دی افغانان په توره مري له تلتکه نه ځي .
د انګلیستان صدر اعظم توني بلیر د خپل ګوند په کالیزه کښې دهمدغه کال د اکتوبر په لومړۍ ورځ خپله وینا په افغان پېل او په افغان پای ته ورسوله دده په احساساتی وینا انګلیسان دریدل او کښېناستل . "آفرین پر افغانستان" د سپتمبر (۲۰۰۱) په یولسمې څلور مسافر وړونکو الوتکو د واشنګتن له نشنل ریګن هوایي ډګره درې اوله دالاس نه یوه د سهار اته نیمې بجې وې په ځان وژونکو عملیاتو یې د نړیوال

-جارتي مرکز او د امریکې د دفاع په وزارت وغوږخولي .شني لوخړې پورته شوې . د امریکې تلویزونونو دغه صحنې ښودلې ، رښتیا ،چې بده ورځ جوړه شوه.
ټول خلك خوابدي شول مونږ هم .
یوه پلا بې له کوم ثبوت خبره ، عرب بن لادن ،چې افغانستان کښې و او افغانستان ته لاړه.
افغانانو ویل داسړی دلته پروت دی دومره واك نه لري ،چې داسې یوه سپېڅلې کار و کولای شي مونږ ته پوره مدارك په کار دي ،چې شرعاً یې محکوم او مجازات کړو.
د امریکې جمهورئیس او انګلستان صدراعظم داسې عصبي و چې نظامي سوقیات یې پېل کړل.
د سپمتبر په دیارلسمې (۲۰۰۱) بش دومره په غضب وینا وکړه ،چې د امریکې په کانګرس کښې یې سابقه نه درلوده او ټوله خبره یې افغانستان ته واړوله .
دغې وضع په امریکې کښې عرب ، مسلمانان او هغه افغانان ،چې په ډېرې نیازبینې امریکې ته رسیدلي و خواشیني کړل.
دغو نیازبینو ویل : تر پرون مو په ویاړ ویل ،چې مونږ افغانان یو نن سرو نه شو پورته کولای .
زه د افغانستان د جهاد د عیني شاهد په توګه ویلې شم چاچې د افغانستان جهاد کمونست روس په مقابل ګټلی دی بې نومه بې شانه دي د هغوی نومونه الله تعالی سره دي ، دا نور خلك و ،چې جبونه یې له ډالرو ډك شول د ښې روغتیا او بسیا ژوند خاوندان شول (چاوګټله چاو خټله ؟)
په کال **۱۹۸۵** کښې روسانو کمین نیول زده کړل ، محمد اکرم تره کي ،چې په ولسوال مشهور و په یوه بس کښې له غزني نه پاکستان ته راتـه ، خدای نظرخان تره کی او زوی یې هم په دې بس کښې و ، د خدای نظرخان څوی په پښه کښې شهید شو .
د خدای نظر خان پلار نیکه د افغان انګلیس د جهادنومیالي و ،چې دادی اوس روسانو نیولي دي.
ولسوال اکرم تره کی شهید شوی و روسانو دده جبونه ولټول ، خدای نظرخان وایي دده له جبه یوکاغذ ووت ،چې سیداحمد ګیلاني دمحاذمشر د پنځو جمپرونو امر ورکړی ، او لیکلي یې و ،چې یو تکړه مجاهد دې پنځه دانې جمپرونه دی ورکړشي.

افغان پرچمي یا خلقي مزدور صاحب منصب ،چې روسیي کښې یې روسي زده کړې وه خپل روسي بادارته د کاغذ متن څنګه ،چې لیکل شوی و هغسې یې ترجمه کړ روسي خپل نوکر صاحب منصب ته ،چې افغان و وویل : " مونږ په تاسې هر یوه ( کمونست افغانان) څومره مصرف کړی ،چې کوني مودومره غټې شوې دي او دغه مجاهد ته څومره ورکړ شوی دایې کاغذ . دایې پیسې او دایې ډوډۍ ( وچه) دایې شهادت ؟"

ددغې صحنې او خبرو لنډ عبارت دا ،چې تر دغه ژوند ،چې تاسې یې لرئ دغه شهادت شرف لري ،چې خپله عقیده او خپل ایمان لري نه د " ودکا " شرابو غوښې ډوډۍ او پیسو لپاره .

خدای نظرخان وایي ماد خپل شهید څوی سر پر خپل زنګانه ایښی و سترګي مې له اوښوډکې وې افغان کمونست مزدور صاحب منصبانو ته مې وکتل روسي. صاحب منصب خپلو مزدورانو ته وویل تاسې هم ورته وګورئ.

د ۱۳۸۰ د تلې لومړي لس ورځې پورې بین المللي جګړه د امریکه په امراوقومانده پېل شوه دا وخت دوه کورني مارانو سرونه جګ کړل او امریکې ته یې وویل مونږ دې تاسو نه ځارشو قربان مونږ ستاسو غلامان یو یعنې پیاده نظام .

دغه ماران یو زوړ ۸۷ کلن محمدظاهرشاه بل دریاني مسعود خونکار او پرچمي منصب دار دوستم و ،چې د افغانستان په شمال لویدیځ کنج دروسیې . هند ایران تر سیوري لاندې دی په همدغه ناتوانی ،چې پنځه په سلو کښې دی هم تېتر وډباوه ،چې مونږ ستاسو په مخکې جنګیږو .

امریکې دواړه ماران یوځای کړل او په یوې توکرۍ کښې یې واچول مګر په پاکستان کښې په زرهاو زرهاو مسلمانان بازارونو ته راووتل او ویې وویل ،چې مونږ په لومړۍ لیکه کښې د امریکې انګلیس بین المللي دسیسې ته ولاړیو لومړی به مونږ مروبیابه افغانان.

د سپتمبر په ۲۳ چې د تلې د میاشتې لومړۍ نېټه و د بي بي سي لندن پښتو سرویس نه ماسره خبرې وشوې درې سواله مطرح و :

۱. د امریکې حمله پر افغانستان ۲. د ظاهرشاه بیرته راتګ ۳ د عربانو او بن لادن موضوع ،چې په افغانستان کښې دی

ما درې سره سوالونه ځواب ووايه خو بي بي سي دوه سواله او ځوابه ځپاره نه کړل بوسوال او ځواب یې په سهارنۍ خپرونې کښې خپور کړ.

لومړی سواله داسې مطرح شو : د امریکې د لومړۍ پولې مامورینو په خبرو کيې توپير ليدل کېږي علت څه دی ؟

ځواب : د لته په تلويزيونو . راديوګانو او اخبارو کښې يو شمير روحانيون . تحليل کوونکي او تاريخ پوهان وايي پر افغانستان حمله به د امريکې هدفونه تر سره نکړي ښايي .چې نور جنجالونه پيدا کړي او نوي شکلونه به رامينځ ته شي.

افغانان سخت سري خلك دي په لږې دوډۍ ګذاره کوي استراحت نه غواړي خبره به اوږده شي. دېر خلك دلته بشري وجدان لري هغوي نه غواړي بې ګناه عوام و ځوریږي لکه .چې دلته وځورېدل . د جګړې په حالت کښې . داسې يو فاصل حدنه ساتل کېږي .چې عام خلك خو ندي پاتې شي.

دوهم د ظاهرشاه بيرته راتګ اوس ټولنه بدله شوې کله .چې نادر خان په صفوي دوره کښې پکتيا ته راغی ۱۳۸۰ ه ل ۱۹۲۹م د افغانستان دولاياتو قومي مشرانو ته يې ليکونه واستول د هغوی موافقه يې ترلاسه کړه نن هسې د نفوذ خاوندان مشران نشته لکه هغه مهال چې ميرزمان خان د کنړونه يوسر تړلي وای چايي مخالفت نه کاو ببرك خان ځدراڼ يا وزير محمد ګل خان اوس هسې خلك ته دي پاتې او نوی نسل ظاهرشاه نه پيژني.

که چېرې يو خارجي قوت ورسره وي جنګ دوام کوي د روس او ببرك کارمل خبره به شي که په نړۍ کښې بدلون راغلی په افغانستان کښې هم راغلی داسې .چې دوی په رښو سترګو وليدل .چې يو لوی قوت د يوې ايديولوژۍ خاوند .چې عدالت مساوات پرته له طبقات .. ټولنه يې ويل په کومه بې شرمی راغلل کمونستو افغانانوته داسې وينا وی وکړي .چې غوريدلی افغانستان به وي کور کالي دوډۍ.

ددوی سوريدلې ځيرې ددوی برنډې سترګې . يوسبق دروغ . ظلم او بداخلاقي وه خلك مړه شول ښځې کونډې شوې آبادي رنګې شوې هر څه بربادشول دومره لوی بدلون به دوی په څه شي معتقد کړي ؟ کومه خبره به دوی خانله و کاږي

امريکا ،چې وايي د ترووريزم جوړې وباسي داهم هماغه دشوروي اتحاد شعار دی ،چې بې طبقاته جامعه جوړوي داسې نوي طبقات يې رامنځ ته کړل چغيدونکی طبقات هماغه و خوپه دغه معنی ،چې دوی افراد او ملتونه وزبيښي دا ښه خبره او عين عدالت دی .
د ترووريزم جوړې ايستل پخپله ترووريزم دی منظم شوی استکبار دی او خپلې استعماري جوړې ټينګول دي او هغه به نورې پدې رامينځ ته کړي اوس ،چې کوم حالات دي د فردي او ټولنيزې آزادی کمول دي د ترووريزم په نامه ،چې له خلکو امنيت آزادي او مصونيت واخستل شو بيانو څه نوپير دی که ښه نوم ولري يانابښه .
د عمل حاصل هماغه د خلکو وژل له منځه وړل او ځانله ډوډۍ کټل دي دادی ۲۰۰۱ د اکتوبر څلورمه ده يوسپين ږيري افغان چې خپل يولاس يې له لاسه ورکړی و د افغان روس په جګړه کښې ويل يې دا بل لاس به مې د افغان امريکې په جګړه کښې ورکړم.
رحم او ترحم نشته لويديځ د مشرانو له خولې څګونه وزي او دافغانستان په ضد ،خبرې او داسې احساسات ښيي ،چې هيڅ يو افغان ژوندی پاتې نه شي.
د اکتوبر څلورمه د لندن د TV تلويزون په پروګرام کښې د شمال د اتحاد ويندوی عبدالله او ځونوريې وښودل او ،چې دوی انګليس ژور نالست ته وويل :
کله ،چې امريکا پر افغانستان حمله وکړي مونږ به د پياده نظام په توګه ستاسو خدمت کښې يو همدا خبره روان فرهادی په ملګرو ملتو کښې هم کړې وه.
دا کوم نسل دی ؟ دا څوك دی ؟ افغان خوداسې نه وي.
د امريکې د نړيز اتحاد ملګري عربستان او مصر د نظامي عملياتو پلوي نه دي ،چې په افغانستان وي دا وايي ،چې د ترورېزم په خلاف مبارزه کوي.
په دې حال کښې امريکې د مهاجرو او سرګردانو خلکو لپاره دوه سوه شل ميليونه ډالره ورکړل ،کله ،چې امريکې پر افغانستان د حملې اعلان و کړ له ښارونه خلك وتښتيدل او ښارونه تش ودريدل نو دهغوی لپاره يې . دغه مرسته ورکړه څوله ډېر ګرموالي (ملامتی ) ځان وباسي . د خلکو تکليف روحي جـ ـمي ربړ د ماشومانو پښې يبلې روانيدل ، پښې لوڅې تلل په تيږو اوشيلو کښې تلل ،چې فلمونه يې ساعت په ساعت تلويزيون کښې ښودل کېدل د اکتوبر ۲۰۰۱/۴ د انګليس خارجه وزير جاك سترو د افغانستان دخلکو لپاره يو پيغام له بي بي سي او امريکې غږ راديو نه ولوسته ،چې خلك له حکومت نه ليري کړي ده وويل :

اسامه بن لادن او دهغه القاعده تشکیل په امریکا کښې د ترور او وژنو مسوول دي.
دوی ( بن لادن او عرب) ستاسو د میلمه پالنې له عنعنې نه ګټه اخلي او ستاسو هېواد ورانوي مونږ تاسو سره خواخوږي لرو غواړو تاسي او ستاسو اولادښه ژوند ولري
وروسته دسپتمبر له یوولسمې د ټولې نړۍ راډیو ، تلویزیونونو اخبارونو لومړی خبرونه تبصرې همدغه د افغانستان خبره وه په داسې حال کښې ،چې ځینو هېوادو خوا خوږې ښودله پاکستاني حکومت له انډیوالۍ لاس واخیست مګرملت یې همغسې ولاړ و.
د انګلیس خارجه وزیرویل : زمونږ دښمني له اسلام سره نه ده زمونږ دښمنی تروریزم سره ده ترهګری څه شی دی ؟ چیرته ده ؟ څومره ده ؟ کوم عسکری ترتیبات ،چې نیول شوي دیوه ډېر قوی ددولت لپاره هم ډېر دي .
سړی نه شي پوهیدی افغانستان باندې ولې داسې ورځ راغله ،چې د رحمان بابا د ابیت د سړي یاد شي.

زه رحمان په سل حلقو دزلفو بندیم
لاد پاسه سور پیزوان شه بله نته

د اکتوبر په شپږمه د مکی معظمې امام جمعه دامریکې برید پرافغانستان باندې ناوړه عمل وباله.
دغه موضوع چې امریکایي په دغه ډول پر مخ بیایي د اسلام او نصاراو په جګړه بدلېږي
د انګلیستان صدر اعظم توني بلیر په پاکستان او هندوستان کښې د طالبانو د حکومت دپای اعلان وکړ جنرال مشرف د پاکستان پوځی مشرظاهرشاه ته وویل :
د ملي وحدت دشورا دوهمه غونډه دې د افغانستان سرحد ته نژدې وکړي د محمدظاهر خلکو دا خبره ددقت وړ وبلله.
که څه هم زه د شوروي اتحاد او کمونستانو د راتګ او تګ شاهد وم بندونه هجرتونه پرخان باندې تروریستي اقدام هر څه مې ولیدل مګر د ۲۰۰۱ د سپتمبر ۱۱ وروسته چې ټوله نړۍ خپل او پردي طالبانو خلاف ودرېدل په زرهاو عسکري الوتکې ،کشتی دافغانستان په لور رواني وي ډېرې سختې شپې ورځې وې .

د عالم ډېری خبرې لور ترلور تورې لښکرې
زړه نه خوځي له ځایه غرخو هسې وي کنه

همداسې وه نه پوهېږم ولې د نړۍ دا ډول عمل ماته دهلکانو لوبه ښکارېده او زړه ته مې داسې نه راتله ،چې ګواکې یو منطقي عمل به وي او ښه پایناب به ولري د غرب یالویدیځې نړۍ دا دپېړیو پېړیو حاکمیت نه ختمېږي .
دا به همداسې وي ،چې دی .
ځینې نښې برېښي ،چې دوی له عقله لیرې کېږي همدا به دیوې تباهۍ څرګندوی وي افغان خیالات د هر څه لپاره یوه لاره لري . میړانه نامېړنتوب توپیر لري .
صفاریان ، غزنویان . غوریان . هوتك . ابدالیان چې هر یو یوه امپراتوري وه ایا دوی نظام نه درلود . وسله . کالي طبابت . ادب . عدالت نه و .
د همدې کال د اکتوبر په شپږمه د امریکې جمهورئیس وویل :
همداسې ،چې جاپان مو ودان کړ افغانستان به هم ودان کړو د اکتوبر په اوومه قندهار ، هرات ، قندز . مزارشریف کابل او جلال آباد د انګلیس امریکي الوتکو . کروز میزایلو دوه نوبته بمبارد کړ .
دغزې په ترانګه کښې فلسطنیانو مظاهره وکړه د انګلیس امریکې بریدیې پر افغانستان وغانده ژوندی دې وي افغانستان . بن لادن شعارو ځلور فلسطنیان په دغې مظاهرې کښې شهیدان شول . وایي خپلو فلسطنیانو ووژل اندونیزیا . تایلند مالیز یا . بنګله دېش . پاکستان کښې هند کښې مسلمانانو د انګلیس امریکې په خلاف کلکې مظاهرې وکړې د امریکې او انګلیس سفلرتونه ټولې نړۍ کښې ددولتې عسکر او پولیسز له خوا د ساتنې لاندې نیول شوي و .
افغانان په منډو په جګړې بوخت دومره غټو الوتکو ،چې په ټنونو بمونه یې غورځول کروز میزایل راتلل . دشمال اتحاد او ظاهرشاه ویلي و همدا ،چې د امریکې انګلیس حملې پیل شي له شمال او جنوب نه به کابل ته نژدې شو او د طالبانو حکومت به وغورځوو . په خارج کښې هم یوشمېر افغانانو حملې ته خوشحالي کوله او چاله غمه ژړل زه هم بویت وم ،چې غږنه را خوت او سترګې مې نه غړیدې .
شمالي اتحاد او ظاهرشاه خپلې وعدې امریکې سره پوره نه شوې کړای ځکه طالبانو نه پرېښودل ،چې مخکې قدم کښېږدي امریکه ،چې پردوی حساب کاو نوریې ددوی نوم په خبرو کښې نه اخستی

د اکتوبر په لسمه تلويزيونوو ښودل ،چې پرته له دې چې بمونه يې غورځولي وي خپلې له بموډکو الوتکو سره بيرته راغلل ،چې نور روغ ځای نه دی پاتې .
د ايران دولت د انګليس امريکې ونه منله او ددوی بريديې تروړ وباله د پاکستان دولت او هند دولت دواړه لاس په نامه انګليس امريکې ته ولاړ و مګر د پاکستان مسلمانانو دومره خواخوږي وښودله ،چې حالات ګډوډ بربښندل او ديو شورش په څېر و.
د اکتوبر په لسمه خلکو اروپايي هېوادو کښې پر افغانستان د انګليستان ، امريکې د بريدونو له امله مظاهرې وکړې.
په همدغه ورځ وويل شول ،چې پنځه زره ټنه بمونه پر افغانستان و اورول شول چين او روس ، امريکې ته سلامي شول او د امريکې او امرو ته چمتو و ( درېدل ) د اکتوبر په يولسمه بمونه ډېر شول اورونه بل و غرونه غرونه لوګی له کابل او قندهاره جګ شول افغانانو په دغه دنيا کښې د انګليس امريکې دوزخ کښې لاښکته پورته منډې وهلې او د مدني نړۍ اخلاقو ته يې کتل.
د ۲۰۰۱ ميلادي کال د اکتوبر په (۱۱) يوولسمه دامريکې عسکر پاکستان کښې ښکته شول او اعلام وشو د کابل د نيولو په نيت خوځيږي .
د طالبانو نماينده په اسلام آباد کښې خبريالانو ته وويل :
" ربښتياني جګړه اوس پيل کېږي".
دا لويديځ دی دا ترقي او پر مختګ چاره هېو کوته ورسيده يو شمېر افغانان خوشحالي کوي ،چې طالبان سقوط کوي ، مګرنه پوهېږي په کومه بيه ؟
د ټولې نړۍ په شريك طاقت دا ورشتنی زور دی بشر او بشريت په امريکې کښې هره مسافر وړونکې الوتکه ددوو جنګي الوتکو په مرسته عادی الوتنې کوي د امريکې جمهوررئيس او اميرالمومنين دواړه په پټو ځايو کښې هستوګنه لري ظالم هېواد او مظلوم دواړه په آرام نه دي دا تيری کوونکي دي پر هغه تېری شوی دا مور دی هغه وږی دا په زرها و الوتکې لري هغه يې نه لري . نن هر افغان د شپږ زرو اروپايي او امريکايي په مقابل کښې ولاړ دی .مولانا جلال الدين بلخی

ورعیان خواهی صلاح دین نمود که رښتیا غواړي دین ته یې ښه وکړه دیده ها را کرد بنا و گشود سترګې یې روښې کړې او پرانستلې شیخ فعالست بې آلت چو حق شیخ فعال دی پرته له الله لکه حق خپلو مریدانو بامریدان داده بې گفتی سبق ته یې دغه سبق ورکړي .چې خبره مه منه.

د مولانا دا وینا ده .چې دا ددین په ښیګڼې دي د ړندو سترګې یې روښانه کړې شیخ بې له کومې وسیلې فعال او غښتلی دی لکه حق تعالی او دا سبق یې ورکړي .چې دچا خبره به نه منئ.

په دې شپو ورځو کښې د ټولې نړۍ خبرونه د افغانستان له جګړې پېل کېږي .چې انګلیس امریکا پېل کړي دي دادی دترکیې حکومت خپله عریضه وړاندې کړې ده .چې مونږ هم دجنګ لپاره افغانستان ته ځو.

هو هلته بېوزلی ملت دی هغه زمری دی .چې هر بل هېواد یې له وېرې بې خونده دی بیا حضرت مولانا :

عـــــار نبودشــــــیر رااز سلســــــله
نیســــت مــــاراز قضــــا حــــق گلــــه
شــــــیررا برگـــــــردن ارزنجیربــــــود
برهمــــــه زنجیـــــر ســــازان میــــر بـــود

زمري لره عیب نه دی چې په غاړه یې زنځیر وي
مونــږ د حــق لــه قضــا ګیلــه نــه لــرو
کــــه د زمــــري پــــه غــــاره زنځیــــر وی
دټولــــو زنځیــــر جــــوړوونکی میــــر دی

(۲۰۰۱) د اکتوبر په یوولسمه .چې د نیویارک او واشنګټن له پېښې یوه میاشت وروسته وه غیاث الدین د انګلیس د مسلمانانو استازي په ولسي جرګه کښې وویل د انګلیس ، امریکې د پراخې حملې د تروریزم د ډېریدو سبب کېږي نه د لږیدو. دبی سرحد د.کتورانو مشر وویل :

دا چې د امریکې حکومت ډوډۍ او درمل له هوا پر افغانستان غورځوي

هغه ته بشري کمك وايي داغلطه ده او هیڅکله بشري کمك نه دی .
یو ورور وژني بل ته ښه ډوډی ورکوي احمقانه دی
دینه مخکې یعنې د اکتوبر په لسمه په قطر کښې د اسلامي کنفرانس په غونډه کښې ،چې ددغو هېوادو د بهرنیو چارو وزیرانو پریکړه وکړه ،چې دغه حمله د اسلام په مقابل کښې ده وروسته له افغانستان څخه د نورو اسلامي هېوادو وار دی . د امریکې لپاره د شرم خبره ده پر یوه جګړې ځپلې هېواد باندې دومره سخته حمله کوي دوی باید دغه حملې بندې کړي.
کپتاون جنوبي افریقا ، اردن ، پاکستان کښې د افغانستان د ملاتړ لپاره مظاهرو دوام درلود.
په همدغه ورځ اسمعیل خان د هرات پخواني والي اعلان وکړ ،چې د امریکې له مرستې سره به دوی د پیاده په توګه خدمت وکړي.
د بلوچستان په کوټه کښې یوه لویه مظاهر په خوځښت بدله شوه یوولس تنه ټپیان شول پولیسو پر دوی اور وکړ دوی ناره وهلې ژوندی دې افغانستان مړه دې وي امریکه ، امریکه به لومړی زمونږ سره مقابله کوي.
په امریکې کښې افغانان له امریکې غواړي ژر دې خپلې حملې پر افغانستان پیل کړی دا هماغه افغانان دي ،چې ستمیان بلل کیږي او د پښتنوسخت خلاف دي مګر پښتانه هم ورسره دي ،چې له ځانه خبرنه دي .
زر تنه نور د پاکستاني خلك کویټې ته راغلي ،چې د اکتوبر په دولسمه د امریکې انګلیس په خلاف مظاهرې وکړې . په همدغه ورځ په همدغه صورت په ایران کښې هم د مظاهرو اعلان وشو.
مونږ که د چنګېز د حملې په مهال نه وو دادی د امریکې ، انګلیس حملې ونیو. اوس د چنګېز دوه زامن دي " تولی " او " اکتای" چې په افغانستان کښې یې ویجاړول او وژل کول اوس د تولي په ځای د انګلیس صدراعظم " توني بلیر " او د اوکتای پر ځای " واتر بش " دی دوي څلور واړه د افغان خیالاتو ته راپا څېدلي . خواته سوه کاله په مینځ کښې تېر دي د چنګېز او " توني بش " توپیر تخنیك دی چنګېز هوایي قوه نه درلوده نور یو ویښته توپیر نشته چنګېز جلال الدین خوارزم شاه غوښت انګلیس ، امریکا اسامه بن لادن غواړي.

توني بش - د یو ویشتمې پېړۍ تولي او کتای دي دا به ډېر اوږده شي چې ددوی ورته والی و خېړل شي یو ډول وژل وشول وپجاړول توپیر بل دا و چې د چنګېز اولاد مسلمانان شول.

زه تېوله ورځ او شپه تلویزیون ګورم او د چین ،جاپان ،چرمني ، انګلیس ، فلیپن ، هند ، فرانسه او نور پروګرامونه ګورم . له رادیونه بي بي سي ، ایران ،جرمني آزاد اروپا خبرونه اورم او دلته یې لیکم.

د اکتوبر ۱۱ یو عادي افغان ،چې کوریې رنګ شوی و بنځه او لونې یې تېپیانې شوې وې د خپل کور کنډ والوته ولاړ و په فارسي ژبه یې وویل :

دلته نظامي هیڅ شي نشته . دوی ناحقه د یحي او شکر دره بمبارد کړه دغه نښې خپلو افغانانو په غلط امریکې ته ورکړي دي.

دفرانسې تلویزیون یوه ستره مظاهره وښودله ،چې بمبارۍ دې بندې شي کراچۍ کښې سخته مظاهره وه (عمران) امران خان د انصاف پارټۍ مشر وویل : د پاکستان جمهورئیس دې امریکې ته ووایي ،چې بمباري دې بندې کړي .

ده هم دا خبره وکړه ،چې تروریزم زیاتیږي کمېږي نه دا طریقه نه ده داسې بریښي ،چې د افغانستان دشمالي اتحاد غواړي له ظاهرشاه ښېل عمل وکړي . نود پادشاه ډله وارخطا شول . وې ویل ملګري ملتونه دې نه پرېږدي ،چې وروسته له طالبانو کابل ته ننوزي همداسې نور و جهادي قوماندانان یې ښودلي توني او کتای د چنګېز زامن هم عربي ملکوته سفرونه کوي ،چې د تروریزم په برخه د امریکې انګلیس ملګري شي.

هوایي برتري ترلاسه کول خپل افتخار بلل انګلیس ،امریکې ته دشرم خبره ده چې طالبان هوایي قدرت یانه لري یا د انګلیس ،امریکا ، ناټو په مقابل کښې ګواکې هیڅ نشته دا پنځه شپې کېږي ، چې کابل انګلیس ، امریکا پرله پسې بمباري کوي .

د امریکې فیدرالي پولیس (F.B.I) وایي په لنډو ورځو کښې به نور تروریستي عملیات وشي.

دغه اعلان خلك وارخطاکوي ،د امریکې جمهوررئیس وویل د طالبانو او القاعده ځلوېښت میلیونه ډالر یې کنګل کړې دي د اکتوبر په دوولسمه بش وویل :

دابه یوه اوږده جګړه وي . په دغه مطبوعاتي کنفرانس کښې بش یو څه نرمې خبرې وکړې د مثال په توګه ده وویل : " زمونږ وظیفه دانه ده ،چې د افغانستان لپاره

حکومت وټاکو اوس هم که طالبان اسامه بن لادن راوسپاري مونږ حملې دروو . مونږ غواړو ،چې افغانستان کښې داسې حکومت راشي ،چې خپلو ګاونډیانو ته خطر نه وي.
همدارنګه بش وویل : امریکا یې هلکان دې کار وکړي یو ډالر دې ترلاسه کړي او هغه دې د افغانستان ماشومانو ته ولېږي " بش د (F.B.I) خبره تایید کړه ،چې تروریستي عملیات به وشي ټول خلک دې چمتو وي که کوم غیر عادي شی یا حرکت ووینې پولیسو ته دې خبر ورکړي.
انګلیسي ترجمه شوی قرآن شریف خرڅېږي خلک غواړي په اسلام پوه شي دغه آسماني کتاب ډېر خلک اسلام ته واړوي.
حضرت مولانا جلال الدین بلخي خبري هم هسې وړیانه دي دی هم یو لوی موجودیت دی لکه رحمان بابا
تاسې هرڅه وایي زه په سختو شیبو کښې دغه دواړه حضرات غږوم د اکتوبر په دوولسمه پاکستان کښې د کلکې مظاهري اعلان وشو په تېره بیا په کویټې او پېښور کښې په همدغه ورځ خلک پېښور او کویټې ته راتلل چې مخه یې ته نیول کېده .
یوه ورځ مخکې یعنې د اکتوبر پر یوولسمه د پاکستان په سرحدي کښې دوه زره لاسي بمونه ونیول شول که دغه بمونه د پاکستان هغه خلکو ته رسیدلي وای نو مظاهرې په بلوا بدلېدلې په داسې حال کښې ،چې دامریکې عسکر پاکستان ته رسیدلي دي .
په اندونیزیا کښې وروسته کلکې مظاهرې وشوې د اندونیزیا حکومت د امریکې او انګلیس سفارتونه تر څارنې لاندې نیولي پاکستان هم یوه شپه مخکې ښارونو ته نظامي افراد رسولي
په نړۍ کښې پراخوامظاهرو انګلیس ، امریکا وارخطا کړي او ښکاري ،چې د طالبانو حکومت بشپړ محبوبیت لري په دغو مظاهرو کښې په زرها میرمنو پېغلو ګډون کړی.
دا چې حجاب په افغانستان کښې عملي کېږي داسلامي نړۍ ښځو په دې خوشحاله شوي دي څکه مېرمنې او پېغلې په پراخه پیمانه راغلي دي.
په اندونیزیا کښې مېرمنې په لومړۍ لیکوکې وي .
په اسپانیې کښې د انګلیس امریکې پرضد مظاهري پراخې وي په ټوله اسلامي نړۍ کښې پادشاهان جمهوررئیسان یاسرعرفات . امیرانو . شهزاده ګانو په زړنو سترګو

لیدل ،چې د اسلامي نړۍ واقعي مشران اوس دوه دي روحاني او سیاسي ،چې ملا محمد عمر او بن لادن دي. او نورد انگلیس . امریکې مزدوران دي.

## پر افغانستان باندې د انگلیس امریکا د حملې لومړۍ جمعه څنگه تېره شوه ؟

د انگلیس امریکې نظامي حمله پر افغانستان پېل شوې د اکتوبر په دوولسمه لومړۍ جمعې ته ورسېد دوی د جمعې په شپه په کابل او مزارشریف سختې حملې وکړې دا دومره کلکې وې او غړونه یې جگ ،چې په لیرې خایو کښې یې ښیښې ماتېدلې ښځو او ماشومانو چغې وهلې.

گوډ تیمور ویلي و کله ،چې د هرودت ښار اور واخیست د خلکو چغې د اور ټکار او دانسانانو سرونه ،چې نیني کیدل او ښونه یې ختل ماته یې خوند راکاوه . ددغو بمونو ټیپونه ،چې توني بلیر او بش اوریدلي دوی خوند ترې اخستل . د بش په مطبوعاتي کنفرانس کښې داهم ویل کېده چې عملیات به کلونه ونیسي.

په ایران کښې وروسته د جمعې له لمانځه د انگلیس ، امریکا د حملو پر ضد ،چې افغانستان باندې روانې دي خلکو عالمانو او مشرانو د مظاهري په توگه لاره وو هله. د ایران مشران وایي ،چې امریکا غواړي ټوله نړۍ نظامي کړي او دغه خبره د خلکو زړو ته غورځېدلې او پرله پسې شعارونه یې وزکول د افغانستان مظلوم ملت مه وژنی!

په زاهدان کښې مظاهره کوونکیو د پاکستان په قونسلگري حمله وکړه ،چې پاکستان ، امریکې سره لاس یو کړي او د افغانستان په خلاف یې جگړه پېل کړې .

په کراچۍ کښې شل زره مسلمانانو خوځښت وکړ د پاکستان د پولیسو سره یې . لاس واچاوه یوولس تنه ټپیان شول.

په قاهره کښې د الازهر محصلین او نور دجمعې له لمانځه وروسته سرکونو ته ووتل فلسطینان په غزا کښې پر له پسې شهیدان او ټپیان شول ،چې د فلسطین د پولیسو له خوایې مخه نیول کیده په تېره بیا ،چې د اسامه بن لادن تصویرونه د مظاهره چیانو په لاس کښې و دمشق ، سودان ، عمان ، کېټاون. تایلند ، اندونیزیا کښې دوه تنه

زخميان د ملګرو ملتو د بشر د حقوقو موسسې له انګليسي ، امريکا نه وغوښتل .چې د څو ورځو په چين کښې يو سلو اتيا تنه مسلمانان بنديان شول.
پاکستان کښې مجاهدو زلميانو خپل نومونه ثبتول .چې که د امريکې عسکرو مقابلې ته افغانستان ته لاړشي دوی د جهاد او جګړې لپاره دومي.
يونس قانوني د شمال د اتحاد په نماينده ګی وويل .چې امريکا بايد . زمونږ جبهه د طالبانو له وجوده پاکه کړې او بمباري دې و کړي .چې مونږ د پياده نظام په توګه د امريکې لپاره خدمت وکړو هغه دا هم وويل .چې د غور ولايت کښې يې ډېر خايونه نيولي دي او ځوولسوالی په فراه کښې له طالبانو له خوا دوی ته ډېر خلك اوښتي دي خو اوس ددوی په خبرو څوك باورنه کوي.
د طالبانو له لوري ويل کېږي .چې امريکايان د ژوند لپاره تيار دي مونږ د مرګ لپاره .
دا چې ملکي خلك ماشومان او ښځې وژل او کورونه وران شو يونس قانوني دې نه انکار کوي حال دا .چې مونږ يې په تلويزيون کښې وينو دلته خارجي چينلونه دي .چې په واشنګټن کښې ښځ په ښځه له خپلو هېوادو خپروني کوي
لکه د چين ، جاپان ، فلپين ، جرمني ، فرانسه ، پوليند، يونان او نور د اکتوبر په دولسمه ۲۰۰۱م ازبکستان ومنله .چې خپله خاوره امريکې ته پرېږدي څو له هغوځايو پرافغانستان ځمکني او هوايي بريدونه وکړي.
د افغان انګليس ، امريکا جګړې .چې د تروريزم په نامه يې يادوی هر څوك ډول ډول تبصرې کوي.
بش د امريکې جمهور رئيس وويل : که طالبان اوس اسامه بن لادن د القاعده نور مشران په لاس راکړي مونږ به حملې بندې کړو.
طالبان .چې په اسلامي نړۍ کښې ډېر پلويان لري او مسلمانان په حرکت راغلي په امريکا کښې ډول ډول وېرې په خلکو کښې خپرې دي.
که چېرې طالبان له منځه لاړشي په حقيقت کښې به نه وي تللي ددوی موجودوالی او د هغوی نوميالیتوب به د نړۍ په مسلمانانو کښې پاتې وي د بل وار راتګ امکان به يې ډېر وي ؛ ځکه د کمونستانو ايديولوژۍ ماته وخوړه اسلام ته دا خطر نشته ، مسلمانان د امريکې بريد پر افغانستان يا القاعده نه بولي هغه پر اسلام بولي .چې

یو اسلامي دولت د نمونې په توګه نه مني : ځکه د تقلید مرجع به وي . د طالبانو نظامي کلکوالی هم دې اداري لپاره اهمیت لري ګاونډیان هم له هغه ویره لري البته حکومتونه یې.

کله ،چې لومړۍ جمعه تېره او په زرهاو تنونه بمونه پر افغانستان و اوړول د اکتوبر په دیارلسمه امریکا د شنبې په ورځ پر کابل او قندهار بېرته بمباري پېل کړې ، د انګلیس ، امریکې مشران ګډ وړ وایي کله مذهبي خبرې کله د افغانانو لپاره وعدې ،چې اوس به ستاسو کورګی وران بیابه یې بېرته جوړ کړو.

د شنبې په ورځ یو افغان له مزارشریف څخه وویل : لومړي خلك ډېر په ویره کښې و خوچې حملې پېل شوې دوی ولیدل هماغه د شوروي اتحاد بریدونه دي او دا ددوی ته نوی نه وه د ذروي خلاف موسسې یوه لویه مظاهره په لندن کښې وکړه ددغې موسسې رئیس وویل : د انګلیس ، امریکې حملې د تروریزم مخه نه شي نیولی نورې لاړې دې ولټول شي د اکتوبر په ۱۳ د تهران راډیو وویل ، په تاسیحیریا کښې د انګلیس ، امریکا حملې پر افغانستان باندې وغندل شوې په یوه سترې مظاهرې کښې شپاړس تنه په شهادت ورسیدل ټانکونه اوعسکرتوی شول ،چې د مظاهرو مخه ونیسي هر څوك ،چې دغه پېښه لولي ددغو شهیدانو روح ته درودونه واستوي.

په جلال آباد کښې امریکې ، انګلیس او ملګرو بمونه و وروېدل او وروسته یو بله شپه مړي وایستل شول د اکتوبر د ۱۳ د بمبار یو ویاړ انګلیستان په غاړه واخیست.

داخلي دښمنان غواړي ،چې امریکا دې لومړۍ کرښې کښې د طالبانو قوتونه بمبارد کړي ،چې بیا دوی پر مخ لاړ شي.

په همدغه ورځ د مرنجان غونډۍ په کابل بمبارد دغه غونډۍ د مکرویان شاه شهید ، حضوري چمن ، سیدنور محمد شاه مینې ترمنیح پرته ده چا که دغه غونډۍ لیدلې وي ډېر کورونه په همدغه غونډۍ کښې جوړشوي څنګه دوه سوه مربعه مترکې بمبارد وشي او همدلته کورونه هم وي بیا وایي دوی د خلکو هستوګن ځایونه نه ولي.

د امریکې غږ راډیو په انګلیسي خبر ورکړ په برلین کښې پنځه ویشت زره خلکو د امریکې د حملې د غندنې لپاره مظاهره وکړه په روم او سویدن کښې هم مظاهرې وشوې .

## توني بش او دهغوي د کتورين

توني بلير د انګلستان صدر اعظم واتر بش د امريکې دجمهورئيس ، دتوني بلير نوم : ځکه مقدم راځې ،چې انګلستان په سړې خوړلو کښې تر امريکا مقدم دی او امريکا وروسته توني او بش د چنګيز سکني دی د چنګيز دوه زامن ( توني او اکتای) هغوي پخپله اصطلاح غله پسې ګرځيدل ،چې هغه غل سلطان جلال الدين خوارزمشاه او دهغه پلويانو پسې ګرځيدل خلك يې وژل او کورنه يې ورانول ونې يې ايستلې ، ښارونه يې ورانول ،چې د بنستې تيرې يې هم ايستلې.

( توني بش ) اسامه بن لادن تر وريست بولي او د هغه په ملګروپسې ګرځې دادی ، کابل ، قندهار ، جلال آباد ، هرات ، قندز او مزارشريف باندې د نرۍ په ډېرو پر مخ تللو جنګي الوتکو په سرولمبو اوشنو لوخړو کښې سوځولي دي.

**( توني بش ) او مارشال ستالين:** ستالين ويل يا مونږ سره يا زمونږ دښمن سره توني بش د ټولو نړۍ هېوادونه وويل يا مونږ سره يا تروريستانو سره د نړۍ ټولو هېوادونه روسيه ،چين او هند لکه سپاهيان ورسره ودرېدل واړه هېوادو ټول مګر ايران ، سوريه او عراق.

سلامي شوی هېوادونو و ښودله ،چې دوی خپلواکی نه لري ، ځينې ايراني پوهانو ويل ،چې طالبان د ايران دښمنان دشعيه دښمنان دي ، د فارسي ژبو د ښمنان دي ايران څنګه داسې وکړل؟ چا چې د کتوري اخستي ده په دې نه دی پوهېدلي ،چې مسلمان له مسلمان سره درېږي په هغه صورت کښې ،چې د مسلمان جنګ له کاپر سره وي.

**توني بش او هتلر :** هتلر ويل جرمني ترټولو لوړ دی ، ( توني بش) يا ( توني اوکتای) د نړۍ لارښونه کوي او امريکا تر ټولې نړۍ لوړه بولي په نظامي ، سياسي او اقتصادي اعتبار په نژادي اعتبار هم ، لوستونکي پوهېږي ،چې سپين امريکايان اصلي خلك دي.

د تاريخ په اعتبار هغوی ،چې تللي توني بش هم تلوني دي.

په افغانستان کښې افغانان او د باندې له افغانستان نه اروپا او امريکا کښې افغانان داسې ډېر دی ،چې توني بش ته سلامي دی له بلې خواپه نړۍ کښې مسلمانان او غير مسلمانان په زرهاو ،زرهاو سرکوته وزی او د توني بش ياتوني اوکتای مخالفت کوي،

ACKU

په جرمني فرانسه ، انګلستان اسپانيه .... خلکو د امريکې ،انګليسي حملې پر افغانستان وغندلې او دالرۍ روانه وه يوازې په برلين کښې پنځه ويشت زره خلك وتلي و د اکتوبر په څوارلسمې خبري آژانسو وويل په نايجيريا کښې په دې مقصود ،چې حملې بندې شي دوه سوه تنه په شهادت ورسېدل.
په پاکستان کښې مظاهرې د خوځښت بڼه نيولې ده
د هند په لکنهو کښې دهلي ، مالیزيا ، فليپين ، تايلند ،اندونيزيا کښې دغو مظاهرو غير عادي او اضطراري حالت رامنځ ته کړي آيا سبابه ددغه ناځوانمردانه عمل حساب له خپلو افغانانو سره نه کېږئ؟
چې نه اسلامي احساس لري نه افغان دي آيا دوی افغان بللی شئ ؟
د اکتوبر ۱۴ د ۲۰۰۱ع کال بمباري روانې وې د کابل د اوبو بريښنا او مخابراتي چارې ويجاړې شوې دا يوازې کابل نه و قندهار ، هرات هم داسې و.
په نايجيريا کښې دشهيدانو شمېر دووسووته ورسېد دغه پېښه د "ناکي" ښار ګوټي کښې وه په کابل کښې د اتوکسانو محاکمه پيل شوې ،چې د مسيحيت تبليغ يې کاوه دوی د خيريه کارونو لپاره راغلي و ، "شلترناو" نوميده په اصل کښې جرمنی موسسه وه په دې اتوکسانو کښې دوه امريکائيان څلور جرمنيان او دوه آسترالیايي (هشايي مطلب اطريش وي ) طالبانو اجازه ورکړه بهرني خبريالان ننګرهار ته لاړشي اود خرم کلي وګورئ هلته پر ملکی کسانو انګليس . امريکا بمونه غورځولي و يو سل اتيا تنه ، ښځې نارينه او ماشومان وژل شوي و.
د پاکستان په جيکب آباد کښې هغه مسلمانان ،چې پر افغانستان د بمباريو دغندلو لپاره مظاهره کړې وه څلور تنه شهيدان شول يو ولس تنه ټپيان شوي و
په عربستان او کويت کښې په يو جرمنی او يوه امريکا يې باندې حملې وشوې ، د انډونيزيا پايتخت کښې پنځه شپېته د مظاهرو لپاره ونيول شول د افغانستان د جګړي ځيلې بې رحمانه حملو له امله په ټوله نړۍ کښې مظاهرې او ښورښتونه روان دي او دا خبره کېږي ،چې بمباري سرورته مشروعيت ورکوي.
د امريکا دفاع وزارت وويل په کابل کښې يو راکټ په ملکي ځای ولګېد او خلك مړه شول دوی وايي ،چې امريکايي عسکرو غوښتل په هوايي ډګر کښې يو هيلو

کوپتروولي کمپيوتر سم نه و د خلکو په کورونو ولگېد طالبان وايي يوسل آتيا يادوه سوه تنه شهيدان شول.
د القاعده مرستيال د الجزيري د تلويزن له لارې وويل : مسلمانان دې په الوتکو کښې سفرنه کوي او په دنگو ماڼيو کښې دې نه اوسېږي .بش وايي داهسې يوه خبره ده د امريکې په فلوريدا نيويارك اونيو وادا په ايالتونو کښې د " انترکس" په نامه ديوې خطرناکې ناروغۍ نښې ليدل شوې او دغې خبرې دا ويره پيدا کړې .چې که دغه ناروغي خوره شي د خلکوژوند به له خطر سره مخامخ شي ددغو دواړو خبرو ربښتيا او دروغ به وروسته معلوم شي.
په امريکې کښې يوې اقتصادي موسسې وويل : دا واقعيت بويه و منو .چې اقتصادي بحران پيل شوی.
يوه ايراني تلويزيون د رنگارنگ په نامه وويل : د افغانستان خلك نيك مرغه دي .چې حالات په کښې ژر بدلېږي ، ددې خبرې مطلب داو .چې ۱۹۸۰ وروسته په افغانستان کښې ډېر حکومتونه لاړل او راغلل مگرپه ايران کښې هماغه دخميني رژيم دی.
په افغانستان کښې ، تره کي ، امين ، ببرك کارمل ، نجيب الله ، صبغت الله ، رباني ، مسعود حکومتونه يوپه بل پسې لاړل طالبان راغلل که طالبان لاړل وروسته له هغه به وي .چې تولې نړۍ سره يې پنجه ورکړه انگليس ، امريکا ،اروپا او ناټو چين ، روسيه ، هند ، پاکستان او نور د شرم پر تخته ودرول شول او څرغوړونه يې کړل.

هر ساعت زما دغوړ په تاوولو
د فلك لاسونه شنه شوه ترخنگلو

(رحمان)

دوهمه اونۍ ده د انگليس او امريکې د ميزايلو او بمونو اورول پر افغانستان پيل شوی و د اکتوبر پنځه لسمه وه په کابل ، قندهار ، مزارشريف .جلال آباد ، د امريکې انگليس او د هغوی ملگرو بمونه او ميزايلونه و اورول چيرته يو داسې کور .چې لويه او سپنه وه د اسامه بن لادن د هستوگنې ځای يا د طالبانو د مشرانو په نوم وويشتل شو او بې گناه خلك يې ووژل B۵۲ هغه الوتکې دي .چې لکه چرمنکۍ تنه او وزری سره نښتي وي ډېر غټ د بمونو اوږدې ځيلۍ لري او په دم ساعت کښې په سوونو او زرونو

بمونه غورځوي دا افغانستان دی دوه پېړۍ د انگلیس ، روس او امریکې وحشیانو په اور کښې سوځي.
په دغه ورځ پاول د امریکې دبهرنیو چارو په وزیر اسلام آباد او پاکستان ته له هغه ځایه دهلی هندوستان ته په ظاهر کښې د افغانستان موضوع دوی سره ځېړي مسلمانان هره ورځ سړکونو ته وزی فریادونه کوي حکومتونه یې د وحشي انگلیسانو او امریکایانو په خوله ولاړېږي کښیني.
ټوله نړۍ وحشي شوې نه ده انسان خلك په زرهاو زرهاو سړکوته وزی امریکا غواړي هند او پاکستان دواړه په خپل لاس کښې وساتي.
دواړه اتومي بمونه لري شخړي لري دواړو هېوادو کښې مسلمانان دي . د مسکو رادیو پښتو خپرونې په یوه تبصره کښې وویل اوس د انگلیس ، امریکې د بریدو دوهمه اونۍ شوه یو هفته وروسته به له ازبکستان ، پاکستان او نورو ځایو عسکر پېلي شي او د القاعده او د طالبانو حکومت به وغورځي او ځمکنۍ جګړه به پېل شي
روسیه ، هند ،چېن چې سمدستي د امریکې خدمت ته چمتو ولاړ دي ژربه پوه شي ،چې دغه ظالمانه وحشیانه رزیلانه حملې اصلي هدف افغانستان نه دی ستاسو د نوکرولو لپاره دی.
افغان ملت ، قانع ، صابرملت دی (ان الله مع الصابرین) د افغانستان جغرافیا همداسې ده ،چې زرهاو کلونه یې په اخ وډب تېر کړي د غه ټول تېري کوونکي ،چې افغانستان ته راغلي او تللي دوی احمقان و ،چې د حماقت تاریخ یې پرېښود.
د پاکستان نظامي حکومت مخکې تردې ،چې د امریکې بهرني وزیر پاکستان ته لاړشي درې سوه تنه اسلامي فعالان ونیول او د هغوی مشران لکه مولانا فضل الرحمن یې په کور کښیناوه.
یکشنبه ،چې د اکتوبر ۱۴ وه په روم کښې پنځه سوه مسلمانانو د افغانستان د بمباریو په برخه کښې ،چې وحشي امریکایانو او انگلیسانو پېل کړي مظاهره وکړه . د مظاهرې مشر وویل : بن لادن تروریست نه دی د اسلام مجاهد دی او د نیویارك واشنگټن په پېښو کښې لاس نه لري د مراکش مشهور توپلو بیال ( قبالیت) وویل بن لادن زما ورور دی زه له هغه سره ولاړیم اوس دا روحیه پیدا شوې ،چې د مسیحیت او اسلام جګړه ده .

# افغان خیالات

په تاریخ کښې افغانان په خپل ځای دي کوروش ، داریوش ، سکندر ، اعراب ،مغل ، انګلیسان ، روس ، امریکا راغلي او زمونږ په ټکولویي لاس پورې کړی افغان خیالات دوی ته بیان شو کوروش او داریوش ، فیروز هر یوه ته وویل شول ګوری تاسو په خپلو ځمکو او شتو قناعت وکړئ . تېری مه کوئ

مونږ په خپلو اصولو ،چې دروغ ، حرص او تېری په کښې نشته ژوند کوو عدالت تامین دی ننګ ناموس له مظلوم سره مرسته کوو ، کورش ووژل او د اریوس وتښتید( تواریخ ، هرودت)

افغان خیالاتو کښې دروغ نشته ، احمدشاه بابا وویل ،چې غواړم نړی له افغان خیالاتو سره آشنا کړم له دې خبرې پوهېږو ،چې ددغه خیالاتو ده سره یوه مجموعه وه ، یوه پلا دې د شیرشاه تاریخ ته وکتل شي، دشهاب الدین او غیاث الدین ، ملك اختیار الدین خرپوست ، میرویس ، محمود ، اشرف ، آزاد خان ، سرخانی .... هله سړی پوهېږي

چې افغانیت لکه انسانیت ، پښتونولي یو اصول دي یو انسان او د انسان ،چې اشرف المخلوقات بلل کېږي اشرف المخلوقات یو تعریف به لري هغه تمایز او تو پیرله نورو مخلوقاتو دی . جام انسانیت بللی شئ که د ګرام له نظر سم نه وی بیا هم مونږ یې په یو تعریف په کاروو

افغانولي ، اسانولي سړیتوب پښتونولي مونږ پښتانه که له خپلې پښتو او پښتونولي خبرې وکړو نازولي به خپه شي بیا نه پښتونولي وایو نه افغانولي وایو افغانیت ووایو انسانولي نه وایو، انسانیت وایو

اوس ،چې د افغان انګلیس څلورمه جګړه ده دامریکې لومړی جګړه روانه ده افغانستان په سرولمبو کښې سوځي د تلویزون په پردو کښې شنې سرې لمبې غرونه آسمان ته خیږي

زمونږ خلك او ماشومان ورتیږي وایي د خدای لپاره یو شمیر افغانان وایي ښه وشو !!!
د اکتوبر پنځلسمه د امریکې د الوتکو او میزایلو بمباري تر ټولو نورو ورځو درنې وې په دې باب وویل

ددې لپاره داسې بمباري وشوې ،چې ځمکې لاندې ځايونه ،چې د پټېدو لپاره ونړول شي دايو پلمه وه .

په جاپان کښې ،چې زاړه زخمونه په يادو هغه ،چې امريکا پردوی باندې اتومي بمونه اچولي و او جاپان يې تسليمېدو ته مجبور کړ کله ،چې په دوهمه نړيزې جګړې کښې امريکې پر جاپان اتوم بمونه وغورځول د جاپان امپراتور هيرنيتو د امريکې په اخلاق پوه شو ،چې د جاپان ملت تباه کېږي نو تسليمېدو ته حاضر شو کله ،چې ـ ې د تسليمېدو سند لاسليك کاو له سترګو يې اوښکې توئيدلې.

د اکتوبر پنځلسمه د ظاهرشاه نماينده ګان پاکستان ته لاړل ،چې امريکې د خارجه چارو وزير هم هلته و دوی به د افغانستان په راتلو نکي دولت خبرې وکړي.

دفرانسې او ايتاليې خارجه وزيرانو محمدظاهر سره په روم ګښتې وکتل.

همدا ورځ په مسکو او جاپان کښې د امريکې د حملو په ضد ،چې د افغانستان په ښارونه يې کړې ده او دايې دوهمه اونۍ ده درنې مظاهرې و شوې.

**دولتي ترور** : د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې انګلستان او امريکا دولتي تروستان وبلل شول داسې نه شي کيدای ،چې عين عمل لکه قمار ،غلا او دروغ سړی وژنه يوه ته روا او بل ته نازوا وي که روا وي دواړوته ده که نه وي دواړوته نه ده .

د امريکې خارجه وزير مشرف د پاکستان حاکم ته ويلي د تروريزم د مخنيوی لپاره مرسته وکړې ددې يو مطلب د کشمير جنګيالي ،چې د پاکستان له خوايې مرسته کېږي.

بي بي سي دا هم وويل : چې محمد ظاهرشاه د ملګرو ملتو منشي ته يو ليك استولی دی پخواني پادشاه ويلي دي ،چې وروسته د طالبانو لوېدلو ملګرو ملتونه هلته خپل لښکر ولېږي.

چې امنيت وساتي محمدظاهر د امريکې د سختو هوايي حملو په باب ،چې دوام لري څه نه دي ويلي . ده ويلي شوای بمباري دې بندي شی اوملګرو ملتو نه دې نظامي قواوې ولېږي د ملګروملتو سرمنشي دغه موضو... سيت شوراته وړاندې کوي.

په ننګرهار کښې حزم کلي ته د بي بي سي B.B.C خبريال رحسم الله يوسفزی تللی دی

هلته کوچیان اوسیدل دوه سوه دیرش کسه وژل شوي او پنځه سوه ټپیان شول. د کلي خلکو ویل ،چې دلته نظامي څه نشته اسامه بن لادن ددوه پښتو سړی دی په یو ځای نه وی. دغه غږونه د بي بي سي له پښتو خپرونې د اکتوبر په شپاړسمه خپاره شول په دغه ورځ په کولن پاول د امریکې خارجه وزیر پاکستان ته لاړ د محمد ظاهر شاه هیئت هم پاکستان ته ورسېد . په همدغه ورځ پر کابل . قندهار ، جلال آباد مزارشریف . قلعه نو بادغیس هرات د انګلیس امریکې له ډېروغټو الوتکو د افغانستان آسمان نه ښکاریدلي د بي بي سي له قوله شپیته الوتکې تلې شپیته راتلې په زرهاو تنه بمونه او میزایلونه د عربو بحیرې ته راویشتل کېدې.

په پاکستان کښې دمشرف او پاول تر مینځ بشپړ د نظر اتفاق نه و د امریکې هماغه نظر و ،چې پراخ بنسټ حکومت د ټولو ډلو ټپلو او قومي خلکو نه په شریکه جوړشي مشرف د شمالي اتحاد مخالف و.

که داسې یو حکومت جوړیږي ،چې مخکې له مخکې جوړ شوی وي او محمدظاهر قاتل شاه د ملګرو متلو عسکرو غواړي نو د لويې جرګې نوم اخستل ګناه ده دوی کله دا هم وایي ،چې نا ټینګو طالبانو څخه دې هم راشي او حکومت کښې دې برخه واخلي.

امریکا ،انګلیس ،چې په دغه تفصیل یې افغانستان بمبارد کړ او د چنګیز مخ یې پرې منځه داسې حکومت هم جوړوي نو د افغان خیالاتو مقابله ده .

دغه خیالات ،چې مونږ لس زره کاله ساتلي دي له دې وروسته به یې ساتو بلاتشبیهه دوی دغه ډول ارادې خدای تعالی ﷻ ځوابوی ؛ ځکه دوی د " غرور" مرحلې ته رسیدلي.

په ټول پاکستان کښې له کومې ورځې چې پر افغانستان د امریکې حملې پېل شوي په زرهاو زرهاو خلك پرله پسې مظاهرې کوي وهل خوري اوښکې بهیونکي ګاز پرې اچول کېږي بیا هم کاروبار یې پریښی مظاهرو ته راوزي د اسلام جذبه انساني جذبه وروروليي همدا ده .

په انګلیس . فرانسې ، ایتالیا ، جرمني ، اسپانیه او نورو هېوادو . جاپان ، هند ، تایلند. فلپین ، مالیزیا ، نایجیریا ، روسیه ، مصر ، عربستان د انګلیس . امریکې د وحشیانه حملو له امله مظاهرې ،چې بې ساري مظاهرې وې دوه ملته تشکیل شوي انسان او وحشي وحشیان یوه خوا انسانان بله خوا دي د نړۍ د خلکو په دا ډول احساس رنګ ، ژبه ، کلتور نشته انسانان ، انسانان دي وحشیان وحشیان دي . د

اړونکی وینی ځنبونکي په هر هېواد کښې شته انسان دوسته شر افتپال هم شته خدایه مونږ د وحشیانو وینې زبېښونکي له ډلې لیرې وساتې امین.

## د اکتوبر ۱۴ قیامت په افغانستان کښې:

افغانان د نړۍ انساني روحيه ورورى او همدادی نه هيروي تل دې د هغوی حرمت وساتي.

مبارك موشه باباګانو!

ستاسو بچو په نړۍ کښې شیطاني ځېرى بربندې کړی نوره نړۍ پوه شوه توني بش وینې زبېښونکي وړی لیوان دي، نړۍ ته د ا اندیښنه پیدا شوې ،چې د غه لېوان ،چې افغانستان نه وزګارشي نور هېوادونه خوري ،بیا خپل ملګري ، بیاپخپله ځان خوري.

افغانستان داسې یولوی امتحان ته ودرېد او دلیوانو نقابونه یې وغورځول دوی نه غوښتل افغانستان د یوه اسلامي دولت نمونه شي مسلمانانو ته اوس مسلمانان په ټوله نړۍ کښې وخوځېدل له کاشغره تر استانبول له هغه ځایه هند ، اندونیزیا په یون شو او یو خوځښت راغی. ددغه خوځښت سره د مقابلې لپاره لیوان په نړۍ کښې د لیوانو لپاره ویره پیدا شوه له هر پاکت له هر غږ له خپل سیورې ویرېږي. اقتصادي مخ په ټیټېدو شو په منډوشول ددوی وېره لالهانده ژوند په سترګولیدل کېږي.

دا کتوبر ۱۴ محمدظاهرشاه استاذی پاکستان کښې هدایت ارسلا وایي په نوي دولت کښې معتدل طالبان د افرادو په توګه منل کېږي ده خپلې خبرې دپاکستاني چارواکو سره ګتپورې وبللې عبدالله د شمال اتحاد بهرني وزیر وویل په ځو ورځو کښې به مزارشریف ونیسي ددوی وړاندې تګ د امریکایي حملو سره همآهنګ وي.

برهان الدين رباني راديو آزاد اروپا سره وويل زمونږ حکومت پاکستان پرې نه ښود هغه ګلبدين د حزب اسلامی يو وژونکی وباله.

روسيې هم د بمباريو دوام د عامو خلکو برخه کښې وغنده او دجنګ اوږديدل په ګټه ونه باله.

د امریکې په حملو کښې د سره صلب ودانۍ په کابل کښې ورانه شوه او د سره صلب یوه مامور په اسلام آباد کښې د امریکې سفارت ته له دې کبله اعتراف وکړ

## محمد ظاهر قاتل شاه شوی دی:

په دې ورځو کښې ،چې د امريکې جنګي نوې جوړې شوې الوتکې په افغانستان کښې شپه او ورځ اوسپنې او اورونه اوروي دي د افغانان پرجنازې پښنې ږدي او خپل نمسی يا خوی پادشاهۍ ته رسوي.

د اکتوبر په شپاړلسمه د کابل جنوب شرق او شرق باندې د اسې بمونه وغورځيدل ،چې تراوسه نه و قندهار (۶۰) شپيتو الوتکو د تهران د راديو په قول يو سل ديرش پلا بمبارد شو.

د امريکې ددفاع وزير وويل ،چې بمبارۍ به دوام ولري دوی وايي نوې طريقه ده ،چې بويه بمبارد طالبان دومره کمزوري کړي ،چې د امريکې د پلې لښکرو مقابله ونه شي کولای

دا د امريکې نوی ترتيب دی ،چې دوه کاله هم ، عام خلك پرله پسې بمباري کړي او ژوند ودروي.

نو دولت د جوړلو خبرې هم رواني دي ظاهر شاه داپه کښې ويلي دي ،چې د ملګري ملتو لښکرې دې راشي اتحاديه (اروپايي) په دې طرح خبري کوي.

د اسياه زخم ، او ټاکو ناروغۍ د خوريدو نښې ته نيويارك فلوريدا او واشنګټن کښې ليدل شوي دي سوډان کښې مظاهرې اوس هم رواني دي ،چې د هوايي حملو لسمه ورځ ده .

فرانسې کښې منورينو په مظاهرو کښې برخه اخستې ده او غوښتې يې دي ،چې انګليس ، امريکا دې حملې بندې کړي د لبنان جنوب کښې کشمير کښې سختې مظاهرې شوي.

د انګليستان په پارلمان کښې د ليبرال ګوند شپږ غړي هغه مهال د امريکې انګليس دهوايي بريدونو بندول وغوښتل ،چې خارجه وزير وينا کوله.

په سپين بولدك په زرها و افغانان د پاکستان پر ضد مظاهره وکړه او امريکاته په پاکستان کښې د هوايي او ځمکنې حملو لپاره يې د اجازې ورکولو په ضد مظاهرې تر چمن پورې وړاندې ولاړل.

طالبانو د وکيل احمد متوکل وتل رد کړل دا خبره معلومه نه ده .چې ويل کېږي متوکل عربي اماراتو ته تللی دي .چې له عربي هېوادونوغواړي .چې د انګليس او امريکې د حملو په خلاف دريغ غوره کړي.

په دغه حال کښې د ايران دولت غواړي د تېلوبيه لوړه شي او په دې باب يې نورو هېوادو سره چې د تېلوچينې لري خپل ديپلوماتيك فعاليتونه پېل کړي دي .

## د افغانستان خبرونه لږ شول!

د اکتوبر په اوه لسمه ډله يز خبرونه د افغانستان په باب لږ شول په داسې حال کښې .چې بمبارۍ دوام درلود . کولن پاول د امريکې د بهرنيو چارو وزير په پاکستان کښې دا معامله وکړه .چې په افغانستان کښې ددوی په خوښه يو حکومت راځي او پاکستان حکومت د جاسوسۍ چارې سرته رسوي او د افغانستان په باب به معلومات ورکوي . امريکا خپلې نظامي مرستې پاکستان سره له سره پېل کړي . پورونه به وروربښي بنديزونه به نه وي اقتصاد به يې ښه شي په افغانستان دغه سودا وشوه.

په اول هند ته لاړ او هلته يې هند د امريکې لوی ملګری وباله او هند هر ډول ملګرتيا ومنله .چې د افغانستان طالب حکومت راپرځوي د امريکې خارجه وزير هند و پاکستان ته وويل : د کشمير موضوع د خبرو له لارې حل کړي.

ايران .چې دا حال وليد غوړونه يې امريکا ته نژدې کړل ايران وويل ايران د تروريزم مخالف دی او حاضر دی په اضطراری حالاتو کښې به د امريکا عسکروته په ايران کښې ځای ورکړي .

بش وويل د ايران ځمکې او هوايي سيمه محترم شمېری په دې توګه امريکې د ۱۹۸۰ د ګروګانو .چې ايران نيولی و تېر شول.

د امريکا د سنا د مانۍ يوه برخه له خلکو تشه شوه .چې د انترکس نوی بلاورکه شي دغې بکتريا خلك وار خطا کړي . بش دشانګهای د کفرانس په لړ کښې چين ته ورسيد .چې د هغې لپاره .چې په افغانستان کښې د تروريزم په نامه جګړې پيل کړي ملګري پيدا کړ.

امریکې تېره شپه او په اتلسم د اکتوبر په کابل او قندهار کښې سختې بمبارۍ وکړې ملاعبدالسلام د طالبانو سفیر اسلام آباد کښې وویل ددغه بمبارۍ په وجه څلور سوه عامه خلك په شهادت ورسېدل.
په سرحد کښې پنځه زره پښتانه ،چې وسله بند و خپل چمتوالی یې امریکا سره د جهاد لپاره وښود . په دې حال کښې د شمال اتحاد غواړي د مزارشریف هوایي ډګر د انګلیس ، امریکا لپاره ونیسي مګر طالبانو کلك مقاومت وکړ په داسې حال کښې د طالبانو مخکنی کرښې د انګلیس ، امریکې سل الوتکې بمباري کړي تر اوسه دولس ورځې تېرېږي شپږ زره ټنه بمونه وا ورول شو.

> د خبرونو سرچینې : سي اِن اِن ، بي بي سي ، امریکې غږ ، فرانسه ، د ایران اسلامي جمهوري رادیو د هند تلویزیون ، د آزادۍ اروپا رادیو.

د انګلیس ، امریکا او شمالي اتحاد ( تاجك ازبك هزاره) د اکتوبر په ۱۸د ۲۰۰۱ ځمکې حمله پر افغانستان پیل کړه . په اولسم د اکتوبر تر ټولو سخته حمله داسې اور اوسپنه وا ورو ي ،چې د نړۍ په تاریخ کښې نه و لیدل شوي .
بش له چین نه ګیله وکړه ،چې سمه همکاري نه کوي. بش د نړۍ آمر دی دده په قومانده ټوله نړۍ خوځیږي مګر افغانانو دده خبره نه ده منلې وروستی حالات به وښیي ،چې الله تعالی څه کوي؟
او څه کېږي.
د پاکستان له کمپونه دوه زره افغانان د انګلیس امریکې سره د جهاد لپار افغانستان ته لاړل ویل شوي ،چې جنرال فهیم د احمدشاه مسعود پر ځای عمل کوي ایران ته تللی اوله‌ایران مقاماتو څخه یې غوښتي د پاکستان په مقابل کښې ودرېږئ دی وایي ،چې د تاجکستان په مرکز کښې ددوی ملګري لکه هند : روسیه ، تاجکستان ، ازبکستان ا و ایران غونډې کوي ،چې د افغانستان حالات له سیاسي او نظامي نظره و څېړي. ( د خبر پای)
دا چې په دې ترخ کښې ټوله نړۍ زمونږ برخه لیك څیړي او نن اتلسم اکتوبر ۲۰۰۱ دی هر چېرې په نړۍ کښې د افغانستان د راتلونکي دولت په باب یعنې وروسته له طالبانو دولت خبرې کېږي. خو خپله افغانان څه نه وایي او دوی په داسې

حال کښې افغانستان له خمکې او هوايي تېري لاندې دي هغه حال ،چې تاريخ کښې نه و ليدل شوی دادی خلك دننه په افغانستان کښې طالبانو سره ولاړ دي او که نه څه به پېښ شوي وي ؟
هغوی د امريکې ناځوانمردانه حملوته يولاس دي هغسې وچې امريکې او نورو فکر کاو په لومړۍ ورځ ،چې د انګليس ، امريکې هوايي بريد پېل شو دننه به دخلکو له خوا بغاوت جوړ د افغانستان خلك د طالبانو له دولت نه راضي او خوشحال دی دا بهر کښې يو شمېر افغانان شمالي اتحاد محمدظاهر دی چې خپلې خولې يې انګليس ، امريکا سره يوکړې او ځان يې په ټوله معنی هغوی ته تسليم کړي حتی لاس او پښې .
په همدې ورځې ،چې امريکايي عسکر پنجشير ته راغلي څو خپل افغان پلويانو سره پر کابل حمله وکړي ،چې دوی يې د انډيوالی عسکر بولي.
په دې حال کښې په انګليس ،اروپا او امريکې کښې ددوی ځانونه ګروی څکه له انترکس نه وېره لري ،چې د هغه نښه دوجود خاربنت دی.
د انګليس خارجه وزير ترکيې هڅولي ،چې د افغانستان په ورانولو کښې برخه واخلي ددوی په فکر ترکيه په مينځنۍ آسيا کښې نفوذ لري.
د اکتوبر نونسمه دوه زره يوم کال دلته د جمعې ورځ وه . د انګليس ، امريکې پلي عسکر افغانستان کښې ښکته او بې ساري بمباري کېدله په ايران ، يمن ، مصر ، عربستان ، بنګله دېش اندونيزيا او ټولو اسلامي هېوادو کښې مظاهرې وشوې امريکا يې تروريست و بلل.
په دغه حال کښې د شانګهای په ښار کښې د يوويشتوهېوادو غونډه روانه ده بش او د هغه د بهرنيو چارو وزير هم هلته لاړل په دې غونډه کښې هغه حالات څېرل کېږي ،چې ددغه کال دسپتمبر له يوولسمې وروسته پېښ شوي تروريزم او هغه سره د جنګ خبرې دي ددغه تروريزم مرکز د بن لادن او القاعده په حساب افغانستان کښې دی.
د اکتوبر په اولسمه دا هم وويل شول ،چې امريکايي عسکرباید ژر خبره خلاصه کړي دادی دروژې مبارکه مياشت راروانه او په روژه کښې که جنګ دوام ولري مسلمان هېوادونه به خواشيني ښيي له روژې وروسته ژمی او وا وره ده .
اوس بويه د شمال د اتحاد موقع و رکړشي ،چې مزار شريف ونيسي او هلته د ټولو هېوادو له خوا دوی پياوړي کېږي ،چې بيا کابل ته لاړ شي.

د ټېلو بيه ټيټه شوې ځکه فعاليتونه لږ شوي تېل هومره مصرف نه لري نو د تېلو توليدونکي بايد د تېلو بيه لوړه کړي.

د شمال په اتحاد کښې چاود پيداشو او د رباني د خلکو او مسعود پاتې خلکو تر ګلبدين حکمتيار خپل سنګرونه او نوره وسله طالبانو ته سپارلې ده.

د امريکې د دفاع وزارت له دې بابته اندېښمن دی او چې طالبان وروسته له دولسو شپو او ورځو بمباريو چې په زرهاو ټنو اټکل کېږي پنځه زره ټنه دي د شپېتو الوتکو لکه MC۱۳۰ ،چې په نړۍ کښې تر ټولو درنې دې پر کابل ، جلال آباد ، قندهار او مزارشريف ، همدارنګه هرات قندز قلعه نو بمونه اورولي دي بيا هم طالبان د مدافعې ظرفيت لري.

د اکتوبر اتلسمه ځينې مهم خبرونه خپاره شول لومړی د شمال اتحاد وويل له ظاهر شاه سره ملګرتيا نه کوي متوکل د طالبانو بهرني وزير اسلام آباد ته لاړ او وايي مونږ کولای شو اسامه بن لادن نور ونه ساتو خو امريکا دې بمباري بنده کړي.

## زړه چاودن

که يوه ګړۍ وروسته مرم اوس دې مړشم د اکتوبر شلم کال دوه زره يو د تلې مياشتې اته ويشتمه کال يوزرو درې سوه اتيا.

په شمال او پنجشېر کښې له " دوستم " او فهيم سره د امريکې کوماندو وړې وړې ډلې ښکته شوي دي "۱۰۰" سل الوتکې ،چې تر اوسه په هېڅ جګړه کښې نه وي په کار شوي يوسل ديرش الوتنې هره ورځ پرله پسې لس زره ټنه بمونه غورځولي دي . زه مو جارشم د کابل جلال آباد ، مزارشريف ، قندهار ، هرات ، قندز ماشومانو اوشهيدانو ولې ژوندی يم زما رنګ افغانستانه؟

انګليس ،امريکا ، فرانسه ، ترکيه ،اروپا ،ناټو ، تاجکستان ، روسيه ، ازبکستان ، هند او ټوله نړۍ پرته له يو درې ، ټول او ټول پر افغانستان دانګلي ولې؟

هلته يو نمونه مثالي ملي اسلامي دولت جوړ شوی و يو امير المومنين و !!!

افغانانو لکه ،چې بله کره د ځمکې په کره کښې جوړه شوي دي.

. له بلې خوا په ټوله نړۍ کښې د بشري وجدان خلك او مسلمانان سر کوته وتلي دي د انګليس ، امريکې او ددوی د ملګرو په ضد مظاهرې کوي . دا دوې هفتې په کرارنه دي ناست کارونه روز ګارونه يې پرېښي دي ښځې او نارينه ځوانان او بوډاګان ! او

سلام پر تاسو د خيراو عدالت غوښتونكيو خداى تعالى (ج) دې اجرونه دركړي مونږ لاړو تباه شولو تاسو زمونږ په تېپونو پټي كېښودلې خداى مو وبښه (برادران افغان ما) له انګليس ، امريكې سره ودريدل.

وروستى اونى به حالات وښيي ،چې څه كېږي؟

نن د اكتوبر شلمه ده د امريكې يو هيلو كوپتر وغورځول شوه او دوه تنه په كښې و وژل شول او په بله پېښه كښې دوه تنه ټپيان شوي دي . سل تنه كوماندو ،چې دوى مخصوص قوت بولي بيرته ووتل او نوربه راشي.

چين او روسيې له امريكا وغوښتل ،چې نظامي عمليات دې په افغانستان كښې بند كړي او د خبرو له لارې دې يو پراخ بنسټ حكومت جوړ كړي.

ګورئ خبره د طالبانو په دولت ده ،چې يونمونه اسلامي دولت دى مسلمانان پرې راټولېږي.

په اسلام كښې بويه يو خليفه يا امير المومنين وي امان الله خان ،چې جهاد د انګليس په مقابل كښې اعلان كړ په لومړي سر كښې يې دى د اسلام قهرمان باله په ټوله اسلامي نړۍ كښې يې يو حيثيت درلود همدا ،چې اروپايي كلتور يې خپل كړى و يو غل په مخ واخيست.

طالبانو داسې اسلامي اصول عملي كړل ،چې چانه شو كولاى سرې طلاوې يې له ځمكې پورته كړې داسې پرو پاګندا ، يا منفي تبليغات پېل شول لكه ،چې آسمان چپه شوى وي.

زه د خپلې مطالعې له بركته په كيفيت پوهېدم د موضوع څرنګوالى مې په مقابلو . ويناو راديويې مصاحبو كښې ويل : يوه راته وويل : ته كله مسلمان شوى يې ؟ ما وويل : داسلام خبرې نه كوم تاسوته تاريخ او سياست بيانوم حقيقت او واقعيت بېل دى كه آسمان شين وينم او ووايم ،چې آسمان شين دى نو دا خبره په دين څه اړه لري وريځ نه دى شين دى ، كه شين نه وي دوه حالته دي ياېې ليدلى نه شم يا دروغ وايم دلته كه دروغ مې ويلي وي كفر ته نژدې كېدل دي اسلام نه دى ګورئ آسمان شين زه وينم زما دې سپينې ږيرې ته وګورئ.

بيا جمعه ده ۱۳۸۰ د تلې اوه ويشتمه ده انګليس ، امريكا ،چې تېره جمعه يې ويلي و نن مو څكه بمباري ونه كړه ، بلې جمعې ته يې منافقت څرګند شوه كلكه زوروره او

بې امانه بمباري پر افغانستان وکړه په تهران او د ایران نورو ښارونو کښې دپاکستان په ټولو ښارونو کښې نارینه اومېرمنې واټونو تـه ووتلې ،چې په ښارو کښې یې فعالیتونه بند کړل . د تلې په اته ویشتم د امریکې سل تنه څلور ساعته ټینګ نه شول ببرته لاړل د بش چرت ګډوډ و.

رباني پنجشیر کښې سلامي واخیسته او ځان یې د انګلیس ، امریکې یوسپاهي وباله او زیاته یې کړه تر اوسه یې څه نه دي را کړي.

امریکائیان هماغه دروژې د مبارکې میاشت نژدې کیدل او ژمي راتګ ته حیران و ،چې بیا یې عسکر جګړه نه شي کولای .

په دغه ورځ یو امریکایي پروفیسر د کتور بنجمن باربارا دیوې ډېرې اوږدې وینا په ترخ کښې وویل : د امریکې د استقلال اعلامیه اساسي قانون او فلسفه سوله او موقع وه خلك په نړۍ کښې سره نژدې کول و اوس هر چیرې جګړې ته ورځې نن کـه یو اسامه بن لادن مړ شي سبا لس نور پیدا کیږي هغه عوامل ورك کړئ ،چې ترور پیدا کوي ،چې علت ورك نه شي معلول نه ورکیږي.

د یموکراسي دانه ده ،چې اتلان شنه کړي دیمو کراسي هغه ده ،چې هر څوك خپله وظیفه پای ته ورسوي بش پاول وظیفه جمهورئیس . پاول خارجه وزیر او جولینا د نیویارك والي یا ګورنر دی .

## د تلې نه ویشتمه ۱۳۸۰ د اکتوبر ۲۱د ۲۰۰۱:

د عربستان د کورنیو چارو وزیر وویل : مونږ هغه اعراب ،چې په عربو کښې د امریکې د عسکرو د وژلو په تور نیول شوي دي امریکا ته نه سپارو ده داهم وویل چې هغه عرب ،چې غواړي افغانستان ته لاړشي هغوی ته هم اجازه نه ورکوو ،چې د بن لادن ملګرتیا به و کړي . د ه زیاته کړه کـه کوم عربي هېواد باندې د امریکې لـه خوا برید وشي عربستان به همغه عربي هېواد سره ودریږي.

### زړه چاودنه

په تلویزیون کښې د انګلیس . امریکې د بمونو لاندې شهیدان زخمي ماشومان ژړا نده مېرمنې له حاله وتلي افغانان یې وښودل بلا یې واخلم یو بت یم هیڅ مې په وس نه دي له تاسو به جارشوی وای ز او یا کلن یم ناروغ یم پښې مې را سره نه ځي خدای تعالی ج !!! ما سره بویه بل څوك مرسته وکړي زه به څه وکړم؟

بې لمونځ بې اودسه بې روژې . په ګناهوېښ خو په تا ډاډه یم ځکه زما زړه تا سره دی زه ژاړم . فکر مې ،چې تېپ ولاړ دی وایم ښه دی خدای (ج) مې خبر دی.
که زیان دی زه به یې وګنم خو خدایه (ج) خپله مینه له مانه وانخلې.
کلکته کښې هندوان او مسلمانان وتلي او د انګلیس ، امریکې د بمباریو په خلاف یې مظاهرې وکړې ،چې پر افغانستان یې کوي دوی د امریکې د سپرات د نوشابو پایګاه ورانه کړي.
د اکتوبر په ۲۲ وویل شول د روسیې جمهورئیس پوتین او برهان الدین رباني ، په دوشنبې کښې د تاجکستان په پای تخت کښې ولیدل پوتین رباني د افغانستان د قانوني جمهورئیس په توګه په رسمیت وپېژاند او د هر ډول مرستو وعده یې ورکړه ،ایران او روسیه په دې برخه کښې یوه خوله شول.
د لته ظاهرشاه لپاره ،چې شمالي اتحاد ته یې لاس ورکړی دی یوه خپېړه شوه.
دا خبره هم د امریکې له تلویزیون وشوه ،چې د القاعده په تشکیل کښې فرانسوي ځوانان هم کارکوي او نور غیر مسلم د هندیانو په ګډون په مسلمانانو سره په کلکته کښې دغه دوه علامې ښیي ،چې د امریکې ، انګلیس مخالفین د هر دین او مذهب ،چې دي طالب زمریاني د امرېکې دوهم هیلوکوپتر وغورځاو او په دې کښې شل تنه امریکائیان ووژل شول د امریکې تلویزیون خبر ورکړ او تصویریې هم وښود بیا هم د دفاع وزارت له خوا تایید نه کړی شو ( دې ته وایي سپین سترګي).
د اکتوبر په ۲۲ بي بي سي د همدغې ورځې د جنګي الوتکو الوتنې شپږ سوه ځلیرویشت یوسل او یا الوتکې وښودلې دومره الوتنې ،چې په زرها ټنه بمونه غورځوي د افغانستان خاورې باندې په کوم سنجش او عدالت برابر دي؟
په هرات کښې یوه ملکي روغتون باندې راکټ " میزائیل " کلاستر ولګید اوسل تنه ناروغان په شهادت ورسېدل.
بل خبر داسې و ،چې اسامه بن لادن ښایي له چین څخه راکتونه په پیسو وپېري که دا ډول مسایل وي جګړه به اوږده شي.
پنځلس زره مهاجر سپین بولدك کښې له پاکستاني پولیسو سره په جګړه اخته شول ،چې نه یې پرېښودل له سرحد نه تېر شي پاکستان وایي دوه ملیونه افغانان دلته دي نور د مهاجرو زور نه لري.

دغو مهاجرو تـه هغـو د ښـتـو كـنبـي خاى وركړ شو ،چې دډيورند پـه قـرار داد كـنبي Nommlond يعنې دا ځمكه د هيچا نه ده . نه د برتيانوى هند نه د افغانستان كومې هوايي بمباري ،چې د اكتوبر په اوومه پېل شوې وې تر اوسـه د اكتوبر دروېشتمه ده دوام لري امريكائيان وايي په غير نظامي خايو حمله نه كوي د اكتوبر په دروېشتمه يې په قندهار كښې د پطرولو گيسوستيشنونه وويشتل روغتون يې وويشت په بس كښې چې مسافر وړونكى و يونيم پوخ عمارت ،چې وگوري د ملا عمر (اميرالمومنين) د كورپه نامه يې ولي بيا وايي ،چې ملاعمر نه دهغه لس كلن زوى ووژل شو د هغه لس كلن ځوى هلته ،چې نور ځوك نه وي د وژلو لپاره كيني ؟

د امريكې د جمهورئيس خواص پريشانه دى ، ددفاع وزير دومره و جدان نه لري ،چې دروغ ويلو پـه مهال سترگې ښكته اچوي دفاع وزير هره ورځ په تلويزيون كښې د جگړې حالات بيانوي لوى درستيز هم ورسره وي.

د اكتوبر پـه ۲۳ پـه قندهار كښې د تېلو ټانكر وويشتل شول ، پـه شمالي او مزارشريف كښې د طالبانو لومړۍ ليكو باندې هوايي بمباري امريكا او انگليس كوي د شمال د اتحاد ورځې كله ،چې دوى حركت وكړي د طالبانو مقاومت لاموجود وي .

دوى نه شي ورتلاى دا ددوى هفتي كېږي ،چې دوى د مزارشريف او كابل د نيولو اراده لري خو تراوسه نه دي برياليي شوي.

د امريكې دفاع وزير او لوى درستيز داسې وايي كه عسكر له هوا ښكته كړو ، دغرولـه ډډو ويشتل كېږي كـه لـه لارې ور ولېږو سركونه سم نـه دي لارې نـرۍ دي او غرونه دي.

دوى دريچال اوسربدال دي په دې حال كښې د ټولې نړۍ د مسلمانانو خواخوږي او مېرانه بويه هېره نه شي ،چې (برادران افغان) توري راباند كښلې او هغوى د افغان لپاره مظاهرې كوي ځانونه وژني.

بله ورځ راغله د انگليس . امريكې هوايي قوتو پر قندهار ،هرات او كابل داسې بمباري وكړه ،چې ښونځي روغتونونه د پترولو ذخيرې د موټرو قطارونه يې وويشتل ،چې د كويټې روغتونونه ترې ډك شول دا هغه ټپيان و ،چې هغه ځاى ته رسيدلي شواى.

په کويټه کښې يو د کټور ،چې ډېر خواشيني و امريکايي ژورناليست و پوښتيده خپه يې ؟ هو پر امريکې په غصه يې ؟ هو
دا زما پښتانه ورونه دي.
معمر قذافي د ليبيا مشر وويل: د ملګرو ملتو د امنيت شورا د تروريزم شورا ده د امنيت شورا نه ده.
د ايران جمهوري اسلامي راديو اکتوبر په څلېرويشتمه وويل :
د امريکا سل تنه سپيشل فورس پنځه ويشت وژل او شل نيول شوي ښايي . چې هغه ټول له منځه تللي وي امريکا عصبي شوه او څلور سوه ملکي وګړي يې ووژل او ځينې فاميلونه بېخي له منځه تللي.
د الوتکې دابمونه بسته فاميلونه له منځه وړي او په شهادت رسيږي د هند صدر اعظم اتل بيهاري واج پای د پاکستان مشر جنرال مشرف يو بل دوه مخی بې اعتباره وباله اوله هغه سره يې له خبرو ډډه وکړه .
او پيغور يې ورکړ ،چې له طالبانو سره دې څه وکړل ؟
تاخو مونږ ته ګواښ کاو ،چې ماسره طالبان دي اوس دې هغود ستړو ايستلوته ملاتړلې ده .
له اندونيزيا ، هند مسلمانانو او يو شمېر هندوانو ، تايلند، فلپين ،مصر ،ترکې ،عربستان خلکو خواخوږي، د افغانانو نه هېرېږي انشاالله ، د جرمني ،فرانسې ، انګليس ،سويدن ، ناروې او نور اروپايي هېوادو د خلکو خواخوږي هم.
په تېره بيا د نايجيريا د مسلمانانو دوه سوه شهيدان ، مونږ د پاکستان د مسلمانانو اسلام دوستي او افغان دوستي نه شو هېرولای رښتينې مسلمانان همدا سې وي.
د اکتوبر په درويشتمې هم دغه شورښتونه روان و.
له بلې خوا په همدغه ورځ ددوستم ، محقق ، عطامحمد ،هزاره ، ازبك ، تاجك ( برادران افغان) د انګليس ، امريکا د بمباريو په ترخ کښې ،چې د طالبانو په ليکو باندې کېږي.
په جګړه بوخت دی بيا د اروپا آزاد له راديو سره يې په وياړ وويل ،چې دوی فتوحات کړي دي هغه هم څو کيلومتره د مزارشريف ښار ته نژدې دي . دغه فتوحات په نړۍ

کښې ساری نه لري ،چې انګليس او امريکايي له مخې نه طالبان بمبارد کړي بيا دغه نامرد افغانان برادارن ځو قدمه پر مح تللی شي.

ظاهر شاه د نادرشاه ځوی کابل ته ځی ځينې داسې وايي ،چې بياهم نه ځي.

## زړه چاودن:

دادی زمونږ افغان او مسلمانان ورونه اتحاد شمال ،چې په ځمکه کښې د امريکې مخصوص عسکر اوله هوا د امريکې الوتکې بمباري کوي خو په هغه وقفه کښې ،چې بمباري ودرېږي طالبان له خاورو راووزي دوی بېرته په شا وتمبوي.

زړه چاودون دغسې يو انسان ځانله ميړنی وايي ؟ مسلمان او افغان لاپرېږ ده.

د فرانسې جمهوررئيس شيراك او د چين جمهوريس زينګ ميان په ګډه ويلي دي ،چې امريکا دې پر عام خلکو بمباري په افغانستان کښې بندې کړي.

د اردن د سياسي ګوندونو مشرانو د امريکا بريد پر افغانستان غندلی دی عربونه يې غوښتي چې امريکايي مالونه دې نه اخلي او د افغانستان مرستې دې ته چمتو شي.

زړه چاودون :تصويرونه او فلمونه د عامو خلکو مړي زخميان ښيي خو د امريکې ددفاع وزير ،چې تلويزيون کښې ښکاره شي وايي دا د طالبانو تبليغ دی.

د افغانستان پسې : د افغانستان غښتلي سپي پر کمزورو سپيانو حمله نه کوي او د ا شرافت د امريکا ، انګليس په نظاميانو کښې نشته نو زمونږ او ددوی معامله به څنګه شي؟

## زړه چاودون :

د ۲۰۰۱د اکتوبر ۲۴ د ( ۱۳۸۰ د لړم دوهمه) څلورشنبه.

د سهار اته نيمې بجې وې ،چې د تيلفون زنګ وشرنګيد محترم شيرآغا کريمي لندن نه خبرې کولي سلام عليکم دورغ جوړ پوښتنه وروسته حداد صاحب ستاسو نظر په دې باب غواړم ،چې سيد احمد ګيلاني پېښوركې يو شمېر قومي مشران او خلك راغونډ کړي و او غواړي چې يو نوی حرکت جوړ کړي د جنوب اتحاد په نامه پير ګيلاني مخکې هم داسې هڅې کړي کومې نتيجې ته نه دی رسيدلی که د اسلام خبره وي دنړۍ مسلمانان په سر کښې نور خلك ويني که د افغان خبره وي هغوی ته د امريکې سختو او ظالمانه بمباريو د شمال د اتحاد پش قراولي د بن لادن موجودوالی د تفکر

فرصت نه ورکوي نن ،چې په نړۍ کښې یو اسلامي خوځښت راغلی او نور بشریت ورسره هملاري لري.

پیرصاحب به په دې توفان کښې څه وکړي؟

انګلیس او امریکا دطالبانو لیکې بمبارد کوي ددې لپاره ،چې شمالي اتحاد ته لاره خلاصه کړي ظاهرشاه ،چې دوی سره ملګری شي د شاه شجاع ببرك او نورو فرق به له ده سره څه وي ؟ ده به یو بده لکه وي بلې خبره داده چې ظاهر شاه د ځان امنیت نه شي نیولی که بل څوك یې ونیسي دی هم د انګلیس په امرکښې تر چتر لاندې راغلی وي دی پخپله غواړي ،چې امنیت دې ملګري ملتونه ونیسي هغه که یوه میاشت یایوکال وي امکان لري کله د افغانانو له ټکرونو سره مخامخ شي بیاخونه شي کیدای.

کله ،چې د امریکې حملې ودرېږي ملت به وګوري ،چې اکثریت چیرته دي هماغه به تایید کړي.

د اکتوبر په ۲۵ د افغانستان شمال اقلیت اتحاد وویل ،چې د انګلیس او امریکا بمباري لږې دی کفایت نه کوي د افغانستان لس زره ټنه او سپنه و اورید، کلاستر بمونه ،چې وښکالي ډول دي څه چوي څه په کراره چوي ،چې وروسته له بمبارۍ بیا هم یو یو خلاصیږي او خلك وژني.

امیر خان متقي د افغانستان دپوهنې وزیر او ویاند وویل : امریکا ،چې دا تور لګوي چې مونږ په عامه استوګنځی کښې پټیږو یا نورې خبرې په دې توګه پر خپلو ناکامیو پرده غوړوي.

د B.B.C د خبر له مخې امریکا د لومړي ځل لپاره دا منلې ده ،چې د طالبانو له سخت مقاومت سره مخامخ شوې دامریکا امیرالبحر داهم ویلي ،چې طالبان خورا مضبوط جنګیالي دي ، د بي بي سي نماینده په کابل کښې وایي دطالبانو مورال ډېر قوي دی د انګلیس امریکا الوتکو بګرام ، مزار شریف هرات او بامیانو کښې د طالبانو ځایونه بمباري کړي ،چې په دې ترڅ کښې د شمال اتحاد دولس تنه هم وژل شوی البته په ناغوښتې توګه ، د بي بي سي نماینده داهم وایي،چې طالبانوسنګرې ویلي او په مخالفینو ملنډې وهلي دي.

یو بم په یو جومات ولګېد او شل تنه شهیدان شول . خبري موسسې په لندن کښې ویلي ،چې کلاستر بمونه غورځول ددوی له اساساتو مخالف دي.

د اکتوبر په ۲۵ د نړۍ په لويو ښارونو کښې د انګليس.امريکې د بمباريو خلاف مظاهري وشوې په کراچي کښې پنځوس زره خلکو په مظاهري کښې ګډون کړي او په اسلام آباد کښې شل زره قاضي حسين احمد په خپله وينا کښې وويل : زمونږ د اسامه بن لادن او ملا عمر تر مينځ څه رابطه ده ؟ يوه رابطه ده او هغه لااله الاالله محمد رسول الله دی."

د انګليس کوماندو په عمان کښې د غرنۍ سيمو د جګړو تمرين او په دوو درو ورځو کښې به افغانستان ته لاړ شي.

بش يو ځل بيا د افغانستان سره د جګړې د دوام خبري وکړې . په افغانستان کښې د طالبانو دولت له هرې بمبارۍ وروسته د ځای دپاکولو د اور د وژلو او ټپيانو او شهيدانو درا ايستلو لپاره په چټکۍ سره کار کوي.

قوماندان عبدالحق ،چې بدل نوم يې همايون و د اکتوبر په ۲۶ په داسې حال کښې ،چې ننګرهار ته روان و د لوګر د ولايت د ازرې په ولسوالۍ کښې ونيول شو په دې مهال کښې امريکايي چورلکه ور ورسيده ،چې عبدالحق ته نجات ورکړي عبدالحق بيا هم غوښتل د آس په سورلۍ وتښتي د طالبانو او امريکايي.چورلکو ترمينځ ډزې وشوې .

قوماندان عبدالحق له يوې لنډې محاکمې وروسته ووژل شو . عبدالحق غوښتل ،چې په ننګرهار کښې خلك راټول کړي او که وکولای شي ننګرهار د طالبانو له ولکې وباسي اميرخان متقي د پوهنې وزير وويل ،چې بېله سامان ډالرو درې موټره له عبدالحق سره و ،چې ژورنالستانو ته به وښودل شول.

امريکې له يوې کمپنۍ سره د دوو سوو بليون ډالرو تړون وکړو چې داسې الوتکې جوړې کړي چې د رنګولو ډېر قدرت ولري عمودي ښکته کيدای شي او له هغې ډزې کېدای شي جې هغه پرته له بمونو دي يعنې په ټيټه سطحه جګړه کولای شي او دا د امـ يکې په تاريخ کښې تر هر وخت لوی تړون دی .

امريکې داسې قانون جوړ کړ چې پوليس کولای شي تيلفوني خبرې ثبت کړي مکتبونه وګوري. ددغه قانون په خلاف شپږ شپېته سناتورانو رای ورکړه . د امريکې د دفاع وزير وويل : چې د افغانستان په جنګ کښې دبوال ته درېدلي او دايې هم وويل چې دوی په غلطۍ د سره صليب او ملکي ځايونه ويشتلي دي .

ACKU

زړه چاوودن : د انګلیس امریکا سختې بمبارۍ چې د اکتوبر په اوومه پیل شوې وې د اکتوبر په شلمه ډېر شدت وموند ، ټوله شپه یې تر لمر څرك دوام لاره په شلو شپو ورځو کښې په افغانستان کښې وینې اور اوسپنې سره خوټېدلې، ماشومان نینې کېدل ، په ملګروملتونو، روم پاکستان ، مسکو ، تهران او نورو ځایوکښې په راتلونکي دولت ، چې وروسته له طالبانو راځي خبرې کېدلې پراخ بنسټ حکومت په دې کښې څلور نظریې دي

۱- د ټولو قومونو په ګډون حکومت. ملګري ملتونه
۲- د ټولو ګوندونو او تنظیمونو په ګډون. مسکو
۳- د طالبانو معتدل غړي دې په حکومت کښې وي . روم ظاهرشاه
۴- یو طالب دې هم ګډون نه لري.. تهران ایران

طالبان تر اوسه ټینګ دي، مقاومت کوي د نړۍ ښو جنګیالو لقب یې ګټلی . او دا زمونږ نوی دښمن امریکې د دفاع وزیر وایي چې طالبان مضبوط جنګیالي دي.مبارك مو شه باباګانو

د پاکستان مسلم لمت په دې شلو شپو کښې یوه ورځ هم په کرار نه دی ناست کارونه یې بند دي ارام نه لري ، شمالي اتحاد وایي بمباري کافي نه دی مختللي کابلیان په خارج کښې ، پنجشېریان و پښتانه ، ازبك ، هزاره وایي خدای دې امریکا پاتې نه راولي برى دې ورکړي ، دوی پاکستان بد بولي حتی د پاکستان مشر جنرال مشرف چې امریکې ته تسلیم دی بیا هم دوی د امریکې مخلص نه بولي. د پاکستان مسلمانان له یوه سره تر بله سره د جهاد دپاره نومونه لیکي چې افغانستان ته لاړ شي او جهاد وکړي او پښتنو د سیمو خلك خپله وسله او خپله ډوډۍ له ځانه سره وړي .

د نور پاکستان لکه قبایلي وسله نه لري خو خپل سرونه یې په لاس کښې نیولي دي .

جهاد فرض بولي وینې یې په جوش د خدای تعالی (ج) ددین مجاهدین دی د اکتوبر ۲۷ د شمال اتحاد هك اریان و ،چې د امریکې ، انګلیس پیش قراولي یې وکړه خدای (ج) ، تاریخ او وطن ته مخ توري دي یو قدم پر مخ نه دي تللي.

زړه چاودون هسی نکل دي : یو زمری په دام کښې لویدلي و او په لومه کښې بند و دا خبره خوره شوه ، شغالان ، شرمښان ،ګیدړان ، سپیان پشی ، موږکان راغلل

يو وايي مري، يې پرې کړئ بيايي غوڅ کړئ . بل وايي ژوندی يې غوڅ . بل وايي سترګې يې وباسئ بيايې خوشي کړئ ،چې ګرځي ...

**زمري په حوصله منده وويل** : که هر څه وکړئ زه زمری يم که يو نوك مې څوك ووينې وايي دا د زمري نوك دی . خو تاسي شغالان ، شرمښان ، ګيدړان سپيان ياستی دومره بس چې زه زمری يم"

نو روس ، ايران ،انګليس ، امريکا ظاهرشاه له اروپا سره ،چې وروسته له طالبانو چې تراوسه تسلط لري حکومت جوړوي هماغه دی طالبان له منځه نه ځي ؛ ځکه څو جومات دی ملا دی طالب دی .

اوله دې څوارلس سوه کال کېږي څوارلس سوه کاله نور غواړي ،چې داسلام او کفر فيصله وشي او تږوله نړۍ يو شانې شي.

کله ،چې قوماندان عبدالحق د طالبانو لخوا ووژل شو د روم او امريکا لپاره د هغه پلان لپاره ،چې په طالبانو کښې معتدل را پيدا کړي پاتې راغی په ۲۸ د اکتوبر تر ټولو سختې بمباری وشوې په دې ډول ،چې پرون هم دا خبره شوې ۲۷ د اکتوبر يعنې مخکې نه لاډير شو.

په دغه دوې خبرې نورې هم و شوې ،چې د موضوع دروندوالی ښيي هغه دا ،چې د امريکا يو پخواني مشهور خارجه وزير هانری کسنجر وويل : " چين بايد نورې ودې ته پرېښودل نه شي " ده وويل : ده دا وړانديز مخکې کړی و.

بله دا ،چې سعودی عربستان له امريکې سره هسې ملګرتيا نه کوي ،چې بايد کړې يې وای .

دغو دوې خبرو حالاتو ته بل رنګ ورکړی دی.

کوم بمباري ،چې په دغه شپه په بګرام کښې د طالبانو په ليکو وشوې د دوهم ځل لپاره د مخالفينو په ځايونو بمونه واورول دا ؛ ځکه اهميت لري کوم اور ،چې په طالبانو اوري ددوی برخه هم رسېږي ،چې ځايي خلك به ووايي دا څنګه کېږي ،چې دين او دنيا دواړه لاړشي؟

**زړه چاودون** : زه چې قدرت الله حداد يم د يو اويا کلو يم هرندن ويرجينا امريکا کښې او اوسېږم زما څلور لونې دي ، څلور واړه واده شوي خپلو کورو کښې دي درې زامن مې دي دوه يې خپل کورونه لري يو ،چې اتلس کلن دی راسره دی يوه مې ميرمن

ده مونږ واشګتن نه چې د امريکې پلازمينه دی د ګاډي دېرش دقيقي واټن لېرې يو مګر يو هوايي ډګر ،چې دا لاس نومبرې ډېر نژدې دي پنځه دقيقې دموټر لاره ده .
دغه ايالت کښې ،چې زه يم ايمرجنسي يا اضطراري حالت اعلان شوی پوليس بشپړ واك لري تيلفوني خبرې ثبتيږي . هر کور کتلای شي هر څوك نيولی...
اوس ۱۳۸۰ هـ ل کال دی اود لږم دربيمه ده فکر کوم ۱۳۵۷ دی هماغه د لږم دربيمه ده او کابل کښې يم د پلچرخي محبس دی هماغه هوا او فضاده توپير دا ،چې هغه مهال ۴۸ کلن وم اوس يواويا ، هغه مهال بچې ماشومان و اوس نه دي د خان غم مې دی همدغه آسانتيا ده خو دغه آسانتيا ده ،چې د عمر په بيه مې ترلاسه شوی.
دهغو خلکو غم مې ژړوي ،چې همدغه ساعت ،چې داکرښې ليکم هغوی بمونو لاندې په خپلو کورو کښې مري . تر دې دردوونکی دادی ،چې يو شمېر افغانان همدغه حالت لابيا غواړي او د انګليس ، امريکې په خدمت کښې دی دلته او هلته . مافکر کاو ،چې دوی مې پيژني خونه يې يم ژندلی ماته هم دغولو د خوراك ست کوي.
يوه خبره ده مخکې د طالبانو له څرګنديدو ما د ظاهرشاه ،چې قاتل شاه نه و پلوی کوله ما د نجيب د قدرت د اخستو په سوله يزه توګه پلوي هم کوله ،چې وروستی حالات ۱۳۷۱ تر ۱۳۷۷ هـ ل حالات نه وای پېښ شوی هغه پېښ شول ما ،چې د افغانستان اقتصاد ته کتل ،چې يو شمېر خلکو د اروپا او امريکا په سطح ژوند کاوه او ډېرو بريښنانه پيژنده هماغه تنور تاو خانه هماغه وچ مخونه په پښو بوټان نه نو فکر مې کاوه ،چې داسې يو حکومت ،چې خلکو ته ورته دی.
دومره خلکو ته ورته وی ،چې هيڅ کله لنګوټې او کميس پرتوګ ليري نه کړي استاد محمد انور خان انقلاب ،چې تل يې شپوخولی پسر وه نکتايي به يې تړلې وه هغه يې مسترکچالو باله ، دوی ټول له پاچانيولې صدر اعظم وزيران رئيسان واليان ټول مسترکچالان و . چې اقتصاد د باقلو او خولی فرانسوي بوټ ايتالوی ، زه هم دغه شانې وم خو پوهېدم چې شرم دی .
يوه ورځ مې غربي دريشي او کالي په ځان کښې و وردګوته لاړم يوه سپين سرې کوچۍ مې مخې ته راغله ماسلام او سترې مشې ورسره وکړله هغې راته وويل : زويه پښتون يې ما وويل هو مورې دې راته وکړل زويه سم کالي به دې اغوستي و اوس داسې ښکارې لکه د زيارت لکړه.

د اکتوبر په نهه ویشتمه په غرب کښې د سرحد د نهوزره جنګیالیو ، چې په وسلو سمبال و خبره او دعبدالحق د اعدام خبره ډېره ده او د انګلیس پلي عسکر ،چې بوبه هلته وای تر اوسه نه دي تللي د جرمني صدراعظم ،چې سوسیال دیموکرات دی په دې خبره ټینګ دی چې پلي عسکر دې افغانستان ته لاړشي جرمني عسکر هم چمتو دي.

جرمني صدر اعظم "شرویدر" په تکرار د ا خبره کوي ،چې طالبان دې وروسته لیري کړی شي، ځینې غربیان یاسرعرفات بن لادن بولي بن لادن ، دفلسطن د خپلواکۍ خبره کوي یاسرعرفات دومره وایي ،چې ډېر خلك له همدې مسالې استفاده کوي.

امریکا په داسې حال کښې ،چې شمالي اتحاد ته وایي ،چې تاسې زمونږ لپاره کار کوئ کابل ته به د ننوتو هڅه نه کوئ ، په هر توګه چې وي شمال اتحاد اوس د امریکې نوکري کوي او خپل اسلام او شرف یې ترې خار کړی شمالي اتحاد ( تاجك ازبك هزاره) ظاهرشاه راسته محمدزائیان غرب ژوبل کړي نور خلك ،چې ښارونو کښې په اروپایي رقم اوسیدلي د انګلیس ، امریکې هر ډول خدمت لپاره بې له شرط حاضر دي . پر وفیسر انصاري د ایرانیانو رنګارنګ تلویزیون کښې وویل : افغانانو تاسو ته زمونږ اخ راځي ،چې نن سبا آزادېږئ همدا ،چې انګلیس ، امریکه په عمل لاس پورې کړ ،چې تاسې له طالبانو خلاص کړي تاسې ډېر نیك مرغه یاست مونږ په دغه یو وروسته له تاسو مونږ آزاد شو.

دغه ده نېك مرغي دغه ده آزادي !

د افغان روح یو تمثیل دلته ضرور دی شهید عبدالقدیر پیاوړی ،چې په ۱۹۸۸م کښې په ور د ګو کښې په شهادت رسیدلی .ا فغان روح افغان فلسفه په یو شعر کښې بیا نوی په ځیر یې ولولئ هره بیت او مصرع یې ددغه ورځ تمثیل دی .

انسان نیمګړی دی ملي کلتور یې سرلوړی ساتي .

# عیاری ( میړنتوب)

عشق اور دی په کښې سوځی پتنگان هم / عیاری کول خو کار نه دی آسان هم
چې په لاس کښې ککری خپله و انخلي / خوشې لاپسې دي څوك نه کړي په میدان هم
دوطن جوړول کار د عیاري دي / داثبوت دی په تاریخ کښې په ښه شان هم
عیاري هسې روښانه لاره بویه / د هغو پرمخ لري چې لوی ارمان هم
د یعقوب[۱] په څیر د عزم څښتن غواړي / که څو وی د مسکرله خاندان هم
د میرویس له هوښیاری نه پند واخله / د محمود په څېر په لار روان دوان هم
د فرید (۱) غوندې چې زړه ورسره نه وي / وژی نه شي د ځنگلونو زمریان هم
د احمد د توري شرنگ یې خوږ آهنگ دی / ددی هسې لوی منزل د مسلمان هم
محمود لقب خو هله سلطان کېږي / چونسکور کړی سومنات د هندوستان هم
د افغان مجاهد برم چې نن لوړ دی / په گوزار یې استکبار دی په لړ زان هم
دا همه کارونه تول په عیاری(۱) شي / دمیوند د ملالی دی بیا دوران هم
د کابل په زړه کښې سورتنور جوړ شوی / په کښې سوځي د پردیو غلامان هم
کا بلرود او اباسین تل سره یو دی / خوشې خیال دی ورته نه کړی د ښمنان هم
د خوشحال په څېر وردانگی سره ډکرته / عیاران د ننگ دغولی زمریان هم
د زوال پرمخ روان یې هر دښمن دی / په شرمونو شرمیدلی په جهان هم
که په نن که په سباوی نسکورېږي / د خوړین شوی استعمار زاړه بتان هم
د اتکل دی نن و خت د عیارانو / ماته نشته که وی پاتې یو افغان هم
د شهید د تکو سرو وینو پیغام دی / زمزمه غوندې په غوږ کښې د افغان هم
یا به جوړ شي دا وطن د افغانانو / یابه شي بدله دا دنیا په بیابان هم
ددښمن غوړېونه خلاص کړه ای "پیاوړیه / دی تصمیم ته رسیدلی عیاران هم

شهید عبدالقادر پیاوړی

ACKU

د شهيد قدير پياوړي دغه شعرونه پوهېږم په کومه ادبی سطحه کښې وی ؟ مګر بشپړ افغان بويه همداسې فکر وکړي او همدغه يې مفکوره وي.
دغه شعر د روس د تېرى په مهال ويل شوى و مګر دادی د امريکې او انګليس د تېرى په مهال هم کاري شعر دی.
د اکتوبر په ديرشمه په مزارشريف او د شمالی په بګرام کښې شمالي اتحاد جګړې ته چمتو ولاړو دوی له امريکې بيا وغوښتل ښه ډېره بمباری دی وکوي چې طالبان دل ول شي.
د امريکې ددفاع وزير ويل : " مونږ ديوه جوړ شوي پروګرام له مخې عمل کوو"
د کابل متل دی "ترآشه کاسه توده ده" يا مدعی سست ګواه چست يعنې له مدعی نه شاهد کلك دی.
په همدې ډول خبره داکتوبر د مياشتې پای ته ورسېده يو دېرشم شو او ۱۳۸۰ د لړم نهمه په پرتګال کښې لويې مظاهرې وشوې ويل يې امريکا او انګليس دې پر افغانستان بمباري نه کوي ، په مزارشريف کښې سختې بمبارۍ وشوی هلته امريکايي عسکرله شمالی اتحاد سره اوږه په اوږه د طالبانو په خلاف جنګېږي.
د امريکې او د انګليس ددفاع وزيران يو ځای د خبريالانو دسوالونو لپاره د تلويزيون پردې کښې ښکاره شول . دوی ويل د مزارشريف نيول ضروري دي هلته به مونږ يو ذخيره جوړه کړو د موادو او وسلې هوايي ډګربه يې د هوايي عمليتو لپاره وي.
د اخو ورځې دي او پرله پسې حملې دي خو طالبان په سختۍ سره مقاومت کوي ددفاع د وزيرانو په څېر وکې خوشحالي نه وه او ويل يې مونږ په کور کښې تروريست لرو مطلب يې د انترکس ناروغي چې خپروهلـه ، دوی دا خبره هم وکړه چې مونږ نه غواړو د شوروي اتحاد په شانې هلته ښکېل شوي دا نوی تاکتيك دی.انګلستان چې غوښتل يې افغانستان کښې عسکر پلي کړي تر اوسه يې نه دي کړي ،چې ددوی دوينا له مخې چې بايد يوه اونی مخکې شوی وای.
داسې ښکاري ،چې دسرحد د پښتنو دغه نهو زرو وسله بند لښکر ،چې با جوړو کښې تول شوي و او افغانستان ته روان و د انګليس پلي عسکرو درولي.
توني بلير ،چې په ډېره غوره يې دا اعلان کړی اوس دسپی مخ نيولی وی وايي ،چې دا جګړه اوږده ده لومړی بويه په هوايي بمبارۍ هلته هر څه ختم شي د لړم د مياشتې په

نهمه د امریکا ، انګلیس د خبرو ډمب اوښتی و او داسې یې نه ویل ،چې جګړه به ژر خلاصه نشي او دایي یوه ګرانه جګړه بلله ،چې له نورو جګړو توپیر لري.

## یو سیاسي تحلیل

هغه مهال ،چې د انګلیس په ځمکه لمر نه لویده ، فرانسه ، ایتالیا ، پر تګال هالند هر یو یو هېواد نیولي و.

سید جمال الدین پسې ووت د خیتځ د خپلواکی خبره یې وخوځوله اسلامي هېوادونه د ملګرو د موندلو دپاره دشرق آزادی یې ځپل د حرکت اساس کړ.

تاین بي وايي اروپا په دوو عمومي جګړوکښې خپله برلاسی له لاسه ور کړه او برلاسي امریکا ته ورسیده امریکا راغله تر ۲۰۰۱ م پورې ددغه کال دسمبر په یوولسمه په نیویارك کښې یوه دنه منلو پیښه وشوه ،چې واشنګټن هم ورسره و .

امریکا په غضب شوه پر افغانستان یې ودانګل . برابری بیخي نه ده افغانستان د روس او کمونستانو په جګړه کښې سترې ستومانه دادی امریکا . انګلیس او نور پرې راغلل ، دغې پېښې اسلامي نړۍ وخوځوله او د نړۍ نور خلك هم پاځېدل مسلمانانو خواخوږي وکړه سوریې ، عراق ، عربستان ،لبنان، ایران ، ترکمنستان ، د امریکې ملګرتیاونه کړه البته خپله ګوزاره ، هریو کوله .

دا یوه خطرناکه پېښه ده افغانان خوښې بربادو مسلمانان ډېر دي خو هغه د نیایي وسایل نه لري ،چې غرب یي لري مګر عقیده او ایمان ورسره دی دا جګړه څومره ،چې خوځېږي خلك یو تصمیم ته رسېږي که دوی اقتصادي معاملې پرې کړي د امریکا بربادي ده.

ځکه دده اصلي مخ ښکارېږي تر اوسه ،چې امریکا وه هغه دیمو کراسي د خپلواکی اعلامیه د بشرحقوق واشنګټن ، توماس جفرسن ، اربراهم لنکلن خبرې وې هغه امریکې په عصیت کښې پرېښوده دا ناشونې کار دی ،چې امریکه وژغورل شي.

نن یا سبا له شمال نه جنوب ته د انرژي پیپ لار تېرېږي امریکا او روس یو بل ته غله دي دواړه د مینځنی آسیا سرچینو ته ناست دي د دواړو غلیم یو دی او هغه پښتون دی د نوامبر لومړی د لړم لسمه پر افغانستان فرشي بمونه وغورځیدل . د امریکې تلویزیون چینلو له دغه د لوګي غرونه غرونه وښودل په بګرام او قندهار کښې کله ،چې د طالبانو پر لیکو فرشي بم وغورځیدل د لوګي غرونه پورته شول " برادران افغان"

دلیري غونډیو د پاسه هغه لیدل په خوشحالۍ سر شول او خپله غټه ګوته یې لکه امریکائیانو پورته کړه او په انګلیسي یې تنکیو وویل : امریکادغه صحنه وښوده ،چې افغانان مو خوشحال کړل.

لختر ابراهیمي دالجزایر پخواني بهرنی وزیر او ملګرو ملتو پلاوی ،چې افغانستان ته د خبرو لپاره روان و طالبانو وویل مونږ ده سره نه ګورو او نه اجازه ورکوو ،چې افغانستان ته راشي.

ټونی بلیر ( د چنګېز زوی تولی ) له سوریې او عربستان څخه ماښیجن بیرته لندن ته لاړ.

یا حضرت مولانا : زه ،چې بد و حالاتو ته راو زم بیا د مولانا جلال الدین بلخي دیوان ته لاس کړم او له هغه ځوکرښې ولولم مولانا د خدای (ج) په مینه کښې ډوب دی او ستي دی زه اوس ،چې امریکې کښې یم دلته داسې حالات لکه پخواني شوروي اتحاد تلیفون کښې خبرې نه کېږي بنی مصداق ،چې یو مهال د B.B.C د پښتو څانګې مشر و بیا ،چې دده ملي احساس پرده غلبه درلوده له هغه ځایه وایستل شو دی اوس امریکې کښې دی هغه تیلیفون کښې وویل درځم او ګورم دې اوس که څوك چاته معمولي خبره هم کوی بویه ورشي . دده زړه ډك دی.

نن سبا امریکې دا حال ،چې سړی له خپلو هم ویره لري ماسره په کورنی کښې او پڅندګلوو افغانانو داسې څوك نشته ،چې د زړه حال ورته بیان کړم او یوځواب واخلم نو دادی .

دحضرت مولانا دیوان سره خبری څه ،چې ده وویل تاسوته به یې هم ووایم.

زما مشران پښتانه بابا ګان دی : د حمزه شینواری خبره احساس زما پښتون زړه مې مسلمان دی .

چې بی تاچاته ټیټ نه شي ، ننګیالي زما ژوندون کړه<br>
زړه زمادی مسلمان وی . تفکر مې د پښتون کړه<br>
زه له وخته ګیله نه کړم ،چې ښادي یې له مایوړه<br>
خو کاروان مې د همت او استقلال بیرته راستون کړه

حمزه بابا

حضرت مولانا :

کين عدو وآن حسود و دشمنت
خود حسودودشمن او آن تنت
اوچون فرعون وتنش موسی او
اوبيرون می دود که کوعدو؟
نفسش اندر خانه تن نازنين
بردیگر کس دست می خايد بکين

که له دی سياسي مفهوم واخستل شي نو داسې به وي :

حسود دښمن خپل ځان دی د فرعون موسی ( حضرت موسی ) دده خپل وجود دی هغه د باندې ځغلي چيرته دی غليم ؟

دده دښمن دده په ښکلي تن کښې پټ دی او پر بل باندې غاښونه چيچي.

زړه چاودون : د B۵۲ دفرشي بموالوتکو د قندهار دد امان په ولسوالۍ اوه پيرې فرشي بمونه غورځولي " کلي لوټې لوټې شوي د سلو تنو په شا او خوا خلك مړه شوي او دغه کلي ژور نالستانو ليدلي دي . نو د کلي سړی بي بي سي ته ويل ،چې دلته يو څو ګاډی ولاړ او د بريښنا جنريتر يي درلود ،چې بريښنا تري لاسته کېدله همدغه د امريکايي پيلوتانونه کافي و ،چې غواړي په افغانستان کښې ژوند په تپه ودروي.

دلړم په لسمه حامد کرزی په دې بريالی شو ،چې د پښتنو په مينځ کښې نفاق راولي او جګړه وشي په همغه عمل ،چې قوماندان عبدالحق بريالی شوی نه و. په د هراو د کښې جګړه پيل شوه د حامد کرزي يوه ويناد د معلم عبدالحميد په نامه بي بي سي ته وويل ،چې دغه جګړه د امريکا لپاره دلويې جرګې په نامه .چې نهه اتيا کلن محمدظاهر شاه يي په سر کښې ولاړ دی کيږي.

اوس قاتل شاه يادېږي.

په همدغه ورځ ځنې ښه خبرونه هم و :

د اندونيز او ماليزيا مشرانو پر امريکې غږ کړی ،چې خپلې بمبارۍ پر افغانستان باندې پای ته ورسوي.

طالبانو په چاربولك کښې يوه امريکايي جنګي الوتکه راوغورځوله . امريکايانو په دره صوف کښې يو ټانك اوه ځلې بمبارد کړ.

امريکائيانو د کجکي د برېښنا فابريکه او د اوسپدو ځايونه ،چې په ۱۹۵۲ خپله امريکايانو د هير مند دقرار داد له مخې جوړه کړې وه بمبارد کړه کورونه يې هم وران کړل.

دحامد کرزي سړي داهم وويل ،چې کمونستانو سره شوروي اتحاد دولاړ و او دوی سره امريکا داده پښتونواله او اسلام.

پيرنګی درنه پښتو ده هيره کړي چې کيسه يې راپه خوله کړم اجازت دی ؟
وايي مونږه سره ټول مسلمانان يو ډېره ښه ده زړه دی ښه کړم اجازت دی؟

ACKU

# افغانستان د نړۍ له هېوادونو سره په جګړه کښې

دتلې په لسمه ۱۳۸۰ د ترکیې دولت وویل ،چې افغانستان ته عسکر لېږي ،چې طالبانو سره وجنګېږي او د مخالفینو عسکرو نظامي روزنه وکړي.
د امریکا ددفاع وزیر وویل ،چې افغانستان کښې به خپلې حملې لږي نه کړي د روژې په میاشت کښې به هم جګړه په خپل حال وي . نو عسکر به واستوي پنځه زره ذخیره عسکر یې غوښتي دي ،چې افغانستان ته لاړشي انګلیس ، امریکا ، ترکیه اروپایي اتحادیه ، هند ، جاپان ، تاجکستان ، ازبکستان ، روسیه او نور پر جګړه وچ کالي وهلې هېواد ور دانګلي دادی میاشتې وزی ،چې طالبان مقاومت کوي .
دنړۍ اقتصاد مخ په تېتېدو دی ، د انترکس له ناروغۍ وېره ډېره شوې دادی امریکا دا خبره کوي ،چې ښایي تروریستان کومه اتومي اسلحه زمونږ په ضد وکاروي.
دتلې ۱۱ ، د ۵ نوامبر ۲.
بی بي سي وویل حامد کرزی قندهار ته لاړ ،چې د لویې جرګې په نامه په خلکو کښې نفاق راولي طالبانو دده دنیولو هڅه وکړه امریکایي هیلوکوپترې راغلي او دی یې وایسته کویټې ته ورسید ، مګر دده ملګرو کښې څلورتنه ووژل شول.
که خبره داسې وي دغه خلك ،چې وژل شوي دي دا به ددې سبب نه شي ،چې کرزي سره بیا څوك لاړنه شي.
د لړم ۱۲ د نوامبر دریمه د امریکا دوې طیارې ،چې پنځوس امریکایان په کښې وو غورځول شوي او وژل شوي ، د امریکا د دفاع وزارت وایي یوچورلکه د هوا د خرابۍ له کبله لوېدلې څلورتنه ټپیان شوي او بله الوتکه راغلې او هغه لوېدلې الوتکه یې بمبار د کړی د امریکا وارخطا مشران وایي ،چې د طالبانو د تبلیغاتو د مخنیوي لپاره یوه رادیو په سیمه کښې ودروي له بلې خوا د امریکي ددفاع وزیر مسکوته ورسید او هلته یې د روسیې جمهورئیس او ددفاع وزیر سره وکتل ،چې شمال اتحاد ته وسله او مهمات ورکړي.
رمزفیلد د امریکې ددفاع وزیر پاکستان ، هند او ازبکستان ته ځي او ددغو هېوادو مرسته د افغانستان په جګړه کښې غواړي.

د طالبانو مخالفينو دعوا کړې .چې يوه ولسوالي يې په مزارشريف کښې نيولې ده د طالبانو له ليکو جنګيالي ور اوښتي دي طالبان وايي وچې څو پوستې يې نيولي دوی به هغه کرښي پياوړي کړي.
اوس امريکا په پيسو محلي کمزوری خلك اخلي . د مراکش پادشاه د امريکې د بمباريو بنديدل غوښتي دي.
اسامه بن لادن بمباري د ملګرو ملتو او د اسلام خلاف بللې ده.

## هنګامه ده د افغان او امريکا :

انګليس امريکا روسيه، هند د افغان جګړې ته تللي دادی ترکيه هم عسکر استوی لومړی يې يو اردو و لېږله اوس سل کسه لېږي هغه هم د شمال د سپاهيانو دروزلو لپاره .
انګليس هم ويلي عسکر ليږي اودادی دا څوهفتې تېري شوې او عسکريې نه دي لېږلي امريکا ته هغه هيبت نه دی پاتې .چې فکر کېده دا هماغه د شوروي اتحاد خبره شوه ،چې ابرقدرت بلل کېده مقابله نه ورسره کيده کله ،چې افغانستان طلسم مات کړ د امريکا هم هغسې شوه طلسم مات شو او امريکې سره مقابله کيدای شي.
په اپريدو کښې څوکسه دا کار کوي ،چې افغان مهاجروته هلته ډوډۍ درمل او ټرانسپورټ برابروي او دا مصرف ددوی له خپله جبه دی کوم دولت نه دی
هره ورځ مهمې خبري وي د نوامبر په پنځمه دتلې څوارلسمه د امريکا ددفاع وزير د روسيې تاجکستان ،پاکستان ، هند له سفره بېرته واشنګټن ته راغی ده وويل د افغانستان موضوع به زر خلاصه شي ،څنګه ؟ په دې څوك پوه نه شول پوځي عمليات له حده ډېر کړي .چې افغانستان له مينځه لاړشي ؟ يابه يې سم ونيسي ؟
وروستۍ ورځې يا مياشتې کښې به خبره څرګنده شي . په دغه ورځ شمالي اتحاد ، اوه زره خلك .چې کوماندويي کالي يې اغوستي و په امريکايي وسله او روسيې ټانکو يې شانه ښکارېده درباني له مخې تېر شو امريکايې عسکر هم ورسره و رباني وويل په دواونيو کښې به کابل له طالبانو ونيسو دوی هفتې دومره ليرې نه دي وبه نيول شي يا به نشي.
بې درده افغانان روسيه ،انګليس او امريکا .چې يو لاس شي په افغانستان کښې هر څه کولای شي او که نه شي ان الله على کل شي قدير

ACKU

د نوامبر په پنځمه وويل شول امريکا په کابل کښې پر يوه داسې هوټل بمباري وکړه ،چې په هغه کښې طالبان اوسېدل امريکايانو وويل د ېر طالبان په کښې وژل شوي امير خان متقي د طالبانو وياند وويل ،چې بم په يوه کور لګيدلی او ملکی کسان ووژل شول امير خان متقي د افغانستان د پوهنې وزير او رسمي وياند وويل ،چې د امريکا ددفاع وزير ويلي دي ،چې طالبان د بمبارد په مهال تښتي .

دوی هم بې له بمبارده سپينه ماښی پرېښي ده او مونږ ته وايي تاسې يو ځای کښينی ،چې مونږ بموټه درباندې واچوو.

زورور خلك زورې خبرې هم کوي. امريکايانو پر باغ بالا بمونه اچولي دي او ځو کورونه يې ويشتلي .همدا چې د ۱۳۸۰ دلړم پنځلسمه او د نوامبر شپږمه د ژمي ساړه ولګېدل د افغانستان پرلورو غرونو واوره ښکاره شوه رباني د اقليتو او امريکا ،انګليس د لښکرو ګډه مظاهره وکتله ځوك وايي ،چې تاريخ نه تکرارېږي په کال ۱۸۳۹م شاه شجاع له همداسې يوګډوله لښکر سره راغی په دې توپير ،چې شاه شجاع په خلګو ګران و په ده باندې يې ويسادرلوده په لومړي سر کښې خلکو فکر کاوه ،چې شاه شجاع به وکولای شي انګريزان بېرته ولېږي . سره له هغه خلکو دکانونه بند کړي ،چې شاه شجاع تېريدل ونه ګوري.

دادی ۲۰۰۱ د نوامبر په شپږمه برهان الدين رباني ګډوله لښکر ،چې ددوی له خولې او زړه وکوت.

رباني په دې جملې خبرې پيل کړې : ای د اسلام او وطن مدافعينو ( آفرين پرتاسو روس ، انګليس ، امريکا د اسلام او افغانستان مدافعين دي).

په همدا ورځ د اورکزيو قومونو د جهاد اعلان وکړ او درې زره تنه د امريکا ، انګليس ،روس جهاد ته د افغانستان په لور روان شول په خپلې وسلې او خپلې ډوډۍ .

د امريکې پخواني لوی درستيز اود بش مشاور د بش له قوله وويل : د مصر جمهور رئيس مبارك ماته وويل ،چې ټوله نړۍ له اسامه بن لادن سره جنګيږي . ( دا کوم ددې زمانې منطق دی شکر خدايه ،چې ټول مسلمانان ټوله نړۍ بن لادن سره جنګيږي او هغه يو سړی دی .

پخوانی در ستيز وويل ،چې د ترور جرړې په پنځوسو هېوادو کښې دي داسې ژرنه ايستل کېږي " سبابه د پنځو سوهېوادو دغه حال وي ،چې د افغانستان دی "
ډونالډرمزفيلډ Donald Ramspeld د امريکا ددفاع وزير په ايلتو سر دی اوس نه د بري خبرې کوي نه د پاتې راتلو دی وايي له تروريزم سره جګړه بېل اړ خونه لري تاسې يوازې دې ګورئ ،چې اسامه بن لادن نيول کېږي يا وژل کېږي ؟ مونږ د هغوی شتمني له مينځه وړې هغوی تش لاس شوي دي .
بيا وايي ښايي هغوی اتومی امکانات ولري او بيولوژيکي او کيمياوي وسايل ولري.
د امريکې ملت بد ورګی دی ژرغيچ اخستلی شي او خبر پای ته لاړه شي رمزفيلد وايي داپوه ډېره اوږده جګړه ده په ټولو عربي هېوادو کښې د هغوی جرړې دي.
شهزاد عبدالله د عربستان وليعهد دی او د عربستان پادشاه ملك فهد ناروغ دی شهزاده عبدالله د امريکې ډېر پلوي نه دی د امريکې او اروپا وېره له دې ده ،چې دعربو مزاج وانه ړوي او جګړه پراخه نه شي.
جرمني وويل دوه زره نهه سوه عسکر افغانستان لېږي ،چې د امريکې په خدمت وي فرانسه دوه زره لېږي ، ځکه بش وويل ،چې په خوله ټول د تروريزم سره جګړه غواړي خو په عمل کښې څه نه کوي بش بيا خبره وکړه ، چې د نړۍ ټول هېوادونه يادوي مونږ سره يا زمونږ مخالف سره ژاك شيراك د فرانسې جمهورئيس ددوهم ځل لپاره په دوو مياشتو کښې امريکې ته راغی مګر ځکه يې داخبره وکړه ،چې پرته له جګړې نورې لارې ولټوي اوه تنه امريکائيان د قندهاريه جنوب کښې ونيول شول ددوستم امريکې مشترك عسکرو د سختی بمباری وروسته د زارع ولسوالی و نيوله مګر اميرخان متقی وويل زمونږ مجاهدين هلته رسيدلي او ولسوالی به بيرته و نيسي .
د نوامبر په شپږم دا مريکې يو بل هيلوکوپتر په افغانستان کښې وغورځول شوه په کراچۍ اسلام آباد او پېښور کښې د امريکې ، انګليس په افغانستان باندې د بمباريو او پلي عسکروله امله لويې مظاهرې وکړې ډېرو مسلمانانو بي بيانو هم په دغو مظاهرو کښې ګډون درلود . يو شمېر پښتانه د جهاد لـ اره افغانستان ته ننوتل .
امريکايي او اروپايي مشران وارخطا دي ،چې دالقـاعده مرکزونه په اروپا کښې موجود دي د امريکې سفارت ته په مسکو او لاهور کښې د امريکې قونسلګري ته انترکس رسېدلی دی . د نړۍ ټولي اقتصادي موسيس له تاوان سره مخامخ دي.

د نوامبر په او مه د لړم ۱۶ د عربستان وليعهد د بهرنيو چارو وزير شهزاده عبدالله الفيصل ،چې واشنګټن ته راغلی و مرور بيرته لاړل دی دومره خواشينی تللی و ،چې وې ويل امريکا دې بښنه وغواړي . ( د خبر پای ).
ويل کېږي دی عادي مامورينو کتلي و سعودي عربستان په ربړونکی حالت کښې دی.

له يوې خوا د عربستان پادشاهي په امريکې ولاړه ده له بلې خوا که امريکا له عربستان سره هماغه وکړي ،چې افغانستان سره يې وکړل نو څرګنديږي ،چې عربي هېوادونه ټکوي که داسې وشوه د امريکې برلاسی پاېناب ته رسي. چين او روسيه به بيرته سرونه پورته کړي بش خلك ويروي ،چې بن لادن اتومي او بيالوجيکي وسلې په کاروي او په دې باب د نوامبر په يوولسمه د ملګرو ملتو په غونډه کښې وينا کوي.

د نوامبر او ومه او د لړم ۱۶ وويل شول ،چې امريکې د بهرني نرخ دومره ټيټ دی ،چې څلويښتو کلو کښې دومره ټيټ نه و له بلې خوا د افغانستان سفارت په اسلام اباد کښې ،چې هره ورځ يې يو مطبوعاتي کنفرانس درلود د مطبوعاتي کنفرانسونه بند شول.

د افغانستان په شمال کښې د طالبانو مخالفين او رشيد دوستم وايي ،چې څلويښت کيلومتره د مزارشريف ښارته نژدې شوي .

په همدغه ورځ وويل شول ،چې امريکايانو نوې وسلې په کار کړي او شپږ زره ټنه بمونه يې غورځولي دي . په دې کښې يو دادی ،چې د شپږ زره پونډه بمونه پاراشوت په وسله غورځوي.

د امريکې په تلويزيون کښې يوړې وګرام ،چې شپېته دقيقې نومېږي د نوامبر په اوومه ۲۰۰۱ د لړم شپاړسمه ۱۳۸۰پوټين ۰۰وسيې جمهور رئيس دغه پروګرام ته راغی ده د امريکې د جمهور رئيس بش ددې خبرې په ځواب کښې ،چې زمونږ ځينې ملګري هېوادونه زمونږ د جګړې د افغانستان په خلاف زمونږ پلوي کوي خو په عمل کښې څه نه کوي.

وويل : د شوروي اتحاد د دوران ټول معلوماتونه يي امريکې ته ورکړي آيا تاسې کولای شئ بيا ويتنام ته عسکر ولېږئ ؟ (دخبرپای)

د بش او توني بلير حالت او سياست د مسوولو کسانو په څېرنه دی لکه بدمعاشان داسې دي دی. وايي ،چې مونږ غربي مدنيت ساتو مگر ددغه مدنيت بشپړ رنگولو ته يې ملاتړلې ده.

د نوامبر په اتم کال دوه زره يو د نړۍ په تلويزيونو کښې وليدل شول ،چې دشمال اتحاد خلك امريکايي ډالر او فرانسوی فرانکونه شميري دوی ته د ورځې پنځه ويشت ډالره ورکول کېږي ،چې جگړه کوي دوی ،چې ژور نالستان جبهې ته بيايي بيالس زره يوولس زره ډالره اخلي ،چې عقيده او ايمان نه وي هغوی په پيسو ساتل به امريکې ته هم گران شي.

حامد کرزی ،چې په ختمه پوپل زی مدعی دی ،چې د ننه په افغانستان دارزگان په جنوب کښې دی يوه پلا وويل شول ،چې طالبانو نيولی او وژل شوی.

د امريکې ددفاع وزير رمزفيلد وويل : دی تللی و طالبانو نيوه مونږ وژغوره د نوامبر په اتمه حامدکرزي بي بي سي ته وويل دايوه اشتباه ده ،چې رمز فيلد ويلي دي زه دلته دلويې جرگې لپاره کار کوم ، طالبانو زما د نيو لوهڅه وکړه .مونږ مقاومت وکړ . مونږ غواړو خارجيان عرب او پاکستاني وايستل شي او لويه جرگه جوړه شي. ( د خبر پای )

حامد کرزی فکر کوي ،چې امريکا ، انگليس ،فرانسه ، جرمني ،ايتاليا، روسيه ، هند .... خارجيان نه دي ، عرب او پاکستاني خارجيان دي.

هغه عرب چې زمونږ مسلمانان دي هغه پاکستاني ،چې گاونډيان او مسلمانان دي هغه پاکستاني ،چې د احمدشاه بابا رعيت و . بيا هلته زمونږ شل ميليونه پښتانه دي . بل کوم هېواد کښې دومره پښتانه شته ؟ هغه هم په نونسمې پېړۍ کښې ( چې دابه يې څلورم نسل وي ) ،چې له مونږه بېل شوی او هغوی انگليس بېل کړي دي.

د نوامبر اتمه د مخالفينو ( شمالي اتحاد ) ادعا د طالبانو له خوا رد شوي قوماندان غور غوري . قوماندان پرکتيې ژوندي دي ويل کېږي ،چې د جگړې خطونه پر خپل حال دي.

دهمدغو خبروله مخې په کابل باغ بالااو خيرخانه مېنه بمبار شوی . هغو ،چې کابل کښې بلد دي . پوهېږي ،چې دا د هستوگنو ځايونه دي.

په دې موده کښې يو شمېر امريکايان وژل شوي يو شمېر نيول شوي شپږ چورلکې درې الوتکې غورځول شوي دغه امريکايان هغه مهال ووژل شول ،چې په پاراشوټونو ښکته کېدل او دغوېښنو د امريکې او انګليس د ډېرو عسکرو پلي کېدل وځنډول او دغه هېوادونه لکه جرمني ، فرانسه ايتاليې دخپلو عسکرو د پلي کولو په برخه کښې زړه نازړه دي.
د نړۍ ټولې بشري ټولنې د امريکې او هغو د ملګرو برید پر افغانستان باندې غندلی د امريکې په کانګرس کښې دغه راز غږونه پورته شوي.
د نوامبر په نهمه ۲۰۰۱ دلړم اتلسمه ۱۳۸۰ يو ورځ مخکې طالبانو د شمالي اتحاد د امريکې په مشرۍ داخبره رد کړه ،چې مزارشريف ته مخالفين نژدې شوي يوه ورځ وروسته ،چې د نوامبر نهمه وه خبر راغی ،چې مزارشريف امريکې ، انګليس او مخالفينو يعنې د شمال اتحاد ونيوه.
په مزارشريف کښې جګړې دوام لري امريکايان ، انګليسان هلته تلل او د جبهې له شانه راکتونه ولي. الوتکې داسې بمونه وروي ،چې هريم شپږ زره پونده دی اوه سوه پرواز په ورځ کښې کېږي.
نظامي پوهان وايي وروسته له اتوم بم نه همدا بمونه دي يعنې هسې وسله پاتې نه شوه ،چې امريکې ، انګليس نه وي استعمال کړې.
د انګليس ، امريکا ، جرمني ، فرانسه ، ايتاليا ، ترکيې ، روسيه ، اردن ، هند او نورو ګډه حمله ده پر افغانستان باندې ځکه هلته يو اسلامي نظام راغلی و شريعت عملي کيده .
چنګېزخان تر غربيانو لاښه و ،چې پخپله بې جګړ کوله مګر دده زوی بش او چت تخنيکي نظامي وسلې لري او هغه استعمالوي په ۱۹۷۹م کال کښې ،چې زه لاښد کښې وم يوه خلقي صاحب منصب وويل "چې مونږ مچ په توپ ولو" دا وحشت نه ټېره خبره ده .
د شنبې په ورځ د نوامبر لسمه ۲۰۰۱ د ملګرو ملتو په لويه اسمبله کښې بش (او کتای) ويناوکړه. دده دوينا لويه او مهمه برخه د افغانستان جګړه وه ،چې د امريکې ،اروپايي اتحاد او نورو اعلان کړې ده مګر هسې ،چې هيله يې درلوده هسې هرکلی يې ونه شو.

" او کتای" بش د دیموکراسی اصول تر پښو لاندې کړل بشر دحقوق او قانون هم بش وایي یا به له ماسره یاست یا تروریستانو سره ؟ دلته له خلکو او دولتونه واك واخستل شو.
بش داهم وویل : ډېر نظامي هدفونه ویشتل کېږي لږ ملکي مگر! ملکي خلك خو چمتو نه دي هغه حقوق ،چې طالبانو ( نجونو او ماشومانو ) ته نه ورکول ده ورکړل (!) تر اوسه شپاړس زره عام خلك وژل شوي ( ۲۰۰۱ کال اکتوبر ۷ نوامبر لسم پورې) دغه خلك وژل شوي.
" اوکتای " بش په دغه مهمه وینا کښې داهم وویل ،چې طالبان ښځې نه پرېږدي ،چې جرابې پښو کړي (!) (دخبرپای).
ما خو خپل کور کلی کښې یعنې میدان کښې ،چې شل زره کوره حسابېږي شل جوړه ښځینه جرابې نه وې لیدلې په هېواد کښې په میلیونو مېرمنو لیدلي هم نه دي هغه اقتصاد نه لرو " مونږ له داسې څناورو سره مخ وو لکه بش ".
سعودي عربستان ، سوریه ، عراق ، لیبیا ، دپاکستان خلك او نړۍ مسلمان خلك هر چېرې ،چې د افغانستان له خلکو خوا خوږي وکړه ، د اسلام نړۍ کښې عام خلك پر کلمه ټینګ ودرېدل .
جنوب ته وگورئ خلکو وینې، سرونه ، مال هر څه یې ورنه خار کړل شمال ته وگورئ ډالر ، پونډ او فرانك یې جبونو کښې واچول[۶] او په همدغه پیسو یې خپل ایمان ، وروري او افغانیت خرڅ کړل دا حال ،چې هر څومره ربړونکې دردونکې ، وژونکې وي ، بیا هم تېرېږي او دغه خوږ او درد نه ور کېږي امریکا ،چې هر څومره پیاوړې وي بیا هم زوال لري ، داستان پاتې کېږي ،بش په خپلې وینا کښې وویل : اسامه بن لادن ویلي دي ،چې اتومي او بیولوجیکي وسله لري او دا مطلب د پاکستان د ډان په اخبار کښې خپورشوی دی .
طالبانو ویلي ،چې دوی مزارشریف پخپله پرېښې دی د نوامبر په لسمه تلویزیونو وښودل ،چې امریکایي عسکریه مزارشریف کښې پلي شوي و.
زره چاودون: د دوه زره یو میلادي کال یوولسمه او یوزره درې سوه اتیاوم کال دلړم شلمه یو ورځ مخکې طالبان له مزار شریف څخه ووتل په سبایي له تالقانو ، بش امر

[۶] په تلوېزیونو کښې وښودل شول ،چې په اسعارو پیسې اخستل شوي.

وکړ ،چې کابل ته به نه ننوزئ ځویو پراخ بنسټ حکومت جوړ شي دادی د نړۍ بادار ټوله نړۍ د طالبانو جنګ ته ودروله آفرین پر طالبانو ،چې دومره مقاومت یې وکړ آفرین د پاکستان پر خلکو ،چې سم ودرېدل ، هغه هېواد افغانستان ته عسکر او عسکري سازسامان لېږلی دادی : امریکا وانګلیس ، جرمني ، ایتالیا ، ترکیه ،هند هېوادو ،چې دوی سره مرسته کړي روسیه ، جاپان ، چین ، د پاکستان حکومت د اروپا نوروهېوادو . هغه هېوادول ،چې په هېواد کښې پاتي و ، عربستان ، مصر ، سوریه ، عراق ، لیبیا ، دا باور ګران دی منل یې له واقعیت لیری دي مګر د غرب اخلاق په تېره بیا امریکا ،چې د سپتمبر د یوولسمې حمله د نړۍ پر تجارتي مرکز د همدغه نړۍ خوړونکي پلان یوه برخه وه یو سلو پنځوس هېوادونه چې د امریکې په فرمان دي بیرقونه ښکته خپلواکي تللې ده عراق او هغه هېوادونه ،چې دامریکې اتحادیې کښې نه دي شامل شوي له افغانستان وروسته یې وار راځي او دایي ویلي دي څه حدس او ګمان نه دی .

آفـــرین د عاشـــقانو پـــه همـــت

چې په عشق کښې یو اندازوي یو جهت

طالبانو مبارك موشه ! جګړه دوام لري.

ظاهر شاه او دده ملګري کمونست او ستمي ، جنایتکار فحاشان ،چې د امریکې ، انګلیس ، روس ، او د امریکې نور غلامان ټرټولو هغو ،چې یادشول ډېر، ډېر، ډېر په ښکته او کوز ګندګی کښې پراته دي.

ای خدایه (ج) مونږ په هغه لاره بوزه : **صراط الذین انعمت علیهم ،غیرالمغضوب علـیهم ولا الضالین .**

د نوامبر په لسمه د امریکې یوه بیړی بیرته راغله او خپلو کورنیو دهغوی هر کلي وکړ.

## زه ولې په امریکې کښې یم ؟

دا داستان به اوږد وي ،خو لنډه دا : د ملګرو ملتو یولیك ،چې له اسلام آباد نه جرمني ته لیږلی داسې لیکل شوي :

United Nation
High Commissioner
For Refugees

IndexN.۰۰۵۶۰۵-۸۷/۲۸۳۰.pNaI.
۲ August ۱۹۸۷.

د قدرت الله حداد په برخه کښې ،چې د ۱۹۳۳ د اکتوبر په لمړی نېټه زېږیدلی دی . محترمو میرمنو او ښاغلي : مونږ په تلیفون کښې خبري کړې وې اولیك ۲۲-۱۰-۱۹۸۷ کښې مو هم خپل نظر ویلی و ،چې زمونږ نماینده په اسلام آباد کښې برابر کړی و .

د ښاغلي فرهاد ورور غلام محمد فرهاد ۱۹۶۶ د فبروري په ۸ د افغان ټولنپال ولسواك ګوند بنسټ کېښود ،چې د خپل اخبار له نامه افغان ملت یادېږي . ښاغلي حداد فرهاد دغه اخبار چلاوه د ۱۹۶۸ په اپریل د افغان ملت جریده مصادره شوه د ۱۹۶۹ په جنوری بېرته خپره شوه په ۱۹۷۳ ټولې آزادې خپروني بندې شوې ( جمهوري داود

د ۱۹۷۹ دی بندي و وروریې مشر فرهاد هم بندي شو . حداد فرهاد پاکستان ته مهاجرشو هلته شمس الهداشمس د فتر جوړ کړئ و .

اخوانیان دخلق او پرچم سره افغان ملت یو ردیف باله دوی ( افغان ملت) لوی افغانستان غوښت د پاکستان حکومت په رسمیت ونه پیژندل ښاغلی غلام محمدفرهاد په کابل کښې پاتې شو اوپه ۱۹۸۴ کښې وفات شو ، خپلو ملګرو د حداد مخالفت وکړ پاکستان حکومت هغه نظر بند کړی و قدرت الله حداد فرهاد لپاره ټولې دروازې بندې وې او خپل کور کښې نا امیده ناست و .

لاسلیك

د کتور پیژنیکو کلوس قضایي مشاور

په جرمني کښېږ قبول نه شوم ؛ ځکه له اتريش نه جرمني ته تللي وم قاضي ويل اتريش د امن ځای دی اتريش ته په دعوت تللی وم ( د افغانستان لپاره دځوانانو کمېټې دعوت کړی وم).

ما ويل که اتريش کښېږ پاتې شم هغه ملګرو ،چې دعوت کړی يم هغوی به خپه شانې شي

په دې زړه چاودون کښېږ هرومرو لوستونکو ته داسوال پيدا کېږي ،چې ولې دلته راغلي يم زما د ميرمنې ورور له پخوا دلته و او زه دخپلې ميرمنې له خوا په يو څه ناسم صورت دلته ومنل شوم او پنځلس کاله په لته کښېږ وم ،چې که په افغانستان کښېږ وضع ښه شي.

د امريکې دوه سوه اويا ميليونه وګړي دي په دې کښېږ ټول د امريکې د نظام خوښوونکی نه دي مطلب خپل عمر تېروي زه په هغوي کښېږ. يو يم اوه ويشت ميليونه ماغوندې زاړه دي ،چې دولت څه مرسته ور سره کوي.

دلومړي فصل پای

د نوامبر لسمه ۲۰۰۱

د طالبانو په شاتګ په نړيزه جګړه کښېږ

دنوامبر ۱۲ وويل شول ،چې د طالبانو مخالفينو هرات ونيو ددې خبرې دروغ او رښتيا به وروسته څرګند شي طالبان وايي مونږ ديوه تاکتيک له مخې په شا تللي يو ددې رينېتنولي به هم مهال وښيي.

اسامه بن لادن ،چې وايي اتومي او بيولوجيکي وسله لري يوخ اومه ( خامه ) خبره ده که يې لري کله يې په کاروي ؟ ددې خبرې کولو ته که رښتيا هم وي څه ضرورت ؟

که ده دا خبره نه وای کړې ردول يې څه ربړ درلود ؟ که رښتيا نه وي او ردوی هم نه دايو خيانت دی ،چې افغانان مسلمانانو سره يې کوي او امريکا ، انګليس د ظالمانه جګړې په موقف کښېږ يې دروي او خپلو بريدونو ته دوام ورکوي.

د نوامبر دولسمه ۲۰۰۱ د ۱۳۸۰ د تلې ۲۱ يوويشتمه دسهار ۹ بجې وې ،چې د امريکن ايرلس (AA) ۳۰۰ الوتکه ۲۷ دنيويارك په يوې سيمې کښېږ يې تنه له ماشين بېله شوه پريوې هستوګنې سيمه ولوېده دوه سوه پنځه پنځوس سورلی نهه تنه د الوتکې عمله په کښېږ وه ، په همدغه ګړی د امريکې جمهوريس بش او پوتين د

روسيې جمهور رئيس په سپينه ماڼۍ کښې رسمي خبرې کولې دوی د امريکې ، روسيې په اړيکو خبرې کولې.
بل خبر دا و ،چې هرات کښې د طالبانو او امريکې او شمالي اتحاد تر مينځ جګړې رواني دي د نوامبر په ديارلسمه د تلې دوه ويشتمه.
شمالي اتحاد په داسې حال کښې ،چې کابل ته نه ننوزي ننوتل د کابل يو شمېر خلکو ډيرې وخربيلې له کستو سره بازار ته ووتل ګړي وروسته لوټمار وشو او خلك ووېريدل.
مزارشريف کښې د سلطانه رضيې په ښونځي سل تنه طالبان ،چې پاتې و له مقاومت سره سره په شهادت ورسېدل نور هم ځينې خلك اعدام او لوټمار پېل شو د بين المللي مرستو ګودامونه چور شول د انګليس خارجه وزير له خواغږ پرې وشو چې خپله رويه سمه کړي.
طالبان د ميدان وردګ او لوګر په لورې تللي.
کله ،چې د امريکا کوماندويي عسکر مړه شول امريکا خپل هغه بمونه استعمال کړل ،چې ډېر خصوصيتونه يې درلودل ،چې نېغ په ټانګونو او توپونو تلل شپږ زره پونډه وزن يې درلود د طالبانو توپخانه شنډه شوه.
يو دېرش ورځې طالبانو د انګليس ، امريکې ، فرانسې ،جرمني او ددوی نورو متحدينو سره په نره مقابله وکړه او ووتل.
شمالي اتحاد دهمدغه اور په مرسته د ظاهرشاه پلويان او دراني پښتانه البته يوه برخه يې د انګليس ،امريکا د حملو او لوګيو او ډزونو سره سره ننوتل د تاريخ قضاوت به همداوي . .

پــه جهـــان د ننګيـــالو وی دا دوه کـــاره
يـا بـه وخـوري ککـری يابـه کـامران شـي

اقتصاد او اسلام :

د واړه نـــه کېـــږي رحمانـــه
يابـــه يـــاروي يابـــه دار وي

اقتصاد هغه خپل ملك يا محصولات ولري يا سرچيني يا كاريگر خلك لـه د ښتي غره هرې هستۍ نه په كړاو څه رابود كړي ، يابه يې بل وركوي ،چې هغه اقتصاد نه دی يا به ځان وركړي يا حيثيت او ناموس ژوند به ككړوي.
اسلام كښې به قناعت صبر او زحمت ايستل شريعت او پاكه ټولنه له شر او فسادنه خلاص د تلې په ۲۲ كابل كښې ۱۳۸۰ څومره ،چې تلويزنو كښې وليدل شو ځينې خلك يې له كورو و ايستل شول او اعدام شول ځينوځايونه مالونه وايستل شو پر سړكو مړي په بدحال پراته و خولايې يو سپين ږيری او يو ځوان لاسونه يې ترشاه تړل شوي كښينول شول ،چې وژل يې دوه مړي پراته او يوه تن ورته ژړل.
يوږيره خريلې وه او په لاس يې مخ ونيوه ويل يې دادی اسلام آسمان شين و سړكونه جوړ و د شمال اتحاد مسعود عكسونه ګرځول پر لاريو ټانكونو سپاره او خوشحالي يې كوله ماشومانو ډېرو ،چې خوشحالي كوله البته مشران خلك نه و . دغم ، خوشحالي بيرغونه يې د شمالي اتحاد لښكرو په لاسو كښې.
د امريكې الوتكې د طالبانو په وروستيو مورچو بمباري كولې.
امريكې . انګليس دا ورځ په بې رحمانه بمباريو دا كار وكړي راتلونكي څرګندونه دې امريكې ويلي مونږ هر ځای ،چې وران كړو بيرته يې جوړو جاپان ،جرمني ،جنوبي كوريا ... ځينې خلك يې خوشحال دي شمالي اتحاد د امريكې په وسيله خپلو عقيدو ته لاره خلاصه كړې د B.B.C خبر
دی ،چې حامد كرزی يو څودلورنې خبرې د طالبانو په برخه كښې وكړې.
پر طالبانو له كوره او د باندې داسې بدحال راغی ،چې د حامد كرزي څو خبرې هم يوه خوشحالي وه حامد كرزي د ظاهر شاه له پلويانو څخه دی په پلار نيكه يو پيژندل شوی قندهاري پوپلزی دی .
د باندې جنرال مشرف د پاكستان مشر ،چې ويل يې د روژې په مباركه مياشت كښې دې بمباري بندې شي او بمباري دې لنډې اوپه هدف برابرې وي په دغه ورځ د نوامبر ۱۳ كال ۲۰۰۱م او تلې دوه ويشتمه كال يوزرو درې سوه اتيا ،چې دا هم د نورو مشرانو د غضب پر پرتله ښې دې يا اله العاملين ته رحم وكړې.

همدغه وخت په لوګرميدان وردك شوراګاني جوړې شوې او مشران ورته وتاکل شول پښتانه دا خطر احساسوي .چې ګواکې د دوی بېخ ايستل کېږي بيا هغه انګريز دی او امريکايي ځوی.

له پېښوره وويل شول .چې ښځې او نارينوشپه په نفلونو تېره کړې ده پښتون يوکهول ماپنځوس کال ددوی په مدح کښې تېرکړي دي زه ستاپوال يم څه وکړم خان نه شم پټولای خپل احساس بيانوم.

زړه چاودن : د شمال د اتحاد خلك .چې د امريکې د مشاورينو او عسکرو کابل ته ننوتل د خوشحالي نڅاوې يې کولې په کوڅه او پېښور کښې ژړاوې او نفلونه کوم خپل ورور وبولم داکه هغه يو دېرش ورځو کښې يو دېرش زره تڼه بمونه را باندې وغورځېدل داړه ماران .چې ۱۹۹۲ ميلاد او ۱۳۷۱ هـ ل کښې يې کابل په بل مخ واړاوه زنا ، لواطت ، غلا سرې وژنه ددوی کار و بېرته راغلل.

نو دکتورپاينده محمد راته وويل : چې زمايو امريکايي دوست .چې کانګرس کښې و وويل : چې پر افغانستان د بريد تصميم درې مياشتې مخکې د سپتمبر له يوولسمې نيول شوی و د اسامه بن لادن په برخه شکونه ډېرېږي

د نوامبر ۱۴ د تلې ۲۳ کابل تر پرون او بل پرون آرام و امريکايي نظامي او امنيتي ګوابې ځای په ځای شوی و نن د انګليستان يو زر عسکر هم هلته تللي ، د جرمني د عسکرز لېږل .چې پارليمان کښې له مخالفينو سره مخامخ شوي

برهان الدين رباني نن کابل ته رسېږي اوبيا ارګ ته ننوزي ستار سيرت دظاهرشاه نماينده بي بي سي ته ويلي شمالي اتحاد هغه وعدې .چې مونږ سره يې کړې وې نه عملي کوي. ( د خبر پای)

# د طالبانو یودېرش ورځې مقاومت

په دې کښې شك نشته ،چې د طالبانو حکومت ویجاړ شو مګر کوم نتایج ،چې له هغه پاتې شول په دې ډول دي : طالبانو دخلکو لپاره بشپړ امنیت راوستی و او یو اسلامي دولت یې د نمونې په توګه جوړ کړی و ،چې دا پخپله د غرب لپاره یوه " لړیکه " وه او دهغوی د اصلاح لپاره یې هڅه وکړه . البته د مسلمانانو په خوله د بې لاری کولو یا له لارې ایستلو هڅه یې وکړه په پای کښې خبره زور ته ورسېده ،چې په خپل آر کښې یوه مقابله وه کله ،چې سیاسي ، اقتصادي دباو کار ورنکړ نو سوټې ته یې لاس کړ.

د مسلمانانو لپاره یو خوځښت و مسلمانان یې ویښ کړل . سره نژدې یې کړل د امریکې مخالف خلکو هم یوه تجربه وکړه.

طالبان تسلیم نه شول په نره یې ټینګښت وښود او د امریکې پاراشوټي کوماندو یې له منځه یووړه (په افغانستان کښې دننه).

دین او کلتور یې وساتی . مبارك موشه بابا ګانو.

په دغه مهال کښې یوسلوپنځه هېوادونه لوی واړه امریکې ته سلامي و مګر یوازې ستاسو زامن سلامي نه شول . امیر المومنین ملامحمد عمر مړ وی یا ژوندی خوستاسو رښتنی زوی د خدای د رسول محمد سم امت و . چې د اسلام په تاریخ کښې یې یوه پاڼه وا ړوله یو ځل بیا یې څهار یاری اسلام راوست.

د افغانستان نوم په اسلامي امت کښې ډېر او چت پاتې شو ددې پر ځای ،چې په خپله طالبانو یو انحطاط راغلی وای او خپل رنګ یې له لاسه ورکړی وای په دې ډول ،چې د غربي نړۍ انګلیس ، امریکا خبرې یې منلې وای تول یې ولیدل ،چې پر یوه جګړې ځپلي وچکالۍ وهلي دومره درانه بمونه و ورېدل ،چې د نړۍ په تاریخ کښې نه و لیدل شوي هر ملت په خپل وس پر دی .

**طالبان څه شول ؟** ملت په خپل غېږ کښې وساتل ډېرشهیدان شول . اسلام او پښتونولی وساتل شوه . دا ،چې شمالي اتحاد چاسره راغی څنګه راغی دا به تاریخ ښکاره ولیکي ،چې انګلیس . روسیې او امریکا د یوه نړیز اتحاد په نامه راوستل له ځمکې او هوا هغوی ورسره مرسته کوله دوه خبري ورپسې کېږي . ـکستان او عربستـن

مسلمانان دي .مسلمان د مسلمان لاس نیسي د امریکا خبره یې نه منله اوله همدې کبله جنګ وشو ،چې د پښتونولۍ برخه یې همدا ده .

## د طالبانو دورختم شو:

اوس که لویه جرګه وی لویه جرګه ژوندی شي.

د نوامبر پنځلسمه ۲۰۰۱ د ۱۳۸۰ د لړم څلور ویشتمه : رباني کابل ته راغی او ځان یې د افغانستان قانوني جمهور رئیس وباله د ظاهرشاه په باره کښې یې وویل : چې هغه د یوه ښاري په توګه راتلای شي.

له دغې نېټې وروسته نړۍ پوهیدای شي ،چې څه پېښېږي ځکه مونږ لکۍ لرونکي ستوري ډېر لیدلي د نوامبر په ۱۵ د لړم پنځمه اونهه ویشتمه : د انګلیس او امریکې ځمکني قوتونه او مشاورین افغانستان ته راغلل څلور زره انګلیسي او زر امریکایي اوس امریکا ، انګلیس د ازبکستان او پاکستان هوایي اډوته اړنه دي ،ځکه د مزارشریف هوایي اډه او د بګرام هوایي اډه وروسته له دې د دوی خپل ځای دی.

رباني ،چې کابل ته راتلونکی و تر اوسه نه دی راغلی یا نه دی پریښودی شوی هزاره غواړي د کابل یوه برخه ونیسي ددې لپاره ،چې راتلونکي حکومت کښې برخه ولري.

د امریکې ددفاع وزیر منلې ده ،چې شمالي اتحاد ، اتحادنه دی ، هزاره ، تاجك ،ازبك سره جوړ دی په مزارشریف کښې امنیت لاسم نه دی خومره ،چې عرب او پاکستان او طالبان ،چې په لاس ورغلی هغه یې وژلی دي.

په ننګرهار ، پکتیا ، پکتیکا ، زابل ،وردګ ، لوګر کښې قومي شورا ګانې جوړې شوې څو یو مطلوب مرکزي حکومت جوړشي ، امریکایان وایي په افغانستان زمونږ مشکلات لږ شوي .

امیرالمومینن ملا محمد عمر تراوسه په قندهار کښې دی بي بي سي ته یې ویلي امریکابه ماته شي .

نوامبر شپاړسم : د عربستان او امریکامناسبات او اړیکې مخ په ویجاړېدو دي.

د عربستان لوی ملا واعظ نړ ته وویل : د امریکې پر ضد دې خلك نه پاروی بش وویل د ... هغه ... کښې ،چې امنیت وی بیا ودانول دې پېل کړي .

قندز هم د قومي شورا په لاس كښې دى د شمال اتحاد يوه حمله يې په شاوهلې په دغه حمله كښې ويل كېږي . امريكايي كوماندو هم وه د كندز والي وويل دلته قومي شورا ده دوى به ياد پكتيا يا دملگرو ملتو خلكوته تسليم شي.

د نوامبر اولسمه : رباني د كابل نه وويل : زه دلته دسولې لپاره راغلى او جمهور رئيس نه يم هغه به وروسته د خلكو په خوښه او ملگرو ملتو په مرسته وټاكل شي.

د القاعده يو دفتر كښې دا كاغذونه موندلي شوى ،چې ددوى درسي مسايل و ،چې زده كونكيوته يې ښودل له دې دومره څرگنديږي ،چې دوى د روزنې مركز درلود د نوامبر اولسمه سردار عبدالولي له بي بي سي سره په پښتو ژبه مركه وكړه ده وويل ،چې دقوم مشران له ده سره اړيكې لري كه دوى وغواړي ددوى مشري به ومني.

د نوامبر لسمه د لړم ۲۷ دروژې دربيمه ورځ له بي بي سي وويل شول حاجي قدير د ننگرهار اوسنى والي ،چې دشمال اتحاد له خوا دى امريكايانو ته ويلي و ،چې دشمشاد په غره كښې اسامه يا طالبان پټ دي امريكايي الوتكې ورغلې هغه يې كلكې بمبارى لاندې ونيولې.

څرگنده شوه هلته نه طالبان و نه اسامه بن لادن درې سوه كسه عام خوار زار پښتانه په شهادت ورسېدل . ( دغه مركز سردار محمد داود په خپله دوره كښې ،چې جمهور رئيس و جوړ كړى و )

مگر د محمد داود د صدارت په دوره كښې و ، د شهيدانو په شمير كښې هم څينې دېرش او څنې درې سوه وايي .

بي بي سي ته د كابل پښتنو وويل ،چې دوى د طالب په نوم ځورول كېږي . موټر يې څنې اخلي لوټ او چپاول پېل شوي دوى هيله وكړه د ملگرو ملتونو امنيتي قواوې دې ژرهلته ورشي ،چې وضع نوره خرابه نه شي .

څلورتنه ژور نالستان ،چې ايټالوى او آسترالييي و د جلال آباد او كابل په لاره كښې وسله والو خلكو ونيول لومړى وويل شول طالبانو نيولي دي د امريكې ژورنالست له كابله د امريكې اتم چينل ته وويل : دا لاڅرگنده نه ده چانيولي دي؟

په خوست او گرديز كښې هم سختې بمبارى وشوې د جلال الدين حقاني كسان په كښې شهيدان شول په گرديز كښې خلكو وويل ،چې په دې منطقه كښې طالبان او عربي خلك نشته او نظامي خوځښت نشته بيا هم ولې بمونه وروي.

پښتانه په وېره کښې دي ،چې دپښتون تباهي ده نه طالب اوبن لادن.
ستارسيرت دظاهر شاه لـه ډلې وويـل : چې شمالي اتحاد هماغه پخواني رويه ۱۳۷۱ هـ ل بېرته تازه کړې ده
پـه دغه ورځ پـه قندز کښې ۲۵ B پنځوس الوتکې پـه وار وار بمونه اورولي دشمال اتحاد هلته ټانګونو سره ولاړ دي يوه ورځ مهلت ورکړئ کـه تسليم نه شي دوی حملـه کوي
په قندز کښې ډېر طالبان او عرب چيچنيايي بند پاتې دي.
د نوامبر ۱۹ د ۲۰۰۱ د روژې د مياشت په دريم ماښام جارج واکر بش د پنځه دېرش اسلامي هېوادو سفيران او نور اسلامي مشران وايت هاوس تـه روژه ماتي تـه بللي و اوله دوی نه يې خوښي وکړه ،چې د افغانستان پـه جګړه کښې يې د امريکې ملاتړ کړی دی.
( سپېشل فورس) خاص قوت په ټولو ځايو کښې موجود او شمالي اتحاد ترشاه فعاليت کوي
دغه خالص امريکايي عسکر قندهار تـه روان دي ،چې لـه هغو پښتنو سره يو ځای قندهار ښار ته ننوزي چې د ظاهرشاه پلويان دي د امريکا ددفاع وزير وايي مونږ ټولې سوړې لټيوو څو بده ګيدړه ونيسو.
په قندز کښې عربي طالبان ، پاکستاني چيچن بنګله ديشي او نورو اسلامي هېوادو طالبان ايسار شوي او په زرهاو طالبان د مځې کرښې امريکا B۵۰ الوتکې چې پراخه ساحه سوځوي او ترشايې شمالي اتحاد د هغو امريکايي قوتونه د قندز ښار ګوټې په لور روان دي دوه درې ورځې يې پرېښې دي ،چې قندز ونيسي.
قندز او قندهار پاتې دي ،چې د امريکا ، انګليس اونورو هېوادو عسکرو لـه خوا ،چې د امريکا ملګري دي ونيول شي.
رشيد دوستم او القاعده دوهلو په نامه دغه دوه ښارونه وهي او پـه دې توګه بـه د افغانستان ملي غرور په خپل حال پاتې شي ، ځکه لـه پاسه طياري ښکته د تاجکو لښکـر بلـه خوا ازبـک د دواړو تـر شا د امـريکې مخصوص عسکر دي د نـوامبر پـه يوويشتمه ۲۰۰۱م قندز ښار تسليم شوی نه دی او جګړې روانې وې د امريکې لـه پلوه

بمباري هم کېدلې . همدا ډول په میدان ښار کښې د طالبانو او امريکه ، شمالي اتحاد جګړې رواني وې.

په تاجکستان کښې ،چې کوم بهرني سفارتونه د نظامي اتاشه ګان و کابل ته راغلي په دوی کښې د ازبکستان او ترکيې اتاشه ګان نشته خکه هغوی رشيد دوستم غواړي ،چې کابل کښې دهغه څوك نشته شمالي اتحاد اوس اتحادنه دی ځکه ازبك ،تاجك او هزاره بېل بېل فعاليت کوي د امريکې ډالرې دي ،چې دوی يې يو ځای کړي دي .

شمالي اتحاد چې میدان ته روان و تر اوسه دوه پلا په شاتمبول شوی دی او څوتنه سرتېرې يې وژل شوي.

غلام محمد د میدان جهادي قوماندان وويل : دوی به هلته خپله وسله ورکړي ،چې مرکزي حکومت جوړشي او ټولونه وسله واخستله شي.

د بي بي سي له خبرونو څرګنده شوې هغه قوماندانان ،چې تسليمېږي لږ تر لږه دوه سوه زره ډالره ورکول کېږي څرنګه همدغه حاجي غلام محمد ته ورکړی شوي و . (د خبرپای.)

انګليس او روسانو دواړو په دغه لوبه کښې بايلودله ،چې اقتصاد يې د کلونوپه ترځ کښې کمزوری شو امريکا هم په همدغه لوري روانه ده .

د نوامبر ۲۳ د انګليس بهرنی وزير غواړي ،چې د شمالي اتحاد او هغه طالبان ،چې قندز کښې دښار سوله يزه تسلميدو لاره ولټوي کوم پاکستاني اوعرب طالبان ،چې هلته دي د هغوی لپاره وموندل شي.

په ازبکستان کښې په زرهاو عسکر دي ،چې لږلږ راځي لس زره طالبان او بهرني طالبان ايسارشوي دي .

د نوامبر په يويشتمه ۲۰۰۱ په افغانستان کښې د امريکا د قواوو قوماندان جنرال فرانك د بګرام هوايي ډګر ته لاړ ، دی به هلته د شکرانې ډوډۍ امريکايي عسکرو سره وخوري . په افغانستان کښې په زرهاو عسکر دي .

امريکايي ،انګليس ، ترکيې ، فرانسې . ايټالوی او نور امريکايي عسکر د " مرين" په نامه ور روان دي .(د خبرپای )

له دې وروسته د امريکې جګړې صورت دادی، چې لومړی جاسوسي الوتکه چې پيلوت نه لري هدفونه عکاسي کوي بيا B۵۲ الوتکې د اسې بمونه په زرها و غورځوي، چې دابمونه لس کيلومتره په لسو کيلومترو کښې ويجاړوي دايوه روحي وېره ده.
ځکه که دغه بمونه پر ښارونو وغورځوی، چې نظامي توپخانه او ټانګونه له مينځه وړي ښاري خلکو ته هم خپله برخه د مرګ ژوبله رسيږي.
ددغې خطرناکې طريقې په مقابل کښې نړی سلامي ده.
ماپه خپل عمر کښې د امريکا سروالي وليده مګر الله تعالی ج به دغه تماشه ډېره ونه کړئ.
ټوکه: له يوې جګړې وروسته هر چاد خپلې زړه ور تيا خبرې کولې يوه وويل: ما ددښمن د يوه عسکر پښې پرې کړې.
بل وويل: ولې دې سر نه پرې کاو، ده وويل سريې پل چا پرې کړئ و.
په خبر کښې وويل شول بش قانوني د شمالي اتحاد داخله وزير د انګليس مامور وويل ښه ده مونږ تاسې راوستي پاست تاسو مونږنه يو راوستي.
د نوامبر په يوويشتمه وويل شول د قندهار او قندز مقاومت په دغه عمومي جګړه کښې اوړده شوه (دوې لارې امريکې ته پاتې، چې يا اتوم بم استعمال کړي يا دغه دوه ښارونه داسې بمبارد کړي، چې د ژوند نښه ځرګنده نه وي) همدغه وجه وه، چې عمومي قوماندان جنرال فرانك راغی چې خبره پای ته ورسوي.

افــــرين د عاشـــــقانو پـــــه همـــــت
چې پـه عشق کښـې يك انداز دی يك جهت

مبارك موشه بابا ګانو داسې بچي مودرلو دل چې ټولې نړی سره يې غېږ ور کړه.
په ميدان کښې بياهم جګړه او شمالي اتحاد د ميدانيانو له پلوه په شا ووهل شول غلام محمد د ميدان قوماندان په خپلو خبرو کښې وويل، چې دی د انوري په ضمانت کابل ته تللی و او شمالي اتحاد سره يې خبرې کړې وې. مونږ له هغوی سره اختلاف نه لرو يوازې دوسلې سپارل له موافقې ليرې ده، چې شا او اخو ټولو سره وسلې وي او دوی سره نه وي. ده وويل د سل زرو ډالرو قصه پنځه کاله مخکې وه، چې مسعود ورکړې وې. په کابل کښې ويره ده، چې که نور اقليتونه کابل ته راشي او سيمې ونيسي هماغه د ۱۹۹۲ م کال حالات به بيا راشي. د کابل په شا او خوا کښې امنيت

نشته په هرات کښې جامع جومات کښې تر زرو پورې خلك راټول شوی و د محمد ظاهر شاه تصويرونه ورسره و مگر اسمعيل خان وويل ،چې ظاهرشاه نور رول نه لري که راشي بياهم نه شي پاتې کيدای .

عزيزنعيم په واشنگټن کښې پيام افغان راديو سره په يوه مرکه کښې وويل . زه دطالبانو پلوي نه وم مگر اوس حالات تر هغه بدشول چې طالبان و هيڅ بې له يوې پلمې په بل ملك تېری نه کوي او دا هغه حالت دی،چې په نولسمې پېړۍ کښې و .

دی د ظاهرشاه زوم دی او پخوا د کابل پوهنتون کښې استاد و.

د نوامبر ۲۵ او دلينـدۍ څلورمـه : د نـوامبر پـه اوه ويشـتمـه د جرمني د بـن پـه ښـار کښې دشمالي متحده جبهه د محمدظاهرشاه له خوا او د قبرس د هغه خلکو له خوا ،چې د گلبدين زوم يې مشر کېږي يو تعداد خلك ،چې دېرش تنه به وي د سولې لومړنۍ خبرې کېږي.

عام خلك په تمه دي ،چې هلته به يو سر و تړل شي.

په دې حال کښې گل آغا شيرزی د قندهار ،چې څو وخته والي و د قندهار او سپين بولدك لاره غوڅه کړه جگړه هم وشوه څو طالبان ،چې قندهار کښې اوس ټينگ دي وويل : لاره ددوی په لاس کښې ده .

قندز ښارکې شپږ سوه طالبانو وسله کېښوده او رشيد دوستم ته تسليم شوي قندز له دوو پلوو محاصره دی يو ، خوا تاجك بلې خوا ازبك دوی ځانته متحده جبهه وايي خو دېرمخالف دي . ويل کېږي ،چې بين المللي سور صليب موسسې ويلي دي ،چې تسليم شوي کسانو ته بويه ضرر ونه رسېږي مگر دوی بعضې متحده جبهه وايي افغان طالبانو سره يو ډول او بهرني طالبانو سره بل ډول معامله کېږي.( د خبر پای ).

پرطالبانو د امريکې ، انگليس ، فرانسې ... نظامي حمله تر اوسه دوام لري د ميدان لوگر خلك ځانونه د ملگرو ملتو د عملې تابع بولي نه طالبان نه د متحدي جبهې په لوگر کښې د ملگرو ملتو بيرغ ولاړ دی " ويندرل" د ملگرو ملتو استاذی هلته تللی و اوله هغوي سره يې خبرې کړي دي .

په افغانستان کښې دا ورځ امريکا راوسته طالبانو دومره مقاومت په خپل غيرت کړی دی په دوهمه عمومي جگړه کښې جرمني د غسې د ټولې نړۍ له خوا و ځپل شو وروسته له هغه ،چې جرمني مات شو څلور برخې شو فاتحان ، امريکا ،روس ،

انګليس او فرانسه و افغانستان ،چې له نظامي اقتصادي ډګره د جرمني زرمه برخه نه وه هماغسې ټينګ مقاومت وکړ.
برهان الدين رباني د نوامبر په ۲۳ بيا وويل ،چې دده حکومت دی ، له ده پوښتنه وشوه ،چې مخکې ۱۹۹۲ تاسو کابل کښې ونه شو کولای ده په خواب کښې وويل هغه مهال خارجيان و پاکستان عرب ددغه په منطق اوس خارجيان نه دي امريکا ، روس ، هند ، انګليس ، فرانسه دده سکني دي .
د اسلام له نظره مسلمان سره درېدل يوه معنی لري له غير مسلمان سره دريدل بله معنی لري يعنې مسلمان نه بلل کېږي ،چې کافر سره ودرېږي د نوامبر په ۲۵ چې شپږ سوه طالبان له قندز نه وسله بند ووتل معلومه نه وه چيرته خي ؟ په لارې امريکايي قواوو محاصره کړل متحده جبهه هم هلته داسې ځای نه و ،چې طالبانو سنګر نيولی وای محاصر ډېره تنګه شوه رشيددوستم
بي بي سي ته وويل : چې ددوی له جملې نه يو لاسي بم وغورځاوه دوه جنرالان ټپي شول دغه جنرالان د وحدت د حزب و خو ( سي ان انC.N.N) ته وويل دوه تنه امريکائيان ووژل شول او دا لومړی امريکا ضايعه په حقيقت کښې دواړه دروغ خو د دوستم دورغ ښکر لري.
**خپل او پردي** : په دې ورځو کښې خپل او پردي طالبان غندي ، او ډېر څه ورپورې وايي په پای کښې دغه ډار او وېره ښيي چې دوی کولای شي غلي وي. زه دانه شم کولای ، نه وايم زه يې پلوی وم او يم انصاف دادی ،چې وروسته له ۱۳۵۷ ل د ثور کودتانه چې هر څومره حکومتونه چې راغلي په ټولو کښې طالبان ښه او بريالي و.
داچې د امريکې پوځي درانه عملياتونه وروسته تر دوی څواك راخي ؟ څنګه به وي؟هغه به راتلونکی مهال وټاکي.
زما مړ ورور اروابناد غلام محمدفرهاد د ۱۳۳۴هـ ل کال کښې په لويه جرګه کښې وکيل ټاکل شوی و . وزير محمد ګل خان مومند هم وکيل و . ماله فرهاد صاحب نه پوښتنه وکړه تاسوځان دلويې جرګې رياست ته کانديدوئ ؟ هغوی وويل نه! ددې لپاره ،چې وزير محمدګل خان تر ما مشر دی . رسوخ يې هم ډېر دی مګر کله ،چې فرهاد صاحب ۱۳۴۸ هـ ل دولسي جرګې رياست ته کانديد شو ترده مشر څوك هلته نه و ، د محمدظاهر شاه په مداخله محمدعمر وردګ رئيس شو ،چې دده شاګرد و

سړی تل باید حقیقت ووایي اوس زه حقیقت نه اورم که سړی له ویرې ، حقیقت پټ کړی د خپل ژوند ضمانت نه شي کولای زلزله ، سیلاب ټرافیکي پېښې ناروغي هر څه سړی وژني.

محمدخان قاجار د ایران پادشاه خپلې روغتیا ته یې ډېر پام کاوه تل به یې خپل خوراک تاله ، تله به ورسره وه که ژوندی وای ډېر عمر به یې کړی و ، خو ووژل شو

تیلفیون کښې سمې خبرې نه کوي وېره ده . او دا زما لپاره یو بل عذاب دی . (پای).

ما ځکه دلته څه نورې خبرې راوړې ،چې که کله یې څوك ولولي یو بدلون یا وقفه دې په کښې کوي.

د ۲۰۰۱م نوامبر په شپږ ویشتمه او لیندۍ پنځمه د ۱۳۸۰ د امریکې یو زرو شپږ سوه عسکر (مرین) د قندهار په یوه هوایي کرښې کښې ښکته شول هغه خلك ،چې په قندهار کښې یې د لویې جرګې لپاره کار و ورنژدې شول نورزی . اڅکزی او نورو ولسوالیو کښې قومي شورا ګانې جوړې شوې طالبان له دغو ځایو ووتل امریکایان د بن لادن اوالقاعدې د رانیولو په نامه قندهار ته ننوزي . ( خبر پای)

په امریکا کښې د افغانستان نیول د شمالي اتحاد په نامه خوشحالي پیل شوې او دوی جشن نیسي د امریکې ملت ته داسې ښیي ،چې د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د یوولسمې غچ یې واخیست ، حقیقت کښې در په پر پټول و.

په قندهار کښې د ظاهرشاه د خلکو او طالبانو خبرې د تسلیمۍ لپاره روانې دي.

په بن جرمني کښې د ملګروملتو تر څارنې د افغانستان لپاره د موقت حکومت خبرې روانې دي خو رباني وايي دایوه ډېره لومړنۍ مرحله ده .

د نوامبر ۲۸ د جرمني د بن په ښار کښې څلورو ډلو د ملګرو ملتو لختر ابراهیمي تر نظرلاندې غونډه وکړه څلور واړو د محمدظاهرشاه درې فقره یې پلان ومانه .

د شمال متحدې جبهې د کندز په ښار کښې هغه-نایات وکړل ،چې په تاریخ کښې لږ لیدل شوی هر پښتون یې د طالب په نامه واژه او مړی به یې پرېښوده دوی په مړو ختل هلته په مزارشریف کوم طالبان ،چې هلته بندیان شوی و د محبس له پیره دارانویې په تش لاس وسله واخیسته او درې ورځې وجنګېدل امریکایي الوتکو د قلعه جنګي یعنې محبس هماغه ځنډه بمباری کړه چې طالبان په کښې جنګیدل امریکایي عسکر د

شمال متحدې جبهې او طيارې له پاسه ،چې څلور يا پنځه سوه طالبان يې مړه کړل د نړۍ ټولو تلوېزنو دغه صحنې ښودلې مونږ هم په امريکې کښې ليدلي. (پای)
دغه ته وايي مسلمان پښتون
د شمالي اتحاد عسکر هم ډېر مړه شول ،چې يوسل او پنځوس تنه ښودل شوي.
دا دانسان په تاريخ کښې پاتې شو ،چې بنديان بې وسلې وسله له محافظينو ترلاسه کړې امريکايان له پاسه او ځمکې شمالي ټلوالې سره ملګرې شي بيا هم درې ورځې و جنګېږي امريکايي عسکر هم ژوبل شي او سوونو ، شمالي اتحاد عسکر هم مړه شي امريکايان هم مړه شي بيايې هم په بمبارۍ ووهل د عقېدې او پيسو جنګ دی طالبان د خدای لپاره شهيدان شول او شمالي ټلواله د امريکې ، انګليس ،روس لپاره مړه شول .
هسې ټول انسانان مري دخدای تعالی (ج) برخه لاپاتې ده ،چې پرودګار څه کوي.

# دجرمني سفر

د نوامبر په اوه ويشتمه حيدر اقبال پښتونيار ،چې زما ملګرى و او د فرانګفورت په ښار کښې اوسي ښه ميړنی سړی دی راته يې وويل : هغه ستا خبره ،چې لرو برپښتانه سره يو شي هر څه ،چې راځي راځي به دغه يو والی ضروري دی دلته د پښتنو روڼ فکره په اروپا ، کانادا او امريکې ،چې اوسېږي دلته فرانکفورت جرمني ته راځي او ديوه مشر تابه فکر کښې دي ؛ځکه ،چې پښتون تر جمان نه لري.
د نوامبر په ۲۹ جرمني ته لاړم ،چې هلته ۳۰ د نوامبر و د دسمبر په لومړي کنفرانس و زه د کتور احسان،روستامل،دکتورعثمان روستا تره کی په يوه هوتل کښې و .
او څو ساعته مو په اوسنيو حالاتو خبرې وکړې . بيا کنفرانس ته لاړو هلته ګڼ شمېر افغانان راغلي و ،چې شمېر يې زرو ته نژدې و.
د کتورحسن کاکړ دغونډې رئيس و ډېر دوستان مې ولېدل .غونډه يوه ګړۍ وروسته بې نظمه شوه.
دکتور کبير ستوری له خپلو ملګرو سره راغلی و هغوي سره مو دوړو ډلو ديوځای کېدو خبرې وکړې او ګډ عمل کول کومه پايله نه وه.

بله ورځ د كتو روستامل ،چې زما پخوانى ملگرى و فرانسې ته لاړ زه هالينډ ته لاړم په دې ترځ كښې مو خبرونه اورېدل ،چې د شپږو مياشتو موقتې حكومت جوړشو دا د بن دغونډې خبرې وې.

كله له جرمني بېرته امريكې ته راغلم او ددسمبر شپاړسمه وه د دسمبر تر شلمې پورې له B.B.C سره زما دوې مركې وشوې او د راديو پيام افغانستان سره تاريخ د بيان لړۍ بېرته پېل شوه دا پلا دلومړې افغان ، انگليس جگړې په علتونو خبرې وې دلته يوه خبره ،چې دجان وبلير په كتاب كښې ده او ډېره مهمه ده د ۱۸۳۸ كښې د هند ،انگليس گورنر اكلند تصميم ونيو ،چې امير دوست محمدخان ليرې كړي اودهغه پرځاى شاه شجاع راولي دى وايي په ظاهره د روس د هيئت د راتلو پلمه وه مگر اصلي خبره دا وه ،چې د امير دوست محمدخان پښه ټينگه نه شي ددې لپاره ،چې د هند مسلمانان تل د افغانستان لورې ته گوري ددوى له نظره د افغانستان پادشاه بايد سل په سلو كښې د انگليس په خوله وي او د افغانستان د خلكو ژوند په اقتصادي او تعليمي برخو كښې وده ونه كړي .

څرگنده ده ،چې دطالبانو حكومت اسلامي دولت جوړ كړ نو د پاكستان ، هند ، بنگله دېش ، اندونيزيا او د ټولې نړۍ د مسلمانانو سترگې افغانستان ته وې او افغانستان يې د اسلامي نړۍ مرجع بلله نو غير مسلمانه نړۍ د خطر احساس و كړ او په ټول طاقت او قدرت يې د طالبانو دولت و نړاوه.

زه ،چې د طالبانو ددولت پلوي وم دا شپې سختې تېريدې په كيفيت او خبرې هم پوهېدم نو د نوي آسمان د نوي كور خبره شوه .

په بن كښې دنوى حكومت خبرې وشوې حامد كرزى مشر و د ظاهر شاه د پلويانو يوولس ، دشمال اتحاد اته شوى عمده وزارتونه لكه بهرنى عبدالله عبدالله ، كورنى يونس قانوني ، دفاع جرنل فهيم ته وركړي ، ماليه هدايت ارسلا او دا ډول كرزى د مسعود قبرته لاړاو هغه يې يو اتل وباله دوستم په مزارشريف ، اسمعيل خان هرات ، باميان دوحدت حزب خليلي ننگرهارحاجي قدير غزنى قارى تاج محمد په ځينو ولايتو كښې سيمه ايز شورا گانې .

د دسمبر په ۲۱ په لوګر . قندهارکښې مخالفتونه پيدا شول اسمعيل او دوستم په بله خوله ناراضه و. څوك د نوى حكومت ،چې د امريكا، انګليس په خوښه . خوشحال و څوك ډېر خوشحال و.
ددې لپاره ،چې امريكا، انګليس ،جرمني . فرانسه . او د تركيې عسكردملګرو ملتو تر چتر لاندې افغانستان ونيو . دادى درې مياشتې او څو ورځې وشوې لامقاومت په بشپړه توګه له منيځه نه دى وتلى.
امريكا ډېره نوې وسله په كاركړه اوه سوه طيارو بمبارى كولې . په پاى كښې امريكايي مرين انګلسان ميشته شول.
افغانستان په ډېرې كلكې لومې كښې پاتې شو.
ددسمبر په ۲۲ د امريكا ،انګليس تر مشرى او امنيت لاندې لنډ مهاله حكومت د شپږو مياشتو لپاره په كابل كښې په كار پېل كوي. دا حكومت لكه د رباني ، مسعود حكومت ،چې د پاكستان او سعودي عرب نماينده ګان حاضرو په كابل كښې يې په كار پېل وكړ . يا ببرك يا شاشجاع ددغه حكومت هركلى كېږي ؛ ځكه د مقاومت تومنه پاتې نه ده .
د بين المللي څواكونو مشري د انګليس په غاړه ده د كابل په دولتي مانۍ كښې داحمدشاه مسعود عكس ځړيدلى دى .
په امريكا كښې د فتح خوشحالي وه دا د هتلر د زمانې غوندې شوه مګر چا د امريكا . انګليس مقايسه دبوه ځپلي هېواد سره ونه كړه جرمني په ۱۹۳۹م كښې تر ټولې نړۍ غښتلى و .
د افغانستان يوه وړه توپخانه وه ،چې ژرله مينځه لاړه . د ۲۰۰۱ د اكتوبر له اومې د همدې كال د دسمبر تر ده ويشتمې په افغانستان كښې د امريكا ، انګليس او ټولې نړۍ په مقابل مقاومت موجود و
طالبان په بې رحمۍ قندز، مزارشريف او كابل كښې وژل كيدل ،چې دتلويزيونو په پردو كښې ليدل كېدل، په نړۍ كښې اسلامي هېوادو كښې خواخوږي ډېره وه ، خو دا ،چې شمالي افغانان د امريكا پيش قراول . جاسوسان نو كران و د طالبانو په مقابله كښې داخبره پاتې شوه نسلونو ته په ۱۸۰۱ م ،چې د اعليحضرت شاه زمان ستركې

ړندې شوې بیا افغانستان ته د انګلیستان سیاست راغی دادی انګلیس ، امریکا یو وجود دی او نړۍ ورته سلامي ده خدای تعالی (ج) دې دا د ظلمونو کاسه نسکوره کړي.

## زړه چاودون :

افغانانودامریکې تر بیرغ لاندې پر خپلو افغانانو و دانګل ،چې د انفرادی عرب او انفرادی پاکستاني راغلی اسلام دې په دې پلمه او ځېر د ملي حاکمیت . اسلام او عنعناتو په خلاف یې انګلیس ، امریکا ، روسان ، فرانسویان ، جرمنیان ، هند او نور راوستل یا هغوی راتلل په خدمت کښې یې دوی و.

داشپې ورځې سختې دي د پښتون د تباهۍ هنګامه ده زه به د اورونه څه کړم ظاهرشاه ددغه لویې تباهۍ په سر کښې ودرید اوه اتیا کلو په عمر.

ما په جرمني کښې محسوسه کړه ،چې هلته د امریکې فشار او ډب ډېر دی خلك په وېره کښې دي هلته یوګوسلاویایان هم ډېر و د امریکې له نوم یې وېره او کرکه درلوده له افغانانو سره همدردي ډېره وه خو دشمالي ټلوالې خوشحالي له دې حالاتو محسوسه وه

د مستقبل په تاریکیو کښې زه
که لټوم فقط افغان لټوم
(حمزه بابا)

د دسمبر په ۲۲ له پکتیا او پکتیکا یو شمېر سپین ږیري او مشران د کابل د نوې ادارې سره د کتلو لپاره د کابل په لوري روان و چې امریکایي الوتکو وربانديې بمونه وغورځول ، او درې شپېته تنه په شهادت ورسیدل .

انا لله وانا الیه راجعون

په افغانستان د نظامي عملیاتو مشري د انګلیستان په غاړه ده ګډ هوادیز عسکر به ددوی تر قوماندې لاندې وي.

ددسمبر په ۲۷ اعلان وشو ،چې اسامه بن لادن یو پیغام ورکړی ،چې امریکا به ورانه کړي او هغه به له اقتصادي پلوه ناتوانه کړي.

ددسمبر په ۲۸ وویل شول ،چې اسامه مړ شوی او ښخ شوی دی بیاوویل شو ،چې د سلامي حزب کوم قوماندان ساتلی دی او ژوندی دی.

له او ضاع او حالاتو څرګندېږي ،چې افغانستان کښې به داسې اردو جوړه شي لکه ترکیه او پاکستان د هېواد حالات و ښارې او په ژوبلو حالاتو کښې به دچارو واګې په لاس کښې ونیسي.

زړه چاودون : د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر له اووم نه دوه کاله شپږ میاشتې د واوښتې
۲۰۰۴م د مئ میاشت لومړۍ ورځ ده ( ۱۳۸۳ د غويي ۱۲ ) .
په امريکي کښې خپره شوه،چې په عراق کښې پرعراقي بنديانو امريکايي، انګليس عسکر متيازې کوي ، ددوی کالي وباسي لواطت کوي ددوی شپه او ورځ داسې دردوي که وخوځي بريښنايې نسبي او ټکانونه ورکوي .
په افغانستان ماشومان تښتول کيږي بيا هر څه پرې کوي بهوډې يې باسي ، شهوت پرې تسکينوي ... د افغانستان داخله وزير علي احمد جلالي دا خبره تاييدوي د بي بي سي په يوې مرکی کښې وويل : اقليت علتي تاجك از يك هزاره ، د امريكې انګليس ، روسيي ، ايران ، هنديانو او نورې نړۍ په مرسته پر خپل قدرت پاتې دي .
پښتانه د افغانستان او پاکستان په سرحد کښې له دواړو خواوو ټکول کيږي ،وژل کيږي ، کورونه يې سوځول کيږي ...
دا دی د غرب په مدنيت چې خپلې ښکلاوې : ښيي ، قاتل شاه ( ظاهر شاه ) يو شمېر پښتانه حامد کرزی ، دوستم ، فهيم او خليلي ازبك ، تاجك ، هزاره ، امريکا ، انګليس ناټو ، هند ، ايران ،روسيي سره يو ځای پښتانه د طالبانو په ناسته وهي او تباه کوي .
د غويي په اتمه ۱۳۸۳ له بي بي سي نه لومړی ښاغلی جان محمد اڅکزي خبرې وکړې چې حامد کرزي له ځينو طالبانو غوښتي دي ، چې ددغه حکومت سره يو ځای نشی تا سو سره به دی پنځلس دقيقې وروسته مرکه کوي . پنځلس دقيقې پوره شوې بيا د تلفون غږ راغی خو دا ځلې ښاغلې اسماعيل فاطمي و ، چې دواړه د بي بي سي په پښتو پروګرام کښې کارکوي ، پوښتنه همدا وه ، ما وويل : د طالبانو د راتګ او حکومت سره يو ځای کيدل ګټه نه لري څکه کومه احصائيه ،چې خپره شوې له يوولس ميليونو هغو کسانو. چې بويه د جمهور رئيس په ټاکنو کښې برخه واخلي . کله ،چې په عيسوی کال ۲۰۰۱ د اکتوبر په اوومه د ۱۳۸۰ لمريز د تلې په اوولسمې د امريکی او د هغه د ملګرو هيوادو د نوو وسلو ، درنو وسلو ، هوايي او ځمکنی قوتونو له خوا بريد پر

افغانستان پيل شو ، ما له بي بي سي سره څو مرکې وکړې او په هغو کښې مې حالات څرګند کړل د دغو مرکو ثبت راسره شته .
سربيره پر مرکو مقالې مې هم خپرې شوي خو د نړۍ په دغه توره تياره دا په هيڅ وشميرئ . زما د پاره په امريکی ګرانې پيښې شوي زه چې افغانستان کښې بندي او پاکستان کښې تر دباو لاندې وم دا قصه د ملګرو ملتونو د مهاجرينو څانګې ليکلې ده، دهغه کاپې هم راسره شته ، په ۱۹۸۷ م کال کښې امريکی ته راغلم لا روسان په افغانستان کښې و .
کله، چې طالبان ووهل شول امريکې ته د هغو افغانانو نومونه ورکړل شول، چې د طالبانو پلويان وه او زه په لومړيو خلکو کښې وم. طالبانو زما شجره ليدلې ده. بله دا، چې حکيم مجاهد د طالبانو معرفي شوي نماينده په نيويارك دلته واشنګټن کښې دوه نومونه ورکړي وه، چې که د سنا غړو غوښتل هغوی سره خبرې وکړي. په دې دوو نومونو کښې يو زه وم او دوهم دکتور موسی صفا د مجاهد صاحب دغه نيك نظر ستر خطر و، مګر مونږ د خپل وجدان له مخې د عقل او ديانت له مخې د طالبانو پلوي کوله له خپلې خبرې وانه وښتلو.
په کال ۲۰۰۲م کښې د حامد کرزي يو ليك راغی او ما ته يې بلنه راکړه، چې راشه اوس ديموکراسي ده ما ورته وليکل، چې ستاسو له بلنې ډېره مننه خو پښتانه وايي، چې ظالم او عادل يوځای کار نه کوي او بله دا، چې که جنګ د عدالت دپاره وي مونږ به په لومړۍ کرښې کښې ودرېږو او د پښتنو په مقابل کښې وي مونږ به ځان ټينګ کړو.
ما په خپلو مقالو کښې، چې خپرې شوي دا ويلي، چې طالبانو د افغانستان له اقتصادي طبيعي حالت سره سم؛ ځکه غربي هڅوب او د لويديځ اقتصاد سره سم، مونږ ملي توليد نه لرو. پښتانه وايي: "د سړي، چې هر څه په پور شي د هغه دې رنګ په ګور شي"دا پور هم نه دی دا ګدايي ده، غلامي ده، وطن پلورل دي.
دلته به د رحمان بابا څو خبرې وليکم:

هيڅ مې نه زده نه پوهېږم دا څه پير شه
چې دلدار مې د اغيار په شکل و څېر شه
زمانه مې د رقيب له لاسه وژني
چې مې سپی ګانه هغه رابانديې شېر شه

د هجـران غمونـو هســې پـه عـذاب کـړم
هغـه عمـر چـې مـې لـړ ګانـه اوس ډېـر شـه

اته په سلو کښې حاضر شوي، چې ځانونه راجستر کړي؛ نو څرګنده ده، چې دوه نوي په سلو کښې خلك حاضر نه دي؛ ځکه دا مخالفت د طالبانو خبره نه ده د ټول ملت خبره ده.
دغې مرکې نه د احصايې خبره ایستل شوې وه او څو بې ربطه خبرې پاتې وې.
په همدغه ورځ د امریکې په تلویزیون C-Spam کښې په افغانستان کښې د امریکې نظامي قوماندان او ملکي حاکم، چې شارپ او تیلر نومېدل د سنا غړو ته وویل، چې مونږ د اقلیتونو د ملیشو په مرسته له طالبانو او القاعده سره په افغانستان کښې مقابله کوو. دوی جنګ سالاران نه دي قوماندانان دي.
په افغانستان کښې ډالر د افغانۍ ځای نیولی. ځمکې او کورونه په ډالر اخستل کیږي.
د یو کور بیه په وزیر اکبر خان مېنه کښې پنځه سوه زره ډالره ده او لاجګه ده.
حال دا، چې عام خلك پنځه ډالره نه لري. دا څوك دي؟ جنګ سالاران، چې په میلیون میلیون ډالر لري: ځکه، چې افغانان یې وژلي او د هېواد خپلواکي یې خرڅه کړې ده.
طالبانو په هلمند، زابل، خوست او پکتیکا کښې بریدونه کړي. دوه امریکایان او اته افغان ملیشه وژل شوي دي.
د ثور په شپاړسمه د مئ درېیمه فراخان د امریکې د اسلامي ملت یون مشر وویل: "د امریکې دښمنان ډېر شول که امریکا ځان سم نه کړي بل ملت او هېواد به د هغه ځای ونیسي (دا خبره تاریخ یوه فیلسوف تاین بی مخکښې هم کړې وه) فراخان وویل: یو وړوکي اسلامي هېواد باندې د ټولې نړۍ دانګل کومه معنی او منطق لري؟
زمونږ افغانستان کښې غټ سپي هم شته واړه هم. خو غټ سپي پر وړو نه ورځي. نه پوهېږم په امریکا کښې دومره ځواني وه؟
د ۲۰۰۲ م د جنوری په شپږمه ملا عبدالسلام ضعیف امریکا ته وسپارل شو. دی د طالبانو سفیر و په پاکستان کښې هغوی په یوه بېړۍ کښې د عربو بحیره کښې له نورو طالبانو او د القاعده په نامه کښې وساتل شو.
امیرالمومنین او اسامه تر دغه نېټې نه دي نیول شوي. پاکستان د امریکې په اتحادیې کښې.

عزیز احمد خان د پاکستان د بهرنیو چارو مرستیال وویل: پاکستان هیڅ نه شي کولای او هر څه چې امریکا غواړي هماغه کوي. BBC
د ۲۰۰۱ د سپتمبر له ۱۱ د ۲۰۰۲ د جنوری تر څلورمې پورې له BBC سره زما پنځه مصاحبې وشوې، چې کستونه مې ساتلي دي. کوم وخت دپاره َد چا دپاره؟ په دې نه پوهېږم.

ACKU

# اوسنی او معاصر تاریخ

جان ويلر له خيبره ها خوا :
افغانان بويه لـه تاريخه ويوښتي ،چې څوك ښـه و ؟ او پـه ورور ووايـي كلـه و ؟ او نـوم دې يې واخلي څوك و ؟ كومې خطاګانې وي ؟ د دوی پلرو ولې مقاومت کاوه ؟
تاريخ به ځواب درکړي كله،چې د تاريخ ځواب مو واورېد دغه موضوع نورو سره ،شريك ښتن تعالى به د بري ور پرانيزي ، ستاسو پـه مخ ،چې بده ورځ لاړه شي او ښـه ورځ راشي .
پـه ۱۸۴۰ م كـال انګلـيس دلارې روس پـه مېنځنـي اسيا كښـې سـره مخـامخ شـول . انګليسانو خپل د ناسمې لوبې ،چې افغانستان ته ننوتل د هغه بيه يې ورکړه .
په ۱۹۷۹ م شوروي روسانو هماغـه چار راواخسـتـه ،چې انګليسـانو حتـى روسيې هم د هغې بيه ورکړه او د امريكې وار دی . د افغانستان معاصر تـاريخ كښـې درې واړه ډېرې لوړې او ژورې دي .
په افغانستـان كښې ،چې دا درې زبر ځواكونه راغلي مونږ تـه بـه پـه ملي سطح څه پاتې وي ؟ لـه تاريخي ويوښتو څوك ښه و او څوك بد مقاومت كښـې تسليمېدل ؟ د انګليس او روس غلطي امريكاهم وكړه ؟ كه لـه تاريخـه ويوښتـو امريكا پـه بريالى شي ؟ تـاريخ وايي كوم برى ،چې انګليس او روس ترلاسه کړ امريكه به هم هغسې ؟
انګليس . روس او امريكه به خپل كار كوي زمونږ عكس العمل بـه د تـاريخ د ځواب پـه بـاب څه وي؟ جان ويلر امريكـايې ليكوال ،چې د انګليس ننوتل افغانسـتان تـه سـتره غلطي وه ،چې ناپوه مشاورينو دمبالغې په توګه ناسم معلومات وركول .
انګليس ، روس او امريكا د بين المللي قوانينو په خلاف غېر اخلاقي او بشري اصولو په افغانستان كښې مداخله كوله . كيپلېنګ Kipling انګليس شاعر او ليكوال په خپلو اشعارو كښې د انګليس دغه عمل وغانده ،چې يو لوى هېواد پر ساده قبايلو خپل عسكري زور وازمايه . او افغانانو پـه خپـل لاس جوړ كړي جنرائيـل نـومې توپك درلودل وروسته به وګورو ،چې جنرائيل څنګه انګليسانو نه جزا وركړه .
كپتـان Comolly ، يو بـل انګليس دی ،چې د زارروس او انګليس حركت پـه منځنـی اسيا د انګليس راتګ افغانسـتان . د فرانسې هڅې د هند لورې ته لويه لوبـه وبللـه ،چې

په نتيجه کښې افغانستان دړېوړې شو . ډېرو انګليسانو د بشري وجدان له مخې دغه عمل ظالمانه وباله . کله ،چې انګريزان ماتې سره مخامخ شول .
د کپلنګ دغه ښکلې شعر يې ډېره ښه نښه ده .

کله ،چې ټپي پاتې شوې د افغانستان پر ځمکه
او يـوه مـــــېرمن راشي ستا پاتې ژوند واخلي
يوازې تاوه شي ستا توپك واخلي او ستا ماغزه والوزوي
او بـــــيا روانه شي لـــــکه يو سپاهي . کرار ځای ته .

په ۱۸۰۱ کښې روسي زرا پاول شل زره قزاق په يوه اردو کښې ټول کړل ،چې پر هندوستان ورشي، خودغه عسکرو ته د والګا په سپند دپورې وتلو په مهال يوه ستره بدمرغي پېښه شوه او پاول له فرانسې وغوښتل ،چې يو ګډ روس فرانسه پوځ جوړ کړي د افغانستان له لارې هند ته لاړ شي .
ناپليون د افغانستان خلکو او غرونو سره ډېره مينه درلوده او د لوړ درشل شاه زمان په همت او اتلوالۍ خبر و .
همدغه خبره وه ،چې انګليس وارخطا شو ايران يې ځان سره ملګرې کړ ،چې خراسان ولايت ستاشي. د شاه زمان او شاه محمود ،چې دوه ورونه دي د پادشاهۍ په سره جګړې دي ، همدغه لويه ده ،چې انګليس روس ، فرانسه ، په کښې نښتي دي ، داخلي عامل دادی ،چې ورونه پادشاهان سره جګړه کښې او د احمد شاه بابا خزانې تالاکوي ،مخکې له دې ،چې انګليس راشي افغانانو لاره پاکه کړي ، د تاريخ همدغه سبق ،چې نـن پورې مونـه دی زده کړې او بيا بيا يې لولو او تکراروو نن هم مهم تاريخ دی ، د امريکا او اروپا عسکر په افغانستان پراته دي او جنګ پريانو سره روان دی. محمد ظاهر په ۸۸ کلنۍ کښې پادشاهي غواړي ، دراني غلځي فکر لري .
دغه مهال انګليس پوهېده ،چې د روس او فرانسې لاس سره يو شو بيا د افغانستان موضوع يوازې نه ده ،چې منځني ختيځ ترکيه او ايران ټولو کښې د انګليس ګټې له خطره سره مخامخ کېږي . په افغانستان کښې شاه زمان ځې شاه محمود راځي ، شاه محمود ځي شاه شجاع ځې شاه محمود راځي . مګر انګليسان په منډه د افغانستان لمن نيسي ،چې د فرانسې روس او فرانسې . ايران مخه ونيسي .

په دې مهال کښې زار پاول مړ کېږي ، د روس او فرانس اتحاد پاتې کېږي فرانسه ، د ایران له لارې غوارې خپل پلان عملي کړي ، انګلیس هم ایران د خپل مطلب دپاره په کاروي ، ایران دواړو سره سر ښوروي داسې ،چې د فرانسې ، انګلیس او روسیې تر منځ خپله خپلواکي نه لري دا به وروسته ووایو ،چې ایران په دغې لویې کښې خپله ډېره خاوره له لاسه ورکوي . افغانستان هم دغه خاوره وروسته له شاه زمان څخه ۱۸۰۱ م تر ۱۸۸۵ م یعنی ۸۴ کلو کښې له لاسه ووتلې .

خراسان ، اټک ، ملتان ، کشمیر ، ډېره غازي خان ، ډیره اسماعیل خان ، پېښور ، پنجاب ، سند ، بلوچستان ، وروستی شوکه ، سوات ، باجوړ ، چترال او نوې وزرې د اور ، شاګی ، چمن ، امیر عبدالرحمن د ډیورنډ په تړون کښې ورکړه .

اوسنی پاکستان په ټول موجودیت له افغانستا ن څخه بېل شو دا کار د انګلیسانو او د کابل د امیرانو ،چې پادشاهی پسې کباب و . په دې کښې د پاکستان دملت کومه ګناه نشته دا زمونږ قراردادونه و زمونږ له انګلیسانو سره .

***

برنس له لندن نه ډېر سوغاتونه له ځانه سره راوړي ، رنجیت سنګه د آسانو خوراك هم راوړې دی په ایران ، بخارا خیوا ، ثمر قنداو نوروخاناتو کښې د پادشاه یا خان ذوق او صیفي خواوې دده دوستان او غلیمان وپېژندل . د اړې په مهال به د دوی مخالفین غښتلي کول او غاړې ته یې واچول برنس د ققفاز ، پامیر هندوکش ، کراکرم غرونو تر منځ ځمکې له نظامي خوانه وڅېړلې له دې وروسته د هند د ختیځ کمپنی هوډ دا و ،چې خپلې ګټې د افغانستان له لوري ،چې پنجاب د شاه زمان په لاس کښې و ، ایران ،چې د روس او فرانسې د لاس آله و په دغه پلان کښې راوست نو برنس افغانستان اوسرجان مالکم ایران ته وګمارل شو .

ساعت ، دوربین ، هنداري ،چاقوګان د د جنسي غښتلو درمل ، بوت ، قطب نما .... هغه ،چې کشتی ترې ډکه وه او هغه یې خپل پلویانو ته ورکول اولکه ماشومان یې خوشحالول .

## احمد خان نورزی :

دی یو زړه ور غښ سړی ونامتو مگر ده له شاه زمان نه شاه محمود ته واوښت او شاه زمان ته یې لوی تاوان ورساوه گواکې همدغه دلوی افغانستان ماتېدل و ،چې په پنجه کښې شاه زمان ړوند شو .

دالفنستون له خوا ده ته په نورو سوغاتو کښې یو چاقو هم ورکړ شوی و . احمد خان چاقو خلاص کړ ځو پرې شو ،چې هر یو یې د یوه کار دپاره و ، چې دغسې اوس ما په یو ډالري کښې واخسته (کوم دکان ،چې هر مال په یو ډالر وي ) نو احمد خان وویل : دا څه شی دی لکه لړم یو چاقو به یې راوړی اوسم دغه خبره یې الفنستون ته ورسوله .

الفنستون وویل : رښتیا ده ما اورېدلي ،چې احمد خان په سبا ناري کښې د پسه یوه کوتۍ خوري .د برنس مهم چار دا و ،چې دافغانستان په ولایاتو کښې لکه پنجاب ،سند ، ملتان ، ډېرو ځایو ، پېښور کښې دوه ډول خلك وومي جاسوسان او خبرلیکونکي او د قومي مشرانو سره د کمپنۍ اړیکې ټینگې کړې او لکه ماشومانو بې ، په ساعت او دوربین خوشحاله کړي ، لومړی سړی دوی ته رنجیت سنگه په لاس ورغی مخامخ به یې د رنجیت ډېر عزت کاوه ، مهاراجه رنجیت سنگه او په انگلیسانو کښې یې یو بد اخلاقه سړی باله ،چې له ښځو ، نڅا ، شراب ، قمار ... درلودل ، د پنجاب له دریو مشرانو د دوی انتخاب رنجیت سنگه و ،چې یو مذهبي او د سم شخصیت خاوند نه و .

په ۱۷۹۹ م کال کښې لاهور د افغانستان په لاس کښې و ،چې د انگلیس په لارښوونه شل زره عسکرو د پنجاب زمري (رنجیت سنگهـ) ولمساوه ،چې له افغانانو ونیسي ، توپخانه د انگلیسانو وه . انگلیسانو نه یوازې رنجیت سنگه په باب معلومات غونډ کړې دده پلار یې لېونی ښوده. دده په باب وایي خپل خسر یې مړ کړ او د هغه شتمني یې یا دا ،چې پلار یې په شرابو مړ شوی او نور ... له دې مطلب دادی ،چې انگلیسانو ټیټ لوېدلې بد اخلاقه خلك د خپلو اهدافو دپاره استخداموول او هغوی به یې مشران جوړول .

د رنجیت سنگه موریې یې هم پېژندلې وه هغه یې لمسوله ،چې خپل زوی ته ځیني خبرې وکړې انگلیس وروسته په افغانستان کښې دا کار وکړ او اوس امریکه هماغسې کوي او هماغه نښه ده .

انگلیسان داسې له شرمه ډکې خبرې ټولوي او هغه ته یې دوسیې جوړولې وایي د رنجیت ملگري لور او د رنجیت پلار خپله مور وژلې وه . او خپله خوابښې یې ځوروله .

له دې خبرو ډېرې دي مطلوب دادی ،چې په افغانستان کښې د امير دوست خان دا حال و ،چې موهن لال ليکلې دي . انګليسانو دغه نسخه امريکا ته هم په لاس ورکړه ، چې د سردار سلطان محمد طلايې کورنۍ يې له دوستم ، فهيم ، مسعود ، اسماعيل خان سره يو ځای اوس وروسته وګورئ ،چې د دوی په برخه کښې همداسې مسايل خپرېږي ،چې له شرمه ډك دي .

د ۱۸۰۱ د اپرېل په يوولسمه رنجيت سنګه يې د پنجاب د مهاراجه په توګه اعلان کړ د سرو او سپينو پوښلې فېل باندې سور شو .

مغلسـاينم وهـوای مـی و مطـرب درايـم
آه اګـر خرقــه پشــمين بګــرو نســتانند

رنجيت سنګه وويـل : انګليسـتان زمونږ غليمـان نه دي هر ګوره ښه ملګری مو دی ، رنجيـت ويـل زه يـو سـپاهي يـم د انګليسـانو پـه لار ، د انګلـيس جنـرال لارك Lorke د مهاراجا په توګه ومانه ، او دی يې له لاسه ونيو قوماندانانو تـه يـې وروپېژانده .چا ونه ويل ،چې د رنجيت سنګه او انګليس افسر ترمېنځ څه اړيکې وې ؟ رنجيت يولښکر جوړ کړ لکه د انګليسانواو توپخانه يې لکه د انګليس منظمه وه همدا و ،چې پنجاب ولايت دانګليس په نقشه ننوت او لکه تر مېنځ نوی سرحد شو شاه زمان انګليسانو د ځان دپاره لوی خطر بالـه . د رنجيت سنګه دپاره اروپايې افسرانو او انګليسـي توپونـو کـار کـاوه دادی ،چې يوه رشوت ، سوغات ، جاسوس بلې خوا سکهانو او انګليس دګډو عملياتو خبره وه د پښتنو سيمو ته ورسوله او مهارجا رنجيت سنګه د انګليسانو په لاس کښې و .

د ۱۳۸۱ د جون په ۱۸ د رنجيـت سـنګه پـه بلنه بـرنس لاهور تـه لاړ هلتـه يـې پـه خپلـه رنجيت سنګه او د هغـه لښکـرو د برنس تـود هر کلـی وکـړاو رنجيت سنګه د سـرو زرو نښان ورکړ . په حقيقت کښې د انګليسانو او برنس دغه تحفه وه ،چې رنجيـت سـنګه تـه يې ورکړه او پنجاب د افغانستان له خاورې بېل شو .

په سبايې برنس لـه کپتان کلود ويد Claudewade سره يو ځای ( همدغه کلوويـدو د شاه شجاع ملګری و او شاه شجاع د پادشاه کېدو پلوي و او بـرنس د اميـر دوسـت محمـد ) د هغو مراسمو کښې ګډون وکړو .د انګليس عسکرې ټول له سکهه عسکرو سره يـو ځـای کېدل .

لکه په ۲۰۰۱م د امريکې سپېشل فورس له شمالي اتحاد د دوستم فهيم سره يو ځای کېدل په ۱۸۳۰ م توپخانه او ۲۰۰۱ م B۵۲ الوتکی وې.

برنس يو ليك د انگليستان د پادشاه له خوا رنجيت سنگهه ته راوړی و. کله ،چې دغه ليك رنجيت سنگهه ته وسپارل کېده رنجيت سنگهه مراسم ودرول امر يې وکړ ،چې په دې وياړ دې شپاړس د توپخانې "اور" ډزې وشي.

شل نورې ډزې د انگليس د پادشاه په وياړ وشوې. برنس پنځه غټ آسونه رنجيت سنگهه ته ورکړل او رنجيت هغه واړه پېلان وبلل. انگليستان دا ټولې خبرې په خپل هېواد کښې خپرولې ،چې وښيې دلته څومره ټيټ او بې پته خلك دي.

برنس خوښ و ،چې د پنجاب نجونې ورسره نځېدلې دا خبره د رنجيت سنگهه د وياړنې هم وې که چېرې انگليسي آثار وکتل شي نه يوازې سياسي، تجارتي او نظامي خبرې دې تر هغه په شرقيانو کښې نه وينې مگر دا خبرې هله خپل رنگ بايلي ،چې افغانستان کښې د دوی نظامي قوت ماتېږي، او د اروپا ادبيات بدلېږي.

رنجيت غوښتل ،چې انگليسان د سند په لورې هم لاړ شي. د ده مطلب دا و ،چې د انگليس برى يوازې پنجاب کښې وي.

له خپېره ها خوا د انگليسانو د تباهۍ لار کتاب وايي ،چې احمدشاه دراني يوملت جوړ کړ او دی ددې ملت پلار دی، مگر وروسته څوك نه و ،چې د هغه مېړنۍ لاره ونيسي. انگليسان هغه کمزوري ،چې په رنجيت سنگهه کښې ليدله په لوړ درشل شاه زمان کښې يې نه ليدله نو د شاه زمان په هېواد کښې نفاق اچول د انگليسانو غوره وسله ،چې په دې توگه يې شاه زمان له پښو وغورځاوه لکه ،چې تاريخ کښې څرگنده ده ،خپله کورنۍ ورته بلا وگرځېده، بيا وروسته کورنۍ جگړې ډېرې شوې.

لکه ،چې په کال ۱۳۵۲ هـ ل محمد داود، ظاهر شاه ته پاڅېد. دا هغه مهال و ،چې انگليس د بريتانيا او افغانستان تر مېنځ يو نفر قايل غواړي. انگليسانو دا محاسبه کړې وه ،چې پنجاب د رنجيت سنگهه په مشرۍ د بريتانيې او شاه زمان تر مېنځ يو ډاډه حايل وي Buffer. باري که رنجيت سنگهه د پنجاب اتل شي او انگليس ته خطر پېښ کړي دا هم کېدای شي مگر شاه زمان لوی خطر دی ،چې د هند او جنوبي آسيا مسلمانان ورسره درېږي. د رنجيت سنگهه وهل دومره گران نه دي، ښه دا ده ،چې رنجيت سنگهه شاه زمان ته ودرول شي.

اوس هم دوستم د يو کميونست مليشه په نامه ، اسماعيل خان ، خليلي د ايران د گوډاگيانو په نامه له عطا سره يو ځای وهل کېږي ، مگر د نورو وهل ،چې د سرحد او بلوچستان خلك ورسره يو مشکل پېښوي .
د ۱۸۳۲ په جنوبي کښې برنس ، د کمپنۍ له يوه دکتور سره ،چې محمد علي نومېده له يو لړ ضروري سامان او سوغاتو وخوځېد ، برنس ځوان و .د بمبې د گورنر سرجان مالکم نه يې اجازه واخېسته ، ده غوښتل ،چې د اباسين د اوبو اندازه معلومه کړي ، او د سند له مشرانو نه يې اجازه واخېسته دوی کولای شي د سند له سيمې تېر شي .
رنجيت سنگهه عسکري اړتياوې د انگليسانو بشپړ سرې شاه زمان لاهور ته نژدې شو ،چې دې ته احوال راغی ،چې دده ورور له وزير فتح خان سره د ايران په مرسته هرات ته ننوت او مخ په قندهار روان شاه زمان د پنجاب کار نيمگړی پرېښود او مخ په هرات يې منډه کړې .
ځينو افغانانو مشوره ورکړه ،چې د شاه محمود مخه ونيسي ، انگليسانو وروسته داسې نوکه وکړه ،چې شاه زمان بويه د ايران کار فيصله کړې وای بيا يې پنجاب او هند ته مخه کړې وای ، په دې خبره کښې دوی صادقان نه و ،چې رنجيت سنگهه ياغي شوی و شاه محمد خپل ورور ړوند کړ دغه مهال شاه شجاع پېښور کښې و .

## ميا غلام محمد هندی مسلمان

د زمان شاه ۱۷۹۳م څخه تر ۱۸۰۱ پورې پادشاه و ، دده دوره داروپايانو او لويې لوبې سره مخامخ و ، يو هندي مسلمان د زاهد په جامه افغانستان ته راغی او زمان شاه د دربار خلك يې ځانته راوبلل او داسې يوه دسيسه يې جوړه کړه،چې شاه زمان خلع کړي .
دده وزير رحمت الله خان ،چې د وفادار خان لقب يې درلوده ووژني محمود ته لاره خلاصه ،چې يو يې ماهيته شهزاده و ، په دغې دسيسې کښې سردار پاينده خان ، محمد عظيم خان الکوزی ، محمدرحيم خان ، علي زی ، نور الله خان بارا ، سلام خان پوپلزی ، رکاب باشي ، امير اصلانخان نورزی ، خضر خان علي زی، زمان خان پوپلزی جوانشېر ، جعفر خان ،جوانشېر ، او منشي محمد شريف خان .
وروستي درې تنه قزلباش و ، چې د نادر افشار له وخته د امنيت چارې يې سرته رسولې

او بیا په همدغه کار کښې پاتې و. البته د دوی مشرانو سم کار کاو او مسلکې غوندې خلك ول ، زمان شاه دغه دسیسه شنډه کړه دغه خلك يې ووژل خپله میا هم وروسته ووژل شو ،مګر کوم تاثیرات ،چې د دوی دپاره پېدا شول یعنې د دغو مشرانو وژل د دوی پلویان او قومونه یې بې لارې کړل ، انګلیس او ایران هم ورسره و او بدې ورځې یې راوستې .

دا هغه مهال دی ،چې د ډېرو برخو مسلمانان او هند د انګلیسانو د مقابلې دپاره د شاه ورتلو ته سترګې په لار و، په دغو دسیسو کښې شاه زمان ستومانه شو، برنس ، موهن لال ، شاه شجاع ، امیر دوست محمد خان ، شاه محمود سدوزی ، وزیر فتح خان ټول لګیا و .

## امیر دوست محمد خان :

برنس او د هغه ملګري د ۱۸۳۲ د فبروري په میاشت کښې د کابل په لوري وخوځېدل په پېښور کښې دوی د سلطان محمد خان سردار ،چې د امیر دوست محمد خان ورور مېلمانه شول ، امیر دوست محمد خان او سلطان خان له یوې موره نه و خو یو پېښور کښې و او بل په کابل کښې .

سردار سلطان محمد په رنجیت خوشحال ،چې پېښور ونیسي امیر دوست محمد خان هم دا ښه بلله او دغه ورونه په خپلو کښې دومره بد و ،چې په پردو خوشحال و . تر خپلو ورونو نور افغانان خوار پرېږدي .

سلطان محمد دېرش ښځې او شپېته اولادونه درلودل ، د سلطان محمد خان زامنو برنس ته د کابل په باب معلومات ورکړل .

،چې کابل کښې هر څه موندل کېږي . د شرابو او ښځو په باب هم ،چې څنګه او چېرته وي ، کومه خبره ،چې د سلطان محمد خان زامنو برنس ته ورکړې ،چې کتاب کښې راغلي دي ،چې د

پېښور اوړه بې جوارو نه او د کابل مېرمنې بې یاره نه .

د اخلاق درجه دا ،چې رنجیت سنګهه او انګلیس دوی ته نژدې و ، دقندهار سرداران دواړو خواوو ته لاس غځاوه ، ایران او انګلیس هرات ، دکامران سدوزي په لاس کښې و . په دې صورت کښې کابل د امیر دوست خان ، قندهار د کهندل خان او شېردل خان پېښورې د سلطان محمد خان او امیر محمد خان ، هېڅ کوم یې خپلواك نه و او خلکو

يې پيسې اخيستې ظلمونه به يې کول کورونو ته يې استول د خلکو ناوې به يې راګرځولې. بد مرغي په دې کښې ده ،چې هغه مو هېرې شوې دي . ځکه همدغه خلك امير کبير کورنۍ يو وار بيا کابل ونيو ،چې څلوېښت کاله يې دوام وکړ . اوس بيا افغانستان په هم هغه حالت کښې دی ۱۸۱۱ م کښې ۲۰۰۳ ،چې يو نوي ۹۱ کاله شي .

کله ،چې انګليستان د تجاوز په توګه راتلل دوی تاريخي اثار ټولول په ۱۸۲۰م کښې دوی په افغانستان کښې فرانسويان وليدل ،چې هغوی هم په تاريخي اثارو پسې ګرځېدل او په پټه يې خپل معلومات يو بل ته سره ورکول .

ددغو جاسوسانو يوه برخه په دې پوهېدلې و ،چې په عادي کاليو کښې کلي په کلي وګرځي او د مساپر په نامه ډوډۍ وخوري او هېڅ خرڅ ونه لري ، خلکو به په خپلو سراچو کښې ساتل .

انګليسانو په دې حال اخلاقي حال به يې بد ښوده لکه ،چې د امير دوست محمد په برخه کښې هېڅ نه دي پرېښې ، شراب ، زنا ، لواط ، غلا ، د سرې وژنې اونور امير دوست محمد بې معلوماته هم و .

برنس خپل يا داشتونه داسې ليکلې لکه د تاريخ يو زده کوونکې کابل کښې د بابر مقبرې ته هم تللی و ۱۵۳۰ م کښې مړ شو ، برنس کابل ته ننوت ،چې بابر هغه تر ډهلي ښه باله او وصيت يې کړی ،چې دې په کابل کښې ښخ کړئ ، اقبال همدغه مطلب ته اشاره کړې ده .

هزار مرتبه کابل بهتر از دهـــــلي بود
که اين عجوزه عروس هزارد اما داشت

برنس او موهن دکابل لوی بازار کښې هر څه ښه وليدل ،چې هغسې يې په هند کښې نه و ليدلي. هر دوکان ځلېده موهن لال وايې د کابل سرپټي بازار کښې هر هغه څه ليدل کېږي چې سړی يې تصور کولای شي ، لکه ستوري ،چې برګ اسمان کښې ځلېږي ، د کابل ګڼه ګوڼه په همدغه مهال داسې ښکارېده ،چې اتيازره خلك په کښې اباد وي . کابل يوه تجارتي لاره ده ،چې له هر ځايه خلك دلته راځي .

د کابل ښار درې میله په ښو باغونو کښې پټ او د غرو په څوکو کښې واوره ښکارېدله ، هغه ارمنیان ،چې نادر افشار سره راغلي په تجارت بوخت ، برنس او موهن لال د کابل د نولسمې پېړۍ یوتصویر ورکوي او وایي ماشومان او ځوانان ښه روغ رمټ و .
هارلن امریکایي جنرال ،چې رنجیت سنگهه سردار سلطان محمد خان او امیر دوست محمد خان نواب عبدالجبار خان سرّه یې د امیر دوست محمدخان په باب ډېر معلومات ټول کړي و ، هارلن له یوه سره صادق نه و . هر یوه ته به یې وعدې ورکولې او دبل دپاره یې پاڅول اوس به ددغه امریکایي معلومات وگورو: دوست محمد خان له خپل ورور فتح خان څخه ډېر څه زده کړي و . په تېره بیا ،چې څنگه خپل مخالفین له منځه یوسي . هارلن وایي دوست محمد یو اکتور و ، ،چې قومي مشرانو دیني عالمانو سره څه ډول و اوسي او په شخصي ماحول کښې څنگه وي ، نڅا ، شراب ، موسیقي دده په ماحول کښې ،چې چا فکر نه کاو دابه افغانستان وي ، دوست محمد لاڅوارلس کلن و ،چې په سره سینه یې یو سړی وواژه . د هرات د سدوزو حکمرانانو له کوره یې غلا او زنا وکړه ، او بیا کشمیر ته وتښتېده .
د امیر دوست محمد معلومات : برنس ،چې کابل ته ورسېد له نواب عبدالجبار سره یو ځای د امیر دوست محمد خان دربار ته لاړ . دوست محمد خان د برنس تود هر کلی وکړ او له برنس نه یې ډېر سوالونه وکړل ، په اروپا کښې څومره پادشاهان ؟ د دوی اړیکې یو له بله څه ډول دي ؟ دا ریښتیا ده ،چې د انگلېنډ پانگه د هند له تجارته لاس ته راځي ؟ دوست محمدخان د چین په باب ډېرې پوښتنې وکړې .
ده دا پوښتنه هم وکړه ،چې اروپایانو ته څوك د ختیځ افغانستان ژبه ورښیي او د اروپا د عسکرو نظام او تربیې په باب یې هم پوښتنې وکړې .
د چین خلك ولې له نورو توپیر لري ده وویل : ما اورېدلي ،چې د چین خلك جنگیالي دي برنس غوښتل د دوست محمد پام ځان ته وروگرځوي او په دې بریالي شول .
دوست محمد وویل : چې د کمپنۍ کار دې پرېږدي او د افغانستان د لښکرو مشري دې په غاړه واخلي ، برنس د دوست محمد خان دغه وړاندیز ونه مانه . وروسته دوست محمد د خلکو د راښکلو دپاره د خپلو یو لړ غیر اخلاقي کارونه توبه وکړه او شراب جوړول یې منع کړل ، موهن لال وایي دوست محمد خان په ظاهر کښې ښه سړی او ښکلی دی او له ژبې ډېر تیار دی او دا ورسره زیاتوي ،چې په هېڅ چا باور او ډاډ نه

کوي يوازې په خپل ځان ،دی په خپلې کورنۍ او مامورينو ويسا نه لري. هارلن د امريکا له نظره هغه دوست يوه بلا بولي ، کلکې سترګې لري هر چاته په دقت ګوري ، پزه يې کمان دی ، ونه يې جګه ده ، غاښونه يې بې ډوله دی .
برنس او د هغه ملګرې د نواب جبار خان کره اوسېدل تر ده دمخه هارلن امريکا يې لـه ده سره اوسېده. د دوی مطلب دا و ،چې د انګليس ، امريکا يـو دوست حکومت پـه افغانستان ودروي ،چې پـه حقيقت کښې د روس او انګليس تـر مېنځ يـو بڼـر او بېلوونکی ځای وي .
د هر چا دې ته پام کېږي انګليسان په چا چا ويسامن وي ، هغه داسې تر څېړنې لاندې نيسي ،چې حتی د هغه قيافه خبرې ، معلومات پټ او ښکاره عمل ګورې دوستان او مخالفين يې په نښه کوي .په دې مهال کښې يهودان هم په دې پسې ګرځېدل ،چې د دوی له لسو قبيلو څخه يوه ورکه ده او هغه په افغانستان کښې وي ، مسيحان د ځان دپاره لګياو ، يهوديانو غوښتل ،چې کشمير نوی يورشلم شي .
۱۸۰۹ ميلادي حالات ډېر بدل شوي ، لوی درشل شاه زمان ړوند شوی و. انګليسانو په ورونو او کورنيو کښې بې اتفاقي راوستې وه ، نور څوك نه و ،چې افغانستان راټول کړي د احمد شاه بابا د کورنۍ غړيو ته يو جاسوس مقرر شوی ځکه که دغه کورنۍ کښې د کار سړی موندل شوی وی ټوله امپراتوري او د هند مسلمانان پرې راټولېدل .
شاه شجاع په لوديانه کښې د انګليسانو تر نظر لاندې و ، شاه محمود دده ورور کابل کښې و او افغانستان د وزير فتح خان د ورونو په لاس کښې ، شاه شجاع د قدرت لېونی و ځکه ده ځان دپاشاهۍ وړ ګاڼه له شاه محمود سدوزي نه خلك ناراضي و ، شاه شجاع برنس ته ويلي و ،چې غواړې خپل هېواد ته لاړ شي کلودويد د انګليس لـه خوا دده مېلمه پال شاه شجاع شاهانه کالي اغوستل شپه او ورځ لکه "اودسيه " د قدرت په فکر کښې و ، اودسيه د هومر يوناني لرغونې شاعر د حماسي يو اتل و .
د سند ميران که څه هم خپلواك و مګر بيا د افغانستان يوه برخه شاه شجاع فکر کاوه د شاه شجاع له پادشاهۍ ډېر کلونه تېر شوي و بيا هم دده شاهانه خوی ژوندی و ، د امپراتور تېمورشاه ۲۳ زامن يو د بل دپاره د لارې خنډ و . شاه شجاع ځان د افغاني دود له مخې ځان رښتيانی پادشاه باله . او په دې ګډوډه حالاتو کښې ده فکر کاوه ،چې انګليسان به دده سره مرسته وکړي .

شاه شجاع له ۱۸۰۳ م څخه تر ۱۸۰۹ هڅه وکړه ،چې خپل اختلافات له سردارانو سره جوړ کړي د دوست محمد خور يې واده کړه ،جرګې ، مرکې او نورې هڅې مګر دغه روغې او مرکې سردارانو ونه منلې او روغې يې ماتې کړې د هغه سبب دا و ،چې انګليسانو نه پرېښودل کله ،چې برنس قندز ته لاړ هلته مير مراد بېګ مشر و برنس وايي : ما هلته يو بل انګليس وليد ،چې هويت يې پټ کړی و او د يو چوپړ په توګه يې کار کاوه . له دې مطلب دا دی ،چې انګليسان د دوی تار او پود کښې ننوتلي و ، ويليم مور کرافت Williom moor Craft ټول احوال اخستي و او د کلودويد له شاه شجاع سره کلونه تېر کړي ، يو طبيب او جيالوجست هم په همدغو سمو کښې ګرځېدل .
دين او ملي کړه يو لړ پاڅونونه راوستل او همدغه يوازينی مفهوم دی ،چې د افغان نوم يې وساته ،

" که زمری دی اشرف د جنګ زمری دی
اشرف ته قام رانغی دنادر ځکه پر اشرف بری دی

د تاريخ همدغه سبق دی ،چې يو غفلت د عمر ذلت شي .

بخارا :

د هندوکش " پاراپاميزاد " له غرونو تېرېدل د باميان له لارې و ،چې د کابل کاروانونه په همدې لار تلل د بلخ بخارا او هرات ته . دغه لار د امان الله خان تر مهال پورې وه لومړی ډله زده کوونکې له همدغې لارې اروپا ته لاړل . د نادر شاه په مهال د شکار درې لار او بيا د سالنګ لار خلاصه شوه .

## شاه شجاع :

د برنس په تعبير يو نارامه سړی و . کله ،چې دده ورور شاه محمود او وزير فتح خان په ۱۸۰۹ کښې دی له وزارت و غورځاوه او شاه شجاع په کشمير کښې دافغانستان حاکم لخوا بندي شو د ده عصاب يې ويجاړ کړل بيا ،چې دی د رنجيت لاس ته ورغی . نور ډېر اهانت يې شو .
په ۱۸۰۹ م شاه شجاع لا پادشاه و ،چې الفنستن پېښور ته ورغی او له شاه شجاع سره يې يو تړون لاسليک کړ ،چې که د ايران او فرانس ګډ لښکر د افغانستان له لارې هند ته د

راتلو اراده ولري نو شاه شجاع به د هغوی مخه نیسي ، دغه ترون هېڅ ګټه ونه کړه ،څکه شاه محمود او وزیر فتح خان د کابل په نیولو بریالي شول .
د رنجیت سنګه مېرمن ،چې مېره يې د پنجاب مهاراجا و ، د کوه نور دالماس شوق ورته پیدا شو او خپل مېړه يې وهڅاوه ،چې هغه تر لاسه کړي ۱۸۱۳ م کال و ،چې رنجیت سنګه واورېدل ،چې وزیر فتح خان غواړي کشمیر ته لاړ شي ، شاه شجاع او کوه نور دواړه تر لاسه کړي .
وزیر فتح خان ته شاه شجاع وویل: ،چې کوه نور دده له مېرمنې سره او مېرمن يې په لاهور کښې ده . فتح خان شاه شجاع ته وویل ،چې لاړشپ او کوه نور له خپلې مېرمنې واخلي همدا و ،چې شاه شجاع رنجیت سنګه ته په لاس ورغی او له همدې ورځې د شاه شجاع بدې ورځې پیل کېږي . رنجیت سنګه سره انګلیس مشاورین و ، هغوی رنجیت سنګه ته لاره ښودله ،چې څنګه رنجیت الماس تر لاسه کړي ؟ چې په پای کښې کوه نور د انګلیسانو شو.
شاه شجاع لومړی ځل له ۱۸۰۳م څخه تر ۱۸۰۹ پورې پادشاه و . دده ټوله پاملرنه دې ته وه ،چې بارکزي سرداران ځانله راوکاږي او وزیر فتح خان ته د وزارت مقام ورکړي. مګر وزیر فتح خان په پلمه وتښتېده اوبېرته يې هغه پخوانۍ لاره ونیوله .
وزیر فتح خان ، شاه شجاع رنجیت سنګه ته په لاس ورکړ او رنجیت سنګه دا مراحل ورته کېښودل .
لومړی یې دی یو پادشاه وباله او خپله پګړۍ يې ورسره بدله کړه ( یعنی دواړه د یو حېثیت شول).
دوه همه مرحله کښې يې دده حرکتونه تر څارنې لاندې ونیول .
درېیم یو عالیقدر بندي .
څلورم شاقه ، حبس او توهین حتی دی يې په قفس کښې واچاو .
د شاه شجاع فکر دغه مراحلو او دپادشاهۍ له لاسه وتل ، او د وزیر فتح خان ناځوانمردي يې د مالیخولیا او لېونتوب درجې ته ورساو ، نور دی یو عادي سړی نه و . شاه شجاه حاضر و ،چې د قدرت د بېرته اخستلو دپاره هر څه ومني . شاه شجاع شاعر او لیکوال و . دده د شعر دیوان چاپ دی کتاب يې ،چې خپل تېر شوي حالات و هم

چاپ شوی دی ، دده اشعار صوفیانه نه و ،خو ده ونه شو کولای خپله کرکه غلې کړي او یوه کرښه ونیسي ، بیا یې د قبایل مشران وکتل .
شاه شجاع دسکهانو په برخه کښې لیکي دواړه( مسلمان او سکه) د یوه خدای عبادت کوي ، الله تعالی په وحدانیت پېژني دده مثالونه لکه د سکه په برخه کښې د مطلقه شاه په برخه کښې د انګلیسانو خبرې دوستانه بل دا ښیې ،چې دی په سیاست نه پوهېده په ساده ګۍ کښې یې هر څه بایلودل . انګلیسانو وعدې کولې او هېڅکله یې هغه عملي نه کړي .
شاه شجاع په لاهور کښې له دې ربړ سره مخامخ و ،چې د پنجاب یوه برخه انګلیسانو سره بلې خوا ته وزیر فتح خان لاهور کښې رنجیت سنګه ، بله خوا دده درنه فامیلي ،چې هغه کښې مېرمنې ډېرې وې ،چې ټولې شپږ سوه وي نارینه ، مېرمنې او ماشومان .

شاه شجاع ددوی د اېستلو په فکر کښې و او په دې بریالي شول ،چې هغوی وباسي . د شاه شجاع یو وفادار نوکر د سکه د شاهي دربار کالي په ځان کړل د ۱۸۱۵ داپرېل په ۱۳ نیمه شپه شجاع او دوه زامن یې داسې وتښتول ،چې محافظ ګومان کاوه،چې داسړی د رنجیت سنګه لخوا راغلی .
د شاه شجاع ملګري او زامن یې لودیاني ته لاړل او هلته کلودوید ،چې د لودیاني انګلیس کمشنر و دوی تر نظر لاندې وساتل. شاه شجاع غوښتل ،چې کشمیر یا سند کښې خپلې پادشاهۍ دپاره کار وکړي . دی نه پوهېده ،چې انګلیسان شاه محمود دده ورور او وزیر فتح خان دده مخه نیسي ، رنجیت سنګه تر ټولو دده مخالف و .
انګلیسانو د امیر دوست محمد او شاه شجاع تر مېنځ مقایسه کوله ،چې کوم سره خپلې خبرې وکړي دواړه یې په نوبت راوستل ، په ۱۸۳۸ م شاه شجاع په ۱۸۴۲ م کښې امیر دوست محمد خان دا هغه زمانه وه ،چې هېڅ افغان فکر نه کاو ،چې پرته د انګلیسانو له خوښې خپل واک حکومت جوړولی شي ، په دې مهال امریکا کښې هارلن لودیاني ته راغی او شاه شجاع سره یې وکتل ، شاه شجاع هر بوټي ته لاس اچاوه .
ده ،چې هارلن سره خبرې وکړې کلودوید انګلیس بې خبره و کله ،چې خبر شو ، شاه شجاع باندې د دواړو ویسا نه کېدله شاه شجاع بیا هم نه پوهېده ،چې دده ټول اعمال تر څارنې لاندې دي.

انګليسانو افغانان سم پېژندل مګر افغانانو دوی نه پېژندل . د انګليسانو څرګند کالي ، پيسې ، سامان او پوهې دوی سيده کړې و ، ملي غازيان په عمومي او کلي توګه دوی يعنې اروپايان غير دين بلل او مخالفت يې کاوه ، نن تاريخ هغوی يعنې غازيان ښه بولي او د لويديځوالو خبره شيطانت بولي .

له دې ليکنې يو مطلوب همدا دی ،چې افغانان هم دوی وپېژني او ډېر معلومات د دوی په باب ولري ،چې رښو سترګو معامله ورسره وکړي او تېر نه وزي ، د دوی ټول خصوصيات وپېژني . ناپليون انګليسانو په يوې جزيرې کښې وساته ناپليون وايي انګليسان دوست او دښمن نه پېژني په دوستۍ او دښمنۍ کښې خپلې اقتصادي ګټې په نظر کښې نيسي . په همدغه مهال ،چې انګليس په افغانستان کښې فعال و ناپليون هم د هند د نيولو خيال درلود مګر انګليسانو مات کړ .

د ۲۰۰۳ د اپرېل په شپږم ،چې افغانستان او عراق کښې امريکايي جګړه روانه ده ، د انګليس حکومت وويل که امريکا بل جنګ پيل کړي انګليس د امريکا ملګرتيا نه کوي ،چې دا هم يو تاريخ دی . يوه بل بدلون دی .

متل دی چې " کوړ بار منزل ته نه رسېږي" دا دومره آهنګونه ،چې نړۍ ته راغلي ،چې له صفا ، صداقت اوسپېڅلتويه واوري بيا به نسکور شي . هر څوك ،چې له سمې واوړي کوړ شي . تر هغو خوشحال اوسه ،چې سم سمون دی وي غم په خپله سرې ځانله راولي ، د امريکا قانون کښې خوشحالۍ پسې ګرځه ، نه وايې سم سمون پسې ګرځه .

# بخارا:

څنګه ،چې د پنجاب او رنجيت سنګه حالات مو وکتل اوس به شمالي سيمې يا هېوادونه وګورو اعلحضرت احمد شاه بابا ، امپراتور تېمور شاه او شاه زمان په لومړۍ دوره کښې شاه شجاع له بخارا سره دوستانه اړيکې درلودې ، خرقه مبارکه قندهار ته راغله . د خپلوۍ دود و يعنې شاه شجاع د بخارا د پادشاه زوم کېده ...

بلخ او بخارا کابل بخارانژدې نومونه و . يو ځای د افغانستان له لارې تجارت کېده اوس به وګورو ،چې برنس په خپل مهال بخارا څه ډول وينې ، د بخارا امير نصر الله بهادر خان نومېده ، د بخارا د ښار ابادۍ يو سل او پنځوس زره تنه و. دا يو اسلامي ښار و . سني مذهب ښکلي جوماتونه يې درلودل ښار دوې دروازې درلودې او يو لوی بازار . دلته د ديني علومو لويې مدرسې وې د نهرونو په غاړو ډېرې ونې وې ، د ښار خواته

ريګستان و ،چې برنس هر ماښام يې څو ازبك او د بخارا خلك له نژدې وپېژني ، بخارا د منځنۍ اسيا څلور لارې و ، دلته هر څوك لېدل کېدل ، روسان ، مغل ، چينايان ، هنديان ، افغانان ، ترکمن ، قزاق ، پارسيان د بخارا مېوه ډېره مشهوره وه برنس وايي : زه خوشحال وم ،چې ډېرو خلکو سره دی ، مطلب يې د بېلو هېوادو او نسلونو خلك ، د ښار په يوه خوا د کتابونو د خرڅولو برخه وه ،چې هلته يوه او د سواد خاوندان راتلل بخارا د عالمانو ښار و ، ډېر پوهنځي يې درلودل کله به ،چې تياره شوه د پادشاه نغاره به ووډنګېدله ،چې وروسته به څوك نه ګرځېدل لاېبن به ورسره و ،چې رڼا ښکاره شي .

## د مرييانو بازار :

۱۸۱۹ م کال په بخارا کښې د مرييانو بازار و ، ترکمن سوارو لـه ايران او روسيې خلك له کروندو او نورو ځايو تښتول او د غلامانو بازار کښې يې پلورل ، په دې ډله کښې سني مسلمانان نه نيول کېدل بار شعيه مسلمانان يې نيول او پلورل .

دغـه غلامـان د کسپېن لـه غاړو را وېستل کېدل ، هلتـه کب نيونکي تـاجران او عـادي خلك يې د اوبو له منځه يا له غاړې ونيول بيا بـه يې د مرييانو بـازار تـه راوستل برنس عمومي حمامو ته هم تللی او يو څه نوي معلومات يې تر لاسه کړي .

موهن لال او برنس د يهودانو برخې تـه هم لاړل دغـه درې زره يهودان و ، برنس د خپلې پوهې له مخې هر ځای د ښځو په باب هم معلومات تر لاسه کول . يهودي مېرمنې ډېرې ښکلې او جذابې وې ،چې بخارا کښې ده لېدلې وې دی د ازبکو او هزاره ښځو په برخه کښې خپل معلومات بيانوي ، کله ،چې برنس يادداښتونه وکتل دې د بخار ايران افغانستان په باب داسې معلومات ورکوې ،چې د ليدلو ضرورت نه وي .

مونږ افغانانو هم بويه انګليس مو دغسې په ټولو خصوصياتو پېژندلای وای ،چې تاريخ پوه غبار دا کار تر يوه حده کړی دی او د انګليس سياست باندې يې خبرې کړې دي .

برنس وايي امير نصر الله بهادر سربېره پر شرعي جزاګانو هغو ته جزا ورکوله ،چې د مور او پلار بشپړ عزت يې نه درلوده .

د برنس کومې څرګندونې ،چې په دې برخه کښې کړي د ده نوم لـه بخارا سره يو ځای يادېږي که څوك ووايي ، کوم برنس هغه د بخارا برنس . د پنجاب او بخارا وروسته د ايران معلومات ،چې دا هم په زړه پورې او پاملرنه غواړي .

مخکې تر دې، چې بحث ته دوام ورکړم د امریکې د آرکیالوجی د انستیټیوت "موسسې" په خپلې وروستی کښې وایې د عراق فوق العاده تاریخي میراث په خطر کښې دی ، دغې موسسې یوه اعلامیه خپره کړې ده ، او ویلې یې دي ،چې مونږ ۱۹۹۱م د گلف په جنگ کښې دغه اندیښنه ،چې د بین النهرین مدنیت په ټول بشریت پورې اړه لري . د ۲۰۰۳ م د مارچ په یوویشتمه دغه اعلامیه بیا خپره شوه تاریخپوهان له دې بابته سخت اندېښمن دي .

د امریکې له حملې وروسته د دغو آثارو ټولی اردن ته راورسېد په هغه یوه قسمتي رب النوع د اېستار Ishtar په نامه ،چې ډېره ښکلې خرڅلاو ته کېښودله دغه په تیارو دورو ساتل شوی دوه زره کاله وروسته ،چې بشر ځان مدني بولي په لوټمار کښې ووتلې .

په افغانستان کښې هم وروسته د امریکې او بین المللي عسکرو له تېري دغه لوټمار یو ځل بیا په تندي روانه شوه .

له دې دواړو دغه نتیجه اخېستل کېږي ،چې د نړی لومړنی مدنیت ،چې په ختیځ کښې و . د هغه نښې نښانې له مېنځه وړل کېږي .

په اسلامي دوره کښې د بغداد د خلافت د علومو او ښه انتظام له پلوه په نړی کښې لوړ مقام درلود او اروپا له همدو علومو زده کړل ، الجبر ، کیمیا ، ستوري پېژندل ، طب او نورې علمي اکاډمی هلته وې .

# افغانستان او عراق د ګډ هېواد په توګه

د ارکيالوجي مجله ،چې د ارکيالوجي موسسې له خوا خپرېږي د هغه د ۲۰۰۳ د مې د مياشتې په لاس راغلې دغه مجله هر درې مياشتې خپرېږي دغه اوسنۍ ګڼه د مې ، جون او جولای ده ، د بغداد موزيم د هغه هېواد د مخابرانو د وزارت او راديو تلوېزيون مېنځ کښې پروت دی، د خبرونو له مخې ۲۱ مارچ ۲۰۰۳ څرګندېږي ،چې د هوايي بمباريو لومړنی هدف ، همدغه ځای د بمونو د دروند والي له مخې ،چې د موزيم چتونه يې غورځولي و.

دلته د آسورين له مانۍ د نمرود او Khors Abad زماني آثار ،چې د عراق د موزيم وياړ و له مېنځه تللي دي . دغه موزيم باندې يونسکو ډېر کار کړی و . د بغداد د موزيم دپاسه يونسکو له پلوه ليکل شويدي دلته کلتوري ذخيره ده نظامي عمليات دې دلته نه کېږي .

د عراق تاريخ پوهان وايي امريکا زمونږ د تېلو دپاره يوازې نه دې راغلی دوی زمونږ تاريخي ميراثونه هم له منځه وړي . د افغانستان او عراق تر مېنځ د ايران هېواد پروت دی ،خو په دغه مهال کښې د افغانستان حالات يو ډول شول د افغانستان تاريخي بېرحمۍ سره وتلې او وزي Mesopotamia مې سپوتاميا بين النهرين ، اريايان له افغانستان نه تللي او هلته سور ، آسور او ارياسور مدنيتونه جوړ شوي کوم ،چې د سند په حوزه کښې پالل شوي و ،بيا د اوبو له لارې هلته رسېدلي دي .

په اصلاحي دوره کښې افغانستان د بغداد له خلافت سره نژدې او دوستانه اړيکې صفاريانو ،غزنويانو ، غوريانو ته تل له بغدار څخه يو اسلامي بېرغ راشي يعنې د دغو خپلواکو دولتونو اسلامي اړيکې بغداد سره وې .

د خلافت مقام ،چې بغداد و ، افغان سکزي پادشاه ، يعقوب صفار ، فرمان او غنم واستول، او يعقوب ملك دين و ، د نيا لقب ورکړ د سستان يا ساکستان بېرغ يې د خدای کورته نژدې ودراو. د بغداد د خلافت سلطان محمود د غزنوي امين الدوله لقب ورکړ ، او همدا دغورسلاطين يې د سلطان الاعظم په نامه وپېژندل .

د افغانستان دولتونه وروسته له اسلام خپلواك اسلامي دولتونه و او په همدې صورت پېژندل شوي. احمد شاه بابا له عثماني خلافت سره ښې اړيکې درلودې . " حساب که غلط وي له بغداده بېرته راګرځي " دغه اصطلاح تر اوسه په افغانستان کښې شته . د

اپرېل ۲۰۰۳ په ۱۲ د امریکا تلویزیون د عراق موزیم وښود ،چې لوټ شوی و. په خبر کښې یې وویل،چې څو زرهتاریخي آثار له مېنځه لاړل .
د پوهانو له نظره دېرش زره کلونو آثار و ، نمرود مجسمه ،چې آسوري و . د طبري په تاریخ کښې راغلي ،چې ابوذر غفاري د خدای له رسوله اورېدلي دي ،چې څلور پېغمبران سوریاني دي .
د کابل ، زابل ، او بابل تر مېنځ اړیکې هماغه اته نهه زره کاله دمخه دي . په دغه کال ۲۰۰۳ م او تر مخه د افغانستان او عراق تاریخي آثار لوټ کېږي . او دغه کار څکه ،چې غرب د شرق له زاړه مدنیت نښې له مېنځه وړي او خلکو ته یې پیسې ورکوي یعنې لوټمارو او لوټمار د وطن خرڅوونکي دي .
په ۳ ۲۰۰م د اپرېل په اتمه ، نهمه ، لسمه ، یوولسمه او دولسمه په عراق د بابل او بغداد لوټماري خپلې څوکې ته رسېدلي وه. نړیوالو داسې یو نظاره لیدلې ،چې زرونو کلونو لوټېدلی وحشت دومره ډېر و ،چې چنګېز هلاکو او ګوډ تېمور له خلکو هېر شول . د نمرود مجسمه وغورځېده د آسوریانو کورتباه شو فراعنه په ژړا شول . څکه د دوی له تېره داسې څوك راپاڅېدل ،چې مدنیت او انسانیت ته یې خاتمه ورکړه . د تاریخ پوهانو له نظره د لرغونې مدنیت دوه مرکزه ،چې د دوو سیندونو ترمینځ پراته و نومیالی او نامتو و .
آمو ، آباسین ( اکسوس – اندوس )
دجله ،فرات ( مسه پوتومیا)
د آمو او آباسین دوه همه مرحله دجله اوفرات و ، دجله فرات آباسین آمو په ادب کښې ډېر راغلي او ددغې پراخې سیمې خلك ورسره بلد دي . دغه دوه مدنیت سره بلد دي تجارت اوصنعت علم او عرفان له همدغې سیمې پیدا شوي .
هاغه سور ، سوریان هلته هم دلته هم سور ، سوریه ، سوریان ، غوریان ، آریاسور او آشور ، آسور هماغه یو خلك دي . دوی په اسلامي خلافتونو کښې لکه اموي ، عباسي هم نژدې و . د سور او آریاسور دورو کښې هم نن هم په یوه برخه لیك کښې راغلل .
د معاصر تاریخ یایناب همدا شو ،چې د شپږو زرو کلونو آثار ، هنر ، فلسفه ، اخلاق ، هڅوب ،ټولنیز ژوند ، دین ، تصوف ... هر څه لاړل د هغود وسلې ټکنالوجي راغله د هر چا په لاس کښې و چې ولوېده . د ګوډ تېمور په لاس کښې باروت و ، د نړۍ لویه برخه

يې په بل مخ واړوله : ۱۴۰۰م هند ، افغانستان ، ايران ، ماورالنهر ، ترکيه ، کاشغر د روسيې يوې برخې پورې .
دی وايي : کله ،چې د انسانانو کوپړۍ په اور کښې وېرقېږي له دغو غړوېو خوند اخلم .
"ديوالونه ،چې ونړېږي ښځې اوماشومان وچغېږي تر هرې موسيقۍ آرام رابښي "
هلا کو خان ۱۲۵۸م د بغداد له نړولو خوند اخېست فکر کېده ، ددغو ظالمانو دور تېر شو بيا به نه راځي ، له بده مرغه په يوويشتمې پېړۍ کښې بېرته راغی . د نړۍ نېك مرغي نه راځي کله ،چې ځمکه ،هوا ، اوبه ککړ شي . مينه دوستي ، ويسا پاځي اخلاق زړه سوی نه وي انسانان لکه ځناور په غوښو او هډوکو شخوند ووهي داسې نړۍ څوك نه غواړي .

بيا د دهر خزانه ده تشه شوې
چې حميد په در و لعلو ژړوي

د ۲۰۰۳م اپرېل په۲۶ د امريکې د دفاع وزير وويل : " په افغانستان او عراق کښې به تر هغو امريکايي عسکر پاتې وي ،چې هلته وړ حکومتونه جوړ شي ."تورو نخودو پسې تلل همدا دی . د عراق همر ديف کېدل په يوه وخت کښې يوه معنا لري او هغه دا ،چې دغه دواړه هېوادونه يو ډول خاص اهميت لري له پخوا زمانې نه تر اوسه آمو ، آباسين ، دجله فرات ،چې يو له بله سره تړلي دي . آرنو له د هغه تفصيل ورکوي ،چې د آمو له غاړو آريايان او سند له حوزې آرياسور د دجلې او فرات ، حوزېته راغلل ، دلته يې ځمکه ارام کړه ، باتلاقونه يې له منځه يوړل او د بين النهرين ځمکه ،چې د کرنې دپاره چمتو کړه .
تاسو وګورئ ،چې دغه دوه حوزې څومره اهميت لري ؟ يوازې مونږ د هغه په اهميت نه پوهېږو ،هغوی پوهېږي ،چې دلته څومره مادي او معنوي زېرمه پرته ده .
وړ حکومت هغه دی ،چې امنيت وي او خلك خپلې ځمکې وکري او لاسي مصنوعاتو ته وده ورکړي کوم بهرني کولای شي وړ حکومت جوړ کړي .
دلته ،چې د برنس او د هغوی ملګري بشپړ معلومات تر لاسه کړي .خبوا ته لاړل چېرته کاروانونه لوټ کېدل او خلك د غلامانو په توګه نيول کېدل ، برنس له خپلو سوغاتونو نه د خيوې خان ته ورکړي . هغوی وکولای شول فارس ته ځان ورسوي ، تر دې وخته د افغانستان بخار او خبوا حالات ده معلوم کړل او د اميرانو سره يې خبرې وکړې .

## ایران :

دانګلیسانو هیئت مشهد ته ورسېدل ،چې د خراسان مرکز و امام رضا دلته ښخ شوی دی ،چې لوی زیارت دی . عباس مرزا د ایران شهزاد د هیئت تود هرکلی وکړ . دا مهال ایران پر هرات برید وکړ برنس موهن د جګړې ننداري ته ورغلي و ، د ایران لښکرو سره یو پولنډی افسر ،چې Bonwski نومېده مرسته کوله . د ۱۸۲۳ کال د سپتمبر په ۲۹ د برنس او موهن لال د هند په لورې د هرات ، قندهار او کابل له لارې روان شول له بشپړ معلوماتو سره . د ایران پادشاه فتح علي شاه غوښتل ، روسان انګلیسان او فرانسویان خپل ملګري کړي ، دغه مذبذب سیاست د افغانستان دپاره ګران پرېوته . څو انګلیستان وپوهېد ،چې روسان ایران هڅوي ،چې هرات ونیسي او د ایران ډېرې ، ځمکې د ځان کړي په دې توګه به ایران هم هرات کښې نفوذ ومومي هم به د ایران ځمکې خپلې کړي .

د روس تزار ۱۸۱۲م کښې خپل یو جنرال Alexis yermalov الېکزس یارمولوف تهران ته ولېږه دغه سړی د مسکو د دیو په نامه یادېده نه عادي سړی و او نه عادي جنرال .

په ۱۸۲۷م کښې یې تبرېز له ایرانه ونیو . آذربایجان ققفاز او ترکمن چالی تړون یې ورسره لاسلیك کړ او همدغه تړون د انګلیس سیاست واړو. کله ،چې DukeWellingdom د انګلیس صدراعظم شو . د هند د ساتلو سیاست یې وټاکه ، نور د روسانو د پرمختګ مخه ونیسي ، یوازې تجارتي اړیکې یې ساتلې . په دې توګه افغانستان په مېنځ کښې پاتې شو .

دافغانستان محمدزايي پادشاهان په کرار شول څو روسانو ته بیا د افغنستان نیولو شوق پېدا شو. دا مهال ابتکار او برلاسی د امریکا په لاس کښې و ، د افغانانو کرکه له روسیې ډېره شوه امریکې له دې موقع ګټه واخېسته او خپل غلیم یې له پښو وغورځاوه. مګر انګلیسانو د افغنستان نورې ځمکې د کندمك او ډیورنډ تړونو په وسیله ونیولې . ګندمك۱۸۷۸م ډیورنډ ۱۸۸۵م .

د روس او انګلیس په دې لوبه ، ډېرو افغانانو هڅه وکړه ،چې له خپل هېواد سره پاتې شي . کله ،چې د خراسان ولایت قاجارو ونیو لاهم هلته خلکو غوښتل ،چې بېرته افغانستان سره پاتې شي او دغه مطلب د جان ویلر په کتاب کښې راغلي دې ،چې د

بخارا امیر او خیوا خان مرسته کوله ،چې د هرات دفاع وکړي ، مرو سرخس او پنجدي له هرات سره یو ځای و اوسي ، د افغانستان دمشرانو فلسفه دا وه ،چې یو ولایت دې وې خو زمونږ په لاس کښې دې وي .

د افغانستان پخواني دولتونو په تېره بیا اعلحضرت احمد شاه بابا ، اعلحضرت تېمور شاه ، اعلحضرت شاه زمان داسې عدالت درلود ،چې د هند ، ایران او ماورالنهر مشرانو په خپله دغه یووالی غوښت . د تاریخ له مخې کله چې د انګلیسانو او روسانو لوبه پېدا شوه د هند ، ماورالنهر بخارا او ایران خلکومنظم استازي کابل ته راغلل ، مګر دافغانستان مشرانو په خپلو کښې خوړل .

آمو او آباسین د افغانستان سرحد دی . د افغانستان ملي سیاست دا دی ،چې د آباسین او آمو ها خوا هېوادو سره تل ښې اړیکې ولري ،چې د افغان دوستي اړیکې دا ،چې کله افغانستان بېرته دغه سیاست ته راګرځي اوس پوهېدل ګران دي . کله ،چې افغانستان کښې ملي سیاست راشي غربیان یې په ډېره بېرحمۍ ټکوي او دا خبره څو ځلې تکرار شوې او هم تکرارېږي .

## کوشان دوستي :

په افغانستان کښې کوشاني دولت ،چې مونږ یې کوچیاني دولت بولو داسې یو بنسټ کېښودلی دی ،چې هغه به تل زمونږ ملي سیاست جوړوي. په لومړۍ میلادي پېړۍ کښې کوچیانو افغانستان ته وحدت ورکړ یعنی باکتر یا بلخ یې ، له شمالي هندوستان سره یو کاسه کړ .

دا مهال یوه خوا په خپله کوچیاني امپراتوري وه بله خوا هغه لوی واړه دولتونه و ،چې هغوی د آرنولد تاین بي له خولې کوچیان دوستي درلوده ، که څه هم خپلواك و. مګر ښې اړیکې او یو له بله مرسته کول و .

په دغه مهال کښې په ټوله نړۍ کښې څلور امپراتورۍ وې او هغه چین ،کوشان ،پارس او روم و . دغو څلورو امپراتوریو په خپلو کښې تجارتي او ثقافتي اړیکې درلودې او یوه پر مختللې نړۍ وه ، ټکنالوجي وه ، په خپلو کښې د تجارت په وسیله کورني اړتیاوی یې پوره کولې . له هند ،چین نه مالونه مدیترانې ته تلل بیا روس او اروپا ته رسېدل هنر او ادب دې څلورو امپراتوریو کښې دومره پر مختللي و ،چې نن یې د

سيالۍ ځوك نشته او هماغه اثار دي ،چې مدني خلك يې غلا تـه ناست دي . دا کـه چين دې كه كوشان دي پارس يا روم اروپايان او امريكايې خپل الهام سرچينه بولي .
په اخلاقي لحاظ د مقايسې وړ نه دی ،ځکه نن اخلاق صفر تـه رسېدلي او هغـه مهال د انسانانو حرمت ډېر و . د امريكې حملې پر افغانستان او عراق او لـه بنديانو سره كړه ،انساني كرامت ورك كړ . په شلمه پېړۍ كښې په مانسهره كښې هغه كتيبې ترجمه شوی ،چې دآشوكا فرمانونه و . په دغو فرمانونو كښې ،چې ما هم ليدلي دي ، راغلې دي هېڅ انسان په هېڅ توګه حق نه لري د بل انسان وينې توی كړي وينه جبيره لري تويوونكی تور دی سپينېدای نه شي .
د سپين ږيرو او سپين سرو احترام وكړئ ماشومان لكه خپل اولاد وساتئ " لـه هنر سره مينه او وخت په دې ضايع كړي ،چې ښكلا او محبت يو ځای شي .افغانستان هغه ځمكه ده ،چې خدای تعالی دوستي په كښې ټوكولي ده . د احمد شاه بابا پـه امپراتورۍ كښې يوه شاعر ويلي دي :

يو غمځپلی مـــــخ به ونه وينې
كه ټوله نړۍ شي لكه يوه هنداره

بخارا ، خيوا ، ايران او هندوستان كښې افغان دوستي وه .
كله ،چې اعلحضرت امان الله خان اروپا تـه پـه سفر لاړ دده هركلی داسې وشو ،چې تر اوسه بيا د چا نه دی شوی . د ده د سفر په باب كتاب ليكل شوی ،چې په هغه كښې ډېر داسې مطالب شته ،چې د افغان دوستي ښيې په روهيله كښې خلكو ده ته وويل ،چې دا دوه يم افغانستان دی ،چې مصر كښې دده په امر د مصر خلكو رومي ځولۍ ګانې لـه سره اېسته كړې .
كله ،چې امان الله بېرته كابل ته راغې ده د كابل خلكو ته وويل : " زه يو عـادي افغان يم كوم هر كلې ،چې زما په اروپا كښې شوی . هغه په حقيقت ستاسو هر كلی و . "
د افغان دولتي نښې د كوچيانيانو لـه دورې ،چې دوه زره كاله دمخه و ، تر اوسـه پـه وار وار ليدل شوی. افغان دوستي يو داسې شعار دی ،چې د هغـه لرغونوالي څرګند نـه دې خو اټكل كېږي ،چې ۴۸۷-۵۶۷ م وي . لومړنی مشر ،چې د مينې محبت ښې وينا ، ښـه منلو او ښه كولو خبره يې كړې ده هغه زردښت دې ،چې افغان تاريخ پوهانو لكه كهزاد ، حبيبي ... سپنتيمان بللی دی . پـه باكتر يا بلخ كښې زېږېدلي دې پلار ېې په كښې

څرګند و . د "تهاين بي" په کتاب کښې راغلي دي ،چې زردښت سوري و او سوري پېغمبران هم شته ،چې نومونه راغلي دي .
کنفوسيوس په چين کښې . بودا په هند کښې . کنفوسيوس فلسفه نجابت دی ، نجيب سړی يا له نجيبي کورنۍ او د نجابت اخلاقي معيارونه ولري دا د ده د زمانې ضرورت و

بودا وايي : انسان د طبيعت د ځان غوره توب او حريص بولي او عقيدتمن دی ،چې انسان کولای شي . پر دغه طبيعت برى ومومي او ده په عمل کښې وښودل . د افغان مفهوم له دغسې يوه تاريخي مفهوم سره يو ځای شوی دی .
بد افغانان ډېر دي خو د افغان مفهوم نجيب دی ښه وينا ، ښه منل او ښه کول يا ښه عمل د نجيب سړي کار دی که افغان نجابت نه کوي له خپل پاك ځان سره جګړه کوي او خپل ځان به يې په خپله وژلي وي .
امان الله يوه ښه خبره په فرانسې کښې وکړه ،چې ټوله فرانسه يې خپل نجابت ته حېرانه کړه . کله ،چې ده ته وويل شول ، د ناپليون په کټ کښې څملي ! ده وويل " هغه زما د غور نيکه هم عمره دی ماته بې ادبي ده ،چې د هغه په کټ باندې راحت وکړم " دا خبره يو نجابت دی .
ناپليون د لوړ درشل شاه زمان په مهال و او دامان الله غور نيکه نه دی ، مګر په معنوي لحاظ هغه د هر افغان غور نيکه دی .
ورك شوی زمری افغان اوسېدل دي ، څوك کولي شي پښتون او افغان و اوسي .
کميونېست پوهانو ويل خپلواکي اقتصادي که انسان ، اقتصاد ولري اړ نه وي ، خو نور پوهان وايي خپله ماده اصل نه دی ، انساني روح د مادي نړۍ له ککړتيا وساتئ .
زردښت سوري دی د بلخ يا باکتر دی ، سپينتمان دي ،نو پښتون دی او دده ښه ويل ، ښه کول ، ښه منل د پښتونولۍ سر ټکی دی . په سياسي ، اقتصادي او ټولنيز اخلاقي خوا کله ،چې کال ۱۰۰ پخوا تر ميلاده بيا وروسته تر ميلاده ُلور امپراتورۍ ،چين ، کوچيان ، پارس او روم څنګ په څنګ په سوله او امنيت کښې اوسېدل هغه روحيه چېرته لاړه ؟ ولې لاړه ؟ کله ،چې چپاو غلا او لوټ پېل شو .

زردښت ، کنفسیوس ، بودا او فیثاغورس څلور فیلسوفان څلور امپراتورۍ له چین نیولې تر روم پورې کرار، کرار پر مختللې او هوسا دولتونه و . د همهغې دورې آثار دي ،چې بشریت پرې ویاړي لویدیځ په روم ختیځ په کوشان .

دا یو رمز دی ،چې ګومان نه کوم ،چې د افغان پښتون اولاد داسې ژر دغه رموز درک کړي او د انګلیس ، امریکا له بې معنی جال نه ووزي ، حال دا ،چې ۲۰۰۱-۲۰۰۳ م نړیوالو دیموکراسۍ د بشر حقوق او آزادي ، لومړی په افغانستان او بیا په عراق ،چې د مدنیت زانګو وه ولیدل . بې له شکه ۲۰۰۳ م ۱۳۸۲ هـ ل د وحشت ، تېري او خباثت سترې نښې ولیدلې شوي او هغه د انګلیس او امریکا کار و ، داسې څرګند بېږي ،چې دو وغوښتل له افغانستان او عراق نه د مدنیت او انسانیت نښې نښانې ورکې کړي .

کوم ظلم ،چې امریکې له بندیانو سره وکړ هغه په تاریخ کښې ساري نه لري انساني کرامت نه ،چې انسانان یې لوڅ لغړ کړل او طبیعي ضرورت د رفع کولو په وخت کښې یې ورته کتل د اسیرانو اورمېږونه یې د کراته بازانو په وسله ماتول ، ښځې یې په کلیو کښې لټولې ... افغانستان هلته ،چې زردښت تېر شوی و ، د اخلاقو فیلسوف و .زما عقیده دا ده ،چې پښتانه دې لومړې پښتونولي وپېژني بیا دې پښتانه شي او راتلونکي نسلونه دې په پښتو او شرافت وروزي .

هغه ځانګړتوب ،چې دوی یې د سور ، آریاسور ، سوري له برکته لري ، په هغه دې پوه شي . او دا ډېره مطالعه غواړي . معاصر تاریخ بل څه دي د بشر د مدنیت پای دی ،چې د حرص او ځان دنیانو(ناف) یا مرکز بلل دی ، امریکا آمر ، قاضي ، پولیس دی ،چې ټولې نړۍ پسې یې را اخستې. دنیا په دې ورانه نه شوه ،چې ورانه شوه په دې ورانه شوه ،چې بشري کرامت تړپینو لاندې شو پښتنو ویل ،دښمن دی وژنه مېړانه یې مه وژنه ، له دې مطلب انساني کرامت دی.ځوان افغان : ماشومان لو . لویان ، جاهل ، عالم او جنګ سوله ده .

په افغانستان کښې شپاړس کلن او له شپاړس کلن د لږ عمر ځوان د امریکایانو لخوانیول شوی او ګوانتانامو کیوبا ته لېږل کېږي .

## د ملي تاریخ فلسفه :

ماشوم یې لوی او خطرناك ، جاهل یې عالم او سوله جنگ دی " جنرال واین".

دا دی افغان دا هماغه خبرې دي ،چې انگلیسانو په نولسمې پېړۍ کښې کولې . امریکې په افغانستان او عراق کښې د چنگېز ، هلاکو خان او گوډ تېمور کارنامې بیا وکړې . په نوې نظامي او نوې ټکنالوجۍ .

دلویدیځ مدنیت ،چې پر انساني اصولو ولاړ نه دي ټولو ته څرگند شو ،چې دروغجن و ، داسې مثالونه په تاریخ کښې ډېر دي ،چې سور ، پاکت او ساك اصول ،چې لرغوني تاریخ یې په لاس کښې په لاشعوري توگه تر اسوه شته ،چې ماشوم یې لوی ،جاهل یې عالم اوسوله یې جنگ دی . د یوه امریکایې جنرال لـه نظره داسې دی . ودې مري هغه کسان ،چې د لویدیځ یعنی انگلیس ، امریکا په طبع ژوند کوي .

کال ۱۳۳۰ ھ ش دکابل په اخبارو کښې سید شمس الدین دا خبره پورته کړه ، په بل که په ځان ؟ زه ،چې مهال شل کلن وم د کاظم شیدا یو بیت مې د خپلواکۍ په مفهوم تشریح کړ.

د افتاب په کمندنه خېږم آسمان ته
نه ږدم بار لکه شبنم په دوش د گلو

څمکه یې جبل ، خلك بطل ، اوبه یې شتل : د طبري په تاریخ کښې لیکل شوی ،چې حضرت عمر رض په زمانه کښې یو سړی د پښتو د سیمو د حالاتو د څرگندولو دپاره تللی و ،چې بېرته راغی حضرت عمر ته یې وویل : څمکه یې جبل خلك بطل اوبه یې شتل دی حضرت عمر وویل : شعر وایې که خبر راکوي هغه نه صاحب خبر دی . حضرت عمر وفرمایل : هلته مه ورځئ.

## افغان ملي سیاست

په ۱۸۳۴م ،چې کابل د امیر دوست محمد په لاس کښې و ، په هرات کښې کامران شاه او د هغه قدیر یار محمد خان قندهار ، د امیر ورونه ځانله . پېښاور کښې سر سلطان محمد خان ، پېښاور د رنجیت سنگهه او امیر دوست محمدخان تر فشار لاندې و .

پېښاور ستراتیژیك موقعیت درلود ځکه له یوې خوا لـه اټك ها خوا څه لېرې د پنجاب څمکه وه ،ا، رنجیت سنگهه د هغه مهاراجا و . د پېښاور بله خوا د خیبر دره وه ،چې

کابل ته وتله پېښاور د افغانستان یو مهم ښار و ،لکه هرات . دجغرافیې له مخې پرته له پېښاور او هرات ته د افغانستان سیاسي بشپړتیا د تل دپاره نیمګړې وی .
په دغه مهال شاه شجاع . کامران او خپله د امیر دوست محمد حدونه ټول د دوست محمد خان رقیبان و ، د روسیې تزار او ایران د هرات او قندهار د نیولو په فکر کښې و یووالی اداره او امنیت ورك و .
نن امریکا له همغه ربړ سره مخامخ دی ،چې انګلیسان و او په شلمه پېړۍ کښې روسان تاریخ پوهان وایې ،چې دغه حالت دافغانستان ملي سیاست تل کمزوری ساتي . د پښتو شته والی د سرحد په دواړو خواو کښې دافغانستان دپاره د یوه کمربند حېثیت لري قندهار د بلوچستان له پښتنو سره جنوب او ختیځ د پښتنو سره د مسالې پیاوړتیا څرګندوي. دا په تعصب نه حل کېږي د واقعیت په منلو حل کېږي . دوه سوه ۲۰۰ کاله کېږي دغه لوبه روانه ده او حل ته نه رسیږي ، لودیا نه هم ،چې د لاهور په ختیځ کښې دی او د ستلبج د رود له غاړې پروت دی یو مهم موقعیت لري ،چې هند ،پنجاب سره نژدې دی . د لودیانې له نامه څرګندیږي ،چې لودي سره تعلق لري نو د شاه شجاع دپاره د پناه سیمه وه .
که څه هم دلته د هند او پاکستان دولتونه شته مګر په واقعیت کښې د پنجاب کشمیر ، سرحد او بلوچستان مسایل حل شوي نه دي . دپاکستان دولت له دغه کمربند سره ،چې د ډیورنډ دواړه خوا پراته دي ، له احتیاط نه کار اخلي .
روس ، هند ، ایران په طبیعي صورت له هغه او د هغو له عواقبو وېره لري . امریکا ، انګلیس او اروپا حتی " ناټو " په مشخصه توګه منطقې ته راغلی دی . د ځینې امریکایي مقاماتو له خولې اورېدل کېږي ،چې افغانستان ، غرونه ، ټپ پاله . خلکو او کلتور رېرونه پېښ کړی دی . انګلیس ویل د افغانستان ساتل ګران دي . روس له وینو ډك اوس د امریکې له نظره بابا جمهور رییس قاضی القضات په پښتون ټېره پورې اړه لري .
نو موضوع حل شوې ده مګر وینه او نژاد مسایل نه حل کوي او دا یو نامعقول فکر دی ، مسایل سیاست حل کولی شي ،چې له تاریخه راپاتې دی ، ملي سیاست چا نه دی تشریح کړی او نه په تاریخ کښې څرګند ویل شوی دی . مګر یو شعور دی .

ACKU

کمونيستي يا اقتصاد مطرح نه دی ځکه دلته په اشخاصو نه حساب کېږي . په ديموکراسۍ کښې دښځو د حقوقو هم بحث نه کېږي دا مهمې خبرې نه دې نه د حل لاره ده .

د تاريخ له نظره ملي شعور دی ،چې څوك د برې پړاو ته ورسوي ولې په دې يوويشتمې پېړۍ کښې هم تکنالوژي ، اقتصاد او ديموکراسي کمونستي کار نه ورکوي ؟ دوه سوه کاله تجربه شوې سمون نه دی راغلې . په جهالت دومره کېداى شي ،چې لکه چنګېز ، هلاکو ، ګوډ تېمور ، انګليس ، امريکا ،چې خلك ووژني ، ښارونه ونړوي ، ناکام بد نام په ځای کښيني . ختيځ د تاريخ له مخې مدنيتونو او مصليحتو زانګو ده لويديځ له اخلاقي ، فلسفي لحاظ ببرته پاتې دی .

په دې ځمکه کښې ،چې ختيځ بلل کېږي ، څلور فيلسوفانو کار کړې په چين کښې کنفيوسيس په افغانستان باکتر ، پاکت ، سورې ، زردښت ، په هند کښې بودا ، په يونان کښې ،چې لويديځ وي. فيثاغورث ، ملي شعور له دې پېل کېږي . په دوی کښې لومړې زردښت سور دی ،چې خپل بيان وکړه د پکت او د افغانستان د سپندونو ذکر او قومونو بيا کنفسوس ،چې نجابت او سپېڅلتيا يې غوره کړه ، بودا د باغې انساني طبيعت ښکېلول په رياضت ، او د ژوند دوام فيثاغورث هم دا فکر درلود . اوس هند ، چين ،افغانستان او لويديځ ببل ځايونه دي اوببل شعور لري د لويديځه نړۍ له زور زياتي او جګړې نه چل او ټکي نه کار اخلي .

د اروپا او امريکا کار د دوو درې سوو کلونو دی د ختيځ شپږ اوو زرو کالو خبره ده . کله ،چې د پښتنانه په کوم کښې زوی د ټوپکو ډزې کوي دا بله روحيه وي . په کابل کښې ويل شوی ،چې ښه طالبان دې دوی سره کار وکړي دا د طالب خبره نه ده دا د ملي شعور خبره ده . ملي وجدان او ملي شرافت موضوع ده .

څوك ملي شعور لري ؟ کله ،چې د تومن واګې د نورو په لاس کښې وي ملي شعور د مبارزې په لاره درومي ، ملي شعور مرکز او کماندډه نه غواړي ، څو ،چې يو ووړ مثال موندل کېږي د علم خان اپرېدي ښه مثال .

د احمد شاه بابا په دور دايرېدو.په يو لېږې کلي کښې يوشاعر اوسېده خپله خواري يې کوله نو داسې وايي :

په دا دور ،چې احمد شاه پادشاهي کړه　　　په هندوانو ،مـــغلو غم و ماښادي کړه

علم خان ملي شعور درلود دادی د هغه یوه جمله زمونږ سر مشق دی ،څه په کار اوږدې مقالې او ډېرې خبرې .
دا ملي شعور له گرشاسب او نورو مشرانو شپږ زره کاله دمخه پيل کېږي ، کوشاني يا کوچياني يفتلي بيا نېغه دورو ته راځي . صفاري ، غزنوي ، غوري ،هوتك او ابدالي داسې ملي شعور ،چې اوس دې کله هم پيتل و ،چې صاحبه ته پاچا که خدای مې نه کوي .
مونږ په وخت امريکې ته ويلي و ،چې زمونږ ملي هويت او ملي سياست تاسو ويجاړ کړې دا دې د وزير محمد گل خان مومند خبره ده ،چې په ۱۳۳۴ هـ ش کښې د امريکې استاذې ته کړې وه . وزير صاحب دا هم ويلې و ،چې مطلب انگليس يعنى ستاسو دوستان دي .
د مى په ۸ کال ۳ ۲۰۰م په C-SP پروگرام کښې يوې کانگرسي مېرمنې وويل ،په دغو دريو کلونو کښې اووه ميليونه امريکانيې وزگار شوي،چې مطلب يې د بوش دوره وه دري ترېليونه ډالره د بوديجي کسر دی . د داسې يوه کسر پوره کول کلونه غواړي يابېرته کارونه موندل.

## د امريکې نور حالات :

د ۲۰۰۱ م د سپتمبر يوولسمه ،چې د نيويارك او واشنگټن پېښه وشوه. په رښتيا ،چې يوه لويه ضربه ،چې د نړۍ او په تېره بيا د امريکې تاريخ يې واړاوه . زه تر اوسه سم نه پوهېږم دا کار د چا و؟

معلومېږي ستـــا د سترگو له غمزو
چې يې مرگ د تېره تيغ دی راپېرزو

خبره دلقاعده ده ،چې د طالبانو په سيمه کښې و او هغه په افغانستان کښې هغې خوا ته واوښته . ملا عمر د طالبانو مشر بي بي سي ته وويل : " پوهېږو ،چې امريکا حمله کوي خو چاره نشته "..
اسلام اوپښتونولي د همدغه کال د اکتوبر امريکا پر افغانستان حمله وکړه شمالي تلوالې يې تر مخې منډې وهلې او طالبان يې وژل په کابل ، قندز ، مزار شريف کښې افغان مسلمانانو د طالبانو مړي په لغتو وهل او ورتو کول يې انساني کرامت نه و . او

پښتنو دا متل ،چې دښمن دې وژنه مېړانه يې مه وژنه . دوی همدا وکړل : دښمن ا مېړانه دواړه يې ووژل .
د سپتمبر په ۱۱ په نيويارك او واشنګټن له دريو تر پنځو زرو خلك وژل شوي . د امريکې د نظامي کمانډې مرکز هم ووهل شو : امريکه ډېره زهيره شوه دا د چا نه لوړېدل ځکه د نړۍ خواخوږي امريکې سره وه .
د امريکې مذهبي مشر بوش ته وويل : ،چې د دوی په مقابل کښې هماغسې عمل نه دې په کار نورې لارې دې ولټول شي ،مګر بوش دا کار وکړ او د هغو خبره يې ونه منله.
په پاکستان کښې جنرال مشرف د پاکستان دټولو ګوندونو مشران سره کښېناستل هغوی ته يې وويل : " په افغانستان داسې حالات راغلل ،چې تاسو خبر ياست پوله مو شريکه ده د سرحد دواړه خوايو خلك دي . زمونږ دپاره دوی مسالې مهمې دي . لومړې کشمير . دوه يم اتوم بم امريکا به دواړه له مېنځه يوسي . د اتوم بم تاسيسات به وران کړي په کشمير کښې د هند پلوي وکړي مونږ به له احتياط سره د امريکې مخه له ځانه واړو" دا ملي مسايل و د پاکستان دپاره مخالف او موافق دواړو ورسره ومنله. په افغانستان کښې ملي روحيه نشته امريکايان وايي : " تاجك ، هزاره ، ازبك زمونږ دوستان دي پښتانه زمونږ دښمنان " مګر تاريخ به څه وايي ؟
ماشومان يې هم بنديان کړل . دا هغه هېواد دی ،چې پنځه زره کاله دمخه يې د فلزاتو صادرات درلودل يو کتاب دې ،چې د لويديځ مدنيت ،مفکوره ، سياست او ټولنه نومېږي . تر اوسه شپږ پلا چاپ شوی دی او پنځو نامتو پوهانو په شريکه ليکلی دی . د همدغه کتاب په شپاړسم مخ کښې ليکل شوي ،چې مسه پوټوميا ته له افغانستان څخه فلزات راوړل کېدل . په خوله اسانه ده ، په هغه دوره کښې د فلز پېژندل لاسته راوړل او له هغه کار اخېستل تجارت او صادرات کول ډېره مهمه مساله ده ، بيا راشئ اوس يې وګورئ ،چې خپله خاوره نه شي ساتلای د پرويز مشرف بری په دې کښې دې ،چې لکه پخواني صدر اعظمان په رشوت او خيانت ککړ دي . ملي سياست يې په دوو مسئلو،چې کشمير او اتوم بم وي تشريح کړ .خلکو ورسره ومنله اوس وګورئ هم اسلامي ګوندو ته لاره خلاصه شوه . کشمير او اتوم هم پاتې شو . بيا دا له افغانستان سره پرتله کړئ ، چې بېليون ډالره مصرف او خلکو ته جبو ته لاړل . امريکايان وايي سمندر کښې وغورځول

شول نه ابادي شته نه امنيت . نه نوم او حېثيت . د تاريخ لـه مخې داسې افغانـان و ،چې انګليس ته يې بلنه ورکړه روس ته يې بلنه ورکړه اوس شاباسې هم غواړي .
د تاريخ په باب نوې خبره دا ده :
تاريخ پوه د لرغوني زمانې د حالاتو او افکارو ترجماني کوي د نوي نسل دپاره د لرغونې زمانې او تاريخي اثارو اهميت نن له حده ډېر دي ،ځکه خلك پوهېدلي ،چې تاريخ په يوه ژبه خبرې کوي . په دغه ژبه پوهېدل او نه پوهېدل ډېر توپير لري . تر اوسه دا خبره وه ،چې کرستوف کلومبس په ۱۴۹۲م کال امريکا موندلې ده.
دا دی اوس Gavin Menzies يو کتاب ليکلی دی ۱۴۲۱ يې نوم دی ،چې يوه چينايي امريکا موندلې ده . کوم شواهد او نښې ،چې ښودلې هغه اوس ليدل کېږي ، شمالي قطب ته هم تللي . دغه کتاب لوی بدلون راوست او شپېته ميليونه جلده چاپ . پنځه ويشت ميليونه ډالره ورباندې ټولې شوی . دغه غوغا په ۲۰۰۱ م کښې پورته شوی ده همدغه مهال کښې مونږ خبر شوي نه يو.
مخکې تر دې يو بل کتاب د سومرين په باب و . پنځه ميليونه جلده خرڅ شوی دی . سومرين هماغه مدنيت دی ،چې اندوس نه نيولې تر دجله اوفرات او لـه هغه وړاندې مديترانې پورې خوځېدلي و . افغانستان همدغه سور . آرياسو . سوريا . پورې اړه لري ، د افغانستان تاريخ او مدنيت لږ تر لږه شپږ زره کلن دی . په داسې حال کښې ،چې دلويديځ مدنيت درې ، څلور ، پنځه سوه کلن دی ، يا درې سوه اويا کلن .
په ځو زرو کلونه مدنيت د خبرې په افغانستان او پاکستان په کښې راځي ، په دغې سيمې کښې دوه نومونه ، د دوو هېوادو اپښودل کېږي . خو ځمکه يوه ده لرغونې تاريخ او مدنيت يې يو دی . شمالي هند هم په دغه حوزه کښې راځي . ددغې يوې مدعا د ثبوت دپاره د سکندر يا لوی الکزاندر يادداشتونه دي ،چې ده هماغه خلك ،چې مسه پوتوميا کښې ليدلي و . دسند په حوزه کښې هم ليدلي دي .( تاين بي)
دلته د دوو خبرو يادونه ضروري ده يوه دا ،چې تاريخ پوه بويه د معاصرو قايع پانياب خلکو ته وواييي بله دا ،چې تاريخي پېښې لرغونې او نوی بېلېدای نه شي .
په ۱۹۹۴م په ايوديا کښې بابري مسجد ،چې داپنځلس پېړۍ ودان و هندوانو وران کړ ،چې دلته د "راما" معبد و . په ۲۰۰۱ م کښې د باميانو بت ووهل شو . او د اسلامي

نهضتو لړۍ په هند کښې وخوځېدله نه يوازې کشمير او ګجرات په ټول هند کښې ناکراري شوې لا دوام لري .
د ديموکراسۍ يو عيب دا دی ،چې د رايو د ګټلو دپاره د يوه سړي هيله تر سره شي . بيا مساله او د هغه بيه ورکول ملتونه پاتې شي .
د هند اوسنی حکومت د افراطي هندوانو دی .
آرکيالوجستانو ته معلوموله ،چې بابري جومات رښتيا د راما پر معبد جوړ شوی؟ هغوی خپله څرګنده نه کړه ،ځکه بيا اور بلېده . البته حقيقت يې وموندہ اوس وګورئ د بابري جومات نړول څومره خوابدي راوړه او له خوابديو ناخوالي راپيدا شوې ،چې نن يې هند ا ، امريکا او ټوله نړۍ سمولې نه شي . آرکيالوجستانو وليدل ،چې دهندوانو خبره سمه نه وه . اوس هغه ځای په ډېرو امنيتي ترتيباتو پټ ساتل کېږي .
سږ کال د جون په مياشت کښې د نړۍ آرکيالوجستانو په واشنګټن کښې غونډه کړې ،چې له ۳۵ هېوادو نه آرکيالوجستان راغلي ،چې ددغې غونډې پر فېصلو به خبرې وکړو ،چې دا ځله د عراق د موزيمو د آثارو لوټ د هغه غوره موضوع ده . که د افغانستان دهغو تاريخي اثارو لوټ ،چې د انتقالي دورې په موده کښې شوی ده . ياده شې دا به ګټورې وي مګر څوك دا خبره وکړي ؟ په بهر کښې افغانان او دننه د ژوند په غم کښې دي .
تاريخ پوه يوه ژبه لري ،چې په هغه پوهېدل د تاريخ څېړنې ته اړه لري او تاريخ يو څه وايي ،چې په هغه پوهېدل د ملتونو کار سموي . په افغانستان کښې مېندو اوپلرو خپل تاريخي معلومات اولادو ته د ژمي په اوږدو شپو کښې ويل : هلته يوې کوټې کښې نيا او لمسيان پراته مخکې له خوبه ټول غوږ و ،چې مشره ادې خپل نکلونه پېل کړي . وو نه وو يو پادشاه و دغه نکلونه به د تاريخ و او څه اضافه به وربانديې وه .
پلار او نيکه د کتابو پاڼې اړولې خپلو زامنو ته به يې ويلې ! ما خپله دا ،چې نادر افشار خپل زوی ړوند کړ يا د کرمان د خلکو سترګې محمد خان قاجار اېستلې وې او هغه شل زره کسه ،چې ړانده دغه ښار د ړندو د ښار په نوم يادېده تاريخ و .
تاريخ کښې ،چې نوي اثار وموندل شي تاريخي نظريې بدلېږي . تاريخ په بازارو کښې هم ويل کېده يوه سړي ،چې بشپړ معلومات يې درلودل په يوه ګوښه کښې به يې خلك راټول کړل او کيسې به يې کولې .

په لندن کښې د برنس تود هرکلي وشو او هغه يې يو ملي اتل وباله . د ۱۳۳۳ په نوامبر کښې برنس د لندن د زمري په نامه ونومول شو .چې ده د غرونو رغونو او خلکو معلومات خپل هېواد ته وړي و ، د وربښمو لاره يې کتلې وه ، ده ژورنالستانو ،جغرفياپوهانو او نورو خلکو ته خپل ، اطلاعات ورکړل ا دې د هغې موسسې غړی شو .
برنس خپلې مور ته ليکلي و : زه د اندوس برنس يم د بخارا برنس يم زه په ډېرې مهرباني وياړ مړ کړم . د ختيځ ساده خلکو دا ورسره وکول او برنس د ټولو بنياد ونړاوه .ده ډېر افتخاري نومونه وموندل ځوان برنس وايي : زه يې مړ نه کړم هره دقيقه يې د خوند او عيش ساعتونه و .
برنس په افغانستان کښې د عامو خلکو او جاسوسانو تر مېنځ رابطه ساتلې ده ، په ځنګ چارلس ماسن Masson د ايران دپاره وټاکل شو. اوبو شېر بندر ته وخوځېد . ايران هم نه پوهېده ،چې خبره د ايران کمزوری کول دي .
لوړ درشل شاه زمان د ايران پادشاه ته ويلي ، ښه دا ده .چې افغانستان او ايران د انګليسانو په مخ کښې سره يو شي ، د ايران پادشاه دومره هوښيارتيا نه درلوده .چې د غېر مسلمان په مخ کښې له اسلام سره ودرېږي
چارلس مسان لس کاله په افغانستان ، بخارا ، قفقاز او نوره اسيا کښې تېری کړې وي ، او ټول حالات يې څېړلي و انګليسانو دی يو اتل باله .
چارلس ماسن په بوشېر کښې يو عجيب حقيقت ووايه .چې ټول انګليسان يې حېران کړل او هغه ده وويل : زه يو امريکايي تبعه يم د کنتکی اوسېدونکی ، زه د تفلس له لارې افغانستان ته ورسېدم .
دده بل شهرت داسې نوم جېمز لي ويسJames Lewis او د لندن Alderman Bury کښې زېږېدلی دې . پلار يې د تېلو سوداګر و . يوويشت کاله دده په باب ، کوم بل معلومات نه ورلي ويس)يا ماسن په لندن کښې د هند په عسکرو کښې خپل نوم ورکړ . بيا دی بنګال ته ولېږل شو د ۱۸۸۲ د جنورې په اولسمه کلکتې ته وخوځېد . دی د بنګال يورپ په توپچي ټولي کښې وټاکل شو . دی پوه سړی و .
دده کار هم د هند راجاګانو غوږځول و . همدغه سياست افغانستان ته راغی ،چې لوی خانان او د رسوخ خاوندان له پښو وغوځوي . همدا ،چې د دوی آشنايان شول او مواجب يې واخېستل نو د دوی شول ، همدا ،چې يو خان ډېرې پيسې وموندلې

ACKU

د بې وزلو خمکې یې په زور او رضا واخېستلې د بل خان به دې خواته هوس شو ،نو حق او حقیقت شخصیت او صداقت پای ته ورسېد .

Richard Potten یوبل نړونکی و ،چې مسن سره یو ځای شو . مسن آرکیالوجست هم ،چې تاریخي اثار یې پېژندل او اخېستل ده ټول معلومات په یوه کتاب کښې لیکي ، تاسې وګورئ ۱۸۲۸ م کال زمونږ د هېواد ټول معلومات تر لاسه شو ،دوست محمد خان یې لېدلی دی . رنجیت سنګه من ته غوښتي دي ،چې دارو ورته جوړ کړي ،چې په اسیا کښې یوازنی دارو وي .

Deserter . مسن له یوه تجارتي کاروان سره کابل ته تللی و . وروسته دغو جاسوسانو بله لاره وموندله ،چې د ملنګانو په څېر تلل ،چې څوك یې د پېسو دپاره ونه خوروي ، او هم یې خلك عزت وکړي . په جومات کښې ځملي معلومات اسانه تر لاسه کړي ،اوځان ګنګ هم وښیې.

۱۸۷ کاله دمخه مطالعه کول د همداسې یوې ورځې دپاره وي ، مطلوب دا ،چې مونږ افغانان هم بایدهمدا ډول د مطالعاتو مرکز ولرو هغه هېوادونه ،چې هرو مرو زمونږ په چارو لاس وهي د هغو مطالعه وکړو .

مسن وایي : کله ،چې ما دوست محمد خان ولید ده ماته په شك نه کتل مګر دده دربار ځینو سړیو ماته په څیر کتل .

مسن ،چې لاهور ته راغی د رنجیت سنګه په دربار کښې یو فرانسوي داسې عسکر ناست و ،چې هغه د ناپلیون په عسکرو کښې جګړه کړې وه داسې خلکو په رنجیت سنګه باندې خپل مهارتونه پلورل . مګر یوازې دا نه و . د دوی اساسي کار جاسوسي وه

مسن کابل ، قندهار ، سند ، پېښاور .... ښاورنه ولیدل وروسته له برنس هاغه د ارمنیانو سایمن مسن هم ولید . ۱۸۳۲- جون . سایمن مسن ته وویل ،چې ( جوزف ولف) هم راغلی دی . دی راغلی دی ،چې ملایانو کښې لاره ومومي کلودوید له لودیاني د کابل نماینده( انګلیس) سېد کرامت علي ته خبر ورکړ ،چې د مسن په باب او د هغه دفعالیتو په باب بشپړ راپور ورکړي .

کرامت لومړی راپور دا و ،چې د کرسمس په ورځ ده یو اروپایي ولید ،چې د ملنګانو کچکول یې په غاړه و . دغه سړی د دروېزه په څیر دی خو وېښته سره او سترګې یې

خړې دي ، ښايي روسي وي . کرامت علي خبر ورکړ ،چې يو بل اروپايي د درويشانو په کاليو کښې ګرځي او افغان ناروغ هلك ورسره دی . د هلك پلار ورته وويل ،چې زوی به يې روغ شي . يو بل آس او نوکر لري . مسن د باندې له کابله ځايونه ګوري او کيندنې کوي ، ده هر څه موندل ،چې د دوست محمد خان د زوی اکبر خان ورته پام شو .

د افغانستان تاريخ پوه احمد علي کهزاد د بالاحصار کابل وپيش آمد های تاريخي په کتاب کښې په همدې باب داسې ليکي : " اولين کسې از اروپايان که در سال های ۱۸۲۶-۱۸۳۸م وارد افغانستان شده ومدتې در بالاحصار اقامت داشت . وتحقيقاتې در نقاط ماحول قرب بالاحصار در دامنه های شرقي کوه تخت شاه بعمل آورده است . مستر چارلس مسن انګليس است نامبرده شرحي از کار های را از مسافرينهای در بلوچستان و افغانستان و پنجاب جلد دوم و سوم مى دهد .

و چنين مى نمايد که حين اقامت در کابل در روزها مصروف ګردش و تحقق بوده و از قول شمس حوالي نيم ميلي جنوب غرب بالاحصار ګرفته تا خود تخت شاه و از آنجا تا کمريګ وچکری و سنجتک تمام رشته کوهای را که مانند نيم دايره قرار وحوضه رود خانه لوګر افتاده مطالعه کرده است ، مشار الله مى نويسد :

در پای قول شمس که فراز زيارت تميم عليه رحمه افتاده و از آن راه کوتاهى بطرف دند چهار دهى رفته باغي است . متعلق به آخوند هدايت الله در باغ مذکور شسته است . و بعد از کاوش در پشته مذکور دو طبقه سموچ ما پديدارشد ، روی خشت های بزرګ مربع که اضلاع آن ۶۰ انچ و ضخامت آن ۶ انچ بوده علامه نيچه است و رقم شبيه به ۴ ديده مى شد .

دريکى از ګوشه های پشته طاقي با پايه ها نمودار شد و درزير طاق نشد ، در زير طاق مجسمه های ګلى قشنګ زن ها کشف ګرديد . ميليون برنګهای سفيد وسرخ بر سر آن بر ګهای طلايي و ضع شده بوذ . موهای مجسمه ها حلقه حلقه ورنګ سرمه يي داشت برګ های طلايي ولاجورد روی انحنای داخل طاق هم ديده مى شد ، در پای طاق سنګ هايي در زمين ګور بود . و در زير سنګ ها نوشته های روی برګ نمودار شد ، مسن اين نوشته ها را ( نګاري) يعنى سانسکريت خوانده است . در ساير کنج های پشته مذکور طاقهای ديګر و مجسمه های منتوع به اندازد ای مختلف کشف شد که يکى آنها از هشت الى ده فت بلندى داشت و در حاليکه ب برګهای طلايي رنګ پوشيده بود. افقي بر زمين خوا باند شده بود . اطاقهای عموماً سفيد ، سرخ و آسماني رنګ شده بود و در

یکی از آنها چراغهای گیلي و آهنی بدستاوردیم و بعض پارچه استخوان و بعض ظروف تیکر سرخ وسفید که در ساخت آنها اهتمامی به کار رفته بود نیز پیدا شد . آخوند هدایت الله وپسران او بعض از برگ های طلایي رابه زرگرهای کابل فروختند مسن می گوید آوازه کشف به گوش سردار اکبر خان پسر دوست محمد رسید مرا احضار کرد و سر های شنگ مجسمه به اندازهء خوشش آمد که گفت : کاش مخلوقی بدین زیبایي پیدا می شد ..

تر دې ځایه د استاد کهزاد خبرې وې . زما په ګرهنه دغه طاق او رواق لـه بودایي تر مخ ځکه ژېړ رنګ يې نه درلود . سپين ،شين او سور و . بله خبره ،چې بودا څرګنده څېره ده دلته يې نوم نه دې راغلی . ټولې د ښځو مجسمې وې يا دېرې وې .

نګاري رسم الخط چې ننګرهاری هم کېدای شي . بودايي معابدو کښې د بودا مجسمې وې دا لـه هغه ډېرو لرغونې آثاروڅخه برېښي .

په همدې توګه دا ،چې چارلس مسن امريکايي و انګليس نه و په دغه څرګندېږي . ډېر امريکايان هم افغانستان ته تللي و . هر څوك په خپل کار پوهېده پرته لـه مونږه قاجاريا د شاهانو په ايران ،رنجيت سنګه په پنجاب کښې امريکايي ، روسيې ، انګليسي ، فرانسوي ، پولنډي هر ډول خلکونه کار واخېست ،چې افغانستان کمزوری کړي .

نن ،چې کال۲۰۰۳ ميلادي دی مونږ دافغانستان تاريخي آثار نه شو ساتلای په خپله مو پردي راوستي دي ،چې بې نومه سپاهيان به په خپلو وينو بېرته روغوي .

آفـــرين د عــــاشــــقانــو پـه هـــمت
چې پـه عشق کښې يـك انداز وي يـك جهت

# د امان الله خان یوه ډېره خواشینوونکې وینا

دغه وینا که څه هم خپره شوی ،خو د تاریخ ژبه ده . څنګه ،چې د عبرت پاڼه ده ،دغه وینا اورو ترجمه یې آسانه ده. یعنې هر څوك پوهېدلای شي او په دې پوهه کېنې ننې حالات مرسته کوي .

دا وینا ښیې ،چې امان الله خان د ملي وجدان له مخې پادشاهي پرېښې ده او غوښتي یې دي،چې افغانستان پرېږدي . پوهاند حبیبي وايي : چې دا زما د سترګو لیدلی حال دی ،چې ۱۳۰۸ کال په پسرلي کېنې امان الله خان له قندهاره لس زره قومي قندهاري لښکر سره دکابل خواته وخوځېده په مقر کېنې دمقر او غزني تر منځ داسې خلك ونیول شول ،چې دانګلیس پولټیکل ایجنټ اسناد ورسره و او غوښتل یې ،چې غلځي دراني سره واچوي .

د فراه شل تنه طلایه یې نیولې او بیا یې وژلي او د ټېلفون ستنو ته یې خېږولي او لیکلي یې دي . دا د غلځو میلمستیا ده درانو ته .

امان الله خان ،چې دا حالت ولید قندهاریان او دوستان یې راټول کړل او داسې وینا یې وکړه .

زما ګرانو هېوادوالو ورونو : تاسو یقین ولرئ ،چې داسې صحنې کتلی نه شم ، او نه غواړم ،چې زما د پادشاه کېدو دپاره داسې زړه ماتوونکي کارونه ووینم . زه بویه ستاسو له ډلې ووزم ،چې په داسې وژنو کېنې زما لاس او موجب نه وي . زما ګران ملت به ژوندی او افغانستان به تل پاتې وي . زه نه غواړم دتل دپاره مختوری او د داسې ناوړه حالاتو مسوول و اوسم او نه غواړم داسې حالات زما په نامه ثبت شي . په داسې حال کېنې ،چې د خپلې پادشاهۍ په لومړۍ ورځ مې وعده کړې وه،چې زه به د خپلواکۍ د ساتلو دپاره ستاسو د یووالي او نېك مرغۍ دپاره خدمت وکړم . تاسې وګورئ : زمونږ د خلکو بدمرغي د تاریخ په دورو کېنې دا وه ،چې شهزاده ګان د شاهي مقام د لاسته راوستو دپاره یو له بله سره په جګړه اخته و ، او ددې مطلب داپیره یې تاسې خلك دښمنۍ ته رابللي ،چې قوم په قوم سره ووژنئ .زه غواړم داسې پادشاهي ونه کړم او نه مې داسې غوښتل ،چې خلك یو له بله جګړې ته وبولم . زما غوښتنه د افغانستان د خلکو دپاره نېك مرغي یووالی او دوستي ده .

اوس زه وينم ،چې کورنۍ او قبيلوي جګړې پېل کېږي . دا دی ،چې افغانستان خپلو دوستانو او مخالفينو ته پرېږدم ،چې زما دپاره په جګړه نه وي . تاسو په خپلو کښې جوړ شئ . زه پادشاهي نه غواړم او د هغه دپاره کورنۍ جګړې ته نه شم کتی . زما يو تربور پاړه چنار ته راغلی او زما يو روحاني ورور دلته ناست دی او د کورنۍ جګړې اور ته لمن وهي ،مګر زه د داسې کارو مېړنی نه يم. زما وينا تاسو ته دا ده ،چې خپل هېواد بهرنيو غليمانو ته مه سپارئ زه ستاسو يو فرد يم که تاسو نېک مرغه و اوسئ زه نېک مرغه يم او خوشحاله يم که تاسې داسې په وينو کښې ولاميږ زه به د تل دپاره خواشينی او غمجن به يم .

پوهاند حبيبي وايي : امان الله خان په داسې حال کښې ،چې اوښکې يې بهېدلې د لاهوري واقف دغه دوه بيته يې ولوستل او د خدای په امان يې ويل:

جنګ تو صلح و صلح تو جنګ است
مــــن بقربان اين چه نيرنګ است؟
مــــی روم تـــاتو نـــشنوی نامـم
اګر از نام من ترا ننــــــګ اسـت

۱۳۸۲ د غبرګولي ۵ ،چې په قندهار کښې يې د طالبانو په نامه مړيو: برۍ غورځولي و . خلکو ته هماغه کرکه پيدا شوه او هغه مهاجر ،چې راتلل د ملګرو ملتو نماينده ته يې وويل په داسې حال کښې مونږ هېواد ته ستانه کېږو .

دا يوه بدمرغي ده ،چې زمونږ لمن نه خوشې کوي . او مونږ دا اهليت لو کفايت نه لرو ،چې خپل پردو ته و نه سپارو . يو ځل بيا په ملي هويت او ملي تابعيت خبرې په کار دي ،چې د کور له بنسټه جوړ نه دي . همدا اوس ددغې موضوع ته پاملرنه په کار ده ،پرته له هغه نه ديموکراسي نه اساسي قانون اقتصادي مرستې هېڅ کار نه ورکوي .

د خځني په څېر سپك ښه يـــــم بـــې قـــدره
خدای مې مه کړه هسې درونډ ،چې په چا بار شم

## د ملتونو حافظه ورك ګول :

ولې افغانستان او عراق يو ځای ووهل شول ؟ ددې سوال ځواب فلسفي اقتصادي . نظامي ،کلتوري اوسياسي علتونه لري ،چې تفصيل به يې دومره آسانه نه وي .

لومړۍ برخه :

په پام کښې مو وي ،چې د آمو ، آباسين تر مېنځ خاوره د افغانستان تاريخي ځمکه ده ، مدنيت همدلته پېل شوې ، انسان همدلته هوښيار شوی ، کرنه همدلته شوې لومړنی سامان همدلته جوړ شوی لکه د اور بلولو سامان ، څرخه ، جاړه ...

همدغه خلك دوهمې سيمې ته تللي دي ،چې د دجلې او فرات تر مېنځ دي دغه نوې ځمکې مدنيت ټينګ شوی د مديتراني له غاړو اروپا ته رسېدلي .

کوم قومونه ،چې هلته ياد شوي لکه "اور ،"اوروك "، متاني "، "کاسي "... وروسته له ډېرو کلو د روم او يونان ډب ډباو کښې د تاين بي په وينا ، بېرته افغانستان ته راغلي . که مونږ لرغونې زماني ته وګورو ۳۵۰۰ کاله دمخه تر ميلاده دوی هلته و .سکندر په خپلو يادداشتونوکښې ويلي ،چې ما دغه خلك ،چې بين النهرين کښې ليدلي و ، هماغه خلك مې د سيند په حوزه کښې وليدل ،هېرودت هم داسې يوې موضوع ته اشاره کوي ،نو مونږ د عراق تاريخي خزانې خپلې بولو داسې نه ،چې دعوې کوو . دا دبشريت مال او ميراث دی .

له بده مرغه ،چې موزيم داسې خلکو وتښتاوه ،چې په لندن او واشنګتن کښې د قدرت خاوندان وو دا د موزيم د مشرانو خبره ده . د آرکيالوجي د موسسې اصلاً همدغه مطلب د آرکيالوجي د مجلې د جولای ،اګست او سپتمبر په ګڼې کښې ليکلي دي .

همدا ډول په زرهاوو کتابونه وسوځول شول په داسې ،چې يو مهال د الکوزيې کتابونه سوځول شوي و . تاسې وګورئ په افغانستان کښې په ۱۹۹۲ م بيا په ۲۰۰۱-۲۰۰۳ همدغه حالات له سره بيا پېښ شول . ځکه د کتابو او تاريخي اثارو لـه مېنځه وړل د يوه ملت حافظه لـه مېنځـه وړل دي . د يـوه ملت حافظـه د يـوه فـرد پـه شـانې ده کـه يـو فـرد حافظه له لاسه ورکړي بيا هغه هېڅوك نه دي .

## د شاه شجاع ناسمې چارې : ۱۸۰۴-۱۸۰۹م

کله ،چې لوړ درشل شاه زمان ړوندکړای شو ، شاه شجاع دده ورور پادشاه شو ، په کابل کښې د شاه شجاع تود هرکلی وشو د شاه شجاع لومړی دوره پادشاهي تر دوهمې دورې ،چې د انګليسانو سره راغی ډېر توپير درلود .

لومړی دا ،چې دېرش کال د مهال او وخت توپير و ،چې په دېرشو کلو کښې يې ډېر فرق کړی او انګليسانو د هند لويه برخه نيولې وه د دوی تخريبي جاسوسي عملياتو افغانان په خپلو کښې جنګولي و . ايران او روسيه په لوبه کښې ګډ شوي و .

شاه شجاع په خپله لومړۍ دوره پادشاهۍ کښې ځيني کارونه کړي و ،چې د ده دپاره يې دوهمه دوره ويجاړه کړې وه . شاه شجاع ،چې د خپل ورور دښمنان ونيول پرته له ملا عاشق ،چې شاه زمان يې ړبلمه و او دښمنانو ته يې وسپاره اعدام کړ نور يې عفوه کړل لکه ،چې اوس همداسې خلك نه يوازې وښل شول بېرته قدرت ته راغلل او همدا سبب و ،چې کرزی او امريکا په ملت کښې بې اعتباره شول . امنيت ټينګ نه شو . شاه شجاع . شاه محمود . وزير فتح خان دده ورونه او زامن ټول عفوه کړل بېرته يې په خپلو کارونو وټاکل .

په همدې مهال کښې يو سړی هند ته لاړ او هلته يوه مهم سړي له ده وپوښتل ،چې شاه شجاع په څه حال کښې دی ؟ ده وويل د دوست محمد خور يې کړې او خپلو ښېخانو سره خوشحال دی . هماغه د سردار پاينده خان . کورنۍ ده . پوښتونکي وويل " انا لله و انا اليه راجعون"

سړي وويل : شاه شجاع ژوندی دی هغه وويل مړ يې بوله . خدای دې وبښي .

شاه شجاع اديب اوشاعر و جګړه مار و مګر هر څوك ،چې خاينان عفوه کړي ، هماغه د دياکو خبره ده . څوك ،چې عادل او ظالم يو ځای کړي هغه ملك ورانېږي . د مجددي په دوره کښې کمونستان عفو شول . دريم وار بيا هم دا کار وشو . حال دا ،چې دياکو شپږ زره کال دمخه ويلي ،ظالم او عادل مه يو ځای کوئ ،وچ او لانده سره سوځي .

کوم ملت ،چې له تاريخي حافظې کار وانه خلي بربادېږي . دا و د شاه شجاع د لومړي دورې پادشاهۍ غلطي ،چې د شاه زمان د دورې مخالفينو په زرهاوو خلك وژلي اولوی افغانستان يې نړولی و . لومړی ګذار و ، د خراسان ولايت او پنجاب لاړل . د شاه شجاع دغې دورې کښې دبخارا پادشاه خپل لور ده ته ورکړه او د انګليس هيئت د الفنستون

په مشرۍ ده سره وکتل . داسې ،چې په درې اونیو کښې یې هغه اداب زده کړل ،چې څنګه د شاه شجاع په حضور کښې ومنل شي .
په لومړۍ دوره کښې که څه هم ویجاړ مسایل ډېر و خو دې مهم پادشاه و
د شاه شجاع دوه همه غلطي په دوه همه دوره کښې ۱۸۳۹-۱۸۴۲ م پورې دا و ،چې شاه شجاع په خپل کتاب کښې لیکلي : همایون د بابر زوی کله ،چې د شېرشاه سوري او عادل شاه سوري له خوا ماته وخوړه ،ایران ته وتښتېدل اوله شاه عباس صفوي نه یې مرسته واخېسته بېرته هند ته راغی،نو ما هم له انګلیسانو مرسته واخسته .
د شاه شجاع دې تېکي ته پام نه و ،چې ایران یو اسلامي هېواد و . انګلیسان غېر اسلامي و ، پانیاب او نتیجه یې څرګنده شوه .
پرون نن سبا همدا وي . د پرنګیانو ملکرتیا په افغانستان کښې نه ده چلېدلې . نه چلېږي او نه به چلېږي ف عتبرو یا اولی الابصار
همدغه دوه غلطي یو دا ،چې مجرمین ببښل او بېرته وېسا ورباندې کول .
دوه همه د غېر مسلمان څخه مرسته اخېستل .
که افغانان دغې درې مسألې خپلې حافظې ته وسپاري راتلونکي افغانانو ته به ګټه ولري پر مونږ دغه ناخوالې تېرې دي . که پای ومومي .

هلکه لوی شوې په اوبو کښې
اوبه نه پېژنـــــــــې کـــبه

شاه شجاع تـه دکابل خلکو وویل : ،چې هر ماښام سینګار شوې مېرمنې پر آسونو د انګلیسانو کمپونو ته ځي . شاه شجاع همدا خبره مکناټن ته وکړه ،چې دا کار مشروع نه دی او د خلکو تر مېنځ اسلامي او افغاني احساسات پاروي . مکناټن ورتـه وویـل : دا کـار د عسکرو روغتیـا تـه ګټـور دی . شاه شجاع همدغـه موضوع خپـل کتـاب کښـې لیکلې ده او له خبرې د شاه شجاع کرکه وشوه. د میرزا عطامحمد لـه قوله شجاع ملي مشران وروغوښتل او د غزا خبره یې وکړه ، هغوی وویل: مونږ پیسې نه لرو شاه شجاع ومنله ،چې لـه خپله جبه به پیسې ورکړي دغه موضوع د مرزا عطامحمد نوای معارك په کتاب کښې راغلی .

د شاه شجاع واقعیاتو کتاب نوای معارك دواړه استاد احمد علي کهزاد کتلي او سریزه یې ورباندې لیکلې . دریم کتاب په خپله استاد د بهلو اسنادو لـه مخې لیکلی ،چې هغه د استاد کهزاد له خوا ترتیب شوی .چې " در زوایای تاریخ" نومېږي .
د شاه شجاع دیوان څو ځله په هند کښې چاپ شوی دی ،خو پـه افغانستان کښې وروسته نه لیدل کېږي ، شاه شجاع قدرت پسې لېوني و ،خو شخصي اخلاق یې ډېر ښه و .
وروسته لـه هغه ،چې امریکې او د هغـه ملګرو د ۲۰۰۱ د اکتوبر پر اووه مـه د طالبانو حکومت ړنګ کړ د ملي تاریخ لـه مخې دا په دې نه توجیه کېږي . دا برید پر افغانستان باندې و ، دلته داسې ښکاري ،چې د نولسمې پېړۍ جنګونه ،چې انګرېزانو پېل کړي و او لویه لوبه روانه وه ،بیا راغلې ده . نو یو ځل بیا د نولسمې پېړۍ پېښو ته پاملرنه وشوه ،تېر هېر او تاریخ ژوړ شوی نه و .
مګر د تاریخ لـه عمومي مسیر نه داسې بریښي ،چې بیا هم استعمار دی ، داقتصاد مساله ده .
کله ،چې آکلنډ د ۱۸۳۸ د اکتوبر په میاشت کښې اعلان وکړ ،چې پر افغانستان حمله کوي د بریتانیا خلك هېښ پېښ شول او په مطبوعاتو کښې یې خپله کرکه وښودله . د انګلیستان حکومت داسې یوې حملې ته چمتو نه و د انګلیس د خلکو ذهنیت داسې پرمختګ ته چمتو شوی نه و . ایران غوښتل هرات ونیسي او رنجیت سنګه د افغانانو له حملې وېره درلوده . څنګه ،چې اوس داسې لیدل کېږي روسانو اوبه خړولې ایران په هرات کښې فعاله دی . هند او پاکستان که څه هم په خپلو کښې جوړ نه دي باري دواړه وېرېږي . هند د افغانستان او پاکستان له یو لاس کېدو هم وېره لري .
پاکستان له دې وېره لري ،چې یو بیا افغانستان د روسیې ،ایران او هند له پلوه ولمسول شي ،چې د پاکستان افکار پرېشانه کړي . امریکه د ورځې په نرخ کار کوي .

## خط دیورند :

انګلیستان درسه مرحله به اشغال خاکهای افغانستان اقدام کرد .
مرحله اول با شاه شجاع نام معاهده لاهور انګلیس ، شاه شجاع ،رنجیت سنګ۲۸ جون ۱۸۳۸ کـه از ۱۸۱۲-۱۸۴۲ دوام کـرد ، از پنجاب تـا پشاور در دست رنجیت سنګهـ افتاد . اما سند و بلوچستان قسماً باقي ماند بود . خراسان ۱۸۰۳ با ایران تعلق ګرفت.

دوم معاهده گندمک ۱۸۷۸ م .

سوم دیورند ۱۸۸۵ م درین معاهده مناطق سوات ،چترال ، باجور ، ارنوی ، وزیري د اور شاگئ و چمن از افغانستان مجرا گردید . اکنون ۱۱۸ سال از آن می گذرد . همچنان دو صد سال ولایت شمال غربي خراسان فدای هوس شاه محمود و وزیر فتح محمد گردید . در معاهده کندمک یک نکته بهتر بود که مناط فوسنج ، کوژک ، کورم و لندی کوتل به طور مؤقت به خاک هند انگلیسي ضمیمه گردید و مالیات آن بعد از وضع معارف به افغانستان پرداخته می شد .

اما امیر یعقوب خان دوام نکرد حوادث رخ داد که امیر عبدالرحمن خان بدون ملاحظه منافع ملي باوجود شکست انگلیس درمیوند کوشید با انگلیسها داخل مفاهمه شود بهر صورت به دشمنی فامیلي خود دوام داد امیر یعقوب خان و سردار ایوب خان هر دو در هند نزد انگلیسها نظر بند بودند .

هر دو سبب تهدید امیر عبدالرحمن خان بودند ، فقدان احساس ملي بود که انگلیسها از آن استفاده کردند ، وقدم فراتر در خاک افغانستان گذاشتند .

نزد مردم پسران امیر سید علي خان بهتر از پسر کاکا محمد افضل بودند . اما انگلیس در حالیکه می توانستند که امیر عبدالرحمن خان را ترجیح می دهند .

پس از معاهده دیورند ۱۸۸۵ تا ۱۹۴۷ برآمدن انگلیسها مردم این مناطق با انگلیسها دست وگر بیان بودند .

اما بمیان آمدن پاکستان مساله کفر از بین رفت اسلام آمد ده سال قبل نقشه جدید از طرف امریکا طرح چاپ و نشر شد ، در همان موقع نویسنده گان ملي مردم را در این نقشه آگاه ساختند اما منافع ملي در نظر نبوده به نیم قوم تاجک ، ازبک ،پشتون مساله مطرح بود . اتحاد شمال و شورای انظار در پیش قراولي امریکا و متحد ینش قرار گرفتند ، هزاره و اسماعیل خان با ایران .

اکنون حوادث در طول خط دیورند رخ داده است که همان نقشه خود را نشان می دهد و قرن ۲۱ در جریان است نقشه نیز برای همین قرن بود .

معاهده دیورند به تاریخ ۱۲ نوامبر ۱۸۹۳ به امضاء رسید عبدالرحمن خان بمردم چنان وا نمود که مردم وزیری دیگر مناطق گپ شنو نبودند ترک شان نمود .

او گفت افغانستان تا حال دوست نداشت حال با انگلیسها دوستي می باشند ،اوضاع همچنان است ، یکعده مردم سرحد به بهانه های اینکه وحدت ملي خوابیده عدالت

اجراء نمی شود برق و سرک ، مکتب ذخیره تیل ندارند و این مسایل را باجانب برادران سرحد شریک می نمایند .

د شاه شجاع غلطي مو ويلې دي . دا ځل به د هغه يوه بله غلطي هم يادة کړو ،چې ده په خپله ليکلې دي . شاه شجاع غوښتل د ايران د پادشاهانو په څېر په خپل سر و اوسي( مطلق العنان) د قومي مشرانو او د هغوی غوښتنې و نه مني .

## د شاه شجاع مهمې غلطی ،چې بيا بيا تکرار شوي

۱- شاه شجاع ويل : " ما د همايون د بابر زوی په څېر ،چې له شېر شاه سوري يې ماته خوړلې وه د اسماعيل صفوي نه يې مرسته واخېسته خپله پادشاهي يې تر لاسه کړه .

۲- افغانستان په سيمه کښې دوستان نه درلودل ،نو انګليسان مو دوستان شول د هغو په مرسته به له ګاونډيانو ځان وساتو .

۳- قومي مشران او اختلافات ډېر دي زه نه غواړم ،چې د ايران د پادشاهانو په څېر بشپړ واك ولرم .

۴- شاه شجاع په لومړۍ دوره ۱۸۰۴-۱۸۰۹م ملي پخلاينې په څېر ټول هغه خلك يې وبښل ،چې خاينان و او افغانستان يې ټوټې ټوټې کړی و هغوی ته يې پخواني منصبونه ورکړل .

د شاه شجاع ديوان په هند کښې چاپ شوی و ،چې تصوفي اشعار يې درلودل او دغه ديوان په ژېړ کاغذ او تېرې چاپ ،چې هند او پاکستان اوس شته چاپ شوی او خلکو لوستې ديوان شاه شجاع په فارسي . دده نثر هم شته ،چې د واقعات شاه شجاع نومېږي.

په تعقيب هفته گذشت بار ديگر از خط ديورند ياد مى كنيم :

تاريخ سيزده نوامبر۱۸۹۳ خطى از واخان تا سرحد ايران در شرق و جنوب بنام رئيس هيئت انگليس ديورند امضاء شد .

امضاء اين قرار داد سبب حيرت همه گرديد ، زيرا تنها اين نبود . سرحدات افغانستان در شمال نيز تعيين گرديد ، سبب اين معامله سرحدي شمال و جنوب در اثر مذاکره روسها و انگليس ها صورت گرفت مردم ازين موافقه دو دشمن خبر نبودند . چنانچه روس امريکا اکنون در افغانستان بموافقه دو دشمن خبر نبودند . چنانچه روس ، امريکا اکنون در افغانستان بموافقه هم کار می کنند در حاليکه زخمهاى جنگ افغان و روس التيام نيافته است

مردم ما بار دوم تعجب کردند که دو دشمن با در افغانستان بموافقه رسیده اند در همه امور با امریکا همکاري مي کند . این تحول هنوز مردم ما را بیدار نه ساخته است منافع دول بزرگ بموافقه ، همکاري و قرباني یکعده افغانها عملي مي شود ، که این خود فقدان حافظ تاریخي را نشان مي دهد اگر بیماري فقدان حافظه تاریخي معالجه نه شود این مصیبت هاي به نسل هاي بعدي به صورت میراث باقي مي ماند .

چنانچه از زمان شاه شجاع بمد رسید ۱۸۳۸-۲۰۰۳ .

افغانهاي بي خبر و خودنما این امنت نامیمون را به نسل هاي آینده مي رسانند .

کله ،چې د ډیورنډ هیئت له یوې عسکري قوې سره راغی دوی د قرار داد له مخې د ډیورنډ خط یوه نقشه هم راوړې وه ،چې یو نقل یې روسانو ته هم سپارل شوی‌وه . کله ،چې امیر عبدالرحمن خان تړوند لاسلیك کړ انګلیسانو د ده تنخوا د دولس لکو د کال شپاړس لکو ته ورسوله .

عجیبه خبره دا وه ،چې د افغانستان په مشرانو کښې د داسې یوې نقشې په ترتیب نه پوهېدل او نه دغه ځایونه دوی ته سم معلوم و ، ځکه د عرض البلد او طول البلد درجې دقیقې او ثانیې ...

کله ،چې افغاني هیئتونه سیمو ته لاړل خلکو ورسره مرسته کوله اوس هم دغه خلك ،چې په نوکرۍ بلد دي د نقشې په ترتیب نه دي بلد او خدای خبر ،چې نقشه هم ورسره وي که نه وي؟

درېیم ټکی دا دی ،چې د استقلال په معاهده کښې ویل شوي و . انګلیسان په سرحد کښې عسکري عملیات کوي مخکې به د افغانستان دولت ته خبر ورکوي . دا ځل د افغانستان د دولت خواهش و ،چې القاعده او طالبان د پاکستان له خاورې راځي او دلته عملیات کوي. پاکستان دې د هغو مخه ونیسي، نو پاکستان ته پلمه په لاس ورغله د امریکایانو په مرسته یې دی کار ته ملا وتړله اوس څنګه د افغانستان انتقالي دولت عکس العمل ښودلې شي ددغه دولت ماهیت داسې عملیاتو سره ،چې په سرحد کښې دي سمون لري.

## ورېځې سره تولیږي

د انګلیسانو د راتګ دوه هم کال و ،چې د افغانستان په اسمان کښې ورېځې سره تولېدلې . جنرال نات ،چې قندهار کښې و د کابل او قندهار د هند له لارې د ساتلو

دپاره هڅه کوله په هر حال دغه لاره ډېره اوږده وه . قبیلو پښتنو د لاړې دساتلو دپاره ډېرې پیسې غوښتې څو کابل ته د ضرورت سامان ورسېږي .
په قدرت کښې غلځو لاره بنده کړې وه ،کابل ته نژدې تنګې درې وې ددې سیمو غلځي د محمد شاه خان بابکر خېل تر مشرۍ لاندې لارې بندولې ، جنوب کښې امین الله خان لوګري او دده زوی روح الله خان کابل د محاصرې په حال کښې ساتلی و . وزیر اکبر خان په شمال کښې خلك د شاه شجاع په خلاف لمسول .
انګلیسانو ځان لکه پولیس داسې ښوده ،چې یوازې د کابل ښار کښې و . په دې مهال کښې امیر دوست محمد خان مکناټن ته تسلیم کړی و . په شمال کښې یې غازیان پرېښودلي و هغوی نه پوهېدل ،چې دوست محمد څنګه له مخې ووت؟
د افغانستان خلکو شاه شجاع د انګلیس لاس پوڅی باله ، نایب امین الله خان شاه شجاع ته وویل: ،چې ته د انګلیسِ په خلاف حرکت وکړه ،چې خلك دې ملګري شي دوست محمد خان هم هند کښې دی .
شاه شجاع له دواړو خواوو ډاډه نه و ، نه یې انګلیس باندې وېسا کوله او نه یې پر خلکو، مکناټن د انګلیس استازی ،چې واك یې په لاس کښې و . په دې مهال کښې یې پر قبایلي مشرانو پیسې ودرولې په دې توګه د ختیځ او لویدیځ افغانستان لورې محفوظې نه وې وخت په وخت حملې کېدلې . په ډېره بیا ،چې شاه شجاع درانیانو نه ساته د دوست محمد خان او زوی ورسره دښمن . نورو پښتنو د انګلیسانو لاس پوڅی باله د افغانستان نورو قومونو د کفر او اسلام خبره وه . نو ورېځې سره ټولېدلې او د باران وخت نژدې کېده .
مکناټن د مصرف د کمولو په فکر کښې و . آکلنډ هم د اقتصاد د کمزورتیا خبرې کولې مکناټن دا هم غوښتل ،چې فیدرالي سیستم په قومونو کښې عملي کړي څو قوت تیت او تت کړي .
لندن د افغانستان د نیولو د مصرف له خوا پرېشانه و . څکه یو اعشاریه پنځه ویشت میلیونه د کال مصرف کیده . نو اکلنډ ته یې ویل ،چې خپلې لښکرې له افغانستان څخه وباسي . اکلنډ خپله شورا وغوښتله (د ۱۸۴۱ مارچ ) او په دې باب یې خبرې ورسره وکړې په دې شورا کښې عسکري مشران نه و ،چې دغې مسالې مکناټن نور هم پرېشانه کړ ، مکناټن بېرته د لارو د ساتلو دپاره پیسې حواله کړې ،خو قبایلي مشرانو وویل :

مونږ د لاري د ساتلو ضمانت نه شو کولای ، مکناټن وويل : هغه انګليسي مالونه ،چې دوی يې په لارو کښې لوټ کوي تر معاشه يې ارزښت ډېر دی . انګليسانو ته ګرانه شوله ،ځکه هم پيسې تلې او هم مالونه نه رسېدل . انګليسانو غوښتل نوي افغان نوکران ومومي او هغوی د پخوانو پر ځای وټاکي د شاه شجاع پر ځای دوست محمد خان راولي . اکبرخان د دوست محمد خان پلار د بېرته راوستو دپاره ډېره هڅه وکړه مګر د انګليسانو خبرې نېغ په نېغه دوست محمد خان سره شوې وې ،چې وزېر اکبر په بشپړو موادو خبر نه و يوازې امير دوست محمد خپل دستمال او د نصوارو قطۍ د نښې په توګه ورته لېږلې وه ،چې ته به جګړه نه کوې .

مکناټن په کابل کښې بدامنې ليدله ځينې انګليسانو او د دوی افغان پلويانو له ملي مشرانو سره اړيکې نيولې ،چې دملي پاڅون په مهال کښې دوی وساتي يا يې هند ته ورسوي .

انګليسانو فکر کاوه د غلزو پاڅون به له مېنځه يوسي خو غلځيان دومره منظم نه و ،چې څوك ورکولای شي د هغوی په نماينده ګۍ خبرې وکړې ، هر سړي خپل واك درلود او يو ځای به يې پر انګليسانو حمله وکړه .

دوی ويل غزا د خدای حکم دی د مشرانو خبرو ته ضرورت نشته په دې توګه له انګليسانو لاره ورکه شوه ورځ په ورځ حالات ويجاړېده خو په درېيم کال د يوه ملي پاڅون په بڼه واوښته .

د انګليسانو جاسوسي موسسې کلي کلي ، جومات په جومات خلك پلټل ،خو دې خبرې ګټه ونه رسوله . انګليسان له ۱۸۴۲ څخه تر ۱۸۹۳ پورې په دې بريالي شوه ،چې د ډيورنډ تړون د روسانو په مرسته پر امير عبدالرحمن ومنې ځو ،چې په ۱۹۴۷ م کښې انګليسان له هنده ووتل .

له بنې مرغې په ۱۹ پېړۍ افغانانو خپله وسله په خپله جوړوله ، کالي يې خپل و داسې بې وسه او بې هنره نه و لکه ،چې اوس دي .

د افغانستان وسله په افغانستان کښې جوړېدله افغان ټوپك جزاييل نومېدل ،چې تر انګليسي ټوپکو ،چې مسکت نومېدل ښه رسا لېږې وېشونکي ټوپك و . انګليسانو او د هغو ملګري په دې بريالي شول ،چې د افغانستان ټول صنايع او مهارتونه له مېنځه يوسي .

د افغان انګلیس لومړی جګړه له دې املـه لـه دوه همې . درېیمې او څلورمـه اوس تـوپیر لري ،چې په لومړی جګړه کښې وسله مو خپلـه وه ، پـه دوهمې جګړې کښې ،چې اووه دېرش کاله وروسته وه ۱۸۷۹م د انګلیسانو ښه شوې وه . د افغانانو هماغـه پخوانـی پـه درېیمې جګړې کښې انګلیسانو هوائي قوه درلوده ،چې افغانانو ته نوی وه .

کله ،چې د افغان او انګلیس لومړی جګړه د هغو اسنادو له مخې ،چې پـه لندن او ډهلي کښې موجود و ، پـه کـال ۱۹۸۵م ،چې د افغـان روس جګړه وه د غـه اسناد د جان ویلر امریکایې لخوا وکتل شول ، دا لومړی ځل و ،چې مونږ وکولای شول ،چې ددغـو اسنادو له مخې وپوهېږو ،چې دانګلیسانو ماته په افغانستان کښې دافغانستان د وسلې برتری وه او دغې خبرې زمونږ ماغزه وښورول ،چې دا هم امکان لري ؟ هو همدلسې وه د افغـان استادانو په مبارکو لاسو دا وسله جوړه شوې وه .

هغوی ښشپړ نور خلك و ،چې مونږ سره نه شي پرتله کېدای مونږ د هغوی اولاد بلل کېږو ، خو دېرې نالایقه اولاد ، دا بویه په مثبتو علمي دلایلو ومنو او ځانته متوجه شو ، د هغـه دلیل به په لنډ ډول ووایو:

۱- وسله او ټول د اوسپنې اړتیاوې همدلته یعنې په افغانستان کښې پوره کېدلې .

۲- کالي ، فرش او ټول د نساجي اړتیاوې مو په خپله جوړول .

۳- د څرمنې جوړول ښې ، موزې ، څپلی ، مسي سراچې د خېمې ، زین او سواره لښکر اړتیا .

۴- مسي لوښي ،سکې او نورې ټولې اړتیاوې .

۵- صابون ، رنګ ۶- باروت د توپ او ټوپکو دپاره جوړېدل .

۶- ریخته ګري ، وزنونه ، دیګي ،آونګ ...

۷- دارو درمل ، صحي شربتونه ، ملهم ، بنل ...

۸- ډول ډول تېل ، شمع ، او نور لکه موم .....

۹- د لرګیو صنایع .

سل په سلو کښې ټول صنایع کورني و . کله ،چې یوویشتمې پېړی تـه ورسېدو سل پـه سلو کښې کورني صنایع له منځه لاړل له هنر او مهار ت یو مخ خلاص شولو .

کله ،چې داخلي تولید پـه بهرنـي بدل شول ملي یـووالی هېواد پـالنې لاړل ، جېبونـه تـش شول لاسونه اوږده مخونه ژېړ تقلید ګدایي پېل شوه د ځان واك مو د نورو شو .

**جزا بیل :**

دا نوم بېژني افغان ساخت ټوپك دی ، دا دی ولولی ،چې لارد آکلنډ د انګلیس ګورنر جنرال د هند کښې وروسته له ماتې څه وایي :

کله ،چې د ۱۸۴۳ د جنوري په دېرشمه له جلال آباد نه آکلنډ ته خبر ورسېد ده ته د منلو وړ نه ود ده داسې وویل: پنځه زره ښه روزل شوي انګلیسي عسکر او د هغوی لاس لاندې عسکر ( د هندوستان څخه ټول شوې ) له توپخانې سره وسله وال جنګیالو سره مقابله وکړي . په داسې حال کښې ،چې د انګلیس منظم عسکري نظام و . په نورو هېوادو کښې دوی لس برابر د افغانانو د جنګیالو مات او نیست کړي دي .

د انګلیسانو د لویي امپراتوری عسکر فوق العاده عسکر دی په نړۍ کښې شرقي هېواد د هغو مقابله نه شي کولای . د دوی خالق داسې یو مثال ورکړ ،چې ستره بد مرغی ده ، دا د دوی د غلط سنجش نتیجه ده ،چې دوی له حده زیات په ځان ډاډه و . په افغانستان کښې د غونو جنګیالي له هغه ټوپکو سره جنګېدل ،چې دوی په خپل لاس جوړ کړي دغه ټوپك اوږدي نالی درلودې او رسالګېدلي او هغه جزاییل افغان ټوپك دي . د انګلیسانو توپخانه پیاوړې وه مګر په توپخانې په درو کښې بېکاره وی . افغانانانو جګړه وګټله .

د لارد آکلنډ دغه خبرې له خپبره ها خوا بد مرغي د کتاب ۲۵۸ مخ کښې راغلي

# د افغانستان يوه مهمه دوره

له کال ۳۱ نيولي ۲۲۰ ميلادي پورې په افغانستان کښې هغه روښانه دوره و ،چې افغانستان د نړۍ په څلورو امپراتوريو کښې يوه وه دغه امپراتورۍ روم ، پارت ، کوچيان او چين وي افغانستان په دغه دوره کښې مرکزي حيثيت درلود . همدغه د کوچيانيانو زيرمې دي ،چې اوس يعنې ۱۳۸۰ چې مونږ تاسې څه ووکوو دغه زيرمې ايستل کېږي . او بهرنيو هيوادو ته ځي سيد مخدوم رهين ،چې د موقتي حکومت د اطلاعاتو او کلتور وزير دی په يوه سيمينار کښې شکايت وکړ چې تاريخ او ورتبښتول په چټکۍ سره دوام لري او درې ځايونه يې په ګوته کړل . په همدغه دوره کښې د هند درېيمه برخه له باکتر سره وتړل شوه . په دې توګه هغه ورا ويجاړ حالت چې يوه پېړۍ يې دوام درلود پای ته ورساوه .

کوشانيان د موريا د امپراتورۍ مرکزونه ونيول ،چې افغانستان کښې يې لاس وهنه کوله .

د افغانستان رسمي ژبه سکايي وه او رسم الخط يوناني يا لاتين . افغانستان په دغه دوره کښې د هند ،چين ، پارس مداخلې غوڅې کړلې .

په شا او خوا هېوادو کښې د کوشانيانو دومره اغېزه وه ،چې نورو هېوادو ځانونه خپلواک مګر د کوچيانو دوستان بلل .

افغانستان د صنعت ، تجارت او هنر مرکز و ،چې پخپل مهال کښې يې په نړۍ کښې ساری نه درلود د روم او يونان ، هند او چمن مهارتونه دلته په ښه ترګه وده کوله ،چې بهرته يې همغو هيوادو کښې خريداران درلودل د مثال په توګه هغه چې دلته ضرب شوي دي که څه هم دغه هنر ديونان و مګر د ښکلا او حينيت له نظره د کوشيانيانو تر هغه ښه و .

د کوچيانيانو دوره يوله هغو مهمو دورو څخه ده ،چې دغه دوره کښې د افغانستان ملي خپلواکي او ملي يووالی تامينيږي . او همدغه دوره ده ،چې تل د افغان لويو مشرانو سر مشق ده او دغه سرمشق په افغانستان کښې د احمدشاه بابا تر دورې پورې شپږ اوه ځله عملي شوې ده ،چې لومړی يفتليانو ، په اسلامي دوره صفاريانو غزنويانو ، غوريانو ، په هند کښې غلځيانو ، په غرب کښې هوتکي او ابداليانو .

یوه پېړۍ مخکې ترمیلاده په افغانستان کښې له هرې خوا بریدونه شوی و ،چې ملي یووالی او ملي خپلواکي یې له منځه وړې وه.
د هند له خوا موریا کورنی ، د یونانیانو جنرالانو حکومتونه جوړ کړي و د چین له پلوه کوشانیانو د غو ګډوډیو ته دپای ټکی کېښود د اورال له بحیرې نیولې تر بنارس پورې یعني د هند درېیمه برخه یې ونیوله له چین او پارت سره یې حدود وټاکل د کوشانیانو دولت په سیاسي او اقتصادي اړخ د هغه مهال د نړۍ یو ډېر پیاوړی او غښتلی دولت دغه مهال ساکو د کوسانیانو مرسته کوله.
د همدغه دولت ملي او سیاسي کړنلارې جوړوي . د افغانستان جغرافیایي موقعیت تل یوه مرکزی پیاوړي دولت ته ضرورت لري دجیو پولیتکس له نظره همدغه حالت دوام لري ،چې که مرکزي دولت کمروزی شي ګاونډیان خو ځېږي او داد دوه زرو کالو قصه ده او همدغه حالت به نوسان کښې دی.
تاین بي لیکي ،چې د کوشان او پارت ترمینځ یو سیاسي لوی توارث موجود و ددې خبرې معنی داده ،چې دوی پخوایو ځای او یوشانې و.
په کوم پل ،چې کوشانیان تللی یفتلیانو هغه تعقیب کړ له ټولو مهمه داده،چې صفاریانو غزنویانو غوریانو تر احمدشاه بابا پورې هماغه حدود تامین شوی دی.
مګر کله ،چې انګلیسان او نور اروپایان آسیاته ورسیدل دغه وضع بدله شوه .
د افغانستان خلك په تېره بیا خپله هغه خلك ،چې کوچیانیان دي دې ټکې ته دې پام وکړي ،چې څنګه د انګلیسانو نقشو سره معامله کولای شي؟
او د افغانستان وګړي ته دې دغه سیاسي موقعیت تشریح شي په ناپوهی او بې اړه اوسیدل ربړونه مو ډېروي.
مونږ یا دغه لاره ونیسو ،چې تاریخ یې رابښیي یا په څرګنده خپل هېواد نورو ته پرېږدو لکه ،چې اوس په افغانستان کښې د هر پردي برخه شته اودافغان برخه نشته .

ACKU

# بابای ملت افغان

لقب بابای ملت افغان ، شایته ای هرکس نیست شرایطي دارد . همچنان هرکس افغان نیست آن نیز چنین است ، تاریخ بین این دوهست یا نیست حد وفاصله گذاشته است در سطور مابعد به شرح آن خواهیم پرداخت.

تاریخ افغانستان از زمانه های پیش غلط تعبیر شده است در فصل تاریخهای قرن چهارم ونگارش اعراب هر ،چي گفته اند بدون تحلیل تعقیب شده است که مثالهای آنرا می آورم . کلیفورد بارسورث درکتاب تاریخ سیستان مي نویسند آنانیکه تر ک و خلیج را ترک گفته اند درست نیست عنصر ترک در آن زمان درین سر زمین موجود بود ، ترك و خلیج که گفته نشده است آریایي اند ، پوهاند حبیبي نیز در حواشي تاریخ گردیزی گفته است تره کي و غلزی تسرك و خلج شده است . استاد احمد علي کهزاد نیز به همین عقیده مي باشد.

آثار کهزاد در تاریخ افغانستان منزلت خاص دارد که خواهان توجه خاص مي باشد او یك مورخ افغان بود بار دیگر نداشت از نیرو هر قدر زمان مي گذرد شخصیت و افکار تاریخ او مورد تایید قرار مي گیرد.

استاد احمد علي کهزاد خصوصیت بابای ملت افغان را نیز تعین کرده است که به تفصیل آن مي پردازیم و موضوع اصلي این مقال همین است.

استاد اسدی طوسی در گرشاسبنامه در مورد سلطان محمود زابلستاني غزنوي ، که او مرد بزرگ تاریخ ما است چنین مي گوید:

امیر " دول" میر محمد غازی امین مال شاه زابلستان

امیر دول خود مي رساند که حدود هفت کشور حاضر نزد او بود ، چنین است بابای ملت آن بابای ملت که زیر سایه غیر دین باشد بابا شده نمي تواند.

اسدی طوسي شاعرغزنویان در وصف بابای ملت محمود چنین مي نویسد .

به نیزه کر گدن رابکند شاخ به ژوبین بشکند سیمرغ را پر

درین بیت مبالغه است امانه بعید ، محمود تنها مردرزم نبود دانشمند و تاریخ دان نیز بود اگر بوصف سلطان محمود بروم یك مقاله بسنده نیست ، باشد به اوقات دیگر اما یك نکته حالا مي گویم.

کودك چولب از شير ما دربشست     در گهواره محمود گويد نخست
درين شعر فردوسي مبالغه نيست . اين مطلوب راوقتي توضيح کردم دو باره برمي گردم به موضوع باباى ملت افغان.
هفتادوسه سال قبل در کابل تولد شدم غزنى و کابل يکصدو سي وچهار کيلومتر فاصله دارد در کابل هر طفل نوزاد را والدين به غزني مي برند ، غزني را نزديکترين حج مي گفتند پس در کابل کابليان نخستين کس را که مي شناختند ، همان سلطان محمود غازي را مي شناختند و جايي را که مي شناختند غزني بود زيارت حکيم صاحب سنايي و بهلول ...

## رفع اشتباه بزرگ :

افغانهاى ملي انديش بايد بدانند که د شمنان ماسلطان محمود و پدرش امير عادل سبکتگين را ترك نژاد و غلام ساماني مي دانند ، که اين غلط است پدر محمود سبکتگين نيز تاريخ نوشته است و اين موضوع را ردمي کند پس کي مي تواند آنرا ترك نژاد و غلام بگويد ؟ ترك نژاد يا هر نژادي که باشد در صوريتکه رايت افغان رابلند نگهدار د او افغان است.
اگر پرچم روس بيفراشد روس است نه افغان همچين باشد انگليس ، امريکا ......
اگر احمد علي کهزاد افتخارات افغان را روشن کند و همتاى درين باب نداشته باشد کدام افغان بي مايه باشد که اورا افتخار خود نداند.
عصاره فلسفه افغان را شناختن موضوع نواست که برآن کهتر کار شده است.
باباى ملت افغان : اکنون به اين موضوع مي پر دازيم : کمزاد دانشمند مي نويسد : " غرغشت قهرمان ملي يکى از اجداد سه گانه يعني گرشاسب باباى ملت در ماخذ قديم اوستايي غرغشت يعني کوه گرداشت "
" مفکوره جديد ، انقلاب در اصل اساس نيکه گان ثلاثه تره نى ته Trenite بيتنى ، غرشت ، سربتن ( اترط ، گرشاسب ، سرند ) شجره انساب افغاني و جود اسطوره نياکان نامهاى اوستاى در شاهنامه وگرشاسبنامه پشت هاى اوستاتابند اهش ازکتاب گشاسب ابوالموید بلخي تاتاريخ سيستان از گرشاشبنامه تا امروز گرشاسب شکست نمي خورد ، داستان پيدايش ، افغان . به بني اسراييل اصل حقايق آخرين

تعلق مبدا نژاد به اوايل عصر اسلام مفكوره بې اساس است سه هزار سال پيشتر وجود آنها دريشت هاى اوستا ثابت است .
مورخ شهير كشور احمد علي كهزاد به شرح اين مسايل در كتاب غرشت يا گرشاسب مي پردازد تخلص استاد يعنې كهزاد بې ارتباط باهمين مفكوره نيست.
" دار مستتر دانشمند فرانسوي كه ترجمه كتاب بزرگ او زند وا وستابه فرانسوي از شهكارها پرارج اوست گرشاسب رايك تن از پهلوانان كابل مې شمارد"
قرار اظهار استاد كهزاد درسال ۱۳۰۰ عصر اعلحضرت امان الله در پغمان از جانب شاگردان ليسه حبيبه در يك پارچه تمثيلى غرشت كه هماهن گرشاسب باشد "باباى ملت " " پهلوان ملي " "پدر معنوي قوم " يا دشده از فراز كوه ملت خود را خطاب مې كند خطاب او چنان گيرا وآموزنده بود كه استاد تا آخر عمرآن را فراموش نمې كرد.
استاد كهزاد عنصر ملي هفت ساله بود تا آخر عمر شريف خود آن خطاب را فراموش نكرده وحدت ملي از چنين شخصيت هاى معنوى ريشه مې گيرد نه از نقالان مقلدين نو كرصفت .
در اثر كليفورد از گرشاسب ذكرشده است : " درشاهنامه تنها اشاره گذراي از گرشاسب مې شود اما اسدى توسى در شعر خود از بهتري قهرمان خود سخن مې گويد.

سپهدار گرشاسب تازنده بود نه كردست زبون كس نه افكنده بود
به هندو به روم چين از نبرد بكر دآنچه دستان ورستم نكرد

بدين ترتيب اسدى طوسي از جريان جدا گانه اى از حماسه ملي بهره بردارى كرد.
خوشبختانه باباى ملت گرشاسب غربت در عصر امان الله شناخته شده بود ولې در دوره كود ملي فراموش شد تا اينكه يك عنصر ملي در سال ۱۳۵۵ هـ ش موضوع رابياد مردم افغانستان داد :
ابوالمويد بلخي مې گويد "گرشاسب هوش ايزدى داشت" وآن رابه ملت خود باقي گذاشت.

فرحت بادا روش خنيده گرشاسب هوش
همې برست از جوش نوش كن مې نوش
دوست بدا كوش به آفرين نهاده گوش
هميشه نيكې كوش دى گذشت ودوش

اصل این شعر در تاریخ سیستان بهمین صورت آمد است ، گرشاسب زرنج را آباد و از رسالت حضرت رسول خدا چهار هزار قبل خبردار وگفت بدان دین شویم.

یاد آوری این فصل تاریخ یك امر ضروری است . تا هوش جوان جوانان افغان متوجه آن باشد وبابای ملت را بشناسند . " اینکه امروز ،چې شرایط نباید بنیاد تفکر مارا تغیر بدهد.

درکشور کهزاد ، تره کي وببرك ، مسعود و رباني و سیاف ، فهیم وقانوني ورهین ......

احمد علي کهزاد با تعلیمات عالي ملي نیز بود است که درچهل دو اثر ارزشمند خود از خط ملي انحراف نکرده است از هفت سالگی تا هفتاد سالگي عریق تکامل پیموده است.

این عاجز در تالار ملي ننداری حاضر بودم پنجاه وشش سال قبل که آرنولا تاین بي بزرگترین فیلسوف تاریخ گفت : " موزیم افغانستان آثار گرانبها دارد ولې از همه گرانبهاتر خود احمد علي کهزاد است "

# گرشاسب یا غر غبنت در لغمان

خداوند احمد علي کهزاد را رحمت کند که از گرشاسب در لغمان یاد کرد.

اینکه شاگردان لیسه حبیبیه درام به نام مدوجزر اسلام را تمثیل کردند و در آن بابای ملت غربنت یا گرشاسب نمایان مې شود این مفکوره از کدام شخص بوده است یا عمومي تر بوده خداوند اجرعظیم نصیب شان فرماید.

در صورتیکه من از آن درامه شنیده بودم بابای ملت بزرگانیکه براه او بوده نوازش فرمود و آنانیکه از طریق غیرت ، ایمان و وطن دوستي بازنشسته بودند اجازه نزدیك شدن به آن سرچینه ایمان و غیرت نداد .

یك اصول مقدس ملي تمثیل شد بعد در رکود مقدسات ملي گمراه ابدي شدند .بگفته حکیم ماسنایي:

صنایع باید حکیم قادر وقایم بذات

د افغان ــ انګلیس له لومړۍ جګړې نه مخکې.

## د پنجاب زمری رنجیت سنګهه
## او د پنجشیر زمری احمدشاه مسعود
## د نولسمې او شلمې پېړۍ جوړ شوی زمریان

تاریخ یوه هینداره ده ،چې ټول مخونه په کښې لیدل کېږي او سترګور کولای شي پرون او سبا په دې هیندارې کښې و ګوري . لوړ درشل شاه زمان غوښتل ،چې په عمل کښې د احمدشاه بابا لمسی وی مګر زمانه بدله شوی وه انګلیسانو د هند ډېره برخه نیولې وه.

د محمدزایي او سدوزای میر ځمني دي حد ته رسېدلي وه ،چې نه په جرګه نه په خپلوۍ په هېڅ توګه ورکه نه شوه دسدوزو ټول غړي هند ، کشمیر او پنجاب کښې مېشته شول.

انګلیسانو د پنجاب د مشرانو یوه اتحادیه جوړه کړه ،چې له افغانستان څخه ځان بېل کړي انګلیسانو دوسلو او پیسو زمه ووهله.

خبره په دې ځای پاتې نه شوه زنجیت سنګه ،چې ددغې اتحاد غړی و پټ یې له انګلیسانو سره ولیدل د جولای نهمه ۱۷۹۹ م هغوي ته یې خپله بشپړه تسلي ورکړه . انګلیسانو رنجیت سنګه ته د شیر پنجاب لقب ورکړ او د اتحاد نور غړي یې ورور وله منیځه وایستل وروسته تردې مهاراجا وبلل شو.

دوه امریکایي جنرالان د مهاراجا رنجت سنګه په خدمت کښې ودرېدل.

لومړی Genral Josiah Harlan General Josiah Harlan.

دوهم الکزاندر ګاردنر آیرېش امریلن . Alexande Gardner . A lexander Gardnaer.

سرچان مالکم ایران ته لاړ فتح علي شاه قاجار ته یې وویل ،چې شاه محمود سدوزی او وزیر فتح خان سره مرسته وکړي ،چې دلوړ درشل شاه زمان سره جګړه پېل کړي . ایران او انګلیس ومنله ،چې شاه زمان ته فرصت ورنه کړي ، چې هند ب[illegible] برید و کړي یا شازمان خراسان ونیسي.

روسانو هم نه غوښتل ،چې لوړ درشل شاه زمان د منځني آسيا مسلمانان دروسيې خلاف پاڅوي په دې توګه انګليسانو ، روس ، ايران او د پنجاب سکهان خپل ملګري کړل.

له بلې خوا د محمدزايانو او سدوزيانو خپل منځني ميرځمنۍ ( دښمنۍ) دملي ګټو په اساس نه روغيدل که څه هم د اميردوست محمد خان خور شاه شجاع ته واده شوه.

روسان ،چې پخپله يې مسلمانانو حق پښولاندې کړي و په دې مهال د انګليسانو ملګري شول لکه ،چې ۱۳۷۲ هـ ش ۱۹۹۲م کال کښې د شمالي تلوالې پلوی و . او کله ،چې د امريکې بريد وشو ( اکتوبر ۷-۱-۲۰۰۱م) له امريکې سره ملګری شو.

دا مهال د پنجشېر زمری نه و وژل شوی و او د هغه د مړي په نامه نظار شورا ، ازبك ، هزاره لکه نولسمه پېړۍ ايران ، روس ، انګليس ، امريکا د افغانستان په غليموالی کښې بوشاني پاڅېدل د پنجاب د زمری په ځای د پنجشير زمری و د يوه واحد افغانستان په ورانولو کښې يې برخه واخسته دا تاريخ دی په نولسمې پېړۍ کښې دوست محمد خان د سدوزو په خلاف و . د واړه پښتانه و : خو دوست محمد د مجاهدينو او غازيانو له مينځه په توره شپه وتښتېده اوسهر سبا يې بالاحصار کښې ځان د انګليسانو ګورنر مکناټن ته تسليم کړ.

دا مهال هم پخواني پادشاه لومړی شمالي اتحاد سره يوځای شو بيا کابل ته لاړ يعنې دقندهار يو شمېر سربښي پښتانه په ننګرهار کښې پشه يي او پښتانه او د حاجي قدير ارسلايان پاچاخان ، ځدران ... او دا خبره پاتې نه شوه ،چې پښتون او غير پښتون دی مګر هغه پښتانه ،چې د غلځيو نوم لري تکول کېږي ؟ نوی نوم يې طالب القاعده دی .

اوس پردې جوړ کړي زمريان وپيژندل شول ،چې د پنجاب او پنجشېر دی دغو زمريانو څه وکړل؟ يوه زمری رنجت سنګه لوی افغانستان وخواړه او دوهم ،چې احمدشاه مسعود و ،چې وړوکی افغانستان يې وخوړ د زمردو او لاجوردو غرونه يې وخوړل اوس امريکا او پرون انګليس سر راښکاره کړي و ، ايران هماغه کار کوي ،چې فتحعلی شاه او محمدشاه قاجار کاوه او نن يې خامنه يې او خاتمي کوي او مونږ د ګډو په شاه لاس او پښې وهلي دا خبره خو څه چاره غواړي اوافغانان په دومره روښانه تاريخ ځان نه خبروي؟

روسي او وطني کمونستانو خوله واچوله زمونږ کمونستان او متر قیان احمقان و هم خاینان او دوی شته ودې ته گورې خپل تومن ته ! ار تجاع منطقه در راس آن امریکا ،چې ددوی شعار و څنګه پښې خښې کړي؟

په ۱۸۳۹ م کښې انګلیسانو شاه شجاع پاچا کړو ،چې د افغانستان د پادشاهی وارث دی بیایې نه غوښتل ،چې افغانستان پرېږدي.

بیا د افغانستان د تخت بل وارث راغی څه یې وکړل ؟ لاهم یو شمېر نابالغه وایي ،چې د پادشاه له کورنی نه څوك راشي بیا د شهزاده ګانو اختلاف دی ( میرویس او مصطفی ) دوی به پوهیدل ،چې د پنجشیر د زمري په خوله کښې د پادشاهی خوند و ؟

شاه شجاع سره رنجیت سنګه څه وکړل ،چې دوی سره یې وطني سنګه وکړي؟

دا ټولې خبرې ،چې کېږي له تاریخه بې خبري ده او د انګلیس ، امریکا ، روسیې ، ایران ، هند او چین په سیاسي او اقتصادي غرضونو نه پوهېدل دي.

انګلیسانو مخکې تردې ،چې افغانستان یې پل په پل لیدلی و او بخارا ته تللی و او د هغه ځای له مشرانو سره کتلي ، انګلیسانو لومړی د افغانستان چارچاپېر هېوادونه کتلي او یولږ ترونو نه یې کړي دي ،چې د یرغل په مهال له کومې خوا نه مرسته ونه رسیږي.

الکزاندر برنس ،چې بیا وروسته د کابل حاکم شو د افغانستان د هرقوم ځانګړی کړه یې په ښه کړی هر ځای یې ښځو لټه کړې.

د ۱۸۴۲ د نوامبر دوه یمه غازیان د برنس کورته لاړل هلته هم افغاني ښځې وې ښځې د انګلیسانو کمپونو ته هم تللې او شاه شجاع په خپل کتاب کښې ،چې د واقعات شاه شجاع په نامه چاپ شوی دی او موندل یې ګران نه دی هم د اخبره کړې ده .

شاه شجاع مکناتن ته شکایت کړی ،چې د ښځو تګ انګلیسي کمپنیو ته د خلکو احساسات پاروي مکناتن په ځواب کښې ویلي دي ،چې دا کار د عسکرو روغتیا ته ګټه رسوي.

شاه شجاع وروسته غازیان وهڅول ،چې جهاد پیل کړي مګر شاه شجاع وروسته له لومړي ځل پادشاهی نه دیرش کاله په جګړو او تبعید کښې عقل او روحیات یې کمزوري و . نو انګریزانو امیر دوست محمد خان بیرته راوست.

سردار محمد داود ،چې روسانو ته یې لاره خلاصه کړه نظامي ، اقتصادي او کلتوري قرار دادونه یې وکړل په ۱۳۵۷ هـ ش کښې یې په مسکو کښې بریژنیف دروسیې مشر ته سختې خبرې وکړې ، چې افغانستان خپله خپلواکي پخپلو وینو ساتلې ده د بل چا حکم نه مني همداسې ،چې په شاه شجاع باندې وخت تېر و په ده هم تېرو ، رحمان وایي :

پښېماني ترپښېماني لا پخوا بویه نه هغه چې بیا په تېر ساعت پښېمان یې

انګلیسانو ،چې فکر کاوه روسانو په افغانستان لاره موندلې ده دلته یې داسې څه ولیدل ،چې مصرف هره ورځ ډېرېده نو دوی هم پښېمانه و . امریکا به هم داسې شي. الفنستون سپین ږیری او ناروغ هره ورځ داسې لوری لټولی چې هندوستان لاړشي، نو شاه شجاع ته یې وویل :ملي مشران راوغواړه دلته به یې ونیسو، زه یې هندوستان ته بوځم. په دې مهال دهیڅا زړه داده نه و. انګلیسان هم پښمانه و، شاه شجاع هم.

انګلیسانو وروسته دپنجاب زمری پرېښود چې دافغانستان سیمې یو په بل پسې ونیسي. دپنجشېر زمری هم دوستانو وواژه، خو کوم تاوان چې لومړی او دوه یم زمري افغانستان ته واړولو دهغه بېرته سمول به ډېره قرباني وغواړي .

## ملي زمریان

د افغانستان روحاني ټولنه هر مهال یولاس وي په نولسمې پېړۍ یو روحاني مشر ،چې شاعر ادیب او عالم و د پای منار حاجي صاحب و ،چې قبریې تر اوسه د خلکو زیارت دی.

دی ،چې د افغان انګلیس په لومړی جګړې کښې ژوندی و هغو زمریانو ته ،چې د انګلیس سره لاس او ګریوان و هغوي ته یې داسې لقبونه ورکړي ،چې هغوي بویه په همدغه نومونو پېژندل شوي وای دادی یوسلو دوه اتیا کاله وروسته د حاجي صاحب فیصلې د تاریخ په توګه تاسو ته لیکم که څه هم په کال ۱۳۴۶هـ ل د کابل لومړني انتخابي ښاروال د عبدالله خان اڅکزي ،چې د افغانستان انګلیس جګړې د میدان زمری و پرقبرو ینا وکړه او دا ،چې ملي اتلان نه دي لمانځل شوي په دې خبري یې خواشیني وښووده .

حاجي صاحب ويل : هر څوك ،چې مسلمان سره ودرېږي مسلمان دی او كه كافر سره ولاړ وي كافر دی .
حاجي صاحب د بي بي مهرو د غونډۍ د جګړې رسامي كوي ،چې انګليسانو هغه نيولې وه او پرشا او خوا سيمو باندې يوه حاكمه غونډۍ وه.
دا دی ملي غازيان غونډۍ بېرته بېيي او همدغه د انګليسانو ماتېدل و.

به پشته رسيد هر طرف فوج فوج چودر همی زد بهرګوشه موج
زسوی مسلمان يكی صف شكن همان عبدالله خان يل تيغ زن
بهمرای فوج خود آمد ز زير ببالا برآمد چوګرګ دلير
زديګر سرپشته آمد دوان همان شير جنګي امين الله خان
زديګرسو فرس تاز آمد چوشير سرپشته عبدالسلام دلير
زديګر طرف خان ګل تره خېل سرپشته با فوج آمد جوسيل
بهمراه تيپ سواران خويش زديګر علما علم برده پيش
بد هفتصد جزايل جيش در ركاب نموده به جنګ فرهنګی شتاب
يل نام ور خانګل شيرمست در آن عرصه عريان نهګی بدست
بهرتيپ انبوه جوان مردشير شده حمله زن چون هژبر دلير
بسي رابكشت اندران عرضه ګاه همان پيلتن مرد لشكر پناه

دلته داسې ښكاري ،چې فتح د خانګل خان تره خېل ده. شاعر وروسته له هغه ،چې نايب امين الله خان ، عبدالسلام او عبدالله خان اڅكزی يادوی ،د خان ګل خان په برخه كښې وايي : چې خانګل خان خپل عسكر او دده بيرغ (رېی) له نوروڅخه مخكې شو او سوه كسان ور سره ول ،چې هغه تره خېل ول؛ څكه د تره خېلو كلی غونډۍ ته نژدې و.
خانګل خان په ښكاره توره په لاس و يا دا ،چې نهنګ يې نيولې و دېر انګلسان مړه كړل هغه د پېل تن په نامه يادوي يعنې دی ،چې ځان غښتلی او څرب و او د لښكر پناه ، نو څرګندېږي ،چې خانګل خان ښه مېړانه كړې ده.
په دې ،چې مونږ د پنجاب زمری او د پنجشير زمريان ،چې پر ديو جوړ كړي و وليدل هغه مو هم وپيژندل .

# غازي او لاتي

دا وطـن دی د زړه چـاودو پرېشـانو
دلتـه شور وي د قیامت لـه هرې خوانـه

"حمید"

دا دی یوه موضوع تاسو ته لیکم ،چې خوابدي مه شئ:

کله ،چې انګلیسان او امیرشیرعلي خان سره خوا بدی و ( ۱۸۷۹م) امیر شیرعلي خان مزار شریف ته لاړ ،چې جنرال کافمن روسي سره خبري و کړي ها ، ددوی وعدې څه شوې؟

انګلیسان له درې خواوو افغانستان ته ننوتل سردار ولي محمد خان او نور سرداران او مشران د جنرال فریدریك رابرس د هر کلي لپاره " خوښي " لوګرته ورغلل .

ولي محمد د انګلیسانو خوښمن و ،چې په لاتي مشهور و .

د کابل په لهجه لارد ته لات ویل کېده کله ،چې مکناتن په ۱۸۴۲ نوامبر کښي ووژل شو خلکو ویل کمکی لات ووژل شو لوی " لات "پاتې دی مطلوب شاه شجاع و .

ولي محمد خان لاتي د امیر دوست محمد زوی ته لاتي ویل : ځکه ،چې د انګلیسانو پلوي و .

ورو ورو څوك به ،چې د انګلیسانو د هڅوب په پېښې کولو اخته شول هغوي تـه یې لاتیان ویل لاتیان د انګلیس په راتګ خوښ و دوی داسې ویل ،چې افغانستان به د هند په څېر آبادشي تعلیم او تخنیك به راشي .

افغانستان په لومړي ځل په ۱۸۳۹م ،چې انګلیس راغلی و درې کاله پاتې شول ،چې ځینې نښې نښانې ترې پاتې وې لاتیانو ویل دا خله به ډیر څه ترې زده کړو تېوله نړۍ یې نېولې ده هر ځای یې ودانی کړي دي او شعاریې استعمار یا آبادول دي بیا عمارت کول .

مګر په دې ملك کښې ناپوهان ډېر دي د علم او تعلیم مخالف دی ، ځانته غازیان وایي ، خیر وایي دي مونږ سره د انګلیس زوی دی.

حالات داسې راغلل ،چې هندوستان د هرڅه خاوند شو او مونږ هسې سپېره پاتې یو دا هم یو منطق دی.

غازیان سره ټول شول ، محمد جان خان وردك ، میر بچه خان ، ملامشك عالم ، عثمان خان ساپی ، غلام حیدر خان څرخي ، نور میران سادات ........

دوه یم وار (۱۹۷۹ م ) سل کاله وروسته و ،چې بیا یو شمېر لاتیانو د روس د راتګ هرکلی وکړ دوی ویل : افغانستان به لکه د مسکو روسیه ودان شي ارتجاع مونږ وروسته پاتې پرېښي یو ، اوس به شو روي اتحاد مونږ جوړ کړي . وروسته له دې ،چې د افغانستان خلك پا څېدلي و امریکې له دې پاڅون ګټه واخیسته لکه ،چې روس د افغانستان انګلیس جګړه یو ستر حرکت باله مګر د افغانستان خلك روس ، انګلیس او امریکا په یوه ردیف کښې بولي.

له دې لنډ بحث نه مطلوب دا چې د افغانستان خلك له دې دوستانو وزګار نه شول هره پلا لاتیان پیدا شي ښه لوی قدرت هېواد ته ننه باسي بیا به ، غازیان پیدا شي او دا لړي به دوام لري ولې؟

مونږ خپله څه نه لرو ،چې خپل ملك په خپله آباد کړو.

په ۱۸۰۰م چې انګلیسانو هندوستان لاندې کړ بیا افغانستان ته بل پېر راغی.

هیڅ مې نه زده نه پوهېږم دا څه پېر شو
چې دلدار مې د اغیار په شکل څېر شو

(رحمان)

څوك غواړي لاتیان وي څوك غواړي غاریان وي دغه لوبه پایناب نه لري.

زړه مې غواړي ،چې ډېرې خبرې وکړم خو داسې به یې لنډې کړم:

الف : لاتي که غازي ؟

ب : که خپله لاره ولرو ؟

زمونږ په تومن کښې ډېر څه له منځه تللي دي ، مونږ باید و پوهېږو ،چې هغه کوم شیان و ؟

د مثال په توګه غور ،چې اوس سپیره دی په دولسمه میلادي پېړۍ کښې یې آباد ښارونه درلودل لکه فیروز کوه ، مندیش ، آهنګران اوتمران د غور وسله نورو هېوادو ته تلله بیا څه وشوه ،چې هیڅ پاتې نه شول؟

په عمومي وګه ،چې مخکې له شاه زمان ، هرڅه موخپل و ، کالي ، لوښي،وسله ، درمل ، غله ...... وروسته له هغه ،چې انګلیسان هند ته راغلل نه خاوره پاتې شوه نه صنعت او نه تجارت..

د امیر حبیب الله خان په زمانه کښې ۱۹۱۴م فون هنتګ په یوه هیات کښې کابل ته راغی ،چې دغه موضوع د تاریخ برخه ده زما اند بل څه دی ،چې همدغه سړی د عمر په پای کښې بیا افغانستان ته راغی ۱۹۷۹ م.

اعلحضرت ظاهر شاه دا خله وزیر ته وویل ،چې دا سړی هغو ولایاتو بوځئ ،چې والیان یې په جرمني، انګلیس یا فرانسوي بشپړ خبرې وکولای شي په دې ترڅ کښې دې د زابل ولایت ته لاړ ،چې هلته سخی احمد فرهاد والي و او ښه جرمني یې زده وه .

د خبرو په مهال والي دې وپوښتېده ،چې په ۱۹۱۴م ،چې تاسې افغانستان ته راغلی واست له هغه وخته تر اوسه افغانستان څومره پر مخ تللی دی؟

بیا ګرګین خان د زوم په حیث ورغی او دښې یې میرویس له خپلو افرادو سره مړ کی...

پاملرنه په کار ده ،چې په نولسمې پېړۍ اعتماد السلطنه د ناصرالدین شاه قاجار د ایران د دولت د اطلاعاتو وزیر و څه وایي ؟ زه خپل لیکوال او تاریخپوهان نه ګرموم هماغه مواد یې په لاس کښې و او هماغه یې وکتل دا زمونږ دنده ده ،چې کله سم اخبار په لاس راشي مخکنی ناسمې خبرې سمې کړو.

میرویس نیکه نابغه و ،چې څنګه یې نیست افغانستان هست کړ ؟ تاریخ او د نړۍ نقشې ته یې داخل کړ په ( ۱۷۰۹ م) کښې کابل غزني ننګرهار د هند له مغلي دولت سره و . شمالي ولایتونه ماورالنهر او بخارا سره لویدیځ ولایتونه قندهار د ایران له صفوي دولت سره په دې حال کښې ،چې وروسته دچنګېز له حملې ۱۲۰۰م نه نیولې تر ۱۷۰۰م پورې افغانستان ،چې یوه غوري امپراتوري وه اود سوریانو دولت پنځه سوه کاله وروسته یې شتون ورکړ مونږ له خپلو نیکونو او بابا ګانو نه مننه کوو دوی ته دعا کوو د حرمت او احترام لاسونه پورته کوو.

اوس به دحضرت میرویس نیکه علیه رحمه مبارك الفاظ د همغه تاریخ څخه را واخلواو ولولو دا ،چې حلت په هېواد کښې ویجاړ دی د میرویس نیکه او احمدشاه بابا پاکو ارواحوته التجاء کوو...

" ځار موشم بابا ګانو" راځي وګورئ ،چې اوس مو هېواد لیلام دی دتاريخ له پاڼو داسې برېښي ،چې د میرویس نیکه له روغو رغونو وروسته اصفهان تهران ، شیراز قزوین او مهم ځایونه لکه دهرمز ،جزیرې چېرته ،چې افغانانو انګلیسانو او هالندیانو ته ماته ورکړه.

د اغستان ، آذر بایجان ، روسیه او شیرول یا په بل عبارت د کسپین د بحیرې غاړې هېوادونه د افغانانو لاس ته ورغلې . احمدشاه بابا لوی افغانستان بیرته جوړ کړی دی کوم ،چې د صفاریانو ، غزنویان او غوریانو په لاس کېنې و.

کله چې انګلیسان ، فرانسویان ، هندوستان ته ورسیدل او داولسي امپراتوری پیا وړی شوه بیالویه لویه جوړه د مهال ( ۱۸۰۰م) بیا نامړنتوب پیل شو نفاق رشوت په پیسو خرڅیدل دروغ .... له دې نېتې وروسته د ملي وجدان فقیران خرڅېدل او پیسې هغوي سره ډېرې وي که نور څه نه د هندوستان نوابان راجاګان یې لوټول .چې تر نن پورې لویه ورسېده اوس لویه په وروستی پړاو کښې ده ، غربیان ستړي شوي.

هـر سـاعت زمـا د غـوږ پـه تـاوولو
د فلـك لاسـونه شـنه شـو تـر ځنګلـو

(رحمان)

دادی د غرب ناروغی ډېرې شوي ، چې دوی ځان ورك كړي توره توره شي بیا به سره پوه شو.

# پاڅون

د افغانستان نامتو تاریخ پوه استاد احمد علي کهزاد په ۴۱ کتاب او رسالو کښې د افغانستان زوړ او نوی تاریخ په ښه تفصیل لیکلی دی. له ښې مرغې ،چې په دې مهال کښې د استاد ټول کتابونه چاپ شوي دي.
د استا کهزدا د تاریخ له مخې د افغان انګلیس د لومړۍ جګړې او ملي پاڅون د لومړۍ ورځې پاڅون تر برې پورې اوروو پنځه ویشت ورځې ده ۱۲۵۷ د وري د میاشتې په دوه یمه د ۱۸۴۱ د نوامبر په دوه یمه پیل شو او د نوامبر تر ۲۵ پورې یې دوام درلود ،چې د ۱۲۵۷ د روژې ۲۷ ،چې مبارکه ورځ وه د انګلیسانو په ماتې پای ته ورسیده.
ددغه ملي پاڅون لومړی تصمیم د عبدالله خان اڅکزي په کور کښې و نیول شو.
په کال ۱۳۴۶ کښې مرحوم عبدالله خان افغان نویس زمونږ د فتر ته تشریف راوړ او وې ویل: هغه کور ،چې عبدالله خان اڅکزي په کښې د ملي پاڅون فیصله وکړه او افغان ملي مشران حاضر و دغه کور روغ رمټ له ما سره دی ،چې بویه د موزیم د یوې برخې په توګه وساتل شي. خو هغه مهال دده خبره چاوا نه وریده دغه کور د نواب باغ ته نژدې و ،چې حقیقت کښې د اتلسمې پیړۍ یاد ګار و.
د پاڅون په لومړۍ ورځ ،چې د برنس د کور له سوځولو پیل شو دغه ورځ ،چې ماښام کیده ډیر بریالیتوبونه تر لاسه شول برنس او څلور تنه انګلیس مامورین ،چې د کابل اداره ددوی په لاس کښې وه ووژل شول د شاهي ګارډ اوه سوه عسکر ،چې له بالاحصار نه راغلل ،چې د پاڅون مخه ونیسي هغوی هم ووژل شول شاه شجاع مکناتن الفنسون ،چې خپلو نظامي قوتونو سره په بالاحصار . بې بې مهرو او سیاه سنګ کښې حاضر و دوی هیڅ پریکړه ونه شوه کړای د ملي غازیانو بری د روژې د میاشتې په دوه یم ماښام دوی هیله من کړل ،چې وروستي او بشپړ بری به ددوی په برخه وي لیدی سیل ددغې مبارکې ورځې تفصیل لیکلی دی.
دپاڅون په دوه یمه ورځ د نوامبر دریمه ورځ غازیان بریالی و.
په څلورمه ورځ غازیانو د انګلیسانود غلي ذخیرې ...ونې او دغلې په ایستلو یې لاس پورې کړ.

د پاځون په څلورمه ورځ په بالاحصار کښې غوغا جوړه شوه هلته .چې د کومو عربانو محله وه انګليسانو ته پاځيدل.
شاه شجاع امر وکړ .چې بې له اجازې نامې څوك دې بالاحصار ته نه راځي او نه دې ووزي.
د پاځون په پنځمه ورځ غازيان ډېرشول. ښځو دوی ته اوبه ډوډۍ ورکول او پر غازيانو يې د ګلاب اوبه ګلان او خوږې شيرنۍ اچولې.
څمکه ښوريدلې وه افغان زمری نارينه او ښځې هر چا خپل کار کاوه.

## د شاه شجاع ورځ ښه نه شوه د نورو

## به هم ښه نه شي

په آسیا او افریقا کښې له هغې ورځې ،چې اروپایان وکتېدل آسیا . افریقا او جنوبي امریکې ته لاړل ،ویل یې " ددې دپاره ،چې تاسو ځان نه شي جوړولای مونږ به تاسو جوړ کړو " . هر اروپایي هېواد خپله ژبه ،مسیحي دین ، تجارتي مال او عسکر بوتلل ، په دوی کښې پرتګال ، هالنډ ، انګلیس ، فرانسه ،جرمني ، او نورو له همدغې پېرۍ ،چې نولسمه پېړۍ وه د ژبې موضوع یې د ملي هویت برخه کړه . دین او مذهب ملي اقتصاد او نظامي پیاوړتیا ... شول دغې تورې بلا سره ، اعلحضرت شاه زمان مخ شو ، شاه زمان کولای شول ،چې خپل قوت انګلیسانو له هندوستان څخه وباسي ،خو دغه لاندې عوامل ،چې ده نه شو کولای :

د سردار پاینده خان د زامنو نه پخلا کېدل . دوی د خپل پلار د غچ په پلمه ،چې شاه زمان وژلي پورته شوي و .

- د ایران د پادشاهانو ملګرتیا له انګلیس سره د شاه زمان دمقابلې دپاره .
- د انګلیس دجاسوسانو ننوتل د تجارت ، ملنګ جوړېدل ، او خاني کېدل .

شاه زمان د دغو دسیسو ښکار شو ،کنه دی یو ملي اتل و اته کاله ده د افغانستان امپراتوري وساتله .

۱۸۰۴م شاه شجاع پادشا شو خلکو د ده هرکلي وکړ دی زړور ادیب سړی او شخصي اخلاق یې ښه و ، ده وزیر فتح خان خپل وزیر وټاکه او د سردار پاینده خان منصب یې ده له ورکړ .

کله ،چې محمود شاه سدوزی د وزیر فتح خان خور یې د اعلحضرت شاه زمان سترګې وایستلې . شاه شجاع ،چې محمود شاه سدوزی او وزیر فتح خان یې نیولی و ، له محمود شاه سدوزي نه یې د خپل ورور شاه زمان د سترګو په بدل کښې سترګې ونه ایستلې او وزیر فتح خان ته یې وزارت ورکړ په ملي روغه کښې د امیر دوست خور یې وکړه ، ټول سرداران یې پخلا کړل دا وه دده ملي روغه جوړه .

ټول سرداران او محمود شاه سدوزی د جرګو تیرې ماتې کړې او وغورځولې . لنډه دا ،چې شاه شجاع په لومړي پلا پادشاهي کښې ښه پادشاه و ، په خپل قوت راغلی و . خبره په دوه پادشاهۍ ویجاړه شوه ،چې دېرش کاله وروسته راغی او له انګلیسانو سره بیا نه یوازې دده هرکلی ونه شو چا سلام هم نه ورکاوه . د شاه شجاع د دېرشو کلو تفصیل ډېر کتابونه کېږي .

اته کاله مخکې ما هغه واقعه لیکلې وه ،چې د الفنستن هیت پېښور کښې ۱۸۰۹ م د شاه شجاع دربار ته راغلی ، و دغه مهال ناپلیون غوښتل ،چې د ایران او افغانستان له لارې پر هندوستان یرغل وکړي . په دې مهال کښې ،چې شاه شجاع یو خپلواك پادشاه دی انګلیسي هیت د الفنستون په مشرۍ پېښاور ته راغی د شاه شجاع دربار انګلیسي هیت یوه اونۍ وځنډاوه ،چې هغه اداب زاړه کړي ،چې د افغانستان دپاره شاه سره څنګه خبرې وکړي ؟

ما هم ددغو حالاتو سره سم اعلحضرت شاشجاع ولیکه ځکه تر دغه مهاله شاه شجاع کوم غېر ملي عمل نه و کړی .

شاه شجاع دوه دورې پادشاهي کړه وه ، واټن په منځ کښې دېرش کاله و . کله ،چې مضمون مو صحیح کتلی دی د شاه شجاع له نامه سره یې د اعلحضرت کلمې ته پام شوی نو فکر یې کړی ،چې د شاه شجاع خو یو ملي خاین دی د لیکوال هدف به اعلحضرت تېمورشاه وي ؛نو اعلحضرت تېمور شاه یې لیکلی و . د شاه شجاع نوم یې ایسته کړې . خو سنه ۱۸۰۹م پاتې وه . اعلحضرت تېمور شاه په ۱۷۹۳م کښې وفات شوی .

ما په دې برخه کښې یوه توضیح لیکلې وه او چاپ شوې وه ، په دې وروستیو شپو ورځو کښې ما هم یو لپ ټاپ وموند ، هغه داسې شو ،چې ما غښتلي ورور صالح محمد محمدي ته وویل : چې زه یو لپ ټاپ کمپیوټر اخلم ،خو ښه او بد یې نه پېژنم ته یې راته خوښ کړه . زه به یې واخلم صالح چان محمدي سره دې خدای ښه وکړي هغه داسې وکړه ،چې دغه ساده سړی به څه په بازارو ګرځوم؟ د پیاوړي خپرجان "برم" په لاس یې یو ښه لپ ټاپ وړیا راولېږه ، شهید مېړني خبره وه ،چې "ځوانان په تاوان ښه ښکارېږي " . خبره څه اوږده شوه . کله ،چې د لپ ټاپ خاوند شوم وېب سایټونه مې کتل د افغانانو ټاټوبي

وېب ته لاړم هلته مې هماغه مضمون ولید د افغانانو ټاټوبی داسې یو نوم ،چې هر افغان یې خپل بولي . ماته هم خوږ نوم و .
نو بیا مې دغه شرحه ولیکله ،چې ګران لوستونکي که په مضمون برابر شي دا دې ومني ،چې د شاه شجاع ورځ نه ښه کېږي ، بیا نوم د تېمور شاه دی نه د شاه شجاع .
امیر دوست محمد یوازې په کابل قانع و ، نور لوی افغانستان په نورو سردارانو ویشل شوی و ، هرات د سدوزي په لاس کښې و .
شاه شجاع امیر دوست محمد ،امیر یعقوب ، امیر عبدالرحمن ټولو انګلیسانو سره تړون درلود د نورمحمد تره کی ،ببرك کارمل ، امین او نجیب تړون له روسانو سره و . د محمدظاهر او حامد کرزي له امریکایانو سره . دا زمونږ د تاریخ ویجاړوونکي دي .
محمود شاه سدوزي ، دوست محمد ، بشیر علي ، هر یوه دوه ځله پادشاهي کړې ده ، اعلحضرت امان الله خان ښه و ، دوه هم ځل رانه غی او محمد ظاهر شاه دوه ځل راغی دا ځله د غازي میر مسجدي نښانونه یې د اوو امریکایي افسرانو په ټټر وټومبل ،چې کنړونو او جنوب کښې یې ښه عملیات کړي و .
۱۳۲۴ لمریز کښې د محمد ظاهر شاه له ساپیانو سره په کنړونو کښې جګړه شوه زه څوارلس کلن وم ،چې د ساپیانو بندیان یې په عسکري ګاډو کښې د کابل له ښاره تېر کړل . د دهمزنګ محبس ته یې ورسول . د ساپیانو نوم د جنګ قصې مې اورېدلي ماته یو بل شاني خلك برېښېدل . دوی مې ،چې سرخلاصي عسکر موټر کښې سپاره ولیدل وچ کلك ،خیرن او څیري کالي په دوړو کښې پټ پرېشان ښتانه و . دېر خواشیني شوم . اوس بیا هغه کنړونه دي هغه محمد ظاهر ، هغه تشریفات او نښانونه امریکایي منصبدارانو ته کاشکې دی نه وای راغلی او دغه مالګه یې نه دوړولای.

په مذهب نه د بلبل نه د پتنګ یم
نه غوټي په شان د زړه په وینو رنګ یم

شاه شجاع لیکوال و ، او خپلو جګړو تفصیل یې په خپله لیکلی و ، چې د شاه شجاع دواقعاتو په نامه چاپ شوی دی .

# دشاه شجاع لویه تېروتنه

په شاه شجاع ظلمونه ډېر شول بندي شو ووهل شو حتا رنجیت سنګه په قفس کښې واچاو ډېرې عقدې ورسره وې .

د ده غلط فکر دا و ،چې ده په انګلیسانو وېسا وکړه بیا يې دا دلیل ووایه ،چې همایون د بابر ځوی ،چې له شېرشاه سوري ماته وخوړه د ایران له صفوي پادشاه نه مرسته واخېسته او خپله پادشاهي بېرته تر لاسه کړه . دده دې ته پام نه و . د ایران پادشاه مسلمان او ایران اسلامي هېواد و خلکو دومره بده نه منله . انګلیس سوچ کافر و . بیا همدغه غلطي تره کي ، ببرك ، امین .. وکړه ،چې روسانو سره راغلل او محمد ظاهر او کرزی ،چې امریکایانو سره راغلل ټولو دا ویل ،چې خپل ګوډاګی پادشاه کښېنوو بیا به مونږ بېرته وزو . دا فرضیه غلطه وه ټول ښکېل شول.

شاه شجاع د همایون مثال خپل کتاب کښې لیکلی . ډېر پادشاهان د بخارا دربار ته لاړل لکه محمود شاه سدوزی ، دوست محمد خان ، عبدالرحمان څه خبرنه و بخارا یو اسلامي هېواد و .

طالبان که پاکستان یا سعودي عرب سره نژدې و دا هم په عنعنه کښې تر روس ، انګلیس او امریکا ښه . ځکه یو مسلمان بل مسلمان سره مرسته کوي . اسلام زمونږ دین ، خپلواکي او ناموس مقدس دی .

# شهزاده احمد علي خان دراني

تاريخ ليکوال اديب او پوهاند

د شهزاده احمد علي خان په زرهاو پاڼې ليکنې دده زوی عبدالجليل خان دراني ټولې کړي ،چې د يوه پنډ کتاب په څېر به چاپ شي .



د شهزاده احمد علي خان دراني هډ په هډ بيا داسې دي :

۱. زينت الفردوس احمد شاه بابا
۲. امپراتور تېمور شاه
۳. اعلحضرت ايوب شاه
۴. شهزاده علي احمد خان
۵. شهزاده حسين علي خان
۶. شهزاده احمد علي خان

# د افغان ملي فلسفې ته مخه کول

هر پښتون ،چې د پښتنو ټکول له دوو خواوو ( پاکستان او افغانستان ) ويني خواشينی کېږي. د ۱۳۸۴هـ ل د کب د شلمې شپې جګړه ،چې د ننګرهار په چپرهار کښې په يوه متروکې کلا باندې وشوه ، د هغه خبر همدا و ،چې هلته درې کسانو شپې تېرولې . جاسوسانو هغه يو مرکز ښودلی و ،چې د دولت او ايتلاف مخالفين هلته دي ،دولتي ، امريکايي ايتلاف له ټانکو چورلکو ، الوتکو تر سهار په ډزو او جګړې لګيا شول ،چې د لمر سترګه ښکاره شوه کلا ورانه دوه مړي په خارولړليو جامو کښې پراته په ځان هم هومره غښتلي نه و .

د نړۍ نظامي تاريخ دا ليکي ،چې دوو مجبورو يو شپه د ټولې نړۍ له قوتو سره وجنګېدل ، د اوستا په سندرو کښې " اندرا" د جګړې رب النوع دی ،چې د پاکتيان مرستې ته ورځي لکه ،چې چپرهار ته ورغلي وه .

د افغان ملي فلسفه دا ده ،چې ګرشاسب بابا ويلي دي ، نړۍ ديوانو او شيطانانو ويجاړه کړې ده ، مونږ د نړۍ خلکو ته " اسامه " غواړو ، اسامه پناه ځای دی ،چې پښتونولي کښې هغه سيمه بولي انګليسي " اسايلم" به هم په هم هغه پورې اړه لري .

افغان ملي فلسفه سوله او امن دی ،چې ديوان او شيطانان وشړل شي تر هغو ،چې امن او سوله نه وي ودانۍ نه کېږي او نه ګټه لري .

مغلو په تېره بيا بابر له کابل سره مينه درلوده ځکه کابل کښې ښخ دی د تاريخ له مخې مغلي شهزاده ګانو کابل کښې محلونه او باغونه درلودل ، اوس د هغو يوه نښه نه ليدل کېږي او په هندوستان کښې ټولې ودانۍ ،چې مغلو کړې وې شته .

کابل د اوسپنې دروازه درلوده ،چې جلال الدين اکبر د هيمون سر پرې کړی و ، هلته يې ځړولی و ، هيمون د شېرشاه سوري له پلويانو و .

کله ،چې احمد شاه بابا ډهلي ونيو هماغه د جلال الدين اکبر لمسی يې پادشاه پرېښود ځکه دا د افغان کار و هغه د مغل .

افغان ملي فلسفه پېژندل په تاريخ کښې خېړنه غواړي د ملت جوړونه هم په دې کېږي ،چې خپلې فلسفې ته شو .

ديموكراسي ، سوسيالستي ، ناسيونالستي ، فاشيستي دا ټول اروپا يې كلمې دي ، او د هغو د ګټو دپاره دي مونږ ته رحمان بابا وايي ، چې دا كار مه كوئ .

لكه ړوند ، چې لاس د بل پر اوږه كښېږدي
هېڅ ژوره لوړه نه وي ور معلومهس
مى خواران كه يې خبر شي له مستى نه
د رحمان د ميخانې شراب د څښنو دي .

مونږ ملي فلسفه نه ده ښېړلې كه مو ښېړلې واى ، ديموكراسي ، سوسيالستي او ناسيونالستي به مو يادوله ، احمدشاه بابا يو له هغو حكماو نه و ، چې افغان ملي دولت يې جوړ كړى په تاريخ كښې داسې اسناد شته ، چې له نورو هېواد خلك راغلي و ، خپل ملي اصول د دوى په هېواد كښې پلي كړي ، يا ليكونه استولي لكه ، چې سلطان غياث الدين غوري ته راتلل .

د دعوت جريدې سره خبرې :

څښتن تعالى دې ارواښاد عبدالقيوم بزګر وبښي ، چې ببر ... ى يې دى ځكه په دې وروستيو لسيزو كښې مو داسې خلك وليدل ، چې عبدالقيوم بزګر د فرشتې په خلق و ، ناڅاپي مړينه د هغه نښه ده ، بيا د دعوت د اوه لسمې كاليزې مباركي وايم .

چې پښتون كاندي څوك ياد
زه خوشحال شم زړه مې ښاد

پښتون په دې مهال په دوو تيږو كښې اوږه دي له پاكستان او افغانستان دواړو خواوو وهل كېږي . كله كله په تلويزيون كښې د دوى مړي ليدل كېږي عام خلك دي ، محمد ظاهر او كرزي ته دا خبره تعبير نه لري ، چې ولې ؟ تر كله ؟ تر دې اسمان لاندې دوى څوك نه لري .

ته ، چې بل په غشو ولې هسې پوه شه
چې هم دا غشي به ستا په لور ګذار شي

د پښتون د مسايلو مطرح كول د دعوت كار حمزه صاحب وايي :

د مستقبل په تاريكيو كښې زه
كه لټوم فقط افغان لټوم

# دستور په ملي فلسفه کښې

دستور دلغت له مخې هغه اوږده لرګي ته ویل کېده ،چې پر ډېرو بېړیو اېښودل کېده څو د بېړۍ اندوور وساتي ، همدغه لغت وخوځېده د اصول او قانون ځای یې ونیو .

په پښتو کښې دود او دستور یو ځای راځي ،چې په رسم او رواج اړول کېږي په دواړو حالاتو کښې دستور لار او قانون دی .

پاکتیان ،چې د اریایانو له سترو قومونو څخه دي په دستور ولاړ پاتې خلك دي . له دستور نه وځي د زردښت اصولو ته هم دستور وایي .

ګرشاسب بابا وایي دیوانو او شیطانانو نړۍ ویجاړه کړې ده ، مونږ بویه دېوانو او شیطانانو سره پنجه ورکړو ، بیا دا دستور شو څو میزان او انډوړو وساتل شي . دېوانو او شیطانانو سره یو لاس کېدل له دستوره وتل دي ، دستور پر ځای کول د هر چا په وس کښې نه وي ، ډېر خلك رحمن بابا صوفي او ملنګ شاعر بولې خو داسې نه دی هغه دستور بیانوي :

څو دې حق موندلی نه وي مه جاروزه
په دا مړ شه دا جهان واړه لت پت کړه

دا دستور شو پښتانه ،چې وي همدا کوي ، پښتون عادل سره ملا تړي د ظالم په پرځولو کښې د دستور خلك دا هم وایي ،چې د بل په اوږه لاس مه ږدی ،چې دا د رندو کار دی .

لکه روند ،چې لاس د بل په اوږه کښېږدي
هېـــڅ ژوره لـــوړه نـــه وي ورمعلـومـــه
خـــدای راپـېښه نړۍ لار کړه نالیدلې
لکـــه ورانـــه مـاشوره ،چې وي سرګومه

د دستور جمع " دساتیر " دی ،چې هغه یو کتاب دی په هغه کښې دستور ټول شوی . په دې کتاب پسې ډېر خلك ګرځېدل ،چې اصلي نسخه یې تر لاسه شي ، د څېړونکو تلوسه دا وه ،چې د ساتېر به د زردښت خبرې وې په ۱۸۲۰ کښې څرګنده شوه ،چې یوې ډلې غوښتې ،چې د زردښت بودا او هندوانو له افکاره یوه ګډه مفکوره جوړه کړي . وروسته بیا داسې یوه عقیده پېدا شوه ،چې د اسلام ، مسیحت او یهودو له ګډو د ساتېرو یو

نوی کتاب جوړ شي ، ددې دپاره ،چې یووالی د خلکو تر منځ ټینګ شي ، سکندر لودي په هغه کښې په عدالت او مېړانه ودرېد ،چې دده په مهال خلك هوسا و .
شېرشاه سوري هم دا کول په حقیقت کښې شېږ سوه کاله ،چې افغانانو په هند کښې حکومت کاوه، انډوږ یا دستور ساتل شوی و ، لکه لرګی ،چې پر بېړۍ برابر اېښودل کېده په اسلام کښې د عدل حکومت چلېده .
پښتون افغان او ډېر نور یو قوم و په دستور برابر ، ښېلوالی په دې راته ،چې څوك په دستور برابر نه تلل د مازدیګر ماښام تر مینځ د کنړونو دغرو په لمنو کښې د کلي په منځ کښې ټول به کښېناستل د کلي ټولو حالاتو باندې یې خبرې کولې ځوانان به ولاړ و ، هم د کار او مرستې دپاره او د خبرو د اورېدو دپاره ،چې دستور پوه شي خبرې به پای ته ورسېدې زلمي هلکانو به په منډه کلی خبر کړ دا ښه دستور و زوړ ، ځوان ، ښځې ټول به پوه شول ، لومړی به هغه چا خبرې وکړې ،چې په حالاتو به خبر و بیا بحث پیل شو .
وستل یا دېره همدا ده ،چې ما پنځه څلوېښت کاله دمخه په کنړونو کښې لیدلي و ، داختر شپه ماښام ځوانان لوړو ته وختل او لګولې شونتې یې په لاسو کښې وې ،هره خوا رڼا رڼا وه ماشومانو خوشحالی کولې ،چې سبا اختر دی دا یو اریایي دستور و ،چې په مهمو حالاتو کښې به یې خلك خبرول او د خوشحالۍ دپاره همداسې دستور و په جګړه یا بل حالت به د هغه د اور دستور په شانې.ما تل دا خبره کوله ،چې پښتون په عمل او کړنې پښتون دی نه په نسل او وني ، د کنړو ساپیان به په کښې ډېر و ، بله به وکړم :
استاد احمد علي خان کهزاد په واقعات بالاحصار کښې لیکلي ،چې ۱۸۴۲م ۱۲۲۱ لمریز د لړم په میاشت کښې،چې انګلیسان وتل د کابل د ښار ځوانان غرونو ته ختلي و اورونه یې بل کړي و ،چې د پرنګیانو د وتلو د خوشحالۍ اعلام په همدې شانې وکړي .
په همدې کال ،چې لیکوال کنړو ته تللی و مرحوم حاجي اکبر خان د مزار شریف له تبعید راغلی و ، ما له مخه نه پېژانده سپین ږیری و ، د خمتا کالي یې اغوستي و ،چې دومره نوي او پاك نه ښکارېده وروسته پوه شوم ،چې مشر همدی دی هلکانو ته یې وویل مېلمنو ته کالي راوړئ مونږ د غضب دریشي ګانې اغوستې وې ، نوي د ښه ټوکر کالي یې ورته راوړل . مونږ په دې دستور هم نه پوهېدو ،چې مشر څنګه مهربان وي بیا له مېلمنو سره سباناری دومره مفصل و ،چې د امیرانو وي ، زه کابل ته راغلم د کتهار او

بکير تر عنوان لاندې مې د سفر ياد وليکله د زيري په جريده کښې چاپ شو ، جريده حاجي صاحب ته رسېدلې وه او دغه مضمون چا حاجي صاحب ته ولوست .

حاجي صاحب اکبر خان خپلو زامنو ته وويل تاسې ماته ولې نه و ويلې ،چې دې داسې سړی و ،چې ما يې عزت کړی وای ، ما ،چې دا خبره واورېده ويل مې ښه شوي و ، ما دمشر يوه نمونه وليده او تل مې هڅه کوله ،چې د حاجي صاحب دستور پر ځای کړم خو چېرته ؟

شريعت ، پښتونولي او عياري ( ځوانمردي ) سره وګورئ پښتونولي او ځوانمردي اومېړنتوب څو اسلامي شريعت ته نژدې وي ؟

په شلمې پېړۍ کښې کمونېزم وتوکېد اسلام يې مخې ته ودرېد قران پاك ثابت و. حديث او اجماع امت .

بيا دا نور له کومه شول ؟ تبليغ او تعصب يو ځای شول حال دا ،چې ښتن تعالی پکتانو ته مخکې له مخکې هدايت کړی دی په دې اعتراض څله کېږي ؟

مونږ پښتانه شريعت او خپل دستور لرو ديوانو او شيطانانو سره زمونږ جګړه ده ، دا مو دستور دی . امن ملك کوډاخېل ويل : وطن مور ده مور چا ته څوك نه پرېږدي ؟

دا خبره مې له ده د مرګ په کټ کښې واورېده ،چې دستور و دا مهال روسان افغانستان ته راغلي و زمونږ خپل افغانان پښتانه ګل ګل ورته ګډېدل ګرم شه لاګرم شه ای د ازادۍ لمره کمونستي يې کولې خپل عزيزان يې د روسانو په چړو حلال کړل .

بيا د امريکې ناټو اتحاد په اروپا بيا هغه انګريز دی . بې ايمانه بې دستوره افغانان بيا په نڅا خولې شول .

يوه ورځ پاپا غلام د تفکر په سمندر کښې ډوب و . بيا يې وويل : زما نه بدله شوې هغه ،چې د وطن خاوره په خپلو وينو ساتي هغه ته مرتجع وايي او د وطن دښمن يې بولي او هغه ،چې خپل وطن په شرابو خرڅوي هغه د وطن دوست دی

# تاریخي سوالو او ځوابونه

نن ،چې د ۱۳۸۳ لمریز کال د تلې د میاشتې اوه لسمه ده ګران خلیل جان قتیل زوی لیك او د ورځ مجله راورسېدله ۲۵ ګڼه مجله وه ،چې ډېره ناوخته راورسېده .
ډېره موده په دې فکر کښې وم ،چې په هغو سوالونو پوه شم کوم ،چې افغان نوي ځوانانو سره دي . دا سوالونه د افغان تاریخ په برخه کښې دي او دا چار خلیل جان وکړ ،چې سوالونه یې مطرح کړل .

**لومړی سوال :** زما د ژوند او هلو ځلو په باب و. لنډ ځواب یې داسې دی

**ځواب :** د ۱۳۱۰ لمریز کال د تلې په لسمه د آهنګریو کوڅه کښې زېږېدلی یم ، آهنګري دا مهال یوه کوڅه وه د بالاحصار په خوا کښې حقیقت دا و ،چې د امپراتور تیمورشاه (۱۱۵۱ لمریز) په زمانه کښې دلته دولتي آهنګر خانه وه . زمونږ کور ته نژدې لاهوري دروازه دغه ځای یو تجارتي مرکز و .
د لاهور او کابل تر منځ د بالاحصار او شاوخوا ډونډوبی و ، همدلته د هغو افغانانو هډونه مې لیدلي ،چې سر پر سر اچول شوي و او دا د افغان انګلیس د دوهمې جګړې له وخته و ، کله ،چې خاوره ډنډوبی ته تویه شوې وه . دا هډونه او ککري راوتلې وې .
زما کار د ائیني له جریدې پیل شو کله ،چې شاه محمود خان صدر اعظم و ، ۱۳۳۰ لمریز ، دفتر ته شاعران او لیکوالان راتلل ، ملنګ جان هم راغلی و . ما لس کاله د نجات ښوونځی ویلي و ،چې دلته مې کار کاوه. وروسته د پامیر جریدې ته لاړم او د اقتصاد د جریدې مرستیال وم ،چې محمد داود صدر اعظم شو . بیا مې څلور کاله ژورنالیزم کورس ولوست او د رحمان بابا لومړی جایزه مې واخیسته د سرې میاشتې د تبغلیغاتو مدیر وم. ۱۳۴۰ لمریزکښې ایران ته لاړم او هلته مې د تهران اصفهان شیراز موزیمونه وکتل . د ایران ( قزوین) کښې زلزله شوې وه د افغان سرې میاشتې له خوا مو دوې الوتکې مال او درمل پنځه ویشت زره ډالره نغدې مرستې د ایران زلزلې ځپلو ته یورې . یو وخت دا فکر راپېدا شوي ،چې یو شمېر ځوانان دې په ښه صورت د پښتو درس ورکړې . مامورینو او ښوونځي ته اوه لس کاله مې د کار په څنګ کښې دا کار کاوه .

**۱۳۴۵** لمریز د افغان ملت د جریدې مسوول مدیر شوم ، دوه یمه مطبوعاتي جایزه مې هم واخسته . دوه پلا اخبار مصادر شو او محاکمې ته لاړم د کمونستي حکومت په مهال اتلس میاشتې بندي وم . اوه کاله پېښور کښې وم بیا ورو ورو کلونه ډېربدل امریکې ته راغلم . د ملګرو ملتو له خوا په یوه لیک کښې ولیکل شول ،چې کابل کښې بندي و دلته تعقیب لاندې دی . په همدغه حال ځلور اویا کلو ته وختم خدای تعالی دې خېر پېښ کړي .

په ۱۳۴۰ لمریز کښې مې ایران ته د افغان سرې میاشتې مرستې ورسولې ،هلته مې لیکوال علي دشتي او شاعر رهي معیري سره بحثونه وکړل ، دا بحثونه د پښتو د ژبې په باب و .

په ۱۳۵۰ لمریز کښې د بنګله دېش بین المللي کنفرانس ته لاړم ،چې هلته سوله راشي . په کلکتې کښې مې د مهاجرو کمپونه وکتل . په ۱۳۶۰ لمریز پېښور ته راغلم او په خپله راشن ته کښېناستم . دا وې لنډې هلې ځلې

**تاریخي سوال** : د تاریخي او جغرافیوي موجودیت له مخې فکر کوم پر مونږ لومړني یرغل اوسني ایران یا پخواني پارس کړی ، د پارس د "مدیا" او د "ماد" د تشکیلاتو او بیا وروسته د هخامنشیانو د پېدا کېدو او پر افغان ټاټوبي د دوی یرغل په هکله معلومات ؟

**ځواب** : په نړۍ کښې نامتو تاریخ لیکوال یو جرمني شپنګلر او بل آرنولډ ټاین بي انګلیس دی ، دواړه ډېر غټ تاریخونه لري ،چې پنځلس زره مخه هر یو کېږي . هغوی وایي .

مدنیت له افغانستان څخه پېل شوی . بیا لویدیځ او جنوب ته رسېدلی . سور د سند سیمه یا اباسین . آمو . باکتر . هیر مند ساك . د لویدیځ مدنیتونه له همدغو درې مدنیتو دوام بولي . څنګه ،چې هغه درې مدنیته له منځه تللي د لویدیځ مدنیت هم له مینځه تلونی دی .

ماد . پارت . هخامنشي . ساسان . متاني . اور . کاسي ،هاتیك . سومري . ټوله هماغه یو سر لري . ژبه . هځوب . او . آر یې یو دی .

د هېرودت د تاريخ لـه مخې " پاكتين " په شمالي او جنوبي كښې يو خلك دي ، پاكتيا Pacticia يو هېواد بولي Pactica Country او د ساكو نه Scythia سكيتيا وايي ، د اريوش ،چې د دوی هېواد ته راغی هلته ووژل شو ، كوروش هلته ماته وخوړه.
دريېم د ساسانيانو پادشاه فېروز يفتليانو وواژه .
په شمال باكتر ، سكتيا ، پاكتيسيا ، ټول تاريخ كښې خپلواك و ، كه څينو يې څنې سوغاتونه لېږل هغه په ښو مناسباتو كښې و .
د افغانستان په تاريخ كښې روښانه دورې ډېرې دي . غليمان ،چې هندو اروپايي وايي دا غلطه خبره ده . څكه هند هند دی او اروپا اروپا ده . د هند او اروپا ترمينځ ډېره لويه څمكه پاتې ده . زمونږ ليكوال هم دغه غلطه اصطلاح ليكي . هخامنشيانو يرغلونه كړي خو مات شوي دي . هېرودت په تاريخ د د غو جګړو يادونه كوي او بشپړ تفصيل ليكي .
د نړۍ لرغونی فيلسوف زردښت و او هغه سوري و او په بلخ يا باكتر كښې و . غرغښت او زردښت سره نژدې دي . كېدای شي يو وي .
اوستا ، ويدا دده د زمانې دي ،چې تر اوسه يو څه شته او پاتې دي . پښتانه تل و ، او شته د پښتنو تاريخ تر دې ،چې مونږ فكر كوو ، كه د پښتنو تاريخ په څېر وكتل شي چېرته چېرته راپورته كېږي . د مثال په توګه په اوسني افغانستان كښې يې لـه دولسمې پېړۍ تر شپاړسمې پېړۍ پورې يې اقتدار نه درلود په همدغه مهال غوريان ، غلځيان ، لوديان او سوريان په هند كښې پادشاهان و
كاسيانو شپږ پېړۍ په بابل كښې پادشاهي كړه ده ، مخكې لـه ميلاده اتلسمه پېړۍ اوسني تركيې كښې هوتكو او لوديانو پادشاهي كړه ده ، په اتلسمې پېړۍ كښې ازاد خان په آذربايجان او سرخاني خان په داغستان كښې پادشاهان و ، ازاد خان په اصفهان كښې د ازاد شاه په نامه سكه ووهله ، د هغې سكې سجع :

تاكه ازاد در جهان است
صاحب سكهء زمان است

( د اصفهان موزيم )

پښتانه اوس خراب دي داسې هېڅكله نه و .

**تاریخي سوال :** د پښتنو حکومت دمیرویس نیکه په تدبیر جوړ شو ولې له سیاسي بحران سره مخامخ شو ؟

**تاریخي ځواب :** له دولسمې پېړۍ تر شپاړسمې پېړۍ بیا تر اوه لسمې پېړۍ پورې افغانستان په تاریخي اتلسو کښې نه لیدل کېږي . د اوه لسمې پېړۍ په دوم نیمایي کښې یو ځای په نقشه کښې ښکاري لاندې یې لیکلي قندهار . بیا یې لیکلي دلته د هند مغلي دولت او ایران صفوي دولت هڅه کوي ،چې له ځان سره یې یو ځای کړي ، اوکله د یوه لاس او کله د بل لاس ته ورځي .

په ۱۷۰۹ میرویس نیکه دغه کرښې لیرې کړې خپلواکي یې اعلان کړه ، مخکې له دې نه د ختیځ افغانستان پښتنو د هند مغلي دولت کمزوری کړی و

د ۱۷۲۲ م کال د اکتوبر په میاشت اعلحضرت فاتح شاه محمود هوتك اصفهان ته ننوت اصفهان ته نژدې په میاشت په هزار جریب کښې د هالنډ ، انګلیستان ، ډنمارك ، پرتګال ، فرانسې ، تجارتي ، نماینده ګانو ولاړ و ، چې د بریالي شاه محمود هر کلی وکړي . کله ،چې افغان پادشاه د دوی له مخې تېریدی دغو اروپایانو ، خپلې خولۍ . له سره ایسته کړې . سرونه یې ټیټ کړل او اعلحضرت شاه محمود ته یې تعظیم وکړ .

اعلحضرت شاه محمود هوتك اروپایان دلومړي ځل دپاره ولیدل . بحران دا و ،چې هر یوه اروپایي دولت غوښتل د ایران یوه برخه ونیسي روسیه او ترکیې ایران کښې ډېرې ځمکې نیولې وې ؛نو دغه ټولو هېوادو د افغانانو مخه نیوله تبلیغات یې کول خلك یې لمسول . نظامي مشاوران یې لېږلي توپونه یې ورکول . د ایران خلك یې شراب او فحشا ته بلل ...

د ایران عام خلك ،چې مسلمانان و د اعلحضرت شاه محمود او اعلحضرت شاه اشرف پلویان و او که داسې نه وای . شاه محمود هوتك سره له شپاړلسو زرو عسکرو ډېر نه و ، دی نه ډېر عسکر د ایران په هر ولایت کښې و . لویه امپراتوري وه اعلحضرت شاه محمود افغان یوه منظمه تبلیغاتي کارګاه درلوده ، چې ټول ایران دده په ایمان خبر و ، ددغو ټولو مسایلو اسناد راسره شته .

کوم بحران ،چې په اتلسمې پېړۍ کښې افغانانو ته په ایران کښې پېښ و ، یوه یوویشتمې پېړۍ کښې افغانستان ته راغی . ځکه مونږ هغه نه و . مطالعه کړی سخت ، په غفلت کښې و ،اروپایي کلتور مو خوښېده د هغوی وحشت مو مدنیت باله .

اعلحضرت شاه اشرف ۱۷۲۹ م نادر افشار سره په جگړه و . د هرات له ابداليانو يې مرسته وغوښته هغوی مرسته ونه کړه ، د ابدالي غلځي خبره وه په قندهار کښې غلځيانو مرسته ونه کړه .خو کله .چې نادر افشار شاه اشرف مات کړ . لومړی يې د هرات ابداليان وغورځول بيا يې د قندهار غلځيانو ته دا داسې يوسبق و .چې بويه زده کړي مو وای نن که په هلمند او زابلکې دحکومتي عسکرو او طالبانو جګړې وې دواړه خواووته پښتانه وژل کيږي په دې توپير .چې يو به ابدالي وي بل به غلځي .
په اتلسمه پيړۍ کښې يعني د هوتکو په مهال ترکيې . روسيې او اروپايانو سره په هر مرکز کښې جګړې وشوې . روسانو . ترکانو او اروپايانو ته ماته ورکړه .
په دې کښې د اعلحضرت شاه اشرف عسکرو او جنګي سامان لږ شو که پښتانه هوښياران وای او په راتلونې حالاتو پوهيدای شاه اشرف سره به دريدلي وای . لږ هوښياري او لږ غيرت په کار و .

**تاريخي سوال** : احمد شاه بابا ولې بريالی نه شو .چې په خپل وخت د پښتنو د فرهنګي نشتوالي جنده پورته کړي ؟ په داسې حال کښې .چې تقريباً په اسيا کښې يې حاکميت منل شوی و .

**تاريخي ځواب** : اعلحضرت احمدشاه بابا يو پښتنی دولت په افغان اصولو جوړ کړ ، دی عادل عالم او زړه ور سړی و د احمد شاه بابا هر څه پښتني و . په پښتو ژبې يې ديوان و ښه شاعر او اديب و .
د پښتو ژبه تر هغه مهال پورې دملي هويت برخه نه وه دغې مسالې په نولسمې پيړۍ کښې زور واخست .چې اروپايي هېوادو کښې د ژبې موضوع د ملي هويت برخه شوه . خکه ټولو اروپايي هېوادو په اسيا . افريقا او امريکا کښې سيمې ونيولې او هر يوه خپله ژبه پالله انګليسي . فرانسوي . اسپانوي . جرمني . ډنمارکي . هالنډي . پرتګالي . اوس په کاناډا کښې د انګليسي او فرانسوي ژبې دي . د امريکې د متحده ايالاتو ژبه انګليسي ده . جنوبي امريکې کښې ډېره اسپانوي ده . افريقې کښې هم داسې وه اسيا کښې ډېره فارسي وه لکه ماورالنهر . ترکيه . ايران . هندوستان . افغانستان .خوکله .چې ژبه د ملي هويت څنډه شوه هند کښې هندي . ترکيې کښې ترکي . ازبکي . ترکمني . پوازې افغانستان کښې داسې ونه شول .

کله ،چې ایران فارسي خپله ژبه کړه په افغانستان کښې ظاهر شاه پاچا و ، محمد ګل خان مومند همدا وویل ،چې دافغانستان رسمي ژبه دې هم پښتو شي دا وخت وویل شو ،چې لومړۍ دې مامورینو ته پښتو وښودله شي ، ښوونکي دې برابر شي بیا دې پښتو شي ، تر اوسه هغه ونه شو. کمونستانو د پښتو درس یو تېعیض وباله هغه یې لغوه کړ . د ژبې موضوع زمونږ د عصر خنډه ده دا زمونږ کار دی ، د احمد شاه بابا په مهال دې خبرې دغه اهمیت ،چې اوس یې لرې نه درلود .

## فارسي ژبه او پښتانه

فارسي ژبه او دغه اصطلاح په اسلامي دوره کښې پېدا شوې ده ، دري ژبه که تر فارسي لرغوني نه وي په یوه مهال کښې ده کېدای شي پخواني هم وي ځکه په ډېرو لومړنیو اشعارو کښې راغلې ده .

کجا بیور از پهلواني شمار بود بر زبان دري ده هزار

فارسي که له پارس نه وبولو ،چې هغه د ایران جنوبي برخه ده نو دغه اصطلاح له دې پېدا شوې ده ،چې حضرت سلمان فارس د فارس و . څنګه ،چې دی د فارس و په کومې ژبې ،چې ده خبرې کولې عربو هغه فارسي وبلله .

پښتو فارسي د حضرت سلمان په خاطر ،چې صحابي و ښه بلله او دا ،چې د یوه اصحاب په ژبه خبرې وکړې ډېر پښتانه مشران فارسي اشعار لري لکه خوشحال خان . احمد شاه بابا ...

رحمان بابا په فارسي ادب پوه و او سم پوه و .

مخکې مو وویل فارسي د یوې اسلامي عقیدې له مخې په ماورالنهر ، هند ،استانبول کښې رسمي وه په افغانستان کښې د عربي پر ځای راغله کنه دلته به ژبه عربي شوې وه لکه مصر . سوریه. عراق کښې د فارسي د ژبې ډېر لوی شاعران لکه فرخي سیستاني ، او خاقاني پښتانه دي .

اوس خبره د ملي هویت ده او د فرهنګي تري مخه نیول د هر افغان کار دی که په ټکي پښتو پوه نه وي مګر د ایران د کلتور د مخنیوي دپاره له تاجکستان سره ژبني پوله ، همدغه پښتو ده ،چې ملي استقلال او ملي هویت ساتي .

دې ته د چا پام نه و ،چې فارسي د یوه مبارك شخصیت له کبله اعتبار درلود . هر مسلمان د اسلام دمشرانو لاره خوښوي ،خو له دې عقیدې نه ایران سیاسي ګټه واخیسته

او افغانستان دفاعي حالت غوره نه کړ . چې پښتو ملي او رسمي ژبه کړې وای ،چې يو ضرورت دی نه يو تعصب د کلتور ، خپلواکۍ ساتلو دپاره . حتا خوشحال خان وايي :چې په فارسي مې اشعار ويلې او په پښتو مې ژبه هم درغلېږي .

پښتو د مدنيت ژبه ده هر څوك ،چې په پښتو پوهېږي په تاريخ کښې په مسايلو پوهېدای شي ،ځکه پښتو سره پښتونولي هم ده .

د فارسي ژبې دپاره پښتنو پادشاهانو لويې لغت نامې ليکلې دي . فارسي ژبه په ساکستان ( سيستان) کښې وزېږېدله په غزني کښې يې وده وکړه .

له دې بحث نه مطلوب دا دی ،چې ژبه وروسته د ملي هويت برخه شوه د پښتو د پاللو چار زمونږ په غاړه دی .

**تاريخي سوال** : د افغانستان پادشاهانو مېرمنې د بېلو قومي مشرانو له کورنيو څخه وې ،چې په لومړي سر کښې ددولت د ټينګېدو دپاره و ،وروسته د بحران سبب کېده . کله ،چې امپراتور تېمور شاه ومړ ، دده زوی شاه زمان په کابل کښې د سلطنت چارې پر مخ بېولې . همدغه مهال دتېمور شاه هر يوه په يوه دليل خان د پادشاهۍ وړ باله . شاه زمان که څه هم کشر و ،وړ سړی و مګر د ده بل ورور شاه محمود سدوزی د وزير فتح خان د خور زوی و . همايون تر ده مشر و .

وروسته له پاچا د لوی وزير مقام و ، په هغه ډېرې خبرې وې . د شاه زمان لوی وزير فتح رحمت الله خان ،چې وفادار خان لقب يې درلوده و . حقيقت کښې سردار پاينده خان وړ سړی و ،چې لوی وزير وای . ددغه بحران په نتيجه کښې په داخل کښې لوی بحران و .

اعلحضرت شاه زمان غوښتل بيا هند ته لاړ شي انګليسانو وويل د شاه زمان مخه په کورني نفاق نيول کېږي . که دا نه وي شازمان په يوازې صورت انګليسانو له هند نه ايستلی شي . ۱۸۰۰ م نه وروسته انګليسانو بل مهم قدم پورته کړ ،چې له ايران سره يې يو تړون وکړ ،چې د هغه تړون مهمه فقره دا وه :

" که شاه زمان د ايران په خوا خوځېږي انګليسان به په ختيځ افغان ولاياتو باندې حمله وکړي که چېرې شاه زمان د هند په لور حمله وکړي ايران به پر لويديځ افغان ولاياتو بريد کوي ."

ACKU

په داسې حالاتو کښې افغانستان سم تر درونډ دباو لاندې راغی. شاه زمان د لاهور او مشهد تر مينځ په منډو ستړی شو، وزير فتح خان او د هغه د لاس آله شاه محمود سدوزي دوه پلا پادشاهي ونيوله او د شاه زمان سترګې يې ړندې کړې.
وزير فتح خان په داسې مهال، چې لس روپۍ د يوه عسکر تنخوا وه. اته ميليونه روپۍ يې په دغو وران کارو ولګولې لکه اوس، چې مليار دونه ډالر ولګېدل څو طالبان ووهل شول. څو تاريخي مطالعه ډېره نه شي د افغانستان جوړېدل ډېر مهال نه شي کېدای.
تاريخي سوال: د سېد جمال الدين افغان د پروګرام په هکله واياست او د امير شېر علي خان د ملي حاکميت بحران څه و. دا که د روس او انګليس لوبه وه که په هېواد کښې دمېشتو اقليتو اړيکې؟
تاريخي ځواب: لومړی سيد جمال الدين افغان و په دې کښې سوال نشته. دا، چې ايراني ليکوالو هغه ايرانی باله او افغان ليکوال افغان دا خبره پاينا ب کښې د ايران د تهران د پوهنتون په يوې نشريې کښې غوڅه شوه، چې سيد جمال الدين افغان لکه سپوږمۍ ده، چې له ختيځ ( افغانستان پورته شوه او لويديځ کښې روښانه شوه :نو د ټولو دی.
مګر په خپرونو کښې د سيد جمال الدين افغان په خپل ليکاني ليکل شوي دغه جمله د فوتوکاپي په څېر چاپ شوه او هغه دغه عربي جمله ده:

من سکنت کابل من اهالي الافغان
السيد جمال اين من سادات کنر

دغه مطلب د العروة الوثقی په مجله کښې ۱۹۹۰ کښې خپور شو، او په همدې فيصله وشوه نو بحث ته اړه نه لري.
امير دوست محمد، چې کوم تړون له انګليسانو سره لاسليک کړی و په هغه کښې راغلي و، چې د انګليس دښمن د افغانستان دښمن دی، د انګليس دوست دافغان دوست دی، کله، چې امير شېر علي خان هند ته لاړ انګلسانو څخه يې وغوښتل، چې دغه جمله يا ماده دې داسې تعديل کړي.
د انګليس دښمن د افغانستان اوانګليستان دښمن او د انګليس دوست د افغانستان او انګلبس دوست دی. انګليسانو دغه تعديل، چې لږ تر پخواني مادې ښه وه ونه مانه

کله ،چې امیر شیر علي خان له انګلیسانو خواشیني شو روسیې سفیر ده ته راغی امیر شیر علي خان په دې هم خواشیني و ،چې انګلیسانو د افغانستان د سیستان یوه برخه ایران ته ورکړه . انګلیسانو د هغه په بدل کښې شیر علي خان ته اتلس لکه روپۍ ورکړې . د سید جمال الدین افغان شته والی ، انګلیس نه خوښاوه او پروګرامو سره ،چې په غربي صورت و دوی هم خوښاوه .

جرجي زیدان یو نامتو لیکوال وایي : " ما څو ځله سید جمال الدین افغان ولید ده په خپل افغانولي ویاړ کاو "

د سید جمال الدین افغان پیغام اسلامي یووالی و . ده سلطان عبدالحمید عثماني پادشاه ته خپل پروګرام ورکړ ،چې اسلامي هېوادونه بېرته برم تر لاسه کړي د علم په برخه تر اروپا دمخه و . سید جمال الدین افغان د هر اسلامي هېواد منابع او استعدادونه په ګوته کړل په ۱۸۸۲ م دغه ترتیب سلطان عبدالحمید ته وړاندې شو سید جمال الدین افغان ته په سلطنتي ماڼۍ کښې ځای ورکړ شو .

په کال ۱۸۹۲ م کښې په پاریس کښې له فرانسوي فیلسوف ارنست رنانلد سره ملګری شو هغه ته یې دخپلو نظریاتو په باب معلومات ورکړل ،چې د هغه دتایید وړ و .

## افغان خیالات

دغه اصطلاح د احمد شاه بابا ده ،چې ده ویلي غواړم تری په افغان خیالاتو خبر کړم " افغان خیالات افغان ملي فلسفه ده مونږ ته شو کولای افغان خیالات په غربي او شرقي نظریاتو کښې ورک کړو .

د افغان خیالاتو بنیاد څلور زره کاله مخکې تر اسلام ګرشاسب بابا ایښی دی ګرشاسب بابا ویلي دي کله ،چې اسلام راشي مونږ هغه منو تر هغه به زمونږ هېواد د امن خمکه وي دروغ ،غلا ، زنا لواط دلته نشته ناحق خون حرام دی په دې هېواد کښې به ټول یو شانې په امن کښې ژوند کوي ، حلال او حرام به پېژني .

د سیستان ( ساکستان ) په تاریخ کښې د ګرشاسب هغه خبرې راغلي ،چې دی یې کوي څنګه ،چې ضحاك ( سهاك ) دده میلمه وي هغه ته توضیح ورکوي .

ګرشاسب وایي زه غواړم یو ښار ( ښار پخوا وطن ته ویل کېده ) جوړ کړم ،چې د خلکو دپاره اسانه وي یعنې یوه سیمه وه ،چې هلته ټول هوسا او بسیا وي ، که څېرې د

سیستان تاریخ ،چې لیکوال یې څرګند نه دي ملك الشعرا بهار د ایران هغه تصحیح کړي او تعلیقات یې ورباندې لیکلي :
د سیستان د تاریخ په شرح کښې نور کتابونه هم لیکل شوي د اسیا د څېړنو مرکز له هغه ډېر مطالب اخستي دي .
دغه کتاب د ساکو یا ساکزو په باب غوره معلومات لري زمونږ دپاره یوه داسې سرچینه ده ،چې د ګرشاسب په باب کوم ،چې همدغه غرغښت بابا دی او د پښتنو نیکه دی پښتونولي د یوې فلسفې په توګه له ده پاتې ده .
دا ،چې ګرشاسب وايي : څلور زره کاله وروسته حضرت محمد(ص) خپل دین څرګندوي . دا ،چې ده دغه وړاندې وینا کړې ده په خپله دده لویې ښیې مونږ ،چې مسلمانان یو اسلام زمونږ په ختیه کښې دی ښه دی ،چې یوه ایراني پوهه دغه کتاب چاپ کړی دی که کوم افغان کړی وای چا به سم او چا به ناسم باله .

## افغان ملي فلسفه :

میروېس نیکه دین ، ناموس او خپلواکي بللې ده او تر دغه رېږي ( بیرغ) لاندې یې خلك راټول کړل ،چې ټولو قومونو هغه ومانه ، په ایران کښې حتا شعیه مذهب او قزلباش راټول شول ځکه دین یو پراخ مفهوم لري ، ناموس د هر چا خوښ دی خپلواکي هر څوك غواړي .
ډېر وروسته زما پام دی فلسفې ته واوښت که نه ما به ټول عمر ورباندې څېړنه کړې اوس د ځوانانو کار دی ،چې د پردیو ایدیولوژي ګانو خپل وخت برباد نه کړي او په افغان ملي فلسفې پسې وګرځي .

د احمد شاه بابا پېژندنه

بدعت شاهان شد به عهدش بر طرف
خمر خانه با فواحش سم بیوتات قمار
کرونش را در زمان در زمان دولتش فرمود منع
چون که این فعل است مخصوص نمازردار
پوست تخت و دلق درویشي وتاج سلطنت
داشتي در عهد خود شمشیر را باسجه یار

هـــیچ کــاری را نــــمیشد مـــرتکب بــی حکــم شــرح
مـــــینمو دی احـــــــتراز اندهـــــر حــــرام آن شـــهریار
بهـــر تـــــاریخ وفــــاتش جــــان افغــــان زد رقـــم
از بـــــرای درك مطلــــب بـــر ســــبیل اختصـــــار

احمد شاه بابا هغه کارونه منع کړل چې پخواني او نورو پادشاهانو کول لکه شراب ، بدلمني او جواري د پادشاه په مخکې سر او تنه ټیټول یې منع کړل ،چې دا د لمانځه دپاره دی . احمد شاه بابا شاهي تخت او درویشي ګدې دواړه درلودل توره او تسبیح یې و . هېڅ داسې چاره یې نه کوله ،چې له شریعت سره به سم نه و او له حرامو یې ځان ساته شاعر دده د مړینې تاریخ کښې هغه د ( افغان ځان ) وباله ربښتیا ،چې د افغان ځان یا روح و . احمد شاه بابا ولی الله و او له ده ډېر خوارق لیدل شوي . د ده د عدالت ناره هرې خوا ته خپره وه او له شا او خوا هېوادو ده ته بلنه ورکول کېده اودا په تاریخ کښې ثابت دی . افغان خیالات او فلسفه داسې وه ،چې خپل او پردي منلې وه .

## د افغان لرغوني تاریخ او د هغه پېښ لیك

د افغانستان په باب تاریخي حقایق تل تت پاتې دي .

۱- دېرش زره کاله ق م کښې لومړی انسانان ،چې هوښیار شول هغوی ساپیان Sapian نومېدل هغو کرهڼه وکړه . دوی د جرګې بنیاد کښېښود د افغانستان په شمال ختیځ په سیمه کښې لـه چینو نـه خـروب کېدل . منبـع : د کتـاب نـوم The Ancient Mediterranean لرغوني مدیترانه ، لیکوال Michail Grant میخایل ګرانت ، د چاپ کال ۲۰۰۲ . د کتاب نهم مخ په یونان ، ایتالي او افغانستان کښې دغه نښې وموندل شوې .

Homo Sapian sapiens, modern man as handsome and as wise as us.

په دیارلسم مخ کښې :

If, as seems probable, Afghanistan was their original home.

۲- څلور زره کاله دمخه سوریانو په لوی افغانستان کښې لومړی ښاري مدنیت اوژړ فلز په کارول پیل کړل د اباسین په حوزه کښې .

۳- همدغه مهال د سوريانو په نامه د لمر رب النوع د عاج مجسمې جوړېدلې د کابل په خېر خانه کښې د سوريانو د عاجو يوه مجسمه وموندل شوه او کابل موزيم ته وسپارله شوه .
۴- درې زره پنځه سوه کاله مخکې تر ميلاده سومري مدنيت له اباسين تر بين النهرين ( دجله او فرات ) پورې رسېدلې وه .

Historical Atlas A- Map

۵- پنځه سوه کاله مخکې تر ميلاده د ساکو په مرسته د هخامنشانو امپراتوري جوړه .
۶- د ماد يا ميديا له باکتره تر ليديا پورې وده وکړ . ليديا ، لوديا هم بلل کېږي .
۷- په پنځمې پېړۍ مخکې له ميلاده کوروش د ساکو د يوې قبيلې له خوا ،چې مساګېت نومېده په شمالي افغانستان کښې ووژل شو .
۸- دوه سوه پنځوس او دوه سوه مخکې تر ميلاده يو بل حالت و داسې ،چې په افغانستان کښې د باکتر پادشاهي په هند کښې موريا کورني ، پارتيا کښې سلوکېد پارس کښې و .
۹- سل کال وروسته تر ميلاده د کوچيانيانو لويه امپراتوري جوړه شوه ،چې کوشانيان هم ليکل کېږي او اورال تر ګنګاپورې او کاشغره تر پارتانيا پورې غځېدلې وه .
۱۰- دا مهال په نړۍ کښې څلور امپراتورۍ وې چين . کوچيان ،پارتيا او روم د دوی تر مينځ ښې اړيکې اوتجارت و .
۱۱- څلور سوه کاله وروسته له ميلاده افغانستان کښې کوچيانيان ( کوشانيان ) هند کښې کوپتا پارس کښې ساسانيان اروپا کښې روميان غښتلي و .
۱۲- په درې سوه شپېته ميلادي کښې په افغانستان د يفتليانو لوی دولت و .
۱۳- د درې سوه شپېته ميلادي کال په شا او خوا کښې پېروز ساساني پادشاه له اخشنوار يفتلي پادشاه سره جګړه وکړه . خو په دې جګړه کښې مات شول . فېروز او څلور ورونه يې ووژل شول خراسان يفتليانو ونيوه . د فېروز خزانه او جنګي سامان يفتليانو ته په لاس ورغی .
۱۴- پنځه سوه ميلادي کښې يفتليانو شمالي هند . افغانستان . خراسان او ماورالنهر کښې لويه ستره واکمني جوړه کړه .
۱۵- په شپږ سوه اووه ويشت ميلادي کښې اسلامي نړۍ پراخېدله .

۱۶- په شپږ سوه پنځه پنځوس میلادي اسلام لوی افغانستان ته ورسېد .
۱۷- په اته سوه شپېتم میلادي کال کښې په ساکستان ( سیستان ) کښې ساکزو د یعقوب صفار تر مشرۍ لاندې لوی افغانستان جوړ کړ . خراسان او پارس یې ونیو او پر بغداد یې حمله وکړه ،خو د دجلې پر څنډویې ماته وخوړه .
۱۸- په نه سوه شپېتم کښې غزنویانو او زابلیانو د کسپین د بحیرې تر ګنګا بیا کاشغر او چین پورې یې د افغانستان امپراتوري جوړه کړه . د غزنویانو یا زابلیانو مشران عادل امیر سبکتګین ،امین الدوله محمود او نور ...
۱۹- په یوولس سوه یو څلوېښت م غوریانو ،چې سوریان لویه واکمني جوړه کړه مشران سلطان غیاث الدین سام ، سلطان محمد سام و . افغانستان ، هند او ایران کښې د خرز هېوادونه له دوی سره و .
۲۰- په دوه سوه دوه ویشت م کښې چنګېز وخوځېدل شمال افغانستان مرکزي افغانستان او نور هېوادونه یې ویجاړ کړل .
۲۱- په دوه سوه نوي م کښې فېروز شاه غلځي د هند پادشاه و و دغه لړۍ روانه وه .
۲۲- سلطان بهلول لودي سکندر لودي . ابراهیم لودي اویا کاله هند ودان کړ .
۲۳- ۱۵۲۶م بابر ،چې ظهیرالدین نومېده له سلطان ابراهیم لودي نه ډهلي ونیو د پښتنو د ناپوهۍ او نفاق له کبله .
۲۴- ۱۵۴۰م کښې شېر شاه سوري هغه پادشاهي ،چې له پښتنو پاتې وه بېرته تر لاسه کړه .
۲۵- شېرشاه سوري څلورو کلو کښې په هند ډاګ ،لارې او اداري اصول سم کړل . په ۱۵۴۵م کښې وفات اوهندوستان تر نولسمې پېړۍ د هغه په اصولو چلېده .
۲۶- په ۱۵۵۵ پنځه لس سوه پنځه پنځوس کښې همایون د بابر زوی ،چې د ایران د صفوي پادشاه په مرسته بېرته راغلی و مړ شو .
۲۷- ۱۵۷۲م پښتانه د پیر روښان تر مشرۍ لاندې پاڅېدل او دهند مغلي دولت سره یې جګړې وکړې د پښتنو ډېرې سیمې یې خپلواکې کړې .
۲۸- په ۱۶۶۸م کښې ایمل خان مومند د ایمل شاه په نامه خېبر کښې سکه ووهله . خوشحال خان او ایمل خان او دریا خان او رنګ زیب د هند مغلي پادشاه ته پاڅېدلي و

۲۹- په ۱۶۷۵م کښې خوشحال ايمل او درياخان په خاپښ اوتاتره کښې څلوېښت زره مغلي عسکر ووژل. خوشحال خان وويل:

پښتنــو زلميــو بيــا مــنګلې ســرې کــړې
لکه باز چې منګلې سرې کړي پر خپل ښکار
ســپينې تــورې يــې ګلګــونې کــړې پــه وينــو
که پــــه آړ کــــښې شــــګفـته شول لاله زار

۳۰- په ۱۷۰۷م کښې پښتنو په اتفاق توفيق وموند ميرويس نيکه دصفوي دولت والي په قندهار کښې مړ کړ او قندهار خپلواك شو.
۳۱- په ۱۷۱۰م کښې ميرويس نيکه قندهار ته نژدې دپارسي سپه سالار پنځه ويشت زره عسکر ووژل او خپلواکي يې ټينګه کړه.
۳۲- اعلحضرت شاه محمود هوتك د ۱۷۲۲ د اکتوبر په دوه ويشتمه په داسې حال کښې، چې د ايران شاهي تاج يې پر سر اېښې و اصفهان ته ننوت.
۳۳- په همدغه ورځ اصفهان ته نژدې هزار جريب کښې هالنډيان، انګليسان، فرانسويان، پرتګاليان په ليکه کښې ولاړ و، چې هغه زلمي فاتح يعنی شاه محمود افغان وګوري دوی خولی ګانې له سره اېسته کړې او د ځان له ټيټولو سره يې دافغان فاتح تعظيم وکړ.
۳۴- کله، چې اعلحضرت فقير مشرب شاه محمود هوتك ۱۷۲۲- د اکتوبر ۲۲ ښار ته نژدې په زرهاو خلك د ده ليدو او هرکې ته ولاړ و. افغان فاتح د ايران شاهي تاج له سره اېسته او خپله پګړۍ يې پر سر کړه دا کار ده ددې دپاره وکړ، چې د ايران خلك د ډېرې کمی احساس ونکړي او خپله دبدبه لږه کړي. خپله لويي وښودله، چې دی غرور نه لري

۳۵- اعلحضرت شاه محمود افغان د رياضت او تقوی له کبله کمزوری و. عبادت او وچه ډوډۍ د ۱۷۲۵ له اتو کلو پادشاهي وفات شو.

## شاه اشرف

۳۶- د ۱۷۲۵ د اپرېل په ۲۵ د افغان فاتح شاه محمود پوښتنې ته راغی، درې ورځې يې ورسره تېرې کړې.

۳۷- اعلحضرت شاه اشرف د مشرانو له خود د پادشاه په توګه وټاکل شو .
۳۸- د ۱۷۲۵ د مارچ په ۲۷ شاه محمود افغان امر کړی و ،چې د خلکو مالونه او جایدادونه دې بېرته خپلو خاوندانو ته ورکړل شي . دغه امر په بشپړ هتوګه عملي شو
۳۹- د ۱۷۲۶ م د نومبر په اتمه د عثماني ترکانو دوه لکه عسکر ،چې مشر یې احمد شا بابا و ، د اعلحضرت شاه اشرف هوتك په مشرۍ او قومانده مات شو او د هغوی دېرش عسکر یې ووژل د هغوی توپخانه او بیرغونه او ډېر مالونه یې تر لاسه کړل
۴۰- اعلحضرت شاه اشرف د هغوی توپخانه او مالونه بېرته ورکړل ،چې مونږ د مسلمانانو مال حلال نه بولو .
۴۱- د ۱۷۲۶ د نومبر په اتلسمه بریالی پادشاه اعلحضرت شاه اشرف په ډېر برم او شوکت اصفهان ته بېرته راغی د افغانانو . ایرانیانو او اروپایانو له خوا د هغه تود هر کلی وشو .
۴۲- د ۱۷۲۷ په اوړي سپه سالار سیدال خان ناسر د اعلحضرت شاه اشرف له خوا رودسر او قزوین ته د روسانو مقابلې ته ولېږل شو . سیدال خان ناصر مارشال لوانف روسي زاري مارشال ته ماته ورکړه او روسان یې د خزر له کوزې خوا واپستل
۴۳- ۱۷۴۷ د جولای په پنځمه لسمه ولی الله احمد شاه بابا د لویې جرګې له خوا د غنمو وږی د افغانستان د پادشاهي تاج په توګه په سر کېښود .
۴۴- د همدغه کال ۱۷۴۷ په پای کښې احمد شاه بابا تر لاهور ورسېد .
۴۵- ۱۷۷۲ د اکتوبر په ۲۳ احمد شاه بابا ،چې لوی افغانستان تامین کړ له سبزواره ،چې نږدې تهران ته دی تر اګرې پورې او له امو تر عربي بحیرې پورې ستره واکمني جوړه کړه چې وروسته وفات.شو
۴۶- ۱۷۷۲ په ۲۳ د اکتوبر اعلحضرت تېمور شاه پادشاه شو
۴۷- امپراتور تېمور شاه یوویشت کاله ستره واکمني وساتله د ۱۷۹۳ د مې په ۱۹ وفات شو .
۴۸- د اعلحضرت تېمور شاه له وفات وروسته دده ځوی اعلحضرت شاه زمان پادشاه شو
۴۹- ۱۷۷۹ م کښې اعلحضرت شاه زمان غوښتل ،چې انګلیسان له هند څخه وشړي .

۵۰- د هند مسلمانانو له اعلحضرت شاه زمان څخه وغوښتل ،چې هند ته راشي د بنګال او میسور استاذي دده حضور ته راغلل ، انګلیسانو له ایران او رنجیت سره دا خبره غوټه کړه ،چې شاه زمان د مشهد او لاهور تر منځ سرګردانه وساتي .
۵۱- ۱۸۴۲م د انګلیس سره جګړه او د انګلیسانو ویستل .
۵۲- ۱۸۷۹م – د افغان انګلیس دوه همه جګړه بیا هم انګلیسان ووتل .
۵۳- په ۱۹۱۹م د افغان انګلیس درېیمه جګړه او د افغانستان سیاسي خپلواکۍ منل
۵۴- په ۱۹۷۹م د افغان روس جګړه .
۵۵- په ۱۹۸۹م د روسانو وتل وروسته له لسو کلو جهاد د روسانو او کمونېزم ماته .
۵۶- په ۱۹۹۲م د تاجکو ، ازبکو ، هزاره ، او پرچمیانو جوړښت او د دوی ناتوانه حکومت .
۵۷- ۱۹۹۴ د طالبانو خوځښت له قندهاره .
۵۸- ۱۹۹۶ طالبانو کابل ونیو .
۵۹- په ۲۰۰۱ م ۱۷ اکتوبر د امریکي او د هغه ملګرو هېوادو لـه هوا او ځمکې حمله وکړه ، پر جګړې او وچ کالۍ ځپلي افغانستان باندې .

په دغه لنډو تاریخي پېښو لیکلو کښې له دغو کتابو او اتلسو معلومات اخستل شوي .


۱. د هېرودت دتاریخ انګلیسي او فارسي متن .
۲. د هالنډي شرکت ورځني یاداشتونه ،چې په دوو ټوکو کښې چاپ شوی دی .
۳. لرغوني مدیترانه د میخایل ګرانت لیکنه .
۴. ځمکه د بشر مور آرنولډ تاین بي .
۵. تاریخ احمدشاهي محمود الحسن .
۶. دسیستان تاریخ تعلیقات ملك الشعرا بهار
۷. Life and society in Hittite world Trevor Bryce (Oxford)
۸. څنګه ساه کانو جهان جوړ کړ . How the Scots Invented the Modern World
۹. The Encyclopedia of world history لیکوال Peter N.Stearns شپږم چاپ.
۱۰. د لرغوني پېړۍ اتلس The Atlas of the Ancient world لیکوال Margaret Olyphant .
۱۱. د نړۍ تاریخي اتلس History Atlas of world .

۱۲ طبقات ناصر منهاج السراج
۱۳ بهقي تاريخ
۱۴ ګرديزی تاريخ

## ناسم تکي په تاريخ کښې

۱. ساکستان اصلي نوم ،چې د ساکانو وطن دی د هغه سيستان بلل سم نه دي
۲. اندو اروپايي ناسم دی ، ځکه په دې کښې مطلوب هند او اروپا څخه دی ، د لوی افغانستان سيمه ده ،چېرته لـه هغه ځايه اريايان هند او اروپا تـه تللي ، تاريخ پوهان اوس اريايي ژبه يا سانسکرېت يادوي

پښتانه څنګه ،چې د هند لـه لوري تللي همداسې د ايران په لوري هم تللي دي لکه ، بنګښ ، شېرواني ، دوتاني ، الکوزي ... الکوزي لکزي شوي دي ،چې اوس ډېر شمېر هلته شته ، سرخاني خان د داغستان مشر و لکه ،چې آزاد خان د اذربايجان مشر و نن داغستان او آذربايجان دواړه دوه بېل هېوادونه دي

دلته د تاريخ منظم ناصري نه يو مطلب را اخلم تاسو هغه ولولئ او فکر وربانديې وکړئ
۱۰۳۸ مخ

## کيفيت احوال افاغنه و ظهور دولت ايشان

" نقل کرده اند که طوايف افغان در سواحل بحر در حوالي شيروان و داغستان "
" مسکن داشتند ، يا خود درباب الابواب خارج داغستان در صحرا هايلاق و "
" قشلاق مى نمودند و طايفه مجهول الاصل بوده اند و معلوم نبوده است از قوم "
" بحر خزر يا شعبهء را از آنها باشند بهر تقدير کار ايشان در آن حدود نهب "
" و غارت بوده است ، در زمان امير تيمور گورگان اهالي آذربايجان از ايشان "
" تشکى و تظلم کرده آن پادشاه ذيجاه آن طايفه از آنجا کوچانيده "
" در صحرا که واقع بود در مابين هند و قندهار ساکن متمکن گردانيد "
" و دست تعدي ايشان را از آذربايجان به صد منزل دور کرد .
" سياح ، نوشته که در بعض از کتب تواريخ نوشته ديده ام آنها را اغواني "
" الياني مى گفته اند و اغواني غلط الياني است و از ارمني بوده اند و حالات ناحيه "
" قره باغ متصل به شيروان جماعت ارمني هستند که آنها را مناشري قندساري مى گويند"

" و در طريقه ايشان سرکرده ورئيس را اغوان گويند و به زبان ارمني ، باش نوع "
" اغوان را گويند ، در ولايت گنجه و ايروان و نواحي نجوان و حدود گيلان مسکن رابه مهاجرين سقنباق "
" ايشان را به اين نام می خوانند و طايفه ارامنه را که در جبال متمکن اند به اين نام می خوانند و به اين نام افتخار کرده ادعای افغان بودن می نمايند ."
دغه مطلب ډېر مهم مطلب دی ،چې يوه قاجاري وزير ليکلي دی دا ،چې افغانان د کسپين د بحر په غاړو اوسيدل ، دوی تر اوسه همالته دي دا ،چې آزاد خان سلمانخېل هلته حکومت کاوه ، ياسر خاني الکوزي هلته افغانان وو يو دا دليل او سند نه دی .
نور اتلسونه ،تاريخونه هم دا ليکي ، يو له هغو ،چې ماسره شته مروج الذهب دی او ۳۳۲ هجري کښې ليکل شوي دی.
اوس هم عام خلك افغان نه وايي اوغان يا اغوان وايي ، زمونږ تاريخي څېړنه دا مهال لږ ده ،چې ډېره څېړنه غواړي .
دا ضروري ده ،چې پښتانه لومړی له دې شك او دوه زړه توبه ځان وباسي .چې دوی څوك دي چېرته چېرته دي ؟
دوی يعنی پښتانه هر ځای شته او زښت ډېر دي يوازې جنوبي هند کښې دوه سوه ميليونه ساك دي ، خو پښتو ژبه او پښتونولي ،چې نه وي بيا هېڅ گټه نه لري .
زه د سپين ږيري په توگه وايم ،چې اوس لا په پښتو او پښتونولی ولاړ ډېر پښتانه شته ، ټولو سپين ږيرو او سپين سرو نه خپل معلومات تر لاسه کړئ .
کستونه د دوی له خبرو ډك کړه په غرو رغو کښې وگرځئ يادداشتونه واخلئ ، خپل نيکه خپلې نيا نه پر هر ځای او هر ولايت کښې بيا خبرې وکړئ واروئ خپل مطلب د تاريخي رواياتو شفاهي تاريخ نور روايات متلونه ، ټوکې ، لنډی ، شعرونه اصطلاح گانې ټولې کړه .
کله ،چې په کال ۱۳۵۳ لمريز کښې د پښتو ټولنې افتخاري غړی وم ما همدغه وړانديزونه وکړل د پښتو د څېړنو مرکز او پښتو ټولنې ته مې ورکړي و اوس يې لروبر پښتنو ته کوم .
څه موده په هغو معلوماتو پسې وگرځو ،چې تر اوسه ليکل شوي نه دي بويه وليکل شي . دين محمد آهنگران له غور نه يوه خوا خواره شوي دي ، وروسته مې فکر کاوه ، چې

په غور کښې دآهنګرانو ښار او ځار ښار او دغو وسله نامې کېدای شي . همدا خبره رښتیا وي .
اوس ،چې تاریخ احمد شاهي کښې ،چې د احمد شاه بابا منشي لیکلی دی لولم ،چې احمدشاه بابا سره پاني پت په جګړه کښې دوه زره زنبورك توپونه و ، دا خو یوه لویه آهنګري موسسه غواړي هسې نه شي کېدای ،چې د خولې خبره ده . مونږ له خپل اصل نه دومره لیرې تللي یو هېڅ ځای ته نه یو رسېدلي خو ځان مو ورك کړی .

## شهزادګۍ ساکه چېرته ده ؟

د ساك . ساکستان او ددغه خپرې شوې تاریخي څېړنې هخامنشیان هم ساك بولي .
۲۰۰۰ میلادي کال کښې د یوې شهزادګۍ مومیایي شوی جسد وموندل شو ،چې د طلا تاج یې پر سر و .
وایي ۲۶۰۰ کاله زړه ده . طالبانو ویل دا دوی یعنی ساکه افغانستان ساکه له قندهاره کوټې ته ورسېده . هلته ګڼ شمیر تاریخپوهان او آرکیالوجستان پند شول .
۲۰۰۱ فبروري ټولې نړۍ کښې دا خبر خپور شو . د ساکې جسد کراچۍ ته یوړل شوي . له قندهاره څکه وایستله ،چې طالبانو غلا بلله او سخته جزا یې درلوده لاس پرې کول .
ساکه یو نوم دی ،چې کېدای شي د نجلۍ وي . چې ددغې شهزادګۍ
نوم دی . مونږ کولای شوي پر دغې شهزادګۍ ډېرې خبرې وکړو

# آهنګرخانه او زما د ژوند پيل

زما بل نوم حداد دی . حداد يعنی پښ په کال ۱۳۱۰ لمريز کښې دتلې په لسمه د آهنګريو کوڅه کښې زېږېدلی يم . د حداد " بل نوم " مې له همدې واخېست . ډېر وروسته د تېمور شاه دراني په کتاب کښې مې وليدل ،چې آهنګر هماغه آهنګر خانه ده ،چې بالاحصار د امپراتور تېمورشاه د اوسېدو ځای ته لنډ جوړه شوې وه .

د امپراتور تېمور شاه شخصيت سم نه دی څېړل شوی . دی عياش بلل شوی ،خو په خپلو چارو کښې يې ،چې د امپراتورۍ ساتنه وه هېڅ غفلت نه دی کړی . جګړو ته په خپله روان و . او د افغان پادشاهانو له زاړه دود سره سم يې کالي اغوستل .

د تېمور شاه وسله همدلته جوړېدله د آهنګرانو د غرمې ډوډۍ له شاهي پخلنځي نه دوی ته راتله په خپله امپراتور هم دلته راته او له استادانو سره يې کتل او خپلې مشورې يې ورکولې .

بالاحصار ، لاهوري دروازه ، حضوري چمن ، آهنګر خانه همدلته و ، زما د ګرځېدو سيمه همدا وه. په دې سيمه کښې يو سرای او شل دکانونه مونږ هم درلودل ،چې په کرايه ورکړ شوي و . زما پلار حاجي سېداحمد خان يو ديندار سړی و . هر يوولس ورځ يې د قران کريم ختم کاوه . او د غرمې ډوډۍ يې بې مېلمنو نه خوړه او د جوماتو مساپرو ته به يې ډوډۍ لېږله . همدلته نژدې مهم جوماتونه و ، چې روحاني مشران هلته اوسېدل .

لکه سېدجمال الدين افغان په ګذري لوی جومات کښې ( سراجبو کښې ) او مولانا نجم الدين اخندزاده . د جوی دمګاه او تنور جوړولو د کوڅې په جومات کښې دوی درس هم ورکاوه . دا ډول مشران د خلکو کورو ته نه تلل همدغه سيمه ،چې بالاحصار ته نژدې مخکې تر امير عبدالرحمن خان پادشاهان بالاحصار کښې اوسېدل ارګ همدلته و . د عيدګاه جومات هم دومره لېرې نه و . دغو جوماتو کښې ډېرې کتيبې وې ،چې دجوماتو د جوړېدو نېټه او د جوړوونکي نوم تاريخ او متبرکه آيات پرې ليکل شوي و .

آهنګر خانې سره جوخت يو چمن و ،چې ريخته ګري هلته کېده او توپونه جوړېدل باغ يې درلود . کله ،چې د لسو کلو وم په دې خبرو پوهېدم او په اهميت يې نه پوهېدم . باروت هم په شوره خانه کښې جوړېدل ،چې د بالاحصار په لويديځې خوا کښې و . له دې سره نژدې د حکمرانو بازار وه ،چې دارو درمل دلته کېدل . د کابل بازارونه او کوڅې د کيګرو و .

لکه مسگري ، کتاب خرڅول ، آرمونيه جوړول ، خولۍ جوړول ، صابون جوړول ، څرمن جوړول ، پنې جوړول ... دکابل ټولنه له کسبگرو ، تاجرانو ،مامورينو ( ميرزايانو) ديني علما و ... جوړه شوې وه .

په کابل کښې هېڅ څوك بېکاره او بېچاره نه و ، تکران ، سرې لنگۍ هر څه دلته جوړېدل هر چا يو کور او يو کار درلوده .

ورو،ورر د کابل صنايع کمېدل . کابل ،چې د بنارس سره برابر يو تجارتي مرکز و ، نور دا خبره نه وه بنارس ،چې په خپل حال و کابل نه و . ښيښې هم جوړېدلې هينداره که چېرې له بهر نه څه راتلل له څلور پخو اقلامو نه ډېرېدل .

هرې کوڅې نوم درلود او هر کور نمره هره ورځ صفايي کيدله ، د هغو ماشومانو ،چې زېږيدلي يا څوك مړه کېدل د هغو شمېر اخستل کېده د غله او وهلو پېښې هم په حساب کښې راتلل .

## د انگليس ماته خوړل او آهنگر خانه ماتول

په ۱۸۴۲م دافغان انگليس لومړۍ جگړه افغانانو په خپلو وسلو وگټله ،چې آهنگرخانه کښې جوړه شوې وه .

د انگليس غچ اخستونکی لښکر د امير دوست محمد او د هغه زوی وزير اکبر په خوښه راغی د کابل څلور چوکه او څلور چتې ونړولې شوه او دشاه زمان د مهال ودانۍ يې ونړولې چېرته ،چې مکناټن خړول شوی و (چوکونه او چتې ) وسوځولې ، او هغه ځای ،چې الکزاندر برنس وژل شوی و باروت خانه وران شوله او آهنگر خانه ، آهنگر استادان څه ووژل شول څه وتښتېدل .

په دوه همه افغان انگليس جگړې کښې ۱۸۷۹م کښې انگليسانو د بالاحصار ښارگوټی وسوځاوه او غازيان يې شهيدان کړل هر چانه يې پوښتنه کوله غازيان چېرته دي ؟ هر چا به چې غازيان ورښودل هغوی ته به يې پېسې ورکولې نو ډېر غازيان په ډله ايز توگه ووژل شول ،چې ما د هغو مبارك هډوکې ليدل و ،چې د بالاحصار په خوا کښې ډنډوبې کښې توبې شوي و .

د باروت سازۍ او شوره خانې پاتې وران ځايونه مې ليدلي و ، د توپونو ميلې يا نلۍ ېېرته په نورو شيانو کښې په کارېدل .

د کابل د غرونو په سر د کوشانيانو د دورې ديوالونه اوس هم ښکاري که څه هم خاوره يې په کورونو کښې مصرف شوې ده ، واورو او بارانو ورې ده بيا هم سم ښکاري . د مرنجان د تپې تاريخي اثار ابستل سوي دي . دچکري منار ولوېد زما دپاره خواشينوونکې دي ،چې ټولې نښې نښانې لاړې

ACKU

په ۱۳۲۵ له آهنگريو د گذرگاه سيمې ته کډه شولو دلته مې ښکلې منظرې باغونه وليدل د گذرگاه د غره په ډډه کښې د مغلو د مهال څو طاقونه و ، بابر د باغ تر شا سمڅه وه ،چې چوتره او تاقچې په کښې وې دغه سمڅه د " بابل" په نامه يادېده ، استاد احمد علي کهزاد ،چې گذرگاه کښې اوسېده ځينې معلوماتونه مې له هغه تر لاسه کړل .

د اويا کلو په ترڅ کښې مې د تاريخي اثارو له مينځه تلل ليدل نه دا وطن بې هنره وه نه بې پوهې . هماغه د هويت د ورکولو کار و ،چې اوس وروستنی پړاو ته رسېدلي له ښې مرغې زما عمر هم په وروستي پړاو کښې دی ، "څه وکړمه خدايه يار مې نادان دی".

په آهنگرخانې کښې داسې استادان و ،چې د امير شېر علي خان د زمانې خبرې کولې يو له هغو استادانو دينو نومېده ،چې نوم يې دين محمد و .

اصلې خبره په کورني توليد کښې ده ،چې تر عمومي دوه همې جگړې ورانديې ډېر و ، چې د جگړې په کلونو افغانستان ډېر څه له لاسه ورنه کړل د مالونو راوړل له بهر نه بند و ، ډېرې پيسې ذخيره پاتې شوې ،چې بيا وروسته په ۱۳۲۷ ه لمريز کښې په داسې حال کښې افغانستان له بهر نه پور وړی نه و ، د بغلان د قند فابريکه ، پلخمري نساجي ، د قندز صابون او نباتي غوړي جوړې شوې، بيا د گلبهار فابريکه د سروبي د برېښنا د توليد کارخانه د هلمند د ناوې پروژه ، کجکی بند ، د ارچې د دښتې خړوب ، گوزگان نهر ، د بند سراج اونورو کارونه وشول .

# د چپرهار عجیبه پېښه
# د نړۍ په تاریخ کښې

تلویزیون مې غلی کړ ،چې د چپرهار قصه ولیکم نه غواړم ،چې دا تاریخي قصه ونه لیکل شي ، اوس خلك بې سده دي په سد به شي . ما ،چې د افغان ملي تاریخ لیکلی اوس یې پایناب ته رسېدلی یم .

شعر نه دی دا خو ناب د زخمي زړه دی
یا وتلی د ستي دم د خولې د مـړه دی
یاله ښهـړه د حـیـرت وتــلی فـوج دی
یــا د ویـنو ابـاسین وهلی موج دی
(دا شعر نه دی حقیقت دی )

ما دا ولیدل تاسو ته یې لیکم ماتـه پـه ژونـدون چا څـه راکـړي نـه دي پـس لـه مرګـه بـه څـه راکړي ؟ خو دا قصه لیکم چاپ به شي .

د ۱۳۸۴ د کب شلمه د ۲۰۰۶ م د مـارچ لسمه پـه انټرنېټ پـه تلویزیـون او راډیـو کـښې مې د چپرهار پېښه ولیده . ولوسته او واورېده .

په چپرهار کښې یوه متروکه کلا وه ورته کلپ پروت و کوم چا د افغانستان دولتـي مقام ته خبر ورکړ ،چې دلته ، القاعده ، طالب تروریست دی . حکومتي پوځ او پولیس راغلي . هلته درې کسـان دي پـه هغـه تـوره درسه کـلا کښې شپې اړوي . هیـا هـوی دې د درې کسـو او پـوځ جګـړه ده دولتـي پـوځ ایتلافـي پـوځ تـه ویـل دي امریکایـان ، انګلیسـان ، کاناډایان ، فرانسویان .. ټانکونه او موټر راکټونه نورو وسلو سره رارسېدلې ډزې روانـې دي الوتکې ،چورلکې رسېدلې .

مونږ دا ټول حالات په تلویزیـون کښـې وکتـل او ټولې نـړۍ کتـل مونـږ هـم پـه پنځـو چینلو کښې ولیدل ایران . فرانسه ، جرمني . بي بي سي ، عربي .. . په پایکښـې نـور ډزې نـه وې . په هوروتو ورانې شوې کلا ته ورغلل دوه شهیدان و یو تښتېدلی و .

د دوو شهیدانو دستي دم له خولې وتلی و خوارې جامې ډنګر په ځان شهیدان مو ولیـدل ما ،چې د هغوی مخ ولید ( انا لله و انا الیه راجعون ) مې ووایه خدای تعالی مو په نېکې

راورساوه . لـه حکومتي عسکرو او ایتلافي عسکرو نه هم د دوی په وینا دوه مړه ، او یو زخمي شوی و .

دا قصه هر چا واورېده ولیده خو دې کیفیت ته د چا پام نه کېده .چې درې کسه یوه شپه تر سهاره د نړۍ له ټولو مجهزو عسکرو سره وجنګېدل .

ما د حمید بابا شعر اورېدلی و دا دی اوس مې ولید .چې دستي وتلی دم د خولې د مړه و .

یاله ښاره د حیرت وتلی فوځ و
یاد وینو اباسین وهلی مـوج و

د پنځو اویا کلو په عمومي د حیرت شعر په حقیقي بڼه ولید او ټول مې یو ځای ولید د پښتو شاعر عبدالرحمن بابا ، عبدالحمید بابا ، خوشحال خان خټک بابا ، احمدشاه بابا او نور لسان الغیب دي. کلونه مې فکر کاوه، د ښاره د حیرت وتلی پوځ ، او د وینو اباسین وهلی موج څنګه وي ؟ دا قصه ټولې نړۍ ولیده پوه نه شول .چې په اوستایي سندرو کښې راغلي .چې "اندرا" د جګړې رب النوع د پاکت مرستې ته راځي . زړې افسانې څنګه په حقیقت بدلېږي . ساده بې مدعا بې وسو خوار او زارو پښتو د خوشحال دستور پر ځای کړي

د جـهان ډېـرې خبرې
لور تر لور تورې لښکرې
زړه مې نه خوځي له ځایه
غـر خـو هسې وي کنه

درې غرونه و . بې نومه بې نښانه بې تمغې بې تمې دا نړۍ پرېښوده .

# پايناب

په دې مهال ،چې د پښتنو حال په تورو دريو کښې ناڅرګند دی د ۱۳۸۴ د کب د مياشتې په څلورويشتمې د امريکا د کان پوهان او د افغانستان د کانو او صنايعو وزارت وويل ،چې د افغانستان په شمال کښې د ګازو او پترولو لويې زېرمې موندل شوي ،چې د پخوانې اټکل له اندازې اتلس وارې ډېر تېل لري او درې وارې ګاز ډېر دی د لوګر د عينکو د مس پخوا لا وېل کېده،چې په نړۍ کښې لومړۍ درجه دي ، او داسې نور اوس ښکاري ،چې دا ټولې پلمې د همدې زېرمو د خپلولو دپاره وې .

د وېدا او اوستا له زماني افغانستان کښې شاعر حکيم دی "ريشي" شاعر وړاندويني لري او دستور ورکوي په پښتنو کښې شاعران لکه عبدالرحمن بابا ، عبدالحميد بابا ، خوشحال خان خټك بابا . احمدشاه بابا او په زرګونو نور حکما دي ، دخپلې ټولنې ما په دې ليکنې کښې د هغوی اشعار ليکلي .

د خوشحال خان له يو بيت نه ښکاري ،چې دی يو زر اتيا ۱۰۸۰ کلونو کښې کابل کښې و،او خپل تاثيرات يې ليکلي دي .

يو زر اتيا کالونه په کابل کښې دا غزل مې په بياض باندې تحرير کړ

چې مې ترويت د خپلې چارې ځير کړ — ځان مې ابته په خپل تدبير کړ
لکه واجوی دا نه د دام په مينځ کښې — خلکو ما سره په مهر کښې تزوير کړ
ما په دا سترګو ليده د دنيا خلك — څو يې ډېر دينا سور هومره يې وېر کړ
مور زادي کانه نه هوښيار ږېږي — نصيحت په تور زړه کله تاثير کړ
په ناپوه باندې بې غمه بې غمي ده — د دانا افت يې خپل ضمير منير کړ
راشه وګوره يوګز څمکه نيولې — چې يې مټ د خپلې خونې په توفير کړ
د ارمان لوسه مړه موږي په ګور کښې — چې مو ولې په نيکيه کښې تقصير کړ
ليوني د ليتونتوب په سبب بند شي — مست هاتي خپلې مستۍ په زنځير کړ
په بار بار د خپل استاد منت راباندې — چې له زنګه يې صفا زما ضمير کړ
د زړه شهر مې په ځای د قناعت دی — په ناحقه مې حرص په کښې امير کړ
که ويل يې د غماز منلې نه دی — بيا يې ولې له حيرانه زړه دلګير کړ

پوره زراتیا کالونه په کابل کښې           دا غزل مې په بیاض باندې تحریر کړ

د خوشحال د زړه خوښي نه شي بې سرایه
خپل وطن یې په هر چا باندې کشمیر کړ

هغه مهال ،چې خوشحال خان کابل کښې و او زر اتیا هـ .ق یې ښته ښودلې کابل کښې مغل و ،

یو به نه سم مغولواله د رقیب ستا
که ربښتیا سره زوکړی پښتنې وم

مغول واله د ظلم او تېري په معنی راغلې ده اوس تولـه نړۍ یو خوا پښتون بلـه خوا دی ،ما په خپلې یوې مرکې کښې ویلي ،چې افغانستان د امریکې بربر نه دی سیالي نـه ورسره لري په سیمه کښې روس او چین یې رقیبان دي ،چې د زبر ځواکۍ په فکر کښې دي ،خو اوس د امریکې خبرو ته سم غوږ نیسي . افغانستان او په افغانستان کښې د جنوب او سرحد پښتنو سخته شوه ،چې دواړو خواوو ته وهل کېږي .

ما ته وایي د پښتو او پښتنو خبرې که کوي ملي وحدت ورانېږي ملي وحدت کـه د پښتو او پښتونولي په زوال تینګېږي په ظلم او حق تلفي زه د یوه منطقي سړي په توګه دا نه شم منلی ، زما خواخوږي هغو پښتنو ،چې د پلان له مخې هره ورځ وژل کېږي .

شوکت سلطان د پاکستاني پوځ جنرال په خوشحالۍ وایي مدرسې مو ونړولې او سل کسه مو نن ووژل د ۲۰۰۶م د مارچ لسمه خبري چینلونه .

سندرې او سرودونه د اوستا په مهال ،چې وایي : " ای د سهار ستورو، تاسو پاك او سپېڅلي خلك غواړئ راځئ مونږ ته راشئ " لومړې ،چې مونږ سپېڅلتیا ده .

دغه تاریخ ،چې ستاسو په لاس کښې دی دوې سرچینې لري :

لومړی کتابونه هغه شوې ،چې وړ کتابونه وموندل شي ،چې په امریکې کښې ډېر دي ، د هغو نومونه ښل ورکړي دي ، تاریخي اتلسونه او د آرکیالوجۍ مجلې په کښې مهمې سرچینې دي .

دوه خبرونه : ما تل خبرونه اورېدل د افغانستان په باب خبرونه راتلل هغه مې سمدستي لیکل بیا مې د انترنېټ خبرونه کتل تاریخ هسې هم د تېرې زمانې خبر دی مګر په وخت ونه لیکل شي وروسته یې موندل ګران شي او لټول یې ډېر مهال غواړي

شلمې پېړۍ په پای کښې او د یوویشتمې پېړۍ په سر کښې د افغانستان دپاره د کمونستي روس یرغل و او بیا د امریکې او د هغه نړیوال ملګرو حمله یوه ډېره سخته خبره وه ،چې د نړۍ تاریخ یې په بل مخ واړاو ، دلویدیځ مدنیت اصول د بشر حقوق د ملګرو ملتو اصول د امریکې د خپلواکې اعلامیه او اساسي قانون دغه ټوله خواري ،چې لویدیځ نړۍ کړې وه یو مخ پرېښودل شو . خبره پترولو او ګازو ته وختـه د افغانستان او عراق مقاومت اوږد شو د بش بیا ټاکل کېدل د امریکې د جمهور رییس په توګه په ۲۰۰۴ م کال کښې د همدې دپاره و ،چې دده نیمګړی کار بشپړ شي او په دوو وروستیو کلو کښې به وکتل شي کوم ځای ته رسېږي ؟
ملي حاکمیت او خپلواکي د هر ملت حق دی د افغانستان په ملت کښې او د عراق په ملت کښې داسې خلك وټوکېدل ،چې د خپلواکۍ او ملي حاکمیت پروا یې ونه ساتله نه په دوو برخو وویشل شول وینې بهېږي ، ابادي نړېږي بیا هم د امریکې جمهور رییس په خپلې خبرې ولاړ دی .
دین ، ناموس او استقلال په قمار بدل شوی د روسانو د راتګ په مهال امریکې ته کمونستانو په ښه نظر کتل کېدل ، اوس هغه حال نه دی پاتې په تېره بیا ،چې امریکه جنګي مجرمین په غېږ ونیول زه ،چې پېښور کښې وم د ملګرو ملتو دفتر د جرمني د کریتاس د موسسې د یوې پوښتنې په ځواب کښې مې ولیکل ،چې قدرت الله حداد د غلام محمد فرهاد ورور په کابل کښې کمونستي دولت بندي کړی و ، په پاکستان کښې د پښتونستان په خاطر د پاکستان دولت له خوا ځارنې لاندې و او په کور کښې نظر بند و دغه مکتوب راسره شته ځکه د کریتاس موسسې د هغه مکتوب راکړ ځو د مهاجرت شعبې ته وښیم .
په مکتوب کښې دا هم لیکل شوي ،چې د حداد ملګرو هم دده مخالفت وکړ هماغه و ، چې د هغوی لاره بېله وه د کرزي حکومت کښې په کار ولګېدل .

# د کتابونو مرسته

| د کتاب نوم | ليکوال | د کتاب څرنګوالی | نېټه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱. خواجه تاجدار | ژان گورن فرانسوی | اولسم چاپ | ۱۳۷۶ ل |
| ۲. د هاتيکو او لواني مدنيت | O.R. Gurney | لندن | ۲۰۰۲ ل |
| ۳. د هتيتي نړۍ ، ټولنه | Trevor Bryce | اکسفورډ | ۲۰۰۱ل |
| ۴. تاريخي دايرة المعارف | Peter Stearns | | ۱۹۹۲ل |
| ۵. د نړۍ تاريخي اطلس | جافري بابر کوليچ | دغه اتلس يوويشت واري چاپ شوی | ۲۰۰۳ل |
| ۶. دنړۍ تاريخ اتلس | | | |
| ۷. تاريخي اتلس | | | |
| ۸. تاريخي اتلس | | | |
| ۹. د هېرودت تواريخ | انګليسي متن او فارسي متن | | |
| ۱۰. تاريخ بيهقي | | | |
| ۱۱. ګرديزي تاريخ | | | |
| ۱۲. طبقات ناصري | | | |
| ۱۳. د سيستان تاريخ | | | |
| ۱۴. د لوديانو تاريخ | پوهاند رشاد | | |
| ۱۵. د هوتک تاريخ | استاد بېنوا | | |

ACKU

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۶. لــــوی احمدشاه بابا | غبار | | |
| ۱۷. لـوی احمـد شاه بابا | گندا سنگه | | |
| ۱۸. لـوی احمـد شاه بابا | عزیز الدین وکیلی | | |
| ۱۹. احمدشـاهي تاریخ | محمود الحسیني | | |
| ۲۰. احمدشـــاه بابا | حبیبي | | |
| ۲۱. د غزنویـانو لوړ او ژور حالات | کلیفورډ بارسورث | | |
| ۲۲. تـــاریخ منتظم ناصري | اعتمادالسلطنه | دري ټوکه | |
| ۲۳. برهان قاطع | خلف تبریزي | د مقدمې مفصله برخه | |
| ۲۴. امپراتـــور تیمورشاه | عزیزالدین وکیلي | دوه ټوکه | |
| ۲۵. دشاه شجاع واقعات | شاه شجاع | ډېره برخه يې د ده په قلم | |
| ۲۶. درة الزمان | وکیلی | د شاه زمان حالات | |
| ۲۷. تـاریخ کامـل ایران | عبدالله رازي | | |
| ۲۸. د ســکاتلنډ تاریخ | انگلیسي | | |
| ۲۹. شهر سمك | | | |
| ۳۰. گرشاســـب بابا | استاد احمدعلي کهزاد | تعبیر او تفسیر | د حکیم اسدي توسي لیکنه |
| ۳۱. ضـحاك پــه شاهنامه | فردوسي | | |

ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۳۲. تاریخ جهان کشای نادري | استرآبادي | |
| ۳۳. تاریخ تمدن | تاینبي | |
| ۳۴. تاریخ مسعودي | مسعودي | دوه ټوکه |
| ۳۵. تاریخ طبري | طبري | پنځلس ټوکه |
| ۳۶. صورت الارض | ابن حوقل | |
| ۳۷. واقعات بالاحصار | کهزاد | |
| ۳۸. د سیستان تاریخ | ملك الشعراء بهار | تصحیح او تعلیق |
| ۳۹. سراج التواریخ | فیض محمد | |
| ۴۰. افتادن صفویان بر آمدن محمود افغان | ویلم فلور | |
| ۴۱. اشرف افغان بر تختگاه اصفهان | ویلم فلور | |
| ۴۲. د پارس امپراتوري | انګلیسي | |
| ۴۳. د لرغوني مدیترانې تاریخ | انګلیسي | |
| ۴۴. د بابلان تاریخ | انګلیسي | |
| ۴۵. د هیتانو تاریخ | انګلیسي | |
| ۴۶. د انګلیس بدمرغي له خېبره | انګلیسي | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ها خوا | | | |
| ۴۷. د کابل مجله ۱۳۱۰ | | ادبي انجمن | |
| ۴۸. د لرغوني مصر تاریخ | انګلیسي | | ۲۰۰۴-۲۰۰۳ |
| ۴۹. د آرکیالوجي مجلې کلکسیون | | | |
| ۵۰. د افغانستان د ادبیاتو تاریخ | حیدر ژوبل | | |
| ۵۱. د افغانستان لنډ تاریخ | پوهاند حبیبي | | |
| ۵۲. د افغانستان جغرافیایي تاریخ | پوهاند حبیبي | | |
| ۵۳. د پښتونخوا د شعر هار او بهار | دارمستتر فرانسوي | | |
| ۵۴. افغانستان د تاریخ په بهیر کښې | غبار | | |
| ۵۵. افغانستان په وروستیو پنځو پېړیو کښې | فرهنګ | | |
| ۵۶. د افغانستان تاریخ | کهزاد | دوه ټوکه | |
| ۵۷. د آزادۍ په لاره کښې مبارزه | نجیب الله توروایانا | | |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۸. شهزاده با برس انګلیسي | ماکیا ویلي | |
| ۵۹. عروة الوثقی | دکتور طبیبي | د پنځه کلن کلکسیون |
| ۶۰. د امریکې بهرنی پالیسي انګلیسي | هانري کسنجر | |
| ۶۱. د سېد جمال الدین افکار | خوږیانی | |
| ۶۲. د تاریخ زده کړه انګلیسي | باربارا تچمن | |
| ۶۳. تاریخ خورشید جهان | | |
| ۶۴. د لویدیځ مدنیت ،فکر او سیاست انګلیسي | | |
| ۶۵. دوه مرتبانه | شهزاده احمد علي خان درانی | تاریخ په داستان کښې |
| ۶۶. سپین کتاب | د بهرنیو چارو وزارت د نجیب دوره | ۱۹۸۸ م |
| ۶۷. د بشر حقوق په افغانستان کښې | د سید فقیر علوي ترجمه | |
| ۶۸. مذاکرات زینو | پژواک | |
| ۶۹. تاریخ سیاسي اسلام | دکتور حسن ابراهیم | |
| ۷۰. د کابل سلطنت | الفنستون | |

| | |
|---|---|
| ۷۱. در زوایای تاریخ | کهزاد |
| ۷۲. نوای معارك | میرزا عطا محمد |
| ۷۳. نېشنل جیوګرافېك فوق العاده ګڼه اسلام | |
| ۷۴. د کشف المحجوب مقدمه | د علي هجویري غزنوي کتاب |
| ۷۵. د امیر دوست محمد تاریخ | موهن لال د سیدجمال الدین هاشمیان ژباړه |
| ۷۶. د ایرلنډ تاریخ انګلیسي | فاستر |
| ۷۷. د ایران رسمي اسناد | |
| ۷۸. خپلواکي په نیمه شپه کښې | |
| ۷۹. غزني په دوه وروستیو پېړیو کښې | عزیز الدین وکیلي |
| ۸۰. د ګوډ تېمور تېمور یادداشتونه | ګوډ تېمور |
| ۸۱. یو مِلت د خپلواکۍ په لټه کښې | دکتور طبیبي |
| ۸۲. پښتانه د تاریخ په رڼا کښې | ظفر کاکاخېل |


ACKU

| | |
|---|---|
| ۸۳. د پښتنو تاریخ | قاضي عطاء الله |
| ۸۴. د امان الله خان سفر اروپا ته | عزیز الدین وکیلي |
| ۸۵. د محمد هاشم مېوند وال شهادت | دکتور مصطفی رسولي |
| ۸۶. د نشاط اصفهاني دیوان د ناصرالدین شاه منشي او دهغه پادشاه رسمي لیکونه نورو پادشاهانو ته . | |
| ۸۷. افغانستان د ډیموکراسۍ او جمهوریت کلونه. | غفار فراهي |
| ۸۸. داود خان د کې جي بې په لومه کښې | |
| ۸۹. دوه یمه سقوي | |
| ۹۰. د افغانستان تاریخ انګلیسي | د لويی دوپرې لیکنه |
| ۹۱.د امان افغان د پنځم کال کلکسیون | |
| ۹۲. بحران او نجات | د علامه محی الدین انیس لیکنه . |

| | | |
|---|---|---|
| ۹۳. د شاه ولي خان یادداشتونه | ببر شاه ولي خان | |
| ۹۴. افغانستان د تاریخ په بهیر کښې | غبار | دوه یم ټوک |
| ۹۵. فرارات شهر کابل | د ابراهیم خلیل لیکنه | |
| ۹۶. سرغړونه نه کول او د اسلام سپاهي. | Eknatheaswaran | |
| ۹۷. د خوشحال خان خټک دیوان | | |
| ۹۸. د محمد ګل بابا یاد | ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز | |
| ۹۹. د علم رساله | بایزید روښان | |
| ۱۰۰. طالبان د جهاد اتلان د جهاد دښمنان | شاه جهان سرداري | |
| ۱۰۱. عوامل و نتایج کودتای هفت ثور | نیازي امېد وار | |
| ۱۰۲. د نورستان تاریخ | اکبر شورماچ | |
| ۱۰۳. د یونان ارباب الانواع، اسطورې یا افسانې. | دغه کتاب په انګلیسي ژبه لیکل شوی دوه ټوکه دی The Folio Society له خوا چاپ شوی، لیکوال یې روبرت ګریفس Robert Graves دی، دغه کتاب له ۱۹۵۵ع څخه تر ۲۰۰۲ میلادي پورې شپږ وارې چاپ شوی دی. د افغان په باب خبرې لري، چې د افغان په برخه کښې وربندې لیکل شوي | |

ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۴. د خپلواکۍ څرک د میرویس نیکه پاڅون | حاجي امان الله خان هوتك | |
| ۱۰۵. The Egyptians Folio Society | Alan Gardiner | مصر د فولیو موسسه لندن |
| ۱۰۶. بابا طاهر عریان | | |
| ۱۰۷. پښتنو قبیلتوب پرېږدي قومیت جوړ کړئ | | |
| ۱۰۸. د علم رساله | بایزید روښان | |
| ۱۰۹. سوابق تهاجم شوروي بر افغانستان | انتوني | |
| ۱۱۰. خاموش مجاهد | ډگروال یوسف | |


ACKU

# De Afghan Meli Tarikh

(Second Edition)


Author:
**Qudratullah Hadad "Farhad"**


سیبخلتیا او خپلواکي

د پښتون د ژوند پیل یا
خلقت پر سیپښلیا او
خپلواکۍ شوی.


PROPERTY ACKU
23610




افغان غازیانو پخپله وسله بي بي مهرو غونډۍ ونیوله. نامتو بل خانګل خان مست زمري همد غه جګړه وګټله. ۱۸۴۲ ز م


Published By:

Sapi's Center for Pashto Research and Development
Add. Flete Number 314, 3rd Floor, Gulhaji Plaza, University Rd., Pehawar.
Ph. & Fax 091-5704506
e-mail: scprd@scprd.com
website: www.scprd.com


پاکت Poct، پاکتي Pocty
او پاکتیسیا Pocticiya
پاکتون ـ پښتون دی (تلپاتې)


2007

# DE AFGHAN MELI TARIKH

(Second Edition)

Author:
Qudratullah Hadad "Farhad"

سپېڅلتيا او خپلواکي

د پښتون د ژوند پيل يا
خلقت پر سپېڅلتيا او
خپلواکۍ شوی.


ACKU

افغان غازيانو پخپله وسله بي بي مهرو غونډۍ ونيوله. نامتو بل خانګل خان مست زمري همدغه جګړه وګټله. ـ١٨٤٢ لږم

پاکـت Poct، پاکتي Pocty
او پاکـــــتيسيا Pocticiya
پاکتون ـ پښتون دی (تلپاتې)

Published By:

Sapi's Center for Pashto Research and Development
Add: Flate Number 314, 3rd Floor, Gulhaji Plaza, University Rd., Pehawar.
Ph. & Fax: 091-5704506
email: scprd@scprd.com
website: www.scprd.com

2007